بسم الله الرحمن الرحيم

# فهرست (لړليک)

**عنوان** **مخ**


سريزه ........................................................................................................ ۲۱
تقريظ ........................................................................................................ ۲٤


## لومړی فصل

## لومړۍ خطبه

## ايمان راوړل په الله ﷻ سره


ايمان په لغت او اصطلاح کې ........................................................................ ۲۷
د الله ﷻ د لفظ معنا ................................................................................... ۲۸
د الله ﷻ په وجود دليلونه ........................................................................... ۳۰
الف: نقلي دليلونه د الله ﷻ په وجود ............................................................. ۳۱
ب: عقلي دليلونه د الله ﷻ په وجود باندې ....................................................... ۳۳
يوه قيصه ................................................................................................ ۳۷
ج: د الله ﷻ په وجود باندې فطري دليلونه ...................................................... ۳۹
د: شرعي دلايل : ...................................................................................... ٤۰
هـ : واقعيتونه او د پيغمبرانو عليهم السلام معجزې د الله ﷻ پر وجود دلالت کوي........ ٤۰
د الله ﷻ د قدرت علامې ............................................................................. ٤٤
الف: د الله ﷻ د وجود او وحدانيت نيښې او نيښانې په طبيعت کې ........................ ٤٥
ب: د الله ﷻ دپيژندنی نښې د انسان په وجود کې............................................... ٥۰
د الله ﷻ دپيژندنی څو نوری لارې .............................................................. ٥٥
ايا د الله ﷻ څخه منکريدل ممکن دی ؟......................................................... ٥۷
ځينی لاملونه چې انسان د الله ﷻ د انکار اړخ ته راکاږي .................................... ٥۸
د انسان په ژوند کې د ايمان رول ................................................................... ٦٥

## دوه همه خطبه

## ایمان لرل د الله ﷻ په یووالی باندې

د توحید تعریف یعنې شناخت........................................................................٧٢
د توحید قسمونه ........................................................................٧٣
د ربویت توحید تعریف ........................................................................٧٣
د الوهیت توحید ........................................................................٧٦
د اسماؤ او صفاتو توحید ........................................................................٧٨
په اسلام کې د توحید اهمیت او مقام ........................................................................٧٨
توحید څرنګه د خلکو په زړونوکې ځای نیسي........................................................................٧٩
د توحید عنصرونه........................................................................٨٠

## دریمه خطبه

## ایمان لرل په پرښتنو

د ملایکو تعریف........................................................................٩١
د پرښتو پر وجود دلیلونه........................................................................٩١
د پرښتو صفتونه (ځانګرتیاوې) ........................................................................٩٢
د پرښتو د پیدایښت ماده او د هغوی حقیقت ........................................................................٩٣
د پرښتو طبیعت او ځینیاعمال........................................................................٩٤
څرنګه مونږ نه شو کولی چې پرښتې و وینو ؟ ........................................................................٩٥
د پرښتو دندې ........................................................................٩٦
لومړۍ وظیفه د پرښتو په عالم ارواح کې ........................................................................٩٦
دوه یمه وظیفه د پرښتو په عالم طبیعت کې ........................................................................٩٧
یوه مهمه نکته........................................................................١٠٧
د پرښتو شمېر ........................................................................١٠٧
د مشهورو پرښتو وظیفې ........................................................................١٠٨
په پرښتو ایمان لرلو اغیزې........................................................................١٠٩

## څلورمه خطبه

## ایمان په اسماني کتابونو باندې


د کتاب تعریف........................................................................ ۱۱۰
د الهي کتابونو ته ضرورت.............................................................. ۱۱۱
اسماني کتابونو او صحیفې.............................................................. ۱۱۳
لومړی : صحیفې........................................................................ ۱۱۳
دوه هم : اسماني کتابونو................................................................ ۱۱٤
د نسخې معنا.......................................................................... ۱۱٦
د نسخې دلیل ........................................................................ ۱۱٦
د قرآن کریم لغوي او اصطلاحي تعریف................................................... ۱۱۸
سورت څه شی دی ؟.................................................................... ۱۱۸
د قرآن کریم سلامتیا له تعریف (تغییر) څخه............................................... ۱۱۹
قرآن کریم د کوم چاپه ځانګړې واک کې نه وو............................................. ۱۱۹
د قرآن کریم ټول آیتونه په لیکلي بڼه د پیغمبر ﷺ سره وو................................ ۱۲۰
د قرآن کریم ځانګړتیاوې................................................................ ۱۲۱
دلایل په دې چې قرآن کریم د الله ﷻ کلام دی.......................................... ۱۲۱
د قرآن کریم د ځینې دایمي احکامو بیلګې............................................... ۱۲۳


## پنځمه خطبه

## ایمان په پیغمبرانو علیهم السلام باندې


د پیغمبر تعریف....................................................................... ۱۳۰
د رسول او نبي ترمنځ توپیر څه دی؟..................................................... ۱۳۰
په ټولو پیغمبرانو علیهم السلام ایمان درلودل فرض دي..................................... ۱۳۱
اسلام د ټولو ملتونو سره د دوستي دین دي............................................... ۱۳۲
د پیغمبر ﷺ د بعثت توپیر له نورو پیغمبرانو...)........................................... ۱۳۳
که چېرته پیغمبر له انسانانو څخه نه وای نبوت به تحقق نه وو موندلی..................... ۱۳۷
د پیغمبرانو علیهم السلام ته اړتیا........................................................ ۱۳۸

د پېغمبرانو علیهم السلام له رالیږلو څخه هدف........................................................ ۱٤۰
د بندګی د څرنګوالي لارښوونه........................................................ ۱٤۰
تبلیغ........................................................ ۱٤۱
د رسول الله ﷺ دعوت (تبلیغ)........................................................ ۱٤۳
پېغمبر یو ښه نمونه........................................................ ۱٤٥
د دنیا او آخرت ترمنځ د توازن ساتل........................................................ ۱٤٦
د اعتراض مخنیوی........................................................ ۱٤۸
هغه تحول چې د پېغمبر ﷺ په(...)........................................................ ۱٤۹
هریوله تاسې څخه مسؤول دی او هر څوک به د خپل مسؤولیت ځواب وایي........................................................ ۱٥۳

## شپږمه خطبه

## د اخرت په ورځ ایمان لرل

په آخرت له ایمان درلودلو څخه مقصد څه شی دی؟........................................................ ۱٥٥
د قیامت او آخرت ترمنځ فرق........................................................ ۱٥٥
د قیامت ورځې نښې نښانې........................................................ ۱٥۷
الف: کوچنۍ نښې........................................................ ۱٥۷
ب: د قیامت د ورځې غټې نښې........................................................ ۱٥۸
اجمالي ایمان........................................................ ۱٦۱
تفصیلي ایمان........................................................ ۱٦۱
لومړی : د قبرفتنه........................................................ ۱٦۱
دوه هم : د قبر عذاب او دهغه نعمتونه........................................................ ۱٦۲
در یم : پوکی وهل په شپیلی کې........................................................ ۱٦۳
څلورم: ژوندي کیدل وروسته له مرګ څخه........................................................ ۱٦٤
حشر حساب او جزا........................................................ ۱٦٥
شپږم: د پېغمبر ﷺ حوض کوثر........................................................ ۱٦۸
اووم: شفاعت........................................................ ۱٦۹
د شفاعت د قبلیدو شرطونه........................................................ ۱۷٤

اتم: میزان (ترازو/ تله)........................................................ ۱۷۵
نهم: پل صراط ........................................................................۱۷۶
د پل صراط ځینې صفتونه........................................................ ۱۷۷
لسم: قنطره..............................................................................۱۸۰
یولسم: جنت او دوزخ .............................................................. ۱۸۱

## اوومه خطبه

## ایمان په فضا او قدربانديې

د قضا تعریف..........................................................................۱۸۶
په تقدیر د ایمان دلیلونه........................................................... ۱۸۷
په قدر د عقیدې دلیل له نبوي سنتو څخه..................................... ۱۸۸
د تقدیر مرتبې..........................................................................۱۸۸
د تقدیر اقسام ........................................................................... ۱۹۰
دبندګانو افعال..........................................................................۱۹۱
د بندګانو د افعالو پیداکیدل....................................................... ۱۹۳
د بنده مکلفیت د تقدیر په باره کې............................................... ۱۹۴
د اسبابو استعمال..................................................................... ۱۹۶
قدر د الله ﷻ د محیط علم پایله ده چې پرهر څیز عالم دی....................۲۰۰
تقدیر زمونږ څخه مسؤولیت نه سلبوي.........................................۲۰۰
الله ﷻ انسان ته عقل ورکړی دی.................................................. ۲۰۱
انسان انتخاب کوي او الله ﷻ انتخاب شوی څیز پیدا کوي...................۲۰۲
الله ﷻ پرتهولو پیښو له لاملونو او پایلو سره له ازل څخه خبر دی......... ۲۰۲
د تقدیر په اړه څو آیتونه........................................................... ۲۰۳

## دوه هم فصل

## اتمه خطبه

## د شهادت کلمه

د (لآ إله إلا الله ) معنا دادی........................................................................ ۲۰۵
د (لآ إله إلا الله ) شرطونه......................................................................... ۲۰۶
۱- په هغې علم او پوهه درلودل....................................................................... ۲۰۶
۲- په هغې یقین درلودل چې هیڅ شک ونه لري..................................................... ۲۰۶
۳- اخلاص لرل چې مخالف د شرک دی................................................................ ۲۰۷
٤- صداقت او رښتینولي چې قطعا دروغ پکې نه وي.................................................. ۲۰۷
۵- الله پاک او د هغه رالیږل شوی رسول سره دوستي او مینه ...................................... ۲۰۸
٦- د الله ﷻ په وړاندې سوچه تسلیموالی.............................................................. ۲۰۹
۷- د دې کلمې قبلول چې د هر ډول انکار او رد څخه خوندی وي................................... ۲۱۰
۸- د الله ﷻ څخه پرته د هر معبود څخه انکار......................................................... ۲۱۰

## نهمه خطبه

## د اخلاص معناوې او د هغه د شتون لارې چارې

د اخلاص تعریف...................................................................... ۲۱٦
اخلاص په توحید کې.................................................................... ۲۱۷
اخلاص په عبادت کې.................................................................... ۲۱۷
اخلاص په روژه کې..................................................................... ۲۱۸
د نکتو استنباط.......................................................................... ۲۱۸
د اخلاص په اړه یوه زړه پورې واقعه.................................................. ۲۱۸
د عکرمه بن ابي جهل واقعه............................................................. ۲۲۱
د اخلاص فردي پایلې..................................................................... ۲۲۲
۱- رواني اطمینان............................................................................ ۲۲۲

۲- روحي پیاوړتیا..........................................................۲۲۲
۳- کارته دوام ورکول.........................................................۲۲۳
۴ – د عاداتو په عباداتو سره بدلول.......................................۲۲۳
۵- د ثواب او اجر پرته د عمل بشپړتیا....................................۲۲۳
٦ – د الله ﷻ مرسته او ضمانت..............................................۲۲٤
۷- په کړاونو کې د الله ﷻ مرسته............................................۲۲٤
د اخلاص ټولنیزې ګټې.......................................................۲۲۵
امنیت...........................................................................۲۲۵
عدالت..........................................................................۲۲۵
د اخلاص په اړه د علماؤ اقوال.............................................۲۲۵
د اخلاص د راتللو لارې چارې..............................................۲۲٦
د وینا خلاصه..................................................................۲۲۷

## لسمه خطبه

## لمونځ او دهغه حکمونه، فضیلتونه او حکمتونه

د لمونځ تعریف...............................................................۲۲۸
د لمانځه د فرضیت دلایل....................................................۲۲۹
د لمونځ مقام او مرتبه.........................................................۲۳۲
د لمانځه اسرار، حکمونه او دهغه ټولنیز، معنوي، روغتیایي او رواني ګټې.......۲۳٤
د جماعت د لمونځ ترکولو وعید.............................................۲۳۸
د جماعت په لور د تللو فضیلت.............................................۲۳۹
د لمانځه لپاره په انتظار کې پاتې کیدو فضیلت.........................۲٤۰
د سهار او ماسختن په لمانځه کې حاضریدو هڅونه....................۲٤۱
د جماعت د لمونځ فضیلت او ارزښت......................................۲٤۲

د لمونځ ډولونه........................................................٢٤٣
د جمعې لمونځ او د هغه احکام..........................................٢٥٥
د جمعې د لمانځه ګټې او حکمتونه.....................................٢٥٦

## يولسمه خطبه

## د شعبان د مياشتې اړوند فضيلتونه او مسلې

د شعبان میاشت او د روژې میاستې راتلل..............................٢٦٠
په شعبان میاشت کې د پیغمبر ﷺ روژه.................................٢٦٢
د شعبان د میاشتې د روژې د مشروعیت حکمت.........................٢٦٣
د نفلي روژو فضیلتونه..................................................٢٦٣
١ ـ شپږ ورځې روژې د رمضان نه وروسته د شوال.......................٢٦٤
٢- په هره میاشت کې درې ورځې نفلي روژې............................٢٦٤
٣- د بیض ورځو روژې.....................................................٢٦٥
٤- د عاشورا د ورځې روژې فضیلت او تاریخي اهمیت یې..................٢٦٥
٥ – د عرفې د ورځې روژې فضیلت.........................................٢٦٧
٦- د دوشنبې او پنجشنبې ورځې روژې فضیلت...........................٢٦٧
د شک ورځې د روژې نیولو ممنوعیت.....................................٢٦٨
دروژې د میاشتې د هلال د اثبات طرق..................................٢٧٠
مونږ په دې مبارکې میاشت کې څه برنامه باید ولرو........................٢٧١

## دولسمه خطبه

## د رمضان مبارکې مياشتې احکام او فضيلتونه

د صوم تعریف...........................................................٢٧٥
د روژې د فرضیت دلیلونه.................................................٢٧٦
د روژې د فرضیت تاریخ پاٸه..............................................٢٧٧

د روژې مبارکې میاشتې ځانګړتیاوې........................................ ۲۷۰
د روژې د وجوب شرطونه........................................ ۲۸۰
د روژې د صحت او صحیح والي شرطونه........................................ ۲۸۱
د روژې سنتونه........................................ ۲۸۱
روژتي ته د روژه ماتي ورکولو ثواب........................................ ۲۸۳
د تراویح لمونځ........................................ ۲۸٤
کوم څیزونه روژه باطلوي یایې مکروه کوي؟........................................ ۲۸۷
په سهوه او هیرې سره د روژې خوړل........................................ ۲۸۸
ایا پوهیږئ چې د کفاري ترتیبول څنګه واجب دی؟........................................ ۲۸۹
په دې فیض او برکت څخه ډکه میاشتی کې باید څه وکړو؟........................................ ۲۹۱

## دیارلسمه خطبه

## د قدر شپې فضیلت او د لیدلو هیله یې

د قدر شپه او د قران کریم نزول........................................ ۲۹۵
الف : ټولنیز نزول........................................ ۲۹۵
ب : پړاویز ( تدریجي ) نزول........................................ ۲۹۵
د قدر شپې ځانګړې دعا ........................................ ۲۹۷
د روژې په وروستۍ لسیزه کې سخاوت کارونه ترسره کول........................................ ۲۹۷
د رسول صلی الله علیه ولسلم د یو صحابی د ایثار او سخاوت یو کیسه........................................ ۲۹۸
د قرآن کریم تلاوت........................................ ۳۰۰
اعتکاف........................................ ۳۰۳
د فطر صدقه ( د فطر زکات )........................................ ۳۰۷
حکم او د مشروعیت دلیل یې........................................ ۳۰۷
د فطر د صدقي مقدار او اندازه یې........................................ ۳۰۷

د فطر د صدقې ورکولو وخت........................................................٢٥٤

## څوارلسمه خطبه

## د واړه نیکمرغه اختر حکمونه او فضیلتونه

عید ( اختر) تعریف........................................................٣٠٩
اختر په اسلام کې........................................................٣١٠
د وړوکې بختور اختر د ورځو سنتونه........................................................٣١١
د اختر لمانځه ادا کولو کې د ښځو ګډون........................................................٣١١
د اختر د ورځو ټولنیزې مسلې........................................................٣١٣

## پنځلسمه خطبه

## د زکات حکمونه او فضیلتونه

زکات پیژندنه........................................................٣١٥
د زکات اصطلاحي معنا........................................................٣١٧
د زکات د مشروعیت حکمت........................................................٣١٧
د پاکۍ او طهارت ترلاسه کول........................................................٣١٨
د مال مینې او حرص او بخل غریزی باندې دنفس تسلط او واک........................................................٣١٩
ټولنیز تکافل او تړون........................................................٣١٩
د فقیرانو او مسکینانو سره خواخوږي او مرسته........................................................٣٢١
د فقر او نیستی د کمولو لپاره مبارزه........................................................٣٢١
د زکات د مشروعیت د فلسفي او حکمت خلاصه او لنډیز........................................................٣٢١

## شپاړسمه خطبه

## د عامه شتمنیو، بیت المال او وقفي شتمنیو ساتنه

د بیت المال اصطلاحي معنا........................................................٣٢٣
د بیت المال پیژندنه........................................................٣٢٤

د پند ځوپیښې........................................................۳۲۶
په مال او پانګه کې د الله ج ازمیښت او امتحان..................................۳۲۹
د بیت المال اهمیت....................................................۳۳۱
په بیت المال کې اسراف او ناوړه ګټې اخستنې حرمت..............................۳۳۲
په بیت المال کې د خیانت نه د ځان ساتنې لارې.................................۳۳٤
د بیت المال د ځواکمنتیا لارې او سرچنې.....................................۳۳۶
د بیت المال د ساتنې او حفاظت اړتیا........................................۳۳۸
په بیت المال کې خیانت او بدې اغیزې یې.....................................۳۳۹
د عامه مالونو یا بیت المال په وړاندې د مؤمنانو ازمیښت..............................۳٤۲
د وقف تعریف.........................................................۳٤٤
د وقفي مالونو اهمیت...................................................۳٤۸
پایلې..............................................................۳٤۸
نتیجه اخستنه.........................................................۳٤۹

## اوه لسمه خطبه

## د حج فضیلت او فلسفه

د حج لغوي او اصطلاحي تعریف.............................................۳۵۲
د حج ډولونه.........................................................۳۵۲
د حج مناسک.........................................................۳۵۳
د حرمینو شریفینو ادبونه او فضایل..........................................۳۵۳
مکې مکرکې فضیلت....................................................۳۵۳
د طواف فضیلت.......................................................۳۵۵
د مدینې منورې فضایل..................................................۳۵۵
د حج اجتماعي او معنوي اثار او مرتبې........................................۳۵۷

١- د الهي رحمت ښکارندوی........................................................٣٥٧
د یو اولوالعزم پیغمبر د تاریخ یادونه........................................................ ٣٥٧
٣- د الله ﷻ د فرمانونو په وړاندې د مطلق تسلیمیدو او اطاعت مظهر.....................٣٥٨
۴- د عرفات میدان د محشر صحرا یویاد........................................................٣٥٨
۵- د کارونو سمون د دې لپاره د ژوند له فرصت څخه ارزښتنه ګټه وشي...................٣٥٩
٦- د اخلاص بیلګه........................................................ ٣٦٠
٧- د اسلامي اخوت او وحدت ننبه........................................................٣٦١
٨- د نفس تهذیب او اخلاقو مدرسه........................................................٣٦١
٩- یو شان والی او مساوت نندارہ........................................................ ٣٦٣

## اته لسمه خطبه

## د اضحی نیکمرغه اختر فضایل او احکام

د تسمیې وجه یې........................................................٣٦٣
اختر په اسلام کې........................................................ ٣٦٤
د نیکمرغه لوی اختر د ورځو سنتونه........................................................٣٦٥
د قربانۍ او لوی نیکمرغه اختر په اړه راغلو ځینو حدیثونو تشریح........................٣٦٥
د نیکمرغه لوی اختر د ورځو اداکولو کې د ښځو ګډون........................................................ ٣٦٨
ټولنیزې مسلې........................................................٣٦٩

## دریېم فصل

## نولسمه خطبه

## د بشریت د منجي باسعادته ( نیک مرغه ) میلاد

له ولادت څخه تر بعثته........................................................٣٧٤
د شیدو خوړلو دوره........................................................٣٧٥
د جاهلیت په زمانه کې د نړۍ بحران و ضعیت........................................................٣٧٨

د نجاشی په وړاندې د جعفر بن ابي طالب وينا............................ ۳۷۹
د ژوندۍ نجلۍ په قبر کې د ښخولو له غم نه ډکه قصه........................ ۲۸۱
په ځوانۍ او وړک توب کې د اسلام د پیغمبر ﷺ ځانګړتیاوې.................. ۳۸۱
خارق العاده پيښې او زيري.................................................. ۳۸۶
د خبرو خلاصه او د بحث نتايج............................................. ۳۹۵

## شلمه خطبه

## د رحمت پیغمبر بعثت

## (د بعثت څخه تر هجرت پورې)

د و حي د نزول ماجرا...................................................... ٤٠١
د الله ﷻ په لور د دعوت مراحل.......................................... ٤٠٤
د قريشو د مشرکينو سپکاوي او ربړوني او دهغوي په وړاندې (...)................ ٤٠٥
هغه تحولات چې د پیغمبر ﷺ په بعثت سره په جامعه کې راغلل.................. ٤٠٩
يوه ښايسته او زړه ته ښکته کيدونکی نکته...................................... ٤١٣
د رحمت پیغمبر د کورنۍ د رئيس په عنوان ښه نمونه دی د انسانانو لپاره ........................ ٤١٤
رسول الله ﷺ منبع او سرچشمه د هدايت وه لپاره د خپلې کورنۍ.................. ٤١٧
د پیغمبرانو عليهم السلام د راليږلو حکمت.................................... ٤١٧
د ګلونو يوه ګيډۍ د پیغمبر ﷺ د فضيلتونو په هکله.............................. ۳٢٤
د پیغمبر ﷺ راليږل دوه طرفه وه.......................................... ٤٢٧
د نجات (خلاصول) لاره د دغه بدبختۍ او تورو ورځو څخه.......................... ٤٢٩
د بحث پايلې.............................................................. ٤٣١

## يو ويشتمه خطبه

## هجرت، دعوت او د يوې اسلامي جامعې تهداب ايښودل

## د (هجرت څخه تر رحلته پورې)

ړومبنی هجرت د مسلمانانو په طرف د حبشې.................................. ٤٣٦
حبشې او مدينې منورې ته د هجرت پيښې او پايلي.............................. ٤٤١

په اسلامي دین باندې د حمزه او عمر رضي الله عنهما مشرف کیدل.................. ٤٤٣
پېغمبر ﷺ د قریشو د استازي سوله غوښتوونکي وړاندیزونه.................. ٤٤٤
د پېغمبر ﷺ څخه د معجزي او عذاب نازلیدو غوښتنه.................. ٤٤٦
د پېغمبر ﷺ د وژلو پلان کې د ابو جهل ماتې او شرمیدل.................. ٤٤٧
د روغې جوړې طرحه.................. ٤٤٨
د ناهیلۍ اونااميدې وروسته د مشرکینو د یهودو د احبارو سره اړیکه او ارتباط.................. ٤٤٩
اقتصادي بندیز، پریکون او خفگان کال (عام الحزن).................. ٤٥٢
د پېغمبر ﷺ د طایف په لور.................. ٤٥٥
د طایف د خلکو څخه د پېغمبر د ناهیلۍ عمجنه کیسه.................. ٤٥٧
یثرب (مدینې منورې) ته هجرت.................. ٤٥٩
د بحث پایلې.................. ٤٦١

## دوه ویشتمه خطبه

## د اسلامي ټولني جوړښت او د اسلامي دولت تأسیس

لومړی پړاو: د نبوي شریف مسجد جوړول.................. ٤٦٤
دوهم پړاو: د مهاجرو او انصارو ترمنځ د وروری تړون.................. ٤٦٤
د سعد بن ربیع د ایثار کیسه د خپل مهاجر ورور عبدالرحمن بن عوف سره.................. ٤٦٥
دریېم پړاو: د ټولنیز میثاق تړون، وروري او همغږی.................. ٤٦٦
څلورم پړاو: د یهودو قبیلو سره د سولی تړون کول.................. ٤٦٧
پنځم پړاو: د نورو قومونو او قبیلو سره تړون کول.................. ٤٦٨
د حدیبیه سوله (الفتح المبین).................. ٤٧٣
د تبوک تاریخي غزا.................. ٤٧٥
حجة الوداع .................. ٤٧٦
د دنیا نه رحلت او رفیق اعلی ته وتلل.................. ٤٧٨
هغه تحولات چې رسول ﷺ د مدینې دورکې راوستل.................. ٤٨٠
د کدرونو روزنې او ښایسته سالاری ته د پېغمبر ﷺ اهتمام.................. ٤٨٣
کله کله یو انسان د زرو انسانانو وړتیا او ښکلا درلودلای شي.................. ٤٨٥

د انحطاط او وروسته پاتيدا پیل........................................................................۴۸۷
نو څه وکړو؟..........................................................................................۴۸۹
د خبرى لنډيز او د بحث پايلې........................................................................۴۹۰

## څلورم فصل

## دروېشتمه خطبه

## اسلامي اخلاق

د اخلاقو سره آشنايي...................................................................................۴۹۹
د اخلاقو تعريف.......................................................................................۴۹۹
ښه او بدو اخلاق......................................................................................۵۰۰
د اخلاقو فلسفه او ګټه.................................................................................۵۰۱
د اخلاقو اركان........................................................................................۵۰۲
په اسلام کې د اخلاقو ستنې.............................................................................۵۰۲
د ښو اخلاقو نښې نښانې................................................................................۵۰۶
د ښو او خوښو اخلاقو تفصيلي معيارونه..................................................................۵۰۶
د اخلاقو ځانګړتیاوې...................................................................................۵۰۸
د اخلاقو په باره کې د علماوو نظريات....................................................................۵۱۰
د اخلاقو د تغيير لاملونه او لارې چارې...................................................................۵۱۶
د ښو اخلاقو فضيلتونه...................................................................................۵۱۷
د ښو اخلاقو دنيوي پايلې او ميوې.......................................................................۵۲۰
د ښو اخلاقو اخروي ميوې او پايلې.......................................................................۵۲۰

## څلېريشتمه خطبه

## په اسلام کې زغم او مقام يې

د صبر مفهوم..........................................................................................۵۲٤
صبردوه بنسټيزې څانګې لري...........................................................................۵۲٤
د صبر ارزښت.........................................................................................۵۲۵
د صبرډولونه...........................................................................................۵۲۷

صبر پرطاعتونو........................................................................ ٥٢٧
صبر په عبادتونو....................................................................... ٥٢٨
صبر په جهاد کې....................................................................... ٥٢٩
صبر د علم تحصیل په لاره کې......................................................... ٥٢٩
د کورنۍ د ستونزو په وړاندې صبر..................................................... ٥٣١
د گناهونو څخه صبر.................................................................... ٥٣٢
د پریشانیو په وړاندې صبر.............................................................. ٥٣٥
ارزونه او آزموینه د الله تعالی لاره او طریقه ده........................................ ٥٣٧
د مصیبت او پریشانۍ په وخت د مومن ادب............................................. ٥٣٨

## پنځویشتمه خطبه

## په ژوندانه کې د ملگرتیا اغیزه

ځوان او ملگرتیا....................................................................... ٥٤١
د ناوړه او بد رفیق خطر............................................................... ٥٤٣
د ښایسته ملگري غوره کول او انتخابول................................................ ٤٥١
د ملگرۍ او دوست اسلامي معیارونه.................................................... ٥٤٧
د دوست له سهوو او ښوییدنو څخه سترگې پټونه او تیریدنه........................... ٥٥٧
په دوست کې عزم او احتیاط............................................................ ٥٥٨
کتاب ارزښتناک ملگری................................................................. ٥٥٩
د مخلصانه دوستۍ معنوي میوې او پایلې................................................ ٥٦٠

## شپږ ویشتمه خطبه

## غوسه او تندخویي

د غضب تعریف......................................................................... ٥٦٣
د غوسې او تندخویۍ نښې نښانې......................................................... ٥٦٤
غوسه او قهر دري درجې لري........................................................... ٥٧٠
د غوسې او غضب اسباب او لاملونه..................................................... ٥٧٢
د غوسې آثار او پایلې................................................................... ٥٨٠

د قهر او غوسې درملنه.......................................................۵۸۵

## اوه ويشتمه خطبه

## غيبت او دهغه ټولنيزې پايلې

د غيبت تعريف.......................................................۵۹۲
د غيبت او غيبت کوونکو نښې.......................................................۵۹۵
غيبت د کتاب او سنت په هنداره کې.......................................................۵۹٦
غيبت يوازې په ژبه پورې محدود نه دي.......................................................٦۰۰
د روژې په مهال د دوو ښځو د غيبت پيښه.......................................................٦۰۲
غيبت کوونکی ته د حسن بصري رحمة الله عليه ډالۍ.......................................................٦۰٤
د خلکو په غيبت له مشغوليانه ويده کيدل غوره دي.......................................................٦۰۵
د ابراهيم ادهم وينا.......................................................٦۰٦
د غيبت لوی عوامل او انگيزې.......................................................٦۰٦
د غيبت نښې او پايلې.......................................................٦۰۸
د غيبت نه د خلاصون لار.......................................................٦۰۹
د غيبت نه منع کوونکي لاملونه.......................................................٦۱۰

## اته ويشتمه خطبه

## ژبه او دهغې د آفتونو څخه مخنيوی

ژبه د شل گناهونو سرچينه.......................................................٦۱۷
ژبې به ساتنه کې د انسان نجات.......................................................٦۲۰
ژبې څخه دغړو فرياد.......................................................٦۲۲
يوه خبره د درجاتو د لوړوالي يا په دوزخ کې د لويدو لامل.......................................................٦۲۳
ژبه د لويانو په خبروکې.......................................................٦۲٤
د ژبې څخه سمه استفاده.......................................................٦۲٦
د ژبې د کنترول لپاره د چوپتيا قلف.......................................................٦۳۲
و چوپتيا گټې.......................................................٦۳٤

## نهه ویشتمه خطبه

## غیبت یا چغل گري

چغل گران په دوه ډوله دي....................................................... ۶۳۸
د قبر عذاب د چغل گرانو په انتظار کې دی.......................................... ۶۴۰
په بني اسرائیلو کې قحطي او خشک سالي.......................................... ۶۴۱
د چغل گرۍ عوامل ........................................................................ ۶۴۲

## دیرشمه خطبه

## په بیړه پریکړه کول

لومړی: په بیړه فیصله کول او په تیزۍ سره د نظر اظهار.......................... ۶۴۷
دوه هم: په تیزۍ سره د حکم کولو او په بیړه د نظر ورکولو اسباب.................. ۶۴۸
درییم: د عجولانه حکم، او په تیزۍ سره د قضاوت کولو نښې نښانې................ ۶۶۰
څلورم: د عجولانه حکم او قضاوت ناوړه پایلې..................................... ۶۶۲
پردیندارانو او دعوتگرو یې اغیزې.................................................... ۶۶۲
په اسلامي دعوت دبیړه سره فیصله کولو آثار....................................... ۶۶۶
د عجولانه او ژر قضاوتونو د زیان علاج............................................. ۶۷۱

### یو دیرشمه خطبه

### تکبر او ځان غوره گڼل

د تکبر او ځان غوره گڼلو مفهوم.................................................... ۶۸۳
ځان غوره گڼل څه شی دی؟.......................................................... ۶۸۳
د تکبر او عزة النفس تر منځ توپیر.................................................. ۶۸۴
د تکبر او ځان غوره گڼل لومړنۍ هغه گناه ده چې په عالم کې ثبت شوې ده.......... ۶۸۴
د تکبر او ځان غوره گڼلو علامې.................................................... ۶۸۵
د ځان غوره گڼلو او تکبر اسباب.................................................... ۶۸۸
د تکبر او ځان غوره بللو ناوړه آثار.................................................. ۶۹۳
په تکبر مبتلا شوو کسانو سره څرنگه چلند او تعامل وکړو......................... ۶۹۶
د تکبر علاج.............................................................................. ۶۹۹

## دوه دیرشمه خطبه
## د اسراف سره مبارزه

په خوراک او سکاک کې د اسراف څرګنده مصداقونه........ ۷۰۵
د هارون الرشيد د زماني کيسه........ ۷۰۷
د اسراف ډولونه........ ۷۰۸
د اسراف عاملونه........ ۷۱۲
د اسراف پايلې........ ۷۱٦
د اسراف کوونکو استدراج........ ۷۱۹
په اسلام کې د مصرف (لګښت) بيلګه........ ۷۲۱

## درې دیرشمه خطبه
## امانت او امانت ساتنه

د امانت پراخه مفهوم........ ۷۲۸
د امانت ډولونه........ ۷۳۰
د کتاب ورکړه د امانت په توګه........ ۷٤۳
د امانت ارزښت د رواياتو له مخې........ ۷٤٤
د حضرت شعيب عليه السلام د لورانو کيسه........ ۷٤٥
نتيجه........ ۷٤٦

## څلور دیرشمه خطبه
## عفت او پاک لمنی

دوه بيلګه يې شخصيتونه........ ۷٤۹
د حضرت مريم پاک لمني........ ۷٥۰
د فساد خوريدل د اندلس دماتې لامل........ ۷٥٤
شهوت کې اخته کيدل دحضرت موسی عليه السلام د قوم دماتې لامل........ ۷٥٥
د النور په مبارک سورت کې د پاک لمنې او عفت ارزښت........ ۷٥٥
کوم پيغامونه چې له دې آيت راوځي........ ۷٥٦

د عفت او پاک لمنی د ساتنې لپاره د حل لار وړاندې کول............ ۷۵۸
نکتې............ ۷۵۹
نتيجه او پيغام ............ ۷۶۰

## پنځه دېرشمه خطبه

## ټولنيز آفتونه

**۱-** تور پورې کول (تهمت)............ ۷۶۲
۲- خبرې ټولول او نمامې............ ۷۶۲
۳- د نورو سپکتيا او وړوکی ګڼل............ ۷۶۳
۴- نوروته بد لقبونه ورکول صحيح نه دي............ ۷۶۵
۵- سوء ظن (بدګماني) جاسوسي او غيبت............ ۷۶۵
٦- غوسه او قهر............ ۷٦٦
۷- حسد............ ۷٦۸
۸- د حسد درملنه............ ۷۷۰

## د تدقیق او اسلامي علومو د مطالعاتو ریاست

## سریزه

ټول ثنا او صـــفت له هر حامد څخه په پر واحد محمود اقدس ذات باندې چې هغه واجب الوجود دی او ټولو کمالي صفتونو خاوند دی ، انسان ته یې له نشته څخه وجود ورپه برخه کړ او دناپوهۍ او جهل له تیارو څخه یې دعلم لوســـت ثقافت او ربښتني اسلامي مفاهیمو په وسیله کامیاب او نیکمرغه وګرځاوه .

درود او سلام دي وي په پاک او مطهر روح د سرور کائنات سید المرسلین امام المتقین سیدنا ونبینا محمد صلی الله علیه وسلم او دهغه په آل او اصحابو او پر هغه چاچې تر قیامته دهغه پر لاره روان دي.

وبعد:

دانســـان او دهغه دخالق درســـته پیژندنه یواځې داســـلامي تعلیماتو په رڼا کې شونې ده، همدارنګه دانسان او ټولو مخلوقاتو دپیدایښت هدف او د ژوند حقیقت او مفهوم یواځې داسـلامي لارښـونو له لارې روښـانه کیږي او دا ځکه لکه څرنګه چې دا ټول موجودات او مخلوقات د الله تعالی دي نو همدارنګه دا دین د ا سلام

هم دالله تعالی له طرفه رالیږل شــوی دی، همدارنگه د دې په څیر نور مســائل سره دټولو ابعادو دمنبرونو له لارې په ښه ډول او په بشپړه توگه نشرکیږي، پاتې دی نه وي چې د مســاجدو خطباء او ائمه په اســلامي ټولنه کې او په ځانگړي ډول په افغـاني ټولنـه کې چې الحمـدلله ددې خاورې خلـک دلاوره متـدین مسلمان او نیکمرغه انسان جوړونکي او د اسلامي دین پیروان دي ډیر لوړ دیني علمي او اخلاقي ټولنیز مقام لري او دټولنې په سوکالۍ بیا رغونه او سلامتیا کې د امام ښوونکي او روزونکي مصلح خیرخواه ستر قدرمن او اغیزمن شخصیت په څیر مهم او ا ساسي رول لوبوي له همدې کبله دهغه مسؤولیت هم په ټولنه کې دنورو په نسبت خورا زیات دروند او ستر گڼل کیږي.

له دې کبله بايد خطیب د ولس ترمنځ هغه خپل لوړ موقف ته په کتلو سره د تذکیر له پلوه د جمعې لمونځونو او اخترونو او نور دیني او ملي مناســبتونو کې دخپلو موضـوعاتو ښــه تعقیب وکړي او داولویت پر بنســټ يې د ټولنیزو واقعیتونو په پام کې نیولو سره دخلکو توجو ور وگرځوي.

او همدارنگه باید حتی الامکان کوښــښ وکړي زیار اوباسي چې خطبه په داســې ښکلي شکل تیاره کړي چې دټولنې هغه عیني واقعیتونه او مقتضیاتو سره سمون وخوري دخلکو مهمو اړتیاووته ځواب ویوونکي وي، د وخت حالات زماني مکاني شرائط پکې په نظر کې ونیول شي او له هرڅه مهم د خطبې وړاندې کول دي چې باید جدي پاملرنه ورته وشي او دا ځکه چې خطبه یواځې خبرو ته نه ویل کیږي بلکه د خیرخواهۍ اخلاص پرهیزگارۍ استقامت پرمټ د ولس روایښولو په

حرکت راوستلو انگیزه ورکولو او همدارنگه د تاثیر لاندې راوستلو ته ویل کیږي او هره خبره چې دزړه څخه را ووځي زړه ته رسیږي .

ددې موضـوع اهمیت ته په کتو سره د افغانسـتان اسـلامي جمهوریت د ارشـاد، حج او اوقافو وزارت د تدقیق او داسلامي علومو دمطالعاتو ریاست برعلاوه یو مهم مفید او بشپړکتاب د ( د جمعې د خطبو کتاب) ترعنوان لاندې او یوه بله رساله ( دخطباو لپاره دخطبې وړاندې کولو لاربښـود) په نامه دعربی څخه په ملي ژبو(پښـتو، فارسي) ترجمه کړی چې سـتاسـو سرلوړو او د ولس معنوي امامانو ته یې په داسـې حال کې وړاندې کوو چې نورو علمي او تحقیقي خدمتونو ترڅنگ به دخطبې په تاثیر کې حتما مفیده او اغیزمنه تمامیږي ، له الله تعالی څخه امید لرو چې همدارنگه نور خدمتونه لازیات او پیاوړي کړي او الله جل جلاله دې ټولوته دخیر بدله او ثواب ورکړي.

همدارنگه د قدرمنو ائمه او خطباو څخه هیله لرو چې د دې رسـالې او د جمعې د خطبې کتاب څخه په استفادې سره دمسجدونو د منابرو له لارې دعام ولس د اذهانو په جوړښت اوروښانه کولو کې خپل اساسي او بنسټیز رول په ښه توگه ادا کړي.

**محمد شریف رباطي دراني**

**د تدقیق او اسلامي علومو د مطالعاتو رئیس**

**کابل شهرنو ثور ۱۳۹۶**

# بسم الله الرحمن الرحيم

# د جلالت مآب مولوی عبدالحکیم منیب د ارشاد، حج او اوقافو وزیر تقریظ

بې له شــکه چې اســلام آخري اســماني دین په حیث د اخلاقو، کرامت، فضــیلت، دنړۍ امنیت، ټولنیز عدالت او د بهترینې حکومتدارۍ لپاره یو بشــپړ دســتورد ځمکې ګوټ ګوټ ته ورســاوه، او ټول روحاني او معنوي ارزښــتونه او بشري یې دیو بشپړ هر اړخیز نظام په چوکاټ کې په دا سې توګه راونغښته چې دهر ډول تخنیکي او صنعتي پرمختګونو سره د فطرت غوښتنو او انساني اړتیاوو سره برابر وي او په دا سې توګه تیارکړل شو چې انقیاد یې انساني ژوند، انساني ارزښت ،عزت، سوکالۍ دنیوي سعادت او کامیابۍ او دوامداره عافیت ګڼل کیږي او سر غړونه ورڅخه دمادیت او حیوانیت په میدان کې غورځیدل دي او د قیامت په ورځ به سخت عذاب او د الله جل جلاله په ګرفت کې راګیریږي.

د دې برسیره چې ا سلام دا ستر او لوړمقام لري د ا سلام نشر او خپریدل تنها د دعوت او تبلیغ له لارې چې برابر په موازینو حکیمانه منابعواو اســالیبو چې د دین په مصادرو کې وضع کړل شوي دي، کیږي .

په همدې اســاس هر څومره چې د وعظ ارشــاد او دیني تبلیغ دائره پراخیږي او مبلغین مســلمانان خپل اســلوب په معاصرو او اغیزمنو لارو ســمبالوي، سره له

حفظ ساتلو د اسلامي اساسات او ټول ارزښتونه او خپلې تجربې، زيرکتا او خپل ټول توان او طاقت چې داسـلامي منل شـويو معيارونو سره يو ځاى کړي نو په هماغه اندازه به د دوي تقريرونه او ويناوې ښـې اسـتقباليږي او خبرې به يې دخلکو په منځ کې حيرانتيا په ډول اغيزمنې تماميږي او رسوخ به کوي.
بې له شکه ځخه چې دا ( د جمعې خطبې ) کتاب د خپل انتظار مطابق لاسته راوړ او يقين مې اوشو چې دغه ارزښمند او په زړه پورې اثر دهيواد په مطبوعاتو کې وزليده او ستر موقعيت يې تر لا سه کړی، زر ده چې د دغه ليکنې محتويات او روحاني انگازې به دا فضـا معطره کړي او په خپلو انوارو او پيغامونو به زړونه روښانه کړي، ځکه زړونو ته دالله جل جلاله پيغام ر سوونکي دی.
د دې کتاب چاپ او خپرول د ديني او روحاني ټولنې دا ئمه او خطباء، او د پوهانو او همدارنگه دعامو وگړو دتربيت او تزکيې په موخه او ديو سـالم عاقل نسل د روزلو لپاره او بالخصوص پدې حساسو شرائطو کې چې کلتوري او مادي يرغل انسانيت تهديدوي ترڅو دانسان مفهوم او شخصيت په ماده او دنيا پورى منحصر کړي، نو ددغه کتاب په شان کتابونه زه دټولنې لپاره اشد ضرورت او يو واقعي او ابدي اړتيا گڼم .
په همدې ا ساس د تدقيق او ا سلامي علومو دمطالعاتو ريا ست دمحترم رئيس او د ديپارټمنټ مسـؤولينو کارپوهانو او همکارانو خدمتونه چې د پخوا په څير يې د دغه کتاب موفق اشراف او هر اړخيزه کتنه کې مهم رول لوبولی، تقديروم .
اوهمدارنگه په وار سره د مشـورتي علمي موظف شـوي کميسـيون څخه هم منندوی يم چې بې دريغه او نه ستړي کيدونکي هلې ځلې يې د دې کتاب په لا

زیات نورانیت تحقیق او تالیف کې تر سره کړي دغه سـترې کړنې یې د سـتایل وړ بولم.
همدارنګه دهیواد دټولو علمي هســتیوڅخه د زړه له تله مننه کوم چې په سـپیڅلې نیت او اراده یې د دې کتاب په علمي بڼــکلا کې بې دریغه معنوي او مادي مرسته او فعاله ونډه واخسته.
یقین لرم چې د تدقیق او اسـلامي علومو دمطالعاتو دغه مبارک خوزښـت د دغه کتاب په ځلانده کیدو سره د ورځني تالیفاتو لړۍ ته د علمي او فرهنګي په څانګو کې تنظیم او سمون وروبخښی او د تحقیقاتو او رسنیو لپاره لاهم تیزونکی او هڅونکی تمام شي.
په پای کې ټولو هغو ځلیدونکو پوهانو چې د پوهې په انکشاف او ا سلامي کلتور په برخه کې خدمتونه کړي د دغه سـترو کړنو په عوض کې ورته د الله جل جلاله څخه سـتر اجر او ښـه عوضـونه غواړم او هغه دوامداره خدمتونه چې د اسـلامي دعوت دروښـانه کولوپه موخه یې ترسره کوي سر لوړي او موفقیت ورته دتل لپاره غواړم.

وما ذلک علی الله بعزیز

**مولوی عبدالحکیم منیب**

**د ارشاد، حج او اوقافو وزیر**

۱۳۹۷

١

# ایمان راوړل په الله ﷻ

**الحمد لله نحمده و نستعينه و نستغفره ونعوذ بالله من شرور أنفسنا و من سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له و من يضلله فلا هادي له و نشهد أن لآ اله الاالله وحده لاشريک له و نشهد أن محمدا عبده و رسوله والصلاة والسلام على سيد الأنبيآء والمرسلين و على آله و صحبه أجمعين.**

دالله ﷻ په وجود باندې څلور شیان دلالت کوي چې لاندې اجمالاً ذکر کیږي:

فطرت ، عقل ، شریعت ، واقعیت .

**د ایمان تعریف :**

**ایمان په لغت کې**: باور او یقین ته وایی البته هغه یقین چې عاري وي له شک او شبهې څخه.

**او په ا صطلاح کې**: ایمان ویل کیږي اقرار کول په ژبه او تصدیق او باور کول په زړه په ټولو هغو شیانو باندې چې پیغمبر ﷺ د الله ﷻ طرفه د بشـــر دلاربنو راوړلي دي نو په هر مؤمن باندې فرض او لازم دی چی ایمان ولري د الله په وجود او په رسالت د حضـرت محمد ﷺ باندی ، او داسی باورو کړي چی الله ﷻ زمونږ د هدایت لپاره په وسیله د وحی ډیر امور مونږ ته را ښودلی دي ، چی مونږ

هیڅ کله نشــو کول چی دســترگو او غوږو یا نورو وســایلو په واســطه د هغوی په هکله معلومات حاصل کړو ، نو په همدی سبب او علت سره هر شې چې مونږ ته د الله ﷻ له طرفه را رســیدلی دې نو په مونږ لازم دي چی د یو حق دین په نامه یی ومنو او قبول یی کړو، که چیرته یو سـړې د یوه هغه شي څخه چی پیغمبر ﷺ د هغه خبر مونږ ته راکړی دی منکر شي نو دغه شخص مؤمن نشی بلل کیدلی، مثال یو ســړی ووایی چی زه پیغمبر ﷺ منم او په هغه ایمان لرم او هر هغه شــی چی نبی علیه الســلام د الله ﷻ د توحیداو صــفاتو په هکله ویلی دي په هغه زه ایمان لرم، مگر هغه شــیان چی نبی علیه الســلام د جنت او دوزخ په هکله بیان کړي دي زه یی نشم قبولې ځکه زما دعقل سره سم ندي، نو په دغه صورت کی دغه شخص هیڅ کله مؤمن نشو گڼلی.

**د الله ﷻ د لفظ معنا:**

الله د هغه مقدس ذات ذاتی نوم دی، چی دهغه وجود د خپل ځان څخه دی ، په نور چا باندی موقوف ندې یعنی ( واجب الوجود ) دی ، یعنی د الله ﷻ وجود ضروري اولازمي دی او الله ﷻ ته هیڅ کله عدم د نشتوالی نه ثابتیږي، او الله ﷻ د ټولو حمدونو او ثنا گانو وړ دی. او دغه قید چی مونږ وایو هستي او وجود د الله ﷻ خپل دی نو دغه خبره پدی معنا ده چی الله ﷻ همیشه دې او وجود د الله ﷻ هیچاته ضرورت نلري یعنی وجود دالله ﷻ د هیچا پر وجود باندې موقوف ندی او هغه د ټولو کایناتو پیداکوونکی او اداره کوونکی دی او هر وخت چی مونږ

وایو چی الله ﷻ د ټولو حمدونو او ثناګانو لایق دی نو د مونږ مقصد دا دی چی الله ﷻ د ښو نومونو او صفتونو څښتن دی لفظ د الله د مونږ مسلمانانو په مینځ کی مخصوص د هغه معبود بر حق او پیداکوونکی لپاره استعمالیږی چی د ټولو کایناتو پیداکوونکی او روزي ورکوونکی دی نو په همدی علت سره دغه مقدس لفظ د غیر الله لپاره نه استعمالیږی او دغه لفظ تثنیه او جمع هم نلري او استعمال یی هم ندی راغلی، او په دغه ځای کې دغې یوی نکتی ته اشاره لازمی ده، چی د تاریخ او نورو مذهبی کتابونو د جهان څخه معلومیږي ، چی عقیده لرل په وجود د الله ﷻ همیشه او په زیاتو قومونو کی موجوده وه ځکه عقیده لرل په وجود د الله ﷻ یو فطري امر دې نو په همدی خاطر قران کریم په هرځاې کې چې د مختلفو پیغمبرانو علیهم السلام ذکر راځي ، نو دغه خبره بیانوي، چی ټولو پیغمبرانو خپلو امتونو ته د توحید مسئله بیان کړی وه، مګر د الله ﷻ د وجود او هستۍ په باره کی زیات بحث په قران کریم کی ندی راغلی ځکه د الله ﷻ وجود یو بدهي امر دی او زیات دلیلونو او بحثونو ته ضرورت نلري لکه د انسان د وجود په څیر، هغه شې چی قران کریم په هغه باندې ډیر تمرکز او تاکید کړیدی هغه مسئله د توحید او الهي صفتونو ده چی په مختلفو طرقو سره یی بیان کړیده، مګر د الله ﷻ د وجود په باره کی یی په ښکاره او بدیهی دلایلو باندې اکتفا کړیده.

## د الله ﷻ په وجود دليلونه:

د الله ﷻ وجود په داسی شکل سره واضح او ښکاره دی، چی هیڅ قسم دلیلونو ته ضرورت نلري لیکن بیا هم هغه لوی ذات چې د ده وجود د لمر د وجود څخه هم ډیر زیات ښکاره دی، او د الله ﷻ وجود په اعتبار د ذات سره دومره عالي او لوړ دی چی د انسان سترگی دومره قدرت او طاقت نلري چی الله ﷻ ورباندی ووینی، او د الله ﷻ د ذات په حقیقت ځان پوهه کړي ، نو په همدی خاطر الله ﷻ د هغو اثارو په وسیله چی الله ﷻ پیدا کړي، او یا د هغه پیغمبرانو علیهم السلام په وسیله چی الله ﷻ رالیږی دي مونږ ته خپل ځان معرفی او را پیژندلي دی، په اعتبار دصفتونو او نومونو سره نه په اعتبار د ذات سره ، هغه دلایل چی مونږ ته الله ﷻ راپیژنی ، او یا مونږ د الله ﷻ طرف ته سوق کوي ، هغه دلایل ډیر زیات دي، چی د هغوی له جملی څخه دوه غټ دلایل دي چی هغه عبارت دی له:

١ – قران کریم او د نبوي ﷺ احادیث یعنی نقلي دلائل

٢ -کاینات عقلي دلائل

## الف : نقلی دلیلونه د الله ﷻ په وجود باندې:

يو له غټو دلايلو څخه په وجود د الله جل جلاله باندې خپله قران کريم دی، دغه مقدس کتاب چی د هر شی بيان کوونکې دی او دی تيرشويو زمانو او راتلونکو زمانو، او دآخرت او دهغه مربوط شيانو څخه هم بحث کوي، او دکايناتو او اخرت نقشه يی مونږ ته ښکاره کړيده، د ټولو څخه مخکی مونږ ته هغه لوی ذات را معرفي کوي چی دائي د بشر د لارښونې لپاره راليږلی دې او قران کريم د غو سوالونو ته ځواب وايی، چی زه څوک يم؟ څرنګه پدغه کايناتو کی اوسيږم؟ او چيرته ځم ؟ او په دغه دنيا کی چې زه مجبور يم چی ورڅخه جداشم په مرګ سره څه کار او مسؤليت لرم؟ زه دغه دنيا ته چا رأوړی يم؟ او دغه دنيا چی زه ورته بغير د خپلی ارادی راغلې يم څه معنا او مفهوم لري؟ سره د دی زه نه غواړم چی د دغه دنيا څخه لاړ شم ، څرنګه نشم کولی چی دلته د هميشته لپاره پاتې شم؟ او مرګ څه شې دی؟ او وروسته د مرګ څخه څه واقع کيږي؟ نو په قرانکريم کی ډير آيتونه راغلې دي چی خلک يی په يو الله ﷻ باندی ايمان راوړلو ته رابللي دي: لکه څرنګه چی الله ﷻ فرمايی:

﴿إِنَّنِي أَنَا اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدْنِي وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي﴾ .[1]

---

۱ - د طه سورت، ۱٤ آيت.

ژباړه : همدا زه الله یم ، زما څخه پرته بل الله نشته ، نو ته زما بندګي وکړه او زما دیاد لپاره لمونځ قایم کړه. او همدارنګه په بل ځای کی فرمایی:

**( فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ وَمَثْوَاكُمْ).**[١]

ژباړه : نو ای پیغمبره ﷺ ښه پوه شه چی له الله ﷻ څخه پرته بل هیڅوک د عبادت وړنشته، او دخپلی ګناه لپاره هم ښښنه غواړه او د مؤمنو نارینه او ښځو لپاره هم الله ﷻ په دنیا کښی ستاسی له استوګنځي څخه هم خبر دي او همدارنګه نبی ﷺ فرمایي:

**( أتدرون ما الایمان بالله وحده ؟ قالوا: الله و رسوله أعلم : قال شهادة أن لا اله الا الله و أن محمداً رسول الله ).** [٢]

ژباړه : آیا تاسی پوهیږی چی څه دی ایمان په الله ﷻ باندې؟ صحابه کرامو وویل: الله ﷻ او دهغه رسول ښه پوهیږي نو نبی علیه السلام وویل: شاهدي ورکول دي پدې خبره باندې، چی نشته لایق د عبادت پرته د الله ﷻ څخه او شاهدي ورکول پدی خبره باندې چی په تحقیق سره محمد ﷺ د الله ﷻ رسول دي .

---

١ - دمحمد سورت،١٩ آیت.

٢ - صحیح البخاري، حدیث: ٥٣.

## ب : عقلی دلیلونه د الله ﷻ په وجود باندی:

د انسان عقل هم د الله ﷻ د وجود قایل دی او وایی چې باید دغه کائینات او مخلوقات یو خالق ولري ، چی دوی یی پیدا کړیدي، ځکه عقلاً هیڅ کله داسی ممکنه نده چی دغه کاینات او ډول ډول مخلوقات دی پخپله او په تصادفی شکل سره پیدا شوي وي، ځکه هیڅ شی پخپله او په تصادفی شکل سره نشي پیدا کیدلی، او هیڅ ممکنه نده چی یو شې دی پخپله د ځان خالق وګرزي، ځکه مخکی د پیدایښت څخه دغه شی معدوم (نشت) وو او معدوم عقلاً څرنګه ممکنه ده چی دخپل ځان خالق وګرزي؟

هیچ شې تصادفي نشی پیداکیدلې، ځکه هر ( حادث) نوی پیدا شوې شې خامخا ( محدث) ته ضرروت لري چی هغه الله ﷻ دی، نو دغه دنیا سره د دغه عجیب نظم سره هیڅ کله ممکنه نده چی تصادفی او پخپله مینځ ته راشي، نو معلومه شو ه چې دغه کاینات خامخا یو خالق پیداکوونکي لري ، او هیڅ کله ممکنه نده چی دغه کاینات دې پخپله پیداشي، نو خامخا دغه کاینات یو خالق لري چی هغه الله ﷻ دی او دغه عقلي او قطعی دلیل ته الله ﷻ په سوره الطور کی داسی اشاره کړیده او فرمایي: (**أَمۡ خُلِقُواْ مِنۡ غَيۡرِ شَيۡءٍ أَمۡ هُمُ ٱلۡخَٰلِقُونَ** ).[۱]

---

۱ - د الطور سورت، ۳۵ آیت.

ژباړه : آیا دوی له کوم خالق څخه پرته پخپله پیدا شویدي ؟یعنی دوی بی له خالق (پیدا کوونکی) ندي پیدا شوي، او پخپله هم ندي پیدا شوي ، نو دریمه خبره او نظریه واضحه شوه چی دوی یو خالق لري چې هغه الله ﷻ دی، نو په همدی خاطر سره ( حضرت جبیر بن مطعم رضی الله عنه ) په هغه وخت کی چې دی مشرک وو ، هر کله چی نبی ﷺ سوره الطور قراءت کړلو او دغه آیات کریمه ته راورسیده او حضرت جبیر رضی الله عنه واوریدلو چی الله ﷻ فرمایی:

(أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ الْخَالِقُونَ أَمْ خَلَقُوا السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بَل لَّا يُوقِنُونَ أَمْ عِندَهُمْ خَزَائِنُ رَبِّكَ أَمْ هُمُ الْمُصَيْطِرُونَ ). [١]

ژباړه : آیا دوی له کوم خالق څخه پرته پخپله پیدا شویدي؟ یا پخپله د خپل ځان پیدا کوونکي دي، آیا دوی آسمانونه او ځمکی پیدا کړیدي یائې (پیداکوونکي دي) اصلی خبره داده چی دوی باور نلري ، آیا ستاد رب خزانی ددوی په ولکه کې دي؟ یا پرهغو باندی د همدوی حکم چلیږي ؟

١ - د الطور سورت، ٣٥-٣٧ آیتونه.

هرکله چې حضرت جبیر رضی الله عنه دغه آیتونه واوریدل ، نو ده وویل : زما زړه په الوتلو شروع وکړه یعنی یو عجیبه او حیرانونکې کیفیت زما په زړه کې پیدا شو، او دغه اول ځل وو چې ایمان زما په زړه کی ځای ونیول . [1]

که چیرته یو کس د یوی ښایسته ماڼۍ په باره کی چی هغه د باغونو په مینځ کی واقع وي او ډول ډول ښایسته فرشونه پکی غوړی دلی وي، او مختلف قسمه تختونه پکی ځای پرځای شوې وي، او دهیڅ شی کمښت پکی نه وي نو دغه شخص دځان سره ووایی چی دغه ښکلی ماڼۍ سره د دغو صفتونو چی دایي لري په تصادفی شکل سره پیدا شویده، او هیڅ جوړوونکی نلري نو بغیر د څه ځنده تاسی هغه تکذیب کوی او هغه ته نسبت د بی عقل کوی، او د هغه خبره هم نه منی، نو څرنګه ممکنه ده چی دغه کاینات، ځمکی او آسمانونه سره د ډول ډول مخلوقاتو په تصادفی شکل سره پیداشي او کوم خالق ونلري؟

## هیڅ شې په خپله وجود ته نشی:

هیڅ شې په خپله وجود ته نشی راتللی تردی پورې، چې یوه پلاستیکي پوکاڼۍ هم په تصادفي شکل سره نده پیدا شوې نو څرنګه ممکنه ده چی بدن دانسان سره د عجیبه جوړښت او پیدایښت چی په هیڅ شکل سره د پلاستیکي پوکاڼۍ

---

[1] - معرفة السنن والآثار للبيهقي، حديث: ٤٨٣١.

سره شباهت نلري په تصادفی شکل سره پیداشی هیڅ کله ممکنه نده ، نو دد غه بحث څخه ثابته شوه چی د انسان او د نورو کایناتو لپاره یو خالق مدبر، عالم، قادر، موجود وجود دی چی په دغو صفتونو باندی موصوف دی چې هغه الله ﷻ دی.

## هیڅ شی په تصادفی شکل سره ندی پیدا شوې:

مونږ ټول په دی پوهیږو چی یوه گولۍ او یا یو بوتل د شربتو چی د مختلفو کیمیاوي موادو څخه وروسته دغه گولۍ یا شربت تیار شوې دې، نو آیا اوس مونږ ته ممکنه ده چی ووایو چی دغه گولۍ یا شربت په تصادفی شکل سره تیار شویدې هیڅ کله امکان نلري ، بلکه دغه گولۍ او یا شربت د ډیر سعی او کوشش او تحقیق وروسته چی یو کیمیاگر د خپل عقل په همکارۍ سره سر ته رسولي دي تیار شویدې، نو د دغه دوا ترتیب او ترکیب د کیمیاگر په عالی وړتیا او پوهې باندې دلالت کوي، نو په همدی بنا سره د انسان وجود چی د مختلفو اجزاو وڅخه مرکب شویدی او په یو عجیب جوړښت او پیچیده نظم سره تیار شویدی او نور ډول ذی روح او غیر ذی روح مخلوقات پیدا شویدې چی په لکونو واره د دغه گولۍ څخه اوچت دي نو څرنگه ممکنه ده چی په تصادفی شکل سره پیداشي او مختلف عناصر د دغه انسان په وجود کی په تصادفي ډول سره یو ځای شي هیڅ کله ممکنه نده، مگر حقیقت دا دی چی کله مونږ یو کار توني فلم گورو، نو مونږ

په خپل عقل او پوهی سره دا درک کوو چی د دغه فلم ترشاه ته د یو انسان پټ لاس شته دی چی دغه فلم یی په حرکت، راوستلی دی، هر کله چی انسان په دغه خبره باندې اعتراف کوي چې د دغه کار تونی فلم شاه ته د یو پټ انسان لاس شته دی، نو دغه انسان باید دغه خبره هم قبوله کړي چې د دغه هستی او کایناتو لپاره هم یو خالق او پیدا کوونکی ضرور شته دې چی هغه یي په اړه علم قدرت او سلطنت او تصرف لري چی ډول ذی روح او غیر ذی روح مخلوقات ئي پیدا کړیدي، الله ﷻ عقل په همدی خاطر پیدا کړیدی ، چی انسان د عقل په واسطی سره خپل خالق وپیژنی او د هغه قدرت تسلیم شي.

مگر که چیرته یو انسان سره د عقله ، د الله ﷻ وجود تسلیم نکړي او دبی عقلانو کارونه او رفتار اختیار کړي نو د دغه انسان انسانیت هیڅ مفهوم نلري ، بلکه دی تر چارپایانو هم په بدتر دی څرنگه چی قران کریم هم پدی خبره باندی ناطق دی ). او وائي: ( **أُوْلَٰٓئِكَ كَٱلۡأَنۡعَٰمِ بَلۡ هُمۡ أَضَلُّۚ** ).[۱]

ژباړه : دغه کسان په شان د څارویو دی ، بلکې له هغو څخه هم لا پسې تیر .

**یوه قیصه :**

یوه ورځ عبدالله بن مبارک رحمة الله علیه په لاره تللو چی یو شپونکې یی ولید، چی میږی یی څرولی نو د ځان سره یی وویل دغه بی وزله په وړوکوالي کې میږی

۱ - د الاعراف سورت، ۱۷۹ آیت.

ځروي، په غښوالی کی به دغه ځرنگه د الله ﷻ عبادت او معرفت ته لاره پیداکړی؟ د ځان سره یي وویل ورځم تر څو د دین یوه مسئله ورته وښایم او الله ﷻ ور وپیژنم، هلک ته ورغی او هغه ته یي وویل، ای هلکه! الله ﷻ پیژنی؟ هلک په جواب کی ورته وویل: بنده ځرنگه خپل خالق نه پیژني؟ عبدالله بن مبارک وویل: ځنگه الله ﷻ پیژنی؟ هلک په جواب کی ورته وویل د خپلو میږو څخه عبدالله بن مبارک تعجب وکړو او ورته وی ویل: الله ﷻ ځرنگه د خپلو میږو څخه پیژنی ؟ هلک به جواب کی وویل که چیرته پدغو میږو باندې یو شپونکی نوي مقرر چی دوې ته اوبه او واښه ورکړي او د لیوانو څخه یی وساتي، نو په دغه وخت کی دغه میږی د منځه ځي او هلاکیږي، نو زه پوه شوم چی دغه کاینات او حیوانات او نور مخلوقات ضرور یو نگهبان (ساتونکی) لري چی دغه نگهبان ندی مگر الله ﷻ دی. عبدالله بن مبارک رحمه الله تعالی بیا په ډیر تعجب سره دته وویل : په څه شکل سره الله ﷻ له پیژنی ؟ هلک ورته وویل همدارنگه یی دخپلو میږو څخه پیژنم، عبدالله بن مبارک ورته وویل ځرنگه ؟ هلک وویل: کوم وخت چی زه خپلو میږو ته گورم او دوی وینم نو هیڅ یوه ئي له ماسره مشابه نده او لماسره شباهت نلري په حفاظت تصرف او په شکل کی او نه زه د دوی سره شباهت لرم ، نو زه پوه شم چی الله ﷻ هم دخپلو بندگانو ، او بندگان د الله ﷻ سره شباهت نلري لکه ځرنگه چی الله ﷻ فرمایی :( **لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ**). [۱]

ژباړه: نشته په مثل د الله ﷻ هیڅ شی، (هغه د هر څه اوریدونکی اولیدونکی دي). پس په نظر کولو سره مخکونیو دلایلو ته چی بیان شول ځرنگه ممکنه ده

۱ - د الشوری سورت،۱۱ آیت.

چې انسان په تصادفی شکل سره پيدا شوی وي ، مگر اصله خبره دا ده چې الله ﷻ د انسان د اوصافو او خصوصياتو په هکله فرمايي:( **إِنَّهُۥ كَانَ ظَلُومًا جَهُولاً** ).[1]
ژباړه : يقيناً انسان ډير ظالم او جاهل دی .

## ج : د الله ﷻ په وجود باندی فطري دليلونه:

بل دليل چې سالم فطرت دې هم د الله ﷻ په وجود باندی اعتراف کوي ، قران کريم د الله ﷻ د وجود په هکله اوږد بحث ندی کړی ځکه دغه يوه بديهی مسئله ده ، بلکه زيات تمرکز يی پدی خبره کړی چې هغه سالم فطرت چې په شرک سره نوی ملوث شوی دهغه په يووالي باندی اعتراف کوي ، ځکه دغه موضوع يوه فطري موضوع ده ، او په روح د هر انسان کی خلط شويده لکه څرنگه چې الله ﷻ فرمايي:(**فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا ۚ فِطْرَتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِى فَطَرَ ٱلنَّاسَ عَلَيْهَا ۚ لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ ٱللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ**).[2]

ژباړه : نو ای پيغمبره ( ﷺ ) د خپلو پيروانو سره دی په يو لوری کيدو خپل مخ د دغه دين خوا ته بر قرار وساته پر هغه فطرت ټينگ شه چې پر هغه باندی الله تعالی انسانان پيدا کړيدی د الله جوړ کړی فطري دين نشي بدليدای همدغه بيخی سم صحيح دين دی خو زياتره خلک نه پوهيږی يعنی دغه فطرت يو داسی

١ - د الأحزاب سورت، ٧٢ آيت.
٢ - د الروم سورت، ٣٠ آيت.

حقيقت دی چی د ټولو اديانو د محققينو توجه يی ځان ته راګرزولی ده ، او د ټولو هغو چی دهغوی تاريخ  د تحقيق لاندې راغلې دی، چې دوی ځان ته معبودان انتخاب کړی وو چې دهغوی احترام او تقديس به يي کولو.

**د : شرعي دلايل:**

اسلامي شريعت هم د الله ﷻ پر وجود باندی دلالت کوي ، ځکه د ټولو اسماني کتابونو خبره هم دا ده چی الله ﷻ موجود دی او هغه موصوف دی د کمال په صفتونو سره ، همدا رنګه هغه احکام چی پدغو اسمانی کتابونو کې د خلکو د مصلحت لپاره راغلې دي، پدی خبره باندی دلالت کوي چی الله ﷻ د خپلو بندګانو مصلحتونه پيژني، او د بل طرف څخه هغه خبرونه چی پدغو اسماني کتابونو کې د کايناتو په هکله راغلې دي ، واقعيت، صداقت اوحقيقت د دغو خبرونو تأييد کوي چی دغه خبرونه حقيقت لري ، دغه پخپله يو ښکاره او واضح دليل دی چې دغه خبرونه په باره د کايناتو کې دهغه الله ﷻ له طرفه دي چی هغه ډير غښتلې دې، او دهر شي خبر يي چی ورکړيدی نو همغه شی ئي پيدا کړې دي .

**هـ : واقعيتونه او د پيغمبرانو  عليهم السلام معجزې د الله ﷻ پر وجود دلالت کوی:**

واقعيت په دوو صورتونو کې د الله ﷻ په وجود باندې دلالت کوي :

**الف**: څرنګه چې الله ﷻ دعا قبلوی او د مظلومانو فریاد او زاری اوري، پخپله یو واضح دلیل دی د الله ﷻ پر وجود باندې څرنګه چې الله ﷻ فرمايي: (**وَنُوحًا إِذْ نَادَى مِن قَبْلُ فَاسْتَجَبْنَا لَهُ**). [1]

ژباړه : او هغه وخت در یاد کړه نوح مونږ ته پخوا موږ ته غږ کړی ؤ موږ دهغه دعا قبول کړه ) او همدارنګه الله ﷻ فرمایی:

(**إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّي مُمِدُّكُم بِأَلْفٍ مِّنَ الْمَلَائِكَةِ مُرْدِفِينَ** ).[2]

ژباړه : هغه وخت چې کله تاسی خپل پروردګار ته فریاد کاوه په ځواب کښی هغه وفرمایل چې زه ستاسی د مرستی لپاره یوزر پرښتی درلیږم.

او همدا راز په صحیح البخاری کی راغلی دي ؟ چې انس رضی الله عنه وايي، د جمعی مبارکه ورځ وه په داسی حال کی چې نبی علیه السلام خبرې کولې په منبر باندې ، نو يو کوچې راغې او مسجد نبوی ته را داخل شو ، او هغه وویل: ای د الله ﷻ رسوله ، زمونږ چار پایان د منځه څخه لاړل ، او زموږ اطفال د لوږی سره مخامخ شول ، د الله ﷻ په در بارکی د موږ لپاره دعا وکړه چې الله ﷻ په موږ باندی باران وکړي ، نو رسول الله ﷺ خپل مبارک لاسونه پورته کړل او دعايي وکړ، په نتیجه کی یی داسی وریځی لکه د غرونو په څیر په حرکت کی راغلی او لا تر

١ - د الأنبیآء سورت، ٧٦ آیت.

٢ -د الآنفال سورت،٩ آیت.

اوسه نبی علیه السلام د خپل منبر څخه لانوو راکوز شوې ، چې ما د باران څاڅکی ولیدل چی د نبی کریم ﷺ د مبارکی گیري څخه څڅیدل ، او په بله جمعه کی همدغه کوچی یا یو بل شخص پورته شو او وی ویل ای د الله ﷻ رسوله ، زمونږ کورونه تباه شول او زمونږ مالونه غرق شول ، د الله ﷻ په دربار کې زموږ لپاره دعا وکړه، چې الله ﷻ دغه باران زموږ دعلاقو څخه بندکړي ، نو دغه وارهم نبي ﷺ داسې دعا وکړه: ( **أللهم حوالينا ولا علينا فما يشير بيده الى ناحية من السحاب الا انفرجت** ). [1]

ژباړه : ای خدایه ، زمونږ طرف ته یی و وروي نه پر مونږ باندې، او په هر طرف چی نبی کریم ﷺ اشاره وکړله ، نو وریځی په هماغه طرف تیت شولې. نن ورځ مونږ وینو چې هر څوک په صادقانه ډول الله ﷻ ته رجوع وکړي او د دعا د اجابت شرطونه مراعات کړي نو خامخا الله ﷻ د ده دعا قبلوي .

**ب :** د پیغمبرانو علیهم السلام نښی چی معجزې ورته وایي، او خلک هغه گوري، اویا د هغوی په هکله خبرونه او ري او خبریږي ، دغه یو ښکاره او واضحه دلیل دی په رالیږونکي باندې چې دغه پیغمبران علیهم السلام یي پداسی حیرانونکو معجزو سره رالیږلی دي چی هغه الله ﷻ دی. ځکه معجزې عبارت دي له یو خارق العادت کار څخه چې دغه کار دبشر دقدرت او طاقت څخه بهر دي او الله ﷻ

١ - صحيح البخاري ، حديث: ٩٣٣.

دغه معجزې خپلو پيغمبرانو عليهم السلام ته د دوی د نصرت او تأييد لپاره وركړيدي چې خلک د دوي رسالت ومني او دهغه تصديق او تأييد وکړي ، د مثال په ډول مونږ كولی شو د حضرت موسی عليه السلام د معجزی يادونه وکړو ، په هغه وخت کی چې الله ﷻ هغه ته حكم وكړلو چې پخپله امسا باندی درياب وواهه او ده هم د الله ﷻ اطاعت وکړلو ، او دولس و چی لاری په درياب کی جوړې شوې، او اوبه د غرونو پشان د دوو لارو په منځ کی و دريدلی ، لکه څرنگه چی الله ﷻ فرمايي:

﴿ فَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنِ ٱضۡرِب بِّعَصَاكَ ٱلۡبَحۡرَۖ فَٱنفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرۡقٖ كَٱلطَّوۡدِ ٱلۡعَظِيمِ ﴾.[١]

ژباړه : (موږ موسی عليه السلام ته د وحی په وسيله حكم وكړ چی درياب په خپله امسا ووهه نو په ناڅاپي ډول درياب وچاوده او دهغه هر ټوټه د يو لوي غره په څيرشوه). معجزه د حضرت عيسی عليه السلام کولی شو د دوهم مثال په طور ذكر كړو ، هغه دا وه چی هغه به انسانان د الله ﷻ په اذن ( اجازه) او حكم سره د قبرونو څخه ژوندي كول او د الله ﷻ په اذن ( اجازه) سره به ژوندي كيدل لکه څرنگه چې الله ﷻ داسی فرمايي: (وَأُحْيِي الْمَوْتَى بِإِذْنِ اللهِ).[٢]

---

١ - د الشعرآء سورت ٦٣ آيت.

[٢] - د آل عمران، سورت ٤٩ آيت .

ژباړه : او زه ژوندی کوم مړي د الله ﷻ په حکم او اجازی سره او په بل ځای کی الله ﷻ فرمایی :( **واذ تخرج الموتى باذني** ).[1]

ژباړه : او په هغه وخت کې چې تا مړي زماپه امر ژوندي راویستل او د نبی علیه السلام معجزه کولی شو د دریم مثال په طور ذکر کړو ، هر کله چی قریشو د ده مبارک څخه د معجزی د راوړلو غوښتنه وکړله او نبی علیه السلام د سپوږمۍ په طرف اشاره وکړله ،او سپوږمی په دوه ټوټو تقسیم شوه لکه څرنګه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿**ٱقۡتَرَبَتِ ٱلسَّاعَةُ وَٱنشَقَّ ٱلۡقَمَرُ وَإِن يَرَوۡاْ ءَايَةٗ يُعۡرِضُواْ وَيَقُولُواْ سِحۡرٞ مُّسۡتَمِرّٞ**﴾.[2]

ژباړه : (قیامت را نژدې شو او سپوږمۍ وچاودید دله دوی ټوټی شوه خو دغو خلکو حال دادې چې که هره نښانه ووینې مخ اړوي او وایي، دا خو روان سحر او کوډې دي. پس دغه ښکاره او واضح علامات او معجزی چی الله ﷻ خپلو پیغمبرانو علیهم السلام ته د دوی د نصرت او تآید لپاره ورکړیدي، په ښکاره او واضح ډول سره د الله ﷻ په وجود باندې په یقینی ډول سره لالت کوي.

### د الله ﷻ د قدرت علامې:

قران کریم په ډیرو آیتونو کی من ایاته کلمه تکرار کړیه، ترڅو مونږ ته د دغی لارې څخه دغه خبر راکړي ، چی دغه کاینات په دغه عجیب نظم او ترتیب سره هیڅ امکان نلري چی تصادفی رامنځه ته شوې وي، بلکه دغه عجیب او غریب نظم او

[1]- د المائدې سورت،۱۱۰ آیت.

[2] - د القمر سورت، ۱-۲ آیتونه.

ترتیب د یو عظیم الشان  ذات په وجود او دهغه په کامل قدرت او تصرف دلالت کوي چې هغه ندې مگر الله ﷻ دی.

**الف : د الله ﷻ د وجود او و حدانیت نښې او نښانی په طبیعت کې :**

الله ﷻ فرمایی : ( **و فی الأرض آیات للمؤقنین** ). [1]

ژباړه :( او په ځمکه کی د الله ﷻ د قدرت او وحدانیت زیات نښې او نښانی دي لپاره دهغو کسانو چې غواړي پوره یقین ولري د الله ﷻ په وحدانیت او قدرت باندی) هغه دانه چې په خاوره کې اچول کیږي، او ورو ورو د هغی ریشی په خاوره کې ننوځي، او وروسته له یو مودی څخه د دغې جامدی دانې څخه د دی په قالب کې د ژوند نښې او نښانی را څرگند یږی او د دی په ریشو او پاڼوکی ظآهریږی ، او هغه گلونه چې فضایی معطره کړیده او د دوی څخه راوزي او انسانان او حیوانات د هغو د میو و څخه تغذیه کیږي واضح او ښکاره دلیل دی د الله ﷻ په وجود باندی ، او په دوهم قدم کې راځئ چې د سهار رڼایې ته وگورو ، چې څرنگه د شپې د تیارو څخه راوزی ؟ او دشپې خاموش حالت پای ته رسوي ، او همدا رنگه یو ځل د لمر ، او سپوږمۍ او د ستورو حرکت ته نظرو کړو چې څرنگه په عجیب نظم او ترتیب سره حرکت کوي ، چې دغه ټول مذکور شیان د الله ﷻ د

---

۱ - د  الذاریات سورت، ۲۰ آیت.

قدرت او وحدانیت نښې او نښانې دي لکه څرنګه چې الله ﷻ فرمايي:﴿ **إِنَّ ٱللَّهَ فَالِقُ ٱلْحَبِّ وَٱلنَّوَىٰۖ يُخْرِجُ ٱلْحَىَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَمُخْرِجُ ٱلْمَيِّتِ مِنَ ٱلْحَىِّۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُۖ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ فَالِقُ ٱلْإِصْبَاحِ وَجَعَلَ ٱلَّيْلَ سَكَنًا وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ حُسْبَانًاۚ ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ ٱلْعَزِيزِ ٱلْعَلِيمِ** ﴾.[1]

ژباړه :﴿ په تحقیق سره الله ﷻ چوونکی د دانې او زړي دي ، هماغه ژوندې له مړي څخه او مړې له ژوندي څخه دا باسي، د دی ټولو چاروسرته رسوونکې خو الله دې، نو تاسې کوم لوري ته او ښتونکي یاست ؟ هماغه دشپې پرده څیروي ، سهار را بأسي ، هغه شپه د ارام کولو لپاره ګرځولې ده، هغه لمر او سپوږمی ختل او پر یوتل د حساب لپاره ټاکلي دي، دا ټولې د هماغه ستر قدرت او علم لرونکي ټاکلې اندازې دي.

هرکله چې مونږ د عبرت په نظر سره منظرې د وريځوته وګورو چې څرنګه الله ﷻ د دوی تشکیل کړیدی او دیو ځای څخه بل ځای ته یی شړي لکه څرنګه چې الله ﷻ داسی فرمايي: (**أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُزْجِي سَحَابًا ثُمَّ يُؤَلِّفُ بَيْنَهُ ثُمَّ يَجْعَلُهُ رُكَامًا فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلَالِهِ وَيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَاءِ مِن جِبَالٍ فِيهَا مِن بَرَدٍ فَيُصِيبُ بِهِ مَن يَشَاءُ وَيَصْرِفُهُ عَن مَّن يَشَاءُ يَكَادُ سَنَا بَرْقِهِ يَذْهَبُ بِالْأَبْصَارِ**). [2]

---

١ - د الأنعام سورت، ٩٦-٩٥ آیتونه.

٢ - د النور سورت، ٤٣ آیت.

ژباړه : آیا ته نه وینی ای پیغمبره چې الله ﷻ وریځ ورو ورو خو ځوي بیا دهغی ټوټې سره یو ځاې کوي، بیا د هغی په راغونډولو سره یوه درنده وریځ تشکیلوي، بیا ته وینی چې دهغې له پوښ څخه د باران څاڅکي را څڅیږي ، او هغه له اسمانه د هغو غرونو په څیر وریځو څخه چې هغه هسکی ولاړې دي، ږلۍ وورو ي نو چاته یی چې خوښه شي په هغی یې زیات او وروي، او چاته یي چې خوښه شي له هغی څخه یي ژغوري، نږدې ده دغه بریښنا چې سترگی لمنځه یوسي:

ډیر حیوانات ځښتنان د داسی غړو دي چې په هغی سره حس کوي ، لکه حس د لیدلو ، حس د بویولو ، حس د لمس کولو ، حس د اوریدلو ، دغه خبره قابل د ذکر ده چې ترکیب اساسی د سترگو، دهغه حیواناتو چې دوي یي لرونکي دي او د نورو حیوانات سره ډیر نیږدې دې او په عین حال کی ډیر حیرت انگیز او پچیده هم دی ، سترگې داسې کسي لرونکې دي چې رڼا یی را اخلي ، او همدا رنگه داسی پردې لري چې رڼایي د دوې له لاری نفوذ کوي او دې کي له لاری تیریږي ، په هغه صورت کی چې رڼایی کمه وي خلاصیږی ، او هر کله چې نور رڼایی زیاته وي خود به خود تنگیږي او بندیږی فلسفه د دغه عجیب عمل او کار ښکاره ده ، هر کله چې نور (رڼایی) ضعیغه وي، نوسترگه پدغه وخت کی ډیر نور (رڼایي) ته ضرورت لري مگر هر کله چې نور (رڼایی) زیاته او قوي وي نو په دغه وخت کی

کمه رڼا یی هم کافي ده د لیدلو لپاره نو ځکه پدغه وخت کی د سترګې کسي بسته کیږی او په لازمه اندازه خپل نور رڼایی خپل باطن ته نقلوي .

یو ځل بیا دغه تغیر چی انسان پخپله زندګی کې ورسره مخامخ دې، او دغه دوران د شپی او ورځی موږ باید د عبرت په نظر سره وګورو چی څرنګه الله ﷻ موږ ته دهغه تصویر وړاندی کړیدې او په خپل معجز او ابدي کلام کې داسی فرمایي: **(قُلِ اللَّهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَن تَشَاء وَتَنزِعُ الْمُلْكَ مِمَّن تَشَآء وَتُعِزُّ مَن تَشَآء وَتُذِلُّ مَن تَشَآء بِيَدِكَ الْخَيْرُ إِنَّكَ عَلَىَ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ تُولِجُ اللَّيْلَ فِي الْنَّهَارِ وَتُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ وَتُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَتُخْرِجُ الَمَيَّتَ مِنَ الْحَيِّ وَتَرْزُقُ مَن تَشَاء بِغَيْرِ حِسَابٍ)**.[1]

ژباړه: ووایه ای محمده! ای پرور دګاره ته پاچاه د پاچاهانو یی ورکوی پاچاهي چاته دی چی خوښه شی او اخلی پاچاهي دچا څخه دی چې خوښه شي درنښت ورکوی چاته چی دخوښه شي او ذلیله کوی چاته چی دخوښه شی ستا په لاس کی ټول د خیر کارونه دی او ته په هرڅه توان لرونکې یی انغاړی شپه په ورځ کی او انغاړی ورځ په شپه کی د همدی له امله شپی او ورځی وړیږی او غځیږی راوباسی ژوندی له مړي څخه او راوباسی مړي له ژوندي څخه او ورکوې روزي چاته دی چی خوښه شي له حسابه پرته).

---

۱ - د آل عمران سورت ۲۶-۲۷ آیتونه.

قرانکریم کې دالله د توان په اړه یو مثال راوړل شـــوې یوائې زمونږ دځانونو او ددی په څیر په ځینی نورو مثالونو راوړلو باندی اکتفاء او اتکاء نکوي بلکې د نړی د پیداکولو موخه او هدف مونږ ته بیانوی او فرمایی: (**هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُم مَّا فِي الأَرْضِ جَمِيعًا**).[1]

الله ﷻ هغه هستی ده چی هر څه چې په ځمکه کې وجود لري تاسو لپاره یې پیدا کړی دي.

الله ﷻ د دنیا ټول موجوده توکی د انســـا نانو د طبیعت موافق دهغوې د احتیاجاتو او ضرورتونو د رفع کولو په موخه پیدا کړي او قرانکریم دې ته د تسخیر لقب ورکړی دې لکه الله ﷻ فرمایلی: (**أَلَمْ تَرَوْا أَنَّ اللَّهَ سَــخَّرَ لَكُم مَّا فِي السَّــمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ**) .[2]

ایا تاسی نه وینئ چې بیشکه الله مسخر او تابع کړي تاسې لپاره هرهغه څه چې په اسمانونو او ځمکه کې دي .

نو د الله ﷻ پیژندنه د طبیعت په نښونښانو په خپلو وجود ونواو په هر هغه چی په داخل د ځمکې او اسمانونو کې دي او په هر هغه څه چې د انسان په طبیعتونو او د جهان په هستیو کې دي په فکر کولو مأمور کړی او دغی جملې څخه د ځنې هغه څه یادونه کوو چی د انسانانو لپاره مفید او ګټور دي.

---

۱ - د البقری سورت ۲۹ آیت.

۲ - د لقمان سورت ۲۰ آیت.

**ب : د الله د پيژندنی نښې او نښانی د انسان په و جود کې:**

الله ﷻ فرمايلی: (**وَفِي أَنفُسِكُمْ أَفَلَا تُبْصِرُونَ**).[1]

ژباړه : او ستاسی وجودونو کی هم د الله ﷻ د پيژندنې لپاره ډيرې نښی نښانې او يقيني دلايل شته اياتاسی نه وينئ دغولره.

**د انسان سترګې :** الله ﷻ فرمايلی: (**أَلَمْ نَجْعَل لَّهُ عَيْنَيْنِ**).[2] آيا مونږ دغه انسان ته دوه سترګی ندې ورکړي؟

ډير ژوندي حيوانات د احساس او حس کولولپاره دغړو لرونکي وي: لکه د ليدو حس، د بويی کولو حس، د مسه کولو حس او د اوريدلو حس د يادونی وړ ده چې ترکيب اساسي د سترګو د هغو حيواناتو چی دوی يي لرونکي دي او د نورو حيواناتو سره ډير نيژدې دي او په عين حال کی ډير حيرت انګيز او پيچيده هم دي سترګی داسی کسي لرونکی دي چی رڼا يي اخلی او همدارنګه داسی پردی لري چی رڼا يي د دوی له لارې نفوذ کوي او دی کسي له لاری تيريږی په هغه صورت کې چی رڼا يي کمه وي دغه پرده خلاصيږی او هرکله چی نور رڼا يی زياته وي خود به خود تنګيږي او بنديږي .او ددې علت او فلسفه واضحه او روښانه ده او دا ځکه چې کله رڼا کمه وي نو دغه سوري ځکه خلاصيږی چی زياتې رڼا ته

---

۱ - د الذاريات سورتُ، ۲۱ آيت.

۲ - د البلد سورت، ۸ آيت.

اړتیا ده او چې کله رښا زیاته وي نو دغه سوري ځکه بندیږي چې زیاتې رڼاته اړتیا نشته او هغه خپله اندازه رڼا تولیدوي.

**د انسان ژبه او پدیکې د الله ﷻ پر وجود او قدرت باندې نښې او نښانې:**

الله ﷻ فرمایی : (**ولسانًا وشفتين** ).[۱]

ژباړه : آیا مونږ هغوې ته یوه ژبه او دوې شونډې ندي ورکړي؟ ژبه یوه وړه عضوه ده مگر ډیر زیات وظایف پرې اجرا کیږي د دنیا سعادت او نیک بختی پرژبه او زړه باندی مرتب کیږی که چیرته دا دواړه په صحیح او مستقیم شکل سره استعمال شي او الله مکړه که چیرته دغه ژبه په صیح طریقه سره استعمال نشي نو بیا سبب د هلاکت د انسان ده او هم دغه ژبه څرنگه چې د خبرو لپاره استعمالیږي یو بل وصف هم الله ﷻ پدې کی اچولی دې چې هغه خوند او مزه ده چې په واسطې د ژبې سره معلومیږي چې آیا دغه شیان خواږه او یا ترخه دي ؟ او همدارنگه دغه ژبه د انسان سره د ډودی په خوړلو کی هم کومک کوي چې ډوډی د انسان په خوله کی یو او بل طرف ته اړوي ، او د ډوډی په لاندې بولو کی هم کومک کوي ، نو آیا دغه کمالات چې دومره وړوکی غوښه کی اچولې شویدي په تصادفی شکل سره دي ؟ او د کوم عظیم ذات په وجود قدرت او علم دلالت نکوي ؟ نه داسی نده

۱ - د البلد سورت، ۹ ایت.

بلکه دغه وړوکی عضوه هم د الله ﷻ په عظیم ذات باندی دلالت کوي چی هغه الله ﷻ دې.

## دواړه شونډې او د الله ﷻ له د وحدانیت دلیلونه:

په قران کریم کی الله ﷻ فرمایې:( ای انسانه تا ته ما یوه ژبه او دوی شونډې ندي درکړي؟ او د دغو دواړوشونډو په مینځ کی خوله واقع ده او موږ انسانان د دغی خولې لارې طرفه خوراک، څښاک او ساه اخلو او وباسو، او د دغی خولی له لارې گاز کاربن او باسو، او خبرې کوو، آیا تاسو فکر کړیدی که چیرته دغه کارونه او وظیفې چې خوله یی اجرا کوي که د یو انسان په لاس سرته رسیدلې وې نو تاسې فکر او قضاوت وکړئ چی ده به څرنگه کارونه کړی وای؟ شاید د مونږ سر به دسوریو او دود کش څخه ډک شوی وو ترڅو موږ وکولی شو دغه مذکوره کارونه سرته ورسوو البته چې دالله ﷻ په مرسته.

## پوزه او په هغې کې د الله ﷻ پر وجود او وحدانیت عجیبه دلیلونه:

پوزه په یو ساه راښکلو کې دری کارونه ترسره کوي.

١- د گرد او غبار مخه نیسي .

٢- یخه هوا گرموي.

۳- وچه هوا لمده وی ځکه چی پرته لدی زمونږ پرپوس ته ډیر زیانونه رسیږی او له منځه ئي وړی.

نو آیا دغه مذکوره کارونه چی په پوزه کی په یوه وخت کی اجرا کیږی په تصادفی شکل سره دي!؟ او په یو واحد لاشریک ذات دلالت نکوي! نه هیڅکله داسې ممکنه نده بلکه دغه کارونه په وجود او قدرت د یو عظیم ذات دلالت کوي چی هغه الله ﷻ دی.

**غوږونه او د الله پر وجود ښکاره دلیلونه:**

دانسانانو او ځینی حیواناتو د اوریدنی سیستم داسې دی چی ډیر دعقل او پوهی خاوندان د هغه تصور او فکر هم نشي کولاې چې دغه جوړښت دی پخپله او پرته له کوم جوړونکي څخه منځ ته راغلی وی غوږ د وړو وړو پردو او سوریو لرونکی دی چی دغږ څپي رانیسي او په خوزښت او حرکت کی راځی دغه خوزښت او ټوپونه وهل په دری وړوکو او باریکه هډوکو چی په ډیر احتیاط سره ترتیب شوی دي اغیزه کوي البته هغه فشار چې د غوږ په پرده راځې باید په یو شکل وی په دی خاطر چی هغه پرده چی د غوږ دسوري شاته ده او د پوزې د اخیري برخې سره پیوسته ده او یو هډوکی چی د کرپاندکی په څیر هم دپوزی د ننه برخی سره پیوسته چې ددی دنده دهغو غږونو یوتربله توپیر راوستل دی کوم چی اوریدلی

شی او همدارنگه ددی بله دنده دانسانانو او نورو موجوداتو ترمنځ د توازون او برابروالي راوستل دي که چیرې دغه غړي نه وای مونږ یو قدم هم په لاره د تللو توان نه درلوده او سمدستی غورزیدو او ټیکه مو خوړه.

حرکتونه او خوزښتونه چی وجود ته راځی د اعصابو له لاری د اوریدنی داخلی برخی له لارې مغزو ته انتقالیږي او په دغه ترتیب انسانان او نورو حیوانات مختلف غږونه آوري او هغه یو تربله سره جلا کوي او پیژني یې. آیا امکان لري چې دغه ټول کارونه د غوږ چې د یوی ثانیې څخه په کم وخت کی ترسره کیږي دغه تصادفا او پخپله منځ ته راغلې وي؟

د ریاضي، حساب او حکمت علمونو په قطعی ډول دغه نظریه ردوي او هیڅ عقل او منطق دا نه مني چی دغه ټول کارونه د غوږ دی تصادفا او اتفاقا منځته راغلې وي.

**د مور شیدې**: د ماشوم او د مور په سینه کې د شیدو پیداکوونکی هماغه یو خدای دی چی د ماشوم د پیدا کیدو سره سم د مور په سینه کی شیدې هم را پیدا کوي.

د مور شیدې د سینې مخکی برخه او د دوه سترگو لاندی ځای څخه سرچینه اخلی ماشوم د دواړو لاسونو په کومک سینې ته اچولی کیږي او د مور زړه ته نیژدی کیږي او مور د زړه د غږ هغه سره چی ډیره موده بچی د مور په رحم کی هغی ته په طمعه وو شیدی ځان ته راکاږی د مور شیدی گرمولو او یخولو ته اړتیا

نلري او ټول هغه ویټامینونه چې ماشوم ورته اړتیا لري پدغه شیدو کې ځای پر ځای شوې دي .
نو دغه ترتیب شوې نظام جوړښت او حاکمیت د الله ﷻ په وجود ، شته والي او یو والي واضحه او روښانه دلیل دی او همدا راز د هغه د پیدا ینښت او د هغه په کړنو کی دیو انصاف لرونکی او سالم فکر لرونکی ته انسان د الله ﷻ وجود ته لارښونه کوي او دالله ﷻ بی شماره نعمتونه او دهغه یادونه پخپله انسان د الله ﷻ دوستیی ته رابولي .

## دالله ﷻ دپیژندنی څو نوری لارې:

د الله ﷻ پیژندنه دیوشی دبل اړخه کیدو په صورت کې یعنی دغه مخالف شی په حقیقت کې وجود نلری، یو فرضی او تقدیرې صورت مونږ ورته ثابت کړو. مثلا وجود د یو بل خالق په مقابل د الله ﷻ کې چې حقیقتا هیڅ وجود نلری لکه څرنگه چی الله ﷻ فرمایی: (**هَذَا خَلْقُ اللَّهِ فَأَرُونِي مَاذَا خَلَقَ الَّذِينَ مِن دُونِهِ بَلِ الظَّالِمُونَ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ** ).[١]

ژباړه: داچې تاسې گورئ دغه دالله ﷻ پیدایښت دی وښایی ماته هرهغه باطله معبودان چې کوم شی دوی پیداکړی دی بلکه ظالمان په ښکاره بې لاری توب کې دي یوه بله لاره چی الله ﷻ د پیژندنی لپاره په قران کریم کی تر سترگو

[١] - د لقمان سورت، ١١ آیت.

کيږي د یوشی بل اړخ ته نظر کول دی هغه پدی معنی چی مونږ د خپل چاپيريال ډيرو واقعيتونو ته ځير شو نوداسی وختونه او ځایونه راته خامخا  تر سترګو کيږي چې په هغه وختونو او ځایونو کی دغه وا قعيتونو شتون نه درلوده او یایی و نه لري نومونږ به د څه ناورين سره مخامخ شو او په هغه وخت کی به مونږ څه کوو: لکه شپه او ورځ د ځمکی د حرکت له مخی مینځ ته راځی بالفرض که چیرته همیشه شپه واې نو مونږ به څه کولای ؟

الله  ﷻ فرمایی: (**قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِن جَعَلَ اللَّهُ عَلَيْكُمُ اللَّيْلَ سَرْمَدًا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَنْ إِلَهٌ غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُم بِضِيَاء أَفَلَا تَسْمَعُونَ** ).[1]

ژباړه: ورته ووایه ای محمده ماته خبر راکړئ که چیرته الله ﷻ دغه شپه په تاسو همیشه اوږده کړي د قیامت تر ورځې پورې څوک دی پرته له خدایه؟ چی تاسې ته رڼا راولي  آیا نه یی تاسې اوریدونکی خبرې لره یعنې چې واوری او فکر وکړئ که عقل لرونکي یې (اوس دانسان د پښو لاندی ځمکه اواره او ارامه ده الله  ﷻ فرمایی: (**وَالْأَرْضَ فَرَشْنَاهَا فَنِعْمَ الْمَاهِدُونَ**).[2] او ځمکه می اواره او فرش ګرځولې ده دانسانانو د ژوند تیرولو په موخه څه ښه هوارونکی یو مونږ دی لره که چیرته دغه ځمکې په تیزۍ سره حرکت کولای آیا دانسانانو ژوند کول وربانديي ممکن وو؟

[1] - د القصص سورت، ۷۱ آیت.

۲ - د الذاریات سورت، ٤٨ آیت.

الله فرمايي: (إِن نَّشَأْ نَخْسِفْ بِهِمُ الْأَرْضَ).[1]

(كه مونږ وغواړو نو دوی به په ځمكه كی به ننباسو او ډوب به یی كړو) كه چيری مونږ خپل عقل له لاسه وركړو تردی چې د خپل كور ادرس او پته له لاسه وركړو او را څخه هيره شی نو څه به كړو په دغه وخت كې؟

## د الله ﷻ پيژندنه د قياس له لاری:

الله ﷻ د خپلو قدرتونو دبيانولو څخه وروسته فرمايې: (أَمَّن يُجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوءَ).[2]

ژباړه: أيا بوتان غوره دی او كه هغه خدای چی د فرياد كوونكي فرياد ته لاس رسی كوي او لرې كوي ورڅخه هرهغه زحمتونه چی دی ورباندی مبتلا او اخته دی .

او همدا راز الله ﷻ فرمايی: (أَنتُمْ تَزْرَعُونَهُ أَمْ نَحْنُ الزَّارِعُونَ).[3]

ژباړه: أيا تاسې شنه كوونكي يې دغه كښت لره يا مونږه راشنه كوونكي يو دی لره؟

## آيا د الله ﷻ څخه منكريدل ممكن دي؟

هركله چی يوانسان يو وړوكی كلي پرته د كلی والو څخه نه منی او نه يی تصور كوي څنگه كولې شي چې ددغی لوی نظام د چلولو په اړه پرته له يو چلوونكي څخه تصور وكړي انسان ښه پدی پوهيږي چې يو وړوكی كور پرته دپلان او نقشی

---

[1] - د سبأ سورت، ۹ آيت.

[2] - د النمل سورت، ٦٢ آيت.

[3] - د الواقعه سورت، ٦٤ آيت.

څخه نه جوړيږي څرنګه فکر کولای شي چې دغه لويه دنيا او نظام دې پرته له پلان او په دغه شکل دې پخپله مينځ ته راغلې وي؟

البته دغه رښتيا دي چې په پخواني او اوسنی خلکو کی د مومنانو په څنګ کی ځنی داسی خلک وجود لري چې د الله ﷻ څخه منکر دي. اوس پوښتنه داده چې ولی ځنی مومنان چی ظاهرا هوښيارهم معلوميږي ددی بدو خلکو په قطار کی ودريږي .

**هرهغه لاملونه چې انسان دالله ﷻ څخه د انکار اړخ ته راکش کوي او راکاړی ئي:**

**الف : ددید اولیدنې له اړخه:**

انسان په اصل کی په داسی شکل پيدا شوې چې په حقيقتونو باندې پوه شي او دغه حقيقتونه قبول کړي البته دغه انسان چې کله په دید لوری يو غيب حقيقی ته وګوري کله ناممکن شي او توکی سـمدسـتی قبلوی اوناممکن ممکن ګڼی او يو باطل شـی حق او رښـتونی ګڼي البته که دغه شـخص په هماغه شـی کی لږ فکر وکړی او لږ ورته ځیر شی سمدستی خپلی غلطۍ ته متوجه کيږي.

لکه: يو کس چې دلمر د سترګی د غټوالي سره نااشنا وی او پدی اړه معلومات نلري اونه دا اړينه بولی چې پدی باره کی د چا څخه پوښتنه وکوی د لمر په ليدو داسی فکر کوي چې دغه يو پراخه جسم دی.

همدا راز د الله ﷻ د نښو نښانو ته په توجه نکولو او نه ځير کيدلو ددی سبب کيږی چې ددی جهان په دغه ټولو کوائفو او توکو ليدلوسره بيا هم د ته د الله ﷻ د پيژندلو کومه لاره نه ښکاره کيږی ليکن همدغه انسان چې کله دګل يوه غوټی يا يوه پاڼه ويني او ورته ځير شي نو دغه ورته د الله ﷻ د پيژندلو يو لوی دفتر ګرځيږی البته دغه دهغه چا لپاره چې د نظر او فکر خاوندان وي او وي لولي او وی پيژنی البته هغه کسان چې د پوهی او پيژندلو په لټه کې نوې نو ددغی شيانو په ليدلو هرګز الله ﷻ نه پيژني لکه : هنداره خرڅوونکې چې خپل ګډوډ او تيت ويښتان په هنداره کی ټوله ورځ ګوری خو د هغی د سمولو په فکر نوی او نه يی سموي ځکه چې داد هنداری د خرڅولوپه فکر کی دی نه خپلو ويښتانو د سمولو په فکر کی نو دهمدی مثال څخه دا انګيرو او نتيجه اخلو چې کله يو شخص نه غواړي او نه د پيژندلو په لټه کی وی علم او پوهه لاسته نشی راوړې او نه ددغی څخه ګټه پورته کولای شي که څوک دالله ﷻ قدرتونه ويني او ځيرې يې او بيا هم ايمان نه راوړی دغه ځيرنه ددی لپاره نده چې الله ﷻ وپيژني او که د چا هدف د الله ﷻ پيژندنه وي د هغه لپاره هم دالله ﷻ د پيژندنې لپاره اکتفا او بسنه کوي البته که د چا موخه دا نوی دهغه لپاره زرګونه دليلونه هيڅ دي او ايمان نه راوړی.

## ب: ړوند او ړونده پیروی:

بل هر هغه څه چی انسان دانکار لوری ته راکاږی دغه ړنده پیروی ده ډیر خلک هرهغه څه پخپل چاپیریال کی وینی چی دود لری او ددوی ابا او اجداد یی کوی د ځیړنی څخه پرته یی قبلوی که چیرې دغه انسان پوهیدلای چې هره کړنه او وینا دانسان صحی او درسته نوی او پدی هم پوهیدلای چې یواځې عقل دانسان هم دا توان نلری چی هر حقیقت دې درک کړی نو پدغه لویه خطا کې به نه غورځلیدلای په تیره شوی زمانه کی هم ځنی خلک داسی وو پدی خاطر قران کریم د هغوی دغی ړوند او ړندی پیروی ته بد ویلي او فرمایې: (**وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا أَنزَلَ اللّهُ قَالُواْ بَلْ نَتَّبِعُ مَا أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ آبَاءنَا أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لاَ يَعْقِلُونَ شَيْئاً وَلاَ يَهْتَدُونَ**).[۱]

ژباړه : کله چی دوی ته وویل شو پیروي وکړئ دهر هغه کتاب چې نازل شوی د الله ﷻ څخه دوی په ځواب کی وویل مونږ پیروی کوو د هرهغه څه چې مونږ موندلې دي په هغی باندی خپل پلاران او نیکونه ولوکه ددوی پلارونه او نیکونه نه په څه پوهیدل اونه موندونکي وو د هدایت یعنی بیاهم دوی دهغوی ړنده پیروی کوی.

## ج: تعصب او مغرضانه قضاوت:

بل سبب د انکار د الله ﷻ دوجود څخه تعصب او غلط او بی ځایه قضاوت دی، هغه ماده پرستان چی ددوی علم او پوهه بناده په ماده پرستۍ باندې، مخکی

۱ - د البقری سورت ۱۷۰ آیت.

لدې څخه چې دوی د الله ﷻ د وجود په باره کی قضاوت وکړي او تحقیق وکړي دوی د الله ﷻ دوجود څخه انکار کوي، او دوی وایی چی هرشی باید په چوکاټ دیو علت او سبب سره حل او فصل شي یعنی نعوذ بالله من ذلک، ماده پرستان داسی جوړ شویدی او وایی چی هر کار د الله ﷻ په وینا سره سرته رسول ندي پکار څو پوری چې یو مادي سبب ونلري، او ټول هغه سوالونه چې احتمال لري چې انسان د الله ﷻ دوجود په طرف متوجه کړي، نو ماده پرستان ددغو سوالونو ردکوي، او وایي چې دغه هیڅ سوالونه ندي، نو پدی طریقي سره دوی هیڅ وخت نه غواړي چی دخپل عقل ږغ واوري او هغه ته لبیک ووایی، نوپس موږ وایو چی هغه کسان چی دوی قاطع تصمیم نیولی دی او په دغه لاره کی هرڅه مصرفوی چی خلک د الله ﷻ دجود څخه منکر شي، نو دغوکسانو دخپل عقل څخه هیڅ استفاده نده کړی، ځکه که دوې دخپل عقل څخه استفاده کړی وای نو هیڅ کله به دوي د الله ﷻ دوجود څخه انکارنوی کړاې بلکه دوی دعقل په واسطی داسمانی دین په مقابل کی سنگرنیولی دی، او خپل عقل دهغه په ضد استعالوی یا په بل عبارت سره عقل د دوی په لاسونوکی یوه وسیله ده لپاره داعترا ض کړلو په حقایقو دوحی الهي باندې، یعنی هر هغه حقایق چی د هغوی په وسیله دموږ لپاره بنسووته شوې او بیان یی موږ ته شویدی نو دوی دغه حقایق دخپلو فاسدو عقلونو په وسیله ردوي او دهغی څخه انکار کوي خلاصه د خبرې داده چې ماده

پرستان وایې چې هر شې جسم مادی ولري هغه موجود دې او موږیې منو، او دغه ددوی په حماقت باندی دلالت کوي ځکه ډېر داسې شیان وجود لري او حقیقت هم لري مگر مادی جسم نلري او دوی یې هم په شتون باندې اعتراف کوي، مثال: دعقل شتون،د روح شتون د هواشتون، دمقناطیس د جاذبی شتون، او داسې نور چی یو د دوي څخه هم مادی جسم نلري مگر ددوی په شتون باندی هر عاقل اعتراف کوي، نو ضرورنده چی هرشی دی مادي جسم ولري نو همدغه شی به موجود وي، مگر حقیقت دادی چې دغه ماده پرستان او یواځی دوهم او گمان پسی تللې دي او دهغه پیروي کوي بغیر دکوم دلیل څخه لکه څرنگه چی الله ﷻ ددوی په هکله فرمایی: (**إِن يَتَّبِعُونَ إِلاَّ الظَّنَّ وَإِنْ هُمْ إِلاَّ يَخْرُصُونَ**). [1]

ژباړه: (دوی پیروی نکوي مگر یوازی د انگیرني او محضی اټکلونه کوی) او په بل ځای کی الله ﷻ فرمایی: (**إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَمَا تَهْوَى الْأَنفُسُ**).[2]

ژباړه:( حقیقت دادی چی دغه خلک دتش وهم او گمان پیروی کوی) او دنفسی غوښتنو غوښتونکي گرځیدلې دي هغه کسان چې دوی ادعاکوی چی عقل انسانی دهر شي آغاز کړیدی او هر شی دعقل په واسطه مینځ ته راغلی دی تر څو دوی یو طرف فکر وکړي، بالاخره دوی داسی حالت ته رسیږی چی دوی الهی

---

۱ - د یونس سورت،٦٦ آیت.

۲ - د النجم سورت ، ۲۳ آیت.

ارشاداتو ته هيڅ غوږ نه نيسي او ورته توجه نکوي او دوی وايې چې هرشی چی عقل ورته رهنمايی وکړی بايد همغه قبول کړلی شي، نو هر کله چی دوی الهی ارشاداتو ته توجه نکوی او هغوته غوږ نه نيسی، نو دهغو په باره کی هيڅ فکر هم نکوي، لکن دغه ماده پرستان په لويه اشتباه کی واقع دي. ځکه مرجع دمعلوماتو صرف عقل ندی بلکی دوه نور مراجع هم موجود دی لپاره دعلم او معلوماتو، يعنی اسباب دعلم حاصلولو دری شيان دی. ۱) عقل　۲) حواس خمسه ۳) او وحي الهي، ځکه ډير داسی شيان دی چی په عقل سره نه پيژندل کيږی خصوصا مسايل غيبی چی عقل دهغی ادراک نشی کولی نو انسان دغو دريو اسبابو دعلم ته ضرورت لری نو خلاصه دی خبره دا شوه چی قضاوت جاهلانه او مغرضانه په باره دتوحيد الهی يانورو رکنونو دايمان کی مانع دهدايت دی، يوه معنا دی (**هدی للمتقين**) هم دغه ده، دی بل طرف ښخه عقل صرف يوه اله ده، نو عقل په هغه صورت کی خپله اصلی وظيفه اجراکولی شي چی کله د وحی الهی نور ورسره پيوسته شي ځکه انسان دوه قسمه نورته ضرورت لري يوقسم باطنی نور دې چی دانسان په باطن کی دی چی هغه عقل دی او بل نوری خارجی دی چی هغه وحی الهی ده، ترڅو چی دنوری باطنی سره نوری خارجی کومک ونکړی نو انسان هيڅ کله نشي کولي چې پوره رهنمايي واخلي، مثال: انسان دليدلو لپاره يو نور ظاهري په خپل وجود کې لري چی هغه دوه سترګې دي، مګر تر ځوپوری چی د

دغه نور ظاهري سره نور خارجی کومک ونکړي انسان هیڅ کله خپل مقصد اصلي ته نشي رسیدلی. چی نور خارجي لمراو رڼایی ده نو انسان هیڅ کله نشي کولی چی د حواسه خمسه په توسط مکمل خپل مقصد اصلي ته ورسیږي ترڅو پورې چې نور خارجی ورسره پیوسته نشي چې هغه وحی الهي ده په یو بل مثال سره دغه خبره موږ تاسی ته واضحه کوو مثال : یو سړی په یو کوهي کی ولوید او تاسی د هغه په طرف یوه رسی. گزاره کړئ ترڅو دی هغه رسی. ټینګه ونیسي او دکوهي څخه را پورته شي مگر دغه نادانه هیڅ نه غواړي چی دغه رسی. ونیسي اوځان د هلاکت څخه وژغوري اوس تاسي قضاوت وکړئ چی گناه د چا په غاړه ده ، هر عاقل انسان پوهیږي چی گناه د ده په غاړه ده نه دبل چاپه غاړه .

**د : د مسؤلیت څخه تیښته او د لذتونو ضایع کیدو ویره:**

کله نا کله بی اعتنایی له دین څخه، تیښته کول دي له خپل مسؤلیت څخه ، ځکه قبول ددین په خپل ځان باندی قبلول او منل د ځنی قیدنودي چی دغه ماده پرسته خلک دغو اصولو او قیودو قبلولو ته تیار ندي نو ځکه دغه ماده پرستان دین ته غاړه نه ایږدي او د دغه الهي مسوولیت څخه چی قبول د دین دي فرار کوي او خپله زندگی مطابق دخواهشاتو نفساني سره عیار کوي او ځنی خلک غواړي د دوی د گمان مطابق خپله ازاده زندگی وکړي ، دخپلو خواهشاتو مطابق، نو پدی سبب سره دوی نه غواړي چی دین قبول کړي او دهغه د ارشاداتو لاندی

خپله زندگی عیار کړي ، مگر دوی نه پوهیږي. او دوی داسی فکر نکوي چې حقیقی لذتونه خو په شریعت کې دي او هر هغه څه چې یو مسلمان شخص ورته ضرورت لري شریعت د هغه څخه بی پروا ندی بلکې هغه یی په نظر کې نیولی دي خو البته له مشروع لآری لکه: واده ، نکاح ، تجارت و غیره په دی اړه قرانکریم داسی فرمایلی دی: (**فَإِن لَّمْ يَسْتَجِيبُوا لَكَ فَاعْلَمْ أَنَّمَا يَتَّبِعُونَ أَهْوَاءهُمْ**).[۱]

ژباړه : که دوی ستا غوښتنه قبوله نکړي او لبیک ورته ونه وایې نوته پوه شه چې دوی د خپل نفسي خواهشاتو پیروې کوي.

## د انسان په ژوند کې د ایمان اغیزه :

په الله ﷻ ایمان او باور لرل دټولو نیکبختیو سرچینه ده دټولو بد بختیو ، ظلمونو ، جگړو او د کورونو سوزونکي ټولو هغه بدو پدیدو چی انسانان ورسره لاس او گریوان دی اولنې او بنسټیز لامل یې د الله ﷻ نه پیژندل او څنگه چی لازمه ده دهغه په ذات هماغسی ایمان نه راوړل څرنگه چی دهغه حق دی نه مراعات کول لدی حیثه انسان ته ډیره اړینه ده ترڅو الله ﷻ وپیژني او په هغه ایمان راوړي او په دې پوه شي چې دایمان مقصد او گټی څه دی او دایمان فایدې خوندونه حس کړی یو انسان یواځی په ایمان راوړلو سره د خپل ځان د پیدایښت او ددغی

۱ - د القصص سورت ۵۰ آیت.

نړۍ چې دی پکی استوګنه لري د منځ ته راتللو هدفونه ماهیت او ګټې وپیژني له دی حیثه ښه به دا وي چې په مرتب او ترتیب وار ډول پوه شو چی ایمان راوړل په الله ﷻ انسان ته کوم ارزښتونه وربښي.

۱- ایمان دهر ګټې څخه مخکی انسان ته دازمینه بابروي چی یو غوره او بهتره شخصیت ووسیږی او هغه داسې چې مومن شخص دا باور ولري چی خلاصون او کامیابي هغه یواځې د الله ﷻ په تعلیماتو باندی د عمل کولو له لاری ممکن ده نو په دی لحاظ داسلام په دین له دی حیثه چی یو الهي قانون دې منګولې لږوي او کوښښ کوي چی خپله زندګي او ژوند ددی چوکاټ لاندې تیر کړي او هر چی بی دینه او دالله ﷻ څخه منکر خلک دی هغوی پرته له خپله ځانه په بل څه یقین او باور نه لری ترڅو دهغی په مقابل کی ځان مسؤل وګڼي او دهغوې ګټې او تاوانونه د هغوې د نفسونو په ګټو باندی څرخیږی نو په همدی سبب هغوی د خپلو نفسونو ګټو په خاطر د ظلم ، عدل ، تیري ، حلالو او حرامو پروا نه ساتي او د خپلو نفسونو څخه یی خدایان جوړ کړی دي څه چی ورته نفس وایی په ځای کویی یی الله ﷻ فرمایی: (**أَفَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَهَهُ هَوَاهُ** ).[1]

آیا ته نه وینی هر هغه څوک چی خپل خواهشات ئی الوهیت سره نیولی دي:

۱ - الجاثیه سورت ۲۳ آیت.

۲- ایمان انسان ته پخپل نفس باندی باور وربښی او د هغی تر څنګ د هغی په وجود کی عاجزي، او انکسار راپیدا کوي او دهغه کبر او غرور چی دانسان ارامښت او یووالی له منځه وړي د لیرې کیدو سبب ګرځیږي ځوک چې په الله ﷻ په ربښتیا سره ایمان او باور لری هیڅکله کبرجن او مغروره کیږی نه ځکه هغه مني چی دهغه په شمول دهغه هره دارایی او شته د الله ﷻ له اړ خه دی او هغه الله ﷻ داقدرت او توان لري چی دغه هر څه ور څخه واخلی لیکن بی دینه او منکر خلک خپله شتمني اوتوان چی دی یي لري داد خپل ځان کمال او وړتیا له اړخه بولي له همدې لامله د شکر کولو اوقدردانۍ کولو لپاره هیڅ مرجع ته قائیل ندي او نه یي پیژني صرف او یواځی خپل ځان ویني او ځان ورته پیاوړې ښکاری چې همدا حس چی پدوی کی دی هغه ددوی ترمنځ دمحبت او دوستۍ ماده له منځه وړي او د مشکلاتو او کړاونو او دسیالیو یو تربله ژوندیي ورته په ډالۍ کی راوړی دی .

۳- انسان دایمان د سیورې لاندې خپله خوشاله او ارامی ورکونکی زندګي تیروي او دغه د ارامۍ او خوشالۍ ژوند له ده څخه هیڅ غم، درد او پریشاني نشي وړلاې ځکه مومن دغه عقیده لري چې دغه پریشاني غمونه او دردونه هم ده ته دالله له جانبه د اجر او ثوابونو یوه ذریعه ده او دالله د مهربانی او شفقت لامل ګڼی او هیڅکله دغمونو او دردونو په منګول کی نه غورزیږی ځکه داپه دی عقیده دی چی هر څه دالله ﷻ له جانبه دي او عبث او بې فایدې نه نازلیږي نو د مصیبتونو

او غمونو په مقابل کی د صبر او زغم څخه کاراخلی او په دي هم عقیده لري چې الله ﷻ په هر انسان دهغه دتوان برابر تکلیف او بار نازیلوی نو په ډیر متانت او هسکه غاړه دغی کړاوته لبیک وایی اودنا امیدی پرته ورته غاړه ږدي او دغه پیښی دالله ﷻ له اړخه ازمیښت بولي او پدې هم پوهیږي چې ددې ازمیښتونو شاته اجر او ثوابونه شته دې بالمقابل بی دینه انسان دغه ربړونی تکلیفونه نشې زغملې او ځان وژنی ته وړاندې کوي .

٤- انسان چی دایمان درڼا له لوری دنیاته ګوري ددنیا کاینات او موجوده شیان د الله ﷻ دتوان او قدرتونو یو نندارتون ګڼي چې د الله د وجود او قدرت نښي نښانې په دغه نندارتون کې ایښې دی او ځان یو مامور نندارتون ګڼي او دغه د خدای د قدرت او توان نښي نښانې لیدل او څیړنه خپله دنده ګڼي د الله ﷻ دقدرت نښي نښانې چی څومره څیړی او ګوری یي ددی څخه یو معنوي خوند اخلی نو هرایمان لرونکې شخص دالله د پیدایښت سره چی مینه لري او دوستي ورسره کوي دا دالله ﷻ د خاطره او په ژوندکې د خوشالۍ احساس کوي البته بی دینه او بی ایمانه شخص چی کله ددنیا ګرزیدو او ددې شور او ګردشونو ته ګوري دویری او ورخطایي احساس کوی او په وارخطایی کی راګیریږی.

## د څیړنی لنډیز :

دا نړۍ او کاینات چی دیو لوی جوړښت نښه ده داسی باریک ښائسته او پټ داسی رازونه لری چی کولاې شي چې د انسان ټول عقلي او حسي حواس د

انسان رابیدار کړي دغه دنړۍ ټول شیان او توکی د الله ﷻ وجود په داسی طریقه رابنکاره کوی چی هیڅ شک او شبهی ته ځای نه پاتی کیږی پکی او بینا سترګې کولای شي چې هغه ویني لکه الله ﷻ فرمایی: (**أَفِي اللّهِ شَكٌّ فَاطِرِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ**).[۱]

ژباړه: آیا په هرهغه الله ﷻ کی چی پیداکوونکې د ځمکې او آسمانونو دی هم شک شته ؟

هرهغه عقل چې د بغض او کینې څخه خالي وي او دالله ﷻ څخه انکارته یي ملا نه وی تړلی په لیدلو د دغی عجیب پیداینبتونو نظم اوتړا وونو کولای شي چې ددوی ذهن ددوی د پیدا کوونکي په اړخ لاړ شې او دغه کاینات پاڼه په پاڼه ولولي او په نتیجه کی دالله ﷻ وجود قانع ته شي او ووایی چی دغه شیان الله ﷻ عبث او بی فایدې ندې پیدا کړی او د قرآن د وینا مطابق ددی فکرنتیجه د آسمانونو او ځمکو پیداینبت دی الله ﷻ فرمایلی: (**إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلاَفِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لآيَاتٍ لِّأُوْلِي الألْبَابِه الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَىَ جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَذا بَاطِلًا سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ**)[۲]

---

۱ - د ابراهیم سورت ۱۰ آیت.

۲ - د آل عمران سورت ۱۹۰-۱۹۱ آیتونه.

ژباړه : په تحقیق سره په پیدایښت داسمانونو او ځمکو کی او په بدلونو دشپی او ورځې کې داوږدوالی او لنډوالي او يخ والي او گرموالي له اړخه د الله ﷻ د پیژندنې نښې نښانې دپوهی خاوندانو لپاره شتون لري پوهان هرهغه کسان دی چی یادوی الله ﷻ په ولاړه او په ناسته اود اړخ لړولو په وخت کې یعنی په هروخت کی الله ﷻ یادوي او فکر کوي په پیدایښت داسمانونو او ځمکو کې او وایی چې ای زمونږ ربه تا ندی پیداکړی دغه شیان بی فایدې ته پاک یي له هر عیب څخه او اوساتې مونږ د عذاب داور څخه .

٢

## ایمان لرل د الله ﷻ په یوالي باندې

**ان الحمد لله نحمده و نستعينه و نستغفره و نعوذ بالله من شرور أنفسنا و من سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له و من يضلله فلا هادي له، و نشهد أن لا اله الا الله و حده لاشريک له ونشهد أن محمداً عبده و رسوله تسليماً كثيرا و على آله و أصحابه و من تبعهم بأحسان الى يوم الدين أما بعد: قال الله تبارک و تعالى في قرانه المجيد، أعوذ بالله من الشيطان الرجيم ، بسم الله الرحمن الرحيم : (وَإِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ لاَّ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ).**[1]

ژباړه : (( او ستاسی خدای همدا یو خدای دی ، او هغه ډیر زیات مهربان ، پوره رحم کوونکی دی پرته له ده بل کوم خدای نشته)).

و قال رسول الله ﷺ **:(أن تؤمن بالله و ملائكته و كتبه ورسله و اليوم الآخر و تؤمن بالقدر خيره و شره، قال : صدقت ...).** [2]

ژباړه : رسول الله ﷺ فرمایلی دي: چی ماته جبرئیل وویل (خبر را کړه ماته له ایمان څخه چی ایمان څه شی دی؟ پیغمبر ﷺ د جبرئیل پوښتی په ځواب کی

---

١ - د البقرې سورت، ١٦٢ آیت.

٢ - سنن أبي داود، حديث: ٤١٩٧.

وويل چې ايمان دغه شی دې، چې ته ايمان راوړې په الله ﷻ سره ، او دهغه په فرښتو ، او کتابونو ، او پيغمبرانو ، او په ورځ د اخرت سره ، او چې ايمان راوړې په اندازې د خير او شر باندې چې دواړه د الله ﷻ له طرفه دي، نو جبرايل عليه السلام د پيغمبر په ځواب کې وويل ، تا رښتيا وويل.

**د توحيد تعريف يعنی شناخت:**

**توحيد په لغت کې**: دا صيغه د مصدر ده د باب تفعيل څخه معنی يې ده يو شی يواځې ګنړل يعنی دا عقيده به لرې چې الله تعالی يواځې دی. ( اعتقادو حدانية الله تعالی) د الله تعالی د يوالي عقيده ساتل دويمه معنی ده (افراد الله بالعبودية) الله تعالی لره يواځې بندګی کول، او دا اصلی توحيد دی او دا هغه توحيد دی چه ټولو انبياء عليهم السلام دی ته دعوت ورکړی دی، او په اصطلاح کی ويل کيږی، په هغه څه کی الله ﷻ يو منل چې هغه يوازې ځانګړې دي، او يا په بله اصطلاح کی توحيد ويل کيږي، د الله ﷻ يواځی منل په ذات ، صفاتو او افعالو کی، يعنی چې الله ﷻ په ذات، صفاتو ، او افعالو کی شريک نه لري ، خلاصه دی خبری داده چی الله ﷻ د تمثيل او تشبيه ټولو څخه منزه او پاک دی لکه څرنګه چی الله ﷻ فرمايی:( **ليس کمثله شي ء**) .[١]

---

١ - د الشوری سورت، ١١ آيت.

ژباړه ( نیشته په مثل د الله ﷻ هیڅ شی ) یعنی هیڅ شی په څمکه او اسمانانو کی د الله ﷻ سره مشابه نه دی

**د توحید قسمونه:**

توحید پر دری ډوله دی.

١ – د ربوبیت توحید

٢ – د الوهیت توحید

٣ – د اسماو او صفاتو توحید

پیژندل د توحید سره له ټولو ډولو نو په هر مسلمان فرض دي څکه مشترکه وظیفه د ټولو انبیاؤ علیهم السلام څخه نیولی تر خاتم الانبیاء علیهم السلام پورې بیان د توحید او رد شرک وو، او په همدی علت سره دوی د الله ﷻ له طرفه خپلو بندګانوته رالیږل شویدی .

**١ – د ربوبیت توحید تعریف :**

رب: ویل کیږي تربیت کوونکی ته، او په نورو مختلفو معنا ګانو سره هم راغلی دې لکه متصرف ، مربی، متکفل او داسی نور، یا په بل عبارت سره ، ربوبیت له رب توري څخه اخیستل شویدی چې ( رب) د الله ﷻ نومونو څخه یو نوم دی د لغت له پلوه رب ډیرې معناوې لري. ١ -پالونکې ٢ - مرسته کوونکې ٣ - څښتن ٤- اصلاح کوونکې ٥ - بادار (السید) ته رب ویل کیږی، او د شرع په اصطلاح کې د ربوبیت دی ته وایي چې بنده عقیده ولري چې الله ﷻ یو دي، د بندګانو او کایناتو

پیداکونکې ، روزي ورکوونکې ، ژوند ورکوونکې او مرگ ورکوونکې یوازې الله ﷻ دی، او پدې ایمان ولري چې هر څه د الله ﷻ په پریکړې او دهغه له اندازې سره سم ترسره کیږي.

**الف: اعتقاد لرل په یو والی د الله ﷻ په خپلو افعالو کې،** لکه: خلق، پیدا کول، د کارونو او امورو تدبیر کول، رزق ورکول، ژوندي کول، مړه کول، باران اورول او داسی نور افعال چې الله ﷻ پورې خاص دي.

**ب: پیژندل د الله ﷻ په صفت د فاعل مختار سره:**

البته کفارو او مشرکینو د تیری زمانې څخه نیولې تر اوسنۍ زمانې پورې د الله ﷻ د ربوبیت په اقرار کړی دې او منلی دې او د دوی اختلاف او جنگ د خپلو پیغمرانو سره پدی موضوع کی نوو، ځکه اکثره د دوی د الله ﷻ د ربوبیت په توحید اقرار کولو، سره ددی اقرار کولو په توحید ربوبیت سره دوی په اسلام کی داخل نشول او د دوی لپاره کومه خاصه فایده په دغه توحید پورې مرتبه نشوله او دوی یی د الله ﷻ له قهره او عذابه ونه ژغورل ځکه چې دوی دوه قسمه نور توحید نه منلو او په هغوی کی یی د خپلو پیغمبرانو سره اختلاف او جنگ کولو لکه څرنگه چې الله ﷻ فرمایی:( **قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ أَمَّن يَمْلِكُ السَّمْعَ**

**والأَبْصَارَ وَمَن يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيَّتَ مِنَ الْحَيِّ وَمَن يُدَبِّرُ الأَمْرَ فَسَيَقُولُونَ اللّهُ فَقُلْ أَفَلاَ تَتَّقُونَ).**[1]

ژباړه: له دوی څخه پوښتنه وکړه ( څوک تاسی ته له اسمان او ځمکی څخه روزي درکوي ؟ دا داوریدلو او لیدو قوا وی د چا په واک کښی دي ؟ څوک له بې ساه څخه ساکښ او له ساکښ څخه بې ساه رباسی ؟ څوک د مخلوقاتو د دې نظم تدبیر کوي ؟ هغوی به هرو مرو ووایي چی الله ﷻ ورته ووایه : نو تاسی د حقیقت پر خلاف تګ کولو څخه ډ ډه نه کوی.

او په بل ځای کی الله ﷻ فرمایی:

**( قُل لِّمَنِ الْأَرْضُ وَمَن فِيهَا إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ قُلْ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ قُلْ مَن رَّبُّ السَّمَاوَاتِ السَّبْعِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ قُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ قُلْ مَن بِيَدِهِ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ قُلْ فَأَنَّى تُسْحَرُونَ).**[2]

## ۲ - د الوهیت توحید:

الله  د هغه لوی ذات نوم دی چی ټول د کمال صفتونه ورکی جمع شویدي، او همدا رنګه الله ﷻ لایق د عبادت دی لپاره د ټولو مخلوقاتو .

**ألف**: لفظ د اله په دوو معناوو سره استعمال شویدی اله  په معنا دی معبود باطل لکه څرنګه چی الله ﷻ پدغه آیت کریمه کې فرمایلی دي:

---

۱ - د یونس سورت ، ۳۱ آیت.

۲ - د المؤمنون سورت ، ۸٤- ۸۹ آیتونه.

( **افرایت من اتخذ الهه هواه** ).[1]

ژباړه :( نو آیا تا کله د هغه چا په حال باندی غور کړیدی چی خپل نفسی خواهش یی خپل خدای وګرځاوه؟).

**ب :** اله: په معنا معبود برحق سره هم راغلی دی لکه څرنګه چی الله ﷻ مونږ ته پدغه آیت کریمه کی خبر راکړی دی او فرمایی:

( **فاعلم أنه لا اله الا الله و أستغفر لذنبک**). [2]

ژباړه : (نو ای پیغمبر( ﷺ) ښه وپوهیږه چی له الله ﷻ څخه پرته بل هیڅوک د عبادت وړنشته ، او دخپلی ګناه لپاره هم ښښنه غواړه).

## د الوهیت توحید تعریف :

الوهیت له (اله) توري څخه اخیستل شویدې چې په لغت کی منل شوي او حق معبود ته ویل کیږي، لکه څرنګه الله ﷻ فرمايي: ( **الله لآ اله الا هو الحي القیوم** ).[3]

ژباړه : الله (چې دې، له هغه څخه پرته بل کوم معبود نشته ژوندې، تلپاتې او همیشه قایم دی). او دشرعی په اصطلاح کی په عبادت سره یوازی د الله ﷻ ځانګړی کولو ته د الوهیت توحید ویل کیږي ، پدی معنی چې د هرډول عبادت مستحق او وړ یوازی الله ﷻ دی. هغه سره په عبادت کی څوک شریک نه دي ، د بیلګی په توګه لمونځ ، روژه ، زکات ، حج ، ذبح ، نذر ، ویره، خوف هیله ) ( رجاء) محبت او داسی نوری ټولې هغه کړنې چې بنده یی د عبادت په توګه ترسره کوي

١ - د الجاثیة سورت، ٢٣ آیت.
٢ - د محمد سورت ، ١٩ آیت.
٣ - د البقری سورت ٢٥٥ آیت.

، او په تر سره کولو یی د الله ﷻ خوښې غواړي باید یوازی د الله ﷻ لپاره یی تر سره کړي او هغه سره بل څوک شریک نه کړي چی همدې ته د الوهیت توحید ویل کیږی ، او په همدغه قسم توحید کی د پیغمبر انو علیهم السلام سره خپلو قومونو اختلاف او جګړی کړیدی لکه څرنګه چی الله ﷻ فرمایلی دي : (**إِنَّهُمْ كَانُوا إِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ يَسْتَكْبِرُونَ**). [1]

ژباړه : دا هغه کسان وو چی کله به ورته ویل کیدل چی د الله ﷻ څخه پرته بل هیڅ برحق معبود نشته، نو دوی په مغروره کیدل ) او په بل ځای کی الله ﷻ فرمایی:

(**وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ**).[2]

ژباړه : مونږ چې ستا څخه مخکې هر پیغمبر لیږلې دې هغه ته مو همدغه وحي کړیده، چی زما څخه پرته بل خدای نشته، نو تاسی همدا زما بندګی وکړی) ټولو پیغمبرانو علیهم السلام د توحید عقیده خپلو ټولو امتونو ته بیان کوله ، لکه څرنګه چی الله ﷻ مونږ ته خبر را کړی دی او فرمایلي دي:

(**وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولاً أَنِ اعْبُدُواْ اللّهَ وَاجْتَنِبُواْ الطَّاغُوتَ**) .[3]

ژباړه : موږ په هر امت کی یو یو پیغمبر ولیږلو، او دهغه په وسیله مو ټول امتونه خبر کړل چی : د یو الله بندګی وکړی او د طاغوت له بندګۍ څخه ځان وژغورئ.

---

۱ - د الصافات سورت، ۳۵ آیت.

۲ - د الانبیأء سورت ، ۲۵ آیت.

۳ - د النحل سورت، ۳٦ آیت.

### ۳- د اسماء او صفاتو توحید:

د اسماؤ او صفاتو توحید تعریف ، په هغو ټولو نومونو چې الله ﷻ ته ثابت شویدي په قران کریم او یا احادیثو کی مکمل باور او یقین لرل بغیر له تشبیه او تعطیل څخه بلکه الله ﷻ فرمایی:( **لیس کمثله شیء و هو السمیع البصیر** ) .[۱]

ژباړه : (د کایناتو هیڅ شی هغه ته ورته او دهغه په څیر مه نشته هغه د هر څه اوریدونکی او لیدونکی دی).

پس ایمان راوړل په ثابتولو د ټولو صفتونو الله ﷻ لره بغیر له تحریف تأویل ، او تمثیل ، او تشبیه څخه په هر مسلمان لازمی دی ، لکه څرنګه چې الله ﷻ فرمایی:( **وَلِلّهِ الأَسْمَاء الْحُسْنَى فَادْعُوهُ بِهَا وَذَرُواْ الَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِي أَسْمَآئِهِ سَيُجْزَوْنَ مَاكَانُواْ يَعْمَلُونَ** ). [۲]

ژباړه : (الله دغوره نومونو خاوند دی ، هغه په هماغه غوره نومونو سره رابولۍ ، او هغه خلک پریږدی چې دهغه د نوم په ایښودلو کښې له رښتینولۍ څخه مخ اړوي ، څه چه هغوی سر ته رسوي د هغه وومي).

**د توحید اهمیت او مقام په اسلام کی :**

د کلیمی طیبی اصل معنا او مقصد دادی چې مونږ پوره یقین او باور ولرو په دی خبری باندی چې رښتنی معبود هغه پاک ذات دی چې لایق د عبادت دی اثر

---

۱ - د الشوری سورت،۱۱ آیت.

۲ - د الاعراف سورت، ۱۸۰ أیت.

مرتب په دغه اقرار سره دادی چی باید دانسان په ټولو افعالو او حرکاتو اثر وغورځوي یعنی څوک چی په کلمی طیبی باندی په ژبی سره اقرار وکړي نو په ده لازم دی چی د دغی کلیمی مبارکی په مقتضیاتو هم عمل وکړی ځکه صرف اقرار او تصدیق کول په توحید ربوبیت باندی کافی ندي ، نو اقرار کول په توحید ربوبیت باندی ، مستلزم لازم دی په قبلولو د توحید الوهیت باندی ځکه قبول د توحید ربوبیت مقدمه ده لپاره دی قبلولو د توحید الوهیت ، او دغه توحید الوهیت مشترکه وظیفه ده لپاره د ټولو پیغمبرانو علیهم السلام او د دغه توحید په خاطر د وی مبعوث رالیږلی شویدی د الله ﷻ له طرفه انسانانو ته ، لکه څرنگه چی الله ﷻ مونږ ته خبر راکړی په خپل ازلی کتاب کی او فرمایی : (**وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ اعْبُدُواْ اللّهَ وَاجْتَنِبُواْ الطَّاغُوتَ**). [1]

ژباړه : (مونږ په هر امت کی یو پیغمبر راولیږلو ، او دهغه په وسیله مو ټول خبر کړل چی ، د الله بندگي وکړی او دطاغوت له بندگی څخه ځان وژغوری).

## توحيد څرنگه د خلکو په زړونو کې ځای نيسي؟

هغه توحید چی ټولو پیغمبرانو علیهم السلام د بشر لپاره بیان کړیدی ، نو د اسلام مقدس دین د دغه توحید د تثبیت او تایید لپاره خاصه پاملرنه کړیده ، نو په همدی وجه سره هر کله چی دغه لاندی عناصر په یوه انسان کی رانشي او تحقق پیدا نکړي ، نو د توحید ریشي هیڅ کله ځای نه نسي او دمسلمان په زړه کی وده نکوي.

---

[1] .......

**د توحید عنصرونه:**

۱ – اخلاص او د الله ﷻ بندگی

۲ – دی طواغیتو څخه انکار کړل

۳ – د شرک څخه لیری کیدل

**الف - اخلاص**: او بندگی صرف د الله ﷻ لپاره ثابته ده ، یعنی مسلمان باید په اخلاص سره د الله ﷻ بندگی وکړی لکه څرنگه چی الله ﷻ فرمایی:

( **قل أغير الله أبغي ربا وهو رب كل شيء** ). [1]

ژباړه : ووایه ای محمده، آیا زه له الله ﷻ پرته کوم بل رب ولټوم ، په داسی حال کښی چی هماغه د هر څه رب دی؟

**ب – انکار د طواغیتو څخه**: یعنی په مسلمان باندی لازم دي چی دټولو طواغیتو او دهغوی د عابدانو څخه خپله بیزاری اعلان کړي لکه څرنگه چی الله ﷻ فرمایی: ﴿ **وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولاً أَنِ ٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجْتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَ** ﴾ [2]

ژباړه : مونږ په هر امت کی یو پیغمبر راولیږلو او دهغه په وسیله مو ټول خبر کړل چی : د یو الله بند کی وکړی او دطاغوت له بندگی څخه ځان وژغوری

**ج –** شرک ټولو هغه انواعو او دهغو اسبابو څخه چی سړی را کاږي او نژدی کویی شرک ته اجتناب او ورڅخه ځان ساتل هم په مسلمان باندی لازمي دي لکه

---

۱ د الانعام، سورت، ١٦٤ آیت.

۲ - د نحل سورت، ٣٦ آیت.

څرنګه چی الله ﷻ فرمایی : (**فَمَن كَانَ يَرْجُو لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا**) [1]

ژباړه : نو څوک چی له خپل پروردګار سره دیو ځای کیدو په هیله وي ، هغه ته پکار ده چی ښه عمل وکړي او په بندګی کی له خپل رب سره بل څوک شریک نکړي.

**شرک:**

شرک په لغت کې د مخالطت او ګډون په معنا راغلی د ی.[2]

او په اصطلاح کې : اتخاذ الند مع الله تعالی سواء کان هذا الند فی الربوبیة أوفی الألوهیة أو فی الأسماء والصفات.[3]

شرک په دوه ډوله دی : عقیدوي او فعلي شرک.

الف : عقیدوي شرک په څلور ډوله دی.

**علم کې شرک:**

علم کې شرک عبارت دی له دې څخه چې عقیده درلودل په دې باندې چې بغیرد الله تعالی څخه نورهم په غیب او د زړه په رازونو باندې علم لری ( پوهیږی)، داسې عقیدې د شرک سبب ګرځیدلي دي خو په غیبو کارونو او د زړه په رازونو باندې علم لرل د الله تعالی له خصائصو څخه دی، نو کله چې یو کس په جزئي او یا کلي ډول د غیب علم بغیر له الله تعالی څخه بل چاته ثابت

---

١ - د الکهف سورت، ١١٠ آیت.

٢- لسان العرب، ټوک : ٧، مخ : ٩٩.

٣- ( الایمان حقیقته، خوارمه، نواقضه عند أهل السنة والجماعة).

کړي په حقیقت کې ده د الله تعالی علم کې چې د هغه له خصـائصـو څخه دی بل څوک شریک نیولی دی.

مگر هغه څه چې الله تعالی په پیغمبرانو علیهم السلام باندې نازل کړي او یاهم بعضې- اولیاؤ ته کرامات ورکړي هغه د هغوی له خپلو اختیاراتو څخه نه دي او په غیب علم کې داخل نه دي ځکه چې د غیب علم داســې علم دی چې هیڅ د ا سبابو او وسیلو سره ارتباط نه لري او هرهغه څه چې په ا سبابو او په نوو تجربو آلاتو پیژندل شــوی وي په غیب علم کې داخل نه دي . له همدې وجهې دقرآن کریم بعضې- آیاتونه د غیب علم صرف الله تعالی ته ثابتوې او بعضــې ایاتونه د الله تعالی څخه پرته د غیب علم نورو ته نفی ( رد ) کوي.

لومړی : هغه آیاتونه چې تنها د الله تعالی لپاره د غیب علم ثابتوي په مختصرـ ډول په لاندې سورتونوکې وارد دی : د بقرې ۳۳، آل عمران ۵، انعام۳، ۵۹، ۸۰، اعراف ۱۸۷- ۱۸۸، یونس ٦۱، هود ٦، رعد ۱۰-۹، ابراهیم ۳۸، حجر ۲۴، اسراء ۲۵، طه ۷ ، نمل ٦۵، سباء ۲، طلاق ۱۲ او د سورت ملک ۱۳ آیتونو کې.

دوه هم : هغه آیاتونه چې د غیب علم د الله تعالی څخه پرته حتی له پرښــتو، انبیاء او مرسلینو، صالحین، پیریان او بغیر له الله تعالی څخه معبودانو او د ټولو مخلوقاتو څخه په عمومې ډول نفی کوي په لاندې ډول دي :

له پرښتو څخه د غیب علم نفی د بقرې په سورت ۳۲ آیت کې .

له پیغمبرانو څخه په جمعي ډول د غیب علم نفی، (**يَوْمَ يَجْمَعُ اللّهُ الرُّسُلَ فَيَقُولُ مَاذَا أُجِبْتُمْ قَالُواْ لاَ عِلْمَ لَنَا إِنَّكَ أَنتَ عَلاَّمُ الْغُيُوبِ**)[1]

---

۱ - د المائدې سورت : ۱۰۹ آیت .

ترجمه : په یاد راوړئ هغه ورځ چې الله تعالی خپل پېغمبران خپل حضـــور ته را ټول کړي او ورته ووایي : ســتاســو ( دعوت ) ته څه جواب در کړل شـوی وه ؟ ( د هغه قومونو لپاره چې تاسو استول شوی وی څرنګه ستاسو دعوت څخه استفاده وکړه او په کومو لارو لاړل ؟

د ایمان او که د انکار لاره یې خپله کړه ) هغوی به ووایي چې موږ هیڅ پوهه نشــته ( مګر هغه څه چې د وحیې په واســطه تا پوه کړی یو)؛ ځکه ته غیبو ښــه خبر یې.

په انفرادي ډول له نوح علیه الســـلام څخه په هود ســـورت ۳۱ – ۴٦ آیتونو کې نفیې د علم غیب شوی. او له یعقوب علیه السلام څخه په یوسف سورت کې، له موسی علیه السلام څخه په طه سورت ۵۲ آیت، له عیسی علیه السلام څخه په مائده سورت ۱۱٦ آیت، له حضرت محمد ﷺ څخه په انعام سورت ۵۰، د اعراف سورت ۱۸۸ او د توبه سورت په ۱۰۱ آیتونو کې نفیې راغلې دی.

له پیریانو ( جنیات ) د غیب علم رد په سورت سباء ۱۴، د جن سورت ۱۰ او پرته د الله ټولو معبودانوڅخه په ســـورت یونس ۲۹، د فاطر ســـورت ۱۴ او د احقاف سورت ۵ آیتونو کې راغلی ده .

د ټول مخلوق څخه د غیب علم رد په ســـورت د نمل ٦۵ آیت : (**قُل لَّا يَعْلَمُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللَّهُ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ**) کې راغلی دی.

**شرک په تصرف کې :**

شرک په تصرـف کې عبارت دی له دې څخه چې انســـان په لوړو کارونو ( مافوق الأسباب ) چارو کې له الله تعالی پرته بل څوک د ګټې او تاوان مالک او متصرف

و ګڼي، دا ډول شرک د قران عظیم الشان آیاتونه په دوه ډوله رده وي : یو له دې لارې چې په دنیا او اخرت کې متصرف یوازې الله ﷻ دی، دوه یم ډول له الله ﷻ پرته تصرف د نورو څخه رد ( نفی ) کول.

اوله طریقه : د الله ﷻ لپاره تصرف خاص کول په دنیا کې د دې لپاره د مراجعه وشې لاندې : د بقرې سورت ١٥٥ او ٢٨٤، آل عمران سورت٢٦، ١٠٩ او ١٨٩ ، انعام سورت ١٧، یونس سورت ١٠٧، قصص سورت ٦٨ ، فاطر سورت ٢ او ٣، شوری سورت ٤٩ آیتونو ته . په اخیرت کې هم تنها د الله ﷻ تصرف دی چې په سورت انعام ٧٣، کهف سورت ٤٤ ، غافر سورت ١٦ او انفطار سورت ١٩ آیتونو کې اثبات راغلی دی .

دوه یمه طریقه : په خاص ډول سره د الله ج څخه پرته د تصرف رد چې د دې لپاره د لاندې سورتونو ته مراجعه وشې مائده سورت ٢٥، اعراف ١٨٨، یونس ٤٩ آیتونه ته او په عمومې ډول رد لپاره د رعد سورت ١٦، اسراء ٦٥ سورت، فرقان سورت ٣، عنکبوت سورت ١٧، سباء٢٢ سورت او فاطر سورت ١٣ آیتونو ته مراجعه وشې .

**په دعا کې شرک:**

**دعا په دوه ډوله:**

**لومړی : د مسلې دعا:**

دا ډول دعا له مخلوق څخه نه ده منع شوی، بلکې جایز ده؛ ځکه په دې کې دعا تحت الأسبابو څخه ده، براره ده چې سوال له فاضل څخه وي که له مفضول څخه، لکه څرنګه چې عمر رضی عنه حج ته د تلو ارادي په وخت رسول ﷺ ورته

وفرمایل: ( لاتنســـنا یا آخي من دعائک )[1] ای ورورہ مونږ په دوعاوو کې هیره مه کړه. هغه دعا چې د بقری سورة ۲۳ آیت کې راغلی له همدې ډول دعاگانو څخه دی.

**دوه هم : دعبادت دعا:**

دا ډول دعا د الوهیت د خصایصو څخه ده او د الله تعالی څخه بغیر ممنوع دی او که څوک بغیر له الله ﷻ څخه بل څوک په دې عقیده ونیســې چې مالک د گټې او تاوان دی او په دې وسیله د هغه دعا او فریاد اوري او د هغه ټول حاجات پوره کوي نو داسې شخص د الله ﷻ څخه پرته بل څوک الله ﷻ سره په دعا کې شریک نیولی دی، د قرآن کریم هغه آیتونه چې د دې ډول شرک د رد لپاره راغلي په دوه ډوله دي : یو هغه ډول دي چې دعا صرف دالله ﷻ لپاره ثابتوي بل هغه ډول آیتونه دي چې بغیرد الله ﷻ څخه نورو نه دعا غوښتل رد او منع کوې .

اثبات د دعا الله ﷻ ته د خبر ورکولو په ډول:

له پیغمبرانو او صالحین څخه په انفرادي او عمومي ډول نقل شوی دی . له نوح علیه الســلام څخه په قمر ســورت ۱۰ آیت کې: (**فَدَعَا رَبَّهُ أَنِّي مَغْلُوبٌ فَانتَصِــرْ**) له ابراهیم علیه الســلام څخه په مریم ســورت ۴۸ آیت کې: ( **وَأَعْتَزِلُكُمْ وَمَا تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ وَأَدْعُو رَبِّي عَسَــى أَلَّا أَكُونَ بِدُعَاء رَبِّي شَــقِيًّا**)، له یونس علیه الســلام څخه په انبیا ســورت ۸۷ آیت کې، له ایوب علیه الســلام څخه په انبیاء ســورت ۸۳ آیت، ذکریا علیه السلام څخه په آل عمران سورت ۳۸ آیت او له اصحاب کهفو څخه د سورت کهف په ۱۴ آیت کې راغلې ده.

---

۱ - سنن أبي داود حدیث : ۱۵۰۰ .

اثبات د دعا په صیغه د امر سره د الله ﷻ څخه :
د سورت اعراف په ۲۹ آیت کې: (**وَادْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ**). ترجمه : او هغه ( الله ﷻ) راوغواړئ په داسې حال کې چې طاعت او عبادت مو یوازې هغه ته وي. په همدې سورت په ۵۵-۵٦، ۱۸۰ آیونو او اسراء سورت په ۱۱۰ آیت او د غافر سورت په ۱۴ آیت کې هم شتون لري .

**دغیرالله راغوښتل د نفې په صورت کې په دې ډول دی:**

نفې په صورت د صریحې نهې کې لکه په سورت یونس ۱۰٦ آیت کې :
**وَلاَ تَدْعُ مِن دُونِ اللّهِ مَا لاَ يَنفَعُكَ وَلاَ يَضُرُّكَ فَإِن فَعَلْتَ فَإِنَّكَ إِذًا مِّنَ الظَّالِمِينَ**) د الله تعالی پرته هغه څه مه راغواړه چې ته نه ګټه او نه زیان درسولی شي که چیرې داسې کړنه د وکړه نو د شک پرته د ظالمانو څخه یې. او په سورت قصص ۸۸ او سورت جن ۱۸ آیتونو کې هم شتون لري.
نفې د استفهام انکاري په صورت کې د انعام سورت په ۷۱ آیت کې الله پاک فرمایلي : (**قُلْ أَنَدْعُو مِن دُونِ اللّهِ مَا لاَ يَنفَعُنَا وَلاَ يَضُرُّنَا** ) ووایه : آیا مونږ له الله تعالی نه پرته هغه راوبلو چې نه مونږ ته ګټه رسولی شي او نه زیان.
نفې په عدم د قبولوالي د دعا کې لکه څرنګه چې د رعد په سورت ۱۴ آیت کې:
( **لَهُ دَعْوَةُ الْحَقِّ وَالَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِ لاَ يَسْتَجِيبُونَ لَهُم بِشَيْءٍ**). نفې دعا په اوریدلو او نه قبلولو په دنیا کې او په انکار د معبودانو له شرک د مشرکینو څخه په آخرت کې څرنګه چې د فاطر سورت ۱۴ آیت کې الله متعال فرمایي :
(**إِن تَدْعُوهُمْ لَا يَسْمَعُوا دُعَاءَكُمْ وَلَوْ سَمِعُوا مَا اسْتَجَابُوا لَكُمْ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكْفُرُونَ بِشِرْكِكُم**)
**دارنګه د سورت احقاف ۵ ـ٦** آیتونو کې شتون لري.

**په عبادت کې شرک:**

عبادت په څلور ډوله دی:

۱- بدنی عبادت لکه : لمونځ، روژه، رکوع، سجده، حج او د کعبې طواف.

۲- مالی عبادت لکه : زکات، صدقه، قرباني او نذر.

۳ ـــ قلبي عبادت لکه : خضـوع خشـوع، ذل، عاجزي، محبت ( مینه )، توکل، رجوع، ویره، امید، تعظیم .

۴- قولي عبادت لکه : قسـم کول، دعا، فریاد کول او کمک غوښـتنه، دعا، پناه نیول.

دا ټول عبادات صرف د الله ﷻ لپاره دي او هیڅ ډول یي بغیر له الله ﷻ څخه بل چاته جایز نه دي، قرآن کریم په عباداتو کي شرک په درې ډوله رد کړی دی:

اول : اثبات د عبادت صرف الله تعالی لره کله د خبر ورکولو په ډول سره لکه د بقرې سـورت ۱۳۳ آیت، آل عمران ٦۴، نسـاء ۱۷۲، اعراف ۲۰٦، یونس ۱۰۴ او د نور سـورت ۵۵ آیتونو کې او کله هم د امر په صـیغې سره لکه د آل عمران ۵۱، هود ۱۲۳، حج ۷۷، طه ۱۴ او د زمر ســورت ٦٦ آیتونو کې او همدارنګه په عمومي ډول سره په ســورت بقرې ۲۱، نســاء۳٦، نحل ۳٦، انبیآء ۲۵ او د یس سورت په ٦۱ آیتونو کې شتون لري .

دوه یم : نفي عبادت د غیر الله په مختلفو ډول:

په صریحي نفي سره په یونس سورت ۱۰۴ آیت او کافرون سورت ۲ آیت کې .

په صریحي نهي د انعام په سورت ۵٦ آیت او غافر سورت٦٦ آیت کې.

نفي او نهي د استفهام انکاري اسلوب په ډول د مائدې سورت په ٧٦ او د انبياء سـورت په ٦٦ آيتونو کې ،نفي د عدم دليل د وجهې څخه د مريم سـورت د ۴٢ آيت او د حج سورت ٧١ آيت کې راغلي ده. نفي د معبود د عجز د کبله د سورت عنکبوت په ١٧ آيت.

درېيمه وجه : د الله تعالی لپاره د عبادت د حصرــ مثالونه د بقرې سـورت ٨٣ آيت، د آل عمران ٦۴، هود ٢ او ٢٦، يوسف ۴٠، اسرآء ٢٣، فصلت ١۴ او احقاف ٢١ ايتونه د وکتلی شي.

ب : فعلي ( عملي ) شرک:

دا ډول شرک عبارت دی له تعظيم کوو د غيرالله څخه په هغه برخه کې چې د الله تعالی له خصـايصـو څخه دي، دا ډول شرک هم مختلف اقسـام لري لکه : د حرامو حلال ګڼل، د حلالو حرام ګڼل، نذر غير الله ته ثابتول، رکوع، سـجده او قسـم په غی الله تعالی بل چا باندې کول، لکه څرنګه چې قآن عظيم الشـان د عقيدې شرک رد کړی دا رنګه د عمل شرک هم رد کړی، الله تعالی د بقرې په سورت ١٧٣ آيت کې فرمايلي دي: ( **إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنزِيرِ وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللَّهِ** ). يقينا الله پاک حرام کړيدی په تاسـو باندې مړزګه، وينه، د خوږ غوښه او هغه څه [ې د الله پاک پرته د بل چا په نوم حلال شوی وي.

نذر غير الله ته:

نذر غير الله ته عبارت دی له دې څخه چې يو شـخص د خپل مال يوه برخه او ياه هم د ځمکې د حاصـلاتو يوه برخه د الله ﷻ نه بغير د بل چا په نوم کړي او مطلب يې نيږديوالی وي هغه شخص ته په دې عقيده باندې چې د غه شخص د

فایدې او تاوان مالک دی او په غیبو علم لري او د داســې نذر کول موخه د خیر او برکت حاصلول وي د دې شخص څخه او د نه اجرا کولو په صورت کې د مالي او جاني تاوان سبب کیدلی شي هغه شخص ته نو دا رنګه نذر شرک دی او هغه مال مذکوره حرام دی .

هغه آیتونه چې غیرالله څخه د نذر په حراموالي صراحت لري د ســورت بقرې ۱۷۳ آیت فرمایي : (**إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنزِيرِ وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللَّهِ انما حرم** )

انعام سـورت ۱۴۵، نحل سـورت ۱۱۵ او د توبې سـورت ۲۹ آیاتونه هم د دارنګه نذر یادونه کوي .

الله تعالی په قرآن عظیم الشـان کیې د الله تعالی څخه پرته بل چاته نذر کول د مشرـکینو له اعمالو څخه په ســورت انعام ۱۳٦ آیت کې بللی دی الله تعالی فرمایلي دي : (**وَجَعَلُواْ لِلّهِ مِمِّا ذَرَأَ مِنَ الْحَرْثِ وَالأَنْعَامِ نَصِــيبًا** ) دارنګه دا مذکورعمل افتراء علی الله دی.

۳

# ایمان په پرښتو

**ان الحمد لله نحمده و نستعینه و نستغفره و نعوذ بالله من شرور اَنفسنا و من سیئات أعمالنا من یهده الله فلا مضل له و من یضلل فلا هادي له و نشهد أن لآ اله الا الله وحده لا شریک له ونشهد أن محمداً عبده ورسوله.**

**اما بعد: قال الله تبارک و تعالی فی وصف الملائکة:**

**(لَّا يَعۡصُونَ ٱللَّهَ مَآ أَمَرَهُمۡ وَيَفۡعَلُونَ مَا يُؤۡمَرُونَ .)** [۱]

و قال رسول الله ﷺ : ( **خلقت الملا ئکة من النور و خلق الجن من مارِج من نار**).[۲] صدق الله مولانا العظیم و بلغ رسوله النبي الکریم و نحن علی ذلک من الشاهدین و الشاکرین و الحمد لله رب العالمین.

مقدمه:

مؤمنو او متدینو لمونځکونکو:

د نن ورځی زموږ موضوع ده په باره د ایمان راوړلو په پرښتو باندی ، چی څو دقیقی ستاسو محترمو په خدمت کی یو ، او په دی باندی به خبری کوو چی مقصد د ایمان راوړلو په پرینښتو څه شی دي ؟

---

۱ - د التحریم سورت، ٦ آیت.

۲ - صحیح مسلم، حدیث: ۲۹۹٦.

**د ملائکو تعریف**: ملائک د (**ملک** ) جمع ده او (**ملک**) د (**ألوک**) له کلمی څخه اخیستل شویده چی د رسالت یا پیغام رسولو په معنا راځي .

**او په اصطلاح کی**: ملائک د الله ﷻ هغه مخلوق دي چی له نور (رڼا) څخه یی پیداکړی دي او کولی شي په بیلابیلو ځیرو شکلونو ځان بدل کړي د خورا قوي ځواک در لودونکی دي او په ډیره چټکتیا سره له یو ځای څخه بل ځای ته د تللو توان لري.

**د پرښتو پر شتون دلیلونه:**

معلومه خبره ده چی پرښتی مادي شکل نلري ، لدی امله دغه مخلوق د غیبی نړۍ سره تړاو لري ، نو ځکه موږ نشوکولای دغه مخلوق په خپلو سترگو د هغوی په طبیعی شکل سره وگورو ، او به اړه یی ټول معلومات د قران کریم او احادیثو څخه اخستل شوی دي، نه دا چی دوی مونږ په خپلو ظاهري حواسو سره لیدلي دي ، ځکه د انسان حواس د ډیرو حقیقتونو له درک څخه عاجز پاتی شویدی لکه چی الله ﷻ په قران کریم کی فرمایی: (**آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللّهِ وَمَلآئِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لاَ نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِ وَقَالُواْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ**).[1]

ژباړه : (د الله ﷻ پیغمبر په هغه څه چی د الله ﷻ له لوري پری نازل شویدی ایمان راوړی دي ، او ټول مؤمنان په الله ﷻ د هغه په ملایکو ، دهغه په کتابونواو دهغه په رالیږل شوو پیغمبرانو ایمان لري او وایی مونږ د پیغمبرانو تر منځه په ایمان لرلو کې هیڅ توپیر نه کوو او وایې مونږ واوریدل او پیروي مو وکړه ستا له

[1] - د البقري سورت ۲۸۵ آیت.

اوامرو څخه ای الله ) له تا څخه بښنه غواړو او تاته بیرته درګرځیدونکی یو ). نو څوک چی د الله ﷻ په پرښتو ایمان نلري د دي آیت د حکم په اساس ورته مؤمن نه ویل کیږي .

**د پرښتو صفتونه ( ځانګړ تیاوې):**

۱- پرښتې له نور څخه پیدا شوي دي.
۲ – هغوی یو غیبي حقیقت ده چی نه محسوسیږی.
۳- د حیواني شهواتو او نفساني تمایلاتو څخه پاکي دي.
٤- هغوی نه څه خوري او نه څه څکي.
٥- نارینه او ښځینه نه لري.
٦ – او د خوب، ستړتیا او مریضي حالاتو څخه پاکې دي.
۷- د الله د امر مطابق کړني ترسره کوي.
۸- د الله ﷻ د اوامرو څخه هڅکله ناغیږي نه کوي.

پدی هکله الله متعال فرمایی: (**لَّا يَعْصُونَ ٱللَّهَ مَآ أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ**). [۱]

ژباړه : (هیڅکله د الله ﷻ له حکم څخه سر غړونه نکوی او هر امر چی ورته کیږي ، هغه په ځای راوړي) او پرښتی په سترګو نه لیدل کیږي ، او د مونږ څخه غوښتل شویدی چی بغیر د لیدلو څخه په دوی ایمان راوړو ، چی په حقیقت کی دغه په مونږ باندی د الله ﷻ له طرفه یو ازمیښت دی چی مونږ څومره په الله ﷻ باندی ایمان او یقین لرو ، چی وروسته له لیدلو څخه خو هرشخص ایمان راوړي او په

۱ - د التحریم سورت، آیت ٦.

دغه صورت کی امتحان خپل مفهوم دلاسه ورکوي ځکه اساسی شرط په ایمان کی ایمان بالغیب دی چی تا به دغه شی نه وي لیدلی او ایمان به پری لری لکه مثال الله ﷻ پیغمبران ملایکی او داسی نور، او بله خبره دا ده چی الله ﷻ مونږ پیدا کړی یو ترڅو مونږ امتحان کړي او دمونږ اعمال او کردار صحنی ته راوباسي ، الله ﷻ په قران کریم کی فرمایلی دي : ﴿ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلْمَوْتَ وَٱلْحَيَوٰةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ۚ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْغَفُورُ﴾[1]

ژباړه : (هغه چی بیدا کړی یې دی مرگ او ژوند چی وازمایې تاسی چې کوم یو ستاسی ډیر ښه دی د عمل له مخی ) یو حقیقی مؤمن په دغه الهي امتحان کی هغه وخت کامیابی دلی شي چی په ټولو قرآنی ارشاداتو باندی ایمان ولري ایمان راوړل په ټولومغیباتو باندی هیڅ مشکل کارندی او هیڅ زحمت نلري

**د پرښتو د پیدایښت ماده او دهغوی حقیقت :**

قران کریم د انسان د پیداښت په باره کی فرمایی چی انسان د خاورو څخه پیدا شویدي ، او دپیریانو په باره کی راغلی چی هغوی د اور څخه پیدا شویدی ، ولی د پرښتو په باره کی قران کریم کی څه شی ندي راغلی ، مگر پیغمبر ﷺ د هغوی په هکله فرمایلی دي :

**( خلقت الملا ئكة من النور و خلق الجن من مارج من نار)**.[2]

---

۱ - د الملک سورت، آیت ۲.

۲ - صحیح مسلم، حدیث: ۲۹۹٦.

ژباړه : پرښتی له نور څخه پیدا شویدی ، او پیریان له لمبه لرونکی اور څخه پیدا شویدی ) او د دغه حدیث شریف څخه معلومه شوه چی پرښتی د عالم معنوی او غیبی څخه دي او جسم مادي نلري او هیڅ کله قابل دلیدلونه دي لکه نور مادي شیان ، د انسان عقل دهغوی د وجود څخه منکر نه دي ، لکه څرنګه چی ویلی شویدی (ندیدن دلیل نبودن نیست ) لکه مثال وجود عقل انسانی ، د انسان روح، او داسی نو ر، چی ټول حقیقت لری لکن مونږه ته دهغوی حقیقت ندی معلوم او مونږ دهغوی وجود نشو حس کولی او بله خبره دا ده چی اوسنی عالمانو دغه خبره ندی کړی چی مونږ ټول د دنیا شیان کشف کړیدي ، بلکی اوس علم هغه شیان هره ورځ کشف کوي چی مخکی یی د هغوی په باره کی هیڅ معلومات نلرل ، هیڅ کله عدم علم پدی معنا سره ندی چې دغه شی وجود نلري ډیر داسی شیان شته دي چې موږ د هغوی په باره کی معلومات نلرو مګر هغوی موجود دی ځکه زمونږ معلومات کامل ندی .

## د پرښتو طبیعت او ځنی اعمال:

د پرښتو طبیعت د انسانانو د طبیعت څخه جدا او بیل دی او د دوی د طبیعت سره فرق لري ، او پریښتی هیڅ کله اختیار نلري، او مطابق د دوی د طبیعت سره چی الله ﷻ څرنګه او کومو اوصافو سره پیداکړي دي مطابق د الله ﷻ د امر سره خپل وظایف اجرا کوي او د الله ﷻ د امر څخه سر غړ ونه نکوي ، او د دوی د خواصو څخه د الله ﷻ اطاعت او امر منل دي الله ﷻ فرمایی:

**(وَلِلّهِ يَسْجُدُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ مِن دَآبَّةٍ وَالْمَلآئِكَةُ وَهُمْ لاَ يَسْتَكْبِرُونَ يَخَافُونَ رَبَّهُم مِّن فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ ).**[١]

ژباړه : او خاص الله ﷻ ته سجده کوي هغه څه چی په آسمانونو کی دي او هغه څه چی په ځمکه کی دي له گرځیدونکو څخه او پرښتی ، حال دا چی دوی سر کشي نه کوي د الله ﷻ له عبادت څخه ویریږی دا ملایک له رب خپل څخه چی له پاسه د دوی دی، او پر ځای کوي د دوی هغه او امرونه چی حکم یی ورته کیږی.

**څرنگه مونږ نشو کولي چې پرښتی ووینو ؟**

قرانکریم د مؤمنانود صفاتو په باره کی داسی وایی: ( **الذین یؤمنون بالغیب**).[٢]

ژباړه : متقیان هغه کسان دي چی ایمان راوړي په غیبو باندی ) مونږ ځکه په وجود د پرښتو ایمان لرو چی الله ﷻ او پیغمبر ﷺ مونږ ته خبر راکړی دی اگر که مونږه نشو کولي چی دوی په سترگو ووینو ځکه د دوی لیدل د موږ له طاقت څخه لوړ دي لکه څرنگه چی دهغه آیت کریمه د معنی څخه معلوم کوم چی پاس ذکر شو، زمونږ په دین کی ایمان لرل په غیبو مسایلو هغو شیانو چی په سترگو نه لیدل کیږی ډیر زیات اهمیت لري ځکه ایمان لرل په غیبو باندی د مهم ترین علایمو د دین څخه دي ، او په هم دغه مرحله کی انسان په امتحان کی اچول کیږي لکه څرنگه چی د انسان عبادت او نور حرکات لکه لمونځ ، روژه رښتیا او دروغ ویل د دغه الهی امتحان یوه برخه ده ، همدا رنگه ایمان راوړل په پرښتو او نورو هغو شیانو

---

١ - د النحل سورت ٤٩-٥٠ آیتونه.

٢ - د البقري سورت، آیت٣.

چې په سترګو نه ليدل کيږي د دغه الهي امتحان هم يوه برخه ده ، زموږ د ليدلو قوه دومره قوي نده پيدا شوې چې موږ پريښتې ووينو الله ﷻ پيغمبرانو ته د پرښتو د ليدلو قوه ورکړې ده نو په همدې خاطر ځنې پيغمبرانو پرښتې په خپل حقيقي صورت سره ليدلې دي ، زموږ نه ليدل د پرښتو په نه موجوديت دلالت نه کوي ، په دنيا که ډير داسې شيان شته دي چې موږ يې په ليدلو قادر نه يو او نه يې حس کولی شو مګر هغه شيان موجود دي ، موږ نشو کولی هغه اوازونه واورو چې ډير لوړ او يا ټيټ وي دخپلې محدودې څخه د بيلګې په توګه زموږ غوږ ونه د دې توان نه لري چې ځنې غږونه واوري ، همدارنګه د رڼا چپې ، او هغه څه چې يو پوهان چې ( رنتګن) نوميږي کشف کړي دي او يا هغه څه چې د جوي پوخ تر شا پراته دي ، او ليدلی يې پرته له آلا تو شونې نه دي ، موږ نشو کولای دا هرڅه په خپلو سترګو وګورو ، دا هرڅه پدې ګواهي ورکوي چې د کوم شي نه ليدل د هغې د نه شتون معنا نه لري.

**د پرښتو دندې:**

د قران کريم او احاديثو له نظره پرښتې دوه قسمه وظيفې لري ، يوه وظيفه په عالم ارواح کې ، او بله وظيفه په عالم طبيعت کې ،

**او له وظيفه د پرښتو په عالم ارواح کې:**

د پرښتو وظيفه روحانی او معنوي عبارت ده له:

**۱- تسبیح ویلو د الله ﷻ**: څرنګه چی الله ﷻ فرمایی: (**إِنَّ ٱلَّذِينَ عِندَ رَبِّكَ لَا يَسۡتَكۡبِرُونَ عَنۡ عِبَادَتِهِۦ وَيُسَبِّحُونَهُۥ وَلَهُۥ يَسۡجُدُونَ**) .[۱]

ژباړه : بی شکه هغه کسان چی په نزد د رب ستا دي نه کوی لویی هغوی له عبادته د هغه او پاکي وایي د هغه او خاص لپاره د هغه سجده کوي.

**۲- دوهمه وظیفه د پرښتو دالله ﷻ د عرش حمله دی:**

یعنی د الله ﷻ عرش د څو پرښتو په اوږو سره بار دی چی دغه هم د پرښتو د یوی وظیفی څخه شمارل کیږی .لکه څرنګه چې الله ﷻ فرمایلی دي : (**الَّذِينَ يَحْمِلُونَ الْعَرْشَ وَمَنْ حَوْلَهُ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيُؤْمِنُونَ بِهِ**) .[۲]

ژباړه : هغه ملایکی چی پورته کوي عرش او هغه چې په چاپیرکی یی دي تسبیح وایی سره د حمد د رب خپل او ایمان راوړي په هغه )

**۳ – دریمه وظیفه د پرښتو سلام اچول دي په جنت یانو باندی:**

چی دوی به په جنت یانو باندې د هری دروازی څخه داخلیږی او سلام به پری اچوي لکه څرنګه چی الله ﷻ په خپل معجز کلام کی فرمایی : (**جَنَّاتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا وَمَنْ صَلَحَ مِنْ آبَائِهِمْ وَأَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّيَّاتِهِمْ وَالْمَلاَئِكَةُ يَدْخُلُونَ عَلَيْهِم مِّن كُلِّ بَابٍ** ).[۳]

ژباړه : جنتونه دي د تل اوسیدلو ننه وځی به هغوی هلته ، او هغه چی نیکان دي

---

۱ - د الأعراف سورت ۲۰٦ آیت.

۲ - د غافر سورت ۷ آیت.

۳ - د الرعد سورت، ۲۳ آیت.

پلرونو د هغوی، او هغوی او جوړی د هغوی او اولادونه دهغوی ، او ملایکی داخلیږی پر هغوی له هری دروازی نه.

**۴ - څلورمه وظیفه د پرښتو تعذیب او شکنجه ورکول دي دوزخیانوته:**

لکه څرنگه چی الله ﷻ فرمایلی دي : (**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ** ) .[۱]

ژباړه : ای مؤمنانو ، خپل ځانونه او کورنیٔ‌موله هغه اور څخه وژغوری چی د سوزخت مواد به یی انسانان او ډبری وي ، سخت زړې او قوی هیکله ملایکې به پری ولاړې وي ، دالله د امر څخه به هیڅ مخالفت نه کوي او یوازې هغه څه به کوي چی امریی وشی ورته.

**۵ - پنځمه وظیفه د بندگانو څخه په قبر (عالم برزخ) کې پوښتنې کول:**

ځنې پرښتی دی چې دوی مکلفی دی د الله ﷻ له طرفه په سوال کولو د مړي څخه په قبر کی چی د دوی نومونه په احادیثو کی راغلی دی چی یوی ته نکیر او بلی ته منکر وایی چی دمړی څخه د الله ﷻ په باره او دی پیغمبر ﷺ او د دین په باره کی پوښتنی کوي

دوهم کار او وظیفه د پرښتو په عالم طبیعت کی :

وظیفه د پرښتو په عالم طبیعت کی عبارت ده له :

۱ - د التحریم سورت،٦ آیت.

**۱ - راوړلو د وحی:**

د الله ﷻ له طرفه په انبیاء علیهم السلام باندې ، او نوم دهغی پرښتی چی د الله ﷻ له طرفه په وحی راوړلو مسئوله ده حضرت جبریل علیه السلام دی او نور بعضی متعدد نومونه هم لري لکه الروح الامین ، او روح القدوس ، الله ﷻ پدی باره کی فرمایی ﴿ **قُلْ مَن كَانَ عَدُوًّا لِّجِبْرِيلَ فَإِنَّهُۥ نَزَّلَهُۥ عَلَىٰ قَلْبِكَ بِإِذْنِ ٱللَّهِ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَهُدًى وَبُشْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ** ﴾ .[1]

ژباړه : ای محمده ، ووایه څوک چې د جبرایل سره دښمنی لري نو باید پوه شی چې : جبرایل علیه السلام د الله په امر ستا په زړه یو قران نازل کړي دی چی د پخوانیو کتابونو ملا تړ کوي او لارښوونه اوزیری دی لپاره د مؤمنانو.

**۲ - د نړی د طبیعي امورو تدبیر :**

لکه څرنگه چی د پیغمبر ﷺ په مبارکو حدیثونو کی راغلی دي ، چی بعضی پرښتی په دغه جهان کی مختلفی وظیفی لري ، لکه د بادونو او وریځو شړل په یو اوبل طرف باندی ،او ورول د باران شنه، کول د گیاهونو او داسی نور

**۳ - حرکت او قوت ورکول دي قوی معنوي د انسان ته :**

د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی چی رسول الله ﷺ فرمایلی دي : چی بیله شکه شیطان او پرښته دواړه د انسان سره شته دي یعنی ورسره یو ځای دي خو ملگري د شیطان د انسان سره پداسی شکل سره ده چی دته په گناهونو سره جرأت ورکوي او دی آماده کوي په تکذیب د حق سره ، او

---

۱ - د البقری, ۹۷ آیت.

ملګری د پرښتی د انسان سره پداسی شکل سره ده چی دته وعده ورکوي په کولو د نیکیو سره او په تصدیق کولو دحق سره، نو هر څوک چی د شیطان د وسوسو او فشار سره مخامخ شولو باید د الله ﷻ څخه  پناه وغواړي او هرڅوک چی د پرښتی د همرایی سره مخامخ شولو او په خپل زړه کی یی دخیر اراده محسوسه کړله نو باید پوهه شي چی دغه د الله ﷻ له طرفه ده  نو په ده لازم دي چی د الله ﷻ شکر ادا کړي.

## ۴ – دعاغوښتل دي لپاره د مؤمنانو:

الله ﷻ فرمایی : (**الَّذِينَ يَحْمِلُونَ الْعَرْشَ وَمَنْ حَوْلَهُ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيُؤْمِنُونَ بِهِ وَيَسْتَغْفِرُونَ لِلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَيْءٍ رَّحْمَةً وَعِلْمًا فَاغْفِرْ لِلَّذِينَ تَابُوا وَاتَّبَعُوا سَبِيلَكَ وَقِهِمْ عَذَابَ الْجَحِيمِ رَبَّنَا وَأَدْخِلْهُمْ جَنَّاتِ عَدْنٍ الَّتِي وَعَدتَّهُم وَمَن صَلَحَ مِنْ آبَائِهِمْ وَأَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّيَّاتِهِمْ إِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ**).[۱]

ژباړه : هغه ملایکی چی عرش یی پورته کړی او هغه چې د عرش په چاپیریال کې دی ، دخپل رب ثنا او ستاینه کوي ، پر هغه پوخ ایمان لري ، او د مومنانو لپاره ښښنه غواړي چی ای ربه زمونږ ، ستا رحمت او علم په هرڅه خپور شوی دی ، نو هغه کسان وبښه اود دورخ له اورڅخه یی وژغوره چی توبه یې ویستلې او ستا لیاره یی نیولی ده ، ای زمونږ ربه ، ته هغوی او دهغوی نیک او صالح پلرونه ، ښځی ، او اولادونه هغو تل پاتې جنتونو ته ننه باسه چی وعده کړی تا له هغوی سره ، او هغه چی نیک شوی له پلرونه دهغوی ، او ښځو د هغوی ، او اولاد دهغوی ،بی شکه ته بر لاسی حکمت والایي.

---

۱ - د  الغافر سورت، ۷-۸ آیتونه.

**٥ - د لمونځ کوونکی د امین ویلو سره دوی هم آمین وایي:**

لکه څرنگه چی د حضرت ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت نقل شویدی: (**اذا أمن الامام فأمنوا فانه من وافق تأمینه تأمین الملائکة غفر له ما تقدم من ذنبه**).[١]

چې نبي علیه السلام فرمایی: ( کله چی امام آمین وایی نو تاسئ هم آمین وایاست، نو دهر چا آمین چې دملایکو د آمین ویلو سره موافق شو نو الله ﷻ ده ته پخوانی گناهونه وبښی.

**٦ – هره ورځ دوی د سهار او مازدیگر د لمونځونو پر وخت حاضریږي:**

پرښتی شپه او ورځ ستاسو په مابین کی مسلسلی حاضریږی،دسهار او مازیگر په لمنځونو کی دوی سره یوځای کیږي او وروسته د شپی مؤظفی پرښتی پورته آسمان ته خیژی او الله ﷻ چی څرنگه عالم دی پر هرشي باندی، بیا هم د دوی څخه پوښتنه کوي ، چی څرنگه او به کوم حالت کی تاسو پرښودل بندگان زما؟ یعني دوی په څه کی مشغول وو ؟

پرښتی په جواب کی ورته وایی ، چی مونږ د وی په حالت د لمونځ کولو کی پیدا کړل او په حالت د لمونځ کولو کی مو پرښودل .

**٧ :د قران کریم د تلاوت پر وخت هم دوی حاضریږی او قران کریم ته غوږ نیسی:**

لکه څرنگه چی یو حدیث شریف کې راغلی چی حضرت اسید بن حضیر رضی الله عنه خپل حالت نبی علیه السلام ته بیانوي: ( **عن أسید بن حضیر ، قال بینما هو یقرأ من اللیل ... فرفعت رأسي فانصرفت الیه ، فرفعت رأسي الی السماء فاذا مثل**

---

١ - صحیح البخاري، حدیث: ٧٨٠.

**الظلة فيها أمثال المصابيح ، فخرجت حتى لا اراها ، قال : وتدري ماذاک ؟ قال : لا قال تلک الملائكة دنت لصوتک ) .**[1]

ژباړه : په هغه حدیث شریف کی مونږ گورو چی یو شپه حضرت اسید بن حضیر رضی الله عنه تلاوت کولو او خپله قصه داسی بیانوي چی دی مبارک وایی، چی ما یوه شپه تلاوت کولو او خپل سرمی د تلاوت څخه پورته کړلو ، او بیا می دوهم تلاوت شروع کړ، او بیا می خپل سر دآسمان په طرف او چت کړلو ، نو دوریځی په شان می یوڅه ولیدل چی د چراغونو په شان یوڅه پکی ښکاریدل ، او د آسمان په طرف پورته کیدل ، هر کله چی ده مبارک خپل قیصه نبی علیه السلام ته بیان کړه ، نو نبی علیه السلام ده ته وویل ، او بشارت یی ورکړلو دغه ملایکی وي او ستا تلاوت ته یی غوږ نیولی وو.

**۸ – دوی د ذکر مجلس ته هم حاضریږي:**

د ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چی پیغمبر ﷺ فرمایلی دي: د الله ﷻ داسی پرښتی هم شته دي چی د ذکر د مجالسو د پیداکولو لپاره په لارو کی گرځي تر څو پوری د اهل ذکر حلقی پیداکړي.

**۹ – لپاره د مسلمانانو خصوصاً په اهل علمو باندې درود رالیږی:**

یعنی پدوی باندی درود وایی لکه څرنگه چې الله ﷻ فرمایی:( **هُوَ ٱلَّذِى يُصَلِّى عَلَيْكُمْ وَمَلَٰٓئِكَتُهُۥ لِيُخْرِجَكُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ ۚ وَكَانَ بِٱلْمُؤْمِنِينَ رَحِيمًا** )[2]

---

۱ - صحیح البخاري، حدیث: ۵۰۱۸.

۲ - د الأحزاب سورت، ٤۳ آیت.

ژباړه : الله ﷻ هماغه ذات دی چی پرتاسی رحمت کوي او دهغه پرښتی ستاسی لپاره د رحمت دعا کوي ، ترڅوچی هغه تاسی له تیارو څخه رڼاته راوباسي ، هغه پر مؤمنانو ډیر مهربان دی).

او همدا رنگه پیغمبر ﷺ فرمایلی دي : الله ﷻ سره له خپلو پرښتو په هغو چا باندی درود رالیږی چی خلکوته نفع او خیر رسوي.

**۱۰ - ور پیژندل د نومونو د دوستانو او د ښمنانو د الله ﷻ خلکو لره:**

لکه څرنگه جی په حدیث شریف کی راغلي دي ، پیغمبر ﷺ فرمایلی دي : هر کله چی الله ﷻ یوڅوک خپل دوست وگرزوي ، نو جبرایل علیه السلام خپل ځان ته راوغوړي او هغه ته خپل حکم صادر کړی چی ته اعلان وکړه او پوهه شه چی زه فلانکی سړی خپل دوست جوړوم نو ته هم هغه خپل دوست جوړ کړه ، نو بیا جبرایل علیه السلام په آسمان کې غږ کړی نورو پرښتو ته چی الله ﷻ فلانکی سړی خپل دوست گرزولی دی ) نو تاسی هم هغه دوست وگرزوی یعنی محبت ورسره وکړی نو بیا پرښتی هغه خپل دوست وگرزوي ، نو بیا وروسته دی د ځمکی د خلکو لپاره مورد احترام او قبول وگرزي او همدا رنگه برعکس د دی هر کله چی الله ﷻ هرڅوک خپل مبغوض وگرزوي او دا مورد دغضب وگرزي ، نو الله ﷻ جبرایل علیه السلام راوغواړی او هغه ته اعلان کوي چی ما فلانکی سړی خپل دښمن گرزولی دی او ته هم هغه خپل دشمن وگرزوه ، نو جبرایل علیه السلام په آسمان کی نورو پرښتو ته اعلان وکړی چی الله ﷻ فلانکی شخص خپل مبغوض گرزولی دی نو تاسی هم هغه خپل دښمن وگرزوئ ، نو دیمورد د دښمنی د

هغوی وگرزي ، نو وروسته د دی ځخه دې مورد د توهين د خلکو وگرزي يعنی خلک هم د ده سره دښمنی او عداوت شروع کړی.

**۱۱ – ليکل د ښو او بدو اعمالو د انسانانو:**

لکن دغه دټولو پرښتو وظيفه نده بلکی د ځينو مشخصو پرښتو وظيفه ده چی دوی ته کرام کاتبين ملائيکی وايی ، لکه څرنگه چی الله ﷻ فرمايلي دي : (**وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَافِظِينَ كِرَامًا كَاتِبِينَ يَعْلَمُونَ مَا تَفْعَلُونَ**). [1]

ژباړه : په داسي حال کښی چی پر تاسی يی څارونکې ملائيکی ټاکلې دی داسی عزتمندې ليکونکې، چی ستاسی په هر عمل پوهيږی.

**۱۲ – تأييد او کومک کړل د مؤمنانو سره :**

لکه څرنگه چی الله ﷻ فرمايی: (**إِذْ يُوحِي رَبُّكَ إِلَى الْمَلآئِكَةِ أَنِّي مَعَكُمْ فَثَبِّتُواْ الَّذِينَ آمَنُواْ سَأُلْقِي فِي قُلُوبِ الَّذِينَ كَفَرُواْ الرَّعْبَ فَاضْرِبُواْ فَوْقَ الأَعْنَاقِ وَاضْرِبُواْ مِنْهُمْ كُلَّ بَنَانٍ**).[2]

ژباړه : هغه وخت (يادکړئ) چی کله ستا رب پرښتوته اشاره کوله چی زه ستاسی سره يم د مومنانو قدمونه ثابت کړی ، زه به همدا اوس د کافرانو په زړونو کښی ويره واچوم ، نو تاسی دهغوی پر غاړو باندی گوزار وکړئ او په بند بنديی ووهئ) .

**۱۳- د مؤمنانو روحونه اخيستل : الله ﷻ فرمايی:وَهُوَ ٱلۡقَاهِرُ فَوۡقَ عِبَادِهِۦۖ وَيُرۡسِلُ عَلَيۡكُمۡ حَفَظَةً حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَحَدَكُمُ ٱلۡمَوۡتُ تَوَفَّتۡهُ رُسُلُنَا وَهُمۡ لَا يُفَرِّطُونَ )** .[3]

---

۱ - د الانفطار سورت، ۱۰-۱۲ آيتونه.

۲ - د الأنفال سورت، ۱۲ آيت.

۳ - د الانعام سورت، ٦۱ آيت.

ژباړه : هغه پر خپلو بندګانو بشپړ واک لري او پر تاسي څارونکی ( پرښتی ) لیږي ، تردی چی کله ستاسی څخه د کوم یوه د مرګ نیټه رارسیږی ، نو دهغه رالیږل شوی پرښتی یی ساه اخلی او دخپلی فریضی په سرته رسولو کښی یو بڅری سستي نکوي.

**۱٤- درود ویل په پاکو او سپېڅلو مؤمنانو باندی په وخت د روحونو اخستلو د دوی کی:**

یعنی پرښتی په دوی باندی سلامونه اچوي او دوی ته په جنت باندی بشارت ورکوي لکه څرنګه چې الله ﷻ مونږ ته خبر راکړی دی او فرمایی :( **ٱلَّذِينَ تَتَوَفَّىٰهُمُ ٱلۡمَلَـٰٓئِكَةُ طَيِّبِينَ ۙ يَقُولُونَ سَلَـٰمٌ عَلَيۡكُمُ ٱدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ**) .[1]

ژباړه : هغو له خدایه یریدونکو ته چی کله پرښتی د سپڅلتیا په حالت کی د هغوی ساه ګانی اخلی نو ورته وایی: سلام دی وي پر تاسی دخپلو عملونو په بدل کی ځی ، جنت ته لاړشی

**۱۵ – زیری ورکول مومنانو ته په جنت سره :**

پرښتی په وخت د ځنګدن کی په مؤمنانو باندی نازلیږی او ورته راځی او زیری په جنت سره ورکوي لکه څرنګه چی الله ﷻ فرمایی:( **إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسۡتَقَـٰمُواْ تَتَنَزَّلُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡمَلَـٰٓئِكَةُ أَلَّا تَخَافُواْ وَلَا تَحۡزَنُواْ وَأَبۡشِرُواْ بِٱلۡجَنَّةِ ٱلَّتِى كُنتُمۡ**

١ - د النحل سورت،٣٢ آیت.

**تُوعَدُونَ نَحۡنُ أَوۡلِيَآؤُكُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِۖ وَلَكُمۡ فِيهَا مَا تَشۡتَهِيٓ أَنفُسُكُمۡ وَلَكُمۡ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ﴾.**[1]

ژباړه: په تحقیق سره هغو خلکو چي وویل رب زمونږ الله دی بیا دوی هغه باندې ثابت قدم پاتی شول په هغوی باندې پرښتي نازلیږی او ورته وایي: مه وریږئ او مه غم کوئ او زیری ورکوي په هغه جنت سره چې تاسو سره وعده کړی شویده مونږ د دنیا په ژوند کی او په آخرت کې ستاسو ملګري یو، هلته چې تاسی څه وغواړی دربه کړل کړی شی او هرڅه چې تاسي د هغه هیله کوی هغه د ستاسو دی.

یعنی د الله پاک پرښتې په هغو مومنانو چی دوی په خپل ایمان زړه ته الهام ورکوي چې تاسی نه په راتلونکی کی ویره نشته او په وړاندی هم غم مه کوئ ځکه مونږ د تاسو ملګری او مرسته کوونکي یو په دنیا او اخرت کې هلته به تاسو لپاره هر هغه څه وی چی تاسی یی غواړئ او ستاسو لپاره به هر هغه څه وي چې هیله یی کوئ.

**١٦ - وهل او شکنجه ورکول کافرانو ته په وخت د قبض کولو د روحونو د دوی کې:**

لکه څرنګه چی الله ﷻ فرمایی : ﴿**وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذۡ يَتَوَفَّى ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَضۡرِبُونَ وُجُوهَهُمۡ وَأَدۡبَٰرَهُمۡ وَذُوقُواْ عَذَابَ ٱلۡحَرِيقِ**﴾.[2]

---

١ - د فصلت سورت ، ٣٠-٣١ آیتونه.

٢ - د انفال سورت، ٥٠ آیت.

ژباړه : کاشکي تا هغه حالت لیدلی شوای چی کله پرښتې د شویو کافرانو ساه ګانې اخلي، دهغوی پر مخونو او شاتونو یې ګوزارونه کوي او ورته وایې : دا دي اوس د سوځیدو سزاوګالئ.

**یوه مهمه نکته :**

دغه یوه ډیر مهمه موضوع ده ، پرښتی د الله ﷻ سره شریکی او همکاری ندي ، ځکه الله ﷻ هیچاته محتاجه ندی او هیڅ همکار ته ضروزت نلري د مخلوق په شان ، صرف دالله ﷻ د حکمت داسی غوښتنه وه چی پرښتی پیداکړي ، دهمیشه لپاره دغه نکته په یاد ولری چی الله ﷻ هیچاته محتاجه ندی.

خلاصه د موضوع او بحث دا ده ، چی د کائیناتو په هر وړوکې او لوی کار د الله ﷻ له طرفه یوه مؤظفه پرښته مقرره شویده.

**د پرښتو شمار :**

داسی پرښتی هم شته دي چی د الله ﷻ په اجازی سره انسانان او حیوانات د لویو مصیبتونو او بلاګانو څخه ساتی ، د دی ترڅنګ داسی په زرونو او ملیونونو پرښتی هم موجودی دي چی دقیقه وظیفه یی بغیر د الله ﷻ څخه بل هیچاته نده معلومه، د دغو مثالونو او نور بحث څخه معلومه شوه چی الله ﷻ پرښتی صرف دخپل حکمته بالغه له مخی پیداکړی دي او صرف د الله ﷻ د حکم مطابق په کایناتوکی تصرف کوي ، او په قران کریم او د پیغمبر ﷺ په حدیثونو کی دپرښتو په باره کی مفصل معلومات راغلی دي ، او په یوه آیت کریمه کی راغلی دی چی صرف الله ﷻ ته ددوی شمار معلوم دی او فرمایی ( و **ما یعلم جنود ربک الاهو**).[1]

۱ - د المدثر سورت، ۳۱ آیت.

ژباړه : نه پوهیږی په لښکرو د رب ستا مگر صرف الله ﷻ
**د مشهورو پرښتو وظیفی :**
۱ - **جبرایل علیه السلام** : پیغمبرانو علیهم السلام ته د وحی را وړلو دنده په غاړه لري
۲ - **میکایل علیه السلام**: دباد او باران او داسی نورو چارو د تنظیمولو دنده پر غاړه لري
۳ - **ملک الموت علیه السلام** : دنده لری په ټاکلی وخت د انسان روح قبض کړي
۴ - **اسرافیل علیه السلام** : د ټولو مخلوقاتو د پناه کیدو ، او بیرته را ژوندی کیدو لپاره د شپیلۍ وهلو دنده پر غاړه لري چی په اوله شپیلۍ به ټول مخلوقات له منځه ولاړشي او په دویمه شپیلی به بیرته را ژوندي شي .
**نکیر او منکر** هغه دوی پرښتی دی چی کله انسان مړشی او په قبر کی کیښودل شی ورسره سوال او جواب کوی .
**ساتونکی پرښتی :**
د هر انسان د ساتنی لپاره الله ﷻ پرښتی را لیږلی دی دغه پرښتی انسان د شیطانانو او پیریانو له شرڅخه ژغوري کله چی مسلمان په لاره تلل غواړي نو څلورو خواووته یی پرښتی ورسره لکه د پیره کوونکو روانی وي ، همدارنگه دوه نوری پرښتی دانسان په ښۍ او چپه اوږه ناستی دي او په هر ځای کی ورسره وي ، کله چی انسان نیک عمل ترسره کړی د ښۍ اوگې پرښته یی لیکی ، او کله چی ناروا

عمل تر سره کړي نو د چپی اوګې پرښته یې لیکی ، دی نقطی ته په اشاری سره الله ﷻ فرمایی:

( **و ان علیکم لحافظین کراماً کاتبین یعلمون ما تفعلون** ).[1]

ژباړه : بیشکه چی مقرر کړی شویدی پر تاسی پرښتی چی ساتنه کوی ستاسو، عزت ناکی او لیکونکی دی د اعمالو ستاسو دا پرښتی په هغه څه پوهیږی چی تاسی یی کوئ )) او په بل آیت کریمه کی الله ﷻ فرمایی :( **إِذْ يَتَلَقَّى الْمُتَلَقِّيَانِ عَنِ الْيَمِينِ وَعَنِ الشِّمَالِ قَعِيدٌ مَا يَلْفِظُ مِن قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ**).[2]

ژباره : ( او زموږ پر دغه مستقیم علم بر سیره ) دوه لیکونکي پرښتې دهغه ښی او چپ لوري ته ناستی دي نیکي او بدي هر څه لیکي ، هیڅ داسی لفظ د هغه له خولې څخه نه راوزی چی د هغه د محفوظ ساتلو لپاره یو حاضر باش څارونکی ورسره موجود نه وي.

## په پرښتو د ایمان لرلو اغیزې :

۱ – په پرښتو ایمان لرل او د هغه دوی د ستر ځواک په اړه چی الله ﷻ ورکړی دی، فکراوغورکول انسان د الله د عظمت لوري ته راکاږي او د الله ﷻ عظمت ورته معلومیږي ځکه دا چی مخلوقات یی دومره عظمت لری نو د دی مخلوقاتو او فرښتو پیدا کوونکی ذات به څومره عظیم او ستر وي ، د دی مخلوق په پیژندلو سره د انسان په زړه کې د الله ﷻ عظمت نور هم زیاتیږي.

۱ - د الانفطار سورت، ۱۲ آیت.

۲ - د ق سورت، ۱۷-۱۸ آیتونه.

۲- د الله ﷻ له اوامرو څخه په اطاعت باندې ټینګ پاتی کیدل ، کله چی انسان پدی پوه شي چی هرڅه چی د ده له خولی څخه راوځي پرښتی یی لیکی ، نو کوښښ به کوي چی داسی څه ونه وایی چی د الله ﷻ د نارختیا باعث وګرځي ، نو په ښکاره او پټه به له الله ﷻ څخه ویریږی او ناکاره کړنې سرته نه رسوي.
۳ – مؤمن انسان ځان یوازی نه انګیرې په پرښتو ایمان لرل د دی باعث ګرځي چی انسان د دنیا په هیڅ ځای او هیڅ حالت کی ویره نه محسوسوي ، ځکه هغه پدی ایمان لري چی د دنیا په هر کونج کی د الله ﷻ بی شماره پرښتی شتون لري ، او ځنی خویی لا په ځانګړې ډول د انسان د ساتلو لپاره ګمارل شویدی.
۴ – د الله ﷻ د مهربانۍ او لطف په خاطر د الله ﷻ شکر ادا کوي ، ځکه دی پوهیږی چی الله ﷻ د پرښتو په توسط د ده حفاظت کوي.
۵ – مونږ په یاد راوړلو د ملک الموت سره پدې متیقن کیږو چی دغه دنیا فانی ده او مونږ او نور مخلوقات به پناه کیږو ، نو بیا مونږ باید د آخرت د ورځی لپاره تیاری ونیسو او ښه عملونه وکړو.

٤

# ایمان لرل په آسماني کتابونو باندې

**الحمد لله الذي اکرم الانسان بالایمان و میزه بالعقل و لم یجعله کسائر المخلوق، یعیش بلاهدف أو یعیش لغیره بل جعله مفکراً یسمو بکفره و یعمل بعقله و الصلاة و السلام علی سیدنا محمد و علی آله و أصحابه أجمعین.**

مقدمه:

یو له ارکانو د ایمان ، ایمان درلودل په الهي کتابو نو سره دی ، الله ﷻ د بشر د هدایت لپاره آسمانی کتابونه نازل کړیدي ، که چیرته دغه اسمانی کتابونه د الله ﷻ له طرفه نوی نازل شوی نو انسان به د الله ﷻ د معرفت په باره کی او دهغه د عبادت په باره کی په اشتباه کی واقع شوی وی او صراط المستقیم لاره به ورڅخه ورکه شوی وی ، اود هغو اصولو او قواعد څخه به لری پاتی شوی وې چی سړی تقوا،او اخلاقو،او نورو اجتماعي کارونوته راکاږي ، نو دغه اسمانی کتابونه لکه د رحمت د باران په شان دي ، چی په زړه باندی لکه د باران په شان وریږی او د ایمان کشت به زړونو کی تقویه کوي.

**د کتاب تعریف :**

کتاب یوه عربی کلمه ده چی په معنا د لیکلو سره هم راغلی ده ، او یا هغه سند چی لیکل شوی وي هغه ته هم کتاب وایی ، او جمع یی کتب راځي.

**او په اصطلاح کی:** کتاب ویل کیږی د الله ﷻ هغو خبروته چی لیکل شوی وی او د الله ﷻ له طرفه په خپلو پیغمبرانو علیهم السلام باندی نازل شوی وي لپاره د هدایت د بشر ، او دغو کتابونو ته الهی کتابونه هم وایی ځکه جی د الله ﷻ له طرفه نازل شویدي او په دوی کی د بشر خبری نشته دي ، او ایمان راوړل پدغو آسمانی کتابونو سره فرض دي او په دریم رکن د ایمان کی حسابیږي ، الله ﷻ په قرآن کریم کی پدغه باره کی فرمایی:

**(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ آمِنُواْ بِاللّهِ وَرَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الَّذِي نَزَّلَ عَلَى رَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الَّذِيَ أَنزَلَ مِن قَبْلُ وَمَن يَكْفُرْ بِاللّهِ وَمَلاَئِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلاَلًا بَعِيدًا).**[1]

ژباړه: ای مؤمنانو ، پر الله ﷻ او پر پیغمبر او پر هغه کتاب ایمان راوړی چی الله ﷻ پر خپل پیغمبر نازل کړیدی او پر هغه کتاب چی له دی څخه مخکی یی نازل کړیدي ، چا چی له الله ، د هغه له پرښتو ، دهغه له کتابونو ، دهغه له رسولانو او د اخرت له ورځی څخه انکار وکړ ، هغه په گمراهی کښی سرگردان ډیر لیری لاړ.

**الهی کتابونوته ضرورت:**

لکه چی ته پوهیږی چی اصلی هدف د انسان د پیدائښت څخه د الله ﷻ معرفت او عبادت دی ، مگر مونږ انسانان د الله ﷻ د ذات د حقیقت څخه عاجز یو او د الله ﷻ د ذات په حقیقت نه پوهیږو، نو په همدی اساس الله ﷻ د آسمانی کتابونو په نازلو او د پیغمبرانو علیهم السلام په را لیږلو او د دغه جهان په پیداکولو

---

١ - د النساء سورت، ١٣٦ آیت.

سره مونږ ته خپل ځان را معرفی کړ، مونږ کولی شو چی د الله ﷻ د قدرت اثار په دوو برخو وویشو او مطالعه یی کړو

**۱ – د الله ﷻ د قدرت اثار**

**۲ – د الله ﷻ د کلام اثار**

کاینات: داسی یو کتاب دی چی د الله ﷻ د قدرت په قلم سره لیکل شویدي ، هر موجود شی پدغه کایناتو کی داسی دي لکه یوه گویا ژبه چی مونږ ته الله ﷻ را معرفی کوی او د الله ﷻ صفات مونږ ته راښایی ، نو الله ﷻ مونږ ته په خپل عجیب قدرت سره ځان معرفی کړیدی نوهمدارنگه الله ﷻ په خپل کلام سره مونږ ته هم خپل ځان معرفی کړیدی او دخپل موجودیت خبریی مونږ ته راکړیدی او د انسان د پیدایښت مقصد یی هم مونږ ته ښودلی دی ترڅو د الله ﷻ بندگان وتوانیږي چی احکام الهي یادکړي او د دنیا او آخرت زندگی پری ښایسته کړي.

**که چیرته پېغمبرانو علیهم السلام د الله ﷻ له طرفه الهي کتابونه نوی داوړي نو څه به واقع شوی وای؟**

نو هر کله چی الهی پېغمبر چی خلک د الله ﷻ عبادت او اطاعت ته رابولي که چیرته دوی د الله ﷻ له طرفه آسمانی کتابونه نوی راوړی نو څه به واقع شوی وی او کوم نقصان به په خلکو کی واقع شوی وای؟

**الف** : نو پدغه صورت کی به خلکو په آسانی سره د خپل پېغمبر تکذیب کولو او د هغه د پېغمبری څخه به یی انکار کولو.

**ب** : پیغمبران علیهم السلام هم د نورو انسانانو په څیر د دنیا څخه رحلت کوي هر کله چی د دوی اجل راشي نو اوس که چیرته د دوی شریعت او دین په کتابی

شکل سره موجود نوی نو د دوی په وفات سره به دین هم له منځه تللی وای او هدف د رسالت د دوی به ضایع شوی وی نو په همدی علت سره الله ﷻ اسمانی کتابونه په خپلو پیغمبرانو علیهم السلام نازل کړل څو خلکو ته په ورځ د قیامت کی بانه جویی جوړه نه شی

**ج:** دریم حکمت دادی چی دغه آسمانی کتابونه په خلکو باندی په ورځ د قیامت حجت دی چی دوی الله ﷻ ته نشی ویلی چی مونږ خبر نوو او مونږ ته کوم الهي کتاب ندی راغلی.

**آسماني کتابونه او صحيفې:**

د حجم له اړخه آسماني کتابونه په دوه ډوله تقسيمږي:

**لمړی: صحيفې:**

هغه وړوکتابونو او رسالوته ویل کیږي چی د پاڼو شمیریی لږ او دیوی ځانګړې ټولنې لپاره نازلی شوی وي او یوازی د هغه سیمی د خلکو غوښتنی او اړتیاوې پوره کړي ، قران کریم هم له لومړنیو صحیفو ( الصحف الاولی) څخه بحث کړی دی ، او همدارنگه هغه صحیفی چی په ابراهیم علیه السلام او دهغه په لمسیو یعنی حضرت اسحاق ، یعقوب ، سلیمان ، یوسف ، زکریا علیهم السلام نازل شویدي، تاسی کولی شی! د لا زیاتو معلوماتو لپاره د النساء سورت ٥٤ او د الانعام سورت ١٨٩ او د الحدید سورت ٢٦ آیتونو تفسیر ته مراجعه وکړی.

**د صحيفو شمير:**

په حدیث شریف کی راغلی دي چی پر:

١- حضرت آدم علیه السلام ، ١٠ صحیفې.

۲- په شیث علیه السلام ، ۵۰ صحیفې.
۳- په ادریس علیه السلام ، ۳۰ صحیفې .
٤- په ابراهیم علیه السلام، ۱۰ صحیفې. نازلی شویدی.
پدې صحیفوکې له توحید او د الله ﷻ له پاکوالي، د اخرت برتری پر دنیا، د لمونځ فضیلت او اغیزی ، انسان ته احترام و عظ او نصیحت او د هر دین له اساسي موضوعاتو څخه پکښی بحث شوی دی.

**دوهم: آسماني کتابونه:**

د حجم له اړخه اسمانی کتابونه له صحیفو څخه غټ دي او پیغام یی هم عمومیت لري ، او ځانګړی نومونه لري چی عبارت دي له ، تورات ، زبور ، انجیل او قرانکریم څخه

**۱- تورات:**

عبرانی کلمه ده چی د ( قانون او شریعت ) په معنا سره راځي ، دغه کتاب په موسی علیه السلام نازل شویدی په نوموړی کتاب ایمان لرل د ایمان له اصولو څخه شمېرل کیږی ، ولی د یادونی وړ ده چی تورات په خپله اصلی بڼه شتون نلري بلکه بدلونونه او تغیرات پکی راوړل شویدی، په اوسنی عصر کې د دغه محرف تورات څخه دري نسخې وجود لری چی چی د عهد قدیم په نوم مشهوری دی.

په نن عصر کی د تحریف شوی تورات دری نسخی شتون لري ، چی (دالعهد القدیم ) په نسخو سره شهرت لري ، دا هغه نسخی دي چی یهودوته د منلو وړدي او بله نسخه چی د یونانی نسخی په نوم سره یادیږی چی دروم په کلیساګانو او د

غربی مسیحیانو لپاره د منلو وړ نسخه ده ، او دریمه یی د (سامریانی ) په نوم سره یادیږی چی د سامیریانو پوری ځانگړی نسخه ده.

**۲- زبور:**

په عبراني ژبه کې مکتوب او په عربی ژبه کې په معنا د کتاب سره دی دغه کتاب په حضرت داود علیه السلام نازل شویدی چې اصل یي مونږ ته ندی رسیدلی.

**۳- انجیل:**

په لغت کې د ( زیرې) په معنا راځی، دا کتاب د الله ﷻ په پیغمبر حضرت عیسی علیه السلام باندی نازل شوې دی ، انجیل هم لکه د نورو مخکینو اسمانی کتابونو په څیر د لاسوهنې څخه په امن کی ندی پاتی شوی ، بلکه د خلکو له خوا پکی په زیاتو لو او کمولو سره لاسوهنه شوی ده ، د دی مطلب د وضاحت لپاره دومره کافي ده چی نن ورځ اصلی انجیل د مسیحیانو په لاس کی نشته ، او کوم انجیل چی په لاس کې لري د انجیل ترجمه ده چی په نورو ژبو شویده ، همدا رنگه د انجیل اتفاقی نسخه چی د ټولو مسیحیانو په وړاندی د قبول وړ نشته، بلکه بیلا بیلې نسخی لري، چی یوه نسخه یی له بلی سره توپیر لري، دغه انجیلونه د عیسی علیه السلام له پورته کیدو څخه په سلگونو کاله وروسته د عیسی علیه السلام د شاگردانو لخوا لیکل شوي چی د (۷۰) انجیلو څخه د کلیسایانو لخوا انتخاب شویدی، او ٦٩ نور انجیلونه باطل اعلان شویدی. ولی دغه پاتی انجیلونه د محتوا له اړخه یو له بل سره تو پیر لري ، ولې ډیره بده خبره خودا ده چی ځنی کړنی چی نه ښایی یو عادی انسان ته یی نسبت وشی دا خولا پریږده چی تحریف شوو انجیلونو کی هغسې ناوړه کړنی پیغمبرانو علیهم السلام ته یی منسوب شویدی ،

كه د انجيل په تحريف بل هيڅ دليل شتون و نه لرى ، نو همدا هم بسنه كوي چې پيغمبرانو عليهم السلام ته پكى ناوړه كړنى منسوب شويدى.
په لنډه توګه بايد وويل شي چې په ټولو پيغمبرانو عليهم السلام ايمان راوړل فرض دي ولى پيروى د هغه كتاب كيداى شي كوم چې د الله ﷻ له طرفه دهغه وخت انسانانو ته نازل شوى وو . نو د وړاندى نازل شو و كتابونو پيروي نه كيږي ځكه چې ټول احكام يى منسوخ شويدي ، هيڅ يو پيغمبر له خپل ځان څخه احكام ندې راوړي ، بلكه څه يى چې ويلى دي ټول د الله ﷻ له طرفه دي.
نو كله به چې الله ﷻ پيغمبر راوليږه معنا به يى داوه چې ورڅخه د واړندى پيغمبر شريعت منسوخ شو، دا چې دلته د نسخى څخه يادونه وشوه ښه به وي چې د نسخى په اړه هم معلومات ولرو.
**د نسخ معنا:**
نسخ په لغت كې د ازالى او لرى كولو په معنا راځى او په اصطلاح كې عبارت دى د رفع كولو د مخكينى شرعى حكم لره په بل وروستنى شرعى حكم سره.
**د نسخ دليل:**
**كولى شو دا مطلب د يو ساده مثال په وړاندى كولو سره واضح كړو**: د بيلګى په توګه كه فرض كړو چې يو فقير هيواد چې اقتصادي وضعيت يى كمزورى او ضعيف وي ، او دپاكوالي او نظافت له اړخه يى هم وضعيت خراب وي ، نو كله چې د نوموړي هيواد حكومت دخپل هيواد لپاره د پاكوالي په اړه پالسى جوړه وي ، نو د يولړ اسانتيا وو څخه كار اخلى ، او د خلكو وضعيت او حالت په ليدو ورته نوى قوانين جوړه وي ، ولى څه موده وروسته نوموړى دولت په ښوودريږي او

اقتصادي حالت يې د پخوا په پرتله ښه کيږي ، نو پرته له شک څخه چې په مخکينو قوانينو کې يو څه بدلون راځي ، او د خلکو دسويې سره به يې سم جوړه وي دغه مثال د پخوانيو دينونو په اړه کاملاً تحقق مومي ، هغه داسې چې الله ﷻ په تيرو زمانو کې د پيغمرانو عليهم السلام په واسطه خپلو بندګانو ته ځانګړي احکام او قوانين راوليږل ولې څه موده وروسته به يې د بل پيغمبر په لاس يو لړ نوي قوانين راوليږل چې له امله به يې پخوانې قوانين منسوخ ګرځيدل او خلک به هم پدې مکلف وو چې د نوی پيغمبر تابع وګرځي ، د ايمان راوړلو سر بيره پر مسلمانانو د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام احترام واجب دي.

بله دا چې د لومړي پيغمبر پسې به چې کله کوم بل پيغمبر راليږل کيده ، نو داسې به وه لکه ګويا لومړی پيغمبر چې بيرته ژوندی شي يعنې په هماغه څير به پرې لازم وو چې د دويم پيغمبر تابعداری لکه د لومړی پيغمبر په څير وکړي پدې اړه.

پيغمبر عليه السلام فرمايې:( **لو كان موسى حيا بين أظهركم ما حل له الا أن يتبعني**) [1].

ژباړه : که چيرته حضرت موسی عليه السلام اوس ژوندی وای پرته زما له تابعداری يې بله لاره نه درلوده.

---

١ - مسند الامام احمد،حديث: ١۴٦٣١-١۴٦٨٥

## ٤- قران كريم.

**د قرآن لغوي او اصطلاح معنی:**

**قرآن په لغت کې:** قرآن د مصدر كلمه ده چی د ( فعلان) په وزن راځی او دلوستلو او تلاوت معنا افاده کوی ، دا یی عامه معنا ده ، ولی کله چی د الله ﷻ له لوري پر محمد ﷺ آسمانی کتاب د قران په نوم نازل شو وروسته له هغی رواندي چی پرته له قران کریم څخه بل کوم کتاب ته قران وویل شي ، بلکه دا نوم د الهي کتاب لپاره ځانګړې او مشخص وګرځیده.

**او په اصطلاح کی:** قران د الله ﷻ هغه کلام دی چی د جبریل علیه السلام په واسطه پر محمد ﷺ د نژدی ۲۳ کلونو په موده کی په تدریج سره نازل شویدی ، او په تواتر سره نقل شویدی ، لوستل یی عبادت او الفاظ یی اعجازی دي.

د قرآن کریم لومړني آیتونه پر محمد ﷺ هغه مهال په مکه مکرمه کی نازل شول کله چی هغه مبارک د عبادت لپاره ( د حرا) نومی غار ته تللی وو، وروسته قرانکریم د حوادثو مطابق ، دځه کم ۲۳ کلونو په موده کې نازل شو ، قرانکریم ۱۱٤ سورتونه لری،

**سورت څه شې دې؟**

سورت د قرانکریم یوی ځانګړی برخی ته ویل کیږی چی دری او یا له دریو څخه زیاتو ایتونو ته شامليږي، او هر یو لدی سورتونو څخه ځانګړی نوم لري .

**ښه خبره به وي چی پدې پوهه شو:**

چې پیغمبر ﷺ څو تنه صحابه کرام د وحی پر لیکو مکلف کړی وو نو هر آیت چی پر پیغمبر ﷺ نازلیده د وحی کاتبانو به لیکلو د رسول الله ﷺ په وخت کی څو تنو

صحابه کرامو ټول قران کریم له یاده زده کړی وو، چی لدی جملی څخه ، عبدالله بن مسعود ، سالم بن معقل ، مولی بن حذیفه ، معاذ بن جبل ، أبی بن کعب ، او زید بن ثابت رضی الله عنهم اجمعین وو.

**د قران کریم سلامتیا له تحریف (تغییر) څخه:**

کومه پاملرنه چی مسلمانانو د قران کریم حفظ او لیکلو ته کړیده، د نړۍ هیڅ ملت به پدی کچه هیڅ اسمانی او یا ځمکنی کتاب ته نوی کړي ، او د تیر تاریخ په اوږ دو کی هیڅ داسی ندی تیر شوی چی د قران کریم په څیر قداست او ساتنه د کوم بل کتاب شوی وي،لکه د امام احمد ابن حنبل و نخیل مسند کی لیکي.
**(و کان اذا أنزل علیه الشيء یدعو بعض من یکتب عنده یقول: ضعوا هذا فی السورة التي یذکر فیها کذا و کذا).**[1]

د قرانکریم هرآیت به چی نازلیده ، نو پیغمبر ﷺ به په خپله مبارکه سینه کی حفظ کاوه ، کله به چی وحي نازله شوه او پربښته به لاړه ، نو سمدلاسه به پیغمبر ﷺ هغه نازل شوی آیتونه صحابه کراموته ولوستل او د وحی لیکوالانو ته به یی د لیکلو امر ورکړ ، او کله به چی ولیکل شول نو یوه نسخه به یی د خپل ځان سره په کور کی وساتله.

**قران کریم د کوم چا په ځانکړي واک کی نه وو:**

قرآن کریم لکه د نورو کتابونو په څیر د ځانګړو اشخاصو په لاس کی نه وه دا خبره د دی لپاره کیږی چی هیڅ امکان د دی خبری نشته چی ګویا قرانکریم کی به چاګوتی وهلي وي ، ځکه قران کریم د ټولو خلکو سره شتون درلوده او هر چا به

---

۱ - مسند الامام احمد، حدیث: ۳۹۹.

په لمانځه او یاد لمانځه څخه د باندې لوسته ، او د نړۍ ټولو مسلمانانو به د قرانکریم د قانون سره سمې خپلې پریکړې کولې
نو پداسې حال کې چې د قرانکریم وضعیت داوي ، هیڅ امکان نشته چې څوک دي په قران کریم کې تصرف وکړي ، دځه په کمولو او یازتولو سره او اسلامي امت دي ورځخه غافله او ناخبره پاتې شي دا پداسې حال کې چې قران کریم د تل لپاره د مسلمانانو د ټولو دینې او اجتماعي مسایلو د حل مرجع ده ، او لکه د اساسي قانون په څیر به خلکو خپلې ستونزې د قران کریم د احکامو له لارې حل او فصل کولې .

**د قرآن کریم ټول آیتونه په لیکلې بڼه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره وو:**

وړاندې لدې چې د ابوبکر صدیق رضی الله عنه په امر قران کریم په یو واحده نسخه کې راټول شي، ټول قرانکریم وړاندې لدې څخه د پیغمبر ﷺ د ژوند پر مهال د هغه سره ، او د اکثره صحابه کرامو په کورونو کې موجود وو ، او صحابه کرامو به قرانکریم د پانو له مخې لوسته ، او کله چې د اخر ځل لپاره عثمان رضی الله عنه قران کریم جمع کاوو ، هغه مهال د قران کریم حافظان او لیکوالان ژوندي وو ، د دې ټولو شواهدو با وجود څنګه کیدای شي چې چا په قران کریم کې تحریف کړي وي ربنتیا ویلې دي الله ﷻ چې فرمایي: (**إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ** ).[١]

---

١ - د حجر سورت، ٩ آیت.

ژباړه : (بی شکه مونږ پخپله نازل کړیدی ذکر پند  قران ، او بیشکه چی مونږ د ده خامخا ساتونکي يو له زيادت او نقصان او نورو شيان څخه).

## د قرآن کریم ځانګړتیاوې:

قرآن کریم د مخکینیو آسمانی کتابونو په پرتله ډیرې خوبیانې او بهتری لری چی ځینې یې په لاندی ډول دی:

١- قران کریم په لفظ او معنا په ټولو کوني او علمي حقايقو سره معجزه دی.

٢- قران کریم آخری کتاب دی  چې الله ﷻ په ده سره ټول د وړاندی اسمانی کتابونو نزول پای ته رسولی، لکه څرنګه چی د موږ په پیغمبر ﷺ په را لیږلو سره مخکنيني پیغمبران پای ته رسولی.

٣- د نورو کتابونو چی په هغه کې تحریف شوی په پرتله صرف د قرآن کریم حفاظت په اړه الله ﷻ په خپله د هرډول  تحریف او تبدیل څخه ژمنه کړی.

٤- قرآن کریم د وړاندنیو کتابونو تصدیق کوونکی او په هغو غالب کتاب دی.

٥- دا رنګ قرآن کریم د ټولو وړاندنیو آسمانی کتابونو لپاره ناسخ کتاب دی.

## قرآن کریم د الله ﷻ کلام دی:

انسانان او کاینات، چی د چا اثردی ، قران کریم هم د هماغه ذات اثر دی ، ځکه قران کریم انسان بل انسان ته ورپيژنی ، همدا رنګه د کايناتو د  کتاب تشریح او توضيح کوي ، يعنی قران کريم له يو طرفه انسان د ضعف او فضيلت او له بلوه پلوه کاينات د ټولو رازونو او باريکيو سره مطالعه کوي ، نو هغه ذات چی په کايناتو کی تصرف نشی کولای ، د منلو وړنده چی دا ډول څرګندونی وکړي د دی لنډي

مقدمی څخه وروسته دا چي قران کریم د الله ﷻ کتاب دي دلایل په لاندی ډول دي:

١ – تر ټولو وړاندی قرانکریم د پیغمبر ﷺ په عصر کی د صحابه کرامو په زړونو، ارواحو او عقلونو باندې د پام وړ تاثیر کړی وو، او هغه نسل یی داسی تربیه کړ ، او د جاهلیت له دودونو څخه یی پاک کړ تر دی چی د خلکو لپاره قدوه او مشران وگر ځیدل ، له عادی خلکو څخه ترې ( صحابه کرام جوړ شول او دهغه عصر خلک نن ورځ د متمدنه استادانو په نوم سره یادیږی

٢ - آیا تر نن ورځی پوری داسی کوم کتاب لیکل شویدی چی باسواده او بی سواده ، مکتبی او پوهنتوني ، چوپان او محصل ، یعنی د هری طبقی خلک د خپلی پوهی او درک په کچه ورڅخه گټه پورته کړي ویی لولی تلاوت یی کړی او ځان پری پوهه کړي ؟ نه ، هیڅکله نه ، ځکه قران کریم یوا ځنی کتاب دی ، چی: شاعر او لیکوال ، اقتصاد پوهه او حقوق پوهه اداري او ټولنپوه ، معلم او متعلم ، او په لنډه توگه د هر مسلک خاوندان گولی شی په اسانۍ سره یی ولولئ او گټه ورڅخه پورته کړئ ، او د ځان لپاره یی د لاری مشعل وگرځوي ، همدا رنگه لوی عالمان او لیکوالان او پوهان چی په علمیت او هوښیارۍ کې لوړی مرتبی ته رسیدلیی وو ، راغلل ، قرانکریم ته یی گونډه ووهله او د استادۍ له مرتبی څخه یې ځانونه د قرانکریم شاگردان وگرځول او دا کار یی د ځان لپاره افتخار وگانه.

٣ – دریم دلیل دا چی قران کریم د انسان د ژوند مادي او معنوي دواړو اړخونو ته پاملرنه کړی ده ، او په دواړه حالتونو کی یی ورته قوانین وضع کړيدي ښکاره خبره ده چی هغه قوانین او مقررات چی دهری طبقی انسانان په هر سویه او هر زمانه

ورځخه ګټه پورته کولای شي ، د منلو وړنده چې د انسان جوړ شوی قانون ووسي، دا خولا پريږده چې انسان امي وي ( چې نه لوستل او نه ليکل کولای شي ؟ يعنی امکان نلري چې دغه قوانين دی محمد رسول الله ﷺ له خپل ځان څخه جوړ کړی وي ځکه هغه نه ليکل او نه لوستل کولای شول په بله اصطلاح د منلو وړ نده چې د بشر جوړ شوی قانون د څو پيړيو لپاره وکارول شي ، د خلکو غوښتنوته جواب ووايی ، او ستونزی يی د نوموړي قانون له لاری حل شي ، بلکه بيشکه چې څه وخت پری تير شي صلاحيت له لاسه ورکوي نو دبشر جوړ شوی نظام او بشری مفکوره چې کله په الهي وحی تکيه نوي کړی نشی کولای تر ٥٠ کلونو پوری هم وچليږی بلکه اړينه ده چې بدلون او تغيرات پکی راشي او يوه ورځ خو لا داسی هم راځي چې نوموړي قوانين زاړه او د پلی کيدو وړنه پاتی کيږی بلکه له منځه ځي او که له منځه لاړنشی نو بدی پايلی پريږدی د قران کريم دوست او دښمن دواړه پدی اقرار کوي چې په قران کريم کی داسی څه نشته چې دوه نظرونه يو له بل سره توپير ولري ، او يايی ځنی قوانين زاړه شوی وي ، بلکه ورځ تر بلې د قران کريم قوانين ځوانږی او تازه والی يی ورځ تر بلی زياتيږي ، دلته ځنی بيلګی وړاندی کيږي چې د قران کريم د قوانينو د تل پاتی کيدو ښکارندويی کوي ، هغه قوانين په نه پلی کولو سره يی د نړی خلک له بيلا بيلو سترنزو سره مخ دی.

**د قرآن کريم د ځينو دايمي احکامو بيلګې:**

**الف:** قران کريم د کاپيټاليزم مالي نظام ردوي اونه يی منی ځکه پدی نظام کی مال د ځانګړو اشخاصو لاس کې پاتی کيږي او د هيواد اکثره وګړي د فقر په

حالت کی ژوند کوي ، دی ټکي ته په اشاری سره قران کریم فرمایی: ( **كَيْ لَا يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الْأَغْنِيَاءِ مِنكُمْ**). [1]

ژباړه :( د هر چا لپاره د (فيء)مال کی برخه معلومه شوی ده د د ی لپاره چی ونه گرځي دغه مال د اړول شوې په منځ کی دغنیانو له تاسی څخه چی له خپله حقه زیات واخلي او فقر اوو ته لږ ورکړي).

**ب:** او همدارنگه الله ﷻ فرمایی:( **وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ إِلَّا مَا سَعَى**) .[2]

ژباړه : نشته هیڅ انسان لره مگر ( جزا دهغه څه ، چی کړی یې وې د عمل خپل څخه

**ج :** امانت او دندی باید اهل (وړ) خلکو ته وسپارل شي او په هر ځای کی باید عدالت پلی شي ، لکه چی الله ﷻ فرمایی: (**إِنَّ اللّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤدُّواْ الأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُواْ بِالْعَدْلِ**). [3]

ژباړه : بیشکه الله ﷻ امر کوي په تاسی (ای مؤمنانو) د دی چی وسپارئ امانتونه اهل د اماناتو ته او کله چی حکم کوئ تاسی (ای قاضیانو) ، ای حاکمانو ، په منځ د خلکو کی نو حکم وکړی په انصاف سره.

**د:** د یو انسان وژل لکه د ټولو انسانانو د وژلو په څیردي دا خبره قرانکریم دیو قانون او ابدي قاعدې په څیر بشریت ته وړاندی کوي ، لکه چی فرمایی : (**مِنْ أَجْلِ**

---

۱ - د حشر سورت، ۷ آیت.

۲ - د النجم سورت، ۳۹ آیت.

۳ - د النساء سورت، ۵۸ آیت.

**ذَلِكَ كَتَبْنَا عَلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ أَنَّهُ مَن قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا).**[١]

ژباړه: له همدی امله مونږ پر بنی اسرایلو دا فرمان لیکلی ؤو چاچی یو انسان د وینی له بدلی یا په ځمکه کښی له فساد د خورولو پرته ( په ناحقه) وواژه ، داسی وګنه لکه چی هغه ټول انسانان وژل.

**هـ:** قران کریم ټولې بدی کړنې لکه : سود ، قمار (جواري) شراب او هر ډول انحرافي أخلاق د ټولني لپاره لکه دوژونکو زهرو ګڼلې دي ، او هر ډول اسراف یی حرام ګرځولی دی.

**و** : قران کریم د دی لپاره چی انسان لوړی مرتبې ته ورسوي ، او د دی لپاره چی خلک لکه د جنت د ژوند په څیر فردي او ټولنیز پاک ژوند ولري نو د لمانځه ، روژی ، زکات او حج په څیر عبادات یی فرض ګر ځولي دي او د انسان عقل او هغه صفات چی له انسان څخه په پوره معنا انسان جوړوي وربښایی او له الله ﷻ څخه ویره د انسان په زړه کې لکه د پولیس ( مراقب) په څیرځای پرځای کوي ، همدارنګه د الله ﷻ سره مینی او محبت ته یی په زړه کی ځای ورکوي.

٤ – هر انځور ګر چی کله د یوی منظرې نقشه انځوره وي زیاتره د هغه شیانو انځرونه کشوي چی د انځور ګر په چاپیریال کی شتون لري ، او یایی د سیاحت پر مهال چیرته لیدلی وي نو کله چی قران کریم لولو ګورو چی په دښتو او صحراګانو کی له ژوند تیرولو څخه په ډیره لږ بڼه بحث کوي ، بلکه زیاتره له نهرونو، طبیعی شنو منظرو له باران څخه ډکو وریځو چی خړو خاوروته ښکلا وربښی ، او

---

١ - د المائده سورت، ٣٢ آیت.

د باغونو اوسیندونو څخه بحث کوي ، د بیلګی په توګه دالنور په سورت کی له ډیرو ډوبو ژورو بحرونو څخه بحث کوي او د ابو هغه چپو څخه چی د بحر په لاندی طبقاتو کی یو دبل د پاسه تیریږي ، او کومی وریځی یی چی په سر راځي ورڅخه بحث کوي او په اړه یی ډیره یوه په زړه پوری تشبیه ورکوي چی دهغه وخت عربو د جغرافیایی موقعیت او چاپیریال سره هیڅ ډول سرنه لږ وي ، او نه د نن ورځی د بحرلاندی طبقاتو ته د سفر کوونکو له هنر سره ، حقیقت خو دا دی چی پیغمبر ﷺ په یوه صحرایی سیمه کی پیدا شوی دی ، او لوی شوی دی یوازی د ځوانی پر مهال دوه ځلی شام ته تللی وو ، چی نوموړی سفر یی هم دښتی او صحرا له لاری تر سره کړی وو ، نو پیغمبر ﷺ نه هغه منظری لیدلی وې چی قران کریم ورڅخه بحث کوي او نه یی د بحر له لاری تر سره کړی وو بیا هم پدی اړه د الانعام په سورت کی د یو کافر انسان تشبیه دهغه چاسره ورکړ شوی ده کله چی د غره څوکی ته خیژی نو ژر ژر ساه اخلي ، ستړی کیږي ، او دزړه در زاریی تیزیږی او په پایله کی دهغه فشار له امله چی په زړه یی فشار راځی یو ډول نفس تنګی ورته پیداکیږی ، نن ورځ پر مخ تللی علم دا ثابته کړی ده که چیرته انسان د غره څوکی ته پرته له وسایلو څخه وخیژی ، دا چی په هغه ځای کی اکسیجن کم وي، نفس یی تنګیږي ، او په زړه یی فشار راځي ، دا مثال هغه وخت ښه واضح کیږي چی انسان د بالون په ذریعه هوا ته والوزي ، او یاد یو غره لوړی څوکی ته وخیژي، اوس راځو دی ته چی د رسول الله ﷺ په زمانه کی د بالون په ذریعه هوا ته الوتل چا په خوب کی هم نوولیدلی ، او نه د چا په خیال او خاطر کی ګرځیده ، او له بله پلوه، د عربستان په ځمکه کی ډیر لوړ لوړ غرونه هم نشته ، نو دا ټول مطالب

د دی ګواهي ورکوي چې دغه ډول تشبیهات او د کایناتو د اسرارو په اړه معلومات ورکول یوازی د الله ﷻ له طرفه وو.

٥- یو لیکوال هغه وخت اثر لیکی کله یی چی ذهنی تمرکز پر ځای وي ، او تر څنګه یی د هغه پیښو په اړه پلټنه هم کوي چی د ده د غم او یا خوشحالۍ لامل ګرځیدلي وي ، یعنی په لنډه توګه د منلو وړ نده ، چی یو لیکوال د لیکنی پر مهال د ژوند ټولې خوږی او ترخی خاطری چی د ده د ژوند سره تړاو لري یو څنګ ته لری پریږدی او لیکنه وکړي بلکه ضرور به د نثر په لیکلو کی د ژوند له خاطرو څخه یادونه کوي .

رسول الله ﷺ د ستونزو ډک ژوند کې چې یو د ځانګړی ټولی برابرولو او ترتیبولو سره سره بهرني دښمنانو مبارزی سره بخت وه لدې سره مونږ په قرانکریم کې کوم آیت د هغه ستونزو په اړوند چې هغه ګاللی دي او یا د هغه د میرمنې او اولاد او اهل وعیال د وفات او مشکلاتو بحث باندی مشتمل وی نه وینو، نو معلومیږی چې قرانکریم د ده جوړ کړی کتاب ندی بلکی دی یواځی واسطه او قران کریم یی په همغه ځیر چې پری نازل شوی خلکو ته رسولی دې.

٦- رسول اکرم ﷺ د افک واقعې (هغه تهمت چې د کفارو له لوری دده په پاکه بی بی باندې پوری شوی وه) په اړوند چې هغه ﷺ یې ډیر پریشانه کړی وه یوه میاشت منتظر پاتی شو - د محال په فرض کولو سره – که د قرآن کریم د ځان څخه جوړ کړی وی نو آیا دی یو ورکوټی داغ چې په ناموس یې پوری شوی وه یو میاشت منتظر کیده؟

یعنی داسې بیانونه او موضوعات شتون لرل چې انسان نشی کولای په خپل جوړ کتاب کې هغه درج کړی، نو دا پدی معنا ده چې قرآن کریم په هیڅ ډول درسول ﷺ جوړ شوی کتاب ندی بلکې یوازی او یوازی د الله کتاب دی چې دی یې په تبلیغ رسولو دنده درلودله او د خپله دنده پوره پوره اداء کړی ده.

۵

## ایمان په پیغمبرانو علیهم السلام باندې

**الحمدلله الذي بعث فی کل أمة رسولا أن اعبدوا الله و اجتنبوا الطاغوت و جعل الایمان بالرسل من أعظم أرکان الایمان والصلاة والسلام علی سیدنا محمد الحبیب، امام المرسلین، خاتم الأنبیآء والمرسلین وعلی آله وصحبه وکل من اهتدی بهدیه وسار علی نهجه الی یوم الدین.**

قال الله تبارک وتعالی في محکم التنزیل وهو أصدق القائلین أعوذ بالله من الشیطان الرجیم، بسم الله الرحمن الرحیم: (**الذین یبلغون رسالات الله ویخشونه ولا یخشون أحدا الا الله وکفی بالله حسیبا**). [۱]

ژباړه: (دادالله ﷻ کړنلاره دهغو خلکو لپاره ده) چې د الله پیغامونه رسوي او له هماغه څخه ویریږي، او له یوه خدایه پرته له بل هیچا څخه نه ویریږي، او دمحاسبې لپاره همدا الله کافي دی). وایضا قال: (**ومآ ارسلنا من قبلک من رسول الا نوحي الیه أنه لا اله الا أنا فاعبدون**).[۲]

مسلمانانو ورونو:

۱ - د الأحزاب سورت، ۳۹ آیت.

۲ - د الأنبیآء سورت، ۲۵ آیت.

زمونږ د نن ورځې خطبه په پیغمبرانو علیهم السلام باندی دایمان را وړلو په هکله ده، عقیده او ایمان لرل د پیغمبرانو علیهم السلام په رسالت باندی د الله ﷻ له طرفه لپاره د لارښوونی دبشر فرض ده،او یو له ارکانو د ایمان څخه ده، لپاره د ډیر تو ضیح او وضاحت مونږ وایو، په مونږ لازم دي چی مطابق داحکامو د الله ﷻ مونږ خپله زندکی عیار کړو، نو په همدی مقصد سره مونږ ضرورت لرو، چی د الله ﷻ احکام و پیژنو، چی دی کوم شی کول بر مونږ لازم دي او دی کوم شي څخه باید مونږ اجتناب وکړو؟ او دا خبره مونږ ته واضح او معلومه ده، چی الله ﷻ مستقیما د هر چا سره تماس نه نسی ځکه د الله ﷻ ذات ددی څخه ډیر عالي او اوچت دی، او همدارنگه دانسان عقل هم ډیر قاصر دی، او دمعلوماتو دایره یې هم محدوده ده، او نه پوهیږي چی کوم شیان د الله د رضاء د حاصلولو سبب دی او کوم شیان سبب دقهر او خپگان د الله ﷻ دي؟

لکه څرنگه چی دکایناتو خالق زمونږ د اړتیا د پوره کوله لپاره لمر پیدا کړیدي تر څو چی له حرارت او روښنایی څخه گټه پورته کړو، همدارنگه زمونږ لپاره د رزق د لاس ته راوړلو وسایل یی هم پیدا کړیدي، او زمونږ د اړتیا پر اساس یی خپل ځنې بندگان مکلف گر ځولي دي، تر څو دهغه پیغام او غوښتنی ټولو بندگانو ته ورسوي، پدی باندی مکلفو کسانو ته پیغمبران علیهم السلام ویل کیږي نو پردی اساس (پیغمبری او نبوت) په حقیقت کې د بشر اړتیا ده، چی د الله ﷻ د رحمت او ربوبیت له مخې یی مونږ ته پیغمبران علیهم السلام رالیږلی دي، دا چی الله ﷻ د انسانانو ټولی اړتیا وی په نظر کی نیولی دي، څنگه کیدای شي چی دبشر دلارښو ونی لپاره دی کومه کړنلاره ونه ټاکي نو هغه کسان چی فکر کوي چی

دین یوازې یو مسوولیت دی چې د انسانانو په غاړه کې اچول شویدی او پرې تحمیل شویدی او ددې کار سر چینه دوی پداسې انګیره ولو سره تیر وتنه کوي، ځکه کوم دین چې د پیغمبرانو علیهم السلام په واسطه موږته را رسیدلی د الله ﷻ ستر نعمت دی. ځکه دنوموړي دین له لارې بنده ګان د الله ﷻ خوښې په لاس را وړي او ابدی سعادت او جنت ته رسیږي.

**د پیغمبر تعریف:**

**پیغمبر په لغت کې**: پیغام رسوونکي او لا ربنوونکی ته چې په عربی کې ورته رسول وایی ویل کیږي.

**او په اصطلاح کې:** پیغمبر هغه چاته ویل کیږي چې الله ﷻ له خپلو بندګانو څخه په وحی کولو سره غوره کړی وي، او خپل او امر او نواهي د پیغمبرانو علیهم السلام له لارې خپلو بندګانو ته لیږي.

**د رسول او نبي تر منځ توپیر څه دی؟**

د رسول جمع (رسل) ده، او رسول هغه چاته ویل کیږي چې د الله ﷻ له لوري يي نوی شریعت (قانون) را وړی وي، او یا دی نورو رسولانو څخه ورته په میراث پاتی شوی وي) همدارنګه یوه بله کلمه چې په قرانکریم کې دپیغمبر لپاره کارول شوی ده، د (نبي) کلمه ده، چې نبی هم لکه د رسول په څیر خلک د الله ﷻ او امرو او نواهیو څخه خبروي، ولی لکه د رسول په څیر نوی قانون (شریعت) له ځان سره نلري. دمخکینی پیغمبر د شرعیت پر اساس خلکو ته تبلیغ کوي، او له دین څخه یی خبر وي، یعنی د پخوانی پیغمبر شریعت بیرته تازه کوي دنبی کلمه مفرد ده او جمع یی (انبیاء) راځي.

**په ټولو پیغمبرانو علیهم السلام ایمان درلودل فرض دي:**

قرآن کریم خلکو ته بلنه ورکوي چې په ټولو پیغمبرانو علیهم السلام ایمان ولري لکه چې فرمايي: (**قُولُواْ آمَنَّا بِاللّهِ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْنَا وَمَا أُنزِلَ إِلَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالأسْبَاطِ وَمَا أُوتِيَ مُوسَى وَعِيسَى وَمَا أُوتِيَ النَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمْ لاَ نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ**).[1]

ژباړه: (اې مؤمنانو) ووایاست : موږ ایمان راوړی په الله ﷻ او په هغه څه چې نازل کړی شوی دی مونږ ته او په هغو (لسو صحیفو) چې نازل کړی شوی دي په ابراهیم او اسماعیل او اسحاق او یعقوب علیهم السلام او اولادی (د دوی ته) او په هغو (کتابونو او معجزاتو) چې ور کړی شوی موسی علیه السلام ته او (ورکړی شویدی عیسی علیه السلام ته او پر هغو کتابونو چې ورکړی شویدی (نورو) انبیاؤو ته له ربه ددوی څخه حال داچې نه کوو فرق په منځ دیوه تن له دوی ځنی (په نبوت او نه نبوت سره) او مونږ الله ته غاړه ایښودونکي یو) قرآنکریم په صراحت سره دهغو کسانو حال اعلانوي چې ځنی پیغمبران منی او ځنی نور نه مني وایی چې د دوی ایمان د الله ﷻ په وړاندی د منلو وړندی لکه چې فرمایی: (**إِنَّ الَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِاللّهِ وَرُسُلِهِ وَيُرِيدُونَ أَن يُفَرِّقُواْ بَيْنَ اللّهِ وَرُسُلِهِ وَيقُولُونَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَنَكْفُرُ بِبَعْضٍ وَيُرِيدُونَ أَن يَتَّخِذُواْ بَيْنَ ذَلِكَ سَبِيلاً أُوْلَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ حَقًّا وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا**).[2]

---

١ - د البقري سورت، ١٣٦ آیت.

٢ - د النسآء سورت، ١٥٠-١٥١ آیتونه.

ژباړه: (يقينا کوم خلک چې پر الله ﷻ او دهغه پر پيغمبرانو کافران کيږي، او غواړي چې دخدای او دهغه د پيغمبرانو په منځ کښې تو پير وکړي، او دکفر او ايمان په منځ کښې ديوې لاري ايستلوارا ده لري، هغوی ټول پاخه کافران دي، او د داسې کافرانو لپاره موږ هغه عذاب تيار کړيدی چې دهغوی رسواکونکی او سپکوونکی به وي).

**اسلام د ټولو ملتونو سره د دوستی دين دی:**

له پورتنی ايت کريمه څخه درس اخلو چې د اسلام مقدس دين پدی صريح آيت سره غواړي د ټولو ملتونو ترمنځ د دوستی اړيکی ټينکي او ستنې يې محکمی ودروي، او دښمنی او اختلافات له منځه يوسي، ځکه کله چې ټول خلک يعني ټول ملتونه په ټولو پيغمبرانو عليهم السلام ايمان ولري، نو تر منځه يې تفاهم او دوستی زياتيږي، او اختلافات له منځه ځي او يايي کچه تر ډيره بريده را ټيټيږی او اسانيږی، نو دا داسلام د دين يوه ځانګړتياده چې دنورو اديانو سره دوستی ته لاره هواره وي، د اځکه چې اسلام په ټولو پيغمبرانو عليهم السلام ايمان راوړل فرض ګرځولي دی او له مسلمانانو غواړی چې ټولو پيغمبرانو عليهم السلام ته احترام ولري او ايمان پری راوړي نو کله چې دنورو اديانو تابع خلک وګوري چې اسلام دهغوی دين او پيغمبرانو ته احترام لري اسلام ته يې زړه ورنژدی کيږي، او له نورو اديانو څخه چې خلک يې نور اديان ګنی او دښمنی ورسره کوي لری کيږي .

**د پیغمبر ﷺ د بعثت تو پیر له نورو پیغمبرانو سره او د امت تو پیریی له نورو امتونو سره:**

دنورو پیغمبرانو بعثت له یوه اړخه وه، یعنی یوازی پیغمبر به د خپل امت په لور لیږل کیده ولی دپیغمبر ﷺ بعثت دوه اړخه لری هغه داسی چی دپیغمبر ﷺ بعثت د امت د بعثت سره یوځای تر سره شو، او امت یی د نورو امتونو لپاره لیږل شویدی نوپدی سره دوه بعثت تر سره **شویدي چی په لاندې ډول دي:**

۱- د پیغمبر بعثت دامت په لور

۲- د امت بعثت د نورو امتونو په لور

الله ﷻ دی ټکی ته په اشاری سره فرمایی: (**كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللّهِ**). [1]

ژباړه: (اوس په نړی کښی هغه غوره ډله تاسی یاست چی د انسانانو دلارښودنی او اصلاح لپاره منځ ته راوړل شویده، تاسی دنیکی امر کوئ او له بدیومنع کوی، او پر الله ایمان لرئ)، دا هغه امت دی چی له وړاندی ورته برنامه ورکړل شویده، او هدف ورته ټاکل شویدی هیڅکله ددی امت منځ ته راتلل تصادفی نه وو، او را وتل او پر مخ بلل یی هیڅکله یوه تاریخی پیښه نه وه، بلکه د الله ﷻ له طرفه له وړاندی ورته پرگرام ورکړل شوی وو، او دیوی ټاکل شوی موخی لپاره رالیږل شوی امت دی، او داهرڅه دالهی تقدیر پر اساس تر سره شویدی الله ﷻ فرمایی :

(**یا ایهاالذین امنوا کونوا قو امین بالقسط**) .[2]

---

۱ - د آل عمران سورت، ۱۱۰ آیت.

۲ - د النسآء سورت ، ۱۳۵ آیت.

ژباړه:( ای هغو کسانو چی ایمان یی راوړی دی (ای مؤمنانو)، اوسئ تاسی تل محکم ولاړ، په انصاف سره شاهدان (دحق) د پاره د الله ﷻ)،بنا پر د غه خبره باندی چی الله ﷻ دوی ته امر کړیدی چی تاسی قوامین په عدالت سره او سیږی مقصد او مطلب یی دادی، چی تاسی عدالت خپله کړنلاره وگرزوی، او ددغه څخه صریح او واضح تر خبره په صحی حدیث شریف کی د پیغمبر ﷺ څخه نقل شویده چی فرمایی په خطاب کی هغو کسانو ته چی کله پیغمبر ﷺ دوی یمن ته لیږل (**بعثتم میسرین ولم تبعثوا معسرین**).[1]

ژباړه: (تاسی اسانی کوونکی رالیږل شوی یاست نه سختي کوونکی، یعنی تاسې باید دین خلکو ته اسان کړئ نه داچی سخت یی وگرځوی او خلک ورڅخه زړه تورن کړئ).

نو پردی اساس ویلی شو چی د پیغمبر ﷺ را لیږل د امت په لورې دوه اړخیزه رالیږل دي چی عبارت دي له: ۱- دپیغمبر لیږل ۲- دامت لیږل، لدی امله صحابه کرامو داحقیقت درک کړی وو او دا خبره یی دژبی په سروه چی موږ الله ﷻ را لیږلی یو، نو ځکه جلیل القدر صحابي ربعي بن عامر چی کله د فارسیانو لښکرو ستر قومندان رستم سره مخامخ شو، نو ورته یی وویل: (**الله ابتعثنا**) الله ﷻ موږ رالیږلی یو، او داسی یی ونه ویل چی موږ رالیږل شوی یو، یامو پاڅون کړی دی بلکه ویی ویل: (**الله ابتعثنا لنخرج من شآء من عبادة العباد الى عبادة الله وحده**) .[2]

---

۱ - صحیح البخاري، حدیث : ۱٦۲۸

۲ - البدایة والنهایة، ج ۹، ص ٦۲۳، المکتبة الشاملة.

یعنی: الله ﷻ موږ ددی لپاره رالیږلي یو چی خلک بندگی ته را وباسو یعنی د بندگانو د غلامۍ څخه یی وژغورو او د الله د بندگۍ په لوریی دعوت کړو نو دا چی مسلمانان یو رالیږل شوی امت دی. تر څو بشریت ته لارښوونه وکړي، او د لیږلو څخه موخه یی د نړی درهبري ده، ترڅو نړی دخیر او ښیگڼي طرف ته سوق او رهبری کړي، نو مسلمانانو لره دمسوولیت څخه د اوړو سپکول، د الله ﷻ له خوا څخه دروند مسوولیت چی ورته سپارل شویدی بی ارزښته کیږي، چی دا په حقیقت کی یوه لویه فاجعه او نړیواله ستراتیژي ده چی مسلمانان د خپل مسوولیت څخه اوږی سپکی کړي او شاته یی پریږدی همدادلیل دی چی نن ورځ نړی په گمراهی، سیاسي او عقیدوي دښمنیوکی لاس او پښی وهي او لاره تری ورکه ده، لکه څرنگه چی الله ﷻ فرمایی: (**ظلمات بعضها فوق بعض**) **اذا أخرج يده لم يكد يراها ومن لم يجعل الله له نورا فماله من نور**).[1]

ژباړه:( تیاری دي ځینی د پاسه دځینو نورو، کله چی راو باسي (دغه بریوتی پدغو تیاروکی) لاس خپل نه وی نژدی (دی) چی و وینی لاس خپل او هر هغه چی نه وی ور کړی الله ﷻ ده ته نور پس نشته ده ته هیڅ نور) یعنی ددی کسانو عمل چی کوی یي دهغو تیارو په پرتله دی لکه د بحرپه لاندی طبقاتو کی چی دي هغه تیاری چی یو دبل دپاسه دچپو لاندی شتون لري، داسی تیاره که چیرته په هغه تیارو کی لویدلی سړی خپل لاس راوباسي نوژر دی چی وبه یی نه گوري، یعنی ورته به ښکاره نه شي، نو دداسی تیارو دروښنایی لپاره هیڅ نور نشته پرته د وحی له نور څخه، چی د الهی لارښوونه څخه سر چینه اخلي الله ﷻ مسلمانان

---

١ - د النور سورت، ٤٠ آیت.

دغه سرچینو ته په لاره پیدا کولو مشرف ګرځولی دي، ولی کله چی مسلمانان دغه مسوولیت له خپلواوړو څخه ښکته کړ، او په اړه یی غفلت وکړ، او پخپلو کی سره واوښتل او پداسی نورو کارونو یی ځان مشغول کړ، نو الله ﷻ ور څخه دغه قیادت او رهبری واخیستله، ځکه چی الله ﷻ په ځمکه کی واک یوازی او یوازی خپلو نیکانو بندګانو ته ورکوي، نو داچی نیکانو بندګانو خپل مسوولیت ونه پیژنده، لدغه ځایه د بشریت بدبختی پیل شوه.[1]

## پیغمبر پرښته نه بلکه بشر دی:

ځنی خلک پدی عقیده وو چی پیغمبر باید پرښته وي، او له سره څخه ترپښو پوری بایدیو نورانی مخلوق وای دوی باید پدی پوهه شي، چی پیغمبرانو ته له دومره تقدس ورکولو څخه اړینه داده چی پیغمبران باید داسی خلک او وسي چی، تمایلا تو، احساساتو او انسانی عواطفو څخه باخبره وي یعنی دا حقیقت دی چی پرښتی د الله ﷻ معصوم او یو مقدس مخلوق دی، ولی دغه مخلوق د انسانانو دخواهشاتو او احساساتو او طبیعتونو څخه نا خبره دی، او نشي کولی د انسانانو دغه خصلتونه درک کړي پرښتی نشی کولی لوږه، تنده، غصه، کینه، جنسی غریزه او دانسان داسی نور غرایز درک کړي نو خبره واضحه شوه، چی په چا کی دا صل څخه دشهوت ماده شتون ونلري، څنګه کولای شي هغه درک کړي، او په حقیقت یي ځان پوه کړي؟ دابه داسی وي لکه چاچی دیوی میوی خوند نه وي

---

١ - د (ندوي، ابوالحسن، کندوکاوی بر اوضاع مسلمین جهان ص ٦٦.) کتاب څخه.

لیدلی، څنګه کولای شي دنورو په وینا دهغی میوی خوند او مزه وپیژني، همدارنګه که چیرته یو ړوند سړی ته دوه ساعته دیو ښایسته رنګ لرونکی ګل په اړه خبری وشي نو هغه به په هیڅ پوهه نشي، ځکه هغه یی په سترګو نه ګوري،

**که چیرته پیغمبر له انسانانو څخه نه وای نو نبوت به تحقق نه وو موندلی:**

که چیرته پیغمبر له انسانانو څخه فرض نه کړو، او پرځای یی پرښته او یا په خپله الله ﷻ فرض کړو، نو بیا له نبوت څخه موخه څه ده او دنبوت حقیقت فوت کیږي، ځکه باید دپیغمبر زندګی دنورو لپاره یوه الګو او نمونه وي څو دوی وتوانیږي د ده پیروی او اتباع وکړي دیو انسان څخه ممکنه ده چی و غوښتل شي چی دیو انسان اطاعت او پیروي وکړي، مګر دا خبره ممکنه نده چی دیوه انسان څخه وغوښتل شي چی دیوی پرښتی پیروي وکړي، ځکه انسان نشی کولی پرښته دځان لپاره په ژوندکی نمونه وګرځوي او ورڅخه اطاعت وکړي پدی ځای کې دعیسی علیه السلام په اړه یوه بیلګه وړاندی کوو دمسلمانانو په اند عیسی علیه السلام د الله بنده او پیغمبر دی، نو دهغوی لپاره دعیسی علیه السلام ژوند ښه نمونه ده لکه صبر، زهد او توکل، علم او حکمت محبت او هغه ستونزی چی په خپل ژوندکی یي ګاللي دي، او صبر یې پری کړی دی، او هغه معجزی چی الله ﷻ دهغه په لاس ظاهری کړی دی، دهغه پیغمبر په ریښتینولی دلالت کوي اوکه چیرته دمسیحیانو له نظره عیسی علیه السلام خدای او یا دخدای جل جلاله زوی فرض کړو، نو دهغه د ژوند په اړه راته ستونزه پیداکیږي ځکه هغه دولا دت په پایله کی له بی بی مریم علیها السلام څخه پیدا شویدی، دیهودانو له خوا ربړول شوی او تعذیب شویدی، او همدارنګه اهانت یی شوی دی او آن د عیسایانو په اند چی

هغه په دار ځړول شوی دی، داټولې خبری تناقض لري، دهغه ادعاء سره چې مسیحیان یې دهغه په اړه لري چې خدای او یا دخدای زوی یې بولي (**تعالى الله عمايقول الظالمون علوا کبیرا**) نو پداسې افکارو لرلو سره پیغمبری تحقیق نه مومي، نو معلومه شوه چې پرته له انسان څخه بل مخلوق که پیغمبر شي نو، پیغمبری تحقیق نه مومي (دغه مطالب په کتاب کې کتلی شی چې دهغه نوم دی دین او شریعت)

**پیغمبرانو علیهم السلام ته اړتیا:**

**الف**: الله ﷻ انسان پیداکړیدي، او ټول کاینات یې ورته مسخر گرځولي دي، نو لری به وي چې ددی ټولو سره سره انسان پرته له لارښوونی څخه پریږ دي، او سرگردان یې بی له کوم برخه لیک څخه پریږ دي. دالله ﷻ کامل حکمت غوښتنه دا تقاضا کوي چې انسان د آخرت لوری ته سم کړي، اولار ورته وښایي، لکه څرنگه چې یې ورته دژوند طریقه ښودلی ده، روحی او مادي غذا ورته تیاره کړیده، او له اسمان څخه یې ورته رالیږلی ده، ترڅو پری د انسانانو زړونه او عقلونه ژوندي وساتي همدارنگه له اسمان څخه باران را وروي او مړه ځمکه پری بیرته ژوندی او ښایسته گرځوی نو له حکمت څخه به لری وي چې ددومره ځانگړتیا وو سره سره چې الله ﷻ انسان ته ورکړي دي همداسې یې پریږدی پرته لدی چې کومه لارښوونه ورته وکړي، او انسانی ټولنه خپلو خوا هشاتو ته پریږدي، نو حکمت داوه چې الله ﷻ دانسانانو دلارښوونی لپاره پیغمبران علیهم السلام په قوی دلایلو او معجزو سره راولیږل، ترڅو انسانان د الله ﷻ لوري ته سم کړي، او ددی لپاره چې

په انسانی ټولنو کی دعدالت اوانصاف تلی پرېښو ودریږی او عدالت او انصاف دمخلوقاتو تر منځه پلی شي.

**ب:** انسان یو ټولنیز (اجتماعي) مخلوق دی او په ټولنه کی ژوند کوي، له بله پلوه ثرگنده ده چی دیوی ټولنی افراد یو له بل سره بیلا بیلی اړیکی لري، نو ددی اړیکو دتنظیم لپاره او ټولنه کی دښه ژوند تیرولو لپاره دحق او عدالت پلي کولو ته اړتیا ده، او دپلی کولو لپاره یی مخلصو او زړه سوا ندو انسانانو ته .

**ج:** د وړتیا له اړخه انسان له ټولو مخلوقاتو څخه په لوړه مرتبه کی ځای لري، ولی سره ددی برتری او وړتیا وو دځنی خصلتونو لرونکی دی لکه، بغض، حسد، او داسی نورو بدو صفتونو په لرلو سره انسان کمال ته له رسیدو څخه پاتی کیږي، او له غوره مخلوق څخه بدترین مخلوق تری جوړیږي، او اسفل السافلین ته رسیږي معلومه خبره ده چی دیو شی مخترع (جوړ وونکی) دخپل صنعت په اړه له نورو ښه معلومات لري نو الله ﷻ چی دانسان پیداکوونکی دی نو د انسان په حال تر هرچاښه خبر دی نو دخپل رحمت له مخی یی بندګانو ته پیغمبران رالیږلی دي. ترڅو په دوی کی شته ارزښتو نه وروزي او له پیدایښت څخه دهدف لوری ته یی برابر کړی اولا رښوونی ورته وکړي، که چیرته پیغمبران نه وای رالیږل شوی نو انسان چی دکایناتو دونی رسیدلی میوه ده، په یو بی هدفه اوبی موخی مخلوق به بدل شوی وو او شتون به یی هیڅ ګټه نه درلوده. لکه ثرنګه چی پوهیږئ الله ﷻ هیڅ مخلوق بی مقصده او بی هدفه اوبی لدی چی کومه دنده ورته وسپاري ندی پیدا کړی او هیڅ یو نفس یی پرته له لارښوونی ندی پریښی، میږیان یي بی بادشاه، مچی یی پرته له ملکی، کبان او الوتونکی یي پرته له

لارښوونی ندی پریښی، نوځنگه امکان لري چې انسان چې دکایناتو غوره مخلوق دی پرته له لارښوونی پریږدي.

**د پیغمبرانو علیهم السلام له رالیږلو څخه موخه او هدف:**

سره لدی چې دپیغمبرانو ترمنځه فضیلت درجی توپیر لری، ولی ټول د الله ﷻ لخوا غوره شوی بندگان دي چې د اساسی موخو دتحقق لپاره یی رالیږلی دي، چې کولی شو د دوی دندی په لاندی توگه واضح کړو:

**۱- دبندگۍ کولو دځرنگوالي لارښوونه:**

دپیغمبرانو د رالیږلو څخه موخه دانسان له پیدایښت څخه دموخی سره په یوه نقطه کی یوځای کیږي چې هغه د الله ﷻ دبندگی (عبودیت) نقطه ده، یعني داچې ټول یوازی دیو الله ﷻ بندگی کوي، قرآن کریم همدی نقطی ته په اشارې سره فرمایی:(**وماخلقت الجن والانس الا ليعبدون**). [1]

ژباړه:( اوندی پیداکړي ماپیریان او انسانان مگر لپاره ددی چې دوی زما عبادت وکړي) ، نو زموږ له پیدایښت څخه اساسي موخه د الله ﷻ پیژندل او دهغه ذات بنده جوړیدل دي، نه دمال او دولت لاس ته راوړل، دکورونو او قصرونو جوړول خوراک اوڅښاک، سره لدی چې داټول دژوند اړتیاوی دي، ولی انسان ددی لپاره ندی پیدا شوی او دا هرڅه یی دژوند کولو موخه نده، نو پیغمبران علیهم السلام ددی لپاره رالیږل شوی دي، ترڅو دغه د اسراروڅخه ډک هدف موږته راوښایی

۱ - د الذاریات سورت، ٥٦ آیت.

لکه قرآن کریم چې دی خبری ته اشاره کوي او فرمایی: (**وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ**). [1]

ژباړه: (ستا څخه وړاندی هیڅ یو پیغمبر ندی رالیږل شوی مگر دا چې موږ ورته وحی ددی کړی ده چې نشته دی لایق دعبادت مگر زه یم، نوزما عبادت وکړی).

**۲- تبلیغ:**

دپیغمبرانو علیهم السلام له بعثت څخه بله موخه دین ته بلنه او تبلیغ دی، او که چیرته هغوی نه وای رالیږل شوی نو موږ به دعبادت اړوند مسایلو باندی نه پوهیدو او د الله ﷻ حکمونه او نواهي به موږ ته نه وو رارسیدلی، او هیڅکله به موږ خپل مسؤولیت نه وو پیژندلای او مسؤولیت به مونه پرځای کاوه، یعنی داچې دلمانځه، روژی، زکات، او حج حکمونه به مونه پیژندل او نه به یی په معنا پو هیدلو، همدارنگه دبدو اعمالو په وړاندی به موکوم ځانگړی دریځ نه درلوده، لکه شراب څښسل، قمار وهل، احتکار، او داسی نور، بلکه دا او ددی په پرتله نور مسایل موږ د انبیاؤ وعلیهم السلام په واسطه زده کړی دي، او په لنډه توگه د دوی دغی دندی ته درسالت دنده وایو، ځکه چې ټول پیغمبران علیهم السلام په همدغی پیغام رسولو سره استول شویدی، پداسی حال کی چې په فروعاتو کی پیغمبران سره جداوو، ولی په اصولو کی ټول سره یو وو، او دیوی موخی لپاره ټول د الله ﷻ له لوری را استول شویدی. [2]

---

۱ - د الأنبیآء سورت، ۲۵ آیت.

۲ - الانبیآء اخوة لعلات، أمهاتهم شتی ودینهم واحد. مسند الامام احمد، حدیث: ۹٦۳۲.

قرآن کریم دپیغمبرانو علیهم السلام دندی پدغه توګه بیانوي: **(الَّذِينَ يُبَلِّغُونَ رِسَالَاتِ اللَّهِ وَيَخْشَوْنَهُ وَلَا يَخْشَوْنَ أَحَدًا إِلَّا اللَّهَ وَكَفَى بِاللَّهِ حَسِيبًا)**. [1]

ژباړه : هغه کسان ( پیغمبران علیهم السلام ) چی رسوی خلکوته پیغامونه دالله ﷻ او ویر ېری له الله ﷻ څخه او له هغه څخه پرته له بل هیچا څخه نه ویرېږی او الله ﷻ بس دی ددی لپاره چی دبندګانو سره حساب او کتاب ته رسیدنه وکړی، هو پیغمبران علیهم السلام دین ته دبلنی او تبلیغ لپاره رالیږل شوی وو، او ددی دندی وړاندی چی دهغوی مخی ته هر ډول خنډونه پیدا کیدل ، نو پر دوی یی کومه اغیزه نه کوله ،بلکه خپله دینی دنده یی تر سره کوله ،او هیڅ خوف او ویره یی زړه ته نه راتله ،یوازی له الله ﷻ له څخه ویریدل او پدی اړه قران کریم دپیغمبر ﷺ ، په اړه داسی فرمایی :( **يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللَّهَ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ**). [2]

ژباړه: ای پیغمبره ﷺ ورسوه (تبلیغ کړه) خلکو ته هر هغه څه چی نازل کړی شوی دي تاته ستاد رب له لوري، او که چیرته تا داکار ونه کړ نو تا به د الله ﷻ د پیغام رسولو دنده نه وي تر سره کړي، او الله ﷻ به ستا ساتنه کوي له خلکو څخه، پرته له شکه چی الله ﷻ لارښوونه (هدایت) نه کوي کافرانوته.

یعنی که ددندی په تر سره کولو کی دی ناغیرې وکړه نو دا ناغیرې به ستا په هغه دنده کې وي چی دهغی لپاره ته را استول شوی یی، او د هغه دنده ده چی ستاد ځانګړي (شخصی) ژوند پوری اړه نه لري، بلکه دټولو انسانانو دفردی او ټولنیز

1 - د الأحزاب سورت، ۳۹ آیت.

2 - د المائده سورت، ٦٧ آیت.

ژوند پوری اړه لري، ځکه ستا دنده دا ده ترڅو خلکوته تګ لاره روښانه کړي، نوکه چیرته دی په دنده کی ناغیړی وکړه نو ټول خلک به په تیارو کی پاتی شي.

**درسول الله ﷺ دعوت (تبلیغ):**

وروسته لدی چې پیغمبر ﷺ ته د الله ﷻ د دین د رسولو دنده ورپه غاړه شوه، نو خپل ټول ژوندیی پدی لاره کی مصرف کړ، او دروازه په دروازه به ګرځیده او د داسی زړونو پلټنه به یی کوله چی دده دعوت دمنلو امید به تری کیده، دپیغمبر ﷺ ددښمنانو لومړی دریځ دهغه په وړاندی لدی څخه پیل شو چی لمړی یی پری بندیزونه ولګول، بیایی پری مسخری پیل کړي، اوبل پړاویی داوه چی ډول ډول شکنجی اوربړول یی پیل کړل، آن تردی چی د پیغمبر ﷺ په لاره کی به یی اغزی اچول، دلمانځه پرمهال په چی کله سجدی ته لاړه نولری (پریوان) به یی پری واچوه او دپیغمبر په وړاندی بهذ یي د هر ډول ربړولو او تعذیب څخه کار واخیسته، او په هر ډول سپکاوي یی لاس پوری کړ. ددی ټولو سره سره پیغمبر ﷺ بي هڅه، او نا امیده پاتی نه شو، ځکه دنیا ته له راتلو څخه موخه یی د الله ﷻ دین ته دعوت وه، نو په وار وار خپلو ضدی دښمنانو لکه ابوجهل او ابولهب ته ورغی او د الله ﷻ دین ته یی را وبلل. الله ﷻ پدی ګواه دی چی پیغمبر ﷺ څو څو واری. آن تردی چی په بازارونو، او دخلکو په کورونو به ګرځیده ترڅو داسی څوک پیداکړي، چی د الله ﷻ لاری ته یی را وبولي او دده بلنه ومنی، ولی ټولی دروازی یی په مخ تړلی وی، ولی سره لدی به د الله ﷻ استازي دخیل مخ په وړاندی هره بنده دروازه ټکوله او هری کورنی ته به یی جدا جدا بلنه ورکوله دا چی دښمنان ځواکمن او د قدرت خاوندان وو، ددعوت له پلویانو څخه هیچا نشو

کولای د الله ﷻ پیغمبر ته خپله غیره کی ځای ورکړي، لدی امله پیغمبر ﷺ اړشو چی مدینی منوری ته د الله ﷻ په امر هجرت وکړي، ولی هلته هم دیهودو او منافقینو... سره په جنجال واوښت، او د کفر په ضدیی دجنگونو پلانول پیل کړل، آن تردی چی پخپله یی د اسلامی لښکرو سر مشری کوله، غاښونه مبارک یی په شهادت ورسیدل، مخ مبارک یی زخمی او په سرووینو ولړل شو، لوږی او تندی یی د الله ﷻ په لارکی وګاللي تردی چی دلوږی پر مهال به یی تیږي دګیډی پوری تړلی، ولی ددی ټولو تکلیفونو او مشقتونو سره سره یی بیا هم خپلی مبارزی ته ادامه ورکړه، هو دتبلیغ له دندی څخه یو لحظه هم بی پروا پاتی نشو، آن تردی چی د دین اړوند ډیر واړه مسایل یی په روښانه توګه بیان او تشریح کړل، دین یی خلکو ته په ښه توګه روښانه کړ، او د رسولو په لاره کی یی هیڅ ډول بی پروایی ونه کړه، په مدینه منوره کی دا وسیدلو او دنورو دولتونو سره دجنګ پر مهال یی هم دین ته بلنه کوله، او پدی کار کی الله ﷻ ورته ډیر زغم او لویه حوصله ورکړی وه، تردې چی که دیوی مسئلې په اړه به د ورځی سل ځله تری پوښتنه وشوه په ډیرزغم، حوصله، مینی او محبت سره به یی ځواب ورکاوه،د دین بلنه سمې او نیغی لاری ته له لارښوونې څخه عبارت ده، په حقیقت کی دغه بانه دټولو انبیا وو علیهم السلام درالیږلو یواځنی موخه وه، هغه نیغه لاره چی هر مؤمن یی ډیره ښه پیژنی او باید چی ویې پیژنی، هو موږ مسلمانان په پنځه وخته لمانځه کی څه کم ځلوېښت ځلی له الله ﷻ څخه غواړو چی موږ ته نیغه لاره اوښایی، یعنی په هغه لاره تری تلل غواړو چی انبیاء، صدقین، شهداء، او صالحینو پری تګ کړی دی، او بالآخره، موخی ته رسیدل تری غواړو، دغه لار چی ډیره لویه لار ده او هر سړی

له دغې لارې څخه ځانګړې برخه لري یعنې دا چې هر سړی پرې تللی شي، ځکه هر پیغمبر د قرآن کریم دوینا پر اساس د (**رحمة للعالمین**) په عنوان سره رالیږل شویدي. سر بیره پردی، پیغمبران علیهم السلام، ګواهان زیری ورکوونکی، او له الله ﷻ ویروونکی دي، لکه څرنګه چې قرآن کریم دی ټکی ته په اشاری سره وایی: ( **يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا**). [1]

ژباړه:( ای پیغمبره (ص) بیشکه چې ته موږ لیږلی یې ددی لپاره چې ګواه او وسی په خلکو، او ته زیری ورکوونکی او له الله څخه ویروونکی یی) زمونږ ګران پیغمبر محمد ﷺ یوځانګړی شخصیت دی چې څه کم درویشت کاله د پیغمبری دا دروندمسؤولیت یی په غاړه درلوده، اوټول تکلیفونه یی پداسی موفقیت سره وزغمل او مسؤولیت یی سرته ورساوه چې هیڅ بلونکي به دهغه په څیر ونه کړای شي، ځکه خو به ورځ تر بلی موخی ته درسیدو په لور نږدې کیده.

**۳- پیغمبر یوه ښه نمونه:**

یو بل لامل چې کولای شو د پیغمبر له رالیږلو څخه موخه یی وشمیرو عبارت دی لدی څخه چې پیغمبر دخلکو لپاره یوښه مثال او نمونه وه، لکه چې الله ﷻ په قرآن کریم کی فرمایی: (**أولئک الذین هدی الله فبهداهم اقتده**). [2]

ژباړه: (هغوی هغه خلک وو چې الله ﷻ ورته هدایت کړی وو، نو ته هم دهغوی پسی اقتدا وکړه). د دقت او تامل ځای دی چې د پیغمبرانو علیهم السلام څخه

١ - د الاحزاب سورت، ٤٥ آیت.

٢ سورة الانعام ، آیه: ٩٠

له یادونې وروسته زمونږ ستر پیغمبر محمد ﷺ ته امر شویدی چې دهغوی پسی اقتدأ وکړه. او له بله پلوه قرآن کریم مونږ ته هم خطاب کوي، او فرمایي چې: (**لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا**). [١]

ژباړه:( خامخا په تحقیق شته دی تاسی ته (ای و یریدونکو) په (کار) د رسول الله کی اقتداء غوره او نیکه لپاره دهغه چاچی ویریږی له الله ﷻ څخه او امید لری درضا او دلقاء یی) او (دثواب دنعمتو نو) د ورځی وروستنی، (دقیامت) او یادوي الله ﷻ ډیر هم په خوله هم په زړه هم په راحت هم په زحمت) پیغمبران علیهم السلام زموږ لپاره امامان دي. نو لکه څرنګه چې په جماعت کې دلمانځه پرمهال دامام پسی اقتداء کوو او دهغوی ژوند ته پخپل ژوندکی تمثیلي بڼه ورکوو، ځکه چی حقیقی ژوند مونږته زمونږ ګران پیغمبر او نورو پیغمبرانو علیهم السلام تمثیل کړی دی.

## ١- د دنیا او آخرت ترمنځ دتوازن ساتل:

پیغمبران علیهم السلام ددی لپاره رالیږل شویدی چی ددنیا او آخرت تر منځ توازن برابر وساتی او له افراط او تفریط څخه خلک وژغوري، اووسطی لاری ته یی برابر کړي، خو داسی نه لکه راهبان چی دنیایې په ټوله معنا سره پرېښې وه او صوامعو ته یی مخه کړه، او نه داسی چی ځان د دنیا اسیر (بندی) وګرځوي، بلکه تر ټولو غوره کار او بهتره لار دوسطیت لارده، او دا هغه لاره ده، چی الهی وحی ورته لارښوونه کوي. ولی د انسان له عقل او وجدان څخه پوره نده چی وسطی لارغوره کړی او ددنیا او آخرت تر منځه توازن را منځ ته کړي، بلکه ددی لپاره الهي

---

١ سورة الاحزاب ، آیه: ٢١

لاربښوونی ته اړتیا ده، او یوازې پوهه هم ددې لپاره بسنه نه کوي، ځکه ډیر داسې پوه خلک شته چې دوسطیت لاره یې دژوند تیرولو لپاره نده غوره کړې، قرآن کریم دې توازن ساتلو ته پدې شکل اشاره کوي: (**وَابْتَغِ فِيمَا آتَاكَ اللَّهُ الدَّارَ الْآخِرَةَ وَلَا تَنسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَا وَأَحْسِن كَمَا أَحْسَنَ اللَّهُ إِلَيْكَ وَلَا تَبْغِ الْفَسَادَ فِي الْأَرْضِ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ**). [1]

ژباړه: او وغواړه په هغه (دولت) چې در کړې دی تاته الله ، کور د آخرت او مه هیروه برخه خپله له ماله د دنیا او احسان کوه (له بندګانو دالله سره په ورکړه دمال) لکه چې احسان کړی دی الله له تا سره، چې داسې ډیر دولت یې درکړیدي، او مه غواړه ای قارونه، فساد په تکیر ظلم بغی سره، په ځمکه کې بیشکه چې الله نه خوښوي فساد کوونکی.

له بله بلوه خلکو ته د نعمت د ښرګندونو په اړه وضاحت به دا ایت شریف اشاره کوي، چې فرمایې: (**وأمابنعمة ربک فحدث**). [2]

ژباړه: (او په ژبه دخپل رب دنعمت ښرګندونه (خلکو) ته کوه. ددې تر څنګه دتلې په بله پله کې بل ایت داسې دی چې سر تر پایه ټول ګواښ دي، چې الله ﷻ فرمایې: (**ثم لتسألن یومئذ عن النعیم**). [3]

ژباړه: بیابه هرو مرو په هغه ورځ ستاسې څخه ددې نعمتونو په باب پوښتنې وشي). نو ددې دواړو مقیاسونو تر منځه انسان باید توازن وساتي.

---

۱ - د القصص سورت ، ۷۷ آیت.

۲ د الضحی سورت ، ۱۱ آیت.

۳ - د التکاثر سورت، ۸ آیت.

## ۲- د اعتراض مخنیوی:

دپیغمبرانو علیهم السلام له رالیږلو څخه یوه بله موخه دا ده چی خلک دقیامت په ورځ په الله ﷻ اعتراض (نیوکه) ونکړي، چې ګواکې دوی ته یې خبر نه وو ورکړی، پدی اړه قرآن کریم داسی فرمایی: (**رُّسُلًا مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلاَّ يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى اللهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ وَكَانَ اللهُ عَزِيزًا حَكِيمًا**).[۱]

ژباړه:( داټول پیغمبران زیری ورکوونکی او ویروونکی رالیږل شوی، چی دهغو دپیغمبر کولو څخه وروسته دخلکو د الله ﷻ په مقابله کښی څه سندپاتی نه شي او الله په هر حال غالب او حکیم دی). نو پرته د الله ﷻ له پیغمبرانو څخه هیڅ یورهبر او مشر پدی ندی توانیدلی چی په دوامداره توګه خلکو ته قناعت ورکړي، او خپلی خبری او مفکوری په خلکو ومنی ، نوبیاهم دپیغمبر ځای ته نشی رسیدلی ځکه دپیغمبر خبری او پیغام د الله ﷻ له خوا تایید او حمایه کیږي، او دنورو انسانانو خبری یوازی دبشر له خپلی مفکوری څخه وي او هیڅ کومه الهي حمایه نلري نوځکه خو په کومه کچه (اندازه) چی دپیغمبر خبری دخلکو په زړونوکی کښني، دبل انسان خبری په هغه څیر اغیزه نه کوي، ځکه خو دنورو خلکو په خبرو او مفکورو باندی دخزان باد را والوت او هیڅ اثار یی پاتی نه شول، ولی د پیغمبر خبری او مفکوری چی حقیقت وی، ترنن ورځی پوری په نړی کی ځانګړی ځای لری ځکه چی هغه د الله ﷻ له طرفه را لیږل شوی او د الله ﷻ احکام او دین یی خلکو ته تبلیغ کړیدی. بله داچی هر پیغمبر له ځان سره د الله ﷻ له لوري معجزې راوړی وي، ترڅو پری خلک باور وکړی. او بی دینان د الله

---

۱ - د النسآء سورت، ١٦٥ آیت.

ﷻ په وړاندې کومه بهانه پیدانکړي: سر بیره پردې، بله مهمه نکته داده چې الله ﷻ ورته اشاره کړیده: (**وماکنامعذبین حتی نبعث رسولا**).[1]

ژباړه: نه یو مونږ عذاب ورکوونکي تر څو مونږ پیغمبر نوی رالیږلی او داخبره معلومه ده چې په ورځ دقیامت چې ترازو داعمالو نصب کیږي له جهته دارسال د پیغمبرانو نصب کیږي چې الله ﷻ خپلو بندګانو ته پیغمبران لیږلو وو نو ددوی لپاره کوم عذر په ورځ د قیامت نه پاتې کیږي نو ددوی د اعمالو دتللو لپاره تلی نصب کیږي، او بغیر دکومې بهانې څخه د دوی حساب او کتاب اخیستل کیږي.

**هغه تحول چې د پیغمبر ﷺ په رسالت او رالیږلو سره مینځ ته راغی:**

ایمان په الله ﷻ او په ورځ د آخرت او سر کښته کول د الله ﷻ او امرو او احکامو ته داسې فرصتونه جامعې ته راوړل چې دهر سړي مقام یې په جامعه کې مشخص او معلوم کړو، چې دهغه مقام څخه دې تجاوز هم نشي کولی او هغه مقام خوشې کوي هم نه او دغه جامعه یې داسې دګلونو یو دسته جوړه کړه چې بې له اغزو ده.
ټول خلک دیوې کورنۍ په حیث سره وګرزیدل چې ددوی پلار حضرت آدم علیه السلام وو، او آدم علیه السلام دخاوري څخه پیدا شو، او عرب په عجمو باندې، او عجم په عربو باندې کوم خاص فضیلت نلري، مګر دتقوی له حیثیته، لکه څرنګه چې په حدیث کې راغلي: **عن حذیفة رضي الله عنه قال: کللکم بنو آدم، وآدم خلق من تراب، لینتهین قوم یفخرون بآبائهم أو لیکونن أهون علی الله من الجعلان**). [2]

---

۱ د الاسرآء سورت، ۱۵ آیت.

۲ - مسند البزار ، حدیث: ۲۹۳۸.

ژباړه: د حضرت حذیفه رضي الله تعالی عنه نه روایت دی چی رسول الله ﷺ فرمایلي: تاسې ټول دحضرت آدم علیه السلام او لاده یاست، او دحضرت آدم علیه السلام پیدایښت د خاوری څخه شویدی، او هغه خلک چی په خپلو اجدادو او پلارونو باندی فخر کوي، نو دوی باندی لازم دي چی د دغو خبر وڅخه اجتناب وکړي، اویا به دوی په نزد د خپل رب اررښت له لاسه ورکړی، تردی چی د الله ﷻ په وړاندی به دګونګټې له پلیتی څخه هم سپک شي). او همدارنګه خلکو به دپیغمبر ﷺ څخه او ریدل چی ده مبارک به ویل: (**یآ أیها الناس، ان الله قد أذهب عنکم عبیة الجاهلیة وتعظمها بآبائها فالناس رجلان: رجل بر تقي کریم علی الله، وفاجر شقي هین علی الله**). [1]

ژباړه: ای خلکو، الله ﷻ دجاهلیت رواجونه له تاسی څخه لیری کړل چی هغه په اجدادو او پلارونو باندی فخر کول دي ناروا ګرزولی دي او دتاسی څخه یی داپورته کړیدي، نو خلک په دوه قسمه او برخو ویشل شویدی: ۱- متقی او پرهیزګار، چی د الله په نزد کرامت او عزت لري،۲- اوبل فاجر او بدکاره دی چی په نزد د الله ﷻ ذلیل او سپک دي،

او په بل ځایکی فرمایی: (**عن عقبة بن عامر الجهني قال قال: رسول الله : ان أنسابکم هذه لیست بمسبة علی أحد کلکم بنو آدم طف الصاع لم تملئوه لیس لأحد علی أحد فضل الا بدین أو تقوی**). [2]

---

۱ - سنن الترمذي ، حدیث: ۳۲۷۰ .

۲ - مسند الأمام احمد ، حدیث:۱۷۴۴۶ .

ژباړه: له عقبة بن الجهنی رضی الله عنه روایت دی، وایی چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی، ستاسو نسبونه باید یوبل ته دپیغور ورکولو لامل نه شي، ځکه چی تاسی ټول د آدم علیه السلام او لا ده یاست، یو بل لره داسی تکمیلوونکی یاست، لکه کمه پیمانه چی پوره کولو ته اړتیا لري، هیڅ انسان یو پر بل غوره والی نلري مگر په تقوا او پر هیزگاری سره، یوبل حدیث شریف راځي: **(عن أبي ذر رضي الله عنه أن النبي قال له: أنظر فانک لست بخير من أحمر ولا أسود الا أن تفضله بتقوى).** [1]

ژباړه:( له ابوذر رضی الله څخه روایت دی، چی رسول الله ﷺ فرمایلی: دی، وگوره: ته هیڅکله دیو سور پوست او یا تور پوست انسان څخه غوره نه یی، مگر په تقوی او پرهیزگاری سره، همدارنگه خلکو به اوریدل چی پیغمبر ﷺ به دشپی په اخره برخه کی د الله ﷻ سره دمناجات پرمهال ویل: **(وأنا شهيد أن العباد كلهم اخوة)**. [2]

یعنی زه گواهی ورکوم چی ټول خلک سره ورونه دي .

## هرڅوک چی خلک تعصب ته رابولي زما څخه ندي:

رسول الله ﷺ دجاهلیت جرړی له بیخه وستلی دي، او ټولی لاری چی دجاهلیت په لور تللی وي بندی کړې دي لکه چی فرمایی: **(عن جبير بن مطعم أن رسول الله قال ، ليس منا من دعا الى عصبية، وليس منا من قاتل على عصبية وليس منا من مات على عصبية)**[3] .

---

١ - مسند الامام احمد، حديث: ٢١٤٠٧.

٢ - سنن أبي داود، حديث:١٥.

٣ - سنن أبى داود، حديث:٥١٢٣

ژباړه: جبیر بن مطعم رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلی: زمونږ څخه ندی هغه څوک چې خلک عصبیت، نژاد پرستی، ته را بولي، زمونږ څخه ندي هغه څوک چې دعصبیت لپاره مړشي. جابر بن عبد الله رضی الله عنه فرمایی: په یوه غزاکی وو چې یو مهاجر بل انصاري وواهه، انصار غږ وکړ او دمرستی غوښتنه یی وکړه، او مهاجر پرمهاجرینو غږ وکړ، او دمرستی غوښتنه یی تری وکړه، نو پرته له ځنډه پیغمبر ﷺ غږ وکړ او ویی ویل چې دسوری چیغی پر یږدئ چې دجاهلیت بدبویی تری راځي، په جاهلیت کی به چې خلکو یوله بل څخه دتعصب پر اساس ننګه کوله دغه کار یی حرام وګرځاوه، او هغه ضرب المثل چې له جاهلیت څخه پاتی وه، چې ویل کیده به : (**أنصرأخاک ظالما أو مظلوما**).

ژباړه: یعنی دخپل ورور سره په دواړو حالاتو کی مرسته وکړه یعنی ننګه تری وکړه، خواه که ظالم او یا مظلوم وي، دا خبره دجاهلیت یو مشهور شعار وه، نو پیغمبر ﷺ دغه شعار مقید وګرځاوه، اوویی ویل چې: (**من نصر قومه علی غیر الحق فهو کالبعیر الذي ردي فهو ینزع بذنبه**).[1]

ژباړه: چا چې دخپل څخه په ناحقه سره ننګه وکړه، مثال به یی دهغه اوښ په څیر وي، چې کله په یوه څاه کی ولویږي، نو خلک یی چې را وباسي له لکی څخه یی راکشوي، لکه څرنګه چې د اوښ راویستل یوه بده منظره انځوره وي، همدارنګه متعصب انسان هم دهغه اوښ په څیر بده منظره انځوره وي، نو پدی شکل سره دعربانو ذهنیت په کامله توګه بدل شو او هغه ضرب المثل یی له خپلو فکرونو څخه وویست، تردی چې یوځل یی بیا دغه خبره له رسول الله ﷺ څخه واوریده،

---

١ -سنن أبي داود، حدیث: ٥١١٩.

چې ویې ویل (**أنصرخاک ظالما أومظلوما**) یعنی دخپل ورور سره کومک او مرسته وکړه که ظالم وی او که مظلوم، نو صحابه کرام حیران پاتی شول او له پیغمبر ﷺ څخه یې پوښتنه وکړه، چې دمظلوم سره مرسته کول خوسم کار دی خود ظالم سره څنگه مرسته وکړو، نو پیغمبر ﷺ ورته وفرمایل چې دظالم سره مرسته دا ده چې له ظلم کولو څخه یې لاس ونیسې ومنع یې کړې.

**هر یوله تاسې څخه مسؤول دې، او هر څوک به دخپل مسوولیت ځواب وایې:**

په اسلامې ټولنه کې مختلف قومونه ژوند کوې او یوله بل سره په بیلا بیل ډول مرسته کوې، او هیڅکله یو پر بل زیاتی نه کوې، سړیو ته الله ﷻ غوره والی ورپه برخه کړی دې، ځکه چې له خپل مال څخه داولا دونو نفقه تأمینوې، او دکورنی سره مرستی په غاړه لرې اوښځی هم بی لاری نکوې، او دخاوند په غیابت (نشتوالې) کی دکور او دهغه له شتمنیو څخه ساتنه کوې، نو په کومه اندازه چې هر یوله دوی دواړو څخه مسؤولیتو نه لرې حقوق هم لرې او دټولنی هر وگړې دخپل مسؤولیت په اندازه الله ﷻ ته جواب ورکوونکی دې، بادشاه دخپل رعیت په وړاندی مسؤول دی او دهغوی دمسؤولیت جواب به ورکوې سړی په کور مسؤول دی او دخپل مسؤلیت په اندازه حواب ورکوونکی دی، او پوښتنه به ور څخه کیږې، ښځه دخاوند په کورکی مسؤوله ده، او دخپل مسؤولیت جواب به وایی، مزدور دخپل با دار په مال کی مسؤولیت لرې او دمسؤولیت جواب به ورکوې، پدی اساس اسلامې ټولنه، خپل دروند والې لرې، او هر سړی دخپل مسؤولیت په اندازه مجبور دی چې جواب ووایی.

٦

# د آخرت په ورځ ایمان لرل

**ألحمدلله رب العالمین والعاقبة للمتقین والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین محمد وعلی آله و أصحابه أجمعین وبعد:**

یوبل مطلب چې په هغه باندې ایمان درلودل لازم دي هغه ایمان لرل په ورځ د آخرت دي، په قرآن کریم کی په ډیروایتونو کی په الله ﷻ د ایمان راوړلو سره ایمان په ورځی دآخرت هم ذکر دي یعنی لکه څرنګه چې په الله ﷻ ایمان درلودل ضروری او فرض دي همدارنګه په ورځ د اخرت ایمان درلودل هم ضروری او فرض دي لکه څرنګه چې الله ﷻ فرمایی:

**(من آمن بالله والیوم الآخر)** .[1]

ژباړه: هغه څوک چې ایمان لري په الله ﷻ او په ورځی د اخرت سره ، او همدارنګه فرمایی: (**یؤمنون بالله والیوم الآخر**). [2] ژباړه: دوی ایمان راوړي په الله ﷻ او په ورځی دآخرت سره.

---

۱ - د البقري سورت ، ٦٢ آیت.

۲ - د المجادلي سورت، ۲۲ آیت.

**په آخرت له ایمان درلودلو څخه مقصد څه شی دی؟**

په اخرت له ایمان درلودلو څخه مقصد او هدف دادی چی له مرګ څخه وروسته یوځل بیا ژوندي کیدل حق دي، او ددی ژوندون څخه وروسته بل حقیقی ژوندون پیلیدونکی دی، په هغه ورځ چی کله انسانان بیرته را ژوندی شي دهرچا سره به حساب او کتاب وشي، انسانانو چی پدی دنیا کی هرڅه کړی وي، پدغه ورځ به د خپلو کړنو بدله وګوري، چاچې ښه اعمال ترسره کړی وي ښه بدله او ثواب به یی په بدل کی ور کړل شی، او چاچی بد عمل ترسره کړی وي، نو بده پایله به ورته ولري، او بده جزا به ورکړل شي، نو آخرت دهغی نړی نوم دی چی الله ﷻ به وروسته له مرګ څخه مونږ یوځل بیا را ژوندی کوي، او دتل لپاره به هلته ژوند کوو، د آخرت له نړی څخه وړاندی دقیامت ورځ راتلونکی ده، هغه ورځ چی د اسرافیل علیه السلام په شپیلۍ وهلو سره پیلیږي، سخته خوفناکه او ویروونکی ورځ ده ددی لپاره چی زیات معلومات په لاس راوړو پدی اړه باید دقرآن کریم آیتونو ته مراجعه وکړو.

**د قیامت او آخرت ترمنځ فرق:**

قیامت او آخرت د واړه د آخرت دنومونو څخه دي د دوی دواړو په منځ کی فرق په حیثیت د اعتبار سره دی قیامت مصدر دی د(قام، یقوم) او عربان د مبالغی په اخرکی تأنیث زیاتوي، ورځی دآخرت ته پدی اعتبار سره قیامت وایی چی پدغه ورځ کی به ډیر غټ هولناک او خوفناک حوادث رامنځه ته کیږي او قایمیږي به، چې په دینی نصوموکی په قطعی ډول سره بیان شویدی او په اثبات سره رسیدلی دي، دقیامت شروع داسی ورځ ده، چې الله ﷻ پدغه ورځ کی ټوله د دنیا زندګی

او څه چې په دغه دنيا کی دي ټول پناه کوي، لکه څرنګه چې الله ﷻ په خپل ازلی کلام کی فرمايی : (**کل من عليها فان و يبقی وجه ربک ذوالجلال والإِکرام**). [1] ژباړه: (هرڅه چې پر دغی ځمکی باندی دي، پناه کيدونکی دي، او يوازي ستارب چې د جلال او درناوي خاوند دی،باقی پاته کيدونکی دی) اوپه بل ځای کی فرمايی :(**کل شيء هالک الا وجهه**) . [2] ژباړه: (دهغه له ذات څخه پرته هرشی هلاک کيدوکی دي) وروسته لدی څخه داسی وخت راځی چې الله ﷻ په خپل بندګان دوباره را ژوندی کړی، او د الله ﷻ په دربارکی به دکتاب او حساب لپاره ود ريږي، او دخپلو عملونو او کړنو حساب به ورڅخه اخيستل کيږي او الله ﷻ ته به دهغی په هکله جواب ورکوي پدغه ورځ کی به انسانان د ډيرو سختيو او مشکلاتو سره مخامخ کيږي، هيڅوک به پدغه سخته ورځ کی ماسوا دهغه چا څخه چې د ايمان سره يی ښه اعمال هم سرته رسولی وي نجات پيدا نکړي، وروسته له وخت رسيدلو ددغی ورځی څخه به انسانان مختلفو ځايونو ته بوول کيږي او انتقال کيږي به، داسی هيبت ناکی ورځی ته قيامت ويل کيږي، ورځی د آخرت ته پدی اعتبار سره آخرت وايی، چې د دنيا زندګی چې مرکبه شويده د ډيرو کلوونو او مياشتو او ورځو څخه اخر ته رسيږي، او د دی څخه وروسته يوه بله زندګی شروع کيږي چې هغه هميشه ده او ختميدل نلري.

---

١ - د الرحمن سورت، ٢٦- ٢٧ .آيتونه.

٢ - د القصص سورت، ٨٨ آيت.

**د قیامت د ورځې نښې نښانې:**

بل اړخ دایمان په ورځ د آخرت دا دی چې هغه مقدماتی مسائل د ورځی د قیامت چې نبی ﷺ مونږ ته په هغی سره خبر راکړی دي ایمان راوړل دي، لکه د قیامت د ورځی نښی نښانی.

**د قیامت د ورځی علامې په دوو برخو سره ویشل شویدي:**

**الف: کوچنی نښې:**

کوچنی نښی د قیامت هغه نښی دي چی د قیامت د ورځی په نیژدی والی باندی دلالت کوي، چې البته تعداد او شماریی زیات دی، چی ډیری دهغی واقع شویدي له هغی جملی څخه، د پیغمبر ﷺ بعثت امانت ضایع کیدل، ښائسته کیدل دجماتونو او په هغی باندی افتخار کول، انتخاب کیدل دبادشاهانو دعیاشو او نا اهلو خلکو د مابین څخه، نه دې هغو خلکو څخه چی د معروفو او با اخلاقه کورنیو څخه وي، او سیدل او قدرت پیدا کول د کوچیانو صحرایی او سیدونکو په لوړو او اوچتو قصرونو سره، یعنی دقیامت دنښو څخه یوه نښه داهم ده چې ډیر غریب اوپست خلک به زیاتی پیسی او قدرت پیداکړی اولوړ لوړ قصرونه به خریداري کړی او په هغی کی به زندگی اختیار کړي، دمسلمانانو دیهودو سره جنګ کول او دهغوی وژل، ډیری لری فاصلی نیژدی کیدل لکه چی اوس ډیر زیات وسایل دتګ را تګ موجود شویدي او ډیری لری فاصلی په ډیر کم وخت کی تی کوي، کم واقع کیدل دښو عملونو دخلکو څخه، ښکاره کیدل د فتنو، زیاتیدل دقتل او قتال چی دخلکو په مابین کی به جنجالونه او جنګونه زیات شي

او ډیر زیات خلک به ورکی تلف او قتل شي او ډیریدل دفسق اوزنا، نو له هم دي جهته الله ﷻ فرمایی: (**اقتربت الساعة وانشق القمر**). [۱]

ژباړه: (قیامت نیژدی شو او سپوږ مۍ دوی ټوټی شوه).

**ب: دقیامت د ورځی غټې نښې:**

هغه نښی دي چی لږمخکی دقیامت دواقع کیدلو څخه واقع کیږي او ظاهریږي گویا دغه د خطریو زنگ دی چی شروع دقیامت خلکو ته اعلان کوي، او دوی ته دغه خبره اعلانوي چی قیامت ډیرزر واقع کیدونکی دی، ددغو نښو تعداد او شمار لس ۱۰ دی چی تراوسه د دوی دجملی څخه یوه هم نده واقع شوی او دغه نښی عبارت دی له:

۱- راوتل دامام مهدی (رض).

۲- راوتل د دجال.

۳- راکوزیدل دحضرت عیسی علیه السلام، له اسمان څخه په حیثیت دیو عادل حاکم، چی صلیب به ټوټی ټوټی کوي، او دجال او خنزیر به ووژني، او جزیه اخیستل به منسوخ کړي، او په اسلامي شریعت سره به حکم او فیصلې کوي.

٤- دیأجوج او مأجوج راوتل

٥- پیوسته او یوبل پسی متصل د دریو خسفونو راتلل، چې یو به په مغرب کی اوبل په مشرق کی ، او بل په جزیرة العرب کی واقع کیږي.

٦- پیدا کیدل دیودود چی دغه به ډیرلوی دود وی او دآسمان څخه به راکوزیږي، چی ټوله فضا به ونیسی او په خلکو باندی به راچاپیره کیږی.

---

۱ - د القمر سورت، ۱ آیت.

۷- او پورته کیدل د قرآن کریم دځمکی څخه په طرف د آسمان.
۸- او راختل د لمر دمغرب څخه.
۹- او راوتل د دابة الأرض، څرنګه چې الله ﷻ په قرآن کریم کی فرمایی: (**وَإِذَا وَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ أَخْرَجْنَا لَهُمْ دَابَّةً مِّنَ الْأَرْضِ تُكَلِّمُهُمْ أَنَّ النَّاسَ كَانُوا بِآيَاتِنَا لَا يُوقِنُونَ**) . [1]
ژباړه: اوکله چی برهغو باندی زموږ دخبری دپوره کیدو دقیامت، وخت را ورسیږي، نوموږ به دهغو لپاره یو ځناور دځمکی څخه را وباسو چی له دوی سره به خبری وکړي، چی خلکو زموږ پرایتونو باندی باور نه کاوه.
۱۰- او راوتل دیواور دیمن دعدن څخه چی خلک به په طرف دشام شړي، چی دی به وروسته ورپسی وی، چی دغه د قیامت دنښو څخه اخری نښه ده.[2]
امام مسلم د حضرت حذیفه بن أسید الغفاری رضي الله عنه څخه روایت نقل کړیدی او وایی، چی موږ صحابه پداسی حال کی غونډشوی وو چی دیوبل سره مو خبری کولی چی ناڅاپه په موږ باندی پیغمبر ﷺ رانوت، او دموږ څخه یی پوښتنه وکړه، چی دڅه شي په هکله تاسی خبری کوی؟ موږ وویل د قیامت په باره کی، پیغمبر ﷺ وفرمایل: (**انها لن تقوم حتی تروا قبلها عشرآیات**).[3]
ژباړه: (قیامت ترهغې نه راځي، ترڅو پوری چی تاسی مخکی دهغه نه لس نښی ونه ګوری نو پیغمبر ﷺ د قیامت غټی لس نښی وشمارلی چی عبارت دي له (دود)

---

۱ - د النمل سورت، ۵۲ آیت.
۲ - دا پورتنی مطلب د مدینې منورې اسلامي پوهنتون د خیړنیز مرکز چمتو شوی کتاب: (د ایمان أرکان ) څخه اخیستل شویدی.
۳ - صحیح الامام مسلم ، حدیث : ۲۹۰۱.

(دجال) (دابة الارض) او راختل دلمر د قبلی له طرف څخه، او د حضرت عیسی علیه السلام راکوزیدل د آسمان څخه (او د یاجوج او مأجوج) راوتل) (او دری خسفونه) او اور چی د یمن د عدن څخه به رابنکاره کیږي٬ ،اوخلک به دحشر د میدان په طرف سوق کوي٬ ټول ذکرکړل٬ او همدارنگه پیغمبر ﷺ فرمایی: (**يخرج في آخر أمتي المهدي يسقيه الله الغيث وتخرج الأرض نباتها ويعطي المال صحاحا وتكثر الماشية وتعظم الأمة يعيش سبعا أو ثمانيايعني حججا).**[1]

ژباړه: په آخر د امت زماکی به امام مهدي راووزي چی دده په راتلوسره به الله ﷻ زیات بارانونه وکړي او داسی مال به ورکول کیږي چی هغه به مال صحیح وي بغیر دکوم عیب څخه٬ اوځمکه به خپلی گیاوي راوباسي٬ او هغه حیوانات به زیات شي چی حلاله غوښه ورڅخه په لاس راځي٬ او امت به قوی او طاقت ورشي او دی به اوه یا اته کاله ژوند وکړي٬ اوپه نورو روایتونوکی راغلی دي٬ چی دغه نښی د قیامت داسی دي لکه د تسبو دانی چی یوه په بله پسی متصلی پییلی شوی وي٬ چی کله دغه تسبی وشلیږي٬ نو یوه په بله پسی غور ځیږي٬ نو د قیامت نښی هم دارنگه دي چی کله یوه تحقق پیدا کړي نو بله ورپسی متصله تحقق پیدا کوي٬ او راځي٬ نو هرکله چی دغه ټولی نښی موجودي شي او تحقق پیدا کړی نو بیا د الله ﷻ په مشیت او ارادی سره قیامت قایمیږی .

**څرنگه ایمان لرل په ورځ د آخرت:**

ایمان لرل په ورځ د آخرت په دوه ډوله دي (۱) ایمان اجمالی (۲) ایمان تفصیلی.

---

۱ - مستدرک حاکم ، حدیث: ۸۱۷۳.

**اجمالي ایمان:**

دغه دی چی مونږ باور اویقین وکړو چی الله ﷻ به ټول انسانان په یوه مشخصه او معینه ورځ را جمع کوي٬ او هر سړی ته به دده دعمل مطابق مکافات او مجازات ورکړل شي٬ او یوه ډله به جنت ته او بله ډله به دوزخ ته داخله شي٬ لکه څرنګه چی الله ﷻ فرمایی: (**قل ان الأولین والآخرین, لمجموعون الی میقات یوم معلوم**). [1]

ژباړه: (ای پیغمبره ,ص٬ دوی ته ووایه: په باوري ډول مخکیني او وروستني ټول به٬ یوه ورځ به هرو مرو را غونډ کړای شي چی د هغې نیټه ټاکل شویده).

**تفصیلي ایمان:**

تفصیلی ایمان هغه ایمان ته ویل کیږي چی په ټولو هغو شیانو سره ایمان راوړل شي چی وروسته دمرګ څخه دانسان مخی ته راځي او انسان ورسره مخ کیږي٬ چی دغو لاندی شیانو ته شامل دي:

**اول د قبر فتنه:**

داعبارت ده لدی څخه چی هرکله انسان د فن کړای شي نو دده څخه دوی ملایکی چی دیوی نوم نکیر او دبلی منکر دی٬ د ده څخه دری اساسی پوښتنی کوي٬ دخپل رب٬ پیغمبر٬ او دین په باره کی٬ نو الله ﷻ هغه کسان چی مؤمنان دي په کلمه توحید باندی ثابت قدم پاتی کوي٬ لکه څرنګه چی حدیث شریف کی راغلی دي،چی هرکله دمؤمن څخه نکیر او منکر په قبر کی سوال کوي٬ دالله

---

١ - د الواقعه سورت، ۴۹ -۵۰ آیتونه .

ﷻ' پیغمبر' او دین په هکله نو دی په ځواب کی ورته وایی: (**ربي الله وديني الاسلام و نبي محمد ﷺ**). [1]

ژباړه: زما رب الله ﷻ، او دین می اسلام او پیغمبر می محمد ﷺ دی، نو پس ایمان راوړل، په مدلول دهغو احادیثو په شمول دسوال د دوی فرښتو چی د ووی نومونه (نکیر او منکر) دي او په څرنګوالي، جواب، دمؤمن او جواب د کافر، او په جواب ورکولو دمنافق چی دوی به په کوم شکل سره جواب ورکوي پدغو ټولو باندی ایمان لرل واجب دي

**دوهم د قبر عذاب او دهغه نعمتونه:**

ایمان لرل دقبر په عذاب اودهغه په نعمتونو باندی واجب دي، پیغمبر ﷺ فرمایلی دي، چی قبر یوه کنده ده دکندو دجهنم څخه، اویایوه باغیچه دباغچو دجنت څخه، او څرنګه چی قبر اول منزل دمنزلونو د آخرت څخه دی، نو هرڅوک چی پدغه منزل او کورکی کامیاب شو او دنکیر او منکر په سوالونو کی بریالی راووت نو وروسته نور منزلونه د آخرت دده لپاره ډیر آسان دي که هرڅوک پدغه منزل او کور کی ناکام راووت نو وروسته نور منزلونه د ده لپاره ډیر زیات سخت او وحشتناک دی، نو دانسان په مرګ سره ګویا په ده باندی قیامت قایم شو چی دغه ته فردي او شخصي قیامت وایی، نو نعمت او عذاب ,قبر په روح او جسد دواړو باندی تأثیر لري او دواړه یی خوند څکي، البته کله ناکله ممکن ده چی روح په تنهایی سره مورد دنعمت اویا عذاب وګرزي، نو بناپدی سره د الله ﷻ دغه عذاب متوجه دی ظالمانو کافرانو اوګناه کارانو ته، او نعمتونه یی متوجه دي صادقو او

---

١ - مسند الامام احمد، حدیث: ١٨٦١٤.

ریښتنو مؤمنانو ته، مړی په قبرکی یا عذاب وینی اویا نعمت ورکول کیږی برابره خبره ده که دی په قبرکی دفن کړای شی او یا دفن نشی، ځکه الله ﷻ په هر شي باندی قادر دی او دته دقبر دنعمت اویا عذاب برخه رسیږی . اګرکه دی لیوان وخوري او یا په به شکل سره ومري نو هرو مرو دته نعمت اویا عذاب رسیږي لکه څرنګه چی الله ﷻ موږ ته په خپل ازلی کلام کی خبر راکړی دی او فرمایی: (**النَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوا آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ**). [١]

ژباړه: د دوزخ اوردی٬ چی هغه ته سهار اوماښام ،په عالم برزخ کي٬ هغوی وړاندی کول کیږي٬ اوکله چی دقیامت ساعت راشي نو امر به وشي چی دفرعون خپلوان ډیر سخت عذاب ته ورننباسی). او همدارنګه رسول الله ﷺ فرمایی: (**فلولا أن لا تدافنوا لدعوت الله أن يسمعكم من عذاب القبر**).[٢] ژباړه: که چیر ته ددی خبری ویره په مانوی چی تا سی به بیا مړی نه خښولی، نو حتما به ما د الله ﷻ څخه غوښتلي وای چی تاسی ته یوه برخه دعذاب د قبر درواوروي .

## دریم پوکی وهل په شپیلۍ کې:

شپیلی یو ښکر دی، چی حضرت اسرافیل علیه السلام په هغی کی پو کی کوي، په اول پوکي سره ټول مخلوقات چی الله ﷻ د اولی ورځی څخه پدغه جهان کی پیداکړیدی تر ورځی دقیامت پوری ټول به مړه شي مګر هغه کسان پاتی کیږی چی الله ﷻ غوښتي وی ، او په دوهم پوکی سره ټول مخلوقات را ژوندی کیږي ،

١ - د الغافر سورت، ٤٦ ایت.

٢ - صحیح الامام مسلم ، حدیث: ٢٨٦٧.

لکه څرنګه چی الله ﷻ فرمایی: (**وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَصَعِقَ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَمَن فِي الْأَرْضِ إِلَّا مَن شَاءَ اللَّهُ ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخْرَى فَإِذَا هُم قِيَامٌ يَنظُرُونَ**). [١]

ژباړه: اوپه هغه ورځ به شپیلۍ پو کړل شي اوهغه ټول چی په اسمانونو اوځمکه کی دي مړه به راغور ځیږي پرته له هغو څخه چی الله یې ژوند غواړی، بیا به یوه بله شپیلۍ پو کړه شی او په ناڅاپی ډول به ټول را پاځیږی، ګوري به) اوهمدارنګه پیغمبر ﷺ فرمایی: (**ثم ینفخ فی الصور فلایسمعه أحد الا أصغی لیتاً ورفع لیتا ثم لا یبقی أحد الا صعق ثم ینزل الله مطرا کانه الطل فتنبت منه أجساد الناس ثم ینفخ فیه أخری فاذا هم قیام ینظرون**). [٢] باب خروج الدجال ومکثه فی الارض، ژباړه , وروسته به په شپیلی کی پوه کړای شي، هیڅوک به دهغی غږ نه اوري مګر دهغه غاړه به کږه کړای شي، بیا به هیڅوک باقی پاتی نشی مګر ټول به بیهو شه شي او مړه به شی، وروسته به الله ﷻ باران اووروي پشان دشبنم نو دانسانانو جسمونه به داسی راژوندي او دځمکی څخه به راووزي په شان دګیاه، بیا به دوباره په شپیلۍ کی پوه کړای شي نو ناڅاپه به دوی حاضر شي چی ګوري به.

**خلورم ژوندي کیدل وروسته له مرګ څخه :**

او دا هغه وخت واقع کیږی چی الله ﷻ وروسته له دویم پوکی څخه ټول انسانان ژوندی کوي، بیا وروسته ټول انسانان د الله ﷻ په، دربار کی دکتاب او حساب لپاره ودریږي، پداسی شکل سره چی هرکله الله ﷻ اسرافیل علیه السلام ته د دویم ځل لپاره په شپیلۍ کی د پو کی کولو اجازه ورکړي، اوروحونه به خپلو

١ - دالزمر سورت، ٢٨ آیت.

٢ - صحیح الامام مسلم باب خروج الدجال و مکثه فی الأرض، حدیث: ٢٩٤٠.

جسدونو ته راوګرزيږي، او ټول انسانان به دخپلو قبرونو څخه راپورته کيږي اوپه ډير تيزی سره به ميدان محشر ته زغلی، پداسی شکل سره چی د دوی په خپو به بوټان، نوی، اوپه وجودباندی به لباس نوي او غير مختون به را پورته کيږي، لکه څرنګه چی اول ځل هر انسان په کوم شکل سره پيدا شويدی، يعنی خالی لاسونه به ټول د الله ﷻ په دربارکی ودريږي، اود دوی ودريدل به دميدان محشرکی ډير سخت او طولانی وي، او لمر به دوی ته په اندازه ديوميل نيژدی شي چی ډير زيات حرارت به ورڅخه خارجيږی اود ډيری ګرمۍ او سختی لامله به ددوی څخه ډيری زياتی خولی وبهيږي، چی د دوی حالت به ديوبل څخه مختلف وي، يعنی ځنی به په خولوکی ترنامه پوری غرق وي، اوځنی به ترښنګرو پوری ځنی به دملا پوری، يعنی دهر شخص حالت به دعذاب له جهته مختلف وي .

**پنځم: حشر ، حساب او جزاء:**

پس موږ په يوځای کيدلو دجسمونو دخپلو روحونو سره، او دهغوی څخه په سوال او ځواب، او په عملی کيدلو دعدل الهی د دوی په منځ کی ايمان لرو، او دغه خبره چی جسمونه به ژوندي کيږي، او د الله ﷻ په حضورکی به جمع کيږي لپاره دخپل حساب او د دوی څخه به د دوی د اعمالو په هکله پوښتی کيږي او مطابق د الله ﷻ د عدل به دوی ته مکافات او مجازات ورکول کيږي او په هيڅا باندی به ظلم نه کيږي او هيڅ څوک به د بيا راپورته کيدو څخه نه پاتيکيږی لکه څرنګه چی الله ﷻ فرمايی:( **وَحَشَرْنَاهُمْ فَلَمْ نُغَادِرْ مِنْهُمْ أَحَدًا**).[١]

**ژباړه:** او مونږ به دوی حشر کړو او هيڅوک به د دوی څخه پاتی نشی.

---

١ - د الكهف سورت ٤٧ آيت.

او همدارنگه الله ﷻ فرمایی: (**فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ فَيَقُولُ هَاؤُمُ اقْرَؤُوا كِتَابِيَهْ إِنِّي ظَنَنتُ أَنِّي مُلَاقٍ حِسَابِيَهْ فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ**).[1]

ژباړه: په هغه وخت کښي چې دچا عملنامه هغه ته ښی لاس کې ورکړل شي، هغه به ووایي: هاوگورئ، زما عملنامه ولولئ، ما انگیرله چې زه هرو مرو له خپل حساب سره یوځای کیدونکی یم، نو هغه به په زړه پوری خوندو نو کښی وي.

او همدارنگه فرمایی: (**وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِشِمَالِهِ فَيَقُولُ يَا لَيْتَنِي لَمْ أُوتَ كِتَابِيَهْ وَلَمْ أَدْرِ مَا حِسَابِيَهْ**).[2]

ژباړه: او دچا عملنامه چې هغه په کیڼ لاس کی ورکړل شي، هغه به ووایی: کاشکی زما عملنامه ماته نه وای راکړه شوی او زه نه پوهیدی چې حساب څه دی.

نو حشر وایی جمع کیدلو دټولو انسانانو ته په یو غټ هوارمیدان کی لپاره دحساب او کتاب داعمالو خپلو، فرق په مابین دحشر او بعث کی دادی، چی بعث عبارت دی دراگر زیدلو دروحونو خپلو جسدونو لره مگر حشر وایی شړلو اوجمع کیدلو د دغوژوندیو انسانانو په یو غټ او وسیع میدان کی لپاره د کتاب او حساب د عملونو خپلو، او حساب او جزا داده، چی الله ﷻ خپل بندگان خپل حضورته حاضر او راوړاندی کړي لپاره دمکافاتو او مجازاتو، او هغه اعمال دوی ته ورپه یاد کړي چی دوی سرته رسولي وي نو دی مؤمنانو او متقیانو حساب دادی چی دوی ته صرف د دوی عملونه پیش کیږي، ترڅو دوی پوهه شی چی الله ﷻ د دوی سره څومره احسانونه کړیدي، او په دنیا کی یی دوی څومره په سترکی ساتلی وو،او دوی یی

---

١ - د الحاقة سورت، ١٩- ٢٠ آیتونه.

٢ - د الحاقه سورت، ٢٥ -٢٦ آیت.

د گناهونو په کولو سره نوو شرمولی، او په آخرت يی ځومره دوی ته عفوه وکړه او د دوی سره په کتاب او حساب کی يی ځومره اسانی وکړه، او دوی په اساس دخپل ايمان سره حشر کيږي، او پرښتی د دوی استقبال کوي، او دوی ته په جنت سره بشارتونه ورکوي، او دوی دهغی سختی ورځی څخه په امان کی ساتی، نو د دوی څيری او شکلونه به روښانه او سر سبز وي او د راحت او خوشحالۍ آثاربه د دوی په څيروکی د واريه ليدل کيږي، او واقعا به دغه څيری خوشحاله اوخنده کوونکی وي، مگردروغجن اومخ اړوونکی به بيا په سخت محاسبه د الله ﷻ کی راشي، اود دوی څخه به دهری وړی او غټی گناه پوښتنی کيږي، او د دوی چهری به په غمونو او پريشانيو سره پوښل شوی وي او دوی به خوار او ذليل دجهنم په لور روان کړای شي حقيقتا دغه د دوی هغه اجر او مزدوري ده چی دوی په دنيا کی حق تکذيب کولو اوخپلو ناروا اعمالو ته يی ادامه ورکوله ، په ورځ دقيامت کی دټولو امتونو څخه مخکی دپيغمبر ﷺ د امت محاسبه شروع کيږي، او اويازره ۷۰۰۰۰ کسان د دوی له جملی څخه دکامل ايمان او توحيد په برکت سره بی له حسابه او عذابه څخه جنت ته داخليږي، دغه هغه کسان دي چی نبی ﷺ د دوی او صاف پدغه لاندی حديث شريف کی داسی بيان کړيدی او فرمايی:

( **الذين لايسترقون ولايتطيرون ولايكتوون و على ربهم يتوكلون**). [۱]

ژباړه: (او دا هغه دي کسان چی لپاره دمعالجی خپلی دم نه کوي، او داغ نه لکوي لپاره دمعالجی، او بد فالی نکوي اوپه خپل رب باندی توکل کوونکی وي). نو ددی جملی څخه جليل القدر صحابی حضرت عکاشه بن محصن رضی الله عنه دی

۱ - صحيح البخاري حديث :۵۵۷۷، او صحيح الامام مسلم حديث: ۴۷۸,

چی ده مبارک د نبی ﷺ څخه سوال وکړلو چی د الله ﷻ څخه سوال وکړه چی زه هم ددغو کسانو دجملی څخه وګرزم نو نبی علیه السلام ورته وویل: چی ته هم د دوی د ډلی څخه وګرزیدلی ، اولین شی په حقوق الله کی چی د انسان څخه په ورځ د قیامت د هغه په هکله پوښتنه کیږی هغه لمونځ دی اواولین شی په حقوق العباد کی چی دانسان څخه دهغه په هکله پوښتنه کیږي هغه دناحقی وینی تو یول دي،چی الله ﷻ به د دوی په هکله په عادلانه توګه سره قضاوت او فیصله وکړی.

## شپږم : دپیغمبر ﷺ حوض کوثر:

موږ دپیغمبر ﷺ دی حوض کوثر په هکله چی کوم احادیث راغلی دی موږ په هغو باندی ایمان لرو چی د پیغمبر ﷺ حوض کوثر حق دی چی الله ﷻ به یی دته په ورځ دقیامت ورکړی او کوم صفتونه چی د دغه حوض په هکله په احادیثوکی راغلی دی هغه ټول ثابت دی او موږورباندی کامل ایمان لرو او دغه ډیر غټ حوض دی او دډیرغټ شرف او امتیاز څخه برخورداره دی چی او به یی د جنت د شر بتو څخه چی د کوثر نهر څخه ډکیږي، چی د حشر په میدان کی دی او دنبی علیه السلام مؤمن امتیان به دخښلو لپاره په خپلو خپو ورته راځې .

## بعضی صفتونه ددغه حوض په لاندې ډول سره دي، چې په نبوي احادیثوکې راغلی دي:

۱-چی دده او به به دشیدوڅخه ډیری سپینی وي.

۲- او ديخ څخه به ډيرى سړى وي.
۳- او دشاتو څخه به ډيرى خوږى وي.
٤- او د مشکو څخه به ډيرى خوش بويه وې، او دغه حوض ډير غټ او فراخه دى، او دده اوږوالی او پلن والی به سره برابر وې او دده هرگوشه (طرف) به په اندازه د مزل کولو ديوى مياشتى وې ، او دى ته ويالى دجنت څخه راغلى دي چې همشيه به دى په هغوى سره ډکيږې، او هر څوک چى يو ځلى دهغه څخه او به وڅښى نو بيا به دى هيڅکله تږى نه شى، پدى هکله نبى عليه السلام فرمايي: (**حوضي مسيرة شهر، ماءه أبيض من اللبن وريحه أطيب من المسک وكيزانه كنجوم السماء من شرب منه فلا يظمأ أبدا**). [1]

ژباړه : ( دماحوض په مسافت ديوى مياشتى دى ،او دهغه او به ډيرى سپينى دې له شيدو څخه،او به يى ډيرى خوش بويه دې له مسکوڅخه ، او کوزى يى په اندازه دستورو د آسمان دې، هر څوک چى يو وار اوبه ور څخه و څښى نو د هميشه لپاره به بيا تږى نشى).

### اوم شفاعت :

په دغه سخته او طولانى ورځ هر کله چى په خلکلو باندى مصيبتونه او مشکلات ډير شې ،او دوى ورڅخه په تنگ شى او خپلى حوصلى له لاسه ورکړې ، نو دوى به په خپل منځ کی سره مشوره وکړې چى راځى يو داسى څوک پيدا کړو چى دالله ﷻ په دربارکى دموږ لپاره شفاعت وکړى چى ددغو سختيو او مشکلاتو څخه

---

۱ - صحيح البخاري، حديث: ٦٥٧٩.

خلا ص شو ،نو داداسی سخت حالت دی چی حتی الوالعزم پیغمبران معذرت غواړې او خپلی اوړی ددی څخه خالی کوې چی دخلکو شفاعت وکړی په نزد دالله ﷻ ، نو خبره به پاتی شی سرورکاینات او خاتم النبین ﷺ ته او خلک به هغه مبارک ته رجوع وکړې لپاره د شفاعت کړلو دالله ﷻ په دربار کی ،چی دی مبارک په داسی عالی مقام کی قرار لرې چی الله ﷻ دته ټول تیرشوی او راتلونکی گناهونه معاف کړیدې، او دی مبارک نن ورځ په داسی موقف کی قرار لرې چی ټول خلک دده صفات بیانوې اودده څخه غټی غوښتی لرې، نو بیا نبی علیه السلام دخپل باغی او گنهکار امت په غم کی دالله ﷻ په عالی دربار کی زاری کوې او الله ﷻ ته دعرش الهې لاندی په سجده،غورځیږې او دالله ﷻ عظمت او لویی بیانوې نوبیا به دالله ﷻ له طرفه ورته وویل شې ، خپل سر را اوچت کړه او سوال کوه څه غواړی ، نو بیا به الله ﷻ دته د شفاعت کړلو اجازه ورکړې لکه څرنگه چی نبی علیه السلام پدغه حدیث شریف کی دی خبری ته اشاره کړیده او فرمایی: (**ان الشمس تدنو يوم القيامة حتى يبلغ العرق نصف الأذن فبيناهم كذلك استغاثوا بآدم ثم بموسى ثم بعيسى ثم بمحمد فيشفع بين الخلق فيمشي حتى يأخذ بحلقة الباب فيومئذ يبعثه الله مقاما محمودا يحمده أهل الجمع كلهم**). [1]

ژباړه : په ورځ د قیامت کی به لمر نیژدی شې خلکوته ،تر دی پوری چی ددوی څخه به دومره خولی و بهیږی ،چی ددوی دغوږونو تر نیمایی پوری به ورسیږی او دوی به هم همدارنگه پدغه حالت کی وې ، نودوی به ورشی اوکومک به وغواړی د حضرت آدم علیه السلام څخه او بیاد حضرت ابراهیم علیه السلام څخه، بیا د

١ - صحيح البخاري، حديث: ١٤٧٥.

حضرت موسی علیه السلام څخه ،بیاد حضرت عیسی علیه السلام څخه ، او په أخرکی دحضرت محمد ﷺ څخه نو وروسته به پیغمبر ﷺ د الله ﷻ په اجازی سره شفاعت شروع کړي ، دخلکو په منځ کی ، نو بیا به دی روان شې تر دی پوری چی دی دروازی ته ورسیږی او دهغی حلقه راونیسې،نوپدی وخت کی به الله ﷻ دی مقام محمود ته ولیږې ، چی ټول خلک به دده صفات بیانوې ، او دغه ته غټ شفاعت ویل کیږې چی الله ﷻ خاص پیغمبر ﷺ ته ورکړیدې البته دپیغمبر ﷺ لپاره نور شفاعتونه هم ثابت دي او په احادیثوکی یادونه شویده ، دمثال په توګه:

١ -شفاعت دنبی علیه السلام لپاره د جنتیانو چی دی به دالله ﷻ څخه غواړی چی جنتیانو ته اجازه ورکړی چی جنت ته داخل شي، لکه څرنګه چی خپله نبی علیه السلام فرمایی: (**أتي باب الجنة يوم القيامة فاستفتح فيقول الخازن من أنت؟ قال : فأقول محمد فيقول: بک أمرت لا أفتح لأحد قبلک** ).[1]

ژباړه :زه به راشم دروازی دجنت ته په ورځ د قیامت کی ، او زه به غوښتنه د خلاصولو وکړم دهغی نو خازن دجنت به ووایی ته څوک یی ؟ نو نبی علیه السلام فرمایی : زه به ووایم چی محمد ﷺ، نو دا به ووایی ،چی ماته امر شویدی چی دجنت دروازه خلاصه نکړم هیچاته مخکی له تا څخه).

٢ – د نبی ﷺ شفاعت دهغوخلکو په هکله چی دهغوی نیکۍ او بدئ سره مساوې او برابره وي ، نو دالله ﷻ په در بارکی ددوی په هکله شفاعت کوې چی دوی ته دجنت داخلید لو اجازه ورکړل شې ، مګردغه دبعضی علمآء رآیی او نظر دی په

١ - صحیح الامام مسلم ،حدیث:٤٠٦.

دغی باره کی کوم یو صریح او صحی حدیث او یادی صحابه وو کوم قول ندی نقل شوی.

۳ - دنبی صلی دالله علیه وسلم شفاعت دهغوخلکو په هکله چی دوی مستحق ددوزخ گرزیدلی وې او نبی علیه السلام دالله ﷻ څخه در خواست او سوال کوې چی دوی دوزخ ته داخل نکړې، دلیل ددغه قسم شفاعت چی اوس پاس ذکرشو هغه عموم قول دنبی ﷺ دی چی فرمایی: (**شفاعتي لأهل الكبائر من أمتي** ). [1] ژباره : زما شفاعت لپاره د هغوکسانو دی چی دوی غټ گناهونه کړی وې زما د امت له جملی څخه.

۴ - شفاعت دنبی ﷺ لپاره د رفع درجاتو دجنتیانو په جنت کی ،چی پدغه باندی دلیل دغه قول دنبی ﷺ دی چی فرمایی : ( **اللهم اغفر لأبي سلمة وارفع درجته فی المهديين** ) .[2] ژباړه : ای خدایه ،ته مغفرت وکړۍ ابی سلمة رضي الله عنه ته او ته او چتی کړی دده در جی په لار موندونکوکی .

۵ - شفاعت دنبی ﷺ لپاره دهغوکسانو چی دوی بغیر د حساب او عذاب څخه جنت ته داخلیږی چی پدغه باندی دلیل حدیث دحضرت عکاشه بن محصن رضی الله عنه دی چی په هغه کی راغلی دې چی اویازره کسان به بغیر د حساب او کتاب څخه جنت ته داخلیږې چی نبی ﷺ دده په هکله داسی دعاء وکړله: (**اللهم اجعله منهم** ).[3]

---

١ - سنن أبي داود حديث: ٦٧٣٩، او سنن الترمذي حديث:٢٥٥٢.

٢ - صحيح الامام مسلم ،حديث: ٢١٦٩.

٣ - صحيح البخاري ،حديث: ٥٨١١ ، او صحيح الامام مسلم ،حديث: ٥٤٢ .

ژباړه: ( اى الله ﷻ دى هم ددوى له جملى څخه وګرزوه ).

٦ -شفاعت دنبى ﷺ دهغو كسانو په هكله چى دوى غټ ګناهونه كړى وې دده امت له جملى څخه اود هغو په خاطر دوى جهنم ته داخل شوى وې ، نو نبى ﷺ ددوى شفاعت كوې چى دوى له دوزخ څخه راووزى او نجات پيدا كړى له نورو عذابونو څخه، ددغه دليل دغه قول دنبى ﷺ دى چى فرمايى: (**شفاعتي لأهل الكبائر من أمتي**).[1]

ژباړه : زما شفاعت لپاره دهغوكسانو ثابت دى چى دوى غټ ګناهونه كړى وې زماد امت له جملى څخه، او همدارنګه فرمايى :( **يخرج قوم من النار بشفاعة محمد فيدخلون الجنة يسمون الجهنمين** ) .[2]

ژباړه :يوه ډله خلک به دنبى ﷺ په شفاعت سره ددوزخ څخه راووزې، او جنت به داخل شې چى دوى ته به دوزخيان ويل كيږى.

٧ - شفاعت دنبى ﷺ دهغو كسانو په هكله چى دوى مستحق ددوزخ ګرزيدلى وې دالله ﷻ څخه دده په هكله د تخفيف عذاب غوښتنه كوې، لكه مثال شفاعت دنبى ﷺ دخپل تره ابو طالب په هكله ، چى دليل يى دغه قول دنبى ﷺ دى چى فرمايى: (**لعله تنفعه شفاعتى يوم القيامة فيجعل فى ضحضاح من النار يبلغ كعبيه يغلي منه دماغه**).[3]

---

١ - سنن أبي داود ، حديث: ٤٧٣٩، او سنن الترمذي ، حديث:٢٥٥٢.

٢ - صحيح البخاري, حديث: ٦٥٦٦.

٣ - صحيح بخاري ، حديث: ٣٨٨٥, او صحيح الامام مسلم ، حديث: ٥٣٥.

ژباړه : زه امید لرم زما شفاعت دده په هکله په ورځ دقیامت کومک وکړې په تخفیف د عذاب کی،وروسته زماد شفاعت څخه دده په هکله ، بیا هم دی په عذاب الهې کی اخته دی او په ټول وجود باندی به یی اور احاطه کړی وې چی آن تر بجلکو پوری به یی رسیدلی وې او دده د سر مغز به جوشه وې له شدت دعذابه ).

## دشفاعت د قبلیدلو شرطونه :

قبلیدل دشفاعت د الله ﷻ په دربارکی مشروط دی په دوو شرطونو سره:

**الف**: رضا کیدل د الله ﷻ دشفاعت کوونکی څخه او دهغه شخص څخه چی دهغه شفاعت کیږی، لکه څرنگه چی الله ﷻ فرمایی: (**ولایشفعون الا لمن ارتضی**).[1]

ژباړه: هغوی دهیچا سپارښت نکوي، پرته له هغه چا څخه چی په حق کښي یې دسپارښ په اوریدلو باندی الله ﷻ راضي وي.

**ب -** دوهم شرط دشفاعت دادی چی الله ﷻ باید شفاعت کوونکی ته دشفاعت کړلو اجازه ورکړي بغیر داجازی د الله ﷻ څخه هیڅکله شفاعت نشی کولی، لکه څرنگه چی الله جل جلاله فرمایی :(**من ذا الذي یشفع عنده الا باذنه**) .[2] ژباړه: ( څوک دهغه په وړاندی د هغه له اجازی پرته سپارښت کولای شي )؟

---

۱ -د الانبیآء سورت، ۲۸ آیت.

۲ - د البقري سورت، ۲۵۵ آیت.

## اتم: میزان (ترازو، تله):

د اعمالو تول حق دی، او پدغه باندی ایمان لرل حق او واجب دي، او دغه هغه تله ده چی الله ﷻ په ورځ دقیامت دخپلو بندگانو دعملونو دتول لپاره نصب کوي، او ، ددی لپاره چی خپلو بندگانو ته د دوی د اعمالو سره مطابق مکافات یا مجازات ورکړل شي دغه تله یو محسوسي شی دي چی په سترگو لیدل کیږي او دوی پلی او یوه ژبه لري، چی دبندگانو عملونه دی په دی وسیلی سره تلل کیږي، یاپخپله داعمالو دفاتر وزن کیږي، او یا پخپله عمل کوونکی وزن کیږي مگر معیار د دروندوالي او سپکوالي خپله اعمال دي، نه عمل کوونکی او نه دفاتر داعمالو، نو په همدی وجه سره الله ﷻ فرمایی : (**وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا وَإِن كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ أَتَيْنَا بِهَا وَكَفَى بِنَا حَاسِبِينَ**) .[1] ژباړه: (دقیامت په ورځ به موږ برا بري تول کوونکي تلي گیږ دو، بیابه پر هیچا یو بخری ظلم نه وي ، د چاچی د سپیلني د داني په اندازه څه کړنه وی ، هغه به مونږ ور مخی ته کړو کافی یو مونږه حساب کوونکی) . او همدارنگه فرمایی: (**فَمَن ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ فَأُوْلَئِكَ الَّذِينَ خَسِرُواْ أَنفُسَهُم بِمَا كَانُواْ بِآيَاتِنَا يِظْلِمُونَ**) .[2]

ژباړه: او په هغه ورځ به کټ مټ حق وي تلل د اعمالو، دچاچی دنیکیو پله درنه شوه هغوی به خلا صون وومي، او دچاچي (دنېکیو) پلې سپکې شي، هغوی به

---

۱ - د الانبیآء سورت، ٤٧ آیت.

۲ - د الاعراف سورت، ۸-۹ آیتونه.

په زيان کښې لويدونکي وي ځکه چې هغوی زموږ له آيتونو سره له ظلمه ډک چلن کاوه). او همدارنگه نبی ﷺ فرمايي : (**الطهور شطر الايمان و الحمدلله تملأ الميزان**)[1].

ژباړه: پاکي او نظافت نيمايي ايمان دی، اوکلمه دالحمدلله داعمالوتله ډکه وي او همدارنگه نبی ﷺ فرمايي: ( **يوضع الميزان يوم القيامة فلو وزن فيه السماوات والأرض لوسعت**).[2]

ژباړه: په ورځ دقيامت تله دميزان ودرول کيږی لپاره دتللو د اعمالو، او دومره غټه ده، که چيرته اسمانونه او ځمکی پکی تول شی نو دهغوی دتللو ظرفيت هم لري).

**نهم صراط:**

دپل صراط په موجوديت باندی موږ ايمان لرو، او دغه عبارت دی له هغه پله څخه چی په جهنم باندی بر سيره تيرشويدی او لاندی ور څخه جهنم دی او ډيره د خطر څخه ډکه لار ده، ولی به نوی ځکه چی لاندی ور څخه جهنم دی، او خلک بايد جنت ته دتللو لپاره دهمدی خطرناکی لاری څخه تيرشی، چی يوازنی لاره د دخول دجنت ده، بعضی د دوی به مطابق د اعمالو خپلو په ډير سريع شکل سره پدغه پل باندی عبور کوي لکه دسترگو رپول، بعضی به داسی وي په سرعت کی لکه برق، اوبعضی په شان دباد، او بعضی لکه الوتونکي، بعضی پشان دتيزاسپ

١ - صحيح الامام مسلم ، حديث:٥٥٦.

٢ - کنزالعمال فی سنن الأقوال و الأفعال ، حديث: ٣٩٠٢٢.

او بعضی به په داسی تیزی سره تریږي لکه تیز رفتاره سړی چی منډی به وهي، دټولو څخه وروسته هغه کسان دي، چی خپل ځان به په زور او تکلیف سره وباسي، دهر سړی عبور او تیریدل دده داعمالو مطابق ترسره کیږي، او داسی کسان به هم وي چی د دوی رڼایی په اندازه دیوی کوتی وي او داسی کسان به هم وي چی لاندی دوزخ ته غورځیږی مگر هر څوک چی پدغه پله باندی عبور وکړي، نو هغه به جنت ته داخلیږي، اولین شخص چی پدغه پله باندی تیریږي زمونږ محبوب او رحمة للعلمین حضرت محمد ﷺ به وي، او وروسته لده څخه د ده امت، پدغه ورځ کی به غیر دانبیآء علیهم السلام څخه بل هیڅوک قدرت نلري چی خبری وکړي او نه به دوی اجازه د خبرو لري، او دانبیاء علیهم السلام دعا او خبری به داوی لکه څرنگه چی نبی ﷺ فرمایلی:(**اللهم سلم سلم** ). [1] ژباړه: ای الله ﷻ حفاظت راکړه حفاظت راکړه، او په دوزخ کی به په دواړو طرفونو دپل صراط کی داسی او سپنی چنگکان لږیدلی وي، چی دهغوی اندازه ماسوا دالله ﷻ څخه بل هیچا ته معلومه نده، ځنی خلک به پدغه چنگکانو کی نښلی هم او زخمی کیږی به، أعاذنا الله منها .

**د پل صراط ځني صفتونه:**

د پل صراط ځني صفتونه دادي، چی دی دتوری څخه تیره دی، او دی ویښته څخه باریک نری دی، او ماسواد الله ﷻ څخه چی چاته دنجات اراده وکړی او د دغه پله څخه عبور وکړي هیڅوک نشی کولی چی پدغه پله په سلامتی سره تیر شي، او یو صفت له صفاتو دپل صراط څخه دادی چی هلته ډیره زیاته تیاره ده او

١ - صحیح البخاري ، حدیث: ٨٠٦، او صحیح الامام مسلم ، حدیث: ٤٧٢.

هر څوک چې د دغه فاني دنیا څخه نور د ایمان دځان سره یو نسی نو هیڅکله نشي کولی چې په هغه باندی عبور وکړي، مگر امانت داري او صله رحمي راځي او دپل صراط دواړو طرفونو ته ودریږي او پدی خبره باندی شاهدی ورکوي چې چا دوی مراعات کړي او پاللی دي په دنیا کی او چا دوی ضایع کړیدي او په پل صراط باندی عبور دهر شخص لپاره حتمی او ضروری دی لکه څرنگه چې الله ﷻ پدغه ایت کریمه کی اشاره ورته کړیده او فرمایی: (**وَإِن مِّنكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا كَانَ عَلَى رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَوا وَّنَذَرُ الظَّالِمِينَ فِيهَا جِثِيًّا**).[١] ژباړه: ستاسي څخه هیڅوک داسی نشته چې دوزخ ته ورتلونکی نه وي، دا خو یوه فیصله شوی خبره ده چې دهغی هرو مرو تر سره کول ستا درب په ذمه دي، بیا به موږ هغه کسان وژغورو چي (په دنیا کښي) پرهیز گاران وو، او ظالمان به په همغه کښی پرگونډو غورځیدلي پرېږدو) او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي: ( **ويضرب الصراط بين ظهراني جهنم فأكون أنا و أمتي أول من يجيزه).** [٢] ژباړه: او پل صراط به په وسط دجهنم نصب ودرول شي او زه او زما امت به اولین هغه کسان وي چې د دغه پل څخه عبور کوی.

او دارنگه پیغمبر ﷺ فرمايي: ( **و يضع جسر جهنم قال رسول الله فأكون أول من يجيزه و دعاء الرسل يومئذ اللهم سلم سلم).**[٣]

---

١ - د مريم سورت ، آیه: ٧١-٧٢.

٢ - صحيح البخاري ، حديث: ٨٠٦ .

٣ - صحيح البخاري، حديث: ٦٥٧٣.

**ژباړه:** د جهنم پر مخ به پل صراط کیښودل شی او رسول الله ﷺ فرمایی زه به اول هغه څوک یم چی د هغه څخه تیریږم او پدی ورځ به در رسولانو دعاء دا وي. (**اللهم سلم سلم**) ای خدایا نجات راکړی نجات راکړی.

او همدارنگه نبی ﷺ فرمایی: (**بلغني أن الجسر أدق من الشعر و أحد من السيف**).[1]

ژباړه: ماته داسی خبر را رسیدلی دي چی پل صراط دی ویښته څخه باریک او دی توری څخه تیره دی) او بل حدیث شریف کی رسول الله صلی الله فرمایی: ( **وترسل الأمانة و الرحم فتقومان على جنبي الصراط يمينا و شمالا، فيمر أولكم كالبرق، قال: قلت: بأبي أنت وأمي، أي شيء كمر البرق؟ قال: ألم تروا الى البرق كيف يمر ويرجع فى طرفة عين؟ ثم كمر الريح، ثم كمر الطير وشد الرجال، تجزي بهم أعمالهم ونبيكم قائم على الصراط يقول: رب سلم سلم، حتى تعجز أعمال العباد، حتى يجيء الرجل فلا يستطيع السير الا زحفا قال: وفى حافتي الصراط كلاليب معلقة مأمورة بأخذ من أمرت به فمخدوش ناج ومكدوس فى النار والذي نفس أبي هريرة بيده ان قعر جهنم سبعون خريفا**).[2]

ژباړه: امانت او صله رحم را لیږل کیږي، او دواړه ښی او چپ طرف دپل صراط سره ودریږي، او له تاسی څخه اولین شخص چی په پل صراط، تیریږی دبرق په شان به تیریږي، او بل په شان دباد، او دریم په شان دمرغه، او بل په شان دتیز رفتاره سړي او هر شخص ته به مطابق دعمل بدله ورکول کیږي او له تاسی پیغمبر به پداسی حال په پل صراط باندی ولاړ وي، او داسی به وایی ای الله حفاظت وکړه حفاظت وکړه، تر دی پوری چی خلک د خپلو اعمالو په باره کی

---

١ - صحیح ابن حبان ، حدیث: ۷۳۷۷.

۲ - صحیح الامام مسلم حدیث: ۱۹۵.

عاجز شي او څوک به نشي کولی چې په پل صراط باندی عبور وکړي او یو کس به راشي کوشش به وکړی چې په پل صراط باندی عبور وکړي، مگر په سینه ښویدلو باندی په بل شکل سره طاقت نلري، او بیا نبی علیه السلام و فرمایل، دواړو طرفونو دپل صراط ته جنګکان نصب شویدی او په دی خبره مأمور دي چې هرکله دوی ته د حکم ورکړل شي دیو چا دنیولو نو هغه رانیسي .

**لسم: قنطره:**

همدارنګه موږ ایمان لرو چې هرکله مؤمنان په پل صراط باندی تیر شی نو دوی به په یوبل ځای کې را ایساریږی مخکی لدی څخه چې دوی جنت ته داخل شی چې دهغه نوم (قنطره) دی، او قنطره دهغه ځای نوم دی چې په مابین دجنت او دوزخ کی واقع دی، او مخکی لدی څخه چې مؤمنان جنت ته داخل شی هلته به دوی یو څه وخت تیر وي تر څو چې د دوی په مابین کی کوم حقوق دي یو او پر بل باندی هغه ښه حل او فصل شي او دوی ښه پاک شی نو بیا به د الله ﷻ له طرف څخه دوی ته دجنت د داخلیدلو اجازه ورکړل شي، لکه څرنګه چې پیغمبر ﷺ فرمایلی دي: (**يخلص المؤمنون من النار فيحبسون على قنطرة بين الجنة والنار، فيقتص لبعضهم من بعض مظالم كانت بينهم فى الدنيا حتى اذا هذبوا ونقوا أذن لهم فى دخول الجنة، فوالذي نفس محمد بيده لأحدهم أهدى بمنزله فى الجنة منه بمنزله كان فى الدنيا**).[1]

ژباړه: کله چې مؤمنان له دوزخ څخه نجات پیدا کړي، نو په قنطره کي (چې دجنت او دوزخ په منځ کی یوځای دی) بند کړل شي ودرول شی، دلته نو دهغو

١ - صحيح البخاري ، حديث: ٦٥٣٥.

ظلمونو چې په دنيا کې د دوی په منځ کې وو بدله او قصاص اخيستل کيږي، که چا پر بل چا ظلم کړي وي او يايې بد ور سره کړي وي دلته هغه ظلمونه مجراء او تصفيه کيږي، تر څو چې له دغو ظلمونو څخه پاک او غاړې يې خلاصې شي بيا نو دجنت د داخليدلو اجازه ورته کيږي دجنت دروازې ورته خلاصې شي او جنت ته داخليږي، رسول الله ﷺ نورهم پسې فرمايي، قسم په هغه ذات چې دی محمد ﷺ دنفس اختيار دهغه بلا کيف لاس کې دی چې د جنتيانو څخه هر يو په جنت کې په خپل کور ډير ترهغه شخص بلد دی چې په دنيا کې په خپل کور کې بلد وي.

**يولسم: جنت او دوزخ:**

همدارنگه موږ ايمان او يقين لرو چې جنت او دوزخ دواړه حق دي او اوس دواړه موجود دي، او هيڅکله نه پناه کيږي، او لمنځه نه ځي، بلکې هميشه به دواړه مو جود وي، او دجنت نعمتونه دهميشه لپاره دي، لکه څرنگه چې الله ﷻ دچا په هکله خپل حکم صادر کړي دهميشه پاتې کيدلو په دوزخ کې، لکه کفار او مشرکين او داسې نور، چې دوی دهميشه لپاره په جهنم کې دي، او په هيڅ صورت باندې به له دوزخ څخه نجات پيدا نکړي او نه به جهنم سره له عذابونو پناه شي، مگر موحدين هغه کسان چې په يو الله ﷻ سره ايمان لري او ديوه الله ﷻ عبادت کوي مگر د دنيا څخه دبعضې گناهونو سره تللې وي او په دوی باندې د دوزخ فيصله وشي نو موږ ايمان لرو چې دوی به هميشه په دوزخ کې نه وي، او يا به ديو چا په شفاعت سره د دوزخ څخه ووزی او يا په فضل د ارحم الراحمين ذات سره.

**جنت:** د جنت لغوی معناده باغ جمع یی جنات راځي، او جنان هم راځي، چې دپټېدو په معنا دی او جنت ته ځکه جنت ویل کیږي، چې په ونوکی یی او سیدونکی پټ وي، او هم په نعمتونوکی، ډال ته هم مجن وایی، ځکه چې داغوستونکی جسم پټوي او پیریانو ته، جنات ویل کیږي ځکه چې هغوی هم د انسانانو له سترګو څخه پناه او پټ دي، او دقران کریم په اصطلاح کی (الدارالتی اعدها الله فی الاخرة للمتقین) جنت هغه تلپاتی او ابدی هستوګنځی دی چې الله تعالی دمؤمنانو له پاره تیار کړیدی چې دجنتیانو ټولی غوښتنی پکی پوره کیږي او داسی نعمتونه پکی الله ﷻ لپاره د مؤمنانو تیار کړیدی چې نه سترګو لیدلی او نه په غوږونو دهغه اوریدل شوی او نه دبشر په زړه کی دهغه تصور راګرزیدلی وي دجنت اته درجات په قرآن کریم او احادیثو کی بیان کړی شویدی ۱- جنة عدن ۲-جنةالنعیم ۳-جنة دارالخلد ۴-جنةالمأوی ۵-جنة الفردوس ٦-جنة دارالسلام او زموږ د اهل السنت والجماعت عقیده ده چې اوس هم جنت موجود دی، لکه څرنګه چې الله ﷻ فرمایی: (**أعدت للمتقين**). [1]
ژباړه: تیار شویدی جنت لپاره د پرهیزګارانو) او همدارنګه الله ﷻ دجنت او په جنت کی د اوسیدونکو دهمیشه والی په باره کی فرمایی: (**جَزَاؤُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّاتُ عَدْنٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا رَّضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهُ**). [2]

---

۱ - د آل عمران سورت، ۱۳۳ آیت.

۲ - د البینه سورت، ۸ آیت.

ژباړه: دهغو بدله د هغوی د رب په وړاندی په همېشنیو جنتونو کی اوسیدل دي، دهغو (جنتونو) لاندی به ویالی بهیږي، په هغو کښی به دتل لپاره ژوندکوي.
**دوزخ:** دوزخ دعذاب او بدبختی سرای دی، چی الله ﷻ د کافرانو او نا فرمانو خلکو لپاره تیار کړیدی چی په هغه کی ډیر سخت او بد ترین عذابونه موجود دي او په هغه باندی ډیر سخت زړی او قوی فرښتی مقرری دي چی ډیر سخت خو یه دي او هیڅ رحم پکی نه لیدل کیږی تعداد یی نولس دي او مشریی (مالک) نوم لري، اوکافران به په هغه کی همیشه وي، چی د دوی خوراک به (زقوم) او ضریع وي، او دڅښلو لپاره به جوش او به غسلین او صدید ورکول کیږی (اعاذنا الله منها) او د دوی لپاره به داسی اور تیار شوی وي چی د دنیا اور څخه به ٦٩ درجی حرارت زیات لری او دوزخ به هیڅ نه ډکیږی هر څومره چی پکی انسانان اچولی کیږي نو دی به وایی :
**(هل من مزید).**[١] ژباړه: آیا نور زیات نشته؟
او موږ اهل سنت والجماعت عقیده لرو چی دوزخ اوس هم موجود دی څرنگه چی الله ﷻ فرمایی: **(اعدت للکافرین).**[٢]
ژباړه: تیار کړی شویدی ددوزخ لپاره دکافرانو او همدارنگه الله ﷻ د دوزخ او د دوزخ د اوسیدونکو دهمیشه والی په باره کی موږ ته خبر راکړی دی او فرمایی:
**(إِنَّ اللَّهَ لَعَنَ الْكَافِرِينَ وَأَعَدَّ لَهُمْ سَعِيرًا خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا لَّا يَجِدُونَ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا).** [٣]

---

١ - د ق سورت، ٣٠ آیت.
٢ - د البقري سورت، ٢٤ آیت.
٣ - د الأحزاب سورت، ٦٤-٦٥ آیت.

ژباړه: په هر حال دايقينى خبره ده چى الله پركافرانو لعنت كړى دى او د هغو لپاره يې لمبه شوى اور تيار كړى دى په هغه كښى به كافران دتل لپاره او سيږي، كوم ملاتړ او مرستندوى به ونه مومي .[1]

١ - د ايمان اركان كتاب چې د اسلامي علومو مركز د مديني منوري اسلامي پوهنتون خپور شوى كتاب څخه راخيستل شوى. (جزاهم الله خيرا)

۷

# ایمان په قضا او قدر باندی

**الحمد لله خلق الإنسان وقدر له أجلا مسمى والصلاة والسلام على سيدنا محمد الذي قال: « رفعت الأقلام وجفت الصحف». [۱]و على آله وصحبه أجمعين.**

**قال الله تعالى في محكم كتابه: (إنا كل شيء خلقناه بقدر). [۲]وقال رسول الله ﷺ : «احرص على ما ينفعك و استعن بالله لا تعجز و إن أصابك شيء لا تقل لو أني فعلت كذا لكان كذا و لكن قل قدرالله و ما شاء فعل، فإن لو تفتح عمل الشيطان).[۳]**

**مقدمه:**

الله جل جلاله د پیدایښت د وخت څخه تر ابده پوری، هر هغه شی چی الله جل جلاله اراده د پیدایښت د هغو کړیده د هغو لپاره یی یو منظم پلان وضع کړیدی چی د هغه زمانه ځای ، اندازه، خواص او مشخصات ، غټ او وړوکی او ټول مخلوقات مخکی له پیدایښت څخه مطابق د هغه پلان مشخص کړیدی او مطابق د همغه پلان پکی اجراء ات کیږی.

---

۱ - سنن الترمذي ، حديث: ۲۵۱٦.

۲ - د القمر سورت، ٤۹ آیت.

۳ - صحيح الإمام مسلم، حديث : ۲٦٦٤.

٤ - د الأنعام سورت، ۵۹ آیت.

چی دغه ته په شرعی اصطلاح کی قدر او یا تقدیر وایی لکه څرنگه چی الله ﷻ په خپل معجز ابدی کلام کی ورته اشاره کړیده او فرمایی: (**وَعِندَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لاَ يَعْلَمُهَا إِلاَّ هُوَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَا تَسْقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلاَّ يَعْلَمُهَا وَلاَ حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الأَرْضِ وَلاَ رَطْبٍ وَلاَ يَابِسٍ إِلاَّ فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ**).[١]

ژباړه: له هماغه سره د غیبو کلیگاني دي چی د هغه پرته بل څوک پری نه پوهیږي، په وچه او اوبو( سمندرونو ) کښی چی هر څه دي، له ټولو څخه هغه خبر دی، له ونی څخه کومه رالو یدونکی پاڼه داسی نشته چی هغه پری عالم نه وي، د ځمکی په تیارو پر دوکښی کومه دانه داسی نشته چی هغه ورڅخه باخبر نه وي، وچ او لامده ټول په یو روښانه کتاب کښی لیکل شویدی.

**د قضا تعریف:**

هغه څه چی الله ﷻ وړاندی له پیدایښت د آسمانو او ځمکی څخه پنځوس زره کاله مخکی نقشه کړی او سنجولې وه، د هر شی د پیدایښت د وخت په رارسیدو سره عملی کوي چی دی ته قضا وایي ، یعنې د هغه څه د پیدا کولو پریکړی یی چی مخکی له مخکی کړی وه، او د ځان سره په کتاب کی لیکلی وه چی دا به پیدا کوم ، نو کله یی چی د پیدا کولو وخت را ورسیږی او پیدا یي کړی دی ته قضا وایی ، یعنی د پخوانۍ پریکړی عملي کولو ته قضا وایی، لکه چی الله ﷻ فرمایی : ( **انا کل شيء خلقناه بقدر** ). [٢]

ژباړه: موږ هر شی په یوه ټاکلي اندازه سره پیدا کړی دي.

---

٢ - د القمر سورت، ٤٩ آیت.

## په تقدیر د ایمان دلیلونه:

تر ټولو وړاندی مسلمان باید د الله ﷻ په ټولو ویناوو ایمان او باور ولري.

**۱- دلیل له قرآن کریم:** څخه دا دی چی الله ﷻ فرمایې: ( **انا کل شيء خلقناه بقدر**).[۱] ژباړه : موږ هر شی په یوه ټاکلی اندازی سره پیدا کړی ده ) نو مؤمن باید د الله ﷻ په وینا وو ایمان ولري .

**۲- عقلی دلیل:**

**هر شی ولو که ډیر وړوکی هم وي ، د یو پلان او نقشی په پایله کی منځ ته راځي:**

هر څوک چی وغواړی یو کار تر سره کړي، ولو که هغه کار ډیر وړوکی هم وي ، له کولو څخه وړاندی پری فکر کوي او په اړه یی یو پلان جوړوي ، ځکه هر هغه کار چی پرته له وړاندی فکر کولو او پلان څخه تر سره شي ، جوته ده چی سمه پایله نلري، او سر ته نه رسیږي، نو پر دی اساس تقدیر د الله ﷻ هغه پلان څخه عبارت دي چی وړاندی یی د موجوداتو د پیدایښت لپاره جوړ کړی وه الله ﷻ فرمایی: (**وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلاَّ عِندَنَا خَزَائِنُهُ وَمَا نُنَزِّلُهُ إِلاَّ بِقَدَرٍ مَّعْلُومٍ**).[۲]

ژباړه : او نشته هیڅ ځیز مگر په نزد زمونږ دي خزانی د هغه، او نه نازلو و هغه شی مگر په اندازی معلومی سره نه لږ نه ډیر بلکه سم زمونږ د حکمت او مصلحت سره یعنی څرنگه چی زمونږ حکمت تقاضا کوي په هغه ځیر یی نازولو.

۱ - د القمر سورت، ٤٩ آیت.

۲- د الحجر سورت ۲۱ آیت.

**دلیل په عقیده لرلو د قدر د سنت څخه :**

کله چی له پیغمبر ﷺ څخه پر قدر د ایمان لرلو پوښتنه وشوه ، نو پیغمبر ﷺ پر قدر ایمان لرل د ایمان له ارکانو څخه وشمیرل ، او ویی فرمایل:( **و تؤمن بالقدر خیره و شره** )[1] ژباړه : د ایمان له ارکانو څخه یو د خیر او شر په اندازی ایمان لرل دی چی ټول د الله ﷻ له جانبه دي.

**د تقدیر مرتبی:**

ایمان په تقدیر باندی د څلورو شیانو پرته تحقق نه پیدا کوي :[2]

**اول :** ایمان درلودل د الله ﷻ په علم ازلی باندی چی په هر شي باندی یی احاطه کړیده ، څرنګه چی الله الله ﷻ و عز اسمه فرمایی: (**أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاء وَالْأَرْضِ إِنَّ ذَلِكَ فِي كِتَابٍ إِنَّ ذَلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ**). [3]

ژباړه: آیاته نه پوهیږی چې د اسمان او ځمکی هر شی الله ﷻ ته معلوم دي ، هر څه په یو کتاب کښی لیکل شویدی بیشکه دغه کار په الله ﷻ باندې اسان دې.

**دوهم :** ایمان درلودل په دی خبری سره چی هر شی چی پدغه کایناتو کی واقع کیږي دغه ټول جریانات الله ﷻ د قلم په واسطه په لوح محفوظ کی لیکلی دي لکه څرنګه چی الله ﷻ فرمایی: ( **ما فرطنا فی الکتاب من شيء** ). [4]

---

١ - صحیح الامام مسلم حدیث: ٨.

٢- د ایمان ارکان کتاب چې د اسلامي علومو مرکز د مدیني منوري اسلامي پوهنتون خپور شوی کتاب څخه راخیستل شوی. (جزاهم الله خیرا).

٣ - د الحج سورت ٧٠ آیت.

٤- د الانعام سورت ٣٨ آیت.

ژباړه : ( موږ د هغو د تقدير په ليکنه کښی څه نيمګړتيا نه ده پريښې) او همدا رنګه رسول الله ﷺ فرمايی: (**كتب الله مقادير الخلائق قبل أن يخلق السماوات و الأ رض بخمسين ألف سنة**). [1]

ژباړه : ليکلی دي الله ﷻ تقدير د مخلوقاتو پنځوس زره کاله مخکی د اسمانانو او ځمکی له پيدايښت څخه):

**دريم:** ايمان درلودل د الله ﷻ په مشيئت باندی چی د هر شي اراده وکړي هغه شی سرته رسيږي او د الله ﷻ قدرت هر شی ته شامل دی لکه څرنګه چی الله ﷻ فرمايی: (**وَمَا تَشَاؤُونَ إِلَّا أَن يَشَاءَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ**). [2]

ژباړه: او ستاسی په غوښتنه هيڅ نه کيږی ، تر څو پوری چي د عالميانو د پروردګار الله خو ښه نه وي) او د موږ عزت ترين او محبوب ترين پيغمبر ﷺ څرنګه چی يو شخص ده ته وويل ( **ما شآء الله و شئت**) ژباړه: هر شي چی الله ﷻ وغواړي او ته يی وغواړی نو پيغمير ﷺ په جواب کی ورته وويل : ( **أجعلتني لله ندا قل بل ما شآء الله وحده**).[3] ژباړه : آيا تازه د الله ﷻ سره شريک وګرزولم ، بلکی داسی وايه هر شی چی الله ﷻ وغواړی)

**څلورم:** ايمان درلودل په دی خبره چی پيدا کوونکی د هر شی الله ﷻ دی، لکه څرنګه چی الله ﷻ فرمايی:( **الله خالق كل شيء و هو على كل شيء وكيل**).[4]

١ - صحيح ابن خزيمة، حديث:٢٤٦١.

٢ - د التکوير سورت، ٢٩ آيت.

٣ - سنن النسائي، حديث: ١٠٧٤٢/١٠٧٥٩.

٤ - د الزمر سورت، ٦٢ آيت.

ژباړه : الله ﷻ د هر پیداکوونکې دي او هماغه د هر شي ساتونکی دی)
او همدارنگه فرمایی: ( **والله خلقکم وما تعملون**). [1]
ژباړه : پداسي حال کې چی الله ﷻ تاسی هم پیدا کړی یاست او هغه شیان هم چی تاسی یې جوړوئ) او نبی ﷺ فرمایی:( **ان الله یصنع کل صانع و صنعته**).[2]
ژباړه : بیشکه الله ﷻ هر صنعتکار او د هغه صنعت پیدا کړ پدي.

**د تقدیر اقسام :**

**الف : عمومي تقدیر :** لپاره د ټولو کایناتو ، دغه هغه تقدیر دی چی الله ﷻ پنځوس زره کاله مخکی د اسمانونو او ځمکی له پیدایښت څخه په واسطه د قلم سره لیکلی دی لکه څرنگه چی مخکی پدغه هکله حدیث شریف تیر شو.

**ب: کلنیز تقدیر:** دغه تقدیر د هغو شیانو دی چی باید په طول د یو کال کی انجام شي او سرته ورسیږي او دغه هر کال په شپه دی قدر کی مشخص کیږي ، نو په همدی وجه الله ﷻ فرمایی: ( **فیها یفرق کل أمر حکیم**). [3]
ژباړه: په دغه شپه کی مشخصه کیږی هر امر (کار) د حکیم ذات.

**ج: عمري تقدیر:** عبارت دی له هغه تقدیر څخه چې د انسان ټول مراحل د خلقت پکښی لیکل شوی وي ، یعنی د روح اچولو څخه واخله تر اخر د عمره پوری لکه څرنگه چی په حدیث شریف کې مضمون همداسې دي.

---

۱ - د الصافات سورت، ۹٦ آیت.
۲ - شعب الایمان للبیهقي، حدیث: ۸۷.
۳ - د الدخان سورت ٤ آیت.

**د: ورځنی تقدیر**: او دغه تقدیر په حقیقت کی عبارت دی له هغو اعمالو څخه چی هر ورځ را منځه ته کیږي لکه مثال: عزت ورکول ، ذلت ورکول ، ببښل ، وژل ، ژوندی کول ، او داسی نور ، نو په همدی اساس الله ﷻ فرمایی:

**(یسأله من في السماوات والأرض کل یوم هو في شأن )**.[1]

ژباړه: په اسمانونو او ځمکه کښی چی هر څوک دي، ټول خپلی اړتیاوی له همغه څخه غواړي، هره ورځ هغه په نوی شان کښی دی .

**د بندگانو افعال:**

هغه افعال چی الله ﷻ چی په دغه جهان کی پیدا کوي په دوه ډوله باندې ویشل شویدی.

**اول** : هغه افعال چی مستقیماً یی الله ﷻ سرته رسوي او د خپلو بندگانو په منځ کی یی اجرا او عملی کوي او هیڅوک پکی اختیار او اراده نلري ، فقط د الله ﷻ په ارادی سره موقوف وي او سر ته رسیږی لکه: ژوندی کول، مړه کول، او مرض او شفا ورکول او رزق کمول او زیاتول او داسی نور چی دغه کارونه صرف او صرف د الله ﷻ به قدرت او تصرف کی دي چی نور څوک په اندازی د ذری سره تصرف هم نشی پکی کولی څرنگه چی الله ﷻ فرمایی: ( **والله خلقکم و ما تعملون**).[2]

---

۱- د الرحمن سورت ۲۹ آیت.

۲ - د الصافات سورت، ۹٦ آیت.

ژباړه : حال دا چی الله ﷻ تاسی او هغه اعمال چی تاسی یی سر ته رسوی پیدا کړی دي) او همدا رنگه فرمایی:(**الَّذِي خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيَاةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا وَهُوَ الْعَزِيزُ الْغَفُورُ**). [1]

ژباړه : هغه ذات چی مرگ او ژوندی یې پیدا کړ، تر څو چی تاسی وازمایی، وگوري چی ستاسی څخه کوم یو ډیر ښه عمل کوونکی دی ، او هغه زورور او ښښونکی ذات دې .

**دوهم :** هغه افعال دي چی پخپله انسان یی د سرته د رسولو طاقت لري او دی اراده او اختیار هم پکی لري او پخپله اداري سره یی سر ته رسوي بغیر د کوم اجبار او اکراه څخه ، ځکه الله ﷻ د دغو اعمالو د اجرا کولو اختیار د ته ور کړی دی لکه الله ﷻ چی دی خبری ته اشاره کړیده او فرمایی: ( **لمن شآء منكم أن يستقيم** ). [2]

ژباړه : ستاسی څخه هر هغه چاته ( نصیحت دی) چی غواړی په سمه لار لاړشی او همدارنگه فرمایی( **فمن شآء فليؤمن و من شآء فليكفر**). [3] ژباړه : ( اوس که د چا زړه غواړی ودې منی او که د چا زړه غواړی منکر دي شي) نو په همدی علت سره بندگان د ښو کارونو په کولو سره لایق د ستایلو دي ، او په کولو د ناروا کارونو سره لایق د سزا او رټنی دي، او الله ﷻ هیڅکله عذاب یو چاته نه ورکوي مگر هلته چی ده په خپله ارادی سره د هغه ارتکاب کړی وي نو په همدی اساس سره الله

---

۱ - د الملک سورت، ۲ آیت.

۲ - د التکویر سورت، ۲۸ آیت.

۳ - د الکهف سورت، ۲۹ آیت.

ﷻ فرمايی: ( **و ما أنا بظلام للعبيد**)[1] ژباړه : ( او زه پخپلو بندگانو باندی هيڅ ظلم کوونکی نه يم ) يو څوک چی د بام څخه په واسطه د زينی راکوز شي په خپلی ارادی سره نو دغه د ده عمل ته اختياری عمل ويل کيږي مگر که څوک د بام څخه يو بل څوک راوغورځوي نو دغه عمل ته عمل اجباری وايی چی دغه سړی په خپل اختيار سره ندی کړی بلکی يو بل شخص دی په زور د بام څخه را گازار کړو .

## د بندگانو د افعالو پيدا کيدل:

الله ﷻ چی څرنگه بندگان پيدا کړيدی نو د هغوی مربوط اعمال يی هم پيدا کړيدي، مگر انسان يی مجبور محض ندی گرزوی بلکه هغه ته يی يو څه اختيار او قدرت هم ورکړيدی نو په همدی اساس سره انسان ته مکافات او مجازات ورکول کيږي چی ده هر څه په خپل اختيار او قدرت سره سر ته رسولی دي ځکه دی (کاسب) کسب کوونکی د دغو اعمالو دی، هر کله چی دی ايمان راوړی نو په خپلی ارادی او اختيار سره او که کافر کيږی هم نو په خپلی ارادی او اختيار سره دا کارونه کوي نو مکافات او مجازات مستقيماً ده د اعمالو سره ارتباط پيدا کوي.
د دی مثال داسی دی چی موږ وايو چی دغه ميوه د دغی ونی او يا دغه حاصل د دغی ځمکی دي ، او پيدا کوونکی د دغی ميوی او حاصل اودونې الله ﷻ دی، پس نسبت د ميوی ونی ته پدی اعتبار سره دی چی د هغی څخه لاس ته راغلی ده يا نسبت د حاصل ځمکی ته پدی اعتبار سره دی چی د هغی حاصلات دي ، نو نسبت د اعمالو الله ﷻ ته پدی نسبت سره شويدی چی خالق د دغو اعمالو

---

۱ - د ق سورت، ۲۹ آيت.

الله ﷻ دی او نسبت یی بندگانو ته پدی اعتبار شویدی چی کاسبین د دغو اعمالو بندگان دي، نو هیڅ تناقض منځ ته رانغی ځکه دا خبره معقوله ده چی د یو شی نسبت دوو شیانوته وشي په اعتبارتو مختلفو و سره، نو په همدی تشریحاتو سره، شریعت ، قضا او قدر الهی د یو بل سره متفق دي ، او هیڅ تناقض د دوی په منځ کی نشته دی، نو همدارنگه الله ﷻ فرمایی:

**( والله خلقكم و ما تعملون).** [1]

ژباړه: ( حال داچی الله ﷻ تاسی او هغه اعمال چی تاسی یی سرته رسوی پیدا کړیدی.

**د بنده مکلفیت د تقدیر په باره کښی:**

دوه شیان په هر مؤمن بنده باندی واجب دي د تقدیر په هکله.

**اول:** د ښو کارونو په کولو کی او د بدو کارونو څخه د اجتناب په برخه کی د الله ﷻ څخه کومک او استعانت طلب کول، او داسی دعاء کول چی یا الله ﷻ په ښو کارونوکی زما سره کومک وکړه او توفیق راکړه چی سر ته یی ورسوم او بد کارونه په ما باندی سخت وگرزوه او د هغو څخه اجتناب ماته نصیب کړه او په هغه باندی توکل وکړي، او د هر خیرکار په کولو او د هر شر په ترک کولو هغه ته ځان محتاج وگڼي.

---

۱ - د الصافات سورت ۹٦ آیت.

نبی ﷺ فرمایی: ( **أحرص علی ماینفعک و استعن بالله لا تعجز و ان أصابک شيء لا تقل لو أني فعلت کذا لکان کذا و لکن قل قدر الله و ما شآء فعل فان لو تفتح عمل الشیطان**)[1].

ژباړه : ( هغه شی یی تاته نفع رسوي په هغه باندی حریص او سیبړه او دالله ﷻ څخه کومک طلب کړه او مه عاجز کیږه او که چیرته تاته یو مشکل ورسیدلو او ته ورسره مخامخ شولی، نوداسی مه وایه که می دا کار نوی کړی نو شاید داسی نوی شوی او ددغه مشکل سره به نه مخامخ کیدلم، بلکه داسی ووایه چی الله ﷻ چی هر شی مقدر کړی ووا دهغه اراده شویی وه نو هم داسی وشول، ځکه کلمه د (لو) د شیطان د وسوسو دروازه د خلکو پر مخ خلاصه وی .

**دوهم**: شی چی بر مؤمن باندی د تقدیر په هکله واجب دي دا دی چی هر کله د ته کوم مصیبت او مشکل ورسیږی نو باید په هغه باندی صبر وکړی او جزع او فزع مخلوق ته ونکړی چی سبب دقهر او غضب دالله ﷻ ونه گرزي، او دغه یقین ولری چی دغه دالله ﷻ قضا، او قدر دی نو باید په هغه باندی راضی شی او دی پوه شی چی هر هغه شی چی دته رسیدلی دی واپس کیدی نشی، او د کوم شی څخه چی ده نجات پیداکړی دی هرگز دته نشی رسیدلی، څرنگه چی پیغمبر ﷺ فرمایلی دی :

(**و اعلم أن ما أصابک لم یکن لیخطئک و أن ما أخطأک لم یکن لیصیبک**) .[2]

١ - صحیح الامام مسلم ،حدیث: ٢٦٦٤.

٢ - صحیح ابن حبان ،حدیث:٧٢٧.

ژباړه: پوهه شه هر هغه شی چې تاته رسیدلی دي نو هیڅ کله نشی کیدی چې تاته ونه رسیږی بلکه خامخا به تاته رسیږی، او په تحقیق سره هر هغه شی چې تاته ندی رسیدلی هیڅ ممکنه نده چې تاته ورسیږی.

**د اسبابو استعمال:**

هغه حالات او مشکلات چې انسان ته مخامخ راځی او انسان ورسره مخامخ کیږی په دوه ډوله ویشل شویدی:

**اول:** هغه دی چې ظاهراً چاره لری او انسان کولی شی چې دهغه چاره وکړی او هغه مشکل حل کړي.

**دوهم:** هغه دي چې انسان هیڅ نشي کولای چې هغه دفع کړی دده فریاد مخلوق ته هم هیڅ فایده نکوی بلکه ددغه حل او مشکل دفع کول صرف او صرف د الله ﷻ په قدرت کی وی او د مخلوق د طاقت او قدرت څخه بالاتر وي نو په مؤمن بنده باندی لازم دي چې بغیرد چون او چرا څخه هغه قبول کړی او دالله ﷻ په قضا او قدر راضی شي چې دغه ته استعانت فوق الأسباب وایی چې دبشر د طاقت څخه بهردی،الله ﷻ مخکی لدی څخه چې یو مصیبت او مشکل واقع شی عالم وو، مگر معنا ددی خبری دانده چې څرنگه الله ﷻ پوهیدلو نودی وجه سره الله ﷻ پخپله هغه شخص په مصیبت اخته کړلو داسی نده بلکه مشکل او مصیبت پدغه دلیل سره مخی ته راغی، چې ددی د پیدایښت اسباب پیدا شوی وو که چیرته علت د راتلو ددغه مشکل یا مصیبت پخپله دغه شخص وی، مثلاً : هغه اسباب که چیرته ده هغو څخه استفاده کړی وی نو امکان ددی خبری موجوده وو چې دی په دغه مصیبت یا مشکل کی نوی واقع شوی، سره ددی چې

دين دته امر کړی دی په استعمال ددغو اسبابو مګر ده دغه اسباب استعمال نکړل نو په دغه صورت کی دغه شخص ملامت دی ځکه ده هغه اسباب د نجات استعمال نکړل چی دين نه دهغو داستعمال رهنمايی کړی وه او هغه يی بی اهميته وګڼړل نو ځکه ملامتيا پده راځی مګر که چيرته ده چاره نه درلوده او قدرت يی دهغه په دفع کولو نلرلو په دغه صورت کی دی معزوره بلل کيږي، نو خلاصه دی خبری داده چی استفاده داسبابو ددنيا څخه په هيڅ وجه منافات د تقدير او توکل سره نلری، ځکه توکل دی ته ويل کيږی چی ته مادي اسباب د دنيا اختيار کړه او دهغو څخه استفاده وکړه نو نتيجه دکار الله ﷻ ته وسپاره او په تقدير الهی کی هم استعمال داسبابو ليکل شويدی او دهغو د استعمال څخه هيڅ کله منع نده راغلی اما که چيرته بنا په قضا الهی ده ته يو مشکل پيښ شو نو پده باندی لازم دي چی په هغه باندی صبر وکړی او دالله ﷻ قضا ته تسليم شي او داسی ووايی: (**قدر الله وماشآء فعل**). [1]

ژباړه: هغه شی چی الله ﷻ مقدر کړی او دهغه اراده وشي هغه واقع کيږی.

او مخکی لدی څخه چی دغه واقع شی نو لازم دي په مؤمن باندی چی د هغو مشروع اسبابو څخه استفاده وکړی، چی دين ده ته روښانه کړيدی او بايد تقدير په تقدير سره دفعه کړي پيغمبرانو عليهم السلام هميشه دهغو اسبابو څخه استفاده کړيده چی دوی د خپلو دشمنانو څخه ساتي سره لدی چی ددوی په وحی الهی او دالله ﷻ په حفاظت سره تأييد شوی وو ځکه دوی خپلو امتونو ته دغه درس ورکول غوښتل چی د اسبابو څخه استفاده کوم منافات دتوکل او تقدير

---

١ - صحيح الامام مسلم ، حديث: ٢٦٦٤.

الهی سره نلري او دمونږ عزت مند پیغمبر ﷺ سره له ډیر سخت توکل چی په الله ﷻ یی درلود ځکه دی سیدالمتوکلین وو بیا هم دالله ﷻ څخه همیشه دعا غوښتله او داسبابو څخه یی استفاده کوله لکه څرنگه چی الله ﷻ فرمایی: (**وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدْوَّ اللّهِ وَعَدُوَّكُمْ**).[1]

ژباړه: او تاسی تر خپل وس او طاقت او تیارزین کړی اسونه، دهغوی د مقابلی لپاره برابر کړی تر څو چی پدی وسیله د الله ﷻ په دښمنانو پر خپلو دښمنانو او پر هغو نورو دښمنانو هیبت راولئ او همدارنگه فرمایی : (**هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولًا فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِن رِّزْقِهِ وَإِلَيْهِ النُّشُورُ**).[2]

ژباړه: هغه ذات چی ستاسی لپاره یی ځمکه پسته هواره او تابع کړیده دهغی پرسینه باندی گرځی او دالله ﷻ روزي خوری د هماغه حضور ته ستاسی په دوهم ځل ژوندی کیدو سره ورتگ دی او رسول الله ﷺ فرمایی: ( **المؤمن القوي خير وأحب الى الله من المؤمن الضعيف و في كل خير، أحرص على ما ينفعک و استعن بالله ولا تعجز و ان أصابک شيء فلا تقل لو أني فعلت كذا و كذا و لكن قل قدر الله و ما شآء فعل فان لو تفتح عمل الشيطان**).[3]

ژباړه: مؤمن قوی بهتر او په نزد د الله ﷻ ډیر محبوب دی له مؤمن ضعیف څخه او په دواړوکی خیر شته دی، هر شی چی تاته نفع رسوی په هغه باندی حریص اوسه ، او دالله ﷻ څخه کومک طلب کړه او مه عاجز کیږه له دعا او کومک غوښتلو

---

١ - د الانفال سورت ٦٠ آیت.

٢ - د الملک سورت ١٥ آیت.

٣ - صحیح الامام مسلم، حدیث: ٢٦٦٤.

څخه او که چیرته تاته یو ناخوخ دتاد طبعیت څخه مخالف کارورسیدلو، نو داسی مه وایه که چیرته ما داسی کړی وی نو داسی حالت به مخی ته راتللو، بلکه داسی وایه: (**قل قدر الله و ما شآء فعل**) .هغه شی چی الله ﷻ مقدر کړیدی او دهغه اراده وشی هغه کیږی ځکه کلمه د (اگر) ویلو دشیطان دخرابکاری او تباهی دروازه انسان په مخ باندی راخلاصوي او په قسم قسم گناهونو کی انسان اخته کوي او مدفف دوانی باندی یی اخته کوی.[1]

که چیرته یو دهقان وغواړي چی دده د ځمکی څخه ښه حاصلات لاس ته ورشي، نو په ده باندی لازم دي چی اول خپله ځمکه ښه قلبه کړی او بیا ودپکښی ښه اعلی تخم شيندي او په وخت د ضرورت کی باید ښی اوبه ورکړي، او ترڅو پوری یی چی حاصلات لاس ته نوی راغلی باید دی د خپلی ځمکی جدی مراقبت وکړی او هیڅ کله ورڅخه غفلت ونکړي.

او الله ﷻ چی هر وخت نیکی او بدی دموږ لپاره په تقدیر کی لیکلی ده نو دموږ انتخاب او ترجیح ته الله ﷻ ترجیح ورکوی او اصل اساس همغه گرزوي، یعنی موږ چی کومه لاره انتخاب کړه همغه لاره الله ﷻ د انسان لپاره اساس گرزوي ځکه انسان ته چی مکافات یا مجازات ورکول کیږی دده د کسب مطابق ورکول کیږی نو هر کله چی موږ خپل مسؤلیت قبول کړلو، نو دغه قبلول د مسؤلیت دغه خبره هم ایجابوي چی موږ باید د انتخاب او ترجیع حق هم ولرو چی کومه لاره مونږ انتخاب کوو بغیر داجبار او اکراه څخه، حیوانات عقل او اراده کوم دواړه چی

[1] - د ایمان ارکان کتاب چې د اسلامي علومو مرکز د مدیني منوري اسلامي پوهنتون خپور شوی کتاب څخه راخیستل شوی. (جزاهم الله خیرا).

دمونږ په مابین کی مشهور دي او انسان ته ورکړل شویدی نو دوی داسی شی نلري ، او دوی ددی څخه عادی دي نو په همدی اساس دوی ته هیڅ مسؤلیت ندی متوجه او دوی مکلف ندي.

**قدر د الله ﷻ د محیط علم پایله ده چې پرهر څیز عالم دی:**

پوهان د ځیرنو په پایله کې وتوانیدل چی دکسوف او خسوف نیټه وړاندی له وړاندی معلومه کړي، او په اړه یی داسی وایی چی: هر څوک پری پوهیږی چې د پوهانو وړاندوینه دکسوف او خسوف لامل ندی، ددغه ډول حوادثو په اړه وړاندوینه، ددی کارونو په واقع کیدلوکې هیڅ ډول اغیزه نلری، بلکه وړاندوینه له وسایلو څخه د کار اخیستنې په پایله کی تر سره کیږی او وړاند وینه هیڅ ډول اغیزه دنوموړیو حواثو پر واقع کیدلو نه لري .

الله ﷻ دواسع او محیط علم خاوند دی نو ځکه د بندګانو پر ټولو کړنو پوهیږي او داوضعیت هیځ ډول فشار پر موږ نه راوړی او زمونږ څخه مسؤولیت نه سلبوی یعنی واک او اختیار راڅخه نه اخلی، یعنی دا چی له وړاندی څخه زموږ د تقدیرونو لیکل یوازی او یوازی د الله ﷻ د محیط علم پایله ده چی هغه پرهر څه عالم دی څه چی په تیره زمانه کی شوی دي، او څه چی اوس کیږی او همدارنګه څه چې په راتلونکی تر سره کیږي په ټولو وړاندی له وړاندی څخه خبردی .

**تقدیر زموږ څخه مسؤولیت نه سلبوي:**

الله ﷻ د تقدیر دلیکلو پرمهال له وړاندې بنده ته د جزیی ارادی حق ورکړی دی چی په پایله کې یې کولی شی د ښه او بد ، سم اوغلط تر منځه توپیر وکړی او د

تاکلو وآک یی لرې نو الله ﷻ د انسان دټاکنی (انتخاب) په پایله کی د هغه تقدیر لیکي .

که چیرته یو انسان نیک عمل تر سره کړی ، او له الله ﷻ څخه اطاعت وکړی نو د خپلی کړنی مطابق ورته اجر ورکول کیږی او دا اجر د بنده د ټاکنی په پایله کی ورته ورکړل شو او که چیرته ورڅخه گناه وشي نو په پایله کی د جزا مستحق کرځی البته دا باید هم هیر نه کړو چی په توبه او استغفار سره هر وخت الله ﷻ گناهونه بخښی ولی زموږ دبنده په حیث دنده داده چی له گناهونو څخه ځان وژغورو .

**الله ﷻ انسان ته عقل ورکړی دی :**

الله ﷻ انسانانو ته پرحیوانانو برتری او غوره والی ورکړی دی او ددی لپاره چی ښه او بد سره جلا کړی او ترمنځه یی تو پیر وکړای شی عقل یی ورته ورکړی دی او ددی تر څنگه یی دښی او بدی لاری د ټاکلو حق هم ورکړی دی پدې معنا چی انسان جزیی اراده لری او کولای شي په خپله خوښه انتخاب وکړی.

الله ﷻ د انسانانو حیواناتو او بوټو تقدیر په یو شکل ندی گرځولی بلکی یو تر بله توپیرلري دانسان تقدیر یی په یوه ځانگری بڼه لیکلی دی او ورته یی ویلی دی عقل می درکړی دی او دعقل څخه په گټی اخیستنی سره کولای شی سم او ناسم ښه او بد سره جلا کړی او ټاکنه په خپله خوښه وکړی او هره لاره چی خوښوی او دځان لپاره یی ټاکی الله ﷻ د ده د ټاکنی په پایله کی دده تقدیر لیکلی او انسان د خپلو کړنو مسؤول گڼل کیږی او ورته وایی چی د هری کرنې

بدله که ښه وي او یا بده خامخا به یې وګوري لدې امله الله ﷻ غواړي چې موږ زموږ په کړنو سره وازمایې چې څوک څه کوی .
ولې د بلوغ سن ته تر رسیدو وړاندی فرصت ورکول کیږی چې دینی ښوونه او روزنه تر سره کړی او که پدغه وخت کی تری کومه ګناه ترسره شي نو حساب ورسره نه کیږي .

**انسان انتخاب کوي، او الله ﷻ انتخاب شوی څیز پیدا کوي:**

انتخاب کړل د انسان پدی معنا سره دي چې ده د ښه او یا بد کار کولو لپاره زمینه پیداکړله او دهغو لپاره سببونه پیداکوي، هر ښه یا بد کار چې موږ یې سرته رسوو هغه خامخا نتیجه او اثرات لري، دغه نتایج که وي ښه ویا بد، الله ﷻ یې خالق دی او کاسب خپله بنده دی پیداکول د نتیجی بد او قبیح ندی بلکه دغه بد او ناوړه دي چې انسان خپله اراده پداسی شکل او طریقی سره استعمال کړي چې د هغو څخه بدی نتیجی لاس ته راشی دا خبره معلومه او واضحه ده هره حادثه چې موږ ورسره مخامخ کیږو خامخا اسباب لري.
علت د منځته راتللو ددغو اسبابو یا موږ پخپله یو او یاد موږ مور او پلاردي او یا دوستان، جامعه ، او یا نورخلک .

**الله ﷻ پر ټولو پیښوله لاملونو او پایلو سره له ازل څخه خبردی:**

ددی لپاره چې انسان سل په سلو کی پوه شی چې د چاسره واده کوي او دځواولادونو پلار به جوړیږی نیکبخته که بد بخته به وی، باید انتظار وباسی تر څو دغه ټولی پیښی یوه تر بلي پسی واقع شی او دعمل جامه واغوندی .

ولی الله ﷻ پدی ټولو له وړاندی څخه پوه دی هره پیښه وړاندی لدی څخه چی ټاکلی وخت یی راورسیږی الله ﷻ پدی خبر دی او لکه څرنګه چی موږ د خپل لاس ورغوی ګورو همدارنګه الله ﷻ وړاندی له وړاندی څخه هره پیښه او پایله یی یو ځای سره ګوری او پری عالم دی یعنی دا چی د الله ﷻ په وړاندی څه شی دتیر اویا راتلونکی په معنا کوم توپیر نلری هغه ته دواړه یو شان دی او دهغه په وړاندی تیر وخت او یا راتلونکی مطرح ندی بلکه علم یی په ټولو زمانو باندی احاطه کړی ده .

الله تعالی تیر حالت او راتلونکی ټول سره یو ځای ګوري او پری عالم او تری خبر دي ځکه خو د خپل علم له مخی د هر څه تقدیر وړاندی له وړاندې لیکی نو که چیرته انسانان په آخرت کی نیوکه د اعتراض ولري، نو ورته به ووایي، چی تاددی لاملونو په وجه بده پایله درلوده او ځکه دی پایله بده رراووتله او موږ یوازی لیکل کړی دي او ټاکنه ستا په لاس وه او تا پخپله کړی ده لیکل او پیداکول زموږ کاردی او مسؤولیت ستا پر غاړه دی .

**د تقدیر په اړه څو آیتونه :**

یوه موضوع چی په قرآن کریم کی ورڅخه بحث شویدی د تقدیر مسأله ده لدی امله په تقدیر باندی ایمان درلودل فرض دي ، نو څوک چی له تقدیر څخه انکار کوي دایمان له دایری څخه ووت الله ﷻ فرمایی: (**مَا أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي أَنفُسِكُمْ إِلَّا فِي كِتَابٍ مِّن قَبْلِ أَن نَّبْرَأَهَا إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ**). [1]

---

١ - د الحدید سورت، ٢٢ آیت.

ژباړه : نه رسيږی هيڅ مصيبت آفت غم په ځمکه او نه ستاسی په ځانونوکی مگر هغه خو ليکلی شويدی په کتاب (لوح المحفوظ) کی پخوا له هغی څخه چی پيداکړه مونږ هغه (په دنيا کی) بيشکه دا (اندازه) پخوا له پيداکولو پر الله ﷻ ډيره آسانه ده ).

او همدارنگه فرمايی: (**قُل لَّن يُصِيبَنَا إِلاَّ مَا كَتَبَ اللّهُ لَنَا هُوَ مَوْلاَنَا وَعَلَى اللّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ**). [1]

ژباړه: ووايه ای محمد ﷺ دوی ته له سره به ونه رسيږی موږ ته مگر همغه چی ليکلی دی الله ﷻ زموږ لپاره هم دغه الله ﷻ دی مولا ( کار جوړ وونکی) زموږ او (خاص) پرهم دغه الله ﷻ باندی دی توکل وکړی مؤمنان (دهيلو په ترسره کيدلو د اړتياوو په پوره کيدلو او د آفتونو، څخه په ژغورلو).

---

١ - د التوبه سورت، ٥١ آيت.

٨

# د شهادت کلمه

**الحمد لله وكفى والصلاة والسلام على رسول الله، وعلى آله وأصحابه أجمعين.**

**أما بعد:**

**قال رسول الله ﷺ: «بني الاسلام على خمس: شهادة أن لآ إله إلا الله وأن محمدا رسول الله ...»**[1].

رسول الله ﷺ فرمايي: اسلام پنځه بناوې لري: لومړی او لوړه بنايي عبارت دی: د شهادت ورکولو څخه پدې باندې چې هيڅ لا ئق د عبادت او معبود شتون نلری پرته د الله پاک واحد لاشريک ذات څخه او پدې باندې چې محمد ﷺ د هغه را ليگل شوی پيغمبر دی.

**د (لا اله الا الله) معنا دا دی:**

هيڅ لا ئق د عبادت او حقه سره معبود شتون نلری، دا جمله ټول هغه څيزونو چې د الله ﷻ پرته د هغوی عبادت کيږی قطعاً او کُلا نفيې کوي .

(الا الله): دا جمله اثبات د دې حقيقت کوې چې عبادت په تولو معانيو سره يوازی د الله پاک لپاره دی چې هغه واحد لا شريک ذات دی.

---

١ - صحيح الامام البخاري، حديث: ٨ او صحيح الامام مسلم، حديث: ١٦.

**د (لآ اله الا الله) شرطونه:**

**۱ـ په هغې علم او پوهه در لودل**: د هغې په مفهوم او معنا باندې پوهه او علم لرل. څرنگه چې الله ﷻ فرمايي: (**فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ**).[۱]

ژباړه: ( نو پوه شه چې الله ﷻ پرته بل څوک معبود نشته).

دا رنگه الله ﷻ فرمايي: (**الا من شهد بالحق و هم يعلمون**)[۲] .

ژباړه: ( مگر هغه څوک چې د خپلې پوهې څخه شهادت ورکړي).

رسول الله ﷺ فرمايي: ( **من مات و هو يعلم أنه لآ اله الا الله دخل الجنة**).[۳]

ژباړه: ( څوک چې په داسې حال کې مړشي چې دی پوهه لري پدې باندې چې د الله جل جلا له پرته څوک لا ئق د عبادت شتون نلری نو جنت ته به داخل شی).

**۲ـ په هغې يقين در لودل چې هيڅ شک ونلری:**

د توحيد کلمې ويونکی ته لازم دی چې د هغې په مدلول او مفهوم باندې پوره يقين ولري، که چيری په زړه د چا کې هغې په وړاندې شک او ترديد شتون ولری نو د هغې ويلو څخه کومه گټه نشی پورته کولای؛ ځکه الله ﷻ فرمايي: (**إِنَّمَا ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُواْ**).[٤] ژباره: ( په تحقيق سره

---

۱ - د محمد سورت: ۱۹ آيت.

۲ - د الزحرف سورت:۸٦ آيت.

۳ - صحيح الامام مسلم، حديث: ۲٦.

٤ - د الحجرات سورت : ۱۵ آيت .

مؤمنان هغه څوک دي چې په الله ﷻ او دهغه په رسول باندې ایمان لري او بیا شک لرونکي نوي).

دا رنګه الله ﷻ فرمایي: **(والَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ وَبِالآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ).**[1] ژباړه: ( هغه کسان دي چې دوی ایمان لري په هغه څه چې تاته او دستانه وړاندې نازل شویدی او دوی په آخرت هم یقین لري).

**۳ـ اخلاص لرل چې د شرک خلاف دی:** عبادت او دین کې د اخلاص په اړوند الله پاک ﷻ فرمایي: **(وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ ).**[2] ژباره: ( او دوی ته پرته لدینه کوم امر شوی نوه چې د الله ﷻ عبادت وکړي په داسې حال کې چې خالص او یوازې ده ته د دین ګرځونکي وي).

او رسول الله ﷺ پدې اړوند فرمایي: ( **فان الله حرم على النار من قال لآ اله الا الله يبتغي بذالک وجه الله)**[3]. ژباره: (الله ﷻ په اور باندې هغه څوک حرام کړیدی چې ویلې وی: لآ اله الا الله په داسي حال کې چې پده سره یوازې رضا د الله ﷻ یې مراد وی).

**۴ـ صداقت او رښتینولي در لودل چې قطعاً دروغ پکې نوي:**

داسی رښتینوالي چې له هر ډول دروغو او ټګی برګې سره تړاو ونلري، چې د زړه له کومي څخه و ویلي شي. الله جل جلالاله فرمایي: **(الٓمٓ أَحَسِبَ ٱلنَّاسُ أَن يُتۡرَكُوٓاْ**

---

۱ - د البقري سورت ٤ آیت.

۲ - د البینه سورت ۵ آیت .

۳ - صحیح الامام البخاري، حدیث:٤٢٥، ١١٨٦، ٥٤٠١.

**أَن يَقُولُوٓاْ ءَامَنَّا وَهُمۡ لَا يُفۡتَنُونَ وَلَقَدۡ فَتَنَّا ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۖ فَلَيَعۡلَمَنَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْ وَلَيَعۡلَمَنَّ ٱلۡكَٰذِبِينَ**[1]. ژباړه:آلم آیا خلک گومان کوي چې دوی پرښودل شي یوازې په دې وینا د دوی چې موږ ایمان لرو او دوی ازموینه نوي شوی په تحقیق سره موږ ازموینه کړیوه په هغو کسانو چې دوی نه وړاندې وه ددې لپاره چې الله پاک رښتوني او دروغ ویونکي معلوم کړي.

رسول کریم ﷺ فرمایلي دي: (**ما من أحد یشهد أن لآ اله الا الله و آن محمداُ رسول الله صادقا من قلبه الا حرمه الله علی النار** )[2].

ژباړه : دهر څوک چې د زړه له کومي او د اخلاص څخه په دې شهادت ورکړی چې : ( **لا اله الا الله** ) او په دې چې محمد ﷺ د الله رسول دی، الله ﷻ به هغه د جهنم په اور حرام کړي).

## ۵ـ الله پاک او د هغه را لیګل شوی رسول سره دوستي او مینه کول:

داسی مینه چې د هر ډول دښمنۍ څخه لاس واخلي الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ سره به داسې مینه او دوستي لري چې د هر ډول دښمنۍ او تربګني څخه لاس واخلي، تر څو پوره اړیکې یي د الله توحید سره قایمې شي، لکه څرنګه چې الله پاک فرمایي: (**وَالَّذِينَ آمَنُواْ أَشَدُّ حُبًّا لِّلّهِ**)[3]. ژباړه: هغه کسان چې ایمان لري له الله ﷻ سره ډیر زیات مینه لري). دا رنګه الله پاک فرمایي: (**يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَن يَرۡتَدَّ**

١ - د العنکبوت سورت ١ - ٣ آیتونه.
٢ - صحیح الامام البخاري ، حدیث ١٢٨ او صحیح الامام مسلم، حدیث: ٣٢.
٣ - د البقري سورت: ١٦٥ آیت.

**مِنكُمْ عَن دِينِهِۦ فَسَوْفَ يَأْتِي ٱللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُۥٓ**﴾[1]. ژباړه: ای مؤمنانو کوم یو چې د ستاسو څخه د دين خپل نه واوړيدو، نو الله پاک به په داسې قوم سره راتګ وکړي چې هغوی لره خوښوي او هغوی ده لره خوښوي.

**٦ـ د الله ﷻ په وړاندې سوچه تسليموالی:**

الله پاک ده د احکامو او فرامينو په وړاندې تسليميدو په هکله فرمايي: ﴿**وَأَنِيبُوٓاْ إِلَىٰ رَبِّكُمْ وَأَسْلِمُواْ لَهُۥ**﴾[2]. ژباړه: او د خپل رب لوري ته را وګرځي او هغه ته غاړه کيږدئ يعنې پوره اطاعت يې وکړئ.

او فرمايي: ﴿**وَمَنْ أَحْسَنُ دِينًا مِّمَّنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُۥ لِلَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ**﴾[3]. ژباړه: څوک ډير بهتر دی د دين له پلوه د هغه چا څخه چې ځان يي الله پاک ته تسليم کړيوي او نيک عمل کوونکی وي).

بل ځای الله پاک فرمايي: ﴿**وَمَن يُسْلِمْ وَجْهَهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَقَدِ ٱسْتَمْسَكَ بِٱلْعُرْوَةِ ٱلْوُثْقَىٰ**﴾[4].ژباړه: څوک چې خپله غاړه الله ﷻ ته کيږدي په داسي حال کې چې نيک عمل کوونکی وی ( او له دې غاړې ايښودو څخه راضي او خوښ وي) نو ده په تحقيق سره ټينګه رسۍ باندې منګلې ولګولې (چې هغه الله سره رشته او اړيکې برابريدل دي).

---

١ - د المائدي سورت: ٥٤ آيت.

٢ - د الزمر سورت: ٥٤ آيت.

٣ - د النساء سورت: ١٢٥ آيت.

٤ - د لقمان سورت: ٢٢ آيت.

دا رنګه ددې تسلیمیدو ( غاړې ایښودو) څرنګوالی ته الله متعال دقیقه اشاره کوي و فرمايي: ﴿**فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا**﴾[1]. ژباړه: د ستا په رب موقسم دی چې ایمان څښتنان به نشي ترڅو پورې چې تا په خپل منځي شخړوکی فیصله کوونکی وګر ځوي اوبیا د هغې فیصله څخه په خپل نفسونو کې ناراضی (ردکونه) ونه مومي او پوره غاړه ایښودونکي شي.

## ۷ـ د دې کلمې قبلول چې د هر ډول انکار او رد څخه خوندي وی:

یعنې دا کلمه چې کومو معانیو او مفاهیموته شاملیږي په سر او سترګو قبول شي او د زړه له کومې ومنل شي او په ژبه يي جاري کړی، څرنګه چې الله متعال فرمايي: ﴿**قُولُوا آمَنَّا بِاللَّهِ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْنَا**﴾[2]. ژباړه: و وایئ: ایمان مو راوړی په الله او په هغه څه چې په موږيي ( د نبی ﷺ په ذریعه چې قرآن کریم او سنت نبوی دی) نازل کړیدی.

## ۸- د الله ﷻ څخه پرته د هر څه عبادت نه انکار او بیزاري :

د الله ﷻ څخه پرته د هر څه عبادت څخه کفر، انکار او بیزاری د مثال په توګه: د طواغیتو، بتانو، او نورو ټولو خواهشاتو او ځاني یا کورني او ډلیي غیر شرعي تقاضاوې او داسي نورو... څخه ځان ژغورنه .

١ - د النسأء سورت: ٦٥ آیت.

٢ - د البقري سورت: ١٣٦ آیت.

الله ﷻ فرمايي: ﴿ فَمَن يَكۡفُرۡ بِٱلطَّٰغُوتِ وَيُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱسۡتَمۡسَكَ بِٱلۡعُرۡوَةِ ٱلۡوُثۡقَىٰ﴾[1] .ژباړه:( پس هر څوک چې په طاغوت باندې کافر شو او په الله پاک يې ايمان را وړو نو خامخا يې په محکمه رسۍ منګلې ولګولي).

ياد شوي ټولې وېناوې د کلمې شهادت د لومړۍ برخې په تړاو ذکر شوي، اوس دستاسو پاملرنه د کلمې دوهمې برخې ته چې شهادت پدې چې حضرت محمد ﷺ د الله پاک رسول دی او د دې جزء ټولو مقتضياتو ته را اړوم:

١- تصديق او باور کول په هر هغه څه چې د الله رسول ﷺ خبر راکړی.

٢- اطاعت او قبلول د اوامرو د رسول ﷺ.

٣- ډډه او ځان ژغورنه له هر هغه څه څخه چې رسول الله صلی عليه وسلم د هغه څخه نهي او منع کړيدی.

٤- د الله ﷻ عبادت کول به په هغه طريقه وی څرنګه چې هغه او دهغه رسول ﷺ بيان کړی او ښودلي دی.

٥- محبت کول له حضرت محمد ﷺ سره .

نو هر مسلمان ته اړينه دی چې دوم شرط د کلمې توحيد عملي کړئ او حضرت محمد ﷺ سره پوره مينه او محبت کې کوښښ وکړئ، تر څو شهادت يې قبول شي، الله پاک ﷻ د هغو منافقينو چې ويل به يې: ته د الله را ليګل شوی رسول

---

[1] - د البقري سورت: ٢٥٦ آيت.

يي، په اړه فرمايي:(**نَشۡهَدُ إِنَّكَ لَرَسُولُ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ إِنَّكَ لَرَسُولُهُۥ وَٱللَّهُ يَشۡهَدُ إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ لَكَٰذِبُونَ**)[1].

ژباړه: مونږ دا شهادت ورکوو چې ته خامخا د الله رسول يي، الله پاک پوهيږي چې ته د هغه رسول يي او الله پاک ﷻ شهادت ورکوي چې منافقين په خپلو ويلو کې دروغجن دي).

نو معلوميږی چې د دوی شهادت ورکړه هيڅ ګټه دوی ته و نه رسوله، ځکه د شهادت اصلي حقيقت د دوی په اقرار کې شتون نه لاره.

اسلامي علماؤ او پوهانو هغه څيزونه چې شهادتينو: (**لااله الا الله محمد رسول الله**) سره منافي دی په لاندې ډول ياد ګريدي:

شريک نيول د الله ﷻ په عبادت کې چې هغه سره شريک نيول د ايمان منافي دی. الله ﷻ فرمايي: (**إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يشاء**)[2].

ژباره: الله پاک هغه چاته چې ده سره شريک پيداکوي ببښنه نه کوي او لدينه پرته چاته چې وغواړی ببښل کوي.

همدارنګه فرمايي:( **إِنَّهُۥ مَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدۡ حَرَّمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ ٱلۡجَنَّةَ وَمَأۡوَىٰهُ ٱلنَّارُۖ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ أَنصَارٖ**)[3]. ژباړه: حقيقت دا دی څوک چې له الله پاک سره شريک

---

١ - د المنافقون سورت: ١ آيت.

٢ - د النساء سورت: ١١٦ آيت.

٣ - د المائدې سورت: ٧٢ آيت.

ونسي نو الله ﷻ خامخا په هغه باندې جنت حرام کړېدی او ځای د هغه به اور وي او ظالمانو سره مرسته کونکی شتون نلري.

**ګرانو دیندارو لمونځ کوونکو!**

نو راځي خپل ځانونه، کورنۍ او ټول ژوند د الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ په اوامر او د شهادتینو په ویلو او د هغو په مقتضیاتو سره برابره کړو او د الله ﷻ رضا حاصله کړو او په دنیا او اخرت کې د عزت ژوند ځان ته برابر کړو او دا باید په یاد کې ولرو چې دا یوازې او یوازې د رسول ﷺ او د هغه د اصحابو کرامو په متابعت کې ممکن او میسردی.

٩

## د اخلاص معناوې او د هغه لارې چارې

**اَلحَمدُ لِلهِ الَّذِي، أمَرَنَا أن نَّعبُدَهُ مُخلِصينَ لَهُ الدِّينَ، وَنَستَغفِرُهُ، وَنَستَهدِيه، وَنَعُوذُ بِاللهِ مِن شُرُورِ أنفُسِنَا وَمِن سَيئاتِ أعمَالِنَا، مَن يَّهدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَن يُّضلِل فَلَاهادِيَ لَه، وَنشـهَدُ أن لَّا إلَهَ إلّا اللهُ وَحدَهُ لَا شَـرِيكَ لَهُ، وَنَشـهَدُ أنَّ مُحَمداً عَبدُهُ وَرَسُـولُهُ، وَالصَّـلَاةُ والسلام عَلَى رَسُولُنَا الكَرِيم، صَادِق الوَعدِ وَعَلَى آلِهِ وَصَحبِه أجمَعِين. أمّا بعد:**

**أعوذ بالله من الشيطان الرجيم – بسم الله الرحمن الرحيم**

**قال الله تبارک و تعالی: ﴿وَمَا أُمِرُوا إِلاَّ لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ وَذَلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ ﴾.** [1]

اما بعد:

**مؤمنانو او دیندارانو لمونځ کوونکو! السلام علیکم و رحمت الله و برکاته .**

د موږ د نن ورځې د خطبې موضوع: د اخلاص معناوې او د هغه لارې چارې دی په دې کې شک نشته چې اخلاص اصلي رکن د اعمالو د قبلولو دی، ځکه الله ﷻ هغه عملونه چې په هغو کې اخلاص نه وي نه قبلوي.

په دې اړه دا پوښتنې را پورته کیږي:

اخلاص څومره اغیز د اعمالو په قبلولو کې لري؟

ولې مسلمانان نن عصر کې په خپلو اعمالو کې اخلاص ته پاملرنه نه کوي؟

په کړو وړوکې اخلاص ته نه پاملرنه څه پایلې را منځ ته کوي؟

---

١ - د البینه سورت: ٥ آیت.

اخلاص انسان ته روحي پیاوړتیا ورکوي چې هغه د موخې سپیڅلوالی او د ایمان قوت څخه منځ ته راځي؛ ځکه نفس د الله ﷻ د رضا حاصلولو لپاره خالص کیږی او اخلاص روح، عقل او ذهن ته اطمینان او سکون ورکوي، دارنګه اخلاص انسان د وسوسو، اضطراب او پریشانیو څخه خلاصوي او تکلیفونه او مصیبتونه له دې څخه پورته کوي او دعایي قبلوي، دارنګه د اخلاص بل اغیز دادی چې انسان د دایم لپاره د نیکیو لورته را بلي او د الله پاک رضا وربخښل کیږي او د نفساني خواهشاتو څخه انسان ته نجات ورکوی او د بدیو او ناوړو عملونو څخه انسان خلاصوي او د همیش لپاره د ښو او نیکو عمل تر سره کول ور بخښل شي ؛ ځکه صالحان وایي:

کوم څیز چې د الله لپاره وی هغه دوام پیدا کوي او کوم څیز چې الله لپاره نوی هغه پای ته رسیږي. د ایمان نښه په عمل کې دا دی چې مسلمان سړی څه چې وایي او څه چې تر سره کوي په هغه ایمان لری او هغه څه چې نوروته یي وایي په هغو کې تاثیر کوي.

الله ﷻ فرمایي: ﴿وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ حُنَفَآءَ وَيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُواْ ٱلزَّكَوٰةَۚ وَذَٰلِكَ دِينُ ٱلۡقَيِّمَةِ﴾[1]. ژباړه: دوی ته امر نوو شوی مګر پدې چې د الله عبادت وکړي پداسي حال کې چې اخلاص کوونکي وی د هغه دین لره او حق ته مائل وي لمونځ برپای کړي او زکات ادا کړي چې دغه برابر ثابت دین دی.

دا رنګه الله ﷻ فرمایي: ﴿قُلۡ أَمَرَ رَبِّي بِٱلۡقِسۡطِۖ وَأَقِيمُواْ وُجُوهَكُمۡ عِندَ كُلِّ مَسۡجِدٖ وَٱدۡعُوهُ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ﴾[2]. ژباړه: وه وایه چې امر کړیدی رب ځما په عدالت سره

١ - د البینة سورت: ٥ آیت.

٢ - د الأعراف سورت: ٢٩ آیت.

او د لمانځه په وخت کې خپل مخونه واړوئ (دالله په لور) د هغه عبادت وکړئ په داسي حال کې چې خالص هغه ته دین اړونکي یاستئ.

د حضرت ابي هریره رضي الله تعالی عنه څخه روایت دی چې رسول ﷺ فرمایلي دي: ( **ان الله عزوجل لاینظر الی صورکم و أموالکم و لکن ینظر الی قلوبکم و أعمالکم**)[1].

ژباړه: الله عزوجل دستاسو د ښیرو مالونو ته نظر ته کوی بلکې د ستاسو زړونو او اعمالوته نظر کوي.

دارنګه رسول الله ﷺ فرمایي: (**قال الله تبارک و تعالی أنا أغنی الشرکاء عن الشرک من عمل عملاً أشرک معي فیه غیري ترکته و شرکه**)[2]. ژباړه: الله پاک ﷻ فرمایي: زه د شریکانو نیولو څخه بي پروا او غنی ذات یم ځوک چې یو عمل وکړي او ما سره یي په هغه کې بل ځوک شرک سره ونیولو، هغه او شرک به یي پریدم (یعنی هغه څخه بیزاره یم).

**د اخلاص تعریف:**

علماوو کرامو د اخلاص څو ډوله تعریفونه کړیدي چې پنځه ډوله د هغو څخه بیانوم:

۱- اخلاص: د الله ﷻ رضا طلبول څرنګه چې الله متعال فرمایي: ﴿**وَمَآ ءَاتَيۡتُم مِّن زَكَوٰةٖ تُرِيدُونَ وَجۡهَ ٱللَّهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُضۡعِفُونَ**﴾[3].

ژباړه: (کوم زکات چې تاسو ورکوئ او اراده مو د الله پاک رضا وي همدغه دی چې دوي ته ثواب یي په څو برابره ورکول کیږی).

---

۱ - صحیح الامام مسلم، حدیث: ۲۵٦٤.

۲ - صحیح الامام مسلم، حدیث: ۲۹۸۵.

۳ - د الروم سورت: ۳۹ آیت.

۲- اخلاص: په ټولو کړو وړو، ویناوو، پټ او څرګنده حالاتو کې د نیت در لودلوته وایي.

۳- اخلاص: د الله واحد لا شریک عبادت ته وایي.

٤- اخلاص: د خلکو د لیدو څخه خپل اعمال ساتنې ته وایي.

٥- اخلاص: خپل اعمال د هر ډول خلطیت ته وایي.

**اخلاص په توحید کې:**

په دې اړوند روایت دی:

**(عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله : ما قال عبد لآ اله الا الله قط مخلصاً الا فتحت له أبواب السماء حتى تفضي الى العرش ما احتنبت الكبائر).**[1]

یعنی: (د حضرب ابی هریره رضي الله تعالی عنه څخه روایت دی چې حضرت رسول ﷺ فرمایي: هر څوک چې په اخلاص سره لا اله الا الله و وایي تر هغو چې د کبایرو ګناهونو څخه ځان وژغوري داسمان در وازې تر عرش پورې پرې خلاصې شي).

**اخلاص په عبادت کې:**

پدې اړوند روایت دی: ( **ما من مسلم يسجد لله سجدة الا رفعه الله بها در جة وحط عنه بها خطيئة).**[2] ژباړه: د حضرت رسول ﷺ څخه روایت دی: هر څوک چې الله ﷻ لپاره سجده (په اخلاص سره) وکړی نو الله پاک د هغه یوه درجه لوړوی او یوه ګناه یي عفوه کوي.

۱ - سنن الترمذي، حديث: ۲۸۳۹.

۲ - سنن الترميزي، حديث:۳۸۸،۳۸۹.

**اخلاص په روژه کې:**

حضرت رسول اکرم ﷺ فرمایي: (**من صام رمضان ايمانا و احتسابا غفر له ما تقدم من ذنبه**) .[1] ژباړه: (هر څوک چې د روژې د میاشتې روزه د ایمان او د اخرت د ثواب په نیت ونیسي مخکیني ګناهونه يي وبښل شي).

**د نکتو استنباط :**

یو تربله مرسته او خیر خواهي:

مخلص بنده کوښښ کوي چې د اسلام مبین دین په لارښوونو سره سم نور خلکو سره مرسته وکړي بنا په دې حدیث چې یو مومن مسلمان د بل مومن لپاره داسې وی لکه یوجسد.

**د ټولنې نجات او دایمی ژند :**

هیڅ څوک نشی کولای چې امتونه د ماتې، فشار او خللونو څخه وژغوري پرته مخلصانو څخه، ځکه مخلصان دي چې الله ﷻ لپاره پورته کیږي د حق او د الله د دین د اعلاء لپاره فعالیت کوي نه د ریا او د خلکو لپاره نو ویلی شو چې د اخلاص ډله واقعاً نجات ورکوونکي دي نه نور.

**د خلکو د حقوقو پیژندنه او د هغو ادا کونه:**

یوه علامه د مخلصینو دادی چې دوی د خلکو حقوق پیژني او دایمي کوښښ کوي ترڅو د خلکو حقوق د دوی په ذمه پاتي نشي.

**د اخلاص په اړه یوه زړه پوری واقعه:**

امام بخاری په خپل سند سره له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روایت کوی: (**قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ يَقُولُ انْطَلَقَ ثَلَاثَةُ رَهْطٍ مِمَّنْ كَانَ قَبْلَكُمْ حَتَّى أَوَوُا الْمَبِيتَ إِلَى غَارٍ فَدَخَلُوهُ فَانْحَدَرَتْ صَخْرَةٌ مِنَ الْجَبَلِ فَسَدَّتْ عَلَيْهِمُ الْغَارَ فَقَالُوا إِنَّهُ لَا يُنْجِيكُمْ مِنْ هَذِهِ**

[1] - صحيح الامام البخاري،حديث: ۳۸ او صحيح الامام مسلم، حديث۷٦۰.

الصَّخْرَةِ إِلَّا أَنْ تَدْعُوا اللهَ بِصَالِحِ أَعْمَالِكُمْ فَقَالَ رَجُلٌ مِنْهُمُ اللَّهُمَّ كَانَ لِي أَبَوَانِ شَيْخَانِ كَبِيرَانِ وَكُنْتُ لَا أَغْبِقُ قَبْلَهُمَا أَهْلًا وَلَا مَالًا فَنَأَى (فَنَاءَ) بِي فِي طَلَبِ شَيْءٍ يَوْمًا فَلَمْ أُرِحْ عَلَيْهِمَا حَتَّى نَامَا فَحَلَبْتُ (فَحَمَلْتُ) لَهُمَا غَبُوقَهُمَا فَوَجَدْتُهُمَا نَائِمَيْنِ وَكَرِهْتُ أَنْ أَغْبِقَ قَبْلَهُمَا أَهْلًا أَوْ مَالًا فَلَبِثْتُ وَالْقَدَحُ عَلَى يَدَيَّ أَنْتَظِرُ اسْتِيقَاظَهُمَا حَتَّى بَرَقَ الْفَجْرُ فَاسْتَيْقَظَا فَشَرِبَا غَبُوقَهُمَا اللَّهُمَّ إِنْ كُنْتُ فَعَلْتُ ذَلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ فَفَرِّجْ عَنَّا مَا نَحْنُ فِيهِ مِنْ هَذِهِ الصَّخْرَةِ فَانْفَرَجَتْ شَيْئًا لَا يَسْتَطِيعُونَ الْخُرُوجَ قَالَ النَّبِيُّ وَقَالَ الْآخَرُ اللَّهُمَّ كَانَتْ لِي بِنْتُ عَمٍّ كَانَتْ أَحَبَّ النَّاسِ إِلَيَّ فَأَرَدْتُهَا عَنْ (عَلَى) نَفْسِهَا فَامْتَنَعَتْ مِنِّي حَتَّى أَلَمَّتْ (أَلْمَمَتْ) بِهَا سَنَةٌ مِنَ السِّنِينَ فَجَاءَتْنِي فَأَعْطَيْتُهَا عِشْرِينَ وَمِائَةَ دِينَارٍ عَلَى أَنْ تُخَلِّيَ بَيْنِي وَبَيْنَ نَفْسِهَا فَفَعَلَتْ حَتَّى إِذَا قَدَرْتُ عَلَيْهَا قَالَتْ لَا أُحِلُّ لَكَ أَنْ تَفُضَّ الْخَاتَمَ إِلَّا بِحَقِّهِ فَتَحَرَّجْتُ مِنَ الْوُقُوعِ عَلَيْهَا فَانْصَرَفْتُ عَنْهَا وَهِيَ أَحَبُّ النَّاسِ إِلَيَّ وَتَرَكْتُ الذَّهَبَ الَّذِي أَعْطَيْتُهَا اللَّهُمَّ إِنْ كُنْتُ فَعَلْتُ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ فَافْرُجْ عَنَّا مَا نَحْنُ فِيهِ فَانْفَرَجَتِ الصَّخْرَةُ غَيْرَ أَنَّهُمْ لَا يَسْتَطِيعُونَ الْخُرُوجَ مِنْهَا قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه ولسلم وَقَالَ الثَّالِثُ اللَّهُمَّ إِنِّي اسْتَأْجَرْتُ أُجَرَاءَ فَأَعْطَيْتُهُمْ أَجْرَهُمْ غَيْرَ رَجُلٍ وَاحِدٍ تَرَكَ الَّذِي لَهُ وَذَهَبَ فَثَمَّرْتُ أَجْرَهُ حَتَّى كَثُرَتْ مِنْهُ الْأَمْوَالُ فَجَاءَنِي بَعْدَ حِينٍ فَقَالَ يَا عَبْدَ اللهِ أَدِّ (أَدِّي) إِلَيَّ أَجْرِي فَقُلْتُ لَهُ كُلُّ مَا تَرَى مِنْ أَجْرِكَ (أَجْلِكَ) مِنَ الْإِبِلِ وَالْبَقَرِ وَالْغَنَمِ وَالرَّقِيقِ فَقَالَ يَا عَبْدَ اللهِ لَا تَسْتَهْزِئُ بِي فَقُلْتُ إِنِّي لَا أَسْتَهْزِئُ بِكَ فَأَخَذَهُ كُلَّهُ فَاسْتَاقَهُ فَلَمْ يَتْرُكْ مِنْهُ شَيْئًا اللَّهُمَّ فَإِنْ كُنْتُ فَعَلْتُ ذَلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ فَافْرُجْ عَنَّا مَا نَحْنُ فِيهِ فَانْفَرَجَتِ الصَّخْرَةُ فَخَرَجُوا يَمْشُونَ).[1]

عبدالله بن عمر رضي الله عنهما فرمايي: د رسول ﷺ څخه مې اورديلي دي چې د وړاندېنو امتونو څخه درې نفره په سفر کې وه چې د شپې تيرولو په هکله يې يو غارته پناه ونيوله چې نا څاپه دغار دروازه غټې ډبرې په راغوزيدلو بنده شوه خپل

[1] -صحيح البخاري ، حديث : ۲۲۷۲.

منځ کی وویل چې له دې غارڅخه نشو خلاصیدی ترڅو د الله متعال څخه په مخلصانه اعمالو سره دعا وکړو .

اول د دوی څخه وویل: ای الله ﷻ! زاړه (بوډاګان) مور پلار مې در لوده چې هیڅ کله مې د دوی څخه وړاندې ما، اولادونو، میرمنې او خدمتکوونکوته شیدی د څکلو لپاره نه ورکولې یوه ورځ د دوی څخه لرې پاتې شوی وم کله چې واپس دوی ته راغلم دوی ویده وه. د شپې شیدې می د دوی لپاره را ولوشلې او دوی هغسې ویده وه او نمی خوښوله چې را ویښ یې کړم او یا د دوی څخه وړاندې زه یا میرمن اویا اولاد مې شیدې وڅکو همدې حالت کې چې د شیدو لوښې مې په لاس کې وه او ماشومان مې دولرې څخه ناکراره وه منتظروم چې دوی بیدار شې سبا شو دوې (پلار او مور مې) بیدار شول او شیدې یې وڅکلې الله پاکه! که د هغه عمل مې خاص د ستا رضا لپاره کړیوی، نو د دې حالت څخه موږ ته نجات را کړئ د دې وینا ورسته نا ځاپا ډبره وښوریده لیکن بیا هم د غار څخه وتل ممکن نوه.

بل وویل: آی الله ! ما د کاکا لور درلوده چې ډیره را باندې ګرانه وه لکه نرینه چې عشق لرې له ښځینه و سره په هغه شان زیاته را باندی ګرانه وه او ځما زړه ته نږدې وه، د هغې څخه مو تقاضا وکړه لیکن هغې له ما څخه منع والی وکړه تر دې چې قحطې کال راغلو او ژوندیې سخت شو، ماته راغله او یو سلو شل دیناره می ورکړو پدې شرط سره چې ما سره خلوت وکړې داسې یې وکړه کله چې زه په خپل مطلب قادر شوم ماته یې و ویل: د الله ﷻ څخه و ویریږه! د شرعې د لارې پرته ماته نږدی نشئ، د هغې څخه صرف نظر شوم پداسې حال کې چې هغه ډېره محبوبه وه ماته، أی الله پروردګارا! که چیري دا کار مي خالص د ستا د رضا لپاره کړیوي مونږ له دي حالت څخه وژغورئ، ډبره وښوریدله څه نوره هم د غار خوله خلاصه شوه، لیکن بیا هم له غار څخه د راوتلو امکان نه وه.

دریم نفر وویل: أي الله! څو نفرو کار گرانو ما سره مزدوری کوله او د هغوی اجرت مې ورکړو پرته دیو نفر څخه چې هغه خپله مزدوري (اجرت) پریښودله او لاړو، ما د هغه د مزدوري په کا واچوله تر دې چې د هغه مال زیات شو. څه مده ورسته راغلو او ماته وویل: أی د الله ﷻ بنده د ما مزدوری راکړه ورته ومې ویل: دغه اوښان، غوایان، پسونه او غلامان چې وینې! دا ټول د ستا د مزدوری څخه په لاس راغلي د ستادی، هغه وویل أي د الله ﷻ بنده ما سره ټوکې کوې! ما ورته وویل ټوکې نه کوم ټول خپل مال یې واخستو او هیڅ یې هم پری نښودلو، أی الله ﷻ! که چیري دغه عمل ما خالص د ستا د رضا لپاره کړیوي موږ له دې حالت څخه وژغورې! نا څاپه ډبره د خپل ځای څخه وښودیدله او دوی د غار څخه را ووتلو چې تللو.

## د عکرمه بن أبي جهل واقعه:

د عکرمه بن أبي جهل د اسلام راوړلو په اړه چې کومه زړه پوري واقعه (کیسه) علامه محمد امین شنقیطي په خپل تفسر (أضواء البیان في ایضاح القرآن بالقرآن) کې ذکر کړیدی داده چې وایي: کله چې مکه مکرمه د اسلام د پوځ له لوری فتح شو له عکرمه بی أبي جهل و تښتیدلو غښتلې چې حبشې ته لاړ شي په کشتۍ کې سپور شو په منځ د بحر کې سخت طوفان راغلو سوارو یو تربله وویل: چې یواځې الله پاک څخه مرسته وغواړې، ځکه دهغه څخه نور څوک گټه رسولی نشي کولای عکرمه رضی الله تعالی عنه له ځان سره فکر وکړو چې د الله ﷻ پرته بل څوک بحر کې گټه نشي رسولی نو په وچه ځمکه کې هم د هغه څخه پرته بل څوک گټه نشي رسولی، او له خپل ځان سره یې دا ژمنه وکړه او وویل: ای الله ﷻ که چېرې ما د دهغه بحر څخه وژغورې! نو زه به محمد ﷺ ته ورځم او د هغه لاس به نیسم او ایمان به راوړم او بیایې داسې کار وکړو له دې کیسې څخه دا جوته

شوه چې د عکرمه رضی الله تعالی عنه د اسلام لامل یواځې اخلاص د الله ﷻ
سره وه چې ګټه او ضرر یوازې الله پاک رسولی شي او فقط.[1]

**د اخلاص فردی پایلې:**

**۱- رواني اطمینان:**

د مسلمان اصلي موخه د نور سره د نیک عمل، یوازې رضا د الله ﷻ دی او کوم ځیز چې د الله تعالی رضا نیت ته سرې رسوي پرته د کوم شک څخه هغه (سړی) د وسوسو او اضطراب او پریشانیو څخه آزاد وی اخلاص روانی اطمینان او ذهني سکون راولی الله پاک ﷻ په یو قرآنی مثال کې داسی فرمایي: (**ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا رَّجُلًا فِيهِ شُرَكَاء مُتَشَاكِسُونَ وَرَجُلًا سَلَمًا لِّرَجُلٍ هَلْ يَسْتَوِيَانِ مَثَلًا الْحَمْدُ لِلَّهِ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ**).[2]

**۲ - روحي پیاوړتیا:**

اخلاص انسان ته روحي پیاوړتیا وربښي چې د دهغه پیاوړتیا لامل ایمان دی، ځکه انسان په قوت ایماني سره خپل نفس د الله ﷻ د رضا د کسبولو لپاره خالص کوي.

مخلص انسان چې هر ډول ستونزو سره مخامخ شي د هغو په وړاندې پیاوړی او محکم وي، دا رنګه خپل اخلاص د هر ډول مادي قوت څخه قوي بولي او بلا شکه ایماني قوت د هر ډول قوتونو څخه بالاتر او برتر دی نو د خپل ایمان او اخلاص په نتیجه کې ده ته روحي قوت او پیاوړتیا حاصلیږي.

۱ - تفسیر أضواء البیان في ایضاح القرآن بالقرآن، د الحجرات سورت: ۱۷ آیت.

۲ - د الزمر سورت: ۲۹ ایت.

**۳ - کارته دوام ورکول:**

بل اغیز او تاثیر د اخلاص دادی چې اخلاص لامل د دوام او استمرار د عمل او دګړنو دی اما هغه څوک چې هدف او موخه یې نفساني آرزوګانې او شهواني خواهشات وي او اخلاص نلري که خپلو اهدافوته ونه رسیږي نو خپل عمل قطع کوي اما د مخلصانو عمل او ګړنه د الله لپاره وی او دایم په خپلو عملونو کې کوښښ کوي نیکان وایي: (**ماکان لله دام واتصل و ماکان لغیر الله انقطع و انفصل**). یعنی هغه څه چې د الله لپاره وي هغه دایم کیږي او متصل وی او هغه څه چې د الله ﷻ څخه پرته ترسره کیږي هغه پری کیږي او دوام نه لري.

**٤ - عادات په عباداتو سره ګرځوي:**

اخلاص د ټولو اعمالو کیمیادی کله چې اخلاص په کوم مباح عمل کې موجوده وی هغه په عبادت سره اړوي او کوم عبادت کې چې اخلاص شتون و نه لري هغه په عاداتو سره ګرځي په حدیث شریف کې راغلي دي: (**و انک لن تنفق نفقة تبتغي بها وجه الله الا أُجرتَ بها حتی ما تجعل في في امرأتک**).[1]

ژباره: (هر نفقه چې ته خرڅه کوې او په هغه سره د الله تعالی رضا لټوې نو په هغه سره تاته اجر او ثواب درکول کیږي تر دې چې کومه مړۍ خپلي میرمن په خوله کې ورکوې په هغه هم الله طرفه درته ثواب درکول کیږي).

**۵ - ثواب او اجر پرته لدینه چې عمل بشپړ شي:**

د اخلاص د برکتونو څخه دا هم دی چې کله مخلص انسان یو عمل بشپړنه کړي اویا یې هیڅ توان د بشپړوالی نه لري بیا هم الله متعال هغه ته د کامل او بشپړ عمل اجر او ثواب ورکوي څرنګه چې د صحیح مسلم په حدیث کې راغلي دي

١ - صحیح الامام البخاري، حدیث : ١٢٩٥.

چې حضرت رسول اکرم ﷺ فرمايلي دی: (**من سأل الله الشهادة بصدق بلغه الله منازل الشهداء و ان مات على فراشه).**[1] ژباړه: څوک چې په اخلاص سره د الله تعالی څخه شهادت وغواړي الله تعالی هغه د شهيدانو مقام ته رسوي ولوکه په خپل فرش باندې مړشي).

## ٦ - د الله ﷻ مرسته او ضمانت:

يو د ثمراتو د اخلاص څخه دا دی چې د مخلص انسان کفالت الله تعالی په خپله کوي څرنگه چې الله تعالی فرمايي: ﴿**أَلَيْسَ ٱللَّهُ بِكَافٍ عَبْدَهُۥ**﴾[2]. ژباړه: آيا الله تعالی خپل بنده ته کافي ندی بلکی الله ورته کافی دی .

اما احمد بن حنبل عليه الله په خپل مسند کې د بي بي عائشي صديقې څخه روايت کوي: (**من أرضى الله بسخط الناس كفاه الله و من أسخط الله برضا الناس و كله الله الى الناس)**.[3]

(څوک چی د الله تعالی د رضا په خاطر خلک خپه کړی الله ﷻ د خلکو ضرر د ده څخه دفع کوي او هغه څوک چې د خلکو رضا په اړه الله ﷻ خپه کړي الله ﷻ د ده واک او اختيار د خلکو په لاس کې ورکوي).

## ٧ - په کړاوونوکې د الله ﷻ مرسته:

الله ﷻ په خپل نصرت سره مخلص انسان ته نصرت ورکوي او په هغو سترگو سره چې خوب نگوي حفاطت يې کوي تکلفيونه او مصيبتونه د هغه څخه دفع کوي دعای قبلوي، نو بناءً د خلکو حفاظت او د دوی ته نجات ورکونه يوازې اخلاص د دوی په خپل عملونو کې دی.

١ - صحيح الامام مسلم ، حديث : ١٩٠٩.

٢ - د الزمر سورت، ٣٦ آيت.

٣ - صحيح ابن حبان، حديث: ٢٧٧.

## د اخلاص ټولنيزې ګټې:

### ۱- امنيت:

د اخلاص ګټې يواځې د قيامت ورځې پورې اړه نه لري چې الله ﷻ د مونږ اعمال په خپل فضل سره قبلوي او مونږ جنت ته داخلوي او دوزخ څخه مو ژغوری بلکې اخلاص د دنيا په ژوندکې هم مونږ ته ډېر اړين دی لکه:

الف: اخلاص د امن او ثابت لامل دی

ب: اخلاص د امنيت د ټينګښت لامل دی

ج: د فساد له منځه وړونکی ديد: اخلاص د انسانانو تر منځ محبت راولي

هـ: اخلاص په ټولنه کې د ورورولي او صميميت لامل دی.

### ۲- عدالت:

کله چې په ژوند د انسانانو کې اخلاص منځ راشي نو مخلص انسان کوښښ کوي چې د نيکمرغۍ او عدالت سوری په ټولنه کې خورشي د ظلم او ظالم توره وريځ له اسمان څخه را ټوله شي، څرنګه چې الله تعالی جل مجده پيغمبران عليهم الصلاة والسلام د دې لپاره را وليګل چې ظلم او د هغه جرړې له بيخ څخه وباسي او د الله تعالی ﷻ عدالت په ځمکه کې خور کړي او دا کار صرف او صرف د مخلصينو څخه ممکن دی.[1]

## د اخلاص په اړه د علماوو اقوال:

۱- عبدالله بن مبارک رحمة الله فرمايي: ځينې وخت يو وړوکې عمل د اخلاص څخه ډېر لوړشي او کله يولوی عمل د نه اخلاص ګبله څخه وړوکې شي.

---

۱ - نيت او اخلاص ، دکتور محمد قرضاوي ، ۱۷۳

۲- فضیل ابن عیاض رحمة الله فرمایي: کوم مل چې په اخلاص سره وی لیکن د سنتو په طریقې سره نوي نه قبلیږي، دا رنگه کوم عمل چې په سنتو برابر وي اما په هغه کې اخلاص نوي قابل د قبول ندی.

۳- ابن القیم رحمةالله فرمایي: که چېرې علم او پوهې د عمل پرته کټمن وی نو الله متعال ذات به د اهل کتابو مذمت نه وه بیان کړي او که چېرې عمل د اخلاص پرته گټمن وی نو الله متعال ذات به د منافیقنو مذمت نوه کړی.

٤- اما غزالی رحمةالله فرمایي: مخلص هغه څوک دی چې دی خپلې نیکې داسې پټوي لکه څرنگه چې خپل گناهونه پټوي.

**د اخلاص د راتللو لارې چارې:**

د دنیوي اواخروې امورو څخه هیڅ امر شتون نه لري مگر اخلاص به په هغه کې وجود لري بناءً هیڅ عمل د اعمالو څخه د اخلاص پرته ممکن ندی.

د ولس مشر څخه پیل تر خادمه پورې یوه وړه کار خانه په عمل کې د اخلاص نه لري.

بناءً کوم عمل کې چې اخلاص شتون ونه لري هغه ناقص دی د بیلگې په توگه څو نمونې د اخلاص د عبادت په مسایلو کې په لاندې ډول بیانوم:

**الف: د شپې په عبادت کې اخلاص:**

که چیرې اخلاص نه وي ټوله شپه چې عبادت وکړی گټه نه لري. هر عمل چې تر سره کوو باید په هغه کې اخلاص ظاهر کړو. څرنگه چې مخکې حدیث تیرشو پیغمبر ﷺ فرمایي: څوک چې د رمضان میاشت روژه د ایمان او د ثواب په نیت ونیسي مخکښې گناهونه یې وبښل شي.

**ب: د الله ﷻ لپاره دوستي:**

اخلاص د دوه نفرو په دوستۍ کې هم اغيز لري، که چېري دوستي د دې دوه نفرو صرف د الله ﷻ رضا لپاره وی ډېر ثواب او اجر په نزد د الله پاک لري.

څرنګه چې رسول الله ﷺ د دوستي په اړه فرمايي: (**سبعة يظلمهم الله في ظله يوم لاظل الا ظله ... ورجلان تحابا فی الله اجتمعا عليه و تفرقا عليه...**). [1]

ژباړه: اوه ډوله خلک به وي چې الله ﷻ په هغوی سوری کوي په هغه ورځ کې چې د ده پرته دبل چا سوری شتون نه لري... (د هغو څخه) هغه دوه نفر هم دي چې د الله ﷻ لپاره جمع شوی او د الله ﷻ لپاره جلا شوي وي.

دا رنګه اخلاص مسجد ته د تللو، جنازې ته د تللو، اخلاص په توبه کې او اخلاص په طلب د شهادت کې دا ټولوته شامل دی.

**د وينا خلاصه:**

کوم آياتونه او احاديث مو چې د اخلاص په رابطه ذکر کړه داسې نچوړ لاس ته راځي چې د عبادت جوهر او روح هغه اخلاص دی نيت د بندګي او عبادت راز دی او د کړو وړو لپاره داسې مثال لري لکه روح ديو کالبد او جسم لپاره بناءً عبادت بدون د روح (اخلاص) څخه شتون نه لري دا ځکه چې عبادت د اخلاص پرته کوم ګټمن نه دی نو اخلاص اصل او حقيقت د دين دی چې ټولو پيغمبرانو هغه ته دعوت ورکولو بناءً د اعمالو قبول او نه قبول او بری او ناکامي په اخلاص پوری اړه لري. [2]

---

١ - صحيح الامام البخاري، حديث: ٦٦٠ ، ١٤٣٣ او٦٨٠٦.

٢ -د محمد بن الصالح المنجد کتاب : (کردار های قلب) چې ديوي علمي ډلي لخوا ژباړل شوي ،مخ ١٥.

۱۰

## لمونځ او د هغه حکمونه، فضیلتونه او حکمتونه

**الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور أنفسنا و مِن سيئآت أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلاهادي له، ونشهد أن لآ إله إلا الله وحده لا شريک له وأن محمدا عبده ورسوله صلى الله عليه وسلم تسليما كثيرا وعلى آله و أصحابه ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين. قال الله تبارک وتعالى في محكم التنزيل وهو أصدق القائلين أعوذ بالله من الشيطان الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم: ﴿وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَمَا تُقَدِّمُوا لِأَنْفُسِكُمْ مِنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِنْدَ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ﴾[1].**

**قال رسول الله ﷺ: (بني الاسلام على خمس شهادة....)**

لمونځ وروسته د شهادت ورکولو په دې باندې چې (لا اله الا الله محمد رسول الله)، لومړی او غټ رکن د اسلام دی. لمونځ مهمه ستنه د اسلام دی چې الله ﷻ په قرآن کریم کې بار بار په درولو او اداکولو د هغه سره امر کړیدی. او لمونځ یي هر عاقل او بالغ ښځینه او نرینه فرض کړیدی، څوک چې د هغه فرضیت څخه منکر شي هغه د اسلام د دائرې څخه بهر کیږی الله تعالی فرمایي: (ان **ٱلصَّلَوٰةَ**

---

۱ - د البقرې سورت: ۱۱۰ آیت.

**تَنۡهَىٰ عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِ**[1]. ژباړه: لمونځ منع کوي (لمونځ کونکی لره) له پوچو او بدو څخه.

**د لمونځ تعريف:**

**لمونځ يا صلاة په لغت کې:** دعا ته وايي په دليل د دې قول د الله تعالی باندې: (**وصل عليهم**)[2].

يعنی د دوی په آړه دعا وکړه.

**لمونځ په اصطلاح کې:** (**هي أقوال و أفعال مُفتتحة بالتكبير مُختتمة بالتسليم مع النية بشرائط مخصوصة**)[3]. ژباړه: لمونځ عبارت دی له هغو اقوالو او افعالو څخه چې په الله اکبر سره شروع کيږي او په السلام سره پای ته رسيږي.

**په بل عبارت سره:** (**هي اسم لهذه الأفعال المعلومة من القيام و الركوع و السجود**)[4].

يعني: لمونځ نوم ددغو معلومو کړنو دی چې عبارت ده له قيام، رکوع او سجدې څخه.

پنځه وخته لمونځ د اسراء په شپه مخکې د هجرت څخه مدينې منورې ته په حضرت پيغمبر ﷺ فرض شو په دليل د هغه حديث چې أنس رضی الله تعالی عنه

---

١ - د العنکبوت سورت: ٤٥ آيت.

٢ - د التوبه سورت :١٠٣ آيت.

٣ - الموسوعة الفقهية الكويتية، مصطلح : الصلاة.

٤ - الموسوعة الفقهية الكويتية، مصطلح : الصلاة.

روایت کړیدی: (**فرضت على النبي الصلوات ليلة أسري به خمسين، ثم نقصت حتى جعلت خمساً، ثم نودي: يا محمد، انه لا يبدل القول لدي، و ان لک بهذه الخمسة خمسين**).[1]

ژباړه: په کومه شپه چې په حضرت نبي ﷺ بوتلل وشو (معراج واقعه واقع شوه) پنځوس لمونځونه فرض شول بيا د هغه څخه کم شول تر دې چې پنځه لمونځونه شول بيا غږ و شو يا محمد! د ما په وړاندې خبره تغيير نه کوی، خامخا تا لپاره په دې پنځه لمونځونو باندې پنځوس دي (د پنځوسو لمونځونو اجر او ثواب دی).

**د لمانځه د فرضيت دلايل:**

**الف: د قرآن کريم څخه:**

الله ﷻ فرمايي: (**وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَۚ وَمَا تُقَدِّمُواْ لِأَنفُسِكُم مِّنۡ خَيۡرٖ تَجِدُوهُ عِندَ ٱللَّهِۗ إِنَّ ٱللَّهَ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ**)[2]. ژباړه: لمونځ بر پای کړئ زکات وکړئ څه چې د خپلو ځانونو لپاره وړاندې کوئ! هغه به د الله ﷻ په نزد پيدا کړئ، ځکه الله تعالی په هغه څه چې تاسي يي ترسره کوئ ليدونکی دی.

دا رنګه الله تعالی فرمايي: (**حَافِظُواْ عَلَى الصَّلَوَاتِ والصَّلاَةِ الْوُسْطَى وَقُومُواْ لِلّهِ قَانِتِينَ**).[3]

ژباړه: د لمونځونو (ځانکړي ډول) د لمنځني لمونځ د اداکولو حفاظت وکړئ او په عاجزۍ سره الله ته ودريږئ ( يعنی د خلکو په وړاندې په عاجزۍ او خضوع سره

---

۱ - مسند الامام احمد ، حديث: ۱۲۶٤۱ .

۲ - د البقري سورت: ۱۱۰ آيت.

۳ - د البقري سورت: ۲۳۸ آيت.

الله ﷻ ته لمونځ وکړئ او د هغه عظمت او هیبت په خپل لمونځوکې څرګند کړئ).

الله ﷻ فرمايي: ﴿وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ طَرَفَيِ ٱلنَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ ٱلَّيۡلِۚ إِنَّ ٱلۡحَسَنَٰتِ يُذۡهِبۡنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ ذَٰلِكَ ذِكۡرَىٰ لِلذَّٰكِرِينَ﴾[1]. ژباړه: د ورځې په دوه طرفونو (چې د سحر او عصر وقت دی) او په اوايلو د شپې کې (چې د ماښام او ماسختن وخت دی) لمونځ ادا کړه. خامخا نیکیانې (چې د هغو څخه پنځه لمونځونه هم دي) بدې لمنځه وړي په دې کې پند دی د پند قبلونکو لپاره ( او هغه چا لپاره چې خدای ﷻ یا د وي او هغه دایمی په یاد کې ساتي).

د هغه آیت شریف پنځو لمونځو ته شامليږي، ځکه د سحر (سبا) لمونځ په اول د ورځې کې دی او دماسپښین او مازدیګر لمونځونه په اخر د ورځې کې اداکیږي، ځکه چې سبا او ماښام دوه اړخونه د ورځی دي. (غدا) کلمه د اول ورځې تر زوال پوري اطلاق کیږي او د هغه څخه وروسته بیا (عشا) وی، نو په (طرفي النهار) کې دري لمونځو راځي چې هغه فجر (سحر) د ماسپښین او د مازدیګر لمونځونه دي. او د مغرب (ماښام) او د عشا ( ماسختن) لمونځونو ته شامل دا قول د الله ﷻ دی: ﴿أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِدُلُوكِ ٱلشَّمۡسِ إِلَىٰ غَسَقِ ٱلَّيۡلِ وَقُرۡءَانَ ٱلۡفَجۡرِۖ إِنَّ قُرۡءَانَ ٱلۡفَجۡرِ كَانَ مَشۡهُودٗا﴾[2].

---

١ - د هود سورت: ٤١١ آیت.

٢ - د الاسراء سورت: ٧٨ آیت.

ژباړه: لمونځ وکړه له زوال د لمر څخه (چې زوال څخه لمونځ د ماسپښين شروع کيږي تر دوام د وخت د مازديگر پوري) تر تيارې د شپې پورى ( چې د ماښام وخت تر دوام د وخت ماسختن چې په طلوع د فجر سره ختميږي) او لمونځ د سبا (فجر) (چې په طلوع د فجر سره شروع کيږي تر طلوع د لمر پوري) خامخا لمونځ د فجر (سبا) ته حاضريگې( يعنى د شپي او ورځي ملائکې په وخت د لمانځه د سبا کي حاضريکې).

مرادله (دلوک) شمس څخه د لمر زوال دى او مراد له ( غسق الليل) څخه پيل د تيارو دى چې اولې برخې د شپې دى او دا آيت شريف د ماسپښين او مازديگر لمانځه ته هم شامل دى.

مراد له ( و قرآن الفجر) د سحر لمونځ دي نو پدغه ترتيب سره د پنځه لمونځونو فرضيت ثابت شويدى.

**ب: د پيغمبر صلى الله عليه وسلم د احاديثو څخه:**

حضرت رسول ﷺ خلکو ته د حجة الوداع په وينا کې داسې وفرمايل: (**اعبدوا ربكم و صلوا خمسكم، وصوموا شهركم، و حجّوا بيتكم، و أدوا زكاة أموالكم طيبة بها أنفسكم تدخلوا جنة ربكم**)[1].

ژباړ: يوازې د خپل رب عبادت وکړئ پنځه لمونځونه ادا کړئ، د مياشي روژه مو ونيسئ، د بيت الله حج ادا کړئ د خپل مالونو زکات په خوښۍ د خپلو نفسونو سره ادا کړئ نو د خپل رب جنت ته به داخل شئ.

١ - مسند الامام احمد، حديث :٢٢٢٦٠

**ج: د امت اجماع په فرضيت د لمونځو باندې:**

د ټول اسلامي امت اجماع دی په فرضيت د پنځه وخته لمونځونو باندې او پدې چې منکر د هغو څخه کافر دی[1].

**د لمونځ مقام او مرتبه:**

د اسلام له نظره لمونځ په لوړه مرتبة او مقام کې شتون لري او هغه وروسته د شهادتينو څخه ډيره محکمه او فضليت لرونکی فريضه ده او د اسلام د پنځو بناوو څخه يوه بنا او رکن دی. رسول الله ﷺ فرمايي: (**بني الإسلام على خمس شهادة أن لآ إله إلا الله و أن محمدا رسول الله و إقام لصلاة و إيتاء الزكاة، و الحج ، و صوم رمضان**)[2] .

ژباړه: اسلام په پنځو بناوو ولاړدی: شهادت په دې چې د الله ﷻ پرته څوک د عبادت لائق نشته او محمد ﷺ د الله رسول دی، او د لمانځه پرپای کول دی، د زکات اداکول دی، حج بيت الله شريف ادا کول دي او بل رمضان د مياشتې روژه نيول دي.

لمونځ د اسلام د بنسټونو څخه يو بنسټ او د اسلامي دين يو ستن دی په دې اړه حضرت نبي صلى الله عليه وسلم فرمايي: (**رأس الأمر الاسلام و عموده الصلاة و ذروة سنامه الجهاد في سبيل الله**)[3]. ژباړه: اسلام د ټولو کارونو سر دی او د هغه ستن لمونځ دی او لوړه څوکه ( کوپان ) د هغه د الله ﷻ په لياره کې جهاد دی.

---

۱ - الفقه الاسلامي وأدلته،ټوک: ۲ کتاب الصلاة.

۲ - صحيح البخاري، حديث: ۸ او صحيح مسلم، حديث: ۱۶

۳ - سنن النسائي ،حديث: ۱۱۳۳۰.

لمونځ هغه څه دی چې په ورځ د قیامت کې لومړی د هغه په هکله پوښتنه کول کیږي په دې باب حضرت نبي علیه الصلاة و السلام فرمایي : (**أول ما یحسب علیه العبد یوم القیامة الصلاة فان صلحت فقد أفلح و نجح و إن فسدت فقد خاب و خسر**).[1]

ژباړه: لومړی هغه څه چې په ورځ د قیامت کې انسان څخه د هغه په هکله پوښتنه کیږي هغه لمونځ دی که هغه (لمونځ) سم وه نو دی (انسان) کامیاب او بری ته ورسیدو او که هغه (لمونځ) جوړ او سم نه نوه، نو ناکام او زیان من شو.

کله چې حضرت رسول ﷺ له دې فاني نړۍ څخه خپل رب (رفیق اعلی) ته کوچ کولو نو اخري توصیه یي د دې مهمې فریضې د لمانځه د ادا کولو په اړه وه چې ویل به یي: (**الصلاة و ما ملکت أیمانکم**)[2] .

یعنی د لمانځه حفاظت وکړئ او د هغو چا حقوق ادا کړئ چې ستاسو په لاسونو کې دي چې هغه غلامان دي دارنګه څارویو ته هم شاملیږي.

لمونځ اخري دیني حکم دی چې له ځمکی څخه پورته کیږي، څکه کوم وخت کې چې د لمونځ ضیاع او اهمال پیل شي نو د اسلام نور ارزښتونه هم په اسانۍ سره په کمښت شروع شي نو اخري حکم چې پورته کیږي هغه لمونځ دی لکه چې محمد ﷺ فرمایي: (**لتُنقضن عری الإسلام عروة عروةً فکلما انفضت عُروة تشبث الناسُ بالتي تلیها، فأولهن نقضا الحکم، أخرهن الصلاة**)[3].

---

۱ - سنن الترمذی، حدیث: ٤١٣.

۲ - سنن النسائي ،حدیث:٧٠٦٣.

۳ - صحیح ابن حبان، حدیث:٦٧١٥.

ژباړه: اسلامي امور به يو د بل پسې پرلپسې پرېښودلی شي کله چې يو پرېښودلی شي خلک د هغه څخه ورستني باندې منګلي ولګولي لومړی هغه څه چې پای مال کيږی هغه قضايي امور دي اواخري څه چې ترک کولی شي هغه لمونځ دی.

**د لمانځه اسرار، حکمتونه اود هغه ټولنيزې، معنوي، روغتيايي او رواني ګټې:**

معنوي او ټولنيزې ګټې:

**الف:** لمونځ د انسان او د الله ﷻ تر منځ يوه محکمه او ټينګه رابطه دی، چې مومن انسان په هغه کې د خپل رب سره د مناجاتو احساس خوند څکی او خالصه بندګی خپل رب ته وړاندې کوي او ټول امور هغه ته سپاري او د هغه څخه خپل اطمينان، نجات او ارامي غواړي او په ربښتيا سره داسې امورو اجراء کول انسان ته د بريا او فلاح لپاره رسول کوی چې د ګناهونو د ښنې لورته هم انسان متوجه کيږي او په پايله کې بريايي نصيب کيږي الله ﷻ فرمايي: ﴿**قَدۡ أَفۡلَحَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلَّذِينَ هُمۡ فِي صَلَاتِهِمۡ خَٰشِعُونَ**﴾[1]. ژباړه: خامخا برى ته رسيدونکی دي هغه مومنان چې په خپل لمنځونو کې خشوع او عاجزي کوي).

رسول اکرم ﷺ فرمايي: (**أرأيتم لو أن نهراً بباب أحدكم، يغتسل فيه كل يوم خمس مرات، هل يبقى من درنه شيء؟ قالوا: لايبقى من درنه شيء قال: فكذالک مثل الصلوات الخمس، يمحو الله بهن الخطايا**)[2]. ژباړه: که چيرې د کوم يو د ستاسو د کور په مخکی يوه وياله

---

١ - د المومنون سورت: ١-٢ آيتونه.

٢ - متفق عليه، صحيح الامام مسلم ، حديث: ٦٦٧.

وی چې په هر ورځ هغې کې پنځه کرته غسل کوي آیا د هغه په ځان به څه خیرې پاتي شي؟ اصحابو و ویل نه په ځان او بدن د هغه به څه پاتی نشي.نو حضرت نبی علیه الصلاة و السلام و ویل دا د پنځو لمونځو مثال دی چې الله پاک په هغه سره گناهونه محوه کوی.

**ب:** د ژوند په امور کې د نظم او سمون را ولستولو تمرین ته پاملرنه او د هغو سرته رسوني په هکله وخت او زمان ته دقیق ارزښت ورکونه کوم سړی چې دا گړنې نصیب وی د هغه صبر حوصله او وقار نور هم زیاتیږي او خپل ذهن په کټورو امور کې صرف کوي.

کله چې یو انسان په لمانځه کې الله پاک حضور ته دریږي نو خپل فکر او ذهن د نورو ټولو دنیوي امور څخه پري کوي او د قرآن کریم د آیاتونو لوړو مفاهیمو او معاینوته متوجه کیږي او د هغو لیارې څخه د الله پاک عظمت او لویي او رحمت پیداکوي.

**ج:** لمونځ د اخلاقو تهذیب یوه مدرسه دی چې د انسان په فردي ژوندکې رښتیا او امانت باندې وفا را پیداکوي او د بدو، پوچو، فحشو او منکراتو هغه څه ژغوري څرنگه چې الله ﷻفرمایي: ﴿و **آقمٱلصَّلَوٰةَ ان ٱلصَّلَوٰةَ تَنۡهَىٰ عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِ**﴾[1]. ژباړه: لمونځ قائم کړه؛ ځکه لمونځ منع کول کوي د پوچو او منکر (بدو) څخه.

---

۱ - د العنکبوت سورت: ۹۲ آیت.

## د لمانځه روغتیایي او رواني ګټې:

د ورستیو څېړنو او کشفیاتو څخه دا څرګندیږي چې په لمانځه او هغه کلماتو کې چې لمانځه کې لوستلی شي او د هغه په حراکاتو او اعمالو کې ډېرې زیاتې د تعجب وړ ګټې او فوائد رانغښتلې دي چې د هغه څخه دا هم دي.

١- د (الله) کلمه چې په لمانځه کې بار بار ویلی شي د انسان په زړه کې یو خاص ګټور اثرات لري، دا رنګه کله چې انسان خپل سر په لمانځه کې د سجدې په حالت کې په ځمکه کیږدی نو هغه برښنایي او مقناطیسي ضرر رسونکی امواج چې بدن د انسان ته د چاپیریال څخه رسیدلي دي ځمکه هغه جذب کوي، نو څو ځلي چې داسې کړن ورځ کې تکراریږي مونږ د هغه په واسطه له دا ډول برښنایي ضرر رسونکی امواجو څخه ژغوري، ذهني او رواني سکون انسان ته ورکول کیږي او د دماغو د سکتګي څخه یي ساتي.

٢- د سجدې په حالت کې د انسان سر د زړه په پرتله کوز ښکته وی نو کافی مقدار وینه د سر د مازغو ته رسیږي چې په پایله کې دماغ ښه وده او تغذیه لاسته راوړي چې تکرار د دغه عمل په یوه ورځ کې (٦٤) ځلی په پنځه وخته لمانځه کې د حافظې، سامعې، دلیدلو، د فکر او تعقل قواوې پیاوړي کوي، دا رنګه د ویني کره یاتو په ذریعه دماغ د انسان غښتلي کیږي څیره او پوستکی کې تازه ګې راځي.

٣- دارنګه په رکوع کې د تسبیحاتو ویلو او په هغه کې د رنګ تیرولو سره د انسان د بدن عضلات، غاړه، پندی، پښې او ورنونه کې خوځښت او حراکت راځی چې په پایله کې د بدن غړي د ویني جریان ګړندی کوي.

٤- د سجدې په حالت کې د ملا مورې يو تر بله خلاصيږي چې دا عمل د اعصابو رشتې کشکوي او بدن غړي له دماغو سره وصل کوي چې دا کړنې اعصاب په يو متوازن حالت کې ساتي چې په پايله کې د ارامۍ لامل ګرځي او انسان له عصبانيت څخه ژغوري.

٥- د رواني چارو ډاکتران په دې اړوند متحد نظر لري چې د اضطراب او رواني ستونزو يو ډول درملنه لمونځ دی، دارنګه د مينې او راز ويلو لامل د لمونځ اداکونه دی، او انسان له خپل رحيم او مهربان ذات سره د زار او حاجت وړاندې کولو فرصت هغه لمونځ دی نو کله چې انسان د لمانځه په حالت کې خپل خالق مدبر ذات په وړاندې شتون لري نو خپل د عاجزي راز او ټول مشکلات او ستونزې هغه ته وړاندې کوی، نو دې يقين ته رسيږي چې د دې مشکلاتو حل پرته د الله ﷻ څخه بل څوک نشي کولای بلکې هغه ذات دی چې په ټولو حالاتو کې د انسان حاجتو ته رسيدګي کوي او د ستونزو له حالت څخه انسان را باسي او هغه ته د اسانۍ نعمت ور په برخه کوي او هيڅ څوک د هغه ﷻ په څير قدرت نه لري نو له دې کبله کله چې مسلمان انسان د لمانځه څخه فارغ شي غمونه يي ختم شي او د هغو درملنه الله ته سپاري او په مطمئن زړه او فکر سره خپلو کارونو پيل کوي.

٦- د تجويد قواعدو سره سم د قرآن کريم تلاوت په ترتيل سره د انسان تنفسي سيستم د شهيق: د (غږ په تيز والي) او زفير: د (غږ په ټيټوالی ) په وسيله تنظيميږي. چې د انسان د ذهن څخه د تشويشونو د لري کولو چارو کې مهم رول لري.

۷- د شپې له طرفه لمونځ کې د قرآن کريم په تلاوت کې تدبر او تأمل زيات وي، نو ذهن پياوړی کوي او د نورو فعاليتو په سرته رسونکی چټک کيږي او د اذکارو تکرار په ځانګري ډول د سهار او بيګاه اذکار د مرضونو (رنځونو) د اخته کيدلو او د بوډاوالي حالت کې دذهن د ضعيفوالی څخه انسان ژغوري.

د شپې لمونځ د ناځرګنده دلايلو په وجه د هغه مرض څخه چې په نوم د (غوږ په زنګ) سره ياديږي، ژغوری او يا د نوموړي مرض پياوړی کيدو څخه، انسان خلاصوی.

۸- د سهار د لمر راختلو څخه وړاندې کومه هوا او اکسيجن چې د ځمکی په سر خوره شويوي کله چې لمونځ کونکی دسهار وخت لمونځ ادا کولو په اړوند را پورته کيږي نو د دي هوا څخه د ګټې اخستلو سره سم نشيط تر او تازه وي او له دې اکسيجن څخه تنفس کوي چې په ټوله ورځ کې په دې ډول صفا هوا وجود نه لري.[۱]

## په جماعت سره د لمونځ فضليت:

**عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال:** (**والذي نفسي بيده لقد هممت أن أمر بحطب فيحطف ثم أمر بالصلاة فيؤذن لها، ثم آمر رجلا فيؤم الناس، ثم أخالف إلى رجال فأحرق عليهم بيوتهم**).[۲] ژباړه: د أبی هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې حضرت نبی عليه الصلاة والسلام فرمايلي دي: ( په هغه ذات می قسم دی چې ځما روح د هغه په لاس بلاکيف کې دی چې قصد می وکړو په دي چې امر وکړم

۱ - د(عبادت در اسلام و نقش آن در جلوگيری از امراض) کتاب څخه.

۲ - صحيح البخاري، حديث: ٦٤٤.

په را ټولولو د خاشاکو سره او را ټول کړی شي او بیا امر په لمانځه سره وکړم چې هغه ته اذان وکړی شي او بیا یو سړی ته امر وکړم چې خلکو ته امامت ورکړي بیا زه وروسته شم هغو خلکو پسي لاړشم ( چې لمانځه جماعت ته ندی تللي) او د هغو کورنه و سوزوم).

د حدیث شرحه: په دې کې شک نشته چې په جماعت سره لمونځ کول لوړ فضلیت لري لیکن فرض نه دی بلکه سنت مؤکد دی، دارنګه د حضرت ابن مسعود رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې وایي: خامخا په یاد کې لرم چې د هغو منافقینو چې نفاق یې څرګند وي پرته نور څوک د جماعت لمانځه څخه نه پاتي کیږي.

**د جوماتو په لور د تللو فضلیت:**

**عن أبي هريرة رضى الله عنه أن النبى قال:** (**من غدا الى المسجد أو راح، آعد الله له فى الجنة نزلا كلما غدا أو راح**) [1].

ژباړه: د حضرت أبي هريره رضي الله تعالی عنه څخه روایت دی چې حضرت رسول ﷺ فرمایلي دي: څوک چې په اول د ورځې یا اول د شپې کې د جومات په لور لاړو هر سهار او هر ما ښام چې دی ځې الله پاک ده ته په جنت کې میلمه ستون برابر وي).

و عنه ان النبي ﷺ قال: ( **من تطهر فى بيته، ثم مضى إلى بيت من بيوت الله ليقضي فريضة من فرائض الله، كانت خطواته احداها تحط خطيئة و الأخرى ترفع درجة**) [2].

١ - صحيح الامام مسلم ، حديث: ٦٦٩.

٢ - صحيح الامام مسلم، حديث: ٦٦٦.

ژباړه: د حضرت ابی هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: چا چې په خپل کور کې اودس وکړو او بیا یو کور د الله ﷻ د کورونو (مسجدنو) ته لاړو ترڅو یوه فریضه د الله د فرایضو څخه ادا کړي، نو هر قدم چې پورته کوی یوه گناه یې کموی او بل قدم یې درجه لوړه وي.

د حضرت أبی هریره رضي الله تعالی عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایي: (**ألا أدلكم على مايمحو الله به الخطايا، و يرفع به الدرجات؟ قالوا: بلى يا رسول الله قال إسباغ الوضوء على المكاره، و كثرة الخطا إلى المساجد و انتظار الصلاة بعد الصلاة، فذالكم الرباط**) [١].

ژباړه: آیا تاسوته په یو څه سره لارښوونه ونه کړم چې په هغه سره الله ﷻ گناهونه مو وبښي او درجات مو لوړ کړي هغوي و ویل: هو یا رسول الله نو وفرمایل: د اودس بشپړ کول په سختویو کې (لکه یخني او تودوخي) او ډېر قدمونه اخستل د مسجدونو په لوري او لمانځه انتظار کونه وروسته د لمانځه نو داسنگر محکم ونیسئ او د دایم لپاره یې عملي کړئ.

## د لمانځه لپاره په انتظار کې پاتي کیدو فضلیت:

د حضرت أبی هریره رضي الله تعالی عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایي: (**الملائكة تصلى على أحدكم ما دام في مصلاه الذي صلى فيه، مالم يحدث، تقول اللهم اغفر، اللهم ارحمه**).[٢] ژباړه: کوم یو د تاسو څخه چې لمونځ وکړي او بیا هلته د لمانځه په ځای کې (منتظر بل لمانځه ته وی) شتون ولري ترڅو پورې چې بې

١ - صحيح الامام مسلم، حديث: ٢٥١.

٢ - صحيح البخاري، حديث: ٤٤٥.

او دسه شوی نه وي ملائکې ورته دعا کوي او وايي: آی الله پاکه! ده ته بښنه وکړئ، آی الله پاکه! ده باندې رحم وکړئ).

**د سهار او ماسختن په لمانځه کې حاضریدو هڅونه:**

**عن عثمان بن عفان رضي الله عنه قال: سمعت رسول الله يقول: (من صلى العشاء في جماعة، فكأنما قام نصف الليل، و من صلى الصبح في جماعة فكأنما صلى الليل كله). و في رواية الترمذي عن عثمان بن عفان رضي الله عنه قال: قال رسول الله : ( من شهد العشاء فى جماعة كان له قيام نصف ليلة، و من صلى العشاء و الفجر في جماعة كان له كقيام ليلة).**[1]

ژباړه: د حضرت عثمان بن عفان رضي الله څخه روایت دی چې فرمایي: ( له حضرت رسول الله ﷺ څخه مو اوریدلي دي چې ویل به یې: چاچې د ماسختن لمونځ په جماعت وکړو هغه لپاره د قیام د نیمی شپې ثواب دی او چا چې د سهار لمونځ هم په جماعت سره ادا کړو د هغه د ټولې شپې د قیام ثواب و موندلو او د ترمذي په بل روایت کې داسې دی چې حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه روایت کوی چې حضرت رسول الله ﷺ وایي: څوک چې حاضر شو د ماسختن د لمانځه جماعت ته ده د نیمې شپې د قیام ثواب وموندلو او چا چې د ماسختن او سهار دواړه لمونځو جماعت سره وکړو ده د ټولې شپې د قیام ثواب او اجر وموندلو.

و عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ قال: ( **لو يعلمون ما فى العتمة والصبح لأتوهما ولو حبواً**)[2] . ژباړه: د حضرت أبی هريره رضی الله عنه څخه روایت

---

١ - صحيح الامام مسلم، حديث: ٦٥٦.

٢ - متفق عليه

دی چې حضرت نبی ﷺ فرمايلي دی: که چيري خلک د ماسختن او سهار د لمونځو د اجر او ثواب څخه پوهه لرلی نو په خاپوړو به ورته راغلي وه.

**د جماعت د لمونځ فضليت او ارزښت:**

**عن ابن عمر رضي الله تعالى عنهما أن رسول الله قال: (صلاة الجماعة أفضل من صلاة الفذ بسبع و عشرين درجة).**[1]

ژباړه: د ابن عمر رضی الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي: د جماعت لمونځ د بيله لمانځه په پرتله وويښت برابر دی.

**و عن عثمان بن عفان رضي الله عنه قال سمعت رسول الله يقول: ( ما من امرئ مسلم تحضره صلاة مكتوبة فحسن وضوء ها، وخشوعها، وركوعها، الا كانت كفارة، لما قبلها من الذنوب مالم يؤت كبيرة، و ذلک الدهركله).**[2] ژباړه: د حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه څخه روايت دی چې د حضرت رسول الله ﷺ څخه مو اوريدلي دی چې ويل به يي: هيڅ مسلمان نشته چې کله لمونځ وخت يي راشي او ښه کړي او دس، خشوع او رکوع د هغه مگر دا گرنې د ده د مخکينښو گناهونو کفاره گرځي تر څو چې کبيره گناهونه يي تر سره کړي نه وي او دا ټول وخت لپاره دی.

**و عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى عليه وسلم: ( صلاة الرجل فى جماعة تضعف على صلاة فى بيته و فى سوقه خمسا و عشرين ضعفاً، و ذلک أنه اذا توضأ فأحسن الوضوء، ثم خرج إلى المجسد، لا يخرجه الا الصلاة، لم يخط خطوة الا رفعت له بها درجة و حطت عنه بها خطيئة، فاذا صلى لم تزل الملائكة تصلى عليه مادام في مصلاه، مالم**

١ - صحيح الامام مسلم، حديث: ٦٥٠.

٢ - صحيح الامام مسلم، حديث: ٢٢٨.

**يحدث، تقول: أللهم صل عليه، أللهم ارحمه ولايزال فى صلاة ما انتظر الصلاة).** [1] ژباړه: د حضرت ابي هريره رضى الله عنه څخه روايت دی چې وايي: حضرت رسول الله ﷺ و فرمايل: د سړی لمونځ په جماعت سره د ده په لمانځه باندې په کور او ښار کې پنځه ويښت پرتله ثواب يي زياتيږي ، داځکه چې کله دی ښه او دس وکړي او بيا د مسجد په لور را بهرشي او د ده د راوتلو سبب بل څه نه وی مگر د لمانځه ادا کونه وي نو دی يو قدم هم نه پورته کوي مگر يوه درجه د ده ورسره لوړيږی او يوه گناه يې کمېږي کله چې لمونځ ادا کړي نو ملائکې عليهم السلام د ده لپاره دعا کوي تر څو دی خپل د لمانځه په ځای کې شتون ولري او بې او  دسه شوی نه وي، داسې وايي: اللهم صل عليه اللهم ارحمه آی الله پاکه! ده لره ښښنه  وکړې، آی الله پاکه! په ده رحمت وکړې، دايم لپاره ده په لمانځه کې دی (يعني د لمانځه ثواب ورته رسېږي)، ترڅو چې انتظار د لمونځ کوي).

## د لمونځ ډولونه:

## ۱- سنن رواتب:

## دوه رکعته د سهار د لمانځه څخه وړاندې:

دغه دوه رکعته تر ټولو محکم او مؤکد سنت دي په دليل د ده قول د حضرت نبي عليه الصلاة و السلام سره: ( **رکعتا الفجر خير من الدنيا و ما فيها)**.[2] ژباړه: د سهار دوه رکعته غوره دي د دنيا او د هغه څخه  چې په دې کې دي).

---

۱ - صحيح البخاري، حديث: ٦٤٧.

۲ - صحيح الامام مسلم، حديث: ۷۲۵.

دارنګه حضرت عائشه رضي الله تعالی عنها وايي: ( **لم يكن النبي  على شيء من النوافل أشد تعاهداً منه على ركعتي الفجر**).[1] ژباړه: حضرت نبی علیه الصلاة و السلام په نورو نوافلو د سهار دوه رکعتونو په څیر ټینګارنه کولو.

بناء د سهار له سنتو پرته نورسنت قضایي نه لري او دغه سنت په تبعه د فرضو په همغه ورځ راوړلی شي. دی سنتو کې سنت په اول رکعت کې د الکافرون سورت او په دوهم رکعت کې د الاخلاص سورت لوستل کیږي.

**د ماسپښين او د جمعې د لمانځه څخه وړاندې په يو سلام سره څلور رکعته سنت:**

په دليل د حديث د حضرت عائشې صديقې سره چې فرمايي: ( **أن النبي  كان لايدع أربعاً قبل الظهر، و ركعتين قبل الغداة**).[2] ژباړه: حضرت نبی ﷺ به هيڅ کله څلور رکعته (سنت) د ماسپښين ( دلمانځه) څخه وړاندي او دوه رکعت (سنت) وړاندې د سهار (لمانځه) څخه نه پريښودلو.

د دې حديثو په رڼاکې پوهيږو چې محکم او مؤکد سنت وروسته د سهار دوه رکعتونو سنتو څخه د ماسپښين د لمانځه څخه وړاندې څلو رکعته سنت دي، او نور ټول سنت يو برابر دي.

بل دا چې نبي عليه الصلاة و السلام به دا عادت وه : (**كان النبي  يركع من قبل الجمعة أربعاً لا يفصل في شيء منهن**).[3] ژباړه: هغه ﷺ به وړاندې د جمعې څخه څلور

---

١ - صحيح البخاري، حديث: ١١٦٩.

٢ - صحيح البخاري، حديث: ١١٨٢.

٣ - سنن ابن ماجه، حديث: ١١٢٩.

رکعته کولو چې هغو تر منځ  به يې فصل ( جدايي) په کوم ځيز سره نه را وستلو يعنې په يو سلام سره يې کولو او څلور رکعته به يې د جمعې څخه وروسته ادا کولو.

**د ماسپښين د فرض لمانځه څخه ورسته دوه رکعته سنت:**

مستحب دادی چې دوه رکعته نور هم ور سره وکړئ او څلور رکعت په يو سلام سره ورسته د جمعې لمانځه څخه ادا کړي په دليل  د دې حديث د حضرت نبي صلی الله عليه وسلام  سره چې فرمايی: ( **من صلى أربع ركعات قبل الظهر و أَربعاً بعدها حرم الله عليه النار**).[1]

ژباړه: څوک چې وړاندې د ماسپښين (دلمانځه) څخه څلور رکعته او وروسته د هغه څخه څلور رکعته ادا کړي الله پاک ﷻ په هغه اورحرام گرځوي.

**دوه رکعته د ماښام د فرضو څخه وروسته:**

سنت دا دی چې په دې سنتو کې د نور سنتو په پرتله قرأت زيات ولوستل شی.

**دوه رکعته د ماسختن د فرض لمانځه څخه وروسته:**

دليل په دې چې دا سنت د مؤکدو سنتو څخه دي دا قول د حضرت نبي عليه الصلاة و السلام دی: ( **من صلى في يوم  و ليلة ثنتي عشرة ركعة، بني له بيت في الجنة: أَربعاً قبل الظهر، و ركعتين بعدها، و ركعتين بعد المغرب، و ركعتين بعد العشاء و ركعتين قبل صلاة الفجر**)[2].

١ - مسند الامام احمد، حديث: ٢٧٤٠٣.

٢ - سنن الترمذي، حديث: ٤١٥.

ژباړه: چا چې په ورځ او شپه کې دولس (۱۲) رکعته (سنت) وکړو د ده لپاره په جنت کې يوه کوته جوړه کړی شي (هغه دولس رکعته سنت دا دي) څلور د ماسپښين د لمانځه څخه مخکې، دوه رکعته وروسته د هغه څخه دوه رکعته ورسته د ماښام او ماسختن څخه او دوه رکعته وړاندې د سهار د لمانځه څخه.

**۲- د تهجد لمونځ:**

تهجد يعني د شپې لمونځ د حضرت پيغمبر عليه السلام د سنتو سره سم په اخر د شپې کې ادا کيږي چې د ټولو نفلو څخه چې په ورځ کې اداکيږي غوره لمونځ دی، الله پاک ﷻ د هغو پوهو بندګانو ( أولوا الألباب ) په مدحه کې فرمايي: ( **تتجافی جنوبهم عن المضاجع** ).[۱] ژباړه: د دوي اړخونه د خوب د ځای څخه لري پاتيږي يعني د تهجد لمونځ.

پيغمبر ﷺ فرمايي: ( **أفضل الصلاة بعد الفريضة صلاة الليل**). [۲] ژباړه: غوره لمونځ ورسته د فرض څخه د شپې لمونځ دی.

بل حديث کې فرمايي: ( **عليکم بصلاة الليل، فانها دأب الصالحين قبلکم، و قربة الی ربکم، و مکفرة للسيئات، و منهاة عن إلاثم**).[۳]

ژباړه: د شپې د لمانځه حفاظت وکړئ، ځکه هغه د ستاسو څخه د وړاندنيو صالحينو خوی او عادت وه او الله پاک ته د نږديوالي سبب دی او د ګناهونو کفاره او منع کونکی دی.

---

۱ - د السجدي سورت ، ۱٦ آيت.

۲ - صحيح الامام مسلم، حديث: ۱۱٦۳.

۳ - صحيح ابن خزيمة لمحمد ابن اسحاق، حديث: ۱۱۳۵.

**۳- د کسوف لمونځ :**

کله چې لمر تورشي يا په بل اصطلاح لمر ونيول شی نو امام به دوه رکعته لمونځ د اذان او اقامت پرته خلکوته د نفلو د لمونځونو په شان ورکړي چې په هر رکعت کې يوه رکوع او دوه سجدې او په هر رکعت کې به لوی قرأت لولي او د هغه څخه وروسته د لمر صفايي پوري به دعا او تضرع د الله تعالی ﷻ په وړاندې کوی.

**٤- د خسوف لمونځ:**

کله چې سپوږمۍ توره شی په بل اصطلاح سپوږمۍ ونيول شی، د سپوږمۍ د توريدو په وخت کې به مسلمانان د جماعت څخه پرته (بيله) لمونځ وکړي. حضرت بي بي عائشه رضی الله تعالی عنها روايت کوی چې حضرت نبی عليه الصلاة و السلام فرمايلي دي: ( **ان الشمس والقمر آياتان من آيت الله لا ينخسفان (يخسفان) لموت أحد ولا لحياته فاذا رأيتم ذلک فادعوا الله و کبروا و صلوا و تصدقوا**). [١] ژباړه: لمر او سپوږمۍ د الله پاک ﷻ د قدرتونو څخه دوه علامې دي د چا د مرگ او ژوند پوری د دوي تور والی څه اړه نه لري نو کله چې د هغو توروالی مو وليدو نو د الله ﷻ په دعا سره مصرف شئ لمونځ ادا کړئ صدقه (خيرات) ورکړئ.

**٥- د استسقاء لمونځ:**

استسقاء وايي: باران غښتلو ته په وخت د وچ کالۍ کې.

د استسقاء لمونځ جايز دی ليکن واجب نه دی که چيري د لمانځه په ځای په دعا کولو او استغفار غښتلو سره اکتفاء وشي هم جايز دی.

١ - صحيح البخاري، حديث: ١٠٤٤.

د رسول ﷺ څخه ثابت دی چې بعضې وخت يې د استسقاء لمونځ ادا کړي وه او ځينې وخت يې د جمعې په ورځ په منبر د باران غبښتلو په دعا اکتفا کړيوه .[1]

**٦- د خوف لمونځ ( دويرى په حالت کې لمونځ ):**

دا لمونځ د جمهورو فقهاو په اند مشروع دی د قرآن کريم او سنتو څخه ثابت دی.

او قرآن کريم فرمايي: (**وَإِذَا كُنتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ الصَّلاَةَ فَلْتَقُمْ طَآئِفَةٌ مِّنْهُم مَّعَكَ وَلْيَأْخُذُواْ أَسْلِحَتَهُمْ فَإِذَا سَجَدُواْ فَلْيَكُونُواْ مِن وَرَآئِكُمْ وَلْتَأْتِ طَآئِفَةٌ أُخْرَى لَمْ يُصَلُّواْ فَلْيُصَلُّواْ مَعَكَ وَلْيَأْخُذُواْ حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ وَدَّ الَّذِينَ كَفَرُواْ لَوْ تَغْفُلُونَ عَنْ أَسْلِحَتِكُمْ وَأَمْتِعَتِكُمْ فَيَمِيلُونَ عَلَيْكُم مَّيْلَةً وَاحِدَةً** )[2]. ژباړه: کله چې ته (آی پيغمبر!) دوی سره وی او لمونځ قايمه وي دوي ته ( مراد د خوف لمونځ دی) يوه ډله دې د ستا سره لمونځ وکړئ او خپله وسله د ځانونو سره ولري کله چې سجده وکړي ( يعنې نيم لمونځ اداکړی) نو د ستاسو څخه دلاړ شی (ددښمن مقابلې ته دستاسو د حفاطت لپاره ) او بله ډله چې لمونځ نه دی کړي راديشي او تا سره د لمونځ وکړئ احتياط د وکړئ او خپله وسله دی ځانونو سره ولري؛کافران خوښوي چې تاسو د خپلو وسلواو سامانو څخه غافل شي او دوي در باندې يو ځل حمله وکړي.

---

١ - د زياتو معلومات لپاره د قدوري فارسی ژباړل شوي شرحې ( التسهيل الضروري لمسائل القدوري ) و کتل شی.

٢ - د النساء سورت: ١٠٢ آيت.

**۷- د اوابينو لمونځ:**

صلاة الاوابين ( د اوابينو لمونځ ) يعنې څوک چې ډېر رجوع کونکي دي الله ﷻ ته د هغو لمونځ او دا ځکه أوابين جمع د آواب دی په معنی د ډېر رجوع کوونکی الله پاک ته په دعا او استغفار سره.

د اوابينو لمونځ شپږ رکعته دی چې وروسته د ماښام لمانځه څخه ادا کيږي چې په يو يا دوه يا درې سلامونو سره ادا کېدای شي الله ﷻ فرمايي: ( **فانه كان للأوابين غفورا**)[1] . ژباړه: خامخا الله ﷻ د ډېر رجوع کوونکو لره ښښنه کونکی دی). په دليل ده دې حديث د عمار بن ياسر رضی الله تعالی عنهماسره: ( **من صلى بعد المغرب ست ركعات غفرت ذنوبه و ان كانت مثل زبد البحر**)[2]. ژباړه: څوک چې وروسته د ماښام لمانځه څخه شپږ رکعته لمونځ (نفل) وکړي د ده گناهونه به وبښل شي ولو د بحر د ځگ په اندازه هم وي.

**۸- د ضحی يا اشراق لمونځ:**

د ضحی يا اشراق لمونځ کم اندازه يې دوه رکعته دي او اکثر يې اته رکعته دی چې کله لمر يوه نيزه را پورته شی يعنی نيم يا ثلث ساعت وروسته د لمر راختلو څخه تر قبل زوال پورې ادا کېدی شي.

---

۱ - د الاسراء سورت: ۱۷ آيت.

۲ - المعجم الصغير للطبراني حديث: ۹۰۰.

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي: (**كان رسول الله يصلي الضحى أربع ركعات، لايفصل بينهن بكلام**)[1]. ژباره: د رسول الله ﷺ به د ضحی لمونځ څلور رکعته کولو چې په منځ د هغو کې به يې خبرې نه کولې).

په بل حديث کې فرمايي: (**كان رسول الله يصلي الضحى أربعاً ويزيد ماشاء الله**)[2]. ژباړه: رسول الله ﷺ به د ضحی لمونځ څلور رکعته کولو (کله) به يې زياتولو څومره به چې د الله ﷻ خوښه شوه).

٩- د مسجد د تحيې لمونځ:

څوک چې مسجد ته داخل شي نو دوه رکعته لمونځ نفل مستحب يا سنت د مسجد د تحيې په ډول وکړي، په دې شرط سره چې په مکروه وختونو کې نه وي او د فرض د لمونځ د ادا کولو وخت نه وي. نبی کريم ﷺ فرمايلي دي : (**اذا دخل أحدكم المسجد، فلايجلس حتى يركع ركعتين**)[3]. ژباړه: کله چې يو دستاسو څخه مسجد ته داخل شو تر هغو د نه کېني تر څو دوه رکعته لمونځ ادا کړی .

**١٠ - د استخارې لمونځ:**

استخاره يعني د خير غښتل د الله پاک څخه په يو کار کې چې د مباحو کارنو د اجرا کولو په هکله تر سره کيږي چې دوه رکعته لمونځ دی د هغه د ادا کولو څخه وروسته به هغه دعا چې د نبي کريم ﷺ څخه منقول دی ولولي څرنګه چې جابر بن عبدالله رضی الله عنه فرمايي: (**كان رسول الله عليه وسلم يعلّمنا الاستخارة فى**

---

١ - مسند أبي يعلي المؤصلي، حديث: ٤٣٦٦.

٢ - صحيح الامام مسلم، حديث: ٧١٩.

٣ - سنن ابن ماجه، حديث: ١٠١٢.

**الأمور كلها، كما يعلّمنا السورة من القرآن يقول: اذا همّ أحدكم بالأمر، فليركع ركعتين من غير الفريضة، ثم ليقل: اللهم اني استخيرک بعلمک و استقدرک بقدرتک، و أسألک من فضلک العظيم فانک تقدر ولا أقدر، و تعلم ولا أعلم، و أنت علام الغيوب، أللهم ان كنت تعلم أن هذا الأمر خيرلي في ديني و معاشي و عاقبت أمري ، أوقال: عاجل امري و أجله، فاقدره لي و يسره لي، ثم بارک لي فيه و ان كنت تعلم أن هذا الأمر شر لي في ديني و معاشي و عاقبة أمري أو قال عاجل أمري و آجله فاصرفه عني و اصرفني عنه و اقدر لي الخير حيث كان، ثم رضني به قال ويسمى حاجته) أى عند قوله: ( هذا الأمر)**[1]. ژباړه: د رسول الله ﷺ به موږ ته استخاره په ټولو امورو کې را ښودله لکه څرنګه به يې موږ ته يو سورت قرآنکريم څخه را ښودلو داسې به يې ويل چې کله يو د تاسو څخه ديو کار په سرته رسولو قصد وکړو، نو د فرضو پرته دوه رکعته لمونځ په وکړي بيا به وايي: آى الله! زه د ستا په علم سره د غوره کار غښتنه کوم اوزه د ستا په قدرت سره دا سوال کوم چې ما قادر کړې په خير د امورو (چارو) باندي او يا دا چه ماته خير د امورو مقدر کړي، او زه د تانه د ستا په لوی فضل سره سوال کوم، ځکه ته قادر يي اوزه قادر نه يم ته پوه او عالم يی، ته علام الغيوب په ټولو پټو امورو باندې ښه پوه يي، أى الله! ته په خپلی پوهې سره که چيري دغه کار (امر) خيروي د ما د دين، ژوند او د ما د عاقبت لپاره، أو يا يې وفرمايل دما دنيوي او اخروي ( عاجل او آجل)امورو ته خيروي، نو آى الله! ماته يي را پيښ کړئ او راته اسانه يي کړه، او بيا د ما لپاره برکت پکې واچوئ او که چيري د ستا په علم کې دغه کار ځما د دين، ژوند او عاقبت، يا خو يي وويل: ځما دنيوي او اخروي (عاجل او آجل)

---

١ - صحيح البخاري ، حديث: ١١٦٢.

امورو ته شر وي، آی الله پاکه! ما نه يي واړوئ او ما د هغه څخه واړوئ، ماته خير را پيښ کړئ هر چېري چې وي او بيا ما پرې خوښ کړئ، راوي وويل: د خپل حاجت نوم دې واخلې يعنې په وخت د دې قول کې (هذا الأمر) يعنی دغه کار. که چېري کوم طرف ورته ځرګند نشو نو مستحب دی چی بيا يې او وه ځلی تکرار کړی .

**۱۱- د تسبيح لمونځ:**

د تسبيح لمونځ ډېر فضليت او بی شميره ثواب او اجر لري مسلمان کولای شي چې د اوقاتو مکروهه څخه پرته هر وخت کې يې ادا کړي ښه به داوي چې پر ورځ او شپه کې يو ځل، يا په اوونی کې يو ځل، يا په مياشت کې يو ځل، يا بايد په ټول عمر کې يو ځل ادا شي د مشروعيت دليل يي هغه حديث دی چې امام منذري رحمة الله په حسن طريقې سره ذکر کړيدی.[1]

**د تسبيح لمونځ د ادا کولو طريقه او د هغه رکعتونه :** د تسبيح لمونځ څلور رکعته دی چې په هر رکعت کې سورت فاتحه او يو بل سورت لوستلی شي. او درې سوه ځلي دا تسبيح ( **سبحان الله و الحمدلله و لآ اله الا الله و الله اکبر**) چې په هر رکعت کې دا تسبيح (۷۵) پنځه اويا ځلي ويلی شي.

د ادا کولو طريقه دا دی: چې وروسته د ثنا څخه (۱۵) ځلي، ورسته د قرائت څخه (۱۰) ځلی په رکوع کې(۱۰) ځلي، په قومه ( رکوع څخه د پورته کيدو په حالت) کې (۱۰) ځلي، په هر سجده کې (۱۰) ځلې او په جلسه ( د دوه سجدو ترمنځ) کې (۱۰) ځلي چې د رکوع او سجدي تسبيحاتو څخه ورسته لوستلی

۱ - سنن الترمذي، حديث: ٤٨١.

شي. دا طريقه د هغه روايت برابره ده چې امام ترمذي له عبدالله بن مبارک څخه را نقل کړيد.

## ۱۲- د حاجت لمونځ:

دا څلور رکعته لمونځ دی چې وروسته ماسختن د لمانځه څخه اداکيږي څرنګه چې په دي حديث مرفوع وجود لري.

او په لاندينۍ طريقې سره ادا کيږي:

په اول رکعته کې يو ځل سورت فاتحه او دري ځلي د آيت الکرسی او په نورو درې رکعتونو کې يو ځل صورت فاتحه او يو ځل معوذ تين به لولی.

## د رواوالي د ليل يي:

**عن عبدالله بن أبي اوفى رضي الله عنهما قال: قال رسول الله : ( من كانت له الى الله حاجة أو الى أحد من بني آدم، فليتوضأ وليحسن الوضوء وليصل ركعتين، ثم ليثن على الله، وليصل على النبي ثم ليقل: لآ اله الا الله الحليم الكريم، سبحان الله رب العرش العظيم، الحمدالله رب العالمين، أسألک موجبات رحمتک، و عزائم مغفرتک، و الغنيمة من كل بر والسلامة من كل اثم، لاندع لي ذنبا الا غفرته ولا هما الا فرجته)**[۱].

ژباړه: د عبدالله بن أبي أوفى رضى الله تعالى عنهما څخه روايت چې وايي: نبی کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: د چا چې الله پاک او يا بل کوم انسان ته حاجت وي، نو او دس د کړي، دوه رکعته لمونځ د ادا کړي او د الله پاک ثنا د و وايي او بيا د په نبي کريم ﷺ درود و وايي بيا د دا دعا و وايي: ( لا اله الا الله الحليم الکريم، سبحان الله رب العرش العظيم الحمد الله رب العالمين، أسالک

۱ - سنن الترمذي، حديث: ٤٧٩.

موجبات رحمتک و عزائم مغفرتک، والغنيمة من کل بر، والسلامة من کل اثم لاتدع لي ذنبا الا غفرته ولا هما الا فرجته).

## ۱۳- د جنازی لمونځ:

د جنازې لمونځ حقيقت کې د الله ﷻ څخه د مړی لپاره دعا غښتل دي، چې يو شمير مسلمانان په اتفاق سره د ده لپاره د الله ﷻ رحمت غښتونکي دی له دې کبله په لمانځه د جنازې کې څومره زيات لمونځ کوونکي ګډون وکړي بهتر دی.

## د جنازې د لمانځه حکم:

د جنازی لمونځ فرض کفايي دی چې فرضيت يي په کتاب الله او د نبي کريم ﷺ په حديثو سره ثابت دی چې منکر يي کافر کيږي.

## د جنازی د لمانځه فرضونه:

۱- څلور تکبير ويل.

۲- دريدل، د عذر پرته د جنازې لمونځ په ناسته جايز نه دی.

## د جنازې د لمانځه سنتونه:

۱- د الله پاک حمد او ثنا ويل . يعنی سبحانک اللهم....

۲- په نبی کريم ﷺ درود ويل.

۳- د مړی لپاره دعا غښتل .

## د جنازې د لمانځه د اداکولو طريقه:

ټول مقتديان به په درې صفونو کې او امام به د مړي د سينې په برابرۍ و دريږي، ټول په د جنازې د لمانځه نيت وکړي او ټول به د امام تکبير سره تکبير وايي او خپل لاسونه به د غوږونو نرميو پورې پورته کړي اوبيا به يي د نورو لمونځو په څير

لاندې د نامه ځخه کیږدي او له دې لومړي تکبیر ځخه وروسته به ثنا ولولي: (**سبحانک اللهم و بحمدک و تعالی جدک و لآ اله غیرک**).

وروسته د ثنا ځخه به دلاسونو پورته کولو پرته به تکبیر وایي او ورسته له دې دوهم تکبیر ځخه به درود شریف وایي: ( أللهم صل علی محمد و علی آل محمد...).

بیا به دلاسونو پورته کولو پرته دریم تکبیر وایي او دمړي لپاره به مسنونه دعا کوي بیا به بی غیر د لاسونو پورته کولو ځخه ځلورم تکبیر ووایي او د هغه ځخه ورسته به دواړه طرف سلام گرځوي[1].

**د جمعې لمونځ او د هغه احکام:**

قال الله تعالی: ﴿**يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَوٰةِ مِن يَوۡمِ ٱلۡجُمُعَةِ فَٱسۡعَوۡاْ إِلَىٰ ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَذَرُواْ ٱلۡبَيۡعَۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ**﴾[2].

ژباړه: آی مؤمنانو! کله چې د جمعې په ورځ د لمانځه اذان وشو، نو د لمانځه او عبادت لپاره تلوار وکړئ پلورل او پیرودل پریدئ دا کار ( د الله پاک حکم) ستاسو لپاره غوره ځیز دی که پوهیږئ.

د جمعی لمونځ په عاقل، بالغ، نرینه، آزاد، جوړ، بینا ( په سترگو جوړ) او مقیم باندې فرض عین دی د جمعې لمانځه د ادا کولو لپاره لاندې امور شرط دی:

۱- ښار او ښار په عیدگاه کې ادا کیدای شي چې کلیو کې نشي ادا کیدای.

---

۱ - اسانه فقه مخ: ۳۴۹-۳۵۳ د اختصارسره.

۲ - د الجمعې سورت: ۹ آیت.

۲- پاچا (سلطان) او يا د هغه نائب به شتون لري او هغو پسې به دا لمونځ ادا کيږي او يا هغه چا پسې چې مسلمانانو دی د امام په حيث تعيين کړيوي.
۳- د جمعې لمونځ به دماسپښين په وخت کې ادا کيږي چې د هغه دوخت مخکې او ورسته نشي ادا کيږي.
٤- يو د شرايطو د لمانځه د جمعې دا هم دی چې د هغه څخه وړاندې به خطبه ويلی شي که چيري خطبه يوازې د الله په نوم باندې لنډه شي په نزد امام ابو حنيفه رحمة الله لمونځ صحی دی او شرط پوره شويدی او په نزد امام ابو يوسف او امام محمد رحمهما الله باندې بايد خطبه لوی ذکر باندې مشتمله وی چې هغې ته د خطبې نوم ورکولای شي.
٥- جماعت هم د جمعې د لمانځه څه يو شرط وی په نزد د طرفينو ( امام ابو حنيفه او اما محمد رحمها الله) باندې د اما پرته بايد حد اقل درې نفره وي او په نزد د امام ابو يوسف رحمة الله باندې د امام پرته بايد حد اقل دوه نفره وي[۱].

**د جمعې د لمانځه گټې او حکمتونه:**

**الف:** د ټولنې د افرادو په زړونو کې د هغې کاملې او شاملې عقيدې محکمول او د آسماني دين پيروانو ترمنځ د فکر د يوالي زمينه برابرول، تر څو د دوی ترمنځ ټولنيز تکامل منځ ته راشي. څرنگه چې رسول کريم ﷺ فرمايي: ( **مثل المؤمنين فی**

۱ - د زياتو معلومات لپاره د قدوري فارسی ژباړل شوي شرحې: ( التسهيل الضروري لمسائل القدوري) د وکتل شی.

**توادهم و تراحمهم و تعاطفهم، مثل الجسد اذا اشتکی منه عضو تداعی له سائر الجسد بالسهر و الحمی)**[1].

ژباړه: مؤمنان په خپل منځې مینه، ترحم او مهربانۍ کې دیو جسد په څیر دي کله چې له هغه څخه یو غړی په درد شي، نو ټول غړي د جسم ناراحته او بی خوبه شي).

**ب:** د جماعت لمونځ مظهر د مساوات یو والي او اتحاد په منځ د مسلمانانو کې دی او دارنگه تمرین او مشق دی په گډو ملي قضایاوو او مسایلو او د والاة الا مورو په اطاعت کې په هغو امورو کې چې د اسلامي شریعت څخه خلاف نه وي. هم داسې د جماعت لمونځ کې لمونځ کوونکي ټول په گډه یو هدف لپاره کوښښ کوي چې هغه حاصل شي چې هغه عبارت دی د الله پاک رضا څخه.

**ج:** د اسلامي ټولنې ترمنځ تعارف (پیژندگلوي)، الفت او مینه را تلل دی، د دوی ترمنځ په تقوی او ښوکاروکې مسرته کول او د مسلمانانو جاری احوالوته د ارزښت احساس وربخښني.

د: مسجد او لمونځ د صالحې او منظمې مدني ټولني د جوړښت مرکز دی، چې صالح مشران او رهبران له دي ځایه ټولنې ته وړاندې کیږي چې د خلکو خطاوې او انحرافات په سالم نقد چې د هر ډول شخصي غرض څخه لري وي، د مسجد له لوري په زړه پورې نصحیت او موعظي سره سمون پیداکوی. څرنگه چې نبي کریم ﷺ فرمایي: (**ان المؤمن للمؤمن کالبنیان یشد بعضه بعضا و شبک أصابعه**). [2]

---

١ - صحیح الامام مسلم، حدیث: ٢٥٨٦.

٢ - صحیح البخاري، حدیث: ٤٨١.

ژباړه: دیو مسلمان بل مسلمان ته دیو بنسټ په څیر دی چې یو بل محکموي، رسول کریم ﷺ د خپلو دواړو لاسونو کوتې یو تر بله ننوستي ( چې د دوی یو تر بله مرسته او ټینګښت وښايي).

(۱۱)

# د شعبان میاشتي اړوند فضلیتونه او مسئلې

**الحمدلله رب العالمین والعاقبة للمتقین والصلاة والسلام علی أشرف الأنبیاء والمرسلین و علی آله وأصحابه أجمعین.**

**أمابعد!**

**فأعوذ بالله من الشیطان الرجیم، بسم الله الرحمن الرحیم، قال الله تعالی:(فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ).**[1]

ژباړه : کله چې تاسو کې څوک دغه میاشت بیامومي باید روژه ونیسئ.

متدینو او مؤمنو لمونځ کوونکو او محترمو حاضرینو! السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

د الله ﷻ ثنا او صفت وایو چې ما او تاسو ته یې فرصت راکړ چې دی سپیڅلي ځای ته یې د الهی فریضی اداء کولو لپاره را ټول کړو. او توفیق یې راکړ چې د شعبان میاشتي اړوند مسئلو، فضایلو، دشک په ورځ د روژی نیولو مسایلو او همدا شان د روژي مبارکې میاشتي دلیدلو هڅو په هکله بحث او څیړنه وکړو:

---

۱ - د البقري سورت ۱۸۵ آیت.

**د شعبان میاشت او د روژی میاشتی راتلل:**

الله ﷻ انسان د روح او مادی نه پیدا کړی دی، د هغه په خټه او طبیعت کې تولی هغه طبعي او مادي غوښتنې او غریزې شته چې په نورو حیواناتو کې شتون لري.

ددی ترڅنګ د ده په فطرت کې د روحانیت نوراني جوهر هم شته، د انسان نیکمرغي او بریا پدی کې ده چې روحاني او ملکوتي ځانګه یې په حیواني عنصر باندی بر لاسی او واکمنه شي او هغه د خاصو حدودو او قوانینو تابع او منونکې وګرځوي.

**عن سلمان قال : خطبنا رسول الله ﷺ في آخر يوم من شعبان فقال : أيها الناس قد أظلكم شهر عظيم شهر مبارك شهر فيه ليلة خير من ألف شهر جعل الله صيامه فريضة و قيام ليله تطوعا من تقرب فيه بخصلة من الخير كان كمن أدى فريضة فيما سواه و من أدى فيه فريضة كان كمن أدى سبعين فريضة فيما سواه وهو شهر الصبر و الصبر ثوابه الجنة و شهر المواساة و شهر يزداد فيه رزق المؤمن من فطر فيه صائما كان مغفرة لذنوبه و عتق رقبته من النار و كان له مثل أجره من غير أن ينتقص من أجره شيء قالوا ليس كلنا نجد ما يفطر الصائم فقال : يعطي الله هذا الثواب من فطر صائما على تمرة أو شربة ماء أو مذقة لبن و هو شهر أوله رحمة و أوسطه مغفرة و آخره عتق من النار من خفف عن مملوكه غفر الله له و أعتقه من النار.** [۱]

او د روژی فلسفه هم همدا ده په هغه حدیث کې چې سلمان فارسي رضی الله عنه یې روایت کوي داسی راغلي دي چې: رسول الله ﷺ د شعبان میاشت په

۱ - صحيح ابن خزيمة، حديث: ۱۸۸۷.

وروستیو کې مونږ ته په وینا کې و فرمایل: ای خلکو! تاسو باندې د برکت ډکې او با عظمتي میاشتې سیوری غوړولی، یوه شپه ددی میاشتې (قدرشپه) د زرو میاشتونه غوره ده الله ﷻ یې روژه فرض کړی دی او په شپوکې یې په خپل بارګاه کې قیام (یعنی د تراویح لمونځ) یې نفلي عبادت بللی دی، هرڅوک چې پدی میاشت کې نفلي عبادت وکړي او موخه یې د الله ﷻ د رضا او قرب حاصلول وي.د نورو میاشتو د فرضي عباداتو په اندازه ثواب ورکول کیږي او د یو فرض اداکول په دی میاشت کې د نورو میاشتو د اویا فرضونو په کچه ثواب لري.

دا د صبر میاشت ده او د صبر په بدل کې جنت دی. د مرستی او مواسات میاشت ده داسی میاشت ده چې د مؤمنو بندګانو روزي پکی زیاتیږي هر څوک چې پدی میاشت کې کوم روژه تي ته (د الهي رضا او ثواب حاصلولو په قصد) روژه ماتی ورکړي، ګناوي یې ښښل کیږي او د دوزخ له اورنه ژغورل کیږي او د روژتي د ثواب په اندازه ثواب به ورکول کیږي. پرته لدی چې د روژتي د ثواب نه څه کم شي، عرض وشو چې: یا رسول الله! هریو څمونږ د روژه ماتې ورکولو وس نلري ( نو غریبان او بی وزلی ددی لوی ثواب نه پاتي کیږي؟) حضرت ﷺ و فرمایل: الله ﷻ دغه ثواب هغه چاته هم ورکوي چې: یوه خرما،یو ګوټ اوبه او یا یو غړپ شیدې کوم روژه تې ته ورکړي. (بیایې وفرمایل) د دې میاشتي لومړی برخه رحمت دی، دوهمه برخه یې مغفرت او وروستي برخه یې د دوزخ څخه خلاصون او آزادیدل دی. بیایې و فرمایل: او هر څوک چې: د خپلو غلامانو او مزدورانو په کارونوکی کمښت او تخفیف راولي الله ﷻ هغه ښښي او د دوزخ له اورنه یې ژغوري.[1]

---

۱ - فیض الباري د عبدالرحیم هروي کتاب ټوک ۳ مخ ۳۲۸.

**مومنو او متدینو لمونځ کوونکو!**

د الله جل جلاله شکر او مننه کوو چې یو ځل بیایې مونږ او تا سو ته فرصت را کړ چې ان شاء الله د روژې مبارکې میاشتې شاهدان اوسو چې هغه، د رحمت، مغفرت او د جهنم اورنه خلاصون میاشت ده. د برني حدیث نه د روژې مبارکې میاشتې اهمیت په پوره ډول جوتیږي چې د اخوت، وروري، بی وزلوته د مرستی او د سولې میاشت ده، هغه میاشت چې مونږ نه غواړي چې خپله ژمنه نوی کړو او ټولو بدیو ته نه ووایو، د الله ﷻ نه په عاجزی غواړو چې مونږ او تا سوته توفیق را پیرزو کړي چې ددی الهي فریضی په اداء کولو موفق شو خو د دینه وړاندې لازمه گڼم چې لږ د شعبان میاشتی په فضلیت او د روژې مبارکې میاشتې په مقدماتو کې تم شو:

**په شعبان میاشت کې د پیغمبر علیه السلام روژه:**

**عن عائشة رضي الله عنهاقالت: (كان رسول الله يصوم حتى نقول: لا يفطر و يفطر حتى نقول: لايصوم ما رئيت رسول الله استكمل صيام شهر قط الا رمضان و مارئيته في شهر أكثر منه صياما في شعبان)**[1]. د عایشه رضی الله عنها نه روایت دی چې د رسول الله ﷺ معمول عادت او تگلاره د کومې مستحبې روژې په هکله داسې وه چې کله یې مرتبه روژه نیوله تردی چې مونږ به فکر کاوه چې نور نو روژه نه پریږدي، او کله به یې روژه مرتبه نه نیوله آن چې مونږ به فکر کاوه چې نور نو روژه نه نیسي، حضرت عایشه وایي: ما هیڅکله دانده لیدلی چې پیغمبر علیه السلام دی د روژې میاشتې نه علاوه بله میاشت پوره روژه نیولی وي، او د شعبان میاشتی په اندازه

---

۱ - صحیح الامام مسلم، حدیث: ۱۱۵٦.

يې په کومه بله مياشت کې يې روژه نده نيولی. د ام سلمه (رضی الله عنها) نه پدی شرح روايت شوی دی: (**أن النبي لم يکن يصوم من السنة شهرا تاماً الا شعبان...**)[1].
يقيناً رسول الله ﷺ د کال يوه مياشت يې هم پوره روژه نده نيولی پرته د شعبان مياشتی نه يعنی د فرضي روژې څخه پرته.

**د شعبان مياشتي د روژی د مشروعيت حکمت:**

دا چې پيغمبر عليه السلام د شعبان مياشت کې روژه نيوله ګن لاملونه، حکمتونه لري په هغوی کې يو هغه حديث دی چې: اسامه رضی الله عنه وايي: پدی هکله د رسول الله ﷺ نه و پوښتل شول هغه وفرمايل: ( **ذلک شهر يغفل الناس عنه بين رجب و رمضان، و هو شهر ترفع فيه الأعمال الی رب العالمين فأحب أن يرفع علمي و أنا صائم**)[2].
دا هغه مياشت ده چې خلک تری غافل چې او د روژی او رجب ترمنځ د(شعبان) مياشت ده په همدی مياشت کې د بندګانو عملونه د الله ﷻ در باره ته وړاندی کيږي او دا ځما خوښيږی چې ځما اعمال پداسې حال کې وړاندې شي چې روژه وم. بر سيره پردي، د رمضان نزدی والی او ځانګړي برکتونه او انواريي: د شعبان مياشت کې د روژی انګيزه پيداکوي او د شعبان روژه همغه نسبت د رمضان سره لري لکه د فرضونه وړاندی نفل لمونځونه يې چې د فرضو سره لري.

**د نفلي روژو فضيلتونه:**

د اسلام مقدس شريعت د نورو نفلي عبادتونو په څير په نفلي روژي هم تاييد کړی دی ترڅو روحاني تربيه، تزکيه او پالونکي ﷻ رضا ترلاسه شي. د ځينی ورځو

---

١ - سنن أبي داود، حديث: ٢٣٣٨.

٢ - سنن النسائی، حديث: ٢٦٧٨.

فضیلتونه، برکتونه یې بیان کړي او د روژې نیولو هڅونه او تشویق یې کړی دی چې لاندې ډول یې یادونه کیږي:

**۱- د رمضان نه وروسته د شوال شپږ ورځو روژې:**

د أبو أیوب أنصاري رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: ( **من صام رمضان ثم اتبعه ستا من شوال کان کصیام الدهر**)[۱]. څوک چې د روژې میاشتې روژه ونیسي، او وروسته په شوال میاشت کې شپږ ورځې روژې ونیسي داسې دی لکه ټوله زمانه یې چې روژه نیولې وي .

که چیرې میاشت ۲۹ ورځې وي، الله ﷻ په خپل لطف او کرم سره د دیرش ورځو روژو ثواب ورکوي نو د شوال شپږو ورځو سره ۳٦ ورځې کیږي نو د الله جلت عظمته دکریمانه قانون له مخې ( **الحسنة بعشر أمثالها**) د یوې نیکې ثواب لس چنده ورکول کیږي نو پایله دا کیږي چې ټول کال یې روژه نیولې ده.

**۲- په هره میاشت کې درې ورځې نفلي روژې:**

په یو حدیث کې چې عبدالله بن عمر و بن عاص روایت کړی راغلي دي چې: د الله ﷻ استازي ﷺ ورته وفرمایل: (**صوم ثلاثة أیام من کل شهر صوم الدهر کله...**)[۲].

په هره میاشت کې درې ورځې روژه نیول د ټل روژه نیولو په څیر دی او عن حفصة رضی الله عنها قالت: (**أربع لم تکن یدعهن النبي صیام عاشوراء و العشر و ثلاثة أیام من کل شهر...**)[۳]. د حفصه رضی الله عنها نه روایت دی چې څلور څیزونه هیڅکله

---

۱ - صحیح الامام مسلم، حدیث: ۱۱٦٤.

۲ - صحیح البخاري، حدیث: ۱۹۷۹.

۳ - سنن النسائي، حدیث: ۲٤۱٦.

رسول الله ﷺ نه پرینبودل: ۱. د عاشورا ورځی روژه ۲. د ذوالحجی لسو لومړینو ورځو روژې ۳. د هري میاشتې درې ورځې روژی .

**۳- د بیض ورځو روژې:**

پدی هکله د پېغمبر علیه السلام نه پدی شرح حدیثونه روایت شوي دي: عن أبی ذر رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ: ( **یا أباذر! اذا صمت من الشهر ثلاثة أيام فصم ثلاث عشرة، و أربع عشرة و خمس عشرة**)[1].

د ابوذر غفاری رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ راته وفرمایل: ای ابوذره! کله دی چې په میاشت کې دری ورځی روژه نیول غواړی نو دیارلسمه، څوارلسمه او پنځلسمه ورځ روژه ونیسه.

همدا رنګه راغلي دي: عن قتاده بن ملحان رضي الله عنه قال: (**کان رسول الله يأمرنا أن نصوم البيض ثلاث عشرة و أربع عشرة و خمس عشرة و قال: هن كهيئة الدهر**)[2].

د قتاده بن ملحان رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ مونږ ته امرکاوه چې بیض ورځي یعني: دیارلسمه، څوارلسمه او پنځلسمه ورځ د هرې میاشتي روژې نیسی او فرمایل یې: د دی دری ورځو اجر او ثواب د همیشنی روژی سره برابر دي.

**٤- د عاشوراء ورځي روژې فضلیت او تاریخي أهمیت یی:**

**عن ابن عباس رضي الله عنه أن رسول الله قدم المدينة فوجد اليهود صياماً يوم عاشوراء فقال لهم رسول الله ما هذا اليوم الذي تصومونه؟ فقالوا هذا يوم عظيم انجى الله فيه موسى**

---

۱ - سنن الترمذي، حديث: ۷٦۱.

۲ -صحيح البخاری، حديث۲۰۰۲

**و قومه و غرق فرعون و قومه فصام موسى شكرا فنحن نصومه فقال رسول الله ﷺ فنحن أحق و أولى بموسى منكم، فصامه رسول الله ﷺ و أمر بصيامه).**[1]

د ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دی کله چې رسول الله ﷺ د مکې نه هجرت وکړ مدينې ته راغی ګوري چې يهود د عاشورا ورځ روژه نيسي، د هغوی نه يې پوښتنه وکړه چې: دا کومه ورځ دی چې تاسويي روژه نيولی ده؟ هغوی وويل: څمونږ په اند دايوه ستره ورځ ده په همدی ورځ کې الله ﷻ موسی او قوم بنی اسرائيل ته نجات ورکړ او فرعون او لښکريې غرق کړ نو موسی عليه السلام د مننی په توګه هغه ورځ روژه ونيوله نو مونږ هم د هغه په متابعت په دغه ورځ روژه نيسو رسول الله ﷺ و فرمايل: مونږ د الله ﷻ د پيغمبر موسی عليه السلام سره د تاسونه زيات ارتباط لرو او مونږ ډير وړيو، بيا رسول الله ﷺ پدغه ورځ روژه ونيوله او امت ته يې هم امر وکړ چې دغه ورځ روژه اوسئ. همدا شان راغلي دي: عن عائشة رضي الله عنها قالت: ( **كان يوم عاشورا تصومه قريش** فى **الجاهلية و كان رسول الله يصومه فلما قدم المدينة صام و أمر بصيامه فلما فرض رمضان ترک يوم عاشوراء فمن شاء صامه و من شاء ترکه)**[2].

عائشه رضي الله تعالی عنها روايت دی چې وايي: د جاهليت په وخت به د عاشورا په ورځ به قريشو روژه نيوله او رسول الله ﷺ به هم روژه نيوله کله چې مدينې منورې ته راغلو نو ددغې ورځ روژه يې ونيوله او امر هم په هغې کې د روژې وکړو

---

١ - صحيح البخاري، حديث: ٢٠٠٣، صحيح الامام مسلم، حديث: ١١٣٠.

هرکله چې د رمضان روژه فرض شوه نو د عاشورا ورځ روژه پريښودله نو چې د چا خوښه به شوه روژه به يې ونيوله او د چا به چې خوښه شوله نو روژه به يې نه نيوله.

## ٥- د عرفې ورځې د روژې فضليت:

د حضرت أبى قتاده رضى الله عنه نه روايت دى چې رسول الله ﷺ و فرمايل: (**صيام يوم عرفة أحتسب على الله أن يكفر السنة التي قبله والسنة التي بعده و صيام يوم عاشوراء أحتسب على الله أن يكفرالسنة التى قبله**)[١].

د الله ﷻ نه تمه كووم چې د عرفې ورځې روژه ديو كال وړاندى او يو كال وروستو گناهونو لپاره كفاره شي او د الله ﷻ نه هيله لرم چې دعاشورا ورځى روژه ديو كال وړاندى گناهونو لپاره كفاره شي.

## ٦- د دوشنبې او پنجشنبې روژه فضيلت:

د اسامه بن زيد رضى الله عنه څخه روايت شوى حديث كې راغلي دي: ( **ان النبي كان يصوم يوم الاثنين والخميس فسئل عن ذالک فقال ان أعمال الناس تعرض يوم الاثنين و يوم الخميس و في لفظ و أحب أن يعرض عملي و أنا صائم**)[٢].

پيغمبر عليه السلام به دوشنبى او پنجشنبى ورځو كې روژه نيوله نو پدى هكله وپوښتل شو وى فرمايل: د بندگانو عملونه د دوشنبى او پنجشنبى په ورځو د الله ﷻ مخى ته ايښودل كيږي. په بل لفظ كى دي : دا خوښوم چې پداسى حال كې ځما عملونه وړاندې شي چې روژه وم.

---

١ - صحيح الامام مسلم، حديث: ١١٦٢.

٢ - مسند الامام احمد، حديث: ٢١٧٤٤.

**وعن أبي قتاده رضي الله عنه أن رسول الله (سئل عن يوم اثنين فقال: فيه ولدت و فيه أنزل علي)**[1].

د ابی قتاده رضي الله عنه روايت دی چې د پیغمبر علیه السلام نه د دوشنبی ورځی په هکله پوښتنه وشوه، وي فرمایل: دوشنبی په ورځ زیږیدلی یم او په همدې ورځ قرآن را باندې نازل شوی دی.

د پورتني مبارک حدیث نه څرګنده شوه چې رسول الله ﷺ به اکثراً د دوشنبی په ورځ روژه ؤ، بله دا چې پدی ورځ د بندګانو عملونه د الله ﷻ حضورته وړاندی کیږي. او بله انګیزه دا هم چې د دي دوو لویو نعمتونو (زوکړه او وحی اونبوت) مننه او شکر ؤ چې حضورته د دوشنبی په ورځ ورکړ شوي دي او ټولو نړیوالو ته د نعمت او رحمت په توګه استول شوی دی.

عزتمنو لمونځ کونکو او دینپالو حاضرینو: آیا مونږ او تاسو ددی میاشتی اهمیت وپیژانده؟ د هغی له فیوضاتو او برکاتو نه موګټه واخسته؟ نو راشئ ددې فرصت نه عظیمه ګټه واخلو او ځان جسماً او روحاً د رمضان مبارکې میاشتې لپاره تیار کړو او لویه معنوي پانګه کمایي کړو هغه میاشت چې: خورا ډېر او زیات فضایل لري.

**د شک ورځې روژي نیولو ممنوعیت:**

اړینه او ضروري ده پدی پوه شو چې د شعبان میاشتی وروستیو ورځو او شک ورځ کې روژه نیول جواز لري او کنه؟

لیدل شوي چې ځینی خلک حکم ته یې د توجه پرته دغه عمل کوي، په اسلامي شریعت کې د رمضان میاشت روژه فرض شوی ده، لکه څنګه چې جوته ده د

[1] - صحیح الامام مسلم، حدیث: ۱۱۶۲.

شریعت حدودو د حفاظت لپاره امر شوی چې: د رمضان نه یوه دوه ورځی وړاندی روژه ونه نیول شي کچېرې د عبادت علاقمندان داسی وکړي نو دا خطر شته چې عموم خلک د ناپوهی لامله دا یو شرعي حکم او مسئله وګڼي لذا منع تری شوی ده.

د الله ﷻ استازي ﷺ فرمایلي دي: ( **لایتقدمن أحدکم رمضان بصوم یوم أو یومین الا أن یکون رجل کان یصوم صوما فلیصم ذلک الیوم** ).[1]

یعنی: هیڅ یو ستاسو دی د رمضان نه وړاندې یوه یا دوه ورځی روژه نه نیسئ. مګر هله چې اتفاقا دغه ورځې د هغو ورځو برخه وي چې تل روژه نیسي نو د خپل معمول مطابق دی روژه نیسي.

(**عن عمار بن یاسر قال: من صام الیوم الذي یشک فیه فقد عصی أبا القاسم** )[2].

یعنی د عمار بن یاسر نه روایت دی چې هغه وویل: چا چې د شک په ورځ روژه ونیوله هغه د پیغمبر ابو القاسم نه سر غړاوی وکړ.

د شک ورځي نه مراد هغه ورځ ده چې مشکوکه وي چې آیا رمضان دی او کنه: مثلاً شعبان میاشتی په ۲۹ ورځ د آسمان په افق باندی وریځ ګرد او دوړی وي او میاشت ونه لیدل شي ورپسی ورځ مشکوکه ده ځکه کیدای شي میاشت را ختلی وي خو د وریځو او نورو لامله د لیدلو وړنه وي او په حقیقت کې دا د رمضان ورځ وي او په شریعت کې دغه شک او وهم کوم اعتبار نلري پدی صورت کې د شعبان میاشت دیرش ورځي شمیرل کیږي.

---

۱ - صحیح البخاري، حدیث: ۱۹۱٤.

۲ - سنن النسائي ، حدیث: ۲۱۸۷.

په بل حدیث کې راغلي دي: (**اذا بقي نصف من شعبان فلا تصوموه**).[1]
یعنی: کله چې نیمایي شعبان پاتی شو نو روژه مه نیسئ.

## د روژې میاشتې د اثبات لارې:

د رمضان میاشت را رسیدلو د اثبات دوه لارې دي چې په لاندی ډول یې یادولای شو:

## د رمضان مبارکې میاشتی میاشت لیدل:

لکه چې رسول الله ﷺ و فرمایل: ( **صوموا لرؤیته و أفطروا لرؤیته فان غم علیکم فاکملوا عدة شعبان ثلاثین**).[2]

په لیدلو یې روژه ونیسئ او په لیدلو یې وخورئ او که هوا وریځ وه نو شعبان دیرش پوره کړئ نو پر خلکو لازم ده چې د شعبان میاشتې په نهه ویشتمی د رمضان مبارکې میاشتې د لیدلو هڅه وکړي دلیدلو په صورت کې روژه ونیسئ او د وریځو په مهال دیرش ورځی د شعبان دی پوره کړئ بیا دی روژه ونیسئ. د یادونی وړ ده چې کله د مبارکې رمضان میاشتې دلیدلو شاهدي یو مسلمان، عاقل، عادل شخص ادا کړه هغه ښځه وي که نر آزاد وی او که مریه د منلو وړده او همغه ورځ روژه ده خو کچېری آسمان وریځ نه ؤ او شین ؤ او د میاشتی لیدلو کوم مانع هم نه ؤ نو دیو سړي یا دوه سړیو شهادت د منلوندی ترڅو چې ګڼ خلک د میاشتی دلیدلو شاهدی ور نکړي ځکه پدی صورت کې د دوی د راپور نه علم یقین نه حاصلیږي. او دواړه بختور اختر د میاشتی لیدلو په هکله باید ولیکو چې: کچیری

---

١ - سنن الترمذي، حدیث: ٧٣٨.

٢ - صحیح ابن حبان، حدیث: ٣٤٥٧.

آسمان وریځ ؤ او د کوم علت په بناء د ټولو لیدل ممکن نه ؤ د قاضی او امام په وړاندی د دوو سړیو او دوو ښځو نه لږو شاهدی نه منل کیږي خود ګرد دوړو د نشتون په صورت کې باید ګڼ خلک د میاشتی د لیدو شاهدي ورکړی تر څو د اخبار څخه یې علم یقین حاصل شي.

باید په یاد ولرو چې که یو سړی د رمضان مبارکې میاشتی یا د اختر میاشت ووینې او قاضي ته یې شهادت ورکړ خو هغه قبول نکړ نو څه وکړو؟

په ځواب کې باید وویل شي چې: کچیرې یې د مبارک رمضان میاشت ولیده نو خپله دی روژه ونیسئ خو د اختر د میاشتی لیدلو په صورت کې چی قاضی ونه منله نو د نوروخلکو سره دی روزه ونیسی او په خپلو لیدلو دی عمل نه کوي.[1]

**مونږ په دی مبارکی میاشت کې کوم اهداف غواړو؟**

مونږ مسلمانان باید ددی مبارکی میاشتی د ډیر ښه تیرولو په موخه لاندی اهداف پلي کړو:

١- د نورو وختونو نه لازیات قرآنکریم تلاوت او د میاشتی په اوږدوکې ختمول.

٢- په جماتونو کې په جماعت سره شل رکعت تراویح لمونځ کول.

٣- د روژه ماتی په مهال د ځان هېواد او ټول اسلامي امت لپاره دعا کول.

٤- د پیشلمی لپاره را ویښیدل او سحري په دعا ذکر او لمانځه کې تیرول.

٥- ګاوندیانو، خپلوانو او طالب علمانو ته روژه ماتی ورکول.

٦- په خیراتونو او صدقاتو کې زیاتوالی کول، بی وزلو، فقیرانو سره مرسته او د بی وزلو ماشومانو او ځوانان د تحصیل او تعلیم مصرف تیارول.

---

١ - التسهیل الضروري لمسائل القدوري د محمد عاشق بلند شهری کتاب: ټوک ١ مخ ١١١٤.

۷- د اسماء الله ﷻ زیات یادول او ذکر کول.

۸- خپله روژه نه بدرنګول داسی چې له ګنا هونو او له: غیبت، بدګماني، دروغ او اوازی خپرولونه لری اوسو.

۹- د نورو خیر غوښتنه او د نجات ښوونکي اسلامي دین لپاره لا ډېر خدمت کول، د لاسته راغلي فرصت نه په استفادی او د زړونو نرمیدل.

۱۰- د ټولنې جوړونکو او ځوان نسل د روزنی لپاره د خیر خلک هڅول او لارښونه ورته کول چې پدی اړه نوي کارونه وکړي.

۱۱- هڅه او هاند ترڅو د بدو او ناوړه عادتونو نه واټن واخلو پدی د برکتونو او رحمتونو میاشت کې

۱۲- د روژی مبارکي ویل ټولو متعهدو او مؤمنو ورونو ته پیژنویې او کنه؟

۱۳- د رمضان د ټولو شپو نه خورا ډېره استفاده خصوصا په ورستی لسیزه کې عبادت دعا، ذکر و کړو، دیته په کتلو چې کیدای شي هره شپه د قدر شپه وي، الله ﷻ دې مونږ پدې ستر امتحان او ابتلاء کې موفق او بریالي کړي.

١٢

## د رمضان مباركې مياشتې احكام او فضليت

**الحمد لله الذي اختص شهر رمضان بفضلية الصيام من بين سائر الشهور وفتح فيه أبواب الجنان بما فيها من السرور والحبور، وكملها بأنواع الكرامات وهيأها لكل موحد شكور، وأغلق فيه أبواب النيران والصلاة و السلام على خاتم الأنبياء محمدﷺو على آله وصحبه أجمعين. أمابعد!**

**فأعوذ بالله من الشيطان الرجيم، بسم الله الرحمن الرحيم.**

**﴿كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾.**[١]

صدق الله العظيم.

مومنو دوستان او روژتيانو! د الله ﷻ شكر او منته كوو چې: د رمضان مياشتى په درشل كې يو، د رحمت، مغفرت او د دوزخ اورنه د آزادى مياست. رمضان د زمانى ديو پړاو نوم دى چې زړونه، كورنى په غيړكې نيسي، دا له يوى خوا مونږ د زمانى د طلوع او غروب نه خبروى او له بلى خوا ځمونږ رابطه د لمر او سپوږمى سره لا ټينګوي چې د آسمان ستر نښى دى د وروستى ورځې د راختو د نيت لپاره ناهيلې ته هيڅ لار نه وركوي رمضان هغه مياشت ده چې سپوږمى او لمر ځمونږ پر ايمان او اعمالو باندى شاهدان ګرځوي، د روژه ماتى په مهال د واټونو چوپتيا د اسلام

---

١ - د البقري سورت ١٨٣.

د غږ نښه ده هغه شیبه چې ټول مومنان د روژه ماتی په دسترخوان را ټولیږي ګواکې کوم قیامت انځوریږی، یوازی رمضان دی چې هر ډول خوند ډېر لوړ پړاو ته رسوي په اوږي کیدو او تږی کیدو سره جسم او روح مړیږي د شونډو وچوالی: زړه په معنوي ذوق سره خړوبیږي، د معدی په کوچنیتوب سره معنویات او چتیږي.

**مسلمانو ورونو او مؤمنو او دین پالو لمونځ کوونکو:**

ددې وړاندې چې ددې اسلامې فریضی فضلیت، حکمتونو او ګټو په اړه بحث وکړو، لازمه ګڼم چې ددې د تعریف او تاریخي مخینی په هکله هم تم شم غوره به داوي لومړی روژه (صوم) معرفي کړم:

**د صوم تعریف:**

صوم په لغت کې مطلق امساک او ځان ساتنی لکه چې عربان وايي: (صامت الشمس) کله چې لمر ماسپښین مهال د آسمان په منځ کې و دریږي اوویل کیږي چې: (صام عن الکلام) یعنی: دخبرو کولو نه یي ډډه وکړه او په اصطلاح د شرع کې عبارت ده له خاص امساک او ځان ساتنی څخه له دریو مفطرات څخه چې خوړل ،څښکل، او میړه او عورتې روابط دی سره د تقرب او عبادت په نیت او قصد د مخصوص شخص لخوا چې عبارت دی د مسلمان شخص نه په مخصوص صفت چې د حیض او نفاس نه پاکوالی دی، په مخصوص وخت کې چې عبارت دی له طلوع د فجر صادق (دوه هم فجر) نه تر لمر پریوتو پوری.[۱]

---

۱ - الاختیار لتعلیل المختار، للموصلي، عبدالله بن مودود، ټوک ۱مخ ۱۲۵.

## د روژې د فرضیت دلیلونه:

الله ﷻ فرمایي: (**یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُواْ کُتِبَ عَلَیْکُمُ الصِّیَامُ کَمَا کُتِبَ عَلَى الَّذِینَ مِن قَبْلِکُمْ لَعَلَّکُمْ تَتَّقُونَ**).[1]

ای مومنانو! فرض شوی ده په تاسو باندی روژه همغه شان چې تاسونه پخوا خلکو باندی فرض شوی وه ترڅو متقی شي. او فرمایي:( **شَهۡرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِىٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلۡقُرۡءَانُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَٰتٍ مِّنَ ٱلۡهُدَىٰ وَٱلۡفُرۡقَانِۚ فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ ٱلشَّهۡرَ فَلۡيَصُمۡهُۖ**).[2]

د رمضان هغه میاشت چې قرآن پکې نازل شوی دی، ترڅو خلکوته لارښونه وکړي او د لارښوونی ښکاره آیتونه او نښی دي او د (حق او باطل) سره بیل کړی نو هر چا د تا سو چې ددغی میاشتی را تلل بیاموندل باید هغه روژه ونیسي.

په حدیث شریف کې راغلي دي چې جبریل علیه السلام دیو بانده چې سړي په بڼه راغی او د رسول الله ﷺ نه یې پوښتنه وکړه ترڅو په مجلس کې ناست خلک یې واوري او د خپل دین مسلی زدکړي نو رسول الله ﷺ په ځواب کې وویل: (**الاسلام أن تشهد أن لآ اله الا الله... وتصوم رمضان و...**).[3]

اسلام دا دی چې پدی شاهدی ورکړی چې د الله ج نه پرته کوم حق معبود نشته دی او د رمضان میاشت روژه ونیسي او ....)

---

١ - د البقرې سورت ١٨٣ آیت.

- د البقرې سورت ١٨٥ آیت.٢

٣ - صحیح البخاري، حدیث: ٥٠.

په همدی ترتیب زیات او مشهور حدیثونه شته دي چې د روژی په فرضیت او فضیلت باندی دلالت کوي او ټول مسلمانان ددی مبارکې میاشتې په فرضیت باندی اجماع لري چې انکار ترینه کفر ګڼل کیږي.

**د روژی د فرضیت تاریخ پانګه :**

د بقري سورت (۱۸۳) آیت مطابق د روژی د موجودیت فکر په ټولو آسمانی ادیانو کې ؤ، خود زمانی په تیریدو تغییر او تحریف سره مخامخ شوه او د اسلام د ستر پیغمبر په بعثت سره د هغی احکام او مسایل وټاکل شول، په هغه حدیث کې چې امام بخاري رحمة الله یي روایتوي راغلي دي: (**أن قریشا کانت تصوم یوم عاشوراء فی الجاهلیة ثم أمر رسول الله بصیامه حتی فرض رمضان و قال رسول الله من شاء فلیصمه و من شاء أُفطر**)[1] .

دا چې قریشو په جاهلیت کې د عاشورا ورځ روژه نیوله نو رسول الله ﷺ ددی ورځی د روژی نیولو امر و فرمایه تردی چې د رمضان روژه فرض شوه رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک غواړي دغه روژه دی ونیسی او څوک غواړی ماته دی کړي. د رمضان روژه پدی بنه د هجرت په دوم کال فرض شوه او د الهي فریضو یو فرض دی چې د انسان په اخلاقي عملی اجتماعي ژوند کې د مثبت اغیزمنتیا او ګټی واقعیت منل لیدل کیږی.

**د رمضان مبارکی میاشتې ځانګړتیاوې:**

روژه یو معنوی لذت دی چې ټوله هستي ځمونږیې به بیلا بیلو اشکالو را نغښتی ده لوږه او تنده او مړښت پدی لارکې همدا لذت را منځته کوي د عمر او ورځی

۱ - صحیح البخاري، حدیث: ۱۸۹۳.

برکت د لمر خاته نه وړاندی تنظیموي، انسان، د صدقه فطر، زکات، روژه ماتی، او ډالی ورکولو سره چې د خپل لاس مزدوري یې ده، د ماده له اسارته خلاصیږي او د حقیقی مکافات د ورځو په انتظار کې وی، هره کتنه او عمل یي د الله ﷻ د جمال لپاره وي.

**مومنو او متدینو لمونځ کوونکو:**

لومړی باید پدی پوه شو چې د څه لپاره روژه نیسو؟

او د روژی نیولونه موهدف څه دی؟ او بیا د روژی خصایص او فضایلو باندی بحث وکړو. نو ستاسو حضور کې باید عرض شي چې ځمونږ روژه نیول یوازی د الله ﷻ د امر په ځای کول او د هغه د رضا ترلاسه کول دي، نه کوم دنیوی منفعت ترلاسه کول.

حضرت علی رضی الله عنه فرمایلي دی: (کوم عبادت چې د منفعت ترلاسه کولو په موخه تر سره کیږي هغه د سودا ګرو عبادت دی، هغه عبادت چې د بیرې له مخی تر سره کیږي هغه د غلامانو عبادت دی او کوم عبادت چې د الله ﷻ د نعمتونو د شکر او مننې په نیت تر سره کیږي هغه د آزادو انسانانو عبادت دی[۱] .

روژه د اسلام دریم رکن دی کوم خصوصیتونه چې لري نو د رمضان میاشت د کال د نورو میاشتو نه جلا ده ځکه پدې میاشت کې قرآن کریم په حضرت محمد ﷺ باندی د نزول شرف حاصل کړی او اسلامي او توحیدي دعوت هم په دی میاشت کې پیل شوی دی، په همدی خاطر پیغمبر علیه السلام پدې مبارکې

۱ - معارف الحدیث: ټوک ٤ مخ ٤٤٢.

میا شت کې دیوې خطبې په ترځ کې وفرمایل: (**عن سلمان قال : خطبنا رسول الله صلى الله عليه و سلم في آخر يوم من شعبان فقال : أيها الناس قد أظلكم شهر عظيم شهر مبارك شهر فيه ليلة خير من ألف شهر جعل الله صيامه فريضة و قيام ليله تطوعا من تقرب فيه بخصلة من الخير كان كمن أدى فريضة فيما سواه و من أدى فيه فريضة كان كمن أدى سبعين فريضة فيما سواه وهو شهر الصبر و الصبر ثوابه الجنة و شهر المواساة و شهر يزداد فيه رزق المؤمن من فطر فيه صائما كان مغفرة لذنوبه و عتق رقبته من النار و كان له مثل أجره من غير أن ينتقص من أجره شيء قالوا ليس كلنا نجد ما يفطر الصائم فقال : يعطي الله هذا الثواب من فطر صائما على تمرة أو شربة ماء أو مذقة لبن و هو شهر أوله رحمة و أوسطه مغفرة و آخره عتق من النار من خفف عن مملوكه غفر الله له و أعتقه من النار.**[1]

د سلمان فارسي رضی الله عنه نه روایت دی چې د شعبان په وروستی ورځ کې رسول الله ﷺ مونږ ته یوه خطبه واوروله وی فرمایل: ای خلکو! تاسو باندی یوې عظیمې او له برکته ډکې میاشتې سیوری غوړولی دی یوه شپه (دقدرشپه )یی دزرو مایشتو نه غوره ده الله ﷻ ددغی میاشتی روژه فرض کړی ده، او په شپوکې خپل ذات ته قیام یې ( د تراویح لمونځ) نفلي عبادت ټاکلی دی (چی ثواب یې زیات دی) څوک چې پدی میاشت کې نفلي عبادت وکړي قصدیې د الهی رضا او قرب حاصلولو وي، د نورو میاشتو د فرضي عباد تونو په کچه ثواب ورته رسیږي. او په دی میاشت کې د فرض اداء کول د نورو میاشتو د اویا فرضونو به اندازه ثواب لري. دغه میاشت د صبر میاشت ده او د صبر عوض جنت دی، د خوا خوږی او

۱ - صحیح ابن خزیمة، حدیث: ۱۸۸۷.

مواسات میاشت ده او دا همغه میاشت ده چې د مؤمنو بندگانو روزي پکې زیاتیږي. هر څوک پدی میاشت کوم روژه تی ته ( د ثواب او الهی رضا حاصلولو په موخه) روژه ماتی ورکړي گناهونه يې ببښل کیږي او د دوزخ له اورنه آزادیږي. عرض وشو چې: یا رسول الله ﷺ! ځمونږ هریو د روژه ماتی ورکولو وس نه لري ( نو آیا بی وزلي او مسکینان ددی ستر ثواب نه پاتیږي؟) هغه حضرت ﷺ و فرمایل: الله ﷻ دغه ثواب هغه چا ته هم ورکوي چی یوه خرما یا یو غړب اوبه اویا لږې شیدې کوم روژه تی ته په روژه ماتې کې ورکړي. (بیایې و فرمایل:) ددی میاشتې لومړی برخه رحمت ده او منځنی برخه يې مغفرت ده او وروستی برخه يې د دوزخ داور نه خلاصون دی. (بیایی وفرمایل): او هرڅوک چې پدی میاشت کې د خپلو غلامانو او خادمانو کارونو کې کمبت او تخفیف راوړي الله ﷻ بی يې وببښي.

**د روژی د وجوب شرطونه:**

د روژی د واجبیدو شرطونه عبارت دي له:

۱.مسلمان والی

۲. بالغ والی

۳. عاقل والی

٤. د روژې نیولو جسمي ځواک در لودل.

کچیرې چا د بوډا توب یالا علاجه بیماري لامله روژه ونشوه نیولای، نوباید د هری ورځې روژې په بدل کې نیم صاع خواړه (هغه خواړه چې معمول دي) د فدیه په توگه ورکړي ځکه الله ﷻ فرمایی: ( و **على الذين يطيقونه فدية**)[1] .

۱ - د البقرې سورت ۱۸٤ آیت.

په هغو کسانو چې روژه نیول ورته سخت او کړاو وي لکه: ( بوډاگان بوډی گانی) هغه رنځوران چې د روغتیا هیله یې نشی کیدای. هرې ورځې روژې خوړلو په بدل کې فدیه پرې واجبه ده.[1]

**د روژې د صحت او صحیح والي شرطونه:**

د روژې د صحت شرطونه عبارت دي له:

۱- مسلمان والی.

۲- د پاکی او طهر حالت به ښځو کې (په حیض او نفاس په زمانه کې نه اوسیدل)

۳- د تمیز قدرت( داسی چې احکام تشخیص او مراعات کړای شي)

۴- عاقل والی

۵- نیت کول.[2]

مؤمنو روژتیانو متدینو مسلمانانو :

لکه چې پوه یاست د الله ﷻ بی پایه احسانونو کې یو داده چې پدی مبارکه میاشت یعنی رمضان کې د هر نفلي عمل ثواب او اجر د نورو ورځو د کال د فرایضو له اجر او ثواب سره یوشان دی نو ډیره ښه به داوي چې ددی میاشتی د روژې ځینو سنتونو ته څه اشاره وکړو:

**د روژې سنتونه:**

۱- پیشلمي په وروستي وخت کې خوړل او بیړه کول په روژه ماتی کې:

---

۱ - الاسلام عقیدة و عبادة و أخلاقا لمحمد بن عبدالسلام، مخ ۱۳۰.

۲ - کلیات اسلام للجزائري، مخ: ۳۲٦.

ځکه رسول الله ﷺ فرمايي ( **لاتزال أمتي بخير ما أخروا السحور و عجلوا الفطر**)[1].
تل به ځما امت (محمدی امت) په خير او ښيگڼه وي ترڅو چې پيشلمی وروسته او روژه ماتي کې بيړه وکړي.
همداشان په بل حديث کې فرمايي (**لايزال الناس بخير ما عجلوا الفطر**) [2].
تر هغو به خلک په خير او ښيگڼه وي چې د روژه ماتې په خوړلوکې بيړه وکړي.
۲-ښه او نيک کارونه.
۳-کچيرې څوک روژه تي ته ښکنځل وکړ او سپکاوی يې وکړ نو ځواب کې دی ورته و وايي: زه روژه لرم.

**۴ - روژه ماتی په مهال دعا کول:**

ځکه په حديث کې راغلي دي: (**ذهب الظمأ و ابتلت العروق و ثبت الأجر ان شاء الله**)[3].
تنده ماته شوه او د بدن رگونه تاند شول ( آرام او هوسا شول.) کچيرې الله تعالی وغواړي ثواب او اجر واجب شوی او تحقق يې ميندلی.

**۵- تازوو خرماوو سره روژه ماتی کول:** او کچېرې پيدانشوی نو د معمول خرماؤ (وچې چې تاندی نه وی) سره دی روژه ماته کړي او کچيرې يوه هم پيدا نشوه نو په اوبو دی روژه ماته کړي ځکه حضرت أنس بن مالک رضی الله عنهما روايت

---

۱ - مسند الامام احمد، حديث: ۲۱۵۰۷.
۲ - صحيح الامام مسلم، حديث: ۱۰۹۸.
۳ - سنن أبي داود، حديث: ۲۳۵۹، او سنن النسائي، حديث: ۸۳۹۱.

کوي چې: (**كان رسول الله ﷺ يفطر على رطبات قبل أن يصلي فان لم تكن رطبات فعلى تمرات فان لم تكن حسا حسوات من الماء**)[1].

رسول الله صلي الله عليه السلم به د ماښام لمانځه اداء کولونه به مخکې څو تاندو خرماؤ باندی روژه ماتوله او که تازه خرما به نه وه نو په څو معمولي خرماؤ به يې افطار کاوه او که کجوره به نه وه نو څو غړ په اوبه به يي ځښکلی.

**روژه تي ته د روژه ماتي ورکولو ثواب:**

**عن زيد بن خالد الجهني رضي الله عنه عن النبي قال: من فطر صائما كان له مثل أجره، غيرأنه لاينقص من أجر الصائم شيء)** [2].

د زيد بن خالد جهنی نه روايت شوی چې: پيغمبر عليه السلام وفرمايل: څوک چې کوم روژه تي ته روژه ماتی ورکړي او روژه يې ماته کړي د هغه لپاره د هغه په څير اجرشته بی لدی چې د روژه تي له اجرنه څه کم شي.

**و عن أم عمارة الأنصارية رضي الله عنها أن النبي دخل عليها فقدمت اليه طعاماً، فقال: كلي فقالت: اني صائمة، فقال رسول الله ان الصائم تصلى عليه الملائكة اذا أكل عنده حتى يفرغوا و ربما قال (حتى يشبعوا)**[3].

د ام عماره انصاري نه روايت دی چې رسول الله ورکره تشريف يووړو او هغی خواړه ورته راوړل وفرمايل: و خوره! وی ويل: زه روژه يم رسول الله ﷺ وفرمايل: فرښتی به

---

۱ - سنن أبي داود، حديث: ۲۳۵٦.

۲ - سنن الترمذي، حديث: ۸۰۷.

۳ - سنن الترمذي، حديث:۷۸۵.

روژه تي باندی درود وايي کله چې دده په وړاندی خوړل وشي تر هغه چې وزګار شي او يايي وويل : ترڅو چی ماړه شي .

**عن أنس رضي الله عنه أن النبي جاء الى سعد بن عبادة رضي الله عنه فجاء بخبز و زيت فأكل، ثم قال النبي أفطر عندكم الصائمون و أكل طعامكم الأبرار وصلت عليكم الملائكة).** [1]

د انس بن مالک رضي الله عنهما نه روايت شوی چې رسول الله ﷺ سعد بن عباده ته راغی او هغه ورته ډوډی او غوړي راوړل، رسول الله ﷺ وخوړل او وی فرمايل يعنی دعای ورته وکړه : تاسو سره روژتيالو روژه ماته کړي اوښه خلک دستاسو ډوډی وخوړي او فرښتی دې پرتاسو درود را واستاوي.

**تراويح لمونځ:**

تراويح د شپې لمونځ او د رمضان مبارکې مياشتې پوری تړلی دی، او د ماسختن د لمانځه وروسته اداء کيږي، او په هر نارينه او ښځينه باندی سنت دی، کله چې اداء نشي قضايي نه لري په جماعت سره کول يې کفايی سنت دي، خو په انفرادی ډول هم اداء کيدای شي، پيغمبر عليه السلام د جماعت لمانځه اهميت ته په کتو دغه لمونځ هم په جماعت اداء کړی دی.

رسول الله ﷺ د تراويح لمونځ د لومړی ځل لپاره خپلو درنو يارانو سره يوه شپه اداء کړی دی بله ورځ کله چې خلک خبر شول د لمونځ کوونکو شمير زيات شو بيا هم د تراويح لمونځ په جماعت سره اداء کيږي، دريمه شپه هم همداسی د لمونځ

---

[1] - سنن أبي داود، حديث: ٣٨٥٦.

کوونکو شمیر زیاتیږي او رسول الله ﷺ هم د خپل کورنه راوځي او د ترایح لمونځ د خپلو یارانو سره په جماعت اداء کوی.

خو دا چې به ځلرمه شپه د لمونځ کوونکو شمیر هومره زیاتیږي چې په مسجد کې نه ځاییږي، نو پیغمبر علیه السلام یوازې د ماسختن لمونځ په خپل امامت سره اداء کوي او خپل کورته ستنیږي، لمونځ کوونکي تر سهار لمانځه پورې د تراویح لمانځه اداء کولو لپاره انتظار وکړ رسول الله ﷺ د سهار لمانځه اداء کولو وروسته ورته وویلې: (**ولکني خشیت أن تفرض علیکم صلاة اللیل فتعجزوا عنها**) **و فی روایة : ذالک في رمضان)** [1]. امازه و بیریدم چې هسی نه د شپې لمونځ پرتاسو فرض شي او تاسی یې وس ونه لري. د دینه وروسته مسلمانانو د تراویح لمونځ په خپلو کورونو کې کولو. حضرت عمر رضي الله عنه په خپل خلافت کې حضرت ابی بن کعب امام وټاکه او په جماعت سره د تراویح لمونځ اداء کولو پیل یې وکړ، ددی لپاره چې د شته بی نظمیو مخینوی وشي، د هغه نه وروسته حضرت علی رضی الله عنه هم په خپل خلافت کې د حضرت عمر رضي الله عنه دغه کار خوښ کړ او خپله خوښي یې داسی څرگنده کړه: همغه شان چې عمر څمونږ جماتونه د تراویح لمانځه په فیض باندی ځلانده کړل الله ﷻ دی دده قبر ځلانده کړی.[2]

ابن عباس(رض) روایت کړی چې: رسول الله ﷺ لومړی شل رکعته تراویح او بیا و ترکول.

١ - صحیح البخاري، حدیث: ٢٠١٢، او صحیح الامام مسلم، حدیث: ٧٦١.

٢ - سنن النسائي، ج ٢، مخ: ٢٧٨.

د تراویح لمونځ د رکعتونو په اړه چې د حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کې په جماعت سره اداء کیده هغه روایت کې چې وکیع د مالک بن انس او هغه هم د یحی بن سعد نه نقل کړی داسی راغلي دی چې: حضرت عمر رضي الله عنه یو گمارل شوی امام ته امر کړی ؤ چې د تراویح لمونځ شل رکعته اداء کړي او هغه وکړل.

**عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله قال: (من قام رمضان ايماناً واحتساباً غفر له ما تقدم من ذنبه)**[١]. (ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ و فرمایل: څوک چې د رمضان قیام د ایمان او اخلاص له مخی ترسره کړي تیرې گناوې یې ببښل کیږي). همدا شان د ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دی چې وی ویل: **(كان رسول الله ( يرغب فى قيام رمضان من غير أن يأمرهم فيه بعزيمة فيقول: من قام رمضان ايمانا و احتسابا اغفرله ما تقدم من ذنبه )**[٢].

پیغمبر علیه وسلم د رمضان په قیام ترغیب کاوه، بی لدی چې هغوی ته پدی هکله په عزیمت (حتمی والي او وجوب) امروکړي او فرمایل یې: څوک چې د رمضان قیام د ایمان او اخلاص له مخی ترسره کړی پخواني گناوې یې ببښل کیږي.

---

١ - صحیح البخاري، حدیث ٣٨ او صحیح الامام مسلم، حدیث: ١٧٥.

٢ - صحیح الامام مسلم، حدیث: ٧٥٩.

**درنو دوستانو!** د کرښې د سر څخه نو راشې د اسلام با عظمته پیغمبر محمد ﷺ د سنتو متابعت وکړو چې ستونزمن او نا ممکن هم ندی او لوی اجر او ثواب د ځان کړو:

**مسلمانو ورنو او عزتمندو روژه تیانو:**

دا مطلب هم له یاده ونه باسو چې ځینی کارونه شته چې روژه باطلوي یا لږ تر لږه مکروه کوي یې او ثواب او برکات یې کمېږي هغه ته مو پام را اړوم.

**کوم څیزونه روژه باطلوي یا یې مکروه کوي؟**

**۱. جماع یوځای کیدل:**

کچیرې څوک د رمضان میاشتې په ورځو کې د روژې په حال کې د خپلې ښځې سره یوځای شي نو روژه یې باطله او کفاره پرې واجبه ده او د کفارې ورکولو کښې ترتیب هم واجب دی.

**۲. قصداً خوړل او څښکل:**

په قصد سره خوراک څښاک روژه باطلوي خود خواړو او بل څیز بویول روژه نه باطلوي، الله تعالی فرمایي: (**وَكُلُواْ وَاشْرَبُواْ حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ثُمَّ أَتِمُّواْ الصِّيَامَ إِلَى الَّليْلِ** )[۱].

او وخورئ، وڅښکئ تر هغه چې یو سپین خط (ریښه) یعنې (صادق) سهار کې د شپې تیاری خط (ریښه) نه تاسوته بیله او جلا شي د دینه وروسته د شپې د پیل پوری روژه ورسوی او پوره یې کړئ نو د روژې په جریان کې خوراک څښاک منع دی او روژه باطلوي.

---

۱ - د البقري سورت ۱۸۷ آیت.

**۳ـ تقویتی ستنی (پیچکاری) کارول:**

پیچکاري کول د روژې باطلیدلو سبب گرځي مگر د غیر تقویتي ستنو (امپولونو) او غیر غذایي ستنوکارول چې د بیمارانو د درملنی لپاره کارول کیږي په رگ کې وی او که عضله کې روژه نه باطلوي.

**۴ـ حجامت کول:**

وینه ویستل (ښاخ لگول) هم روژه باطلوي مگر د رعاف رنځورتیا په پای کې وینه بهیدنه له پوزې نه یا د غاښ ویستلو یا د ټپ لامله چې منځ ته راځي روژه نه باطلوي.

**۵ـ قصداً قی کول:**

دا هم روژه باطلوي خو کچیرې کانږی غیر قصدي، ، غیر ارادي وي، روژه نه باطلوي ځکه رسول الله ﷺ فرمایي: (**من ذرعه القيء فليس عليه القضاء و من استقاء عمداً فليقض**)[1] . چاچې بی ارادی او ناخوښه کانږی وکړی د روژې قضا پرې نه واجبیږي او روژه یې نه باطلیږي) مگر چاچې قصداً او په اراده سره کانږی وکړی، باید د خپلی روژې قضاء را وړی.

**په سهو او هیرې سره د خوړو خوړل:**

کچیرې ځوک به هیرې او سهوې سره کوم خواړه وخوري یا څه وڅښي روژه یې نه باطلیږي، ځکه رسول الله ﷺ فرمایي: (**من نسي و هو صائم فأكل أو شرب فليتم صومه فانما أطعمه الله وسقاه**)[2]

---

۱ - سنن الترمذي، حدیث: ۷۲۰.

۲ - صحیح الامام مسلم، حدیث: ۱۱۵۵.

چاچې روژه در لوده او هیره یې شوه او څه یې وخواړه یا یې و څښکل، خپله روژه دی وساتي او پوره دی کړي ځکه دا په واقعیت کې الله دی چې په هغه یې خوړلي او څښکلي.

## آیا پدی پوهیږی چې د کفاری ترتیبول څنګه واجب دی؟

ه لومړي پړاو کې دیو غلام آزادول دي کچیري د هغه وس او قدرت یې نه درلود په دوهم پړاو کې دی دوه میاشتی پرلپسی روژه ونیسي او که د هغه وس یی هم نه درلود پدی صورت کې لازم دی چې (٦٠) مسکینانو ته خواړه ورکړی، ځکه به هغه روایت کې چې د ابو هریره لخوا روایت شوی داسی راغلی دی چې وی ویل:( **بینما نحن جلوس عند رسول الله اذجاءه رجل فقال: یا رسول الله: هلکت، قال مالک؟ قال وقعت على امرأتي و أنا صائم فقال رسول الله هل تجد رقبة تعتقها؟ قال: لا قال: فهل تستطیع أن تصوم شهرین متتابعین؟ قال: لا قال: فهل تجد اطعام ستین مسکینا؟ قال: لا قال: فمکث عند النبي فبینا نحن على ذلک أوتي النبي بعرق فیها تمر – والعرق المکتل– قال: أین السائل؟ فقال : أنا، قال: خذ هذا فتصدق به فقال له الرجل على أفقر مني یا رسول الله؟ فوالله ما بین لا بتیها – یرید الحرتین – أهل بیت أفقر من أهل بیتي فضحک النبي حتى بدت أنیابه ثم قال : أطعمه أهلک ( بلفظ صحیح مسلم فی رمضان ).** [1]

یو وخت رسول الله ﷺ سره ناست ؤ چې یو سړی ورته راغی او وی ویل: ای رسول الله تباه شوم پیغمبر علیه السلام و پوښت څه دربادی شوی دي؟ ځواب یې ورکړ

١ - صحیح البخاري، حدیث: ١٩٣٦، او صحیح الامام مسلم، حدیث: ١١١١.

هغه مهال چې روژه وم د خپلی ښځی سره یو ځای شوم، رسول الله و فرمایل: آیا کوم غلام آزاد ولی شی؟

وی ویل: نه وی فرمایل: آیا پرلپسې دوه میاشتې روژې نیولای شی؟ وی ویل: نه هغوی بیا ځلي و پوښت. شپیتو مسکینانو ته خواړه ورکولای شی؟ وی ویل: نه، او هریره رضي الله عنه دوام ورکوي هغه سړی د رسول الله ﷺ سره څه موده تم شو، په همدی حال کې چې ناست ؤ د خرما یوه لویه ټکری رسول الله ﷺ ته راوړه شوه رسول الله پوښتنه وکړه، پښتونکی سړی څه شو؟ هغه سړی وویل: زه دلته یم، د الله ﷻ رسول و فرمایل: دا واخله او صدقه یې کړه، هغه هغوي ﷺ ته وویل: آیا دا د ځان نه زیاتې فقیرې کورنی ته ورکړم ای د الله رسوله؟ په الله ﷻ قسم چې د مدینی دواړو خواوته (ټول ښارکی) ځما د کورنی نه زیاته فقیره کورنی نشته. ( د هغه سړي د خبرو په اوریدو سره) پیغمبر ﷺ هومره وخندل چې انیاب غاښونه یې ښکاره شول، بیایی هغه ته و فرمایل: داخپلې کورنی ته ورکړه (د صحیح مسلم په لفظ سره په رمضان کې).

**درنو دوستانو او محترمو روژه تیانو:**

هیر مونشي چې دغه حکم به وروستي فرمایش همدغه سړي پوری خاص دی.

**مسلمانانو ورونو او دین خوښو روژه تیانو:**

دا لنډ احکام د روژی ول چې ستاسو په خدمت کې مې عرض کړل، اوس باید پوه شو چې دغه مبارکه میاشت څه ځانګړ تیاوی لري چې هغه د کال دنورو میاشتونه جلا کوی:

## په دې د فيض او برکت نه ډکې مياشتي کې بايد څه وکړو؟

روژه يي باندې واجب دی چې د روژې واجباتو ته التزام ولري او د منهياتو او محرماتو نه ځای وساتي ترڅو د الله ﷻ د منلو وړ وګرځي.

روژه تې دی خپل وختونه په دی میاشت کې د: لمانځه، صدقه، قرآنکريم تلاوت، ذکر دعا او استغفار په خير شوکارونو کې تير کړي، د مالي توان او قدرت په صورت کې د عمرې اداکول (چې د مخلص بنده لپاره يو کښت او مزرعه ده ترڅو زړه صفا او سچه شي) ښه دی.

روژه يي بايد د خپل بدن ټول غړی د حرامو خبرو، بدو کارونو په لور قدم ايښودلو، حرامو خبرو ته غوږ ايښودلو حراموته کتلو، حرام خوړلو او څښکلو په څيرګناهونو نه وساتی. ترڅو دغه روژه قبوله شي او روژه تی انسان د مغفرت او د دوزخ داور نه د خلاصون وړ او مستحق شی. د الله ﷻ د دربار نه غواړو چې مونږ او تاسو ته توفيق را په برخه کړی ترڅو پدې مبارکې مياشتې کې ډيره ګټه ترلاسه کړو او طاعات مو قبول او منظور شي.

**والسلام عليکم و رحمت الله و برکاته**

١٣

## د قدر شپې فضلیت او د لیدلو هیله یې

**إن الحمد لله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا، وسيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلاهادي له، ونشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريک له، و نشهد أن محمدا عبده ورسوله. قال الله تعالى: ﴿ إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ، وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ، لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ، تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ مِنْ كُلِّ أَمْرٍ، سَلَامٌ هِيَ حَتَّى مَطْلَعِ الْفَجْرِ﴾.[١] صدق الله العظيم.**

مونږ قرآن په ارزښتمنه شپه (لیلة القدر) کې را لیږل دی، څه پوه شوی د قدر شپه کومه ده؟ (او څومره ستره ده؟) د قدر شپه هغه شپه ده چې د زرو میاشتو نه غوره ده فرښتی او جبریل پدی شپې کې د خپل رب په اجازه پرلپسی ( د ځمکی کری او شپی ناستو عبادت کوونکو ته) راځي، هر ډول کار لپاره ( چې الله ﷻ یې امر وکړی) دغه شپه د سلامتی او رحمت او د فرښتو د درود شپه ده ( شپه ویښو مومنانو باندی) تر سهاره پوری.

**مسلمانو لمونځ کوونکو او متدینو حاضرینو! السلام علیکم و رحمت الله و برکاته**

څمونږ د نن ورځي بحث د قدر شپی، د قرآن نزول، اعتکاف او د دوزخ د اور نه د خلاصون لسیزی اړوند موضوعاتو په هکله دی. محترم مفسرین د پورتني شریف

١ - د القدر سورت، ١-٥ آیتونه.

آیت په تفسیر کې لیکي: لیلة القدر داسې شپه ده چې د قرآنکریم نزول د پېغمبر علیه السلام په زړه باندې پیل شوی دی چې خلکو ته یې ورسوي.

د ابن اسحق په روایت کې راغلي دي چې: د وحی د پیل ابتداء (علق) سورت د رمضان په میاشت کې وه. پداسې حال کې چې رسول الله ﷺ دحراء غار کې په گوښه ناستی او عبادت بوخت ؤ.

خوړا ډېر روایتونه ددې شپې په تعیین کې نقل شوي دي، ځینې یې د رمضان اوه ویشتمه شپه گڼي او ځینې نوریې یو ویشتمه شپه او یو شمیریې د رمضان په وروستیولسو شپو کې او بل شمیر یې په ټول رمضان کې په کلي ډول گڼي په هر حال په ارجح قول لیلة القدر د رمضان د شپو یوه شپه ده، پدې شپه کې هر ډول حکیمانه کارونه ( چې انسان د حقیقت سره آشنا کوي او نیکمرغی ته یې رسوي او د باطل او شقاوت نه یې لرې کوي) د الله ﷻ لخوا بیان او مقرر شوي دي پدې شپې کې معیارونه، مقیاسونه، ارکان او څه اصول وضع شوي دی. مونږ مسلمانان موظف یو چې دغه یادونه هیرنه کړو او ترینه غافل نشو.

رسول الله ﷺ ساده او آسانه لار ځمونږ مخې ته ایښې ده تر څو دغه یادونه په خپل روح او روان کې ژوندی کړو ترڅو ځمونږ روح او روان ددې یادونې سره اړیکه او پیوند ولري. د الله ﷻ رسول ﷺ پدې هکله مونږ هڅوي چې پدې شپه کې ویښ اوسو او هغه ولټوو.

په صحیح بخاری او مسلم کې راغلي دي چې: رسول الله ﷺ فرمایلي دي: (**تحروا لیلة القدر في العشر الأ واخرمن رمضان**)[1].

---

١ صحیح الامام مسلم ، حدیث : ١١٦٩.

یعنی: د قدر شپه د رمضان به وروستیو لسوکې ولټوئ. [1]
په بل حدیث کې چې عایشه صدیقه رضی الله عنهما روایت کوي چې رسول الله ﷺ و فرمایل: (**تحروا لیلة القدر فی الوتر من العشر الأواخر من رمضان**)[2].
د قدر شپه د رمضان ورستیو لسو به طاق شپو کې ولټوئ. د برني حدیث نه داسی اخستنه کیږي: د قدر شپه په اغلب گمان د رمضان وروستی لسیزی په طاق شپو کې ده یعني: د یوویشتم، درویشتمه پنځه ویشتم، اوه ویشتم او نه ویشتمو شپو نه په یوه شپه کې وي. کچیرې د قدر شپه ثابته وای خلکو به یوازی په هماغه یوه شپه کې ډیر عبادت کاوه، خو الله ﷻ هغه مبهم کړه او په قرانکریم کې فرمایلي دي چې قرانکریم د قدرپه شپه نازل شوی دی، او د قرآن کریم په بل ځای کې راغلي دي چې د رمضان مبارکې میاشت یې د نزول شرف ترلاسه کړی دی دلته ده چې د ډیری توضیح لپاره رسول الله ﷺ وفرمایل: دقدر شپی امکان درمضان میاشت وروستی لسیزی په طاق شپو کی خورا ډیر دی، نو باید په دغو شپوکی د همت ملاوتړو او ښه عبادت وکړو.

**مسلمانو او متدینو لمونځ کوونکو:**

آیا د دغه لاسته راغلي فرصت اهمیت مو درک کړی دی؟ نو راشئ چې په قوي او کلکي ارادې سره هڅه وکړو چی ددی مبارکی میاشتي خصوصا د قدر شپی نه اعظمي استفاده وکړو!

---

۱ - تفسیر في ظلال القرآن: ټوک ٦، مخ ٩١٤.
۲ - صحیح البخاري، حدیث: ۲۰۱۷، ۲۰۲۰ .

## د قدر شپه او د قرآنکریم نزول:

د قدر سورت د مبارکو آیتونو نه ډیر ښه جوتیږي چې قرآنکریم په رمضان مبارکې میاشتي کې نازل شوی دی او الله فرمایي:( **شهر رمضان الذي أنزل فيه القرآن**)[1].

که څه هم په قدر سورت کې د قرآن کریم کومه څرگنده یادونه نده شوی، خو دا منل شوی چې د (**انا أنزلناه**) ضمیر قرآن ته ور گرځي او ظاهري ابهام یې د قرآن د اهمیت او عظمت لپاره دی. د قرآن کریم نزول د قدر په شپه چې د انسانانو د مقدراتو او برخلیکونو ټاکنه پکې کیږي یو بل دلیل دی چې دا عظیم آسماني کتاب بر خلیک ټاکونکی دی.

عزتمن مفسرین لیکي: د بقري د آیت سره د پورتني آیت د یوځای کولو څخه دا پایله ترلاسه کیدای شي چې د قدر شپه د رمضان مبارکې میاشتي کې ده.

او دا پوښتنه کیږي چې په څه ډول قرآنکریم پدی میاشت کې را نازل شوی دی؟ پداسی حال کې چې د بلني موده (۲۳) کاله وه. ډیرو څیړونکو ویلی دي چې قرآنکریم دوه نزوله لري:

**الف: ټولیز نزول:**

چې په یوه شپه کې ټول قرآن کریم د رسول الله ﷺ سپځلي زړه یا بیت المعمور یا د لوح محفوظ نه ددنیا آسمان ته را نازل شو.

---

[1] - د البقري سورت ۱۸۵ آیت.

**ب: پړاویز(تدریجی) نزول:**

چې د نبوت (۲۳) کلونو په دوران کې وشو، د یادونی وړده چې د قرآنکریم د نازلیدو په هکله په ځینی آیتونو کې د انزال تعبیر شوی او په ځینو کې د تنزیل تعبیر شوی او د عربو د ځینی متونو نه استفاده کیږي چې: معمولاً (تنزیل) هلته کارول کیږي چي یو ځیز کرار کرار نازل شي، مګر (انزال) معمولاً فراخه او ارت مفهوم لري چې یو ځل نازلیدل هم را نغاړي، دغه توپیر په تعبیر کې چې د قرانکریم په آیتونوکې راغلی دی کیدای شي دوو پورتنیو نزولونو ته اشاره اوسي[1].

**مسلمانانو ورونو او مومنو او دین پالو لمونځ کوونکو:**

کله چې ګورو قرآن کریم په همدی د رمضان میاشتې کې د نزول شرف ترلاسه کړی او د قدر شپه هم په همدی میاشت کې ده چې د زرو میاشتو نه غوره هم ده او نور عبادتونه څو برابره اجرونه او ثوابونه لري نو مونږ او تاسو باندی څه شوي چې ددی مبارکې میاشتی د فیوضاتو او برکاتو نه استفاده و نکړو! کچیرې ښه زیر شو نو را څرګنده به شي چې دا لوی فرصت مسلمان ته په لاس ورځي لکه اختر ورځو ته نزدی پلورونکي چې په ښکلی او زیات تلاش سره ډیری ګټې ترلاسه کوي ددی پرته زیات زیان او تاوان به وکړي بیا پشیماني کومه ګټه ورته نلري

| | |
|---|---|
| نـــور قـــرآن از حراچـــون سرکشیـــد | ظـــلمت بـــی دانـــشی هــــا را دریـد |
| آیــــــه هــــای تــــابناک این کتاب | روشنــــایي بخش کـــرد چـون آفتـاب |
| جنــبشی آورد دریـــن دنیــــا پـــدیـد | بــــاروح دیـــگر در تـــن انسـان دمیـد |
| روحهـــا را از اســـارت بــــاز ساخت | شــــش جهت را عـــرصـه پـرواز ساخت |

---

۱ - نمونه تفسیر، ټوک ۲۷ ، مخ ۲۰۵.

**د قدر شپې ځانګړې دعا:**

د حضرت عایشه رضي الله عنها نه روایت دی چې وی ویل: **یا رسول الله أرأیت ان علمت أي لیلة لیلة القدر ما أقول فیها؟ قال: قولي: أللهم انک عفو کریم تحب العفو فاعف عنی.**[1]

ای د الله ﷻ رسوله کچیری را معلومه شي چې دادقدر شپه ده نو درب العالمین په دربار کی څه و وایم او کومه دعا وکړم؟ حضور ﷺ و فرمایل: دغه دعا: ( **اللهم انک عفو کریم تحب العفو فاعف عني**) ووایه، یا الله په رښتیا چې ته ښښونکی کریم او عظیم یې او عفو خوښوی نو ځما خطاوی و ښښه په همدی خاطر د الله د ډیرو نیکو بندګانو عادت دادی چې هره شپه دغه دعا وایي او د رمضان مبارکې میاشتي په شپو خصوصاً د وروستی لسیزې په طاق شپو کې زیاته توجه او اهتمام ورته کوي نو راشئ چې مونږ هم دغه دعا هیره نکړو.

**د رمضان په وروستی لسیزه کې سخاوت کارونو ترسره کول:**

**عن ابن عباس رضي الله عنهما قال کان رسول أجود الناس و کان أجود مایکون في رمضان حین یلقاه جبریل و کان یلقاه جبریل في کل لیلة من رمضان فیدارسه القران فلرسول الله حین یلقاه جبریل أجود بالخیر من الریح المرسلة .**[2]

( د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت شوی چې وی ویل: رسول الله ﷺ په ټولو خلکو کې په لاس او زړه کې ډیر پرانستی او خلاص ؤ او په رمضان کې له بل هر

١ - سنن الترمذي، حدیث : ٣٥١٣.
٢ - صحیح البخاري ، حدیث:٣٢٢٠.

وخت نه ډير ښونکی ؤ کله چې جبريل ور سره کاته کول او جبريل ورسره ليدل، د را لوتونکي باد نه زيات سخي ؤ د مال په ويش کې).

**د رسول الله ديو صحابي د ايثار او سخاوت يوه کيسه:**

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ – رضي الله عنه – أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ فَبَعَثَ إِلَى نِسَائِهِ فَقُلْنَ مَا مَعَنَا إِلَّا الْمَاءُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ مَنْ يَضُمُّ أَوْ يُضِيفُ هَذَا فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ أَنَا فَانْطَلَقَ بِهِ إِلَى امْرَأَتِهِ فَقَالَ أَكْرِمِي ضَيْفَ رَسُولِ اللهِ فَقَالَتْ مَا عِنْدَنَا إِلَّا قُوتُ صِبْيَانِي فَقَالَ هَيِّئِي طَعَامَكِ وَأَصْبِحِي سِرَاجَكِ وَنَوِّمِي صِبْيَانَكِ إِذَا أَرَادُوا عَشَاءً فَهَيَّأَتْ طَعَامَهَا وَأَصْبَحَتْ سِرَاجَهَا وَنَوَّمَتْ صِبْيَانَهَا ثُمَّ قَامَتْ كَأَنَّهَا تُصْلِحُ سِرَاجَهَا فَأَطْفَأَتْهُ فَجَعَلَا يُرِيَانِهِ أَنَّهُمَا (كَأَنَّهُمَا) يَأْكُلَانِ فَبَاتَا طَاوِيَيْنِ فَلَمَّا أَصْبَحَ غَدَا إِلَى رَسُولِ اللهِ فَقَالَ ضَحِكَ اللهُ اللَّيْلَةَ أَوْ عَجِبَ مِنْ فَعَلِكُمَا فَأَنْزَلَ اللهُ وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ.**[1]

حضرت ابو هريره رضی الله عنه نقل کوي چې: (يوه ورځ د رسول الله ﷺ حضور ته يو سړی راغی او ورنزدی شو وی ويل: ای رسول الله! د څو ورځو راهيسي مې د خوړلو لپاره څه ندی ترلاسه کړي او په وړی خيټه پرلپسې روژه نيسم، رسول الله ﷺ شاو خوا وکتل خو څوک يې و نه ليده چې دغه سړی خپل کورته بوځي او ميلمه يې کړي شيبه وروسته طلحه را پاڅيده ويويل: زه تياريم چې ميلمه يې کړم!او هغه يې کورته بوت (يو ووړ) دوی چې خپله ټوله شتمنی يې د اسلام په لار کې مصرف کړی وه څه يې نه درلودل او کله يې په کور کې ديگی نه خو ټيده،

---

١ - صحيح البخاري، حديث: ٣٧٩٨.

کیدای شي په دغه ورځ (ام سلیم) د طلحه ښځې د خپلو اولادونو لپاره کومه ښوروا تیاره کړی وه او غوښتل یې چې په هغوی یې وخوري، کله میلمه کورته راغی ښځی او میړه په خپل منځ کې سره غوټه کړه چې ښوروابه د رسول الله ﷺ میلمه ته ورکو او په خپله په وږی خیټه روژه نیسو او ماشومان په یوه بهانه بیده کوو، فیصله یې وکړه چې خواړه به دسترخوان کیږدي او ښځه په غلطی ډیوه مړه کړي او د کور څښتن خپل لاس هسی تش خولی ته پورته کوي او کوزه وي ځکه ښوروا هومره نه وه چې دوو کسانو ته بسنه وکړي پدی توگه میلمه کولای شول چې خپله خیټه ډکه کړی، میړه او خاوند خپله فیصله عملي کړه، د سهار لمونځ د رسول الله ﷺ په امامت اقامه شوؤ د لمانځه وروسته رسول الله ﷺ د طلحه په لټه کې صحابه ؤ ته یې مخ را واړاوه د ابو طلحه او میلمه څخه یې پوښتنه وکړه: نن شپه موڅه کار کړی دی چې ستاسو په هکله دغه آیت :(**وَيُؤۡثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ وَلَوۡ كَانَ بِهِمۡ خَصَاصَةٞۚ**)نازل شو.

ژباړه: که څه هم چې خپله د ستونزو سره مخامخ ول بیا هم نور یې پرځان غوره کول.

**مسلمانو لمونځ کوونکو او محترمو روژه تیانو!**

که ښه زیر شی زمونږ اقتصادي حالت د صحابه کرامو رضي الله عنهم له ژوند سره څومره توپیر لري حتی چې په یو وخت کې څو ډوله خواړه تیاروو، آیا کله داسی هم شوي چې خپل مسلمان او وورنه مو د خپل ځان په نسبت غوره کړی وي؟ لږ تر لږ دومره انصاف مو درلودلای چې د اسراف او زیات مصرف نه مو ډډه

کړی وای او خپل همنوع محتاج اوبی وزلی مو پدی مبارکو ورځوکی له یاده نه وړلی چې د روژی یوه فلسفه هم همدا ده چې د خپلو بیچاره ؤ له احواله خبر اوسو! یو شاعر ځومره ښه ویلي دي:

دور دستان را به احسان یاد کردن همت است

ورنه هرنخلی به پای خود ثمر می افگند.

**محترمو دوستانو او دین پالو روژه تیانو لمونځ کوونکو!**

بله دیادونی وړ او ډیره مهمه موضوع داده چې آیا قرآن کریم چې د رب العالمین منزل کتاب دمسلمانانو د ژوند قانون اساس او داسلام د مقدس دین مسلَّمو شعایرو څخه دی ځمونږ پر ژوند حکومت کوي؟ آیا د قرآنکریم حقونه چې تعلیم او تعلم او په نجات ښونکو ارشاداتو باندې یې عمل کول دې، ادا کړی دي؟

آیا قرانکریم مو تلاوت کړی دی؟ نو راشی او همدا اوس هوډ وکړو چې قرآنکریم تلاوت کړو، مفاهیم یې زده کړو نو روته یې وښیو او په لارښونو یې عمل وکړو، نو لازمه او اړینه ده چې ددی مطالبو به هکله څه بحث ولرو!

**قرآن کریم تلاوت:**

رسول الله ﷺ به د رمضان مبارکې میاشتې کې د نورو میاشتو نه زیات تلاوت کاوه، حضرت جبریل علیه السلام به د مدارست او گردان د قرآن لپاره ورته راته، روژه او قرآنکریم د قیامت په ورځ د انسان شفاعت کوي روژه وایي: پالونکیه! ورځی به زه دده د خوړلو او ځښکلو مانع کیدم، قرآنکریم وایي: زه هم په شپو کې دده د خوب مانع کیدم، نو ځمونږ شفاعت د هغه په هکله قبول کړه، لکه چې حدیث کې بدی شرحه سره راغلي دي: چې رسول الله ﷺ و فرمایل: (**الصیام و القرآن**

**يشفعان للعبد يقول الصيام أي رب اني منعته الطعام و الشهوات بالنهار فشفعني فيه و يقول القرآن منعته النوم بالليل فشفعني فيه فيشفعان)** [1].

څومره نیکمرغه دي هغه کسان چې د روژو قرآن تلاوتونو او اوریدونو سپارښتن د دوی په حق کې قبول شي په دغه وخت کې به څومره خوښي، سرور ددی بندګانو په خپل فضل او کرم سره د همغو بندګانو په څیر نیکمرغه کړي.

**مسلمانو دوستانو او لمونځ کوونکو!**

آیا پوهیږي چې ولی الله ﷻ د قدر شپه پټه کړی ده؟ او څه حکمتونه پکی نغښتي دی؟ ځینی علماء لاندی لاملونه یاده وي:

١. د قدر شپی پټ والی د کال په شپو یا د رمضان مبارکې میاشتې په شپو کې ددی لپاره دی چې خلک دغو ټولو شپو ته پام وکړي همغه شان چې الله ﷻ خپله خوښه او رضایت په ډول ډول طاعتونو کې ګرځولی ده.
٢. خپله غصه او غضب يې په ګناهونو کې پټه کړی چی د ټولونه ځان وساتي.
٣. خپل دوستان يې په خلکو او ټولنه کې پټ کړي دي ترڅو ټولو ته پام او احترام وشي.
٤. اجابت يې په دعا ګانو کې پټ کړی دی ترڅو ټولو دعاګانو ته پام وشي او ویل شي.
٥. اسم اعظم يې په خپلو نومونو کې مخفی کړي دي ترڅو د ټولو نومونو يې احترام وشي.

---

١ - مسندالام احمد، حدیث:٦٦٢٦.

٦. د مړینې وخت یې پټ ساتلی تر څو په ټولو حالاتو کې د هغه استقبال او منلو ته چمتو اوسو.[1]

**دین پالو او مومنو روږه تیانو!**

دا چې د قدر شپه او قرآنکریم نزول ټینګ تړاو سره لری نو په همدې شپې کې د انسانانو بر خلیک دیو کال لپاره د هغوی د وړتیا، لیاقت په اساس ټاکل کیږي باید پدی شپه کې ویښ اوسو، توبه وکړو، ځان جوړ کړو او د الله ﷻ در بار ته لاړشو او ښه غوره لیاقت د هغه د رحمت لپاره پیدا کړو.

**نو ای مسلمانو لمونځ کوونکو!**

په هغو شیبو کې چې ز مونږ برخلیک ټاکل کیږي، نه ښایي چې د غفلت په خوب کې اوسو او د هر څه نه ناخبر، چې پدی صورت کې به برخلیک ناوړه او غمجن وي! قرآن چې یو سرنوشت جوړونکی کتاب دی او د انسانانو د نیکمرغۍ، سعادت او هدایت خط پکې مشخص شوی دی باید د قدر په شپه، د برخلیکونو د ټاکلو په شپه نازل شي او ځومره ښکلی ده رابطه د قرآن او د قدر شپې ترمنځ او څومره د معنا نه ډک دی ددوی خپل منځي تړون.

او الله ﷻ څومره خوندور فرمایي: ( **وان الله لایغیر ما بقوم حتی یغیروا ما بأنفسهم**).[2]

الله ﷻ د هیڅ قوم او (ملت) برخلیک نه بدلوي مګر دا چې هغوی هغه څه چې پدوی دي تغییر کړی.

١ - نمونه تفسیر ، ټوک٢٧، مخ٢١٥ .

٢ - د الرعد سورت ١١ آیت.

اوسکه خبره همداسې ده نو لازمه ده چې د قرآنکریم، پیغامونو او آوازونو نه یې الهام واخلو او په ورځنیز ژوندکې یې د لارې مشال وکړځوو او د ډیرو ستونزو او مصیبتونو نه چې ور سره لاس او کړیوان یو خلاصون و مومو په ټولو وختونو خصوصاً د رمضان مبارکې میاشتې کې چې د قرآن د نزول میاشت ده له یوې خوا د دروغو، تجسس غیبت نه چې د ټولو اجتماعي جنجالونو جرړه ده او قران کریم په کلکه د هغو نه منع کړې پرهیز وکړو او له بلې خوا پدې مبارکې میاشتې کې چې د زړه خوالې، مواسات، صبر او فقیرانو او بې وزلو سره د مرستې میاشت ده د محبت مودت او یو ځای ژوندکولو لاملونه د مسلمانانو په منځ کې پیدا کړو.

**مؤمنان او مسلمانو لمونځ کونکو:**

پدې مبارکې میاشتي کې خصوصاً په وروستې لسیزه کې چې کوم بل څیز د بحث وړ دی هغه اعتکاف دی چې لازم یې ګڼم چې د هغه اړوند فضایلو او حکمونو باندې پوه شو:

**اعتکاف:**

په یو حدیث کې داسې راغلي دي: ( عن عائشة رضي الله عنها قالت: (**كان رسول الله ﷺ اذا دخل العشر شد مئزره و أحيا ليله و أيقظ أهله**)[1].

د رمضان یو عمل خصوصاً د وروستې لسیزې اعتکاف دی نو باید د ټولو نه وړاندې اعتکاف وپیژنو او حکم او د صحت شرطونه یې کوم څیزونه دي:

١ - صحيح البخاري، حديث: ٢٠٢٤.

**د اعتکاف تعریف ( پېژندنه ):**

اعتکاف به لغت کې تم کیدل او احتباس ته وایي اودشریعت په اصطلاح کې عبارت دی له تم کیدو په خاص ځای کې چې مسجد دی د خاصو صفاتو سره چې عبارت دی له: نیت روژه، مسجد کې اوسیدل او لیږ تر لږه دیوی ورځی نه کم نه وي ځکه علماؤ هغه په روژی قیاس کړی چې دیوې ورځي نه کم نه وی.

**د اعتکاف حکم:**

اعتکاف مؤکد سنت دی ځکه رسول الله ﷺ مواظبت پری کړی دی.

**د اعتکاف شرطونه:**

ځوک چې اعتکاف ته کښیني باید روژه وي، په جماعت کې وي، دیوی ورځی نه لږ نه وي، معتکف د انساني عذر نه پرته او جمعی لمانځه ته د تللو نه پرته نشي کولای چی مسجد نه بهرشي که بی عذره دیو ساعت لپاره بهر شي اعتکاف یې فاسدیږي او که چا په شپه کې په قصد یا هیری سره کوروالی وکړ اعتکاف یې باطیلیږي[1].

ځکه یو حدیث د عائشه صدیقې رضي الله عنها نه روایت دی چې وفرمایل:( **السنة على المعتكف أن لايعود مريضاً و لايشهد جنازة ولايمس المرأة ولا يباشرها ولايخرج لحاجة الا لما لا بد منه ولا اعتكاف الا بصوم ولا اعتكاف الا في مسجد جامع.**)[2]

د عایشه صدیقه رضي الله عنهما نه روایت دی چې وی فرمایل: ( د معتکف لپاره شرعی ضابط او فرمان دادی چې د رنځور پوښتنی ته دی نه ځي، جنازی لمانځه

١ - الاختيار لتعليل المختار :ټوک ١، مخ ١٣٧

٢ - سنن أبي داود ، حديث: ٢٤٧٥.

کی دی ګډون نه کوي، د ښځی سره دی ملاسته اولوبې نه کوي، د خپلو اړتیاؤ لپاره دی هم د مسجد نه بهر نه ځي، بی د هغو اړتیا ؤ چې خلاصون تری نشته او اعتکاف بی روژي نه کیږي او باید په جامع مسجد کې وي).

د اعتکاف حقیقت دادی چې معتکف د هرچا او هرڅه نه پریکون او یوازی د الله ﷻ سره اړیکه او ارتباط ساتل او د الله ﷻ په در بارکې د مسجدپه یوه ګوښه کې او ټولو نه بیل په یوازیتوب کې په عبادت بوخت او د الله ﷻ په ذکر او فکر کې اوسي ددی عبادت لپاره غوره وخت او فرصت د رمضان مبارکه میاشت خصوصاً وروستۍ لسیزه یې ده د همدی لامله همدغه عبادت لپاره وټاکل شوه.

د قرآن کریم د نزول نه وړاندی د رسول الله ﷺ په مبارک طبیعت کې د ټولو نه د بیلتون او د الله ﷻ په عبادت باندی د بوختیا انګیزه پیدا شوه، د هغی په نتیجه کې څو پرلپسی اونی په حراء غار کې میشت شوګواکې دا د رسول الله ﷺ لومړنی اعتکاف ؤ چې په اغیز کې یې د هغه د معنویت او روحانیت مقام مرتبه هغه ځای ته ورسیده چې د قرآن نزول پیل شو او ددی اعتکاف په وروستیو ورځو کی د حراء غار کې د الهي وحې راوړونکي جبریل علیه السلام د (علق) سورت لومړني آیتونه پیغمبر علیه السلام ته وړاندي کړل، دغه پیښه د رمضان په میاشت او وروستی لسیزه کې او د قدر په شپه کې وه په همدي خاطر د رمضان میاشت وروستی لسیزه د اعتکاف لپاره وټاکل شوه نومیالی شاعر وایي:

وعده وصل چون شود نزدیک

آتش شوق تیز تر گردد.

**مسلمانو دوستانو او لمونځ کونکو:**

د موضوع لاښه وضاحت لپاره لاندی حدیثونو ته پام وکړئ:

**(عن ابن عمر رضي الله عنهما قال:** (**كان رسول الله يعتكف العشر الأواخر من رمضان)**[1].

د ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی چی وی ويل: رسول الله ﷺ د رمضان په وروستی لسيزه کې اعتکاف کاوه.

**و عن عائشة رضي الله عنها أن النبي يعتكف العشر الأواخر من رمضان حتى توفاه الله تعالى ثم اعتكف أزواجه بعده).**[2]

د عائشه رضي الله عنها نه روايت شوی چې: رسول الله ﷺ د رمضان په وروستۍ لسيزه کې اعتکاف کاوه ترڅو چې وفات شو بيايې ښځو اعتکاف کاوه د هغه نه وروسته.

**عن أبی هريرة رضي الله عنه قال: كان النبي يعتكف في كل رمضان عشرة أيام فلما كان العام الذي قبض فيه اعتكف عشرين يو ماً)**[3].

د ابو هريره رضي الله عنهما نه روايت شوی چې وی ويل: رسول الله (ﷺ) به هر رمضان کې لس ورځې اعتکاف کاوه او کوم کال کې چې وفات کيده شل ورځې اعتکاف يې وکړ.

---

١ - صحيح البخاري ،حديث: ٢٠٢٥.

٢ - صحيح البخاري ،حديث: ٢٠٢٦.

٣ - صحيح البخاري ،حديث: ٢٠٢٤.

**صدقه فطر زکات فطر:**

**حکم او د مشروعیت دلیل:**

د فطر زکات پر ټولو وس لرونکو مسلمانانو واجب ده.

د رسول الله ﷺ د اختر لمانځه د اداء کولو لپاره د وتلو نه وړاندی د صدقه فطر ورکولو امر کړی دی. همدا شان عبدالله بن عمر روایت کوی وایي: رسول الله ﷺ د فطر زکات په مریانو اصیلو، ښځې نر او بوډا او ځوان مسلمان باندی واجب کړی دی ( **أن رسول الله فرض زكاة الفطر من رمضان على الناس على كل حر أو عبد ذكر أو انثى من المسلمين**)[1].

**د صدقه فطر اندازه او مقدار:**

د صدقه فطر اندازه د کورنی د غړو په هریو باندې دچارک غنم یا خوراکي موادو څخه لکه: وریژې ،کجورې، غنم ،ممیز (هوسکی) وربشی او نور دي، اداء کیږي. دیادولو وړده چې د څیزونو په قیمت کې دقت وشي په کوم څیز کې چې د فقیرانو گټه وي د همغه څیز یا قیمت څخه دي ورکول شي، همدا شان هڅه دی وشي چې دواړه اختر د لمانځه نه وړاندي ورکول شي ترڅو فقیران او بیچاره گان هم د نورو مسلمانانو په خوښی کې شریک شي خو په یاد ولرئ چې ددی بر سیره د رمضان مبارکې میاشتې په اوږدو کې هم بیوزلي، کونډې، یتیمان او نور خپل شاو خوا غریبان هیرنه کړو، ځکه ددی مبارکې میاشتې یوه فلسفه دا هم ده چې د غریبانو د وضعیت نه معلومات ولرو او مرسته ور سره وکړو.

---

١ - موطأ الامام مالک، حدیث :٩٨٧.

**د صدقه فطر ورکولو وخت:**

مونږ مسلمانان مکلف یو چې سرسایه ورکړو او باید د اختر لمانځه د اداء کولو لپاره د وتلو څخه وړاندی یې ورکړو. لکه چې دعبدالله بن عمر رضي الله عنها نه پدی شرحه روایت دی: ( **أن رسول الله أمر باخراج زکاة الفطر أن تؤدی قبل خروج الناس الى الصلاة**)[1].

١ - صحيح الامام مسلم، کتاب الزكاة باب الأمر باخراج زكاة الفطر قبل الصلاة حديث: ٩٨٦.

۱٤

## د واړه نیکمرغه اختر حکمونه او فضیلتونه

**الحمد لله الذي سهل لعباده طريق العبادة، وجعل لهم عيدا يعود عليهم بعد اكمال صيامهم، و واصل لهم مواسم الخيرات ليوفيهم أجورهم ويزيدهم من فضله الذي لا يحصر، فما انقضى شهر الصيام إلا وأعقبه بأشهرالحج إلى بيته المطهر.أحمده وهو أحق أن يحمد ويشكر، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريک له، شهادة تأمن من قالها وعمل بمقتضاها يوم الفزع الأكبر، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله صاحب المقام المحمود والكوثر، صلى الله عليه وسلم وعلى آله وأصحابه وسلم تسليما كثيراً إلى يوم البعث والمحشر.**

مونږ د نیکمرغه اختر د راتلو په در شل کې یو او ټول په یوه ښه هغه ته ښه راغلاست وایو.

ولی په اختر کې خوښي او خشحالي کوو؟

پدی ورځ کې باید څه کارونه او اعمال وکړو؟

واړه نیکمرغه اختر کې څه مسئولیتونه لرو؟

**د عید ( اختر ) تعریف:**

عید ته ځکه عید وایي چې هرکال راځي او مسلمانانو ته راگرځي. اخترونه د پخوا څخه په امتونو کې دود وه او هرامت د یو مهم مناسبت په را رسیدلو سره هغه لمانځه او په خوښی او خوشحالی سره یې د هغه مناسبت یاد په خپلو ذهنونو کې

تازه ساته، دا چې دغه اخترونه خپله د خلکو لخوا پیدا شوی ول نو مظهر د اخترونو او د لمانځنی بنه یې هم سچه مادي وه.

**اختر په اسلام کې:**

خو الله ﷻ د مسلمانانو لپاره دوه اخترونه یعنی وړوکې او اضحی اخترونه را پیرزو کړي دي چې پدې دوو اخترونو کې د مباحاتو څخه ډیره استفاده وکړي او د ډول ډول طاعتونو، عبادتونو په ترسره کولو سره خپل پالونکي ته د تقرب څرگندونه وکړي د صیام او قیام د آسانیدو او د روژی او دعاء قبلیدو شکر او مننه ترسره کړي.
ابن دقیق العید وایي: پدی کې هیڅ کوم اختلاف نشته چې د اخترونو لمنځونه په هغو شعایروکې شمیرل کیږی چې کول یې شرعا مطلوب دي. او دغه دود یا شعیره د متواترو روایاتو په مټ ثبوت پیدا کړی دی او هیڅ عذر او بهانه د نه منلو لپاره نشته همدا رنگ مونږ د آحادو حدیثونو نه بې پروا کوی، او د اسلامي تاریخ په اخترونو کې لومړنی اختر نیکمرغه وړوکې اختر دی چې پیغمبر علیه السلام د هجرت په دوهم کال په مدینه منوره کې ادا کړ. همداشان الله تعالی د مسلمانانو لپاره په دواړو اخترونو کې د اختر لمانځه د اداء کولو په موخه په یوه لویه ټولنه کې یو ځای کیدل روا کړي دي.
ترڅو د اختر لمانځه اداء کولو په ترځ کې د اختر د بختورو ورځو را تللو مبارکي یو بل ته ووایي او په مټ یې زیات تعارف او پیژندل پیدا کړي او د اسلامي اخوت او محبت پیوند یو دبل سره لاټینگ او کلک شي.

پدی کې شک نشته چې پدی ټولنو کې شته دیني او دنیوي مصلحتونه ښکاره دلیل دی چې د اسلام دین په رښتیا یو ستر الهی پروګرام دی او د انسان د نیکمرغې او سعادت لپاره بشریت ته وړاندی او معرفي شوی دی.

**د وړوکي بختور اختر د ورځو سنتونه:**

۱- سنت داده چې د اخترونو لمنځونه د خلکو سره په عیدګاه کې د ښار او کلي نه بهر ادا شي، البته د باران یا د پراخه ځای نه شتون له کبله په مسجد کې هم اداء کیدای شي.

۲- لمانځه ته د وتلو وړاندی باید غسل وشي.

۳- لمانځه ته د وتلو په وخت باید خپل پاک او سچه لباس واغوندي

٤- واړه اختر لمانځه ته د وتلو وړاندی دی څو دانې خرماوي چې طاق وي وخوري

٥- غوره داده چې اختر لمونځ ته پلی لاړ شي خو هله چې نزدی وی.

٦- د تلو او راتلو لارې سره بیلې وي.

۷- د لمانځه وروسته دوه خطبی ویل د امام په واسطه چې د اختر لمانځه او سرسایې حکمونه پکې خلکوته بیان شی.

۸- مستحب ده چی خطیب خطبه په ولاړی ایراد کړي .

۹- باید خطبه د الله ﷻ په حمد او ثنا پیل شي .

۱۰- د اختر لمونځ بی اذان او اقامت اداء کیږي.

**د اختر لمانځه اداء کولوکې د ښځو ګډون:**

دغه موضوع د پېغمبر علیه السلام دحدیث په رڼاکې څیړو:

**عن أُم عطية– نسيبة الأنصارية– رضي الله عنها قالت: أمرنا– تعني النبي – أن نخرج فی العيدين العواتق و ذوات الخدور و أمر الحيض أن يعتزلن مصلی المسلمين.)**[1]

**و في لفظ: كنا نؤمر أن نخرج يوم العيد حتی نخرج البكر من خدرها و حتی نخرج الحيض فيكبرن بتكبيرهم و يدعون بدعائهم يرجون بركة ذالک اليوم و طهرته ).** [2]

ژباړه: اُم عطيه نسيبه الأنصاريه رضي الله عنهما فرمايي: رسول الله ﷺ مونږ ته امر وکړ چې: په واړه او لوی اخترکی پيغلی، په پردوکې ناستې نجونې د اختر په مراسمو کې د ګډون په موخه د کورونو نه بهر کړو او هغو ښځو ته يې امرکاوه چې کورنو کې اوسي او د مسلمانانو لمونځ ځای نه دی ليری اوسي چې مياشتنی وار به يې وُ.

او په بل روايت کې راغلي دي: مونږ ته به امر کيده چې ټول د اختر په ورځ (داختر لمانځه د ا داء لپاره) د کورونو نه بهر شو آن چې پېغلې نجونې او وار لرونکې ښځې هم د کورونو نه را ويستل کيدی ښځو چې دا هيله در لوده چې پدی ورځ به ښښل کيږو او دا ورځ برکتی ده د نارينه ؤ سره يو ځای به يې تکبير ويلي او دعاګانو سره به يې دعاوې کولې.

## د حديث ګټې او حکمونه:

۱- د اختر لمانځه وجوب آن پر ښځو د حديث د ظاهر په اساس، البته پدی شرط چې کامل حجاب او ستر مراعات کړي او عطر او خوشبويي استعمال نکړي

---

۱ - صحيح الامام مسلم ، حديث: ۸۹۰.

۲ - صحيح البخاري ، حديث: ۹۷۱.

ځکه د داسې حالتونو سره د ښځو وتل منع شوی دی، او کیدای شي وتل د دوی لپاره مستحب وي او راغلی امر یوازې تاکید په خیر په بناء وي.

۲- د معذورې ښځې باندې واجب ده چې مسجد ته د تللو نه ډډه وکړي.

۳- مصلی او عیدګاه د مسجد حکم لري.

٤- معذوري ښځې د دعا او ذکر کولو نه نشي منع کیدای .

٥- د اختر ورځې فضلیت او هغې کې د دعاء د قبلیدو احتمال .

**د اختر د ورځو ټولنیزې مسئلې:**

محترمو او درونو لمونځ کوونکو! مسلمان باید اختر په ورځو کې خپل کړه وړه وارزوي:

**الف**: خپلې کینې او دښمني هیرې کړي او دبیوزلو،فقیرانو پوښتنه دی وکړي

**ب:** صله رحمي دی نه قطع کوي د خپلوانو او دوستانو پوښتنی او اختر مباکې ته دی ورشي.

**ج:** اسراف دی نه کوي د خلکو اقتصادي او معیشتي حالت ته په کتلو په خوراک او پوښاک او نورو مصرفونو کې د اسراف نه ځان ساتل.

**د:** شوشاکولو، منفي سیالی، ریا او ځان ښودنی، ټولنیزو خرافات او په ګناه ککړو بدعتونو نه دی ځان وساتئ.

**هـ:** کوچنیانو ته نصحیت چې خلک و نه زوروي: کوچنیانو، ځوانانو او تنګیو ځوانانو ته دی توصیه وشي چې پدې مبارکې ورځ کې د هوایي ډزو کولو پټاقی الوزولو سره د خلکو زورولو نه ډډه وکړي، ترڅو د هیڅا دغه د خوښې او خوشحالې

ورځ په غم او اندیښنو بدله نکړو. بلکه په مسکا او تبسم سره د خلکو مخې ته ور شو او د نورو په ژوند کې هم مسکا خپره کړو.

## ۱۵

# د زکات حکمونه او فضیلتونه

**الحمد لله نحمده و نستعينه و نستغفره و نؤمن به و نتوكل عليه و نعوذ بالله من شرور أنفسنا و من سيئات أعمالنا من يهدى الله فلا مضل له و من يضلل فلا هادي له و نشهد أن لا إله إلا الله و نشهد أن سيدنا و مولانا محمد عبده و رسوله.**

## د زکات پیژندنه:

زکات چې د ( **زکا الشيء**) مصدر دی په لغت کې د ودی او زیاتیدو به معنی او همداشان د پاکوالي او طهارت په معنی راغلی دی.[۱]

لکه چې: د کښت او زراعت دودی او د ځمکی د حاصلاتو زیاتیدو په مهال ویل کیږي ( زکا الزرع و زکا المال) یعنی: کښت، زراعت، مال او پانگه زیاته شوه او وده یې وکړه او د ایو مسلم او ثابت کار دی چې کرکیله هغه وخت و ده کوي چې د بی فایدی گیاه او واښو نه پاک شي او خیشاوه یې وشي، همدغه شان د انسان مال، نفس او نور کارونه هله پاک او سچه کیږي چې د ککړتیاو او هغو حقونونه پاک شي چې فقیران یې پکې لري، لکه چې الله ﷻ د پانگوالو او بډایو خلکو په مالونو کې د فقیرانو د حقه حقوقو یادونه کوي فرمایي. ( **والذين في أموالهم حق معلوم للسائل و المحروم**).[۲]

---

۱ - المعجم الوسيط (۳۹۸/۱/).

۲ - د المعارج سورت ۲٤ – ۲۵ آیتونه .

هغوي چې په مالونو كې يې معلوم حق او مشخصه برخه شته د غوښتونكو او پاتې خلكو لپاره.
او ددې خبرې د ليل چې زكات وركول په مال كې د بركت او زياتيدو لامل گرځي دغه مبارک آيت دی چې الله تعالى فرمايلي:﴿ **وَمَآ أَنفَقْتُم مِّن شَىْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُۥ وَهُوَ خَيْرُ ٱلرَّٰزِقِينَ**﴾[1].
(هرڅه چې مصرف كړئ الله ﷻ د هغه ځای ډكوي او هغه ډير ښه روزي وركوونكی دی).
په بل ځای كې د مضاعف ثواب خبره كوي فرمايي: ﴿**وَمَآ ءَاتَيْتُم مِّن زَكَوٰةٍ تُرِيدُونَ وَجْهَ ٱللَّهِ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُضْعِفُونَ**﴾[2].
(او هغه څه چې د زكات په توگه وركوئ او يوازې د الله ﷻ رضا غواړئ همدا كسان د مضاعف ثواب لرونكي دي)، پورتينو نصوصو او لغوي مفهوم د زكات ته په كتو چې وركول يې د زكات وركوونكی په مال او پانگه كې د ودې او زياتوالي لامل گرځي نو امام راغب اصفهاني د زكات لغوي معنا داسې بيان كړې دې:
( **هو النمو الحاصل عن بركة الله تعالى**)[3] زكات عبارت دی له هغه ودې او زياتوالی څخه چې د الهي بركت په اثر په مال كې راځي.

---

١ - د سبأ سورت ٣٩ آيت.
٢ - د الروم سورت ٣٩ آيت.
٣ - مفردات اُلفاظ القران (٤٣٦/١).

## د زکات اصطلاحي معنا:

زکات د شرع په اصطلاح کې: عبارت دی د خاص مال نه د خاصی برخی ورکول په خاص وخت کې خاصو خلکو ته یوازی د الله ﷻ د رضا او خوښی ترلاسه کولو په موخه. چې عربي مفهوم یې داسی دی: (**حصة مقدرة من مال مخصوص، في وقت مخصوص، تصرف في جهات مخصوصة**)[۱].

او ځینی یې داسې تعریف کوي: (**اسم لمايخرجه الانسان من حق مالي لله تعالى فی زمن مخصوص لطائفة مخصوصة على وجه مخصوص**).[۲]

یعنی: زکات د هغه الله ﷻ پوری مربوط مالي حق نوم دی چې انسان یې په مخصوص وخت خاصو خلکو ته په مخصوصه طریقه ورکوي.

## د زکات د نومولو وجه:

د زکات لغوي او اصطلاحي معنا ته په کتو د نومولو او تسمیي وجه یې هم جوتیږي او هغه دا چې: د زکات عبادت یې پدی خاطر زکات نومولی چې زکات ورکوونکی د زکات په و رکولو کې دا هیله لري چې مال یې: د نورو د حقونو او نفس یې د حرص، بخل نه پاک شي او په عین حال کې په مال کې یې د خیر او برکت د زیاتوالي امید کوي.

## د زکات د مشروعیت حکمت:

دا چې الله ﷻ یو حکیم ذات دی او غوره دین اسلام یې پر حکمت ولاړدی نو ټول الهي طاعتونو عبادتونه د هغو په جمله کې: زکات او صدقات هم ګڼ شمیر

۱ - فقه السنة (۵/۲).

۲ - د ملا علي القاري د صحیح البخاري مختصره شرحه (۳/۳).

حکمتونه لري چې یوه برخه حکمتونه د زکات او صدقاتو د مشروعیت دیو مستقل لوست په ترځ کې د توضیح او څیړنی لاندی نیول کیږي: د زکات د مشروعیت حکمت لاندې ډول دی:

**۱- د پاکی او طهارت ترلاسه کول:**

د زکات او صدقاتو د مشروعیت یو حکمت د مال او نفس پاکوالی او طهارت ترلاسه کول دي، څکه د بریا او فلاح یو اساسي او عمده شرط د شتمن سړي باطني پاکوالی دی له بخل نه او آزادیدل د انساني نفس دي د حرص له بندیخانی نه ښکاره ده چې د حرص او کنجوسی سپیره ستونزه لوی آفت دی چې هر سړی او هره ټولنه ور سره لاس او گریوان وي د بریا مخه نشي لیدلای. لکه چې الله تعالی د بخل او حرص نه ځان ساتل د بریا او کامیابی شرط گڼلی او فرمایلی دي: ﴿وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِۦ فَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ﴾[1] (هغه کسان چې د خپل نفس له بخل نه محفوظ شي هغوی بریالی دي). د دی دلیل چې زکات د شتمنو خلکو د نفس د طهارت او پاکی له حرص او بخل نه او د بیوزلو خلکو د حسد او کینې د بیماری نه د خلاصون سبب گرځي، دغه مبارک آیت دی چې الله تعالی فرمایي: ﴿ خُذْ مِنْ أَمْوَٰلِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا﴾[2] (د مالونو نه یې څه صدقه (زکات) واخله چې د هغه په وسیله یې پاک کړئ).

---

۱ - د الحشر سورت ۹ آیت .

۲ - د التوبه سورت ۱۰۳ آیت.

**۲- د مال مینې او حرص او بخل غریزې باندې د نفس تسلط او واک:**

د زکات او صدقاتو د مشروعیت بل حکمت دادی چې انساني نفس د حب مال، حرص او بخل په غریزو واکمن شي چې  د ټولو انسانانو په خټه کې یو شان شته او د حب مال، حرص او بخل غریزې باندې د نفس د تسلط اهمیت لپاره رسول الله ﷺ هغه صدقه غوره بللې چې انسان د روغتیا سلامتی په لوړه سطحه او پاچایي  په اوچت پړاوکې وي او صدقه وکړي.

لکه چې د پیغمبر علیه السلام نه و پوښتل شول: ( **أي الصدقة أعظم أجرا؟**) یعنی: د کومې صدقې اجر او ثواب ډیر ښه او غوره ده؟ پیغمبر علیه السلام په ځواب کې و فرمایل: ( **أن تصدق و أنت صحیح، شحیح، تخشی الفقر و تأمل الغنی ولا تمهل حتی اذا بلغت الحلقوم  قلت لفلان کذا و لفلان کذا و قد کان لفلان**).[۱]

( غوره صدقه هغه ده چې د روغتیا او د مال را ټولولو حرص لري او د فقر نه ډار لري او د شتمن کیدو هیله لرې صدقه ورکړې نه دا چې کوی تر دی چې مړینه دی راشي نو صدقه ورکړی او وایي: فلایي ته دومره ورکړئ او فلانی ته هومره ورکړئ پداسی حال کې چې دغه مهال په خپله دبل چاپورې ارتباط پیداکوي (او د تا نه دي). نو بهتره صدقه هماغه ده چې انسان د هغه په واسطه د حب مال بخل له غریزې سره مقابله وکړي.

**۳- ټولنیز تکافل او تړون:**

 د زکات د وجیبي او نورو صدقاتو د مشروعیت بل حکمت دادی چې زکات ډیره ښه او غوره لاره ده د اجتماعي تکافل د تحقق لپاره.

---

۱ - صحیح البخاری حدیث،۱٤۱۹ او صحیح الامام مسلم حدیث : ۱۰۳۲

ځکه کومه ټولنه کې چې د زکات مالونه په ښه او صحيح ټوکه اداء شي، د دوستي، محبت اړيکی د هغې ټولنې د افرادو ترمنځ لاښې او قوی کیږي چې په نتيجه کې د هغی ټولنې وګړې د نورو ډيرو ټولنو نه زيات د الهي رحمت مستحق ګرځي. په همدی علت الله ﷻ د زکات ورکول د خپل رحمت د اسبابو څخه بولي او فرمايي:

﴿وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتُ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۚ يَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَيُطِيعُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ سَيَرۡحَمُهُمُ ٱللَّهُۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٞ﴾.[1]

( او نارينه مومنان او ښځينه مومنانی يو د بل دوستان او (مرستندوی) دي په نيکو امر او له بدو منع کوي او لمونځ کوي، زکات ورکوي او د الله او د هغه د پيغمبر اطاعت کوي همدوی دي چې الله ﷻ به يې ډير ژر خپل رحمت لاندی راولي هغه برلاسی حکمت والا دی.

اسلامي دين دا نه قبلوي چې په ټولنه او اسلامي امت کې داسی کسان ميشت وي چې ځان لپاره مناسب معيشت او بسيا جای او هستوګنځی ونلري. دا هغه اړتياوی دي چې بايد مسلمان وګړی يې د نورو اړتياو سره د خپلو هڅو او کوښښونو له لاری ترلاسه کړي خو کچيرې کوم انسان په اسلامي ټولنه کې پدی کار قادر نه وي نو بايد دغه اړتياوې د ټولنی دوګړو په واسطه پوره او تضمين شي نو د زکات او نورو صدقاتو وجيبه يواځينی اساسي لاره ددغه اجتماعي کفالت ده. چی د اسلام له لوري مشروع اوټاکل شوی ده.

---

١ - د التوبه سورت: ٧١ آيت.

**٤- فقيرانو او مسکينانو سره خوا خوږي او مرسته:**

د زکات د وجيبې او نورو صدقاتو د مشروعيت بل حکمت دادی چې د زکات ورکول مسکنانو ته د مرستی او خوا خوږی دګر شميرل کيږي. او د دوستي، مودت ترلاسه کول او دکينی او حسد له منځه وړلو لامل ګرځي.

**٥- د فقر اونيستي د کمولو لپاره مبارزه:**

د زکات وجيبې او نورو صدقاتو د مشروعيت بل حکمت دادی چې زکات او صدقات د فقر په ضد او فقر لری کولو کې ډيره اړينه اغيزه لري چې د ی مستقل لوست په ترځ کې به توضيح شي.

**د زکات د مشروعيت د فلسفې او حکمت خلاصه او لنډيز:**

په لنډ ډول بايد وويل شي چې د زکات وجيبې په مشروعيت کې ګڼ شمير حکمتونه او فلسفې شته چې ډير عمده يې په لاندی ډول دي:

١- اخلاقي فلسفه: داسي چې زکات ورکول د اخلاقي رذايلونه د پاکيدو سبب دی چې په سرکې يې بخل او کنجوسی دی.

٢- رواني فلسفه: پدې شان چې زکات ورکولو سره شتمن او بډای شخص د دنيا له عبادت نه خلاصيږي.

٣- اجتماعي فلسفه: چی ددی په واسطه د دوستی، سخاوت او نورو ته پاملرنی نيالګی وده کوي.

٤- د فقر لامله چې په ټولنه کې کوم مفاسد او ککړتياؤ او طبقاتي فاصلې (ډله ييز) محروميتونو ټغر د ټولنی څخه ټوليږی.

٥- د اجتماعي تکافل او يووالی تحقق .

٦- د ودی پوره کیدل او اقتصادي پر مختګ .

زکات داسی فریضه ده چې فرد او اجتماع پاکوي، د ټولنې د پرمختګ او افرادو کې د فضیلت تخمونو وده ورکونکی دي، او دا ډیر څرګند تعبیر دی چې د زکات په هکله یی ویلی شو چی: له یوی خوا ککړتیاوې له منځه وړي او له بلی خوا تکامل پیداکوونکی دی.

(١٦)

## د عامه شتمنيو، بيت المال او وقفي شتمنيو ساتنه

الحمد لله الذي خَوَّل عباده من الأموال ما به تقوم مصـالح دينهم و دنياهم و جعل لتحصيلها و تصريفها طرقاً شرعها لهم وبينها و هداهم و أشهد أن لا اله الا الله وحده لاشريک له رب العالمين و مولاهم و أشهد أن محمداً عبده ورسوله أكرم الخلق و أزكاهم صلى الله عليه وعلى آله و أصحابه و من اهتدى بهداهم وسلم تسليما .

قال الله تبارک وتعالى في محكم كتابه وهو أصدق القائلين بعد أعوذ بالله من الشيطان الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم : (وَلاَ تَأْكُلُواْ أَمْوَالَكُم بَيْنَكُم بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُواْ بِهَا إِلَى الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُواْ فَرِيقًا مِّنْ أَمْوَالِ النَّاسِ بِالإِثْمِ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ).[١]

وعن أبي كبشة الأنماري رضي الله تعالى عنه أنه سمع رسول الله يقول: (ثلاثة أقسم عليهن وأحدثكم حديثا فاحفظوه قال: ما نقص مال عبد من صدقة ، ولا ظلم عبد مظلمة فصبر عليها إلا زاده الله عزا ، ولا فتح عبد باب مسئالة إلا فتح الله عليه باب فقر ) .[٢]

---

١ - د البقري سورت: ١٨٨ آيت .

٢ - سنن الترمذی ، حديث ٢٣٢٥ .

**سريزه :** پدى پوهيږى! چې په اســلامي حکومتولى جوړښــت کې د بيت المال اصطلاح د کوم ځايه او څنګه را څرګنده شوه ؟

د اميرالمؤمنين عمربن الخطاب د خلافت په پيل کې چې د اســلامي تاريخ يو طلايي او ځلانده دوره او د دولت د کارونو د جوړښت د ادارى ارزښتمنه صفحه ده ، ډيرى زياتى سيمى د اسلامي ټولنى سره يوځاى شوى او داسلامي دولت خواوى توسعه پېداکړه ، زياتى شتمنى لکه : خرما ، وچې مېوى ، غلى ، جامى او فريمانه شيان د مفتوحه هيوادونو څخه مدينى منورى ته راوړل شولى او ټول يې د خليفه يا د خلافت د نورو لويانو په کورونو کې کيښودل شول دا کار ددى لامل شو چې د عامو خلکو يعنى دولت اړوند شتمنى تيت په ترک شي ، خليفه امروکړ چې ددى کار لپاره يوه حويلى ځانګړى شي او ټول شــته مالونه هلته يووړل شي او د ساتنى لپاره يې اړين تربيدونه ونيول شول ، او امين او باوري چارواکي پرى وګمارل شــو ترڅو ښــه اداره شي ، د همدى مهاله دغه حويلى په بيت المال يا ددولت د شتمنيو خونه ونومول شوه ، وروسته بيا کله چې د همدى ستر خليفه په زمانه کې لومړنى اسلامي سکه ووهل شوه او راغلي جنسونه په نغدو واوښتل، مرکز يې همدا کور او خونه وه ، بيا بيت المال دراتلونکو مالونو او دويش او توزيع لپاره يې يو سيستم جوړشو، په حقيقت کې د دولتى خزانى او بانک بنسټ دبيت المال په تاسيس سره کيښودل شو.

**د بيت المال اصطلاحي معنا :**

د ادارى له مخى بيت المال ددولت د شــتمنيو د عايد او ويش مرکز وى خو دشرعي، دود او تاريخ په لحاظ د ټولو مســلمانانو د حق په معنا ده ، دهمدى

لامله د مالونو په ســاتنه ، ويش او مصرـف کې پوره دقت او احتياط د چارواکو دنده او مکلفيت دی ،اما ساتنه يې د ټولنی دهر غړي مسئوليت دی او دهغه په وړاندی ناغيړي ستره گناه او نه بښـل کيدونکی غلطي گڼل کيږي . د بيوزلو او محرومو پرگنو د ستونزو لری کولو لپاره د بيت المال شتمنيو څخه گټه اخستنه او عامو خلکو ته اسـتانتيا او فراختيا برابرول روا دي چې فردي سـتونزو حل کولو سره ټولنه دلاښـه جوړښـت او د اسلامي ټولنی د پرمختگ او ترقي لپاره ټولنيزی مرستی په لور بيايي .

**بيت المال پيژندنه :**

دبيت المال جمله د دوو کلمو بيت او مال څخه جوړه ده چې معنايې : خونه او شـــتمنی او د مال خزانه ده او په اصـــطلاح کې په دوو معناگانو راځي : کله د عمومي او حکومتی مالونو او هر هغه څه چې په يوه ښه خلک پکې حق لری کارول کيږي ، اوکله د هغه ځای په معنا کارول کيږي چې عمومی شـتمنی پکی ساتل کيږي ، دغه لفظ په لغت کې د مالونو د ساتنی ځای باندی اطلاق کيږي عمومي وي او که خصـوصي . خو په اصـطلاح کې د اسـلام په لومړيو کې د بيت مال المســلمين تعبير د هغه ځای لپاره کارول کيده چې د اســلامي دولت عمومي او منقول مالونه پکی ؤ بيا د بيت ا لمال تعبير د هغه ځای او همغه معنای افاده کړه بيا کرار، کرار د مســلمانانو په عمومي مالونو هم وکارول شـــو، چې نغد، منقول او غير منقول ځمکه او نور يې را ټاله کاوه .

او د عمومي مال څخه موخه هغه مال دی چې په اســلامي ځمکه کې د هر مســلمان شـــتمنی وگڼل شي . عامه اموال د هغو مالونو څخه عبارت دي چې :

دعمومي ګټو او مصـــلحتونو لپاره ځانګړي شـــوي يا دقانون په حکم عامه اموال ګڼل شـوي او ټولو خلکو پورې اړه لري ، بيت المال د مسـلمانانو او عامو خلکو د مصلحتونو لپاره چمتو شوی لکه : عمومی لاری ، جماتونه ، پارکونه ، ښوونځي ، پوهنتونونه ، دولتي اداري او توکي او امکانات يې ، ښاري بسونه ، ځنګلونه ، اوبه او برښــنا ، مطلقه موقوفات ، معدنونه او نور دغه مالونه د ټولو مسـلمانانو دي . او هيڅوک آن حاکم يا امام هم دداشـــان مالونو د پلورلو، چاته ورکولو ، بخشـــش ګانه کولو او وقفولو واک نلري، خو حاکم يا امام کولای شي د ګټو دزياتولو او ســـوداګرۍ لپاره عامه ځمکی چاته اجاره ورکړي او ګټه يې په عمومي مصـــالحو کې مصرف کړي مګر په هغو لارو، کوڅو، سړکونو کې مصرفول چې خاصی ګټی ولري او د تيريدونکو د تللو مانع ګرځي رواندي او په تنګو لارو کې د پېرل او پلور لپاره کيناستل هم ناروا دي د عمومي مالونو د صحيح ګټی اخستنی څخه څارنه د دولت دنده ده . امام ابوحنيفه رحمة الله وايي : په بيت المال کې امانت کول دخليفه يا حاکم يو شرط دی کچېرې خليفه يا حاکم په ناروا ډول په بيت المال کې لاس وهنه وکړي يا دوګړو شـــخصيـــ مالونه په زور لاندی کړي خپله وړتيا او صـلاحيت له لاسـه ورکوي او دخلافت او حاکميت تری اخسـتل کيږي ، دهغه له انده بيت المال دمسلمانانو پوره تړاو لري خليفه او حاکم هم نشی کولای چې په ناحق پکی لاسوهنه او تصرف وکړي .

لکه چې په حدیث کې راغلي دي : ( **عن عبدالله ابن عمرو رضي الله عنهما ، عن النبي قال: المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده ، و المهاجر من هجر ما نهى الله عنه**).[1]
ژباړه : رینښــتنی مســلمان هغه څوک دی چې د هغه د ژبې ، لاس دزیان څخه مسلمانان په امن کې وي او پوره مهاجر هغه دی چې د الله ﷻ لخوا منع شوی شیان پریږدي .

**دپند څو پیښې :**

دمسلمانانو لومړني خلیفه حضرت ابوبکرالصدیق به د ټوکرو په پلورلوسره خپل ژوند تیرولو کله د خلیفه په توګه وټاکل شو نو دمعمول سره سم به سهار مهال د څو مترو ټوکر سره بازار ته د خرڅلاو لپاره تللو په لار کې حضرت عمر رضـی الله عنه ورسره مخامخ شـو وی پوښـت چیرته ځې؟ وی فرمایل : بازارته ځم ، حضرت عمر رضـــی الله عنه ورته وویل : کچېری په تجارت بوخت شـــی د خلافت کاربه څنګه ترسره شي؟ حضرـــت ابوبکر وفرمایل : نو خپلی کورنی ته خواړه له کومه کړم؟

حضرـــت عمر وویل : ابوعبیده ته ورځو چې رســـول الله ﷺ د امین لقب ورکړی ، هغه به تاته د بیت المال څخه څه څیز وټاکي ، دواړه ابوعبیده ته ورغلل ، هغه ابوبکر ته د یو مینځومي مهاجر په کچه څه دبیت المال نه مقرر کړل ، یوه ورځ یې ماندینی وویل: د خوږو د خوړلو هیله لري ، حضرـــت ابوبکر وفرمایل : زه څه

١ - صحیح البخاري ، حدیث : ٦٤٨٤ .

نلرم چې راوي نیسـم ، ښـځی یې وویل : د خپلو ورځنیو خوړو څخه سـپما کوو د څو ورځو وروسته به هومره ټولیږي چې خواږه پری رانیسو  حضرت ابوبکر صدیق ورته اجازه ورکړه ، څو ورځی وروسته څه پیسی ټولی شوی، حضرت ابوبکر صدیق وویل:  ښـکاري چې  ټولی شـوی پیسـی د بیت المال نه مونږ ته زیاتی راځي نو کومی پیسی یې چې ښځی ټولی کړی وی هغه یې بیرته بیت المال ته ورو‌ړی او د راتلونکی لپاره همغه اندازه چې هره ورځ یې ماندینی  ســپمولی وی د خپلو حقوقو څخه کم کړی . حضرت عمررضی الله عنه هم سوداګري کوله ، کله چې خلیفه شـو ، نو دبیت المال نه هغه ته څه حقوق مقرر شـول په مدینه منوره کې یې خلک راټول او ورته وی فرمایل : ما ددینه وړاندی تجارت کاوه اوس چې تاسو پدی کار بوخت کړم نوڅنګه خپل ژوند تیرکړم ؟ هر چا د بیت ا لمال بیلابیل مقدار ورته وړاندیز کړ ،حضرت علي غلی نا ست ؤ حضرت عمر وپو ښت  ستا څه نظر دی؟ هغه وفرمایل : په متوسط ډول هغه څه چې ستا او کورنی ته دی بسنه وکوي، حضرت عمر دغه وړاندیز خوښ کړ او متوسطه اندازه ورته وټاکل شوه.

یوه ورز حضـرت علي ، عثمان ، زبیر ، طلحه رضـی الله عنهم او نورکسـان سره ناسـت ؤ او دخبرو اترو په ترڅ کې یې وړاندیز وکړ چې باید د عمر حقوق اضـافه شي ځکه چې په معاش او ژوند کې یې تنګسیا راغلی ده . مګر هیچا زړه نه کاوه چې دا مسئله د حضرت عمر سره شریکه کړي نود همدی لامله د هغه لور حضرت حفصـه ته ورغلل ترڅو دهغی په مټ د حضرت عمر هوکړه واخلي اوورته وی ویل چې زمونږ نومونه حضرت عمر ته ونه وایي .

حضرت حفصه رضي الله تعالى عنها مسئله دعمر رضى الله عنه سره شريکه کړه د حضرت عمر ښه واوښته وی فرمایل: دا وړانديز ځاکړي دی ؟ حضرت حفصه وويل : لومړی باید ستا رایه جوته شي حضرت عمر وفرمايل : کچیری دا کسان ماپيژندلي وای داسی سزا به می ورکړی وه چې نښی به يې په چهره ځرګندی شوی وی ، ای حفصه ماته ووایه د پیغمبر علیه السلام ډیره ښه جامه ستا په کور کې څه وه ؟ هغی وويل: دوه ټوټی ټوکر ؤ چې رسول الله به د جمعی په ورځ یا د میلمنو دراتلو په مهال اغوستلی . بیا یې وفرمایل : غوره خواړه چې رسول الله ﷺ تاسره خوړل څه ؤ ؟ عرض يې وکړ: ځمونږ خواړه د وربشـو ډوډی وه ، مونږ به د تودی ډوډی پرمخ د غوړیو قطي وروستي غوړي تشول اوغوړول . رسول الله به په اشتها خوراک فرمایه او نوروته یی هم ورکاوه ، حضرت عمر وپوښتله ، ډیره بستره چې ستا په خونه کې دحضرت محمد لپاره هواریده څه وه ؟ حضرت حفصه وويل: یوه زیږه کپړه وه چې په اوړی کې به مو څلورقاته کوله او هواره وله به مو او په ژمي کې مو نیمه لاندی او نیمه په سر اچوله ، دغه مهال حضرت عمرحضرت حفصه ته وفرمايل : ای حفصه هغوی ته ووایه چې رسول الله په خپل ښه عمل سره داسی بیلګه او تګلاره وټاکله چې د آخرت په هیله يې بسـنه وکړه زه هم د هغه په پله ځم زما او ځما د دوو دوستانو رسول الله او ابوبکر دهغو دری کسانو په څیر ده چې په یوه لار لاړل لومړني سړي څه توښه اوچته کړه او لاړ او موخی ته ورسیده دوم سړي هم د هغه اتباع وکړه او دهغه په پله لاړ او لومړي سړي ته ورسید بیا دریم سړي په خوزښت پیل وکړ نو کچیری د هغو دواړو په پله لاړ شي نو وروبه رسیږي او د هغو په لار لاړنشي هیڅکله به هغوی ته ونه رسیږي .

**په مال او پانګه کې د الله ازميښت او امتحان :**

الهي سنتو کې يو سنت داهم دی چې په مال او پانګی سره دانسانانو آزموينه اخلي.

الله ﷻ فرمايي :( **إِنَّا بَلَوْنَاهُمْ كَمَا بَلَوْنَا أَصْحَابَ الْجَنَّةِ إِذْ أَقْسَمُوا لَيَصْرِمُنَّهَا مُصْبِحِينَ**).[1]

ژباړه: مونږ دوی ازميښت کړل همغه شان مو چې دباغ څيښتنان وآزمايل کله يې چې قسم وکړ چی سهار مهال يې ميوی راغونډی کړي .

په حقيقت کې پانګه او ځواک د الهي آزميښتونو ډګرونه او ځايونه دي .

الله ﷻ آن د ايمان خاوندان هم پری امتحانوي تر څو جوته شي چې ترکومه حده د پيدايښت په مسير او موخو پسی دي او آيا زړونه يې دمال او اولاد په څير ددنيا ښکلا پوری تړلي دي او کنه ؟ لکه چې الله ﷻ فرمايي: ( **إِنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ وَاللَّهُ عِندَهُ أَجْرٌ عَظِيمٌ**).[2]

ژباړه : دامنل شوی چې ستاسی شتمنی او اولاد ازميښت دی او لوی اجر د الله سره دی .

مبارزه ورسره ډيره سخته او ستونزمنه ده ، د همدی لامله الله ﷻ دمال خوښولو او زړه ورپوری تړلو په هکله کلکه رټنه کړی او سخت ازميښت يې ګڼي چی ډير لږ خلک تری روغ ووځي الله ﷻ دمال خوښی اوزړه تړلو ورپوری څخه مبارزی لپاره له مومنانو څخه غواړي ترڅو د قيامت او دنيا او اخرت ژوندحقيقت ته په کتلو آخرت ته ځان چمتو کړي او فرمايي:(**إِنَّ الْإِنسَانَ لِرَبِّهِ لَكَنُودٌ وَإِنَّهُ عَلَى ذَلِكَ**

[1] - د القلم سورت ۱۷ آيت.

[2] - د التغابن سورت: ۱۵ آيت.

**لَشَــهِيدٌ وَإِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَـدِيدٌ أَفَلَا يَعْلَمُ إِذَا بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُورِ وَحُصِّـلَ مَا فِى الصُّـدُورِ إِنَّ رَبَّهُم بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّخَبِيرٌ)**.[1]

معنا : دشـک پرته انسـان دخپل پالونکي په اړه ناشـکر دی او يقينا هغه په خپله پدی شاهد دی ، بیشکه د مال مينه پکې خورا زياته ده ، آيا نه پوهيږي چې کله هم دقبرونو څخه راوويســتل شي او دســينو رازونه يې بربنډ شي بيشــکه په هغه ورځ يې پالونکی دهغوی په حال پوه دی .

همداشـان رسـول الله ﷺ هم ټول خلک مسـئوليت لرلو او مسـئوليت منلو باندی مکلف کړي دي او د ازميښــت په وړاندی يې ژمن گرځولي دي لکه چې حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه روايت کړی چې رســول الله ﷺ فرمايي : **عن ابن عمر رضي الله عنه قال : سمعت رسول الله يقول: كلكم راع ، و كلكم مسؤول عن رعيته، الامام راع و مســؤول عن رعيته ، والرجل راع في اهله ، ومســؤول عن رعيته ، والمرأة راعية فى بيت زوجها و مسؤولة عن رعيتها ، و الخادم راع فى مال سيده و مسؤول عن رعيته ، وكلكم راع و مسؤول عن رعيته .** [2]

ژباړه : د ابن عمر رضـــی الله عنه نه روايت دی وی ويل : درســـول الله څخه می واوريدل چې فرمايل يې: تاســو ټول شــپانه ياســت او هر يو د خپل رعيت په اړه پوښــتل کيږی ، لاربنـود شـپون دی او د خپل رعيت مسـئول دی ، نارينه شـپون دی او دخپل رعيت مسئول دی، ښځه د خپل خاوند په کورکې شپونه او دخپل

١ - د العاديات سورت: ٦-١١ آيتونه.

٢ - صحيح البخاري، حديث: ٨٩٣، ٢٥٥٤ او صحيح الامام مسلم، حديث: ١٨٢٩.

رعیت مسئوله ده ، مزدور د خپل بادار په مال کې شپون دی او د خپل رعیت په اړه پوښتل کیږي او تاسو ټول شپانه یاست او دخپل رعیت په اړه پوښتل کیږی .

**د بیت المال اهمیت :**

**عن أنس بن مالک رضـــي الله عنه قال ما خطبنا نبي الله الا قال: ( لا ایمان لمن أمانة له ، ولادین لمن لا عهد له ) .**[1]

ترجمه :- دانس بن مالک رضي الله عنه نه روایت دی چې وی ویل: داسی خطبه رســول الله مونږ ته نده واړاندی کړی مگر داچې ویل یې : هغه څوک پوره ایمان نه لري چې په امانت کې خیانت وکړي او پوره دین نه لري هغه څوک چې ژمنه ماتوي .

بیت المال یو حســاس او خورا اړین امانت دی ، مگر په خواشــینی چې مونږ د هغه اهمیت ډیره لږه پام لرنه کوو ، په دولتی موټر کې چې بیت ا لمال گڼل کیږي کښــینو او د خپل موټر په پرتله ډیره لږه توجه او پاملرنه ورته کوو ، ټول دولتی مالونه لکه ښاري سرویسونه ، اوبه ، بریښنا ، میز ، چوکی ، ښکلایي ډیوی ، ســړکونه ټرافیکي نښــی ، عامه کتابتونونه د بیت المال برخه گڼل کیږي او په کارولو کې یې باید ناغیړي ونشی، کچیری دمتعلمی په مهال ښه سبق ونه وایو نو بیت المال سره مو خیانت کړی هغه محصـــل چی ښـــه ســـبق نه وایي او په درسونو کې زیار ونه باسي کوم طالب العلم چې خپل سبقونه صحیح ونه وایي ، چارواکې چې صحیح او ښه کارونکړي، ښوونکی چې دزده کوونکو په ښوونه کې

١- مسند احمد حدیث : ١٣٦٣٧.

ناغیړي وکړي، سرتیری چې په خپله دنده کې مواظب نه وي نو په حقیقت کې دغو ټولو د بیت المال سره خیانت کړی دی .

**په بیت المال کې اسراف او ناوړه ګټې اخستنې حرمت :**

باید دبیت المال په مصرف کې کنجوس اوسو ، که سخاوت غواړو نو په خپل شخصی مال کې باید سخاوت وکړو لکه چې الله ﷻ فرمایی : ( **و آتوهم من مال الله الذي آتاكم**). [1]

ترجمه : هغوی ته دهغه مال نه ورکړئ چې الله ﷻ تاسوته درکړی یعنی هغوی سره مرسته وکړئ په یو لوی تخته کاغذ باندی د یوی کوچنی شمیری لیکل سخاوت او بخشش ندی ، بلکه په حقیقت کې همدا اسراف ، بی تدبیري او بیت المال سره خیانت دی ، او په حلاله لار لاسته راغلی مال باید په مشروعو لاروکې مصرف شي ، اوزیات مصرفول اسراف اوتبذیر حرام دی لکه چې رسول الله ﷺ فرمایی: ( **عن أبي هريرة رضي الله عنه قال ، قال : رسول الله اذا ضيعت الأمانة فانتظر الساعة قال : كيف اضاعتها يا رسول الله ؟ قال : اذا اسند الامر الى غير أهله فانتظر الساعة**) . [2]

ترجمه : د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی چې وی ویل : رسول الله ﷺ وفرمایل : کله چې امانت ضائع شو نو د قیامت راتلو ته سترګی په لار اوسئ وویل شول یا رسول الله امانت څنګه ضائع کیږي ؟ وی فرمایل : کله چې کار نا اهلو ته وسپارل شو نودغه مهال د قیامت دراتلو منتظر اوسئ .

---

١ - د النور سورت ٣٣ آیت.

٢ - صحیح البخاری ، حدیث : ٦٤٩٦ .

په اسلامي اقتصادي نظام کې دولتونه نشي کولای چې لاس کې شته شیان په هرځای کې چې وغواړي مصرف کړي بلکه د هر ډول مصارفو لپاره عایداتی سرچینی ټاکل شوي دي یا په بل عبارت په اوسني اقتصادي نظامونو کې ددولتونو ټول عوا ید دهری خوا چې وي یو ځای ټولیږي او د مبالغو د یوځای کیدو وروسته د مصارفو لپاره خپل پلان چمتو کوي ، لکن د اسلام دارشاداتو له مخی مثلا : نشوکولای د لاسته راغلو پیسو دزکات نه جمات جوړکړو ځکه چې د مسکینانو ، فقیرانو او اړو خلکو حقوق تلف کیږي، او دجماتونو دجوړونی اورغونی لپاره نوری سرچینی شتون لري همدارنگ داوقافي عوایدو د پیسو څخه یوازی همغه ځانګړو او معلومو ځایونو کې کار اخستل کیږي .
اسلامي اقتصادي نظام د حرامو مالونو د مصرفولو څخه د مخنیوی اوځان ساتلو لپاره ځینی محدودیتونه وضع کړي دي چې عبارت دي له :
۱ – زماني محدودیت : یعنی: د مالونو څخه د استفادی ټاکلی وختونه لکه : په حرامو اخستل شوی جامو کې د لمانځه نه قبلیدل .
۲ – مکاني محدود یت : یعنی په ځانګري ځای کې دمنعه شوو څیزونو نه استفاده لکه : په غصبی ځمکه کې دجمات جوړول او نارینه ؤ لپاره د وریښمو جامو حراموالی .
۳ – سیاسي محدودیت : لکه : ځینی خارجی مالونونه د استفادی حراموالی ځکه چې داکار د اسلامي هیوادونو په اقتصادي اوضاع باندی دتولیدوونکو هیوادونو د تسلط لامل ګرځي .

۴ – ضرری محدودیت : دهغو څیزونو د استفادی حرمت چې د ضرر او کړاو لامل گرځي لکه : د نیشه یی توکو کارول ، یا دمنعه شو وسلو یا پټاقی پیرل لکه چې رسول الله ﷺ فرمایی : ( **لاضرر ولا ضرار في الاسلام** ). [1]

ترجمه :هیڅکله څوک باید ضرر ونه مني او نه نوروته ضرر ورسوي.

دهوښیارو، عاقلو او بادرکو مصرف کوونکو ستاینه او تمجید شوی . دعقل له مخی د مصرف تگلاره داده چی: په ښه ډول مصرف کوونکی خپلی موخی ته ورسوي او د ډیرعقلاني تگلوري په توگه پیژندل شوی وي دبیلگی په توگه : مسلمان مصرف کوونکی د ثابتی لاسته راوړنی په درلودلو سره د غیر مسلم مصرفونکي په پرتله لږ مصرف لري .

**په بیت المال کې د خیانت نه د ځان ساتنی لاری :**

روغ ، صالح او پوه وگړي په یوه اوچته پرمخ تللی او اسلامي ټولنه کې لاندی ټکي په نظر کې نیسي :

۱ – ژرتیریدونکي خوندونه فاني گڼی .

۲ – دهوی او هوس پوره کوونکو مصرفونو پسي نه وي .

۳ – په مصرف کې مینځلاری وي ، افراط اوتفریط نه کوي .

۴ – لیری او اوږدو هیلو څخه ځان ژغوري .

۵ – ددنیا غوښتونکو مصرفي بیلگی نه لري آن چې تری لری اوسي .

٦ – د محرماتو مصرفولو نه ځان ساتي او زهد او تقوی پلی کوي .

۷ – قانع وي او په فقر او تنگسیا صبر کوي .

---

۱ - المعجم الأوسط للطبرانی ، حدیث : ۵۱۹۳.

۸ – دخپل مصرف لپاره نوروته زيان نه اړ وي .
۹ – ځان ښودنې مصرفونه نه کوي .
۱۰ – په تنگسيا کې په مصرف کې صبر کوي .

په اســـلامي اقتصـــادي نظام کې د ځمکې په سر دهيڅا دفقر ، اړتيا لپاره کوم ځای نشـــته ، پدی نظام کې نه دکوم وگړي حقونه ضـــائع کيږي اونه هم ټولنيز حقونه د نفسيـ غوښـــتنو قرباني کيدای شي بلکه توازن او نړيوال اقتصـــادي عدالت پکی مطرح دی ، ا ستثمار ، سودخوړل ، تقلب ، غلا ، غدر ، قيمت پلورل ، انحصـــار غوښـــتنه ، احتکار غصـــب اونور د ظلم او خيانت مظاهر په اقتصـــادی اسلامی نظام کې په توليد ، ويش ، مصرف او نورومعاملو کې هيڅکله ځای نلري او همدا داســـلام د اقتصـــادی نظام يوه ځانگړنه ده چې نورو نړيوالو اقتصـــادی نظامونو کې نشته لکه چې الله جل جلا له ددا سی مسائلو په هکله په قرانکريم کې ځانگړي لارښـــونی لري دهغو څخه په تول او پيمانه کې کمی کوونکو په هکله فرمايی : (**وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ الَّذِينَ إِذَا اكْتَالُواْ عَلَى النَّاسِ يَسْـــتَوْفُونَ وَإِذَا كَالُوهُمْ أَو وَّزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ أَلَا يَظُنُّ أُولَئِكَ أَنَّهُم مَّبْعُوثُونَ لِيَوْمٍ عَظِيمٍ**). [1]

ژباړه :- هلاکت دی وي هغو کسانوته چې لږ ورکوي او لږ پلوري هغه کسان چې کله د خلکو ته پيمانه او تله اخلي نو پوره او کامله يي اخلي او چی کله پيمانه او تله ورته ورکوي نو وزن او پيمانه کم ورکوي ايا دوی دا يقين نلري چي بياځلي به راژوندي شي په هغه ستره ورځ ( قيامت ) هغه ورځ چې خلک د نړيوالو د پالونکي

۱ - د المطففين سورت ۱- ۵ آيتونه .

په وړاندی ودريږي . همداشـــان رب العالمين په رحمن ســـورت کې فرمايي:( **أَلَّا تَطْغَوْا فِي الْمِيزَانِ وَأَقِيمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ وَلَا تُخْسِرُوا الْمِيزَانَ**). [1]

ترجمه :- ميزان ( تله ) تيری او تجاوز ونکړې او په سنجش تله کې عدل اوانصاف وساتئ او په تله کې کمښت ونکړئ.

په کومو ټولنو کې چې اسلامي، اخلاقي، دينی او انساني ارزښتونه واک ونلري ، دهغه ځای يوازی مادي، تجمل پالنی ، شـــهوات غوښـــتنی ، زيات اخســـتنی ، پانگی اچونی چې دنورو ځان اومال واخلی ارزښـــتونه نيسي ـــ ، لکن الله ﷻ د مادی خوندونو برسـيره معنوي او اخروي ارزښـتونه هم د انسـان توجه ته را اړوي لکه چې فرمايي : ( **زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّـهَوَاتِ مِنَ النِّسَـاء وَالْبَنِينَ وَالْقَنَاطِيرِ الْمُقَنطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّـةِ وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ وَالأَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ذَلِكَ مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَاللّهُ عِندَهُ حُسْنُ الْمَآبِ** ). [2]

ترجمه : انسان ته ددنيوي غوښتنو هيلو مينه او دوستي ښکلی شوی، ښځی، ځامن، ډيری پانگی، سره او ســپين ښــکلی او نښــه لرونکي آســونه، څاروي، کرکيله، کښـــت ټول ددنيا د ژوند توکي شـــميرل کيږي پداســـی حال کې چې دبيرته گرځيدو غوره او ښه ځای د الله ﷻ سره دی.

### د بيت المال د ځواکمنتيا لار او سرچينی :

دبيت المال مهمی سرچينی عبارت دي له : څارويو ، ميوو، دانو ، سره او سـپين ، تجارتی مالونو ، د کښتی ځمکو د زکات او غنيمتونو، فئ، دگمرکونو ماليو، هغه

---

۱ - د الرحمن سورت ۸-۹ آيتونه.

۲ - د آل عمران سورت: ۱۴ آيت.

مالونو او ځمکو څخه چی مسلمانانو لاسته ورغلي وي همدا شان وقفي مالونه او نوروڅخه د هغو مالونو په اړه چې د عشر او زکات له لاری راټولیږي باید د رسول الله ﷺ دحکم سره سم واخستل شي او وویشل شي، هغه باید دشتمنو، مال خاوندانو او ځمکی خاوندانو چې مالونه يې نصاب ته رسيږي واخستل شي او فقیرانو باندی وویشل شي لکه چې د معاذ رضي الله عنه په حدیث کې یې یادونه شوی ده: ( **عن عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما قال : قال رسول الله لمعاذ بن جبل – حين بعثه الى اليمن – انک ستأتي قوما أهل كتاب ، فاذا جئتم فادعهم الى أن يشهدو أن لآ اله الا الله و أن محمدا رسول الله . فان هم أطاعوا لک بذلک فأخبرهم أن الله قد فرض عليهم خمس صلوات فى كل يوم وليلة فان هم أطاعوا لک بذلک فأخبرهم أن الله قد فرض عليهم صدقه تؤخذ من أغنيائهم فترد على فقرائهم فان هم أطاعوا لک بذلک فاياک و كرائم أموالهم . واتق دعوة المظلوم فانه ليس بينها وبين الله حجاب** ) .[1]

ددی بختور حدیث نه په زغرده څرګندیږي چې د عشر او زکات راټولول او اخستل د حکومت دنده ده چې د مال خاوندانونه عشر او زکات راټول او په فقیرانو او مسکینانو یې وویشي ، حکومت دندی لري چې : دین پال او امانت ساتونکي وګړي ددی په ټولولو وګماري ترڅو له یوی خوا په شتمنو تیری ونشي. مثلا : د ټاکلی اندازی نه زیات تری وانخلی یا ښه او اعلی مال تری وانه خلی او له بلی خوا ځینی مالونه دصدقي او ډالی په نوم ځان ته وانخلي، ددی پرته د ګناه کوونکي ګرځي ، همداشان اړوخلکو ته ددغو مالونو دویش لپاره دی هم صادق او تقوا لرونکی کسان وګماري ترڅو په ښه او عادلانه توګه پر دوی وویشل

١ - صحيح البخاري ، حديث : ١۴٩٦ .

شي، دمومنانو یو ښـه صـفت دبیت المال په وړاندی دامانت سـاتلو صـفت دی همغه شان چې الله ﷻ فرمایي: (**وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ**). [١]
ژباړه : او دوی هغه کسان دي چې د خپلو امانتونو او ژمنو څارونکي او ساتونکې دي .

**دبیت المال د ساتنی او حفاظت اړتیا :**

باید دبیت المال او عامه شـتمنیو په سـاتنه کې زیات جدیت وشي ، ځکه چې دغه شـتمنی دټولنی ټولو وګړو پوری تړاو لري لکه زکات ، عشر ، ګمرکي لاسـته راوړنی ، دولتي کورونو ، هټیو کرایه او عام المنفعه مالونه او ځایونه دا ټول په عامه شتمنیو کې داخل دي.

چې د ساتنی لپاره یې باید دین پال او امانت ساتونکی ا شخاص وګمارل شي ، باید وویل شي چې وزارتونو ته ځانګړی شـوی بودیجه هم په عامه مالونو کې راځي چې مصرفولو کې یې دقت پکار دي چې په ځای ولګول شي او بی ځایه مصرف نشي الله ﷻ فرمایي: ( **إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُواْ إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِرَبِّهِ كَفُورًا** ).[٢]

ترجمه : یقینا اسراف کوونکي د شیطانانو اورونه دي او شیطان تل دخپل رب نه منونکی دی.

---

١ - د المؤمنون سورت: ٨ آیت.

٢ - د الاسراء سورت: ٢٧ آیت.

په بل آیت کې الله ﷻ فرمایي: ( **یآ أیها الذین آمنوا لا تأکلوا أموالکم بینکم بالباطل**).[1]

ترجمه : ای ایمان والاو ! په ناروا یو دبل مالونه مه خورئ .

دبل مال خوړل منع او حرام دي که د غصب ، زور ، مکر ، دوکې ، سود ، قمار له لاری وي او یا د بډو ، اختلاس له لاری وي او باید انسان ځان تری وژغوري .

**په بیت المال کې خیانت او بدی اغیزی یې :**

دبیت المال مسـئولیت یو امانت دی د مسـلمانانو سره ، هر ډول خیانت پکې عظیمه گناه ده الله ﷻ د حق دمخالفت په معنا ښـودلی او دالهی غصـی او قهر په پیداکولو کې مهم لامل گرځولی فرمایي : ( **وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَغُلَّ وَمَن يَغْلُلْ يَأْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثُمَّ تُوَفَّى كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لاَ يُظْلَمُونَ أَفَمَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَ اللّهِ كَمَن بَاء بِسَخْطٍ مِّنَ اللّهِ وَمَأْوَاهُ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ**).[2]

ژباړه : پیغمبر ته نه ښایي چې کوم څیز پټ کړي ، څوک چې کوم څیز پټ کړي دقیامت په ورځ به هغه راوړي بیا پوره ورکول کیږي هرچاته دهغه د کسـب او تیری به پری نه کیږي، آیا هغه څوک چې دالله درضـا تابع وي د هغه چا سره یوشان دی چې د الله نا رضایت یې ترلاسه کړی او ځاي یې دوزخ دی او څومره بدځای دی .

دغنیمت مال غلاکول لویه گناه ده چې هیڅ نبی یي نه کوي او ( **وما کان لنبی أن یغل**) آیت دیوی خاصی پیښی په اړه راغلی چې په ترڅ کې یې د ( غلول ) مسئله

---

۱ - د النساء سورت: ۲۹ آیت.

۲ - د آل عمران سورت: ۱۶۱-۱۶۲ آیتونه.

دغنیمت په مال کې غلا هم راغلی ده خیانت د هیڅ پېغمبر کارندی ، هیڅکله ورته نه ښــایي ، پیغمبران معصــوم دي لکه چې ځینی منافقینو دبدر غزا د غنیمتونو په راټولولو کې تور پوری کړی ؤ .
په اوقافي او دولتي مالونو کې غلا هم د غلول حکم لري، ځکه په دولتی ( بیت المال ) مال کې دټول هیواد خلک برخه لري که څوک تری غلا وکړي لکه د ټولو نه یې چې غلا کړی وي ، لکن دا چې په عمومي ډول د غه مالو نه ځانگړي څښتنان نلري ساتونکې او مسئولین توجه نه ورته کوي او ډېره غلا کیږي ، ځکه نو په نړی خصوصا زمونږ هیواد کې د ټولو نه زیات پدی مالونو کې غلا او خیانت کیږي او خلک یې له بدو پایلو نه غافل دي او ســزا یې د دوزخ برســیره دحشر میدان رسوایي او د رسول الله ﷺ د شفاعت نه محرومیت هم ده . څوک چې د کوم مسئولیت خصوصا د مسلمانانو د بیت المال مدیریت مسئولیت کې ناغیړي وکړي یا د امانت ســاتلو خلاف پکی خیانت کوي او په اختلاس ، غلا او نورو بڼو عمومي حقونه له مینځه وړي باید خپل ځان ددنیا او آخرت عذاب ته چمتو کړي د عادی لاری وي او که غیرعادي لاری، ځکه الله ﷻ د خیانت کوونکو لار څاري دغه الهی مجازات د دنیا او اخرت رسوایي ته هم شامل ده لکه الله ﷻ فرمایي:
**( وَلاَ تُجَادِلْ عَنِ الَّذِينَ يَخْتَانُونَ أَنفُسَـهُمْ إِنَّ اللّهَ لاَ يُحِبُّ مَن كَانَ خَوَّانًا أَثِيمًا يَسْـتَخْفُونَ مِنَ النَّاسِ وَلاَ يَسْـتَخْفُونَ مِنَ اللّهِ وَهُوَ مَعَهُمْ إِذْ يُبَيِّتُونَ مَا لاَ يَرْضَـى مِنَ الْقَوْلِ وَكَانَ اللّهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطًا ).** [۱]

۱ - د النساء سورت: ۱۰۷- ۱۰۸ آیتونه.

ترجمه : د هغو کســـانو څخه دفاع مکوه چې ځان سره خيانت کوي . يقينا الله ﷻ خيانت کوونکي اوگناه کوونکي نه خوښـــوي دخلکو نه ځان پټوی خو دالله ﷻ نه يې نشي_ پټولای ځکه الله ﷻ يې مل او څارونکي دی کله چې دوی د شپې لطرفه د هغه ناخوښه خيرې کوي، يقينا الله ﷻ دهغو په کړنو پوره پوه دی . خيانت کوونکي په خپلوموخو او مقصـــدونو کې ناکام او ماتی خوري لکه چې : الله ﷻ فرمايي : ( **وَإِن يُرِيدُواْ خِيَانَتَكَ فَقَدْ خَانُواْ اللّهَ مِن قَبْلُ فَأَمْكَنَ مِنْهُمْ وَاللّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ** ). [1]

ژباړه : کچيرې تاسره خيانت کول وغواړي نو ددينه وړاندی يې د الله ﷻ سره خيانت کړی دی نو الله ﷻ ته پرهغوی برلاســـی او بريمن کړی او الله ﷻ پوه ، حکيم او کار پوه دی.

( **ذَلِكَ لِيَعْلَمَ أَنِّي لَمْ أَخُنْهُ بِالْغَيْبِ وَأَنَّ اللّهَ لاَ يَهْدِي كَيْدَ الْخَائِنِينَ** ). [2]

ترجمه:داپدی خاطرچې پوه شي ما په پټه دهغه سره خيانت ندی کړی او داچې الله دخاينانوچل او دوکه نه رهنمايي کوي.اوداالله ﷻ دهر ډول پاملرنی اومينی څخه پاتی وي: ( **إِنَّ اللَّهَ يُدَافِعُ عَنِ الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٍ كَفُورٍ** ). [3]

معنا : بی شکه الله ﷻ د مؤمنانو دفاع کوي ځکه هيڅ خيانت کوونکی د الله ﷻ نه خوښـيږي الله ﷻ هغه کسـانو ته ډير غصـه وي چې د خلکو نه حيا کوي او د الله ﷻ نه حيا نه کوي او په پټه خيانت کوي ځکه دغه خلک هغو کســـانو ته

---

١ - د الأنفال سورت: ٧١ آيت.

٢ - د يوسف سورت: ٥٢ آيت .

٣ - د الحج سورت ٣٨ آيت.

ارزښت او اعتبار ورکوي چې کوم ځواک او حیثیت نلري او شرم او حیا ترې کوي خو دقادر،ځواکمن او پوه خدای څخه حیا نه کوي او په خیانت کولو سره الهی حریم ماتوي، ټولنی او خلکو سره دغه خیانت کول دبدو اغیزو لامله دالله ﷻ په دې ویناډېر بد دی.( **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَخُونُواْ اللّهَ وَالرَّسُـــولَ وَتَخُونُواْ أَمَانَاتِكُمْ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ** ). [1]

ترجمه : ای ایمان والاو ! د الله او رسول سره خیانت مه کوئ او یو دبل په امانتونو کې هم خیانت مه کوئ پداسی حال کې چې پوهیږئ . ( **وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِن قَوْمٍ خِيَانَةً فَانبِذْ إِلَيْهِمْ عَلَى سَوَاء إِنَّ اللّهَ لاَ يُحِبُّ الخَائِنِينَ** ). [2]

معنا : کچېرې د کوم قوم د خیانت نه ببریدی نو ژمنه یې د رفتار سره یوځای هغوی ته گذار کړه یقینا الله ﷻ خیانت کوونکي نه خوښوي .

**دعامه مالونو یا بیت المال په وړاندې دمومنانو ازمیښت :**

رب العالمین د پوهو او ځواکمنو مؤمنانوڅخه غوښـتي چې د ټولنی اقتصـادی او عامه مالونو او بیت المال مدیریت په غاړه واخلي ، دغه کسـان برسـیره پدې چې د اقتصاد په علم پوه او د اقتصاد په مدیریت ځواکمن وي په امانت ساتنه او بیت المال ساتنه کې هم زیار وباسي.

الله تعالی فرمایي : ( **قال اجعلني على خزائن الأرض اني حفيظ عليم** ). [3]

---

١ - د الانفال سورت ٢٧ آیت.

٢ - د الانفال سورت ٥٨ آیت.

٣ - د یوسف سورت ٥٥ آیت.

ترجمه: وی ویل : ما دخزانو او دزمکو په محصــولاتو وټاکه یقینا زه ســاتونکی پوه یم .

دبیت المال او دولتي اقتصاد اړوند امانت ساتنی اصل خورا اړین اوبنسټیز دی .
باید دبیت المال سره پداسې شان تعامل وشي چې هیڅ شایبه د ناوړه بدلون یا اختلاس ، غلا او خیانت او نور پکی نه وي او باید په کلکه مبارزه ورسره وشي.
ځکه پداســی تګلاره کې د ټولنی د ســلامت او عزت او ســالمی رهبری لاملونه راځي . د نورو خلکو په مالونو کې ناحق تصرف د الله ﷻ په عذاب د اخته کیدو موجب ګرځي ځکه چې الله ﷻ فرمايي : (**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَأْكُلُواْ أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلاَّ أَن تَكُونَ تِجَارَةً عَن تَرَاضٍ مِّنكُمْ وَلاَ تَقْتُلُواْ أَنفُسَــكُمْ إِنَّ اللّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا وَمَن يَفْعَلْ ذَلِكَ عُدْوَانًا وَظُلْمًا فَسَوْفَ نُصْلِيهِ نَارًا وَكَانَ ذَلِكَ عَلَى اللّهِ يَسِيرًا**) .[1]

معنا : ای ایمان والاو ! یو دبل مالونه په ناروا سره مه خورئ مګر هله چې ستاسی راکړه ورکړه سوداګري د رضایت او توافق سره مل وي او ځانونه مه وژنئ بی شکه الله ﷻ تل پرتاســو مهربان دی ، او که څوک په تیري او تجاوز سره داســی کاروکړي ژر به یې په اور کی واچوم او داکار الله ﷻ ته آسان دی .

طبعا په بیت المال کې لاسوهنه ددی لامله چې د اسلامي ټولنی دمدیریت نظام باندی ناوړه اغیزی پریږدي او مشرــان ، مســئولین د پوښــتنی لاندی راولي او ســیاسي جوړښــت بدنام او له اعتباره غورځوي او د الهی عذاب او غصــی لامل ګرځي او دهغه له رحمته محرومیږي اســلام یو الهی کامل اوپوره دین دی چې بشری ټولنو غوښتنی او مطالب یې تنظیم کړي هغه معنوي وي او که مادي . او

---

[1] - د النساء سورت ۲۹- ۳۰ آیتونه.

هیڅ مطلب یې مهمل او دهدایت پرته ندی پریښی . ددغو غوښتنو او مطالبو په ډله کې یو هم د بیت المال یا عامه مالونو ســـمون دی چي د خلکو د ژوند په تګلاره کې موثر او ارزښتمن اغیز لري .
دهمدی لامله ا سلام هم هغه ته ځانګړی پاملرنه او توجه کړی او د هغه په اړه یې ګټوری او مفیدی لارښـــونی او هدایات وړاندې کړي چې انســـاني نړی ددغو لارښونو دتعادل ، تطبیق اوپلي کولو په پای کې ددواړو جهانونو نیکمرغی ترلاسه کولای شي ځکه هدف د عامه مالونو او بیت المال او مـصرف حا صلولو ښیرنه ده ، دهمدی لامله ا سلام دی مـسئلی ته خا صه توجه او پاملرنه کړی او په یو منظم چوکاټ کې یې راټولول او مصرفول بیان کړي دي .

**دوقف تعریف :**

وقف په لغت کې دیو خاص هدف لپاره دیو ښیز ځانګړي کولوته وایي .
او په ا صطلاح کې : هغه ښیز چې پلورل یې روا وي او ګټه تری اخـستل شوی او اصل یې پاتی وي. یعنی دګټی اخستنی په واسطه یې اصل له مینځه نه ځي .
وقف په دوو صـــورتونو سره منعـقدکیږي یو د واقف ( وقف کوونکی ) په کړنه دبیلګی په ډول : جمات جوړکړي او دلمونځ کولو اجازه پکې ورکړي نو وقف یې صحیح دی او د حاکم حکم ته اړتیا نـشته . دوهم : د واقف په وینا چې دوه ډوله دی :
۱ – صریح : یعنی ښرګنده ووایي چې : ما خپل دغه مال وقف کړ .
۲ – کنایه : یعنی ووایي: چې خپل دغه مال مې صـــدقه کړ او د وقف نیت یې وي.

په دواړو صورتونو کې يې وقف صحيح او سيده ده .

د وقف مشروعيت په زياتو حديثونو کې راغلی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : (**عن أبي هريرة أن رسول الله قال : اذا مات ابن آدم انقطع عمله الا من ثلاثة من صدقة جارية أو علم ينتفع به أو ولد صالح يدعو له** ). [1]

ژباړه : ابوهريره رضی الله تعالی عنه فرمايي چې رسول الله وفرمايل : کله چې انسان مړشي نو عمل يې پرې شي مګر په درې ځيزونو کې : جاري صدقه ،هغه کار او علم چې ګټه ترې واخستل شي يا نيک اولاد چې دعا ورته کوي .

( **عن ابن عمر رضي الله عنه قال أصاب عمر بخيبر أرضا ، فأتى النبي فقال : أصبت أرضا لم أصب مالا قط ، أنفس منه ، فكيف تامرنى به؟ قال : ( ان شئت حبست أصلها وتصدقت بها ) فتصدق عمر أنه لا يباع ولا يوهب ولا يورث ، فى الفقراء وفى القربى وفى الرقاب وفى سبيل الله والضيف وابن السبيل ، لا جناح على من وليها أن يأكل منها بالمعروف ويطعم ، صديقا غير متمول فيه** ). [2]

ژباړه : ابن عمررضي الله عنهما وويلی د خيبر دځمکو يوه ټوټه ځمکه د غنيمت د برخی په توګه عمربن خطاب ته ورسيده عمر رضی الله عنه رسول الله ﷺ ته راغی او د پيغمبر عليه السلام نظر يې ددی په اړه وغوښت وی ويل : ای دالله ﷻ رسوله دخيبر په فتح کې يوه ټوټه ځمکه د برخی په توګه رارسيدلی چې په خپل ژوند کې مې داسی ارزښتمن مال ندرلود څه فرمان راکوی؟ او هغه په کومه لار کې مصرف کړم ؟ وی فرمايل: که خوښه دی وي نو دخپلی ځمکی اصل

---

١ - صحيح الامام مسلم ، حديث : ١٦٣١ .

٢ - صحيح البخاري حديث : ٢٧٧٢ .

وقف کړه او حا صل يې صدقه کړه ، عبدالله رضی الله عنه وويل: عمر رضی الله عنه هغه وقف کړه او حاصـــل يې صـــدقه کړه وی ويل: دغه ځمکه خرڅيدای ، بخشش او ميراث کيدای نشي . او حا صل يې د فقيرانو ، او نزدی فقيرو خپلوانو ، دمريو آزادولو ، او هره مســئله چې دالله په لار کې وي . او په ميلمنو او ابن السبيل ( هغه کسان چې په مسافرت کې ) بی پېسو وي خرڅ شی گرځووم او څوک چې ددی وقف پالنه اوسرپرستي په غاړه اخلي نو کچيرې د خپلی اړتيا په اندازه د دود سره ســم گټه تری اخلي يا يې د حاصــــل څخه فقيرانو ته ورکوي پروانه لري .

**د وقفي مالونو اهميت :**

دشک پرته د اسلامي فرهنگ او تمدن دغوړيدا يو ډير مهم عامل د وقف سنت په چوکاټ کې د انفاق ، ايثار ، سربښندنی اوقرباني روحيي ته وده ورکول دي دوقف ســترو بنســټونو د پوښــښ لاندی د پوهانو ، علم خوښــو ، د لويو علمی مرکزونو د شتون لکه دارالعلومونه کتابتونونه ، دارالخزانو ، بيت الحکمتونو ، روغتونونو ، او پوهنتونونو څخه ســاتنه او حمايت ددغی اړينی مســئلی اســباب او لاملونه برابر کړيدي . او خدای غوښــتونکي واقفان او متوليان دپوهانو لپاره دعمومي مرکزونو په جوړولو سره هڅه وکړه چې د مســـلمانو څيړونکو اړتياوی پوره کړي ، ترڅو په فارغ زړه تحقيق ، تدقيق او ترجمه او تاليف وکړي او نړی لری نقطو ته په ســـفر کولو سره نورو نخبه گانو ته علمي راکړه وکړي . وقف دعلمي مرکزونو دتلپاتی مالي سرچينې په توگه تل يوه ولسيـــ ملاتړ لري، کچيری دصـــدقاتو جاريه ؤ او موقوفاتو تاريخ له پيله تر نن په څيړنيز او دقيق ډول وڅيړل شي څرگنده به شي

چې څومره فرهنګي ، طباعتي ، روغتیایي او پوره والي میوی او لاســته راوړنی په اسلامی ټولنو کې شـتون لري اوسـترسـتر پوهان ، عالمان دهمدغو موقوفاتو له لاری اوچتو علمي پړاوونو ته رسیدلي دي او دبشر دفرهنګ او تمدن په پرمختګ کې لوی لوی خدمتونه ترسره کړي دي ، اوس هم دمالونو د وقف لپاره فریمانه ډګرونه شته لکه: روغتیایي ، رنځورپالنی ، دزده کړی فضابرابرول ، دطالب علمانو محصلینو ، متعلمینو خوب خونی ، دکتابتونونو تجهیز ، دجماتونو جوړول جسمي او ذهني معیوبو ، معلولو ته لاس رسی ، څیړنیزو او علمي مرکزونو جوړول ، دغوره پوهانو هڅول او نورو ټولګټو کارونو سره مرســته کول ، کچیری خیر او نیکان خلک دغو کارونوته راوړاندی شي نو په لنډه موده کې به په ډیر ښه ډول دټولنی ډیری اړتیاوی پوره شي وقف چې د صدقه جاریه او همنوعو سره دخدمت څرګنده بیلګی دي په ټولنه کې ډیرو او څرګندو او ډول ډول بیلګو سره ، سره د تاریخ په ځینو پړاوونو کې له پامه غورځول شــوی او دیو پریښــودل شــوي ســنت پڅیر ګرځیدلی اوس دغه لویه ولسي۔ پانګه چې په دیني اعتقاداتو او بشر۔ دوســتي بنســټونو ولاړه ده باید په ښــو تعلیمی او تبلیغی تګلارو سره اوســني نســل ته وروپیژندل شي، ترڅو دپخانیو د خدمتونو سرښــندنو دتقدیر او لمانځنی ترڅنګ راتلونکی نسل هم د خیرکړنو ترسره کولو ته تشویق او ترغیب شي .

داوســني نســل بی خبري دخپلو نیکونو دسرښــندنو او ایثار څخه یو ناورین دی چې دبی هویتی او فرهنګی ځان پلورنی احساس له ځان سره لري او ناخبری او ناپوهی سره دزیان منی ، فرهنګي یرغل او غلام کیدو ډګرونه برابروي، نو اسلامي

ټولنی پوهانو دنده ده چې د وقف په څیر ارزښــــتونو په بیانولو او په اســــلامي او هیوادني تمدن کې یې اغیز ترسیمولو سره خپل پور ترسره کړي .
دصـــالحو وقف کوونکو معرفی کول ، دوقف پوره او فراخه بیان او دوقف تربیتی ، تعلیمي، اقتصـــادي، پرمختیایي اثار بیانول دغفلت څخه د خلکو د راویښـــولو او دفکرونو او عواطفو راماتولو ډیره ښه او منل شوی تګلاره ده .
اوسنی ډیری ټولنی او ملتونه ځمونږ دټولنی د انساني مکتب دسوچونو او خویونو لکه: هم پالنه ، خیرغوښـــتنه ځوانمردي، مروت ، ځان تیریدنه ، ایثار ، احســـان ، بښنه ، بل خو ښونه اولس ګونه ښه ټولنیز او ولسي صفتونه چې په اوچته کچه ددی سیمې او ټاټوبي په خلکو کې شتون او څپی وهي ناخبره دي، د شک پرته ددی انســـاني پیغامونو خپراوی او مغزوکې کښـــینولوته اړتیا لري چې د تبلیغ او تبلیغاتي توکو په اړه ځمونږ په آند کې راشي. پانګونه د وقف تبلیغ لپاره داخروي ثواب برســـیره یوه ګټوره پانګونه ده چې دخلکو دهځونی او عملي اقدام لامل ګرځي دوقف کولو لپاره او په ډیر لږ وخت کې دخیریه مرکزونو او نوی موقوفاتو په رامینځته کولو سره فریمانه اقتصادي ، روغتیایي، خدماتي او فرهنګي عایدات دمصرف څو برابره اسلامي ټولنی ته راګرځي .
**پایلی:**
۱ – دټولنی دپاتی وګړو د اړتیاؤ دپوره کولو او ټولو خلکو ته د امکاناتو پراختیا او اسانتیاؤ برابرولو لپاره دبیت المال نه ګټه اخستل روا دي.
۲ – دبیت المال ســاتنه د امت او ټولنی نه دبلا دفعه کولو او د بیوزلی لری کولو لامل ګرځي.

۳ – په بیت المال کې امانت ساتل ځانګړی اهمیت لري او خیانت پکې نه بښل کیدونکی جرم ګڼل کیږي.
۴ – وقف دجاریه صدقه اوهم نوروته دخدمت څرګند مصداقونه دي.
۵ – بده ګټه اخستنه دبیت المال نه اسراف ، تبذیر او فضول خرڅی حرام دی .
٦ – کچیری دبیت المال په کارونو کې وړ ، امانت پال ، ښه او هو ښیار شخص وګمارل شي نو د هرډول خیانت مخنیوی به شوی وي.
۷ – په ځای او معقوله ګټه اخستنه دبیت المال نه مشروع او خیانت پکی لویه ګناه ده .

**نتیجه اخستنه :**

لکه چې جوته ده دکمزورتیا خورا ستر لامل ، فقر او مالي اړتیاده . دهمدی لامله اسلام دفقر دمینځه وړلو په لټه کې ده چې دلاملونو په منځه وړو سره یې ورک شي، داچې دفقر له مینځه وړلو یوه لار کار اوزیار دی نو اسلام ، مسلمانان هڅوي چې ټول مشروع کارونه او بوختیاوې وکړي او دحلالی روزي ترلاسه کولو او طلب لپاره د ځمکی ګوټ اوګوښو ، ګوښو ته ولاړشي لکه چې الله ﷻ فرمایي : ( **هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولًا فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِن رِّزْقِهِ وَإِلَيْهِ النُّشُورُ** ). [۱]
یعنی: الله ﷻ هغه ذات دی چې زمکه یې ستاسو دکرکیلې لپاره پسته، هواره او منونکی پیداکړی نو ګوښو او ګوټونو ته یې لاړشئ او وګرځئ او دهغه رزق نه ګټه واخلئ چې تاسوته یې پیداکړی ده او پوه شئ چې هغه ذات چې تاسی پیداکړی

۱ - د الملک سورت ۱۵آیت .

یې او روزی درکوي ستاسي ورتګ او وروستی مرجع د هغه په لور ده، او ستا سو د کار او روزی حساب اخلي.
ربنتیا اقتصادي چینی درب العالمین لخوا په ځمکه کې بی شمیره شتون لري چې اوسنی او راتلونکی نسل ته بسنه کوي ، داسلام دسپیڅلي دین تاریخ او فرهنګ دوینې زړو او خیرغوښتونکو وقف کوونکو په وقف پوری تړلی دی چې خپل نوم یې د ایثار ، ځوانمردی ، سربښندنی او سخاوت په پاڼه لیکلی . اصولا وقف کولای شي دټولنی ډیری مسئلی ، ستونزی او اقتصادي ، ټولنیزی ، فرهنګي او مذهبي اړتیاوی حل کړي، خو امر پدی دی چې د وقف اووقفی بنسټونو له لاری علمي او تحقیقاتي پراختیا مینځته راشي ترڅو تلپاتی فراختیا راشي . د شک پرته د وقف سنتو چوکاټ کې د انفاق ، ایثار اوسربښندنی روحي ته وده ورکول د اسلامی فرهنګ او تمدن غوړیدلو لوی عامل دي. د عامه مالونو او بیت المال راټولولو او تنظیم لپاره ښه صادق کسان ګمارل اړین دي. چې قادر خدای په نورو قرآنی آیتونو کې دحضرت یوسف علیه السلام له خولی فرمایي : ( **قال اجعلني على خزائن الأرض اني حفيظ عليم** ). [۱]
ژباړه : وی ویل: ما دځمکی د پانګو او محصولاتو پالونکی وټاکه یقینا زه ساتونکی پو یم .
دشریفو ، معززو هیواد والو خصوصا دټولنی دمشرانو غواړو چې د امینو ، سالمو ، مدیرو او مدبرو او علماؤ کارګرو د ټاکنی په ځنګ کې دهغوی دقیقه څارنه اونظارت وکړي او دغلطۍ او تخلف اجازه ورته ورنکړي په یادشوی آیت کې د

۱ - د یوسف سورت : ۵۵ آیت.

هو ښیاری د خیانتکارانو په ضد دټولنی د سالمو مشـــرانو د اقدام تاکید شوی ترڅو یوازی د احتمال په مهال هم اقدام وشي او دمشرانونه غوښتل شوي چې یوازی دخیانت دپیښیدو احتمال په صورت کې اقدام وکړي او د تاخیر ، تساهل او تسامح پرته په کلکه دخیانت کوونکو سره چلند او مقابله وکړی .

١٧

## د حج فضلیت او فلسفه

الحمد لله الذي أكمل لهذه الأمة شرائع الاسلام و فرض على المستطيع منهم حج بيته الحرام و رتب عليه جزيل الفضل و الانعام فمن حج البيت و لم يرفث و لم يفسق خرج من ذنوبه كيوم ولدته أمه نقيا من الذنوب والاً ثام أحمده و أشكره أن لآ اله الا هو الملک القدوس السلام و أشهد أن محمداً عبده و رسوله أفضل من صلى و زكى و حج و صام صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه وسلم تسليماً. أما بعد: فأعوذ بالله من الشيطان الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم قال الله تبارک و تعالى: (إِنَّ أَوَّلَ بَيۡتٖ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِى بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَهُدًى لِّلۡعَٰلَمِينَ فِيهِ ءَايَٰتُۢ بَيِّنَٰتٞ مَّقَامُ إِبۡرَٰهِيمَۖ وَمَن دَخَلَهُۥ كَانَ ءَامِنًاۗ وَلِلَّهِ عَلَى ٱلنَّاسِ حِجُّ ٱلۡبَيۡتِ مَنِ ٱسۡتَطَاعَ إِلَيۡهِ سَبِيلًاۚ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِىٌّ عَنِ ٱلۡعَٰلَمِينَ)[١].

و عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله قال: العمرة الى العمرة كفارة لما بينهما والحج المبرور ليس له جزاء الا الجنة).[٢]

د اسلام په مبین دین کې د ټولو حکمونو او هدایاتو اساس د انسانانو ټولنه، تعاون او پیوستون دی.

---

١ - د آل عمران سورت ٩٦-٩٧ آیتونه.

٢ - صحيح البخارى ، حديث: ١٧٧٣ ، صحيح الامام مسلم ، حديث: ١٣٤٩.

پنځه وخته لمونځونو جمعو، اخترونو هریوه کې بی شمیره حکمتونه شته، پدی حکمونو کې یو هم د حج فریضی د اداء کولو حکمونه دي. مسلمانان د ټولو توکمونو، ژبو والا پکی سره ملاقات او لیدل کوي او هم د قومونو ژبو په منځ کې نړیوال کارونه هم په نظر کې نیول کیږي، او د عبادت جسماني، فزیکي اړخونه او هم د مسلمانو وګړو روحي او رواني تغذیه تحقق پیداکوي دا ټول د حج په مبارکه فریضه د بیت الله الحرام کې شته.

**د حج لغوي او اصطلاحي تعریف:**

حج په لغت کې قصد کولو او عزم لرلو ته وایي او د فقهاؤ په اصطلاح کې عبارت ده له: مخصوصو اعمالو، چې په مخصوصو ځایونو او مخصوصو وختونو کې ترسره کیږی. او انسان د نیت، اراده، احرام، طواف، لمونځ، سعی د صفا او مرو ترمنځ ، وقوف عرفات، شپه په مزدلفه، تشریق ورځی، جمره، قربانی کول، حلق یا لنډول د سر د ویښتو او نورو ترسره کولو سره د الهي عبودیت خزانی ته رسیږي.

او په کلي عبارت: حج د الله ﷻ در بارته د عبودیت، استعانت ښکاره ترجمه ده چې هغه نعم المولی او نعم النصیر دی، حج حقیقی مولا باندی د اعتصام او تمسک تمرین دی.

حج د بندګی تمرین او د دریزونو اصلاح دی.

**د حج ډولونه:**

۱- قران – قران هغه حج دی چې حاجی د عمری او حج نیت یوځای وکړی.

۲- افراد – افراد هغه حج دی چې حاجی یوازی د حج نیت وکړي.

۳- تمتع- تمتع هغه حج دی چې حاجی لومړی د عمری نیت وکړی وروسته د حج نیت وکړي.

**د حج مناسک:**

د معظمې کعبی طواف: صفا او مروه ترمنځ سعی، وقوف په عرفات، مبیت په مزدلفه کې، جمرو ویشتل، د سر ویښته خریل یا لنډول، قرباني او شپه تیرول په منی کې، دغه ټول کارونه خپل ټاکلي وختونه او ځایونه، ټاکلی ترتیب او ټاکلې اندازه لری.

**د حرمینو شریفینو ادبونه او فضایل:**

**د مکې مکرمې فضلیت:**

په مکه مکرمه کې د عبادتونو او عملونو ثواب د نورو ښارونو او ځایونو یه پرتله خورا ډیر دی او پدی مقدس ښارکې یو رکعت لمونځ د نورو ځایونو یوسل زره رکعتونو سره برابر دی.

**(عن انی هریرة رضي الله عنه أن رسول الله قال: ( صلاة في مسجدي هذا خير من ألف صلاة فيما سواه الا المسجد الحرام )**.[۱].

همدا رنگه سزاء او عذاب د گناه او مصیبت په کولوکې پدی مبارک ښار او د مبارک حرم په محوطه کې د نورو ښارونو او مناطقو په پرتله خورا ډیر اوزیات ده ځوک چې په مکه یا مدینه کې بدعت یا الحاد ته واوړي په څو برابره عذاب باندی اخته کیږي لکه چې الله تعالی فرمایي: ﴿ **إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ**

---

۱ - صحیح البخاري، حدیث: ۱۱۹۰، او صحیح الامام مسلم، حدیث: ۱۳۹٤.

**وَٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ ٱلَّذِي جَعَلۡنَٰهُ لِلنَّاسِ سَوَآءً ٱلۡعَٰكِفُ فِيهِ وَٱلۡبَادِۚ وَمَن يُرِدۡ فِيهِ بِإِلۡحَادِۭ بِظُلۡمٖ نُّذِقۡهُ مِنۡ عَذَابٍ أَلِيمٖ** )[1]

.ژباړه: یقینا هغه کسان چې کفر کوی او د الله د لاری او مسجد حرام نه خلک منع کوي چې هغه مو ټولو خلکوته یوشان گرځولی ده، هغه کسان چې همدلته ژوند کوي یا د نورو ځایونو نه ورته راځي او کوم کسان چې پدی ځای کې ظلم کوي دردونکی عذاب به ورڅکو.

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما روایت کوي چې رسول الله د مکې فتحې په ورځ ویلی دي: ( **ان هذا البلد حرمه الله یوم خلق السموات و الأرض فهو حرام بحرمة الله الی یوم القیامة**).[2]

الله ﷻ د آسمانونو او ځمکی پیدایښت په ورځ دي ښارته کرامت او حرمت وربښلی دی او د قیامت ورځی پوری د الله ﷻ په حرمت حرام شوی دی.

ابراهیم خلیل الله د مکی حرمت او کرامت بیان او اعلان کړی ده او کعبه یې جوړه کړه او پاکه یې کړه او خلکو کې یې د حج اعلان وکړ.

(**عن عبدالله بن زید رضي الله عنه أن ابراهیم حرم مکة و دعا لها و حرمت المدینة کما حرم ابراهیم مکة و دعوت لها في مدها و صاعها مثل ما دعا ابراهیم علیه السلام لمکة**).[3]

ابراهیم مکی ته حرمت ورکړ او دعای ورته وکړه ما هم همغه شان چې ابراهیم علیه السلام مکی ته حرمت او کرامت وربښلی ؤ مدینی ته حرمت ورکړ لکه ابراهیم

---

١ - د الحج سورت: ٢٥ آیت.

٢ - صحیح البخاري، حدیث: ٣١٣٩.

٣ - صحیح البخاري، حدیث: ٢١٢٩.

مکې ته حرمت وکړی وه او د محصول د زیاتوالی لپاره مې ما دعا ورته وکړه لکه چې ابراهیم مکی ته دعا کړی وه.

**د طواف فضلیت:**

د بیت الله شریف طواف کول خورا ډیر ثواب او اجر لري لکه چې الله تعالی فرمايی: ( **ثُمَّ لْيَقْضُوا تَفَثَهُمْ وَلْيُوفُوا نُذُورَهُمْ وَلْيَطَّوَّفُوا بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ** ) [1].

معنی: بیا ککړ تیا دی د ځانونو نه لری کړي او خپلو منښتو باندی دی وفا وکړئ او له پخوانی او عزتمندی خونی کعبه دی طواف وکړي.

او رسول الله ﷺ فرمايي: ( **عن ابن عباس رضي الله عنهما أن النبي قال: ينزل الله كل يوم على حجاج بيته الحرام عشرين و مائة رحمة ستين للطائفين و أربعين للمصلين و عشرين للناظرين** ).[2]

ترجمه: د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تعالی هره ورځ د بیت الله شریف زیارت کوونکو لپاره یو سل او شل رحمته را کوزوي، شپیته رحمته د طواف کوونکو لپاره او څلویښت رحمته د لمونځ کوونکو لپاره او شل رحمته د لیدونکو لپاره دي.

**د مدینې منورې فضلیت:**

مدینه منوره زیات فضلیتونه لري او داسی ښار دی چې په نزد د الله او رسول ﷺ یې لوړه درجه او مکانت لري، د حضرت رسول الله ﷺ دعا مدینی او اوسیدونکوته یې دا ثابتوي چې دغه ښار د دنیا او آخرت خیر او ښیګنه لري.

---

١ - د حج سورت ٢٩ آیت.

٢ - رواه البيهقى با سناد حسن.

د ام المؤمنين عايشه رضي الله عنهما نه روايت دی چې رسول الله ﷺ و فرمايل: يا الله! مدينه د مکی په څیر يا د هغی نه زيات مونږ ته محبوب کړه او ځمونږ په پيمانی او مدکې برکت واچوه او هغه د مرضونو او رنځورنو نه په امان کې وساته او تبه يې جحفی ته انتقال و فرمايه).[1]

همداشان په صحیح البخاری او مسلم کې د حضرت انس رضي الله عنه نه روايت شوی چې رسول الله ﷺ و فرمايل: ( **ليس من بلد إلا سيطؤه الدجال إلا مكة والمدينة وليس نقب من أنقابها إلا عليه الملائكة صافين تحرسها فينزل بالسبخة فترجف المدينة ثلاث رجفات يخرج إليه منها كل كافر ومنافق** ).[2]

ترجمه: د مکې او مدینې نه پرته هر ښار ته د جال داخليږي او د مدينی په لارو او دروازوکی فرښتی کتار کې ولاړی دي او د مدينی حراست کوي، دجال په ښوره خاوره کې راکوزيږي او مدينه دری ځل ښوريږي او هر کافر او منافق تری راووځي او دجال په طرف ورځي.

## د مدينی منوری ځينی فضليتونه:

١- د رسول الله ﷺ محبت د مدينی منوری سره او تحريم گرځول يې

٢- هلته د رسول الله ﷺ مطهر مرقد شتون.

٣- هلته د نبوی مسجد شتون.

٤- د هجرت ځمکه او د سنتو سرچينه ده .

٥- هلته د جنت د باغونو د يو باغ شتون .

---

١ . بخاری حديث شميره ١٨٨٩.او صحيح الامام مسلم، حديث : ١٣٧٦.

٢ - صحيح البخاري، حديث: ١٨٨١، واللفظ لصحيح مسلم، حديث: ٢٩٤٣.

٦- ځوک چې د مدینې اوسیدونکو سره دوکه وکړي او به کیږي او له منځه ځي.
٧- ځوک چې د مدینې اوسیدونکی و بیروي الله ﷻ یې لعنتوي او فرض او نقل یې نه قبلوي.
٨- ځو برابره کیدل د لمانځه د ثواب په مسجد نبوی کې .
٩- تحریم او ممانعت د کفارو او مشرکینو د ننوتو مدینې منوری ته.

**د حج اجتماعي او معنوي آثار او مرتبې:**

**١- د الهي رحمت ښکارندوی:**

حج د خپلو ټولو مناسکو او افعالو سره د بی تکلفه او ژور ارتباط بیلګه ده د بنده او د خپل مولا سره یې الله ﷻ د خاورینی ځمکې یوه برخه د خپل خاص حمایت او رحمت وګرځولی ده، دغه برخه د خاورینی ځمکې، داسې دیو الله په رحمتونو احاطه شوی او د قادر او مقتدر ذات جلالیت او عظمت هغه را پوښلی ده چې یو مظهر د الهی ځرګندو مظاهرو ګرځیدلی ده او ډیر نزدی ارتباط دلایزال خالق سره لری په داسی شان چې مؤمن انسانان یې په لیدلو سره ډیر ژر د رحیم او کریم رب په لګیا کیږي او په عین حال کې په محض لیدلو سره یې بدنونه ریږدي او د الله ﷻ جلالیت یې ټول بدن نیسي، رښتیا چې ولی دغه شان ځای دغه مقام او عظمت ته ونه رسیږي؟

**٢- دیو اولوالعزم پیغمبر د تاریخ یادونه:**

یو وخت امام المخلصین او د موحدینو مشر لاري د خپلې کوچنې او مبارکې کورنې سره چې د اخلاص، وفا، ایثار او سرښندنی کامل بیلګه وه پدی وچ او لایزرع ځای کې قربانی ورکړی او د خالصانه دوستی او محبت او حیرانوونکي اخلاص

ښکاره بيلګې يې ننداری ته وړاندی کړی، او موحدو او مخلصو انبياؤ او پيغمبرانو هم محبانه او ځان فداکولو سره په هر عصر او زمانی کې همغه کړه وړه تکرار کړل او په دقت سره د هغوی په پله لاړل.

**۳- د الله ﷻ د فرمانونو په وړاندې د مطلق تسليميدو او اطاعت مظهر:**

حج د خپلو مناسکو، ارکانو او اعمالو سره څرګنده بيلګه ده د مطلق اطاعت او د چون و چرا پرته امتثال د فرامينو د الله تعالی. د حج په مراسموکی حاجی خپل هيڅ اختيار نلری هغه تل د مکی، منا، عرفات او مزدلفه په منځ د تګ راتګ په حال کې دی، يوځای کې توقف کوي بل ځای کې حرکت کوي، کله چې په منا کې وي بی لدی چې په مزدلفه کې تم شي بی ځنډه د عرفات په لور خوزيږي او د عرفات په ميدان کې په دعا او تضرع پيل کوي او په همدی ترتيب ټول مناسک يو د بل پسی پای ته رسوي ډيره څرګنده نکته چې د خالصی بندګي ښکارندويه ده هغه د عرفات ميدان کې د ماښام لمونځ پريښودل او د ماسختن لمانځه سره يو ځای کول په مزدلفه کې ده، ځکه مقتدر او حاکم رب دغه امر کړی او حاجي د خپل رب مطيع او بنده دی نه د خپل لمانځه.

**٤- عرفات ميدان د محشر صحرا يو ياد:**

د عرفات ميدان او د دعا کيفيت او تجمع په دی ورځ او دی ځای کې چی هر څوک په دعا او ژړا او زاری بوخت دی او يا بوختيدل په دعا او د ګناهونو يادول، او عفو او ښښنه د رب له در بار نه، اطراف او شاو خواته متوجه نه وي، په خپله دنيا اخته وي خورا ژوندی او وياند انځور دی د حشر د ميدان او الهی عدل محکمی په وړاندی د دريدو. په هغه ورځ ( د حشر ميدان ) کې هم هر څوک د (**نفسي**

**نفسي**) ناری سوری وهي او بل هیڅ فکر او اندیښنه یې سرکې نه وي یوازی د حساب او کتاب او خاتمه څرنګوالي په سوچ کی وي چې دی یې په انتظار کې دی، د قیامت په ورځ هم ټول انسانان بی جامو، بی هیڅ ډول شتمنی او بی دنیوي شیانو د شتون نه د خالق په وړاندی حاضریږي، په دغه ورځ کې هم یواځینی څیز چې بهتري او فضلیت لامل ګرځي هغه د هر ډول شرک او ګناه نه پاک او روغ زړه دی او بس. قال الله تعالی: ( **يَوْمَ لَا يَنفَعُ مَالٌ وَلَا بَنُونَ إِلَّا مَنْ أَتَى اللَّهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ** ).[1]

هرڅوک چې د ډیر پاک او ډیر روغ زړه لرونکی وي په همغه اندازه د الله ﷻ د تکریم وړ ګرځي او د جنت لوړو درجو ته رسیږي.

**۵- د کارونو سمون ددی لپاره د ژوند له فرصت څخه ارزښتنه ګټه وشي:**

یو بل عبرت چې حج یې مسلمانانو ته ورکوي هغه ژوند لوست دی او د ژوند د شیبو اووختونونه استفاده ده، حج په لنډ ډول عبارت دی له: مخصوصو اعمالو په مخصوصو ورځو کې چې هر عمل باید په خپل وخت او ځای کې ترسره شي او د حج ورځو د پای ته رسیدو وړاندی باید ټول مناسک او اعمال د حج ترسره شي، د انسانانو ژوند هم په همدی ترتیب دی. الله ﷻ محدود او لنډ وخت انسانانو ته وربښلی دی، او دغه لنډ وخت یو فرصت دی چې باید هر انسان ترینه په مطلوبه توګه او د خپل تلپاتی اخروي بریا او نیکمرغۍ ترلاسه کولو لپاره تری ګټه واخلي.

---

۱ - د الشعراء سورت ۸۸-۸۹ آیتونه.

**٦- د اخلاص بیلګه:**

حج په واقعیت کې یوسفر دی ډېر ساده، د ځان ښودنی او احسان ایښودو پرته په دی سفر کې د انسان وجدان، ضمیر او احساسات ژوندی شوی او رنګ یې اخستی او د دنیا د ټولو خواهشاتو، زرق او برق او ښکلاؤ نه ځان لری ساتي او په ذکر او فکر سره د الله په لورځغلي اود: (**لبیک اللهم لبیک ، لا شریک لک لبیک ان الحمد و النعمة لک والملک لاشریک لک**).[1]

غړ پورته کولو سره خپل سپیڅلی سفر پیل کړی! او د خدای پیژندنی مقصد چې په محکم او ثابت اساس او پاک او صادقانه  نیت چې ریا کاري او ځان ښود نه پکې نه وي او توبی ته په رښتینی عزیمت او الله ته په ورګرځیدو او د ټولو مقطعی او ژر تیریدونکو شهواتو خوندونو نه را ګرځیدو په یوه پاکه او تواضع او طهارت فضا او ښه عادت سره تر سره شي.

الله تعالی فرمایي: (**جَعَلَ ٱللَّهُ ٱلۡكَعۡبَةَ ٱلۡبَيۡتَ ٱلۡحَرَامَ قِيَٰمٗا لِّلنَّاسِ وَٱلشَّهۡرَ ٱلۡحَرَامَ وَٱلۡهَدۡيَ وَٱلۡقَلَٰٓئِدَۚ ذَٰلِكَ لِتَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَأَنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٌ**).[2]

ترجمه: الله ﷻ کعبه بیت الحرام او حرامی میاشتی او بی نښانه قربانیانی او نښان لرونکي د خلکو د سمون لپاره وسیلی ګرځولی دي، دا ددی لپاره دي چې

١ - صحیح البخاري، حدیث: .١٥٤٩

٢ - د المائدې سورت ٩٧ آیت.

پوه شئ چې الله ﷻ په هر هغه څه پوه دی چې په آسمانونو او ځمکه کې دي او پوه شئ چې الله ﷻ په ټولو څیرونو پوهیږي.

**۷- د اسلامي اخوت او وحدت نښه:**

حج یو چکرندی بلکه عبادت او زیارت دی، حج د اسلامي امت د وحدت څرګندوی دی، په واضح مفهوم سره دیو عبادت په قالب کې چې درب العالمین په امر د هغه مخلص بندګان هر کنج او ګوښې د نړی نه لبیک وایي او یوازی د هغه د رضا ترلاسه کولولو او د ګناهونو د ښښنی او عفوی غوښتنی په هدف دا کار کوي حج یو عبادي، فرهنګي او اجتماعي عمل دی چې سیلانیت سره هیڅ تړاونه لري.

**۸- د نفس د تهذیب او اخلاقو مدرسه:**

حج د اخلاقو ډګر او ښوونځی او په اوچتو اخلاقو د نفس د تربیت میدان دی. او د ناوړو او پلیتیو او نقصانونونه د خلاصون ځای دی، په دغه ځای کې په خواشینی چې کله لیدل کیږي چی ځینی حاجیان کیدای شي د سترتیا یا ناپوهی په علت بیځایه او ناحق غږونه کوي، او د دغه مقدس ځای حرمت ته نه ګوري او تاو تریخوالی کوي چی د حاجي له شان سره نه ښایي.

خو کله چې د حاجی سترګې د بشریت د ناجي حضرت محمد ﷺ ځلانده اخلاقو او فرمانونو ته وګوري چې د عزتمندې او هوښیارې ماندینې د اسلام حضرت عایشه صدیقه د رسول الله د اخلاقو په ستاینه کې ویلي دی (**کان خلقه القرآن** ) یعنی د هغه اخلاق قرآن ؤ.

او هر وخت د هغه ارزښتمنی ویناوې  او مبارک حدیثونه په یاد کړي چې فرمايي: ( **ان من خياركم أحسنكم أخلاقاً**).[1]  یعنی: ښه اخلاق لرونکي تاسوکې غوره دي، همداشان فرمايي: (**ما من شيء أثقل في الميزان من حسن الخلق** )[2].  یعنی: د قیامت ورځې د حساب په تله کې هیڅ څیز د اخلاقو په څیر دروند نه وي. دلته ده چې د حج ښوونکی د محبت نه ډک لاسونه په کراری سره د صبر، تحمل، رحمت، زړه سوي، شفقت، ايثار او ځان تیریدنی، مرستی او کمک نیالګي د حاجی په باطن کې کري او په عین حال کې د ځان منی، کبر او غرور ملیت توکم پالنی او قوم پرستی، بیحرمتی، ښکنځلو، ناوړه وینا، فسق او فجور ناوړه ګیاه ګانی د هغه د نوي ایمان د بڼ څخه وباسي.

لکه چې الله تعال فرمايي: ( **الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَّعْلُومَاتٌ فَمَن فَرَضَ فِيهِنَّ الْحَجَّ فَلاَ رَفَثَ وَلاَ فُسُوقَ وَلاَ جِدَالَ فِي الْحَجِّ وَمَا تَفْعَلُواْ مِنْ خَيْرٍ يَعْلَمْهُ اللّهُ وَتَزَوَّدُواْ فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَى وَاتَّقُونِ يَا أُوْلِي الأَلْبَابِ** ).[3]

ژباړه: حج په ټاکلو میاشتو کې اداء کیږي نو څوک چې حج پر ځان فرض کړي او احرام یې وتاړه نو باید جماع، ګناوي او خطا و نکړي. چی حج یې پری باطل نشي همدا شان چا سره دی دښمني هم نه کوي،  او څه خیر او ښیګڼه چې کوي الله جلاجلاله پری خبر دی، کله موچې د حج اراده وکړه نو د ځان سره د لاری تو ښه

---

۱ - صحيح البخاري، حديث : ۳۵۵۹.

۲ - سنن أبي داود ، حديث: ۴۸۰۱ .

۳ - د البقرې سورت ۱۹۷ آيت.

او خرڅه یوسئ (هغه څه چې سفر لپاره لازم دي) او د انسان د لاری غوره توښه تقوی ( او ځان ساتنه ده ) نو ای هوښیارانو! ځما دغصی نه ډډه وکړئ.

**۹- د یو شان والی او مساوات ننداره:**

په عرفات او مزدلفه کې ټول حاجیان یو شان وي شتمن د فقیرانو، چارواکي د خلکو رئیسان دلاس لاندی خلکو سره په یوځاي کې راټول او د خپل رب څخه د خپلو گناهونو معافی غواړي، پدی ځایونو کې، ثروت، قدرت، شهرت، ریاست کومه معنا نلري. او فضلیت نه شمېرل کیږي. ځکه ټول د خپل اصلي قادر، رب العالمین او ځواکمن مالک په وړاندی ولاړدي، او څه چې لري او لرل یې په نشت حسابیږي، ځکه اوس ورڅخه جدا شوي دی، او دلته یوازی تقوی او پرهیزگاري ده چې وگړو ته فضلیت او غوره والی وربښي.

۱۸

## د اضحی نېکمرغه اختر فضایل او احکام

**الحمد لله الذي شرع لعباده عيدا يذكرونه فيه، و يشكرونه على فضله و احسانه و أشهد أن لا اله الا الله وحده لا شريک له يستوي عنده ما في سر العبد و اعلانه، و أشهد أن محمدا عبده و رسوله أرسله الله لتبليغ الحق و تبيانه، وصلى الله عليه و على آله و أصحابه الذين هاجروا و جاهدوا و الذين آووا ونصروا، و سلم تسليما كثيرا.**

موږ د لوی اختر د راتلو په درشل کې یو او ټول یو ډول ښه راغلاست ورته وایو او استقبال یې کوو!

- ولی په اختر کې خوشحالي او خوښي کوو؟
- پدی ورځ کې باید څه کارونه او اعمال وکړو؟
- په لوی اختر کې څه دندې او مسئولیتونه لرو؟

**د تسمیې وجه:**

عید ته پدی خاطر عید وایي چې هرکال راځي او مسلمانانو ته عودت کوي او اخترونه په تیرو زمانوکې د امتونو په منځ کې دود ول، او هرامت دیو مناسبت د راسیدو په مهال خپل اختر لمانځه.

## اختر په اسلام کې:

الله ﷻ د مسلمانانو لپاره دوه اخترونه پیرزو کړي، وړوکی اختر او لوی اختر او هغه یې یو ډول عبادت ګڼلی دی چې د ځینی طاعتونو او عبادتونو په کولو سره خپل رب ته د تقرب څرګندونه کوي او د صیام، قیام د آسانتیا، او د دعاء او روژې د قبلیدو او همدا رنګ د حج د میاشتو د رارسیدو او د مناسکو د ترسره کولو او د قربانی او ذبح کولو زمینی برابریدلو شکر او مننه په ځای کوي .

ابن دقیق العید وایي: پدی کې هیڅ اختلاف نشته چې د اخترونو لمونځونه په هغو شعایرو کې راځي چې: ترسره کول یې شرعاً مطلوب دي، او دغه رسم یا شعیره د داسی متواترو روایاتو څخه ثابت شوی چې نه کولو لپاره یې هیڅ عذر او بهانه نه پاتې کیږي.

او همدا رنګ مونږ د آحادو احادیثونه بی پروا کوي، په اسلامی تاریخ کې وړوکی نیکمرغه اختر لومړنی اخترؤ چې رسول الله ﷺ د هجرت په دوهم کال په مدینه منوره کې اداء کړ، همداشان الله ﷻ د مسلمانانو لپاره په دی دوو اخترونو کې په یوه لویه اجتماع کې را ټولیدل چې د اختر لمونځ وکړي روا ګرځولي دي. ترڅو د اختر لمانځه د اداء کولو په ضمن کې د اختر بختور ورځو را رسیدل یو بل ته تبریک ووایي او د یو بل سره د اسلامي اخوت او محبت اړیکی لا ټینګی کړي.

یقیناً پدی اجتماعاتوکی شته دیني او دنیوي مصحلتونه ددی روښانه د لیل دی چې د اسلام دین په ربښتیا یو الهي عظیم پروګرام دی او د انسان د نیکمرغی او سعادت لپاره بشریت ته وړاندی شوی او معرفي شوی دی.

**د نیکمرغه لوی اختر د ورځو سنتونه:**

۱- سنت دادي چې د اختر لمونځ د خلکو سره د ښار او کلي نه بیرون یوه عیدگاه کې اداء شي، البته د باران ضرورت یا د پراخه ځای نه شتون په علت کولای شو چې په جامع مسجد کی یې اداء کړو.

۲- لمانځه ته د وتلو نه وړاندی باید غسل وشي.

۳- د اختر لمانځه ته د وتلو په وخت باید انسان خپلی ډیرې ښکلې او پاکې جامي واغوندئ.

٤- باید د لوی اختر د لمانځه د اداء نه وړاندی انسان څه ونه خوري تردی چې د لمانځه نه د راتلو وروسته د قربانۍ په غوښه افطار وکړي.

٥- غوره داده چې اختر لمونځ ځای ته پلی لاړ شي خو که نزدی وي.

٦- د تللو او راتللو لاري باید بیلي وي.

۷- د واړه اختر او لوی اختر لمنځونه بی آذان او اقامت اداء کیږي.

۸- د دوو خطبو ایرادول د امام په واسطه چې قربانی پوری مربوط احکام او نور اړوند احکام خلکو ته تشریح شي.

۹- مستحب دا دی چې خطیب په ولاړه خطبه و وایي.

۱۰- خطبه باید د الله ﷻ په حمد او ثنا پیل شي.

۱۱- د قربانی د حلالولو وخت د لمانځه نه وروسته دی.

**د قربانی او لوی نیکمرغه اختر په اړه راغلو ځینو حدیثونو تشریح:**

**عن البراء بن عازب رضي الله عنه قال خطبنا النبي  يوم الأُضحى بعد الصلاة فقال: من صل صلاتنا و نسک نسکنا فقد أصاب النسک ومن نسک قبل الصلاة فلا نسک له.**

**فقال أبو بردة بن نيار – خال البراء بن عازب – يا رسول الله اني نسكت شاتي قبل الصلاة، و عرفت أن اليوم يوم أكل و شرب و أحببت أن تكون شاتي أول ما يذبح في بيتي فذبحت شاتي و تغديت قبل أن آتي الصلاة قال: شاتک شاة لحم قال: يا رسول الله فان عندنا عناقا هي أحب الی من شاتين أفتجزي عني؟ قال نعم ولن تجزي عن أحد بعدک).**[1]

د حديث ژباړه: براء بن عازب رضي الله عنه فرمايي: پېغمبر عليه السلام د لوی اختر په ورځ د اختر لمانځه د اداء نه وروسته مونږ ته خطبه وويله وی فرمايل: چاچی درمونږ په شان لمونځ وکړو او چا چې ز مونږ په شان قرباني وکړي نو دلوی اختر عبادت يې په ځای کړ او څوک چې د لمانځه نه وړاندی قرباني وکړي نو نه تری قبليږي په دغه وخت کې ابو برده بن نيار - د البراء بن عازب ماما - وويلی: ما خپل پسه د لمانځه نه وړاندې قرباني کړی دی او پوه وم چې نن د خوړلو او څښکلو ورځ ده او د ځما خوښه وه چې ځما پسه لومړنی څيزوي چې ځما په کورکې قرباني کيږي.

نو خپل پسه مې قرباني کړ او وړاندې لدی چې د اختر لمانځه اداء کولو ته راشم سهار نې مې وخوړله. پېغمبر عليه السلام و فرمايل: ستا د پسه حلالول يوازی د غوښی نه د استفادی لپاره ده او قرباني نه ګڼل کيږي. وی ويل: يا رسول الله! يو سيرلی لرم چې مونږ ته د دوو پسونو نه هم غوره دی آيا کچيری هغه قرباني کړم ماته بسنه کوي؟ هغوی و فرمايل: هو! او د تا نه پرته بل هيچا لپاره کفايت نه کوي.

---

١ - صحيح البخاری، حديث:٩٥٥.

**د برني حديث نه داسې حكمونه او فايدي تر لاسه كيږي:**

١- د اختر لمنځونه د خطبونه وړاندې اداء كيږي د پېغمبر عليه السلام هميشنى سنت هم همدا وه.

٢- څوک چې د لمانځه اداء كولو او الهي ذكر ته غوږ نيولو په خاطر حاضر شي او د لمانځه اداء كولو وروسته يې خپل څاروى حلال كړ نو په سنت يې عمل وكړ او پيروي يې د هغه كړې.

٣- د اختر لمانځه ته حاضريدل د قربانۍ د قبليدو ننبه ده نو څوک چې د لمانځه نه پخوا ذبح وكړي قرباني يې د الله د قبول وړ نه گرځي او شرعاً قربانۍ نه گڼل كيږي.

٤- د قربانۍ د ذبحې وخت د لمانځه د خلاصيدو سره سم شروع كيږي

٥- د اخترو ورځ د خوښۍ او خوشحالۍ څرگندولو، خوړلو او څښكلو ورځ دي، هركله چې د انسان هدف ددې خوشحالۍ، مسرت ،خوړلو او څښكلو نه د عيد د معنا څرگندونه وي نو دا ټول په عبادت كې راځي.

٦- ديو كال نه وړې بزې او سيرلې قرباني صحيح نده.

**صنعاني وايي:** د ابن دقيق العيد د وينا په صحت باندې دليل د هغه بانده چې كيسه ده چې پيغمبر عليه السلام سره لدې چې هغه د خپل جهالت اعتراف وكړ د اداء كړې لمونځ په بياځلي كولو امريې ورته وكړ. همداشان هغه چاته يي د قربانۍ كولو امر وكړ چې د اختر لمونځ نه مخكې يې قرباني كړې وه.

**د نیکمرغه لوی اختر لمانځه ادا کولو کې د ښځو ګډون:**

عن أم عطية – نسيبة الأنصارية رضي الله عنها قالت: **أمرنا – تعني النبي  أن نخرج فى العيدين العواتق و ذوات الخدور و أمر الحيض أن يعتزلن مصلى المسلمين).**[1]

**و في لفظ: كنا نؤمر أن نخرج يوم العيد، حتى نخرج البكر من خدرها و حتى نخرج الحيض فيكبرن بتكبيرهم و يدعون بدعائهم يرجون بركة ذلک اليوم و طهرته ).**[2]

د حدیث ژباړه: ام عطیه نسبیه الأنصاریه رضي الله عنها فرمايي: پیغمبر علیه اسلام مونږ ته امرکاوه چې د لوی او واړه اختر په ورځو کی پېغلې او پردوکې ناستی نجونی د اختر په مراسمو کې د ګډون په موخه د کورنه را بهر کړو، او هغو ښځو ته یي امرکاوه چې د مسلمانانو د مصلی نه لری اوسي چې میاشتنی عادت به یې ؤ. او په بل روایت کې راغلي دي: مونږ ته امرکیده چې ټول د اختر په ورځ ( د لمانځه اداء کولو په موخه) د کور نه را بهر کړو، آنچې پیغلی نجونی او میاشتنی عادت والا ښځي مو هم د کوره را یستلی، ښځو چی کوم امید د برکت او د ګنا هونو نه د پاکوالی درلوده په دغه ورځ نو د سړیو د تکبیر سره یې تکبیر ویلی او د هغوی له دعا سره یې دعا کوله.

**د تیرو حدیثونو نه دغه حکمونه او فایدې لاسته راځي:**

۱- د اختر لمانځه وجوب حتی پر ښځو باندی پدی شرط چې کامل ستر او حجاب مراعات کړي او هیڅ ډول عطر او خوشبویي دی نه استعمالوي ځکه که

۱ - صحیح الامام مسلم، حدیث: ۸۹۰.

۲ - صحیح البخاري، حدیث: ۹۷۱.

ښځې د دغسی حالت سره د وتلو نه منع شوی دي او شاید وتل د دوی په حق کې مستحب وي.

٢- د معذوری ښځې نه حاضریدل مسجد ته واجب دی.

٣- مصلی او عید گاه د مسجد حکم لري.

٤- معذوري ښځې د ذکر او دعاء نه منع کیږي.

٥- د اختر د ورځې فضلیت او د دعاء د قبلیدو احتمال پکې.

**ټولنیزې مسئلې:**

محترمو او عزتمنو لمونځ کوونکو! مسلمان باید د اختر په ورځو کې خپل کړه وړه وارزوي:

**الف:** خپلې کینی، تربگنې هیرې کړي او د بیوزلو، فقیرانو پوښتنه وکړئ.

**ب:** صله رحمي قطع نکړي د خپلوانو او دوستانو پوښتنی او اختر مبارکی ته دی بیړه وکړي.

**ج:** د اسراف مخنیوی دی وکړي د خلکو معیشتي او اقتصادي حالت ته په کتو دی په خوراک او پوښاک او نورو مصارفو کې د اسراف نه ډډه وکړي.

**د:** د تجمل غوښتنی، منفي سیالیو، بی ځایه ځان ښودنی، اجتماعی خرافاتو په گناه ککړو بدعتونو نه دی په کلکه ډډه وکړي.

هـ: کوچنیانو ته نصحیت چې خلک ونه زوروي:

ماشومانو، ځوانانو، تنکیو ځوانانو ته باید نصحیت وشي چې پدی مبارکې ورځې کې د هوایي ډزو په کولو او پټاقی الوزولو سره د خلکو له زورولو څخه ډډه وکړي.

**و:** د پاکوالي او نظافت رعايت: دا چې د لوی اختر په ورځ په کوڅه او پس کوڅه او ورانيويوکې قربانی حلالېږي بايد هڅه وشي چې د قربانی د حلالولو ځايونه د وينو او نورو شـــيانو د ځاروي نه پاک او نظيف شي ترڅو قرباني ځمونږ چاپيريال پليت نکړي، ټول هڅه وکړو چې د خوښـــی او خوشـحالی پدی ورځ کې هيڅوک دغم او خفگان په ټغر کښينه نه ؤ بلکه په مو سکا او خندا د خلکو مخی ته ورشو او ښه راغلاست ورته ووايو او د نورو په ژوند کې خوښي او موسکا راولو.

**و اخر دعواناان الحمد لله رب العالمين وصلی الله تعالی عالی خيرخلقه محمد و اله و اصحابه اجمعين.**

۱۹

## د بشريت د منجی با سعادته (نیک مرغه) میلاد

**الحمد لله الذي خلق نبينا الحبيب من أشرف الناس نسباً و حسباً وأكملهم جمالا، و أشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريک له أرسله بالهدى و دين الحق ليظهره على الدين كلّه ولو كره الكافرون، و أشهد أن سيدنا محمداً عبده ورسوله، اللهم صل وسلّم وبارک عليهوعلى آله وصحبه وكلّ من اهتدى بهديه إلييوم الدين.**

**أمابعد:**

**يقول الله عز وجلاًعوذ بالله من الشيطان الرجيم. بسم الله الرحمن الرحيم: (لَقَدْ مَنَّ اللّهُ عَلَى الْمُؤمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِن كَانُواْ مِن قَبْلُ لَفِي ضَلالٍ مُّبِينٍ).[1]**

**و يقول الرسول(ﷺ)عن نفسه: ( أنا سيد أولاد ولد آدم يوم القيامة و بيدي لواء الحمد ولا فخر) .[2]**

محترمو سپين ګيرو او ګرانو ځوانانو د نن ورځې خطبه مو د رحمتونو د نبی د بشريت د منجي د باسعادته ميلاد او دهغه د سيرت، شخصيت، اخلاقو، او نورو

---

۱ - قران کريم، د آل عمران سورت : ۱٦٤، آيت.

۲- سنن الترمذي، حديث: ۳٦۱٥.

غوره کړنوته ځانګړې کړې ده. هغه نبی چې الله تعالی خپله دهغه د زوکړی څخه تر ځوانۍ پورې دهغه د ژوند د ټولو مرحلو تربیه، حفاظت، کفالت او ساتنی مسؤلیت اخیستی دي، هغه نبی چې په قرآن کې وځلیده او د لوی واحد څیښتن تعالی له لوری د ستاینی وړ وګرځیده، هغه شخصیت چې په ټوله مانا او مفهوم سره د هدایت او رحمت نور وه د عربو په جزیره کې لکه لمر په خړ آسمان کې وځلیده او په خپلو وړانګو سره یې ټول عالم روښانه کړ جاهلان عربان یې د بتانو له عبادت، غلامي او د جهالت له بدو کړونه څخه وژغورل او غافل زړونه یې د توحید د کلمې سره چې عبارت له (لا اله الا الله) څخه ده وتړل او له ظلم او سرکشی سره یې مبارزه وکړه او په ټولنه کې د یوځای ژوند کولو، همدردۍ، او دصلحي او سلامتۍ فضا قائمه کړه او دحق او عدالت پر بنسټ یې د بشر د حقونو د قانون بنسټ کېښود.

**ګرانو خویندو او ورونو!**

آیا پوهیږۍ چې د حضرت محمد(ﷺ)په نیک مرغه زوکړی (میلاد) سره په نړۍ کې او د بشریت په تاریخ کې څه ډول تحولات را څرګند شول؟ او څرنګه کولی شو چې د حضرت محمد (ﷺ)د حمیده او غوره اخلاقو څخه په خپل ژوند کې نفع او ګټه واخلو او د خپل ژوند لپاره یې سر مشق و ګرځوو آیا کولی شو چې له دغه لوی او ستر مناسبت څخه د خپلو ماشومانو، ځوانانو د تربیې او محتاجینو د

مرستي په موخه ګډه واخلو؟ مخکې له دين چې دغو سوالونو ته ځوابونه درکړم د حضرت محمد(ﷺ)يو څو ځانګړتياوی در سره شريکوم.

حضرت محمد(ﷺ)د حسب او نسب له پلوه د نړۍ د غوره انسانانو د قريشو له غوره قبيلې د بني هاشم د معززی کورنۍ څخه وه، هغه د نسب د انتساب له لوری د خپل جد هاشم بن عبد مناف په نامه، هاشمی بلل کېږی د نسب لړۍ يي د يويشت نفرو سره د حضرت اسماعيل -عليه السلام ته رسيږيچې ټول اجداد يې اشراف او نسب يې له اشرافو د اشرافو څخه ده.[1] پيغمبر خپله فرمايلي دي: (**أنا سيد ولد آدم ولافخر**) زه د آدم د اولاد سرداريم او فخرنه کوم الله تعالی د ابراهيم له زامنو د اسمعيل او د اسمعيل له زامنو بني کنانه او له بني کنانه څخه قريش او له قريشو څخه د بني هاشم کورنۍ او د بني هاشم له مينځه څخه يې زه غوره کړم[2].

١- منهاج المسلم د شيخ ابوبکر الجزائري کتاب، د عبدالعزيز سليمی ژباړه ، د اسلام کليات ، د احسان خپرونه ١٣٨١ ، ط١، مخمخ ٥٩- مرحوم محمد حنيف، ايمان،ط٢، مخ٢٢٢.

٢- صحيح الامام مسلم، کتاب الفضائل، باب فضل النبي صلی الله عليه وسلم، ټوک ٤، مخ ١٧٨٢ ، او د سنن الترمذي ، کتاب المناقب، باب فضل النبي صلی الله عليه وسلم ټوک ٥، مخ ٥٤٤ حديث: ٣٦٠٥ او ٣٦٠٦ . او أصل الحديث: (ان الله اصطفی من ولد ابراهيم اسماعيل، واصطفی من ولد اسماعيل، کنانه و اصطفی من بنې کنانه قريشا واصطفی من قريش بنې هاشم واصطفاني من بنې هاشم).

## له ولادت څخه تر بعثته:

د اسلام سپيڅلې پيغمبر د ربيع الاول په ۱۲ او د يو تحقيق پربنسټ چې د يو معتبر عالم «محمد سليمان منصور پوری» تر سره کړی دی نهم د ربيع الاول د دوشنبې په ورځ د سپيدو په څرک سره چې له ۲۰ يا ۲۲ اپريل ۵۷۱ ميلادی سره سمون لری د عام الفيل نه يو کال مخکې نړۍ ته سترگی وغړولې. کله چې د حضرت محمد (ﷺ)مبارک مخ ته د هغه نيکه وکتل نو ډير خوشحال شو نوم يې محمد ورته کېښود، بيا يي هغه په غيږ کې واخيست او کعبې شريفې ته ولاړ او د الله شکر او ثنايي وويله او د خپل گل غوندی لمسی په وصف کي يي څو شعرونه وويل. امام احمد په خپل مسند کې له ابن عباس (رضي الله عنهما) څخه روايت کړيدیچې رسول الله(ﷺ)و فرمايل «چې د دوشنبی په ورځ زيږيلی، د دوشنبيپه ورځ په پيغمبری مبعوث شوی، د دوشنبی په ورځ له مکې نه مدينې ته هجرت کړي او د دوشنبی په ورځ يي له دنيا نه سترگې پټي کړی دي».[۱]

د بعضی مؤرخينو په وينا د حضرت عيسی (عليه السلام) زوکړه يا ميلاد په همدغه ورځ شوی ده.

**مور يي**: آمنه بنت وهب چې وهب د بني زهره سردار ابن عبد مناف بن زهره بن کلاب د قريشو له غوره ښځو څخه وه حضرت محمد(ﷺ )شپږ کلن وه کله چې مور

۱- تاريخ الطبري، ټوک ۳، مخ ۹۲۶-۹۲۷.

يي له مديني څخه د را ستنيدو په حال کې وه د ور پيښې سختی ناروغی له امله د «ابوا» په منطقه کې ومړه

**پلار يي**: عبد الله بن عبد المطلب بن هاشم بن عبد مناف بن قصی بن کلاب وه. هغه په مکه مکرمه کې له آمنې سره واده وکړ، له څه مودي نه وروسته د خپل پلار په امر مدينې ته روان شو او هلته بيمار شو او د پنځه ويشتو کلو په عمر د حضرت محمد(ﷺ)له زوکړی نه مخکې ومړ او د (نابغة الجعدي) په کور کې و خاوروته وسپارل شو ، ولی يوی ډلی داهم ويلی دی‌چې عبدالله دوه مياشتی وروسته د حضرت محمد(ﷺ)له زوکړی وفات شو.[1]

**د شيدو خوړلو دوره:**

لمړنی ښځه چې يوه هفته وروسته يي له خپلی مور څخه حضرت محمد(ﷺ) ته شيدی ورکړی.[2]

د ابو لهب کنيز «ثويبه» ده او شير خوره زوي يې لرل چې (مسروح) نوميده او وړاندې له دينه يې حضرت حمزه(رضي الله عنه)چې د پيغمبر کاکا وه هم تی

---

۱- د الرحيق المختوم د مولانا صفي الرحمن مبارکپوری کتاب ، د عبدالله هروی ژباړه، ټوک ۲ ، مخ ٦٠.

۲- الرحيق المختوم، مخ ٦٨ – ٦٩.

ورکړی وه او له هغه نه وروسته يې(ابوسلمه بن عبد الاسد مخزومی) ته هم تی ورکړ.[1]

په هغه زمانه کې د عربو د عاداتو له مخی عبد المطلب دی يوې دايې ته چې حلیمه سعدیه بنت ابو ذوئیب عبد الله بن حارث د بني سعد له قبيليچې د میړه نوم يې حارث بن عبد العزی او لقب يې أبو کشبه او له همدغی قبيلې نه وه تسليم کړ ترڅو په صحراکې لوی شی او پرمختګ وکړی.[2]

**رضاعی خوندی او وروڼه:** يي عبارت دي د (حليمي سعديي له زوی اولوڼو څخه) يعنې «عبد الله بن حارث» او «أنيسه بنت حارث» او حذافه» یا «جذامه بنت حارث» څخه، بی بی حليمه سعدیه هغه شيما (ښايسته) ده چې( لقب يي پرنوم غلبه کړی ده) له پيغمبره او ابوسفيان بن حارث بن عبد المطلب د پيغمبر د کاکا زوی څخه به يې مراقبت او پرستاری کوله حمزه بن عبد المطلب د پيغمبر کاکا د بني سعد بن بکر د قبيلې د يوي تی ورکوونکې ښځی تر پرستاری للاندې ژوند کا وه او رضاعی مور يې یوه ورځ حضرت محمد(ﷺ)چې له حليمې سعديې يي سره وه

---

۱- الرحيق المختوم، مخ ۷۰ د اتحاف الوری او اخبار القوی څخه، او د ابن الفهد الملکي ، ټوک ۱ مخ ۱۵۷، څخه.

۲- همدغه لومړني ماخذُ، مخ ۷۰-۷۱ د صحيح البخاري په حواله، حديث: ۲٦٤٥ ،۵۱۰۰، ۵۱۰۱ ، ۵۱۰٦ ، ۵۱۰۷، ۵۳۷۲، او تاريخ طبری، ټوک ۲، مخ ۷٤-۷۵.

تی ورکړ نو له همدې امله حضرت حمزه (رضي الله عنه) له دوو اړخونو د الله د رسول رضاعي وروردی یو هم د «ثویبه» او بل هم د خپلی رضاعی مور له اړخه.[1]

**مسلمانانو خويندو او ورونو!**

د حضرت محمد مصطفی (ﷺ)د خلقت، تربیه او رعایت په اړه د الله اراده او حکمت په دی وه چې هغه د ژوند له کړاوونو، هسکو، ژورو او سترو مسؤلیتونه چې په راتلونکي به د هغه په غاړه وی د فولادو د بند په شان تیار کړ، پلارېې مخکې له دینه چې سترگی دنیاته وغوړوي له ده نه واخیست او هغه یي د خپل نیکه تر پالني للاندې راوست عبد المطلب د مکې دقریشو د قبیلي د مشرانو څخه وه، ده د حاجیانو لپاره رفادت (طعامت تیاری) سقایت (د ابو تیاری) له خپل نیکه گانو څخه په ارث وړی وه پیغمبر د اته کلو دوه میاشتو او لسو ورځو وه چې نیکه یي وفات شو هغه مخکې له خپل مرگ نه د خپل لمسي پالنه دهغه کاکا ابو طالب ته سپارلی وه ابوطالب باندې خپل وراره گران وه او خاص احترام یې ورته کاوه هغه به یې تر خپلو زامنو مخکې کاوه له څلویښتو کلنو[2] نه زیات یې د الله د رسول له دښمنانو سره په میړانه او شجاعت سره خپل حمایت کاوه «الله دهغه د ژوند په پیل کېداحدیت او توحید نورانی لار د هغه په وړاندې خلاصه کړه صحي ده چې

۱- د(سید احمد اشرفي جستارهایی در دین شناسی تطبیقی) کتاب څخه ، د افغان مسلکی مطبعه، ۱۳۸۹، ط۱ مخ ۳۲۷.

۲- زاد المعاد، ټوک۱ مخ ۱۹، الرحیق المختوم، مخ ۷۱.

د يو څه مودي لپاره د عبد المطلب تر پالني لاندې وه اما دا له عزت او الهی عظمت، شرف او حمايت نه نور څه نه وه او د اسبابو له پلوه يي ده ته چندان ارزښت نه لرل ځکه د ابو طالب حمايت وصايتی وه او د کاکا والی او وراره والی خبره وه .[1]

## د جاهليت په زمانه کې د نړۍ بحراني وضعيت:

د بشريت د منجي مينه والو! آيا پوهيږئ په هغه وخت کې د عربو په جزيره کې حاکمه وضعه څه ډ ول وه؟ د نبوت د لمر د را ختو مخکې او د عربو په جزيره کې دهغه د رڼا له خپريدو وړاندې انسانانو د جاهليت لکه د ځناورو په شان ژوند کاوه، د بشري حقونو او انساني کرامت نه په هيڅ نه پوهيدل وجدان مړ وه ، ظلم، بی رحمی او نه زړسوی ته به يي شجاعت او زړورتيا ويله خپل زامن به يي د فقر تنگ لاسی له امله وژل د انجونو زيږون به يي عار او پيغور بلل او نورو به يې د ماشومانو د سترگو کموالی په بد فالی نيول او ژوندی به يې په قبر کې خښول «نورو به يې نذر نيول که خدای لس زامن راکړل يوبه يي قربانی کوم او نورو به يې بيا لورگانی په الله ﷻ پسی نسبت ورکاوه او ويل به يې ملايکه د الله تعالی لورگانی دی(العياذ بالله) د لورگانو نسبت به يي الله تعالی ته کاوه الله تعالی له داسې نسبتونو نه پاک دی، ښځه به د جاهليت په نړۍ کي له هر ډول ننگوونو سره مخ

---

۱- نور جاويدان، د محمد فتح الله گولن کتاب، د استاذ فيض محمد عثماني ژباړه د باران خپروني، کابل. ۱۳۸۸، ط ۱ مخ ۴۷.

وه او حقوق به يې تر پښوللاندېکېدل او له ارثه به محرومه کېده او وروسته له طلاقه او يا د ميړه د مړينی له کبله د بل ازدواج له حقه محرومه وه اودلوښو، کپړو او حيواناتو په څير به د ميراث په توګه د نورو کسانوملکيت ګرځيدله، بعضی خواړه يواځی د نارينه وو لپاره وه او د ښځولپاره حرام وه.[1]

ګمراهی او جهالت، بې رحمي او شقاوت، شرک او بت پرستي د عربو ټوله جزيره آن ټوله نړۍ يې نيولې وه، هر ښار هره ناحيه او آن هر کور يو خاص بت لرل يواځی په بيت الله شريف کې ۳٦۰ بتان ول چې په هغوی به يي طواف کاوه حج به يې کاوه او له هغوی نه به يي مرسته غوښته او له هغوی نه به يي د خپلو حاجتونو پورکيدل غوښتل.

د جاهليت د دوری د ټولوانحرافاتو او مرداريو بيانول ساده کارنه ده په دې موضوع کې د يو کتاب ليکلو ته اړتيا ده، دلته د جاهليت د دوری په دوو حکايتونو اکتفا کوم.

## د نجاشي په وړاندي د جعفر بن ابي طالب وينا:

جعفر بن ابي طالب د اسلام د پيغمبر لمړنۍ سفير او د اسلام په شروع کي د مهاجرينو رئيس دحبشی د نجاشي پاچا په وړاندې د جاهليت د توری دورې او د اسلام د پيغمبر کرښېداسې بيان کړي «پاچاهانو! مونږ ويني څښلې، مړزګې

١- نور جاويدان، د محمد فتح الله ګولن کتاب، د استاذ فيض محمد عثماني ژباړه د باران خپروني، کابل. ۱۳۸۸، ط ۱ مخ ۷۸.

موخوړلې، زنا به مو کوله، غلا به مو کوله، انسانان مو وژل او د نورو مالونه به مو لوټل، قوی به ضعیف خوړل او د تر پښبوبه یېلاندې کاوه او نور داسې له شرمه ډک کارونه به موکول.[1]

امام بخاري له ابو رجا عطاری روایت کوی چې وایي موږ د ډبرو عبادت کاوه کله چې به مو کومه ښکلې ډبره پیداکړه نو هغه په لاس زړه ډبره به مو وه غورځوله او د نوې ډبري عبادت به مو شروع کړ که به کومه ډبره پیدانکړه نو یو موټی خاوره به مو را واخیسته او په هغه به مو د میږو شیدی ولوشلی او خټه به مو ترینه جوړه کړه او بیا به مو په هغه خټه طواف شروع کړ.

هو د جاهلی ټولني وګړي د جنګ، توطئه، نفاق په لاره اچولو کې ځانګړې مهارتونه لرل انتقام اخیستنه او قومی جګړې به د خلکو په منځ کې ترکلونو اوږدیدې په ښو او منصفانو خلکو به یې ملنډې وهلې مظلومان او ضعیفان به یې په غلامي سره نیول، اسلحه به د ټولنې د بی رحمه توریالیانو په لاسکېوه، هر چا چې به ډیرقتلونه کړي وه او ډیرې بی عزتی به یې خلکو ته اړولې وې هغه به اتل وه.

---

۱- ماذا خسر العالم بانحطاط المسلمين، ابوالحسن علي الحسني الندوي، ژباړه ، عبدالحکیم عثماني د احسان خپرونه، ط ۸، مخ ۱۰۶-۱۰۷.

**د ژوندې انجلۍ په قبر کې د خښولو له غم نه ډکه قصه:**

دلته د جاهليت د تورې دورې د يوه بې رحمه پلار قصه چې خپله بی گناه لوريي ژوندې په قبر کې خښه کړې د نمونې په توگه در سره شريکوم.

د رسول اکرم (ﷺ)له اصحاب کرامو څخه يوه سړی د جاهليت د دورې د ژوندې انجلۍ په قبر کې د خښولو قصه وه پيغمبر (ﷺ)ته داسې بيان کړه: يوه لور مې لرله او ځنيو عربانو دا عادت او دود درلود چې خپلې لورگانی به بې وژلې ما هم خپله لور په يو کډی کي ژوندي خښه کړه ما په هغې خاوره اچوله په داسې حال کې‌چې هغی ماته بابا جان! بابا جان! ويل د دغو جملو په اوريدلوسره د حضرت محمد (ﷺ) له مبارکو سترگواوښکې را روانی شوی او وه يې فرمايل دا خبره بيا راته وکړه ! صاحبی داماجرا بيا بيان کړه د الله پيغمبر دومره ورته وژړل چې گيره مبارکه يې په اوښکو لنده کړه[1]!!

**په ځوانۍ او وړک توب کې د اسلام د پيغمبر (ﷺ) ځانگړتياوې يې:**

حضرت علی (رضي الله عنه) د اسلام د پيغمبر د کورنۍ د اصالت او شخصيت په اړه وه فرمايل، « ځانگړتياوې يې مشهوره دي او زوکړې يې د ټولوته مبارکه ده، د پيغمر له کورنۍ سره هيڅوک د مقايسی وړندی هغه ددين بنسټ، د باور محکمه

---

۱-علامه شليبی نعمانی او سيد سليمان ندوی، شمايل او نبوي اخلاق ، د خاشي ژباړه، د افغانستان دارالنشر ژباړه، ۱۳۸۳، ط۱، مخ ۲۱.

ستنه ده او له هغه وخته چې حضرت (ﷺ)یي له شیدو خوړلو پریکړ الله تعالی خپله ستره ملکه (جبریل) دهغه د تربیې لپاره وټاکله تر څو شپه او ورځ هغه ته د لوړو لارو، اخلاقو او نیکېو لاربښوونه وکې.[1]

د کائناتو د سردار د ټولو ځانګړتیاوو بیانول په دغه بحث کې ځایول ناشونی دی، ولی بیاهم هغه متل دی (مشت نمونه خرواراست) د مثال په توګه به د اسلام د پیغمبر څو ځانګړتیاوو ته اشاره وکړم:

**۱- د پیغمبر(ﷺ ) رشد او نمویې د نورو ماشومانو په څیر نه وه:**

دی مبارک لا د دوو کلونو نه وه چې ډیرچست، چالاک، هوښیار، او زیرک وه.[2]

**۲–د هغه په روی(مخ) به باران غوښتل کېدل:** قریشیان پوهیدل چې دې په الله ګران دي (ابن عساکر) له جلهمه بن عوطفه روایت کړی دي، وایي چې مکې ته په داسې حال کې داخل شوم چې قحطی خپل اوج ته رسیدلې وه قریشیانو ابو طالب ته وویل مکه کې سخته قحطی ده او کورنی او ژوند مو له عسرت او مشکلاتو سره مخ دی، ابو طالب ټول ماشومان را ټول کړل او د دوی له منځه یي محمد (ﷺ) له ځان سره واخیست او کعبې ته یي شاه ولګوله او محمد (ﷺ)تهیې

---

۱- د پیغمبر اعظم صلی الله علیه وسلم د سیرت ځانګړتیاوې، د عالمانو د یو ټولی تصنیف، ۱۳۸٦ کال، ط۱، مخ ۲۵۵-۲۵٦.

۲- الرحیق المختوم، د صفي الرحمن مبارک پوری کتاب، دعبدالله خاموش هروی ژباړه، مخ ٦۹، د مسند امام احمد (رح) په حواله، ټوک٤ ، مخ ۱۲۷-۱۲۸ او ۱۸۵، او سنن الدارمي، ټوک ۱ مخ ۹.

په کوته اشاره وکوله په داسې حال کښې په اسمان کې وريځ نه وه هغه د خدای رحمت طلب کړ نا څاپه له ها خوا دی خوا وريځ را پيداشوه او ډير باران وه شو او ټول ځايونه له ابو ډک شول مکه شنه شوه او وچ کالی له منځه ولاړه.

ابو طالب د حضرت محمد (ﷺ)په وصف کې څه ښائسته شعرونه ويلی دی.

**و ابيض يستسقى الغمام بوجهه ثمال اليتامى عصمة للأرامل**[1]

او په سپين مخ يي له وريځې نه باران غواړی*غم خوار د يتيمانو هم قلعه د ه دکونډومظلومانو.

**۳-شراب به يي نه څښل** او د بی عقلانو په مجلسونو کې به يې ګډون نه کاوه او ناوړه خبره به يې هيڅکله په ژبه نه راوړه او هغه غوښه چې ذبحه به يې د بتانو په نوم شوې وه نه خوړه.

**۴-د بتانو په جشنونو** او ميلو کې به يي شرکت نه کاوه او له وړوکتوب نه له بتانوسخت بيزاره وه تر بتانو بل هيڅ شی هم د ده په نزد ناوړه او مبغوض نه وه او د لات، منات په نامه قسم يې نه شوای تحمل کولی.

---

۱- الرحيق المختوم، د صفي الرحمن مبارک پوری کتاب د عبدالله خاموش هروی ژباړه، ط۲، مخ ۷۵، د شيخ عبدالله نجدی مختصر سيرت الرسول په نقل سره، مخ ۱۵-۱٦ ، او د مجمع الزوائد دهيثمی کتاب د طبراني په نقل سره، علامات النبوة، ټوک ۸، مخ ۱۲۲۲.

**۵-د حضرت محمد (ﷺ) شرمګاه هیڅ کله نه ده لیدلې شوې:**

مګر یوځل کله چې کعبه شریفه جوړیده له حضرت عباس( رضي الله عنه) سره د کعبې شریفې د تعمیر لپاره ډبرې را وړې او ناڅا په په ځمکه ولویده او لمن یي پورته شوه او کله چې په هوښ راغی نو لمن يي پر ځان را ټوله کړه، همیشه به د الله تر عنایت، رعایت، او حمایت للاندې وه چې کله به یي هم د عربو ناوړه دودونو ته میلان کاوه د الله عنایت به حاضریده او مانع به واقع کېده.

**٦-د اسلام پیغمبر د خپل قوم په مینځ کې د ګفتار او عمل صورت او سیرت له اړخه ممتاز وه:** له هرچانه ځوان مرده، ښه خویي، مهربان او صبور وه، دې د خلکو په مینځ کي په رښتینولی او امانت داری پیژندل کېده او دی مبارک به یي صادق او امین بللو. هراکلیوس(دروم پاچا) له ابوسفیان نه وپوښتل: آیا پیغمبر مو وړاندې له دېنه چېداسې خبریې وکړی په درواغو ویلو تورن کاوه او کنه؟ نو په ځواب کې یې وویل نه خیر. هرقل وویل: څوک چې عاموخلکوته درواغ نه وایي نو هغه په الله (ﷻ) څنګه در واغ ووایې؟.[1]

**۷- کار یي خوښیده او د چا احسان پرځان نه مانه:**

په متعددو روایاتو کې را غلي دي چې ده مبارک په ځوانی که د (بني سعد) په قبیله کې د مکې مکرمې د اهالی لپاره د څو قیراطو په عوض کې شپون توب

١- الرياض الندية فی الخطب المنبرية، لمحمد حلمي، مخ ١٣٦.

کړي دي. او همداراز سوداګرۍ ته يي هم مخه کړيده اوله «سائب بن ابی اسائب مخزومی» سره يې يوځای تجارت کاوه. او د پنځه ويشتو کلنوپه عمر کې د خديجې بنت خويلد رضي الله عنها د اموال د تجارت لپاره د هغې د غلام (ميسره) سره وه شام ته روان شو، ميسره د ده د حميده او ښو اخلاقو، رښتينولی، امانت، په سوداګرۍ کې برکت او صداقت څخه و خديجې ته صفتونه وکړل هم دغه وه چې خديجه د حضرت محمد (ﷺ) په ښو اخلاقو، صداقت او فضائلو باندې عاشقه شوه او له هغه سره د واده کولو عقد وکړ او دا لمړنۍ ښځه ده چې د اسلام پيغمبر ورسره واده وکړاو د دې په ژوند کې يي بل واده ونکړ.

## ۸- يهوديانو به د خپلو شخړو د حل لپاره ده ته رجوع کوله:

د حضرت محمد (ﷺ) په رښتين ولی، امانت دارۍ، او پاک لمنۍ د هغه دوستانو او دښمنانو پوره باور لرل او د عدالت غوښتني لپاره به ده ته را تلل، يهوديان چې د ده سخت دښمنان وه ولی د ده فيصلوته په بشپړه توګه تسليم وه، او د خپل منځه شخړو د حل لپاره به يې ده ته مراجعه کوله او له ده نه به يي د عدالت غوښتنه کوله.

## ۹ – د خپلی ميرمنی خديجة الکبری شاهدی:

د پيغمبر (ﷺ) له بعثت نه مخکې د هغه په وصف اوسيرت کې ښايسته او له تسلی نه ډک الفاظ د هغه په ښايسته او قرآنی اخلاقو لوی دليل دی. کله چې ورسته

له وحې هغه له غار حرا څخه وه کورته راغی او خديجې ته وويل چې په (ځان ويريږم) نو دي په څواب کې ورته وويل: داسې نه ده په الله مودی قسم وی چې الله به تا غمجن نه کړی ځکه ته صله رحمي کوې، د بې وسوخلکو بارونه په غاړه اخلې او له هغوی سره مرستې کوې او د ميلمنو ميلمه پالنه کوې، او له حق نه ملاتړ کوې، او په مشکلاتو او مصيبتونوکي له خلکو سره مرستې کوې.[1]

## خارق العاده پيښې او زيرې:

محترمو سپين ږيرو او گرانو ځوانانو! د بشر د منجی ټولي ښيگنی، کمالات، اوکرامات د ډيرو کتابونو په ليکلو سره هم نه تماميږی، خو په دې برخه کي يو سلسله خارق العاده حوادث او کراماتوته اشاره کوو چې د متعددو تاريخي رواياتو پر بنسټ د اسلام د پيغمبر د زوکړی په ورځ پيښی شوې داسې پيښې چې د اسلام د پيغمبر په راتگ سره د اديانو په تاريخ، او انسانانو په ژوند کي غټ بدلون او تغيير را څرگنداوه او د يو ښه او روښانه راتلونکې زيری يي ورکاوه .

## ١ – د تورات او انجيل شهادت:

د حضرت محمد (ﷺ)له پيدايښت نه مخکي د هغه په رسالت،صدق نبوت، باندې تورات او انجيل شاهدی ورکړيده موسی او عيسی (عليهما السلام) خپلو پيروانوته د هغه د راتگ زيری ور کړيدی الله تعالی د حضرت عيسی عليه السلام قول په

١- الرحيق المختوم، ط ٢، مخ ٩٠-٨٢ په اختصار سره.

دې اړه داسې بيان کړيدې چې فرمايي:( **وَإِذْ قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُم مُّصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرَاةِ وَمُبَشِّرًا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِن بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ** )[۱].

يعنی: هغه وخت يادکړه،چې ابن مريم وويل :آی بني اسرائيلوزه د الله (ﷻ) رسول يم ستاسو ټولوته اوتصديق کوونکی يم دهغه کتاب چې زما څخه وړاندې راغلی، زيری ورکونکی يم په يوپيغمبرسره چې زما څخه وروسته به راځی چې نوم به يې احمد وي.

ژباړه: او په تورات کې را غلي دي: (هغوې ته به د هغوې له منځه خپل رسول ور وه ليژم او خپل کلام به دهغه په ژبه جاری کړم او د هرڅه په اړه چې هغه ته پيغام ورکړم له هغوی سره به خبرې وکړی او هرڅوک چې کلام زما په نامه وايي پيروی ونکړې زه به خپله له هغوی نه انتقام واخلم.[۲]

کله چې حضرت محمد (ﷺ)په پيغمبری مبعوث شو نو د موسی عليه السلام په اړه يي وويل که موسی ژوندی وای نو زما اطاعت به يي کاوه.

**۲ - د بی بی آمنی له وجود څخه د حضرت محمد (ﷺ)د ولادت په وخت کې د نور راوتل:** ابن سعد روايت کوي چې د الله د رسول مور وفرمايل: کله چې

۱- د الصفسورت ٦ آيت.

۲- منهاج المسلم د شيخ ابوبکر الجزائري کتاب، د عبدالعزيز سليمی ژباړه ، د اسلام کليات ، د احسان خپرونه ، ط ۱ ، مخ ٦۱ – ٦۲، دا رنگه کتاب الايمان، محمد حنيف بلخی، ط ۲، مخ ۲۲٤.

مې هغه وزیږول نو له وجود څخه می نور را ووت چې د شام ماڼۍ یې روښانه کړې» امام احمد بن حنبل (رح) او دارمې او نورو هم دغه مضمون بیان کړی دی.[1]

**۳ - د مدائن څوارلس پوړه ماڼۍ وه نړیده:**

**۴ - دفارس د اتش پرستانو اور مړشو:**

د حضرت محمد(ﷺ)له زوګړی سره سم د زردشتیانو زرکلن بل شوی اور مړشو .

**۵ - د کنیساوو ورانیدل:**

د حضرت محمد (ﷺ)په مبارک تولد سره د (ساوه) د دریاب په وچېدو سره همزمانه ټولې کنیساوې ورانې شوې.[2]

شارل منتسسکو(۱٦۸)- (۱۷۵۵) چې د قانون د پلار په نوم ملقب دی دفرانسی له مشهورو حقوق دانانو څخه دي د اسلام د سپیڅلي پیغمبر او د بشریت د لار ښود په اړه داسېویلي دي: د حضرت محمد (ﷺ)له تولد څخه هیڅ شی هم ډیر د تعجب وړ نه دي الله تعالی چې د خپل مشئیت د حکم له مخی یې وغوښتل چې داسې ستر پیغمبر د بشر په لوری ولیږی د دي لپاره چې شیطان ته څنځیر

---

۱- د پیغمبر اعظم صلی الله علیه وسلم د سیرت ځانګړتیاوې، د عالمانو د یو ټولی تصنیف، ۱۳۸٦ کال، ط۱، مخ ۲۵۵-۲۵٦.

۲- د پیغمبر اعظم صلی الله علیه وسلم د سیرت ځانګړتیاوې، د عالمانو د یو ټولی تصنیف، ۱۳۸٦ کال، ط۱، مخ ۱۳۸-۱۳۹ په حوالی Editjeccque lapume ۲۰۲ Mohammad etque pensent les .occidextaux universall edition

واچوی له آدم نه زرکاله مخکې یې یو نور پیداکړ او د محمد د نیکونو او اجدادو له لارې یې محمد ته انتقال کړ همدارنګه یې د یو مؤثق شاهد په توګه له لوړو حقائقو نازل شوی دي . دهغه د ولادت په وخت کې ځمکه لکه د لمړی ځل په شان دری واری ولړزیدله او ټول بتان را نسکور شول او د باد شاه تخت په بله واوښت او شیطان د دریاب وه عمق ته واچول شو». [1]

**٦ – له شیدو څخه د بی بی حلیمی د تیو ډکېدل:**

بی بی حلیمه وایې کله چې مې حضرت محمد (ﷺ) د شیدو د ورکولو په موخه په غیږ کې ونیول نو تي مي له شیدو ډک شول او همدارنګه د زړې او ضعیفی اوښي غولانځه هم له شیدو ډکه شوه.

**٧ – د بی بی حلیمی د میږو مړیدل قصه:**

د بی بی حلیمې میږې به له قحط زده او وچې صحرا څخه په ډکو غولانځو را ستنیدي.

**٨ – د الله رسول (ﷺ)به د ابن ذبیحین په نامه یادیده:**

لکه څرنګه چې په خپله فرمایي: « **أنا ابن الذبیحین**» [2] زه د دوو ذبیحتین زوی یم )

---

١- د پیغمبر اعظم صلی الله علیه وسلم د سیرت ځانګړتیاوې، د عالمانو د یو ټولی تصنیف، ١٣٨٦ کال، ط١، مخ ١٣٨-١٣٩ .

٢- دا حدیث ربیعی او ابن حجر او د ځینو محدثینو په رایه د سند له پلوه ضعیف دی، لیکن په تاریخی روایاتو کې استدلال کول په داسي احادیثو سره چې دیني نصوص او عقلي بداهت سره تعارض ونلری،

**اول**: دا چې د اسمعيل له اولادې څخه دي چې پلار ته يي د الله له طرف امر شوی وه چې اسمعيل ذبحه کړه او اسمعيل يي ذبحه کړ.

**دوم**: دا چې کله عبد المطلب د زم زم څاه کښله او داسې نذر يي پرځان وه مانه که خدای ماته لس زامن راکړل نوزه به يو د کعبې شريفې په خواکېقرباني کوم، ترڅو چې الله ده ته لس زمن ورکړل او ده په ډير اخلاص سره قصد وکړ چې يويي قرباني کړي او په خپل نذر وفاوکړی نو له دې امله يې د قريشو د مشرانو په منځ کې پچه واچوله که د هر يو په نوم پچه را ووځي نو هغه به قربانی کړيپچه د عبد الله د حضرت محمد (ﷺ)د پلار په نوم را ووه ته چې ده باندې ډير گران وه د قريشو مشرانو ورته وويل چې د عبد الله په بدل کې د لسو اوښانو قربانی کولو پچه واچوه که د اوښانو نوم را ووت نو اوښان قربان کړه کله چې پچه واچوله بيا هم د عبد الله نوم را ووت، په همدی ډول (۹) ځله پچه ولويده او د عبد الله نوم را څرگند شو، چې(۹۰) اوښان يي قرباني کړي د لسم ځل لپاره يي بيا پچه واچوله او غوښتل يېچې عبد الله قرباني کړي ولې دقريشو سردارانو ورته وويل د عبدالله په بدل کې دی سل اوښان قرباني کړي الله دی نذر قبول کړيده په همدی شان

---

کوم اشکال نلري او دا روايت د سيرت په ډيرو کتابونو کې شتون لري لکه: ابن هشام سيرت، ټوک ۱ ، مخ ۱۵۱-۱۵۵، رحمة للعالمين، ټوک۲ ، مخ ۵۶- ۶۶، او (الرحيق المختوم) ، ط ۲، مخ ۶۷.

عبد المطلب له قرباني نه منصرف شو نو له دې کبله حضرت محمد (ﷺ)خپل ځان ته ابن الذبيحين ويل.[1]

### ۹ – د حضرت محمد (ﷺ) څلور ځله شق صدر شويده:

د تاريخي رواياتو پر بنسټ د الله (ﷻ) په امر د ملايکو په واسطه د اسلام د پيغمبر(ﷺ) څلور ځله شق صدر شوی دی،[2]چې دلته د څلور کلنۍ د شق صدر حادثې ته اشاره کوم. امام مسلم (رح) له حضرت انس (رضي الله عنه) نه روايت کوي چې جبرئيل (ع) کله چې حضرت محمد (ﷺ) له ماشومانو سره لوبې کولې د هغه خواته راغی او هغه يي په ځمکه څملاوه او سينه يي ورته څيرې کړه او يې ترينه راوه ويست او يوه ټوټه وينه يي ترې نه لرې کړه او زړه يي ويل دا ستا په وجود کې دشيطان منفعه ده بيا يي د حضرت محمد(ﷺ)زړه په زرين لوښی کي د زمزم په اوبو وه مينځل او په خپل ځای کې يې‌کيښودل او سينه يې ورته وتړله. ملګرو يې د دې وضعيت په ليدلو سره وارخطا د ده د رضاعي مور خواته ورغلل او ورته نعرې يي وهلې محمد مړ شو کله چې مور يي د د مبارک خواته ورغلله نو

---

۱- ( ايمان و ارکان شش گانه آن..) د محمد حنيف بلخی کتاب، مخ ٢٢٤ په حواله د النبوة والانبياء، مخ ٢٨٠، دا رنګه د سيرت کتاب (الرحيق المختوم) ، ط ٢، مخ ٦٧.

٢- فتح الباری، ټوک ١، مخ ٥٤٩، المواهب اللدنية، ټوک ١، مخ ١٥٨- ١٥٩، د ابن عساکر تاريخ قسم السيرة، ټوک ١، مخ ٣٧٠-٣٨٩، د مکتبي شاملي په ترتيب سره.

دي يې په الوتې ځيره وليد. حضرت انس (رض) وايې ما د حضرت محمد(ﷺ)په سينه باندې د ګنډلو نښې ليدلی دي ».[1]

## ۱۰ دحضرت محمد (ﷺ)ته د جماداتو او نباتاتو سجده:

د ځوانی او ماشوم توب په دوره کې ځرنګه چې حضرت محمد (ﷺ) دوولس کالو او لس ورځو شو نو ابو طالب دی له ځان سره د شام و تجارتي سفر ته روان کړ تر څو (بصرې) ته ورسيدل دلته يو راهب وه چې په (بحيرا) مشهور وه او نوم يې داسې ويل کېده «اجرجيس» کله چې د ابو طالب کاروان واړول نو هغه راهب کاروان ته ځان را ورساوه او د حضرت محمد(ﷺ)لاس يې ونيول او وي ويل دا دنړۍ خوشحال تيا ده، دا د الله رب العزت سفير دی دا هغه څوک ديچې الله تعالی به يې ټولي نړۍ ته د رحمت په ځيره کې را وليږی . ابو طالب او د قريشو مشرانو ورته وويل ته له کوم ځای نه خبر يې؟ نو راهب وه ويل کله چې ستاسو قافله وه هغې ګردنی ته لنډ شوه نو داسې ونه او ډبره نه وه چې سجده يې نه کوله او دغه بغير له پيغمبره بل چاته سجده نه کوي او همدارنګه هغه د نبوت له مهره پيژنم چې د منې په اندازه د ښې وږې ترپارو للاندې قرارلريچې په خپلو کتابونو کې مې لوستلی دي، بيا يې کاروان ته ميلمستيا وکړه او له ابوطالب نه يې وه غوښتل چې هغه وه شام ته له ځان سره بو نه ځي او بيرته يې مکې ته ستون

---

۱- صحيح الامام مسلم، کتاب الايمان، باب الاسراء والمعراج، ټوک۱ ، مخ ۱٤۱۱، حديث :۲٦۱.

کړه ويره ده چې د شام روميان او يهوديان ده ته ضرر ونه رسوې نو کاکا يي دی له يو خپل خادم سره بيرته مکې ته وليږل.[1]

**۱۱ - د حضر ت محمد (ﷺ) د فجار په خونړۍ جنګ کي شرکت:**

د الله رسول(ﷺ)چې کله د شلو کلونو وه د فجار په خونړی جنګ کېچې د (بني کنانه ) او (عيلان) قبيلې ترمنځ د (عکاظ) په بازار کې ولګيده ګډون وکړ، داجنګ دقيس د قبيلې د دريو نفرو چې د کنانه د قبيلې د (براض) نومی کس لخوا په قتل ورسيدل شروع شو له همدې کبله د «حرب فجار» په نوم مشهور شو، د اسلام پيغمبر په دې جنګ کې ګډون وکړاو د خپلو کاکا ګانو غشي ييد غشو ويشتونکو لپاره چمتو کول تر دی چې دواړو قبيلو د قريشو د صلحې وړا ندېز چې مناسب شرطونه يي پکې ايښی وه ومنل.

**۱۲ -د اسلام پيغمبر د (فجار) له جنګ نه وروسته د (حلف الفضول) په خونړی جنګ کي ګډون وکړ:**

قريش د ذوالقعدی په مياشت کې د(عبدالله بن جدعان تيمي ) په کور کې را غونډ شول او داسې تړون يي وکړ، که مکې ته کوم مظلوم را شی که څّه هم د هرځای وي له هغه نه بايد ملاتړ وکو او له زورمندانو ورته حق واخلو.

۱- همدغه ياد مصدر، مخ ٧٤ ، د سنن الترمذي په حواله، ټوک ٥، مخ ٥٥ ، او د طبريتاريخ ، ټوک۲ ، مخ۲۷۸ - ۲۷۹ .

د الله رسول (ﷺ) به هروخت په دی جنگ کې د گډون له امله فخر کاوه حتی کله چې په رسالت سره مبعوث هم شو، او فرمایل به یې: د (عبد الله بن جدعان) په سرای کې مو چې په کوم تړون کې گډون وکړ هغه د سرو وړیو لرونکو اوښانو نه هم را ته گران ده[1].

## ۱۳ - د قریشو د مشرانو تر منځ د حجر الاسود د ځای په ځای کولو د شخړې حل:

حضرت محمد(ﷺ)د هغې زیرکۍ او پوهې له مخې چې له ده سره وه دحجر الاسود د ځای په ځای کولو شخړه په حکیمانه ډول حل کړه .

## ۱۴ - حضرت محمد (ﷺ) د پنځه دیرشو کلونو وچېد کعبې شریفې د بیا جوړولو چې د سیل له امله خرابه شوی وه اقدام وشو:

د هغې د هري برخی بنا ییځانگړې هری قبیلې ته وسپارله او دهغی اعمار یې ده رومي قوم ته وسپارل، کله چې د کعبې اعمار د (حجر الاسود) د ایښودلو و ځای ته ورسید نو په همدی وخت کې د حجر الاسو د ایښودلو شرف د تر لاسه کولو لپاره د قریشو تر منځ اختلاف را پیداشو چې (۴- ۵) شپې ورځې وخت یې ونیو داسې څرگندیده چې خونړی جنگ به را پیښ شی اولویه فاجعه په را منځ ته شی، په دی وخت کې (أبوأمیه بن مغیره مخزومی) وړاندېز وکړ چې کوم لومړی

۱- الرحیق المختوم، مخ۷۸.

مسجد ته را داخل شو نو د هغه پريکړه به منو دا وړانديز ټولو وه مانه نو الله وه غوښتل چې داسړی به د اسلام پيغمبر حضرت محمد (ﷺ) وي، چې کله يي وليد نو په يو غږ يي وويل دا دی محمد (امين) او دی يې له ماجرا څخه خبر کړ، حضرت محمد(ﷺ)څادر خپور کړ او حجر اسود يي پکېکيښوده او د قريشو مشرانوته يي وويل چې اوس نو د هري قبيلې مشر د څادر يوه څنډه ونيسي او حجر الاسود د ځای په ځای کولو لپاره پورته کړی کله چې يي پورته کړه نو حضرت محمد(ﷺ)په خپلو لاسونو مبارکو حجرالاسود را واخيسته او په خپل ځای کېښکيښوده په دې حکيمانه پريکړی سره يې دا شخړه حل کړه او پای ته يي ورسووله.

**د خبرو خلاصه او دبحث نتائج:**

۱ – ښايسته خلقت، فطري او ذاتي کمالات او په ماشوم توب او ځوانۍ کې د اسلام د پيغمبر زرينی کړنې، او د ژوند تر اخيره ټولې ښيګڼی په حقيقت کې د الله عنايت، رعايت او تدبير وه تر څو هغه د يو ستر مسؤليت، امانت او دنړۍ څيرې ته د تغيير ورکولو لپاره چمتو کړی، تر څو د نړۍد تاريخ مسير خپلی لاری ته را واړوی، او د خلقت څيره د خپلو مخو او اهدافو په لور سمه کړی او بشر د رشد او کمال حقيقت ته ورسوی.

۲ - هیڅوک د حضرت محمد (ﷺ) له محترمی کورنۍ او خپله د ده له مبارک شخصیت سره د مقایسی وړ نه دی هغه د دین اساس او د ثابت یقین عماد دی، حضرت علی (رضي الله عنه) دحضرت محمد (ﷺ)د شخصیت او نسبت په اړه فرمایي: د پیغمبر قرارګاه غوره قرارګاه وه او دهغه د تربیې محل او کور رنۍ معزز ترین ځای وه. د میني او محبت، سلامتۍ، او عفت، نه ډکې کورنۍ کې را لوی شو، د نیکانو او ښو خلکو زړونو کې د ده مینه پیداشوه او د خلکو سترګې د ده په لور کړې شوې، کورنۍ یي له غوره کورنیو څخه وه، او د وجود ونه یي له بهترینو ونو څخه وه چې خاښونه یي سیخ او میوې یي ښکته چې ټول ور ته لاس رسی لری، د زیږیدلو ځای یي مکه او د هجرت ځای مدینه ده، هغه چې د زوکړی ځانګړتیاوی یې ټولوته مبارکې ده. الله تعالی هغه د پیغمبرانو له یوې تنه لرونکي وني،اود نوراو هدایت او بی مثله او لوړمقام د (بطحا) په توره شپه کې له بلو ډیوو، او د حکمت له چینو څخه غوره کړ. او له هم هغه وخته چې دی مبارک یي له شیدو خوړلو څخه پرې کړ الله تعالی خپلې لویې ملکې (جبرائیل) ته امر وکړ چې دی تربیه کړي او شپه او ورځ هغه ته د ښو اخلاقو، ښې روزنې او بزرګی لارې چارې روښانه کړي. [۱]

---

۱- د پیغمبر اعظم صلی الله علیه وسلم د سیرت ځانګړتیاوې، د عالمانو د یو ټولی تصنیف، ۱۳۸٦ کال، ط ۱، مخ ۲۵۵- ۲۵٦.

۳ – څرنګه د حضرت محمد (ﷺ)میلاد تجلیل کړو او دهغه اخلاق او اوصاف د خپل ځان لپاره سرمشق وه ګرزوه؟:

**الف**: د نبوي سنت او سیرت تبلیغ او تدریس د ټولني ټولووګړوته دي.

**ب**: ماشومانو او ځوانانوته د فکري رشد او انساني کمالاتو د سرمشق نمونې په موخه د حضرت محمدﷺد ماشوم توب او ځوانی، ذاتي کمالاتو او سلوکې صفاتو تبلیغ او تدریس کول.

**ج**: د عام المنفعه پروژو په جوړولوکې لکه: مسجد، مدرس، شفاخانه، کتابخانه، دارالأیتام، سرک، نهال شانی، د ځاګانو کندل او د څښاک د ابو چمتوکول، د مریضانو تداوي کول او مستحقینو ته د خیرات چمتو کول او داسې نورو خیریه کارونو کې اقدام کول.

**د**: د بی وسه متعلمینو او محصلینو لپاره د فیسونو چمتو کول، لیکلوانو او دعوت ګرانو سره مرسته کول، د کتابو نو او ګټورو آثارو نشراو چاپ کول، او نورو خیریه کارونو کې خاص د الله لپاره او حضرت محمد (ﷺ)د مینی په خاطر شرکت کول.

**ه**: د الله نه وروسته د حضرت محمد(ﷺ) سره مینه کول چې دامینه د مور او پلار، اولاد، او مال او حتی له خواږه ځانه هم زیاته وي باید وشي اوپه حضرت محمد(ﷺ)با ندې ډیر درود وویل شی.

**و**: د حضرت محمد(ﷺ) له سیرت او قرآنی اخلاقو څخه د او لادونو او ټولو ماشومانوپه روزنه کې باید پوره ګټه واخیستله شي. د وړکتوب، ځوانی له بعثته تر رحلته ټولو ځانګړتیاوو او ذاتي کمالاتو، څخه د کمال او پرمختګ او اخروي

سعادت د یواځنۍ لارې تر عنوان للاندې کار وشی الله تعالی فرمایي: (**لقد كان لكم في رسول الله أسوة حسنة** ).[1]

ترجمه: ستاسو لپاره د الله درسول په ژوند کې غوره تګ لاره دی.

اللهم ارزقنا حبک و حب حبیبک و صلی الله علیه وسلم! یا منان وثبتنا بالقول الثابت فی الدنیا و الآخرة:

و آخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمی

۱- د الاحزاب سورت ، ۲۱ آیت.

## ۲۰

## د رحمت پیغمبر بعثت (له بعثت څخه تر هجرته پوري)

**الحمد لله القائل : لَقَد مَنَّ اللّهُ عَلَى المُؤمِنِينَ إِذ بَعَثَ فِيهِم رَسُولاً مِّن أَنفُسِهِم يَتلُو عَلَيهِم آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِم وَيُعَلِّمُهُمُ الكِتَابَ وَالحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا مِن قَبلُ لَفِي ضَلالٍ مُّبِين[۱] و أشهد أن لآاله الا الله و حده لاشریک له الذيأدب رسوله وهذبه فأحسن تأديبه، و أكمل تهذيبه؛ حتى صار خلقه القران، وأشهد أن سيدنا محمدا الذي أخبرنا بقوله« انما بعثت لأتمم مكارم الاخلاق »[۲] رسوله، اللهم صل وسلم عليه و على آله و صحبه و كل من اهتدى بهديه الى يوم الدين.**

اما بعد: **لقد وصفه الله تعالى رسوله بقوله: (وَإِنَّكَ لَعَلى خُلُقٍ عَظِيمٍ).[۳]**

و أیضا قال: **( وما أرسلناک الا رحمة للعالمين).[٤]**

محترمو مشرانو او گرانو کشرانو د نن ورځی خطبه مو د بشریت د منجی د بعثت په اړه چمتو کړي ده تر څو په دی پوه شوچې د بشریت منجی څرنگه او چېری

---

۱- د آل عمران سورت ۱٦۳ آیت.

۲- مسند الامام احمد، حدیث: ۸۹۵۲.

۳- د القلم سورت: ٤ آیت .

٤- د الانبیاء سورت: ۱۰۷ آیت.

مبعوث شو؟ په هغه وخت کي د انسانانو وضعیت په څه ډول وه او د ده مبارک په راتگ سره په نړۍ کي څه ډول تحولات را منځ ته شو؟ او دا هم جوته شی چې په اوسنی عصر کې د اسلامی امت انحطاط او د شاته پاته کېدو لاملونه څه دی؟

د عالمیانو پالونکې وړاندې له دینه چې د اسلام پیغمبر(ﷺ) د رسالت په لوړ مقام مشرف کړی؛ درې کاله یې د پیغمبر د عزلت اوخلوت لپاره مقدر کړل تر څو هغه د یولوی مسؤلیت لپاره چې د هغه په انتظار کې دي چمتوکړي، چې عبارت دی له هغه لوی مسؤلیت هغه د امانت لوی بار او هغه دنړی دځیرې بدلون او د تاریخ د مسیر سمون څخه.

د الله رسول(ﷺ) مخکې له دینه چې د رسالت لوړمقام ته ورسیږی همیشه د روژې مبارکې یوه میاشت د (جبل النور) په غار حراء کېچې په مکه مکرمه کې موقعیت لری په یواځنی حالت تیراوه د ټول مخلوق د خالق او پالونکې او هغه څه چې د ځمکې پر مخ ښکاره او پټ دی تفکر کاوه، آن تر دی چې د تفکر او خلوت د دي دریم کال را ورسید الله تعالی وغوښتل چې خپل رحمت د نړي شامل حال وه گرځاوی او حضرت محمد (ﷺ)ته یې رسالت او ستره معجزه قرآنکریم ورکړ.

د تاریخ په رڼا کې د تدقیق او تحقیق د قرائنو او دلایلو له مخی کولی شو چې د جبرئبل نزول په حضرت محمد(ﷺ) داسې ترتیب او مشخص کړو: حضرت محمد

(ﷺ) د دوشنبې په درځ د رمضان د مبارکې میاشتي په یویشتمه د(القدر) په مبارکه شپه د خلوت او تفکر دریم کال د جبل النور په (حراء) غارکي د جبرئیل په واسطه چې(٦١٠) میلادی لسم داوت سره سمون لري په پیغبری مبعوث شو په دې وخت کېد ده مبارک عمر څلویښت کاله شپږ میاشتي دوولس ورځي د قمری کال له محاسبې سره وه چې٣٩کاله ٣ میاشتی او ٢٠ ورځو د شمسی څخه کېږي.[1]

## د وحي د نزول ماجرا:

ګرانو مؤمنانو او د رحمت د پیغمبر عاشقانو! آیا د وحی د نزول په اړه پوهیږی چې څنګه شروع شوه؟ له ام المؤمنین عایشة –رضي الله عنها- څخه په حضرت محمد(ﷺ)د وحی د نزول حکایت در ته را نقل کوم، د رسول الله میر من ام المؤمنین عایشة(رضي الله عنها)فرمايي: د وحې لمړي مرحله له ریښتینو خوبونو شروع شوه، هر څه چي به یې په خوب کې لیدل د سهار درڼا په څیر به ریښتیا کېدل په دی وخت حضرت محمد – صلی الله علیه وسلم ـ یواځی توب خوښیده او په غار حرا کښی یې ګوښه والي ته دوام ورکړ او له کورنه به یې څه توښه واخیسته او هلته یې عبادت کولو ته مخه کړه، ترڅو هلته ورته حق څرګند شو

---

١- په اقتباس سره له سیرة النبي صلی الله علیه وسلم (الرحیق المختوم) د مولانا صفي الرحمن مبارکپوري کتاب، د عبدالله هروي ژباړه، ط ٢، مخ ٨٨.

ملکه را ښکته شوه او ورته یې وویل: ولوله! نو د اسلام پیغمبر ورته وویل ما څه نه دی لوستی نو ملکې په غیږ داسې ټینګ کړچې خپل وس او توان یې له لاسه ورکړل او بیرته یې بریښودل او ورته یې وویل! ولوله نو ده مبارک ورته وویل ما څه ندی لوستي نو بیایې داسې ټینګ کړ چې وس او توان یې له لاسه ورکړ او بیرته یې پریښودل او ورته یې وویل ولوله! نو ده مبارک ورته وویل ما څه نه دی لوستي نو بیا یې په غیږ کې را ټینګ کړ او دومره یي تر فشار لاندي را وستل چې خپل وس او طاقت یې له لاسه ورکړاو ورته یې دریم ځل لپاره وویل: (**اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَخَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍاقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُالَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِعَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ**).[١]
(ای پیغمره (ص) ولوله د خپل رب په نوم چې هغه(ټول مخلوقات) پیداکړي د کلکې شوي وینې له ټوټې څخه یې انسان هست کړ؛ ولوله، او ستا رب ډیر مهربان دی؛ هغه چې د قلم په مرسته (انسان ته) علم وښود؛ انسان ته یې هغه علم ورکړ، چې هغه نه پرې پوهیده.
پیغمبر له دی آیتونو سره د زړه په ټکانونو او د بدن په رپیدو سره حضرت خدیجې ـ رضي الله عنها ته را غی او ورته یې وویل! ما پټ کړه! ماپټ کړه! کله چې ویره ورڅخه لرې شوه او آرام شو نو خدیجې رضي الله عنها ته یې وویل له ما سره څه وشواو هغه یې له ټولې قصې خبره کړه او زیاته یې کړه په خپل ځان ویریږم

---
١- د العلق سورت: ١-٥ آیتونه.

خدیجې ورته وویل نه داسې نه ده په الله مودی قسم وې چې الله به تا خوار نه کړی دا ځکه چې د قرابت اړیکه ټینګه ساتي او د بی وسو خلکو بار په خپلو اوږو اخلې او له بینوایانو سره مرستې کوې او خپل مال غریبانو ته ورکوې او میلمانه در باندې ګران دي او د حق د لارویانو پلوي کوې، وروسته یې هغه بیا د خپل کاکا زوی ورقه بن نوفل بن اسد بن عبد العزی ته وروست، هغه یو سپین ږیری سړی وه او د زوړ والي له امله ړوند شوې وه او د جاهلیت په دوره کي مسیحیت ته اوښتی وه او په عبری ژبه پوهیده او د انجیل بعضی برخې په عبري ژبه لیکلې، خدیجې هغه ته وویل ای د کاکا زویه له وراره دي څه خبرې واوره، ورقه ورته وویل! ای د کاکا زویه څه وینې؟ نو پیغمبر هغه څه چې لیدلې وه ورته بیا ن کړل ورقه بن نوفل ورته وویل دا هغه د الهی اسرارو پوه دي چې الله تعالی موسی – علیه السلام ـ ته لیږلې وه کشکې ځوان او تکړه وای؟ اې کشکي چې کله ستاقوم تا اخراج کړی او زه ژوندې واي، پیغمبر پوښته وکړه آیا زما قوم به ماوباسی؟ نو ورقه ورته وویل هو! هر هغه چا چې ستا غوندې پیغام یې را وړي وی د هغه قوم له هغه سره عداوت او دښمنی کوی خوکه هغه ورځ را ورسیدله او زه ژوندې وم نو په کلکه در سره دریږم او مرسته در سره کوم، اما له څه مودې وروسته ژوند ورسره وفا ونکړه

او مړ شو او وحې هم دوام ونکړ.[1] او ورسته له لسو ورځو انقطاع څخه د بعثت په لمړی کال او د شوال د میاشتی په اوله د شنبې به سهار بیا شروع شوه.

**د الله (ﷺ) په لور د دعوت مراحل:**

د الله استاځی د دعوت مراحل په دوو مرحلو کي پیل کړل:

**اول: په مخفی ډول سره د دعوت پیل:** د الله رسول خپل دعوت په مخفیانه ډول سره تر دریو کلنو دوام ورکړ. لمړنی کسان چې ایمان یې را وړل هغه حضرت خدیجه ـ رضي الله عنها ـ د ده مبارک خپله میرمن او ورقه بن نوفل، علی بن ابی طالب د کاکا زوی یې، زید بن حارثه چې د ده مبارک آزاد کړې غلام وه، او هغه لمړنی مشرکس چې د ده مبارک له کورنۍ څخه وه او د ده مبارک دعوته یې لبیک وویل هغه حضرت ابوبکر صدیق –رضي الله عنه وه.

**دوهم : په څرګنده د دعوت مرحله:** له دریو کلنو ورسته حضرت محمد – صلی الله علیه وسلم ـ دعوت په څرګنده او علنی ډول په ډیره زړورتیا او هوښیارۍ سره پیل کړ. دمکې خلکو لمړۍ د ده دعوت ټوکې او ملنډې بللې له څّه مودې ورسته یې د نبی ـ علیه السلام په ځورونه او ازار رسوونه پیل وکړ او حتی د پلویانو په وژنو یې شروع وکړه د مکې مشرکېنو چې کله ولیدل چې ډارونه او ځورونه د دغو

---

۱- الرحیق المختوم، ط ۲، مخ ۸۹-۹۰ په حواله د صحیح البخاري حدیث: ۳، او صحیح الام مسلم کتاب الایمان ، مخ ۲۵۲. او امام بخاري په لړ توپییر سره په الفاظو کې په دوه کتابونو کې: کتاب التفسیر او کتاب تعبیر الرؤیا، په دغو احادیثو کې راوړی دي: ۳۳۹۲، ۴۹۵۳، ۴۹۵۵، ۴۹۵۷، ۶۹۸۲.

محکمو ارادو په وړاندې نتيجه نه ورکوې نو د ترغيب او تطميع لارېې غوره کړه او د ده مبارک د کاکا له طريق يې ورته وړانديز وکړ هغه دا که محمد – صلی الله عليه وسلم ـ د توحيد دعوت څخه مخ واړوی او دا کار پريږدي نو چې څه وغواړی هغه ورکوو هغه که قدرت وي، که دولت وي، که ښخه وي، او داسې نور مگر د اسلام پيغمبرپه ځواب کې ورته وويل :که لمر می په ښی لاس او سپوږمۍ می په چپ لاس کې کېږدي لا به هم له دي کاره لاس وانه خلم ترهغه وخته به دوام ورکړم ترڅو يې الله تعالی کاميابۍ ته ورسوی او يا به په دغه لارکې خپل ځان الله ته وسپارم. [1]

## د قريشو د مشرکېنو سپکاوي او ربړوني او دهغوي په وړاندې د پيغمبر او دهغه ديارانو صبر او سر ښندنی:

د بعثت په څلورم کال د دعوت له را ځرگنديدو ورسته د قريشو د کفارو عداوت او دښمنی د نبی ـ عليه السلام او د هغه ديارانوپه وړاندي لا زياته شوه لکه څرنگه چې يې له هيڅ ډول ربړونی، اهانت او اذيت څخه مخ نه اړاوه، د جهل، ظلم او بت پرستۍ څخه دخلکود ژوغورلو په موخه د حضرت محمد – صلی الله عليه وسلم ـ او دهغه ديارانو له زړه برنوونکو له غم او درد نه ډک داستانونه لری چې د

---

۱- (جستارهايی در دين شناسی تطبيقی) سيد احمد اشرفی کتاب ، د افغان مسلکی مطبعه ۱۳۸۹، ط ۱، مخ ۳۲۹ .

بشرد تاريخ په ځلانده صفحو کې په زرين خط د رښتينی اسلامی تاريخ، د امن، صلحی د پيغام راوړلو تر عنوان لاندي ثبت دي.

د ياسر او دهغه د زوي عمار او کورنی ربړونی او په اخر کې د همدغو ځورونو له امله د شهادت لوړ مقام ته ورسيدل او د «خبيب» او خباب» بلال حبشی، صهيب رومی د ربړوني او ځوروني داستانونه د هيريدو نه دې، سميه بنت خياط، د ابو حذيفه بن المغيره مينځه چې د ډير عمر لرونکې وه او مسلمانه شوېوه چې د ابو جهل له لوري دنيزې وهلو په شهادت ورسيده او داسې نور داستانون چې د دې بحث له حوصلې څخه زيات دي، په دی ځای کې د (زنيره) داستان د مثال په توګه درته وړاندې کوم.

(**زنيره**) يوه رومي و ينځه وه چې په اثر دی زياتی شکنجی سره يې خپلې سترګی د لاس څخه ورکړی ، په داسې حال کېچې د زيات درد او تکليف څخه يي چغي وهلي ، ظالمانو وويل ( لات او عزی ) ته پدغه مصيبت باندې اخته کړی يې دی په جواب کې ورته وويل ، زمادی په الله (ﷻ) سره قسم وي دوی داسې ندی کړي ، بلکه الله (ﷻ)داسې وکړل، او که چېرته الله (ﷻ) وغواړی ماته به شفا را کړي ، نو هم داسې وشول الله (ﷻ) دی ته بله ورځ شفا ورکړه او د الله (ﷻ) په فضل سره روغه او جوړه شوله او بينا شوله ، قريشو وويل دغه هم يو جادو وهد محمد(ﷺ) لم د جادو څخه چې دا پرون نابينا وه او اوس په يوه ورځ کې بينا شوله.

(**ام عبیس**) چې بن زهرة وینزه وه د مشرکینو او خپل مولا ( اسود بن عبدی غوث )چې د پیغمبر علیه السلام د سخت ترینو دشمنانو څخه وه سخته شکنجه شوله، او همدا رنګه (عمر بن موسل وینزه ) چې د بني عدی د قبیلی څخه وه کله یېچې اسلام قبول کړ د عمر بن خطاب په توسط سره په هغه وخت کې چه ده ایمان لانه وه راوړی دومره شکنجه شوله ، چې تر څو پوری به دی نوه سترړی شوی د وهلو څخه نو دا به یې نه پریږ دله(نهدیه او دهغی لور چې د عبدالدار د قبیلی سره یې ارتباط درلود ،دوی هم د هغو وینزو د جملی څخه وی چې مختلفی شکنجی یې پرځان منلی او قبولی کړی وی ، او همدارنګه ( عامر بن فهیره ) ته به دومره شکنجه ورکول کېدله چې د بهو شۍ حالت به ورباندې راغللو ، تردی پوری چې حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه دغه مظلومان کنیزان و اخیستل او وروسته یې ازاد کړل.

حضرت ابوبکر صدیق او طلحه بن عبیدالله (رضي الله عنهما) دی نوفلبن خویلد عدی په توسط ، یا په بل روایت کې راغلی دي چې دی ( عثمان بن عبیدالله ) چې دی طلحه ورور وه په پړی باندې وتړل شول ، او دی لمانځه د ادا کولو څخه منع شول ، مشرکېنو به بعضی د پیغمبر (ﷺ ) صحابه کرام د په پوستکېکې تاوکړی وو . او دوی به یې په ګرمو شګو کې اچول ، او یوڅه نور تعداد به یې د اوسپنو په زغرو کې واچول او دوی ته به یې ورواغوستلی او بیا به یې په ګرمو

شگوکې واچول ، د حضرت عثمان بن عفان شکنجه کول د خپل تره په لاس سره، او دی ( ابوفکیهه) او د نور و ملگرو د نبی(ﷺ) شکنجه کول ، داسې واضح او ښکاره دلایل دي د اسلام په حقانیت باندېچې خپل زیات پیروان لري ، او هیڅکله ظالمانو ته نه تسلمیږي . دالله (ﷻ) او دهغه د پیغمبر محبت په خپل مال او اولاد او په خپل ځان با ندې مقدم گني او ترجیح ورکوي .

هغه ظالمان چې دی پیغمبر(ﷺ) صحابه کرام به یې شکنجه او تعذیب کول ، د دی جملی څخه ( امیه بن خلف ) دی د الله (ﷻ) له طرفه څخه په (۱۶-۱۴ ) آیتونو د سورة اللیل سره وعید شوی دی په داسې خطر ناک اور سره چې خپلی لمبی به پورته را وباسي ، مگر حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه او نور د اسلام د دین مظلومان او معذبین الله (ﷻ) د خپلی رضا او خوشحالی په ډالۍ سره نازولي دي او دوی ته یې زیری ورکړی دی په ۱۷ـ۲۱ آیتونو د سورة اللیل سره ) او هغه داستان او قیصه چې ډیره درد آوره او تعذیب آوره ده چې پیغمبر(ﷺ) د الله (ﷻ) د دین او دعوت په خاطر او دی نجات بشر په خاطر د الله (ﷻ)د دشمنانو او بت پرستانو لخوا گالاي دي او ده مبارک ته رسیدلی دی . د دغه بحث د احاطی څخه خارج دي یعنی مونږ نشو کولی چې هغه په دغه ناقص فکر سره بیان او تشریح کړو ، الله (ﷻ)خپل پیغمبر په صبر ، حلم او ثبات سره موصوف کړیدی ، او ده ته یې ډیر نازاو تشویق ورکړیدی او خپل نصرت او کومک یې په

سورة حجرآیت ٦ او په سورة ص آیت ۴ او په سورم القلم ایت ۵۱ او په سورة مطففین آیت ۲۹ الی ۳۳ او په سورة انبیا ء ایت ۵ او په سورة زخرف ایت ۳۱ او په سورة سبا ایت ۷ او په سورة فرقان آیت ۸ او په نورو ځایونو د قران کریم کې وعده د نصرت او کومک ورسره کړیده . [1]

**هغه تحولات چې دی پیغمبر(ﷺ) په بعثت سره په جامعه کښی راغلل:**

هغه ځوانان چې بادرکه او با احساسه او پیروان دنجات ورکوونکې د بشریت دي ، ایا تاسی پوهیږی چې دپیغمبر(ﷺ) په بعثت سره کوم د تحولات او تغیرات په جامعه کښراغلل؟ د پیغمبر(ﷺ)بعثت په حقیقت کې یو ډیر عظیم او جامع انقلاب وو ، چې په اول ځل په ټول جهان کې راغی ، او تاریخ د انسانیت یې د سر څخه شروع کړلو او جهالت او گمراهي او نور و توروشپو د شمنیو ته یې خاتمه ورکړه ، او دی پیغمبر (ﷺ) په بعثت سره په اولین ځل د وحی الهی رڼا په ټول جهان کې خپره شوله او یو عظیم تحول یې د بشر په علمی او عملی او اخلاقی ډگر کې رامنځ ته کړ چې په تاریخ کښې ساری نه لیدل کېږي او داسې د سعادت او خوشبختی څخه ډک پیغام یې بشر ته راوړلو او جهل خرافاتو او شقاوت ته یې د ابد لپاره خاتمه ورکړه ، او هغو غافلو زړونو ته یې د کلمه توحید (**لااله الا الله**) په

---

۱- تفصیلی معلومات په الرحیق المختوم کتاب کې، مخ ۱۱۰- ۱۲۴ .

عقيده وړاندې کولو سره د مينی او اخوت پيوند ورکړلو ، او خلک يې د شرک بت پرستی ، ظلم دشمنۍ څخه د الله (ﷻ) د وحدانيت او عبادت په طرف سوق کړل، او د خلکو په منځ کښې د صلحی او آرامۍ حياتی تخم راژوندی کړلو ، او د خلکو حقوق ، کرامت او عزت يې را ژوندی کړلو ، اسلامی مفکر ، استاذ ندوی وايې ، هغه انقلاب چې رسول الله (ﷺ) د مسلمانانو په منځ کې ، او بيا د هغوی په واسطه په بشری جامعه کې راغی ، عجيب ترين انقلاب وو د بشر په تاريخکې، دغه انقلاب په ټولو خپلو جوانبو کې عجيب وو ، په تيزی کې ، په ژور واليکې ، او په خپل ټول وسعت او شامل والي کې ، او همدارنګه په قبلو لو د حق او شفافيت کې هم عجيب وو ، او هغه سخت زړه او بت پرسته عرب ، چې بعضی د دوی خاصيتونه لکه : وينی د يو بل تويول و او شهوت پرستي ، او داسې نور فاسد اخلاقچې د دوی په منځ کې رايج وو ، د پيغمبر (ﷺ) د حميده اخلاقو او راسخ عزم ، صبر ثبات او داسې نورو او صافو له برکته د وی ډير زيات تشويق شول او ډلی ډلی د اسلام په مقدس دين کې داخل شول ،، او په يو واحد لا شريک ذات با نديې ايمان راوړلو چې څښتن د ښايسته نومونودی،چې هغه رب العالمين، رحمان ، رحيم او د ټول جهان بادشاه دی او هغه قدوس ، مؤمن، مهيمن ، او عزيز دی او هغه جبار ، متکبر ، او خالق دی ، او هغه باري ، مصور عزيز دی ، او هغه (ﷻ) حکيم ، غفور دی ، او هغه ودود ، رؤوف دی ، پيداکول او نور اوامر صادر ول

دده په لاس کې دي ، او بادشایې د هرشي د ده په لاس کې ده ، د جنت په واسطه سره خلکو ته مکافات ورکوي ، او د جهنم په واسطی سره خلکو ته عذاب ورکوي ، هر چاته چې وغواړي د ده روزی زیاته وي او هر چاته چې وغواړی د ده روزی تنگوي ، هر شی چې په اسمان او ځمکه کې پټ دي په هغو باندې باخبر دی، او د سترگو په خیانت او دزوړونو په رازونو خبردار دی ، او نور هغه صفات چې دقدیم والی دالله (ﷻ) او د عدالت د الله (ﷻ)او په باره د علم د الله (ﷻ)کې په قران کریم کې د الله (ﷻ) لپاره ثابت شویدی ، پدغو ټولو باندې د ، کامل او عمیق ایمان د دوی په وجودونوکې یو عظیم تحول را وستلو .[1]

هو، پیغمبر (ﷺ) دا ول ځل لپاره د بشریت تاریخ ته د سره نوی تاریخ وربښلو ، د همدردی اخوت ، او دقانون بشر چې هغه مبني وي په حق او عدالت سره د دوی په منځ کښې رایج او عملی کړلو ، په نتیجه کې الله (ﷻ) دته غټه فتحه نصیب کړله ، او خلک ډله ډله د اسلام په مقدس دین کې داخل شول ، او نوی فصل د بشریت په تاریخ کې شروع شولو او دبشر نوع د الهی لطف مورد وگرزیدله ، او کامل ترین قانون چې د نورو ادیانو د منسوخ کېدلو سبب وگرز د نازل شو ، لکه

---

۱- ماذا خسر العالم بانحطاط المسلمیند استاذ سید ابو الحسن علی الحسني الندوی کتاب ، د عبدالحکیم عثمانی ژباړه د احسان خپرونه، ط ۱، ۱۳۸۴ کال ، مخ ۱۳۹ - ۱۴۰ .

څرنگه چې الله (ﷻ) فرمايي:(**الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا**).[١]

ژباړه : نن ما ستاسي دين ، ستاسی لپاره بشپړ کړ او خپل نعمت می پر تاسی پوره کړ ، او ستاسی لپاره می اسلام ستاسی د دین په توگه منظور کړ ).

راغب اصفهانی وايې ، چې کمال د شي تحقق د هدف د دغه شي ته اشاره ده ، يعنی چه دغه دين يو باهدفه او متحقق دين دی .[٢]

دغه لاندې مبارک ايت چې الله (ﷻ) فرمايي: ( **اليوم اكملت لكم دينكم** ) په نهم د ذی الحجی ، وروسته د فراغت د پيغمبر(ﷺ) د خطبی د(حجة الوداع ) څخه په وادي عرفات کې نازل شو .[٣]

دغه کمال د دين په دی خاطر سره دی چې شامل دی هر اړخ د دين او دنيا ته ، که هغه عقيدوي اړخ ، وي ، يا عبادتی يا اخلاقی او معاملاتيچې خپل انسان په ژوند کې ورته ضرورت لري که هغه مادی اړخ او يامعنوي اړخ وی چې د انسان زندگی وربانديې موقوفه وي دغو ټولو ته شامل دی.

١- د المائدی سورت : ٣ آيت.

٢- د بشر انتظار دين ته، د عبدالله نصری کتاب ، ط٣ ، مخ٧٩-٨٠.

٣- د الرحيق المختوم د مولانا مباركپوری کتاب ، د عبدالله خاموش ژباړه، ط٢ ، مخ ٦٥٧ .

**یوه ښائیسته او زړه ته ښکته کیدونکې نکته:**

هغه غټ با عزته ، صحابی حسان بن ثابت (رضي الله عنه) د پیغمبر(ﷺ)په وصف کې فرمایي:( و ما مدحت محمداً بمقالی، ولکن مدحت مقالی بمحمد)

ژباړه : ما په خپلو خبر و سره پیغمبر (ﷺ) ندی ستایلی . بلکه ما خپلی خبری د پیغمبر (ﷺ)په واسطه سره ستایلی دي او خپلو خبر وته می ښایست ورکړیدی مولف کتاب( نور جاویدان) دپیغمبر (ﷺ) سیاسی او نظامي حالت ته په اشاری سره فرمايي : پیغمبر (ﷺ) په خپل ژوند کې تر ایران او توران پوری ورسید ، پداسې حال کښې ایران دی یوځانګړې فرهنګ لرونکی وه اوتوران بیله دبل فرهنګ اوکلتوردرلورده ، او ترکانو خپل فرهنګ لرلو ، او همدارنګه رامیانو جدا یو فرهنګ لرلو، مګر د پیغمبر (ﷺ)رسالت په شان د هغه قمیص وه چې د هر چا لپاره مطابق د ده د قد او قامت غوخ شوی او ګنډل شوی وه ، او د ټولو اقوامو لپاره دغه یوه غټه معجزه وه ، چې ده ټوله کره د ځمکې په خپل لاس کې واخیستله، او خپل رسالت او پیغام یې هر ځای ته ورسولو او نافذیې کړلو ، او مونږ چې په ۲۱ قرن کې قرار لرو، او په تیریدولو د ۱۴ قرنونو اوس هم د پیغمبر(ﷺ) په شریعت او دین کې هیڅ قسمه تغییر ندی راغلی ، ځکه د پیغمبر(ﷺ)پیغامونه زمونږ په زمانه کې هم خپله تازګی او اهمیت ساتلی دی ، او ډیر نوی شیان او کامل شیان یي زمونږ روح، وجدان،او عقل ته زمزمه کړی دي ،ځکه ده دغه پیغامونه د هغه ذات له طرفه

لاس ته کړيدي ، او مونږ ته يې تبليغ کړيدی چې هغه په هر شيباندې کامل علم او قدرت لري نو ؛ځکه دغه پيغامونه د مونږ زړونو ته په ډير عجيب او تأثير ناک ډول سره داخل شويدی، او د مونږ ضمائريي بيدار کړل او په مونږ کښيې يو ډير غټ احساس پيدا کړلو چې مونږ د هغه احساس په خپلو زړونوکې وينو ، اود دغو پيغامونو په برکت سره زمونږ عقلونه روښانه شول مګر که دغه الهی پيغامونه نوی نو ډيره مشکله وه چې يو انسان دی وترانيږی چېداسې نظام رامنځه کړی چې د عصر ټولی غوښتنی ورپکې ځای په ځای شي او د بشر ټولو غوښتنو ته مثبت ځواب ووايېچې دغه کار د يو انسان د طاقت څخه بهر دی ، اګر که دی يو فيلسوف او نابغه دی زمانی هم وي ځکه انسان ډير ضعيف دی او د ده وضع شوی قوانين هم خالی د اشتباه څخه نوی . [1]

**د رحمت پيغمبر په عنوان د يو رئيس سر پرســـت د يوی کورنۍ ، بهترين نمونه دی لپاره د انسانانو:**

د اسلام ستر پيغمبر څرنګه چې يو عظيم او قرانی اخلاق درلودل خپله کورنۍ يې هم داسې تربيه کړی وه . چې د نبوت انوار د ورايه ورپکښی ځليدل ، او په هر طرف د دين کښيې ساری نه ليدل کيدلو، لکه عبادت، علم، عمل ، تقوا او داسې

---

۱- (نور جاويدان) د محمد فتح الله ګولن کتاب ، د استاذ فيض محمد عثمانی ژباړه، د باران خپروني ، کابل ۱۳۸۸ ط ا ، مخ ۸۰-۸۱.

نور، مؤلف د نور جاویدان وایې : پدی کې شک نشته دی چې د پیغمبر (ﷺ) کورنۍ په طول د تاریخ کې بهترینه کورنۍ وه چې د ځمکې په کره باندېبې مثل ندی تیر شوی د ده مبارک په کورنۍ کې همیشه د سعادت او نیک بختی بوی حس کېدلو ، او دغه مبارکه کورنۍ د امکاناتو مادی په لحاظ د غریبو او بی وزله کورنیو د دنیا څخه وه ، ځکه په میاشتی میاشتی به تیریدلی مگر پدغه مبارکه کورنۍ کې په دیگ نه جوش کېدلو او څه شی به ورپکښی نه پخیدلو.[1]

حضرت عروه بن الزبیر د بی بی عائشی رضي الله عنها څخه روایت کوي ، چې دا مبارکه وایې:(**كان يمر بنا هلال و هلال و هلال ما يوقد في بيت من بيوت رسول الله(ﷺ) نار فقلت: يا خالة ، على أي شي ء كنتم تعيشون ؟ قالت : ( على الأ سودين : التمروالماء)**.[2]

په روایت د بخاری او مسلم کې یو څه نور الفاظ هم پری زیات شویدیچې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي: ( **الا أنه قد كان لرسول الله (ﷺ)جيران من الأنصار كانت لهم منائح وكانوا يمنحون رسول الله (ﷺ)من ألبانهم فيسقينا)**.[3]

ژباړه : مگر داسېچې پیغمبر (ﷺ)د انصارو څخه همسایه گان درلودل، چې هغوی داسې د شیدو لرونکې وزی لرلی ، او هغوی به نبی (ﷺ) ته د هغو حیواناتو شیدی

---

۱- همدغه یاد مأخذ ، (نورجاویدان)،مخ ١٦ .

٢- شعب الايمان للبيهقي، حديث: ٩٩٣٩، او د امام احمد مسند، حديث: ٢٤٥٦١.

٣- صحيح البخاري، حديث: ٢٥٦٧.

رالیږلی او مونږ به دهغې څخه استفاده کوله او هغه به مو ښښلی ، د پیغمبر(ﷺ) کورنۍ دیوی مدرسی حیثیت در لود ، چې هغه مسائل چې د ښځو مربوط وو هلته به تدریس کېدلو ، او د دوی خصوصی مسایل او نور احوال د زندګی به هلته حل او فصلکېدل ، او بیا به دوی د همغه ځای څخه دغه مسایل امت ته منتقل کول ، په سلوکې ۹۰ فیصده احکام، د کورنیو مربوط هم دهغو پاکوازواجو مطهراتو په واسطه مونږ ته رسیدلی دي ، په قطیت مونږ باید دغه خبره واضح کړو چې د دنیا د ښځو زیات شیان چې دوی ته رسیدلی دي مربوط د احکامو هغه دی نبی (ﷺ)د ازاجو مطهراتو په وسیله رسیدلی دی ، نو اوس که چېرته د ټولی دنیا ښځی د ازواجو مطهراتو په لارکې سره خپل سرونه د دوی په لار کې فرش هم کړی نو بیا هم د دوی حق نشی ادا کولی ، د دوی مبارکو په کورنیو که همیشه د خوش بختۍ بوی احساس کېدلو او دی واریه ښکاره کېدلو، او دالله (ﷻ) رسول د دوی سره په عدالت سره رفتار کولو ، او د دوی حقوق یې همیشه په نظر کې نیول ، او په هفته کې یو وار د مبارک کولی شو چې هری یوی د دوی ته سرورښکاره کړی بیاهم ټولو ازواجو مطهراتو په باره دی نبی علیه السلام کې ویل : چې د الله (ﷻ) رسول په ټولو انسانانو کې تبسم کوونکې انسان وه د هر چا څخه زیات د خپلو ښځو سره په لطافت او مهربانی چلند کولو[1]هو، د پیغمبر (ﷺ)پاکې بیبیانی سره

۱- الطبقات الکبری لابن سعد، ټوک ا ، مخ ۳٦٥ او الجامع الصغیر للسیوطي، مخ ۱۳۱.

د هغه قرب چې دوی د الله (ﷻ) په نزد درلود بیا هم دوی فقیرانه زندگی اختیار کړی وه ، یو ساعت تیرول د دوی د الله د رسول سره په ټوله دنیا او د هغه په نعمتونو ترجیح ورکړی وه.

**رسول الله (ﷺ) مبنع او سرچشمه د هدایت وه لپاره د خپلی کورنی:**

پدغه ځایکې یوه هغه مسأله چې مونږ د هغه په ماحول کې گرزو او دهغه لپاره مقدمه جوړه وو ، دغه هغه منزلت او مرتبه ده چې د رسول الله (ﷺ) پاکو بیبانو دپیغمبر علیه السلام د تربیت په نتیجه کې لاس ته راوړی وه ، نبی (ﷺ)داسې موفق مربی وه ، چې په ډیره لږ زمانه کې دی مبارک د خپلو پاکو بیبیانو په زړونو او ارواحوکې داخل شو او د دوی لطف او مهربانی موردوگرزید .چې دوی مبارکې بل هیڅ شی ته توجه نلرله او د هیڅ شی فکر یې نه کولو ، نو د دی څخه معلومه شوله چې ده مبارک یوه خاصه الهی جاذبه لرله ، چې ده مبارک په بدغه جاذبه سره خپل چهار اطراف مسحور کولو ، نو دغه کار د نبی(ﷺ)د نبوت یو طرف ښه واضح کوي ، هو ، د الله (ﷻ) پیغمبر په هغه عظمت او وقار چې د ده په روح کې موجود وو ، د خپلو بیبیانو سره ډیر په لطافت او مهربانۍ زندگي کوله، د دوی سره ښه صمیمی وه ، یوه خبره چې ډیره واضحه ده هغه داده چې مونږ وروسته د نبی (ﷺ) د وفات څخه شاهدیو د ډیر حسرت هجران او حزن ، هر ځلی چې حضرت

ابوبکر او حضرت عمر (رضي الله عنهما) د نبی (ﷺ) د یوی بی بی له جملی د بیبانو څخه د ملاقات لپاره تللو ، نو د وی لیدل چې دوی په چیغو چیغو ژړل ، نو بیا به دوی هم ورسره ژړل ، او دغه باربار ژړا د دوی تراخری زندگی پوری ادامه پیدا کړله دغه هغه عظیم اثر دی چې د الله (ﷻ) رسول د دوی په زړونو کې ځای پرځای کړی وه ، سره د دی چې د پیغمبر(ﷺ) ژوند د دوی سره ډیر اوږدنوه مگر هر کله دوو جهانو سردار منبع او سرچشمه دی هدایت وه نو ځکه یېپه ډیر کم وخت کې د دوی په زړونو کې دای عجیب تاثیر او محبت واچولو نو په حقیقت کې د الله (ﷻ) رسول یو رئیس او سرپرست د کورنیووه .[1]

**د پیغمبرانو (علیه السلام) د رالیږلو حکمت:**

**محترمو وروڼو!**

هغه خلک چې د الله (ﷻ) توحید ورته خوښ دی یعنی د الله (ﷻ) د توحید د مکتب دوستان دي ، په دغه للاندې کرښو سره غواړم چې دی پیغمبرانو (علیهم السلام) دی رالیږلو حکمتونه تاسی ته بیان او واضح کړو مگر د وخت د کمی په خاطر غواړم چې په لاندې یو څو نقطو سره بیان کړم .

---

۱- (نور جاویدان) مخ ، ١٦ـ ١٨،٢٠،،٢٣ او ٣٣ .

الله (ﷻ) دغه عالم عبث ندی پیدا کړی ، نو بیاڅرنګه ممکنه ده چې انسان یو بهترین مخلوق دی د ځمکې په سر بغیر د یو لارښوونکې څخه پریښودل شي او د خپلو خواهشاتو مطابق زندګی وکړي ؟

په شروع کې الله (ﷻ) انسان په یو بهترین قامت او شکل سره پیدا کړلو او د ځمکې ټول مخلوقات یې دته مسخر وګرزول لکه چې الله (ﷻ) فرمايي:(**هو الذي خلق لکم مافی الأرض جمعیاً**).[1] ژباړه : هماغه ذات دی چې تاسی لپاره یې د ځمکې ټول شیان پیدا کړل ).

الله (ﷻ) صرف انسان بیهوده ندی پیدا کړی بلکه دغه ټول کاینات یې په دغه عجیب نظم ترتیب او زیبايې سره بیا هم عبث ندی پیدا کړی ، لکه څرنګه چې الله (ﷻ) فرمايي : (**رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَذا بَاطِلًا**).[2]ژباړه : ای زمونږ ربه ، دا ټول شیان تابابیزه او بې مقصده ندی پیدا کړی.

چې د دوي دراليږلوکې موخې په لاندې ډول دی:

---

۱- د البقرې سورت ۲۹ آیت.

۲- د آل عمران سورت ۱۹۱ آیت.

**۱ – رهنمايي د خلکو د خپل پيدايښت د هدف په لوري :**

پيغمبرانو د دی وجه څخه خلک د الله (ﷻ) د عبادت او قرب په طرف رابلل چې تر څو دوی د خپل خلقت په هدف باندې پوهه شی چې مونږ دڅه لپاره پیدا شوی.[۱]

الهی حکمت دغه خبره ايجابوي ، چې ترڅو الله (ﷻ) پيغمبران (عليهم السلام) د خلکو د هدايت لپاره راوليږي د دی لپاره چې خلکو ته د هدايت او کمال لاری وښايې ياپه بل عبارت سره ترڅو خلکو ته د دوی د خلقت هدف وښايېچې هغه د الله (ﷻ) بندگی او عبادت دی او هدف اصلی د خلقت د انسانانو او پيريانو څخه عبادت د الله (ﷻ) او دی طاغوت څخه ځان ساتل دی او الله (ﷻ) د پيغمبرانو د راليږلو مهم هدف د الله (ﷻ) توحيد ته دعوت کړل دي د خلکو ، او د کمال د توحيد سره نفی د طاغوت ضروری ده .

الله (ﷻ) فرمايي: ( **و ماخلقت الجن و الانس الا ليعبدون** ).[۲] ژباړه : ماندې پيدا کړی پيريان او انسانان مگر لپاره دخپل عبادت) او همدا رنگه فرمايي : (**وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ اعْبُدُواْ اللّهَ وَاجْتَنِبُواْ الطَّاغُوتَ**).[۳]

---

۱- د بشر انتظار له دين څخه دکتور عبدالله نصری کتاب، مخ ، ۳٦ ، ۵۳ .

۲- د الذاريات سورت ۵٦ آيت.

۳- د النحل سورت ۳۵ آيت.

ژباړه : مونږ په هرامت کې یو پیغمبر پیدا کړ ( ولیږلو ) او دهغه په وسیله موتهول خبر کړل چې دالله (ﷻ) بندگی وکړئ او د طاغوت له بندگۍ څخه ځآنونه وژغورئ.

## ۲ - مکمل کیدل د حجت (دلیل) پر بندگانو باندې :

یو بل حکمت د پیغمبرانو (علیهم السلام) په رالیږلو کې اتمام د حجت دی پر بندگانوباندې په وخت د حساب د اعمالو کېیعنی انسانان په روځ د قیامت د الله (ﷻ) په حضور کې عذر پیش نکړی چې مونږ ته کوم یو پیغمبر رهنمانوو راغلی ، نو مونږ ته یا الله ولی عذاب راکوی ؟ نو الله (ﷻ) تهول اوامر او نواهی خپلو بندگانو ته ورلاندې کړل چې ای خلکو د یو الله ﷻ عبادت وکړی او دهغه سره شریک مه پیدا کوی، نو وروسته د پیغمبرانو د رالیږلو خلکو ته هیڅ قسم عذر پاتی ندی ، او دوی نشی کولی چې هغه اول میثاق یې الله (ﷻ) د دوی څخه اخیستلی وو هیر کړی چې الله (ﷻ) فرمايي : (**اَلستُ بربکم** ) او انبیا ء علیهم السلام ، هم زیری ورکوونکې او هم ویروونکې دي ، لکه څرنگه چې الله ﷻ فرمايي: (**رُّسُلًا مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلاَّ يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى اللهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ وَكَانَ اللهُ عَزِيزًا حَكِيمًا**).[۱]

ژباړه : دا تهول پیغمبران زیری ورکوونکي او ویروونکې لیږل شوی دی ، چې د هغوی د پیغمبر کولو څخه وروسته د خلکو سره د الله ﷻ په مقابله کې څه سند

۱- د النساء سورت ۱٦٥ آیت.

پاتی نه شي او الله (ﷻ) په هر حال غالب او حکیم دی . او همدارنګه فرمایي :
(وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّى نَبْعَثَ رَسُولًا)[1]
ژباړه : او موږ عذاب ورکونکي نه یوو ، تر څو ( دحق او باطل پرتو پیر د خلکو د پوهولو لپاره ) یو پیغمبر ، له پیغام سره ، ونه لیږو .

## ۳ – حفظ او سلامتیا د فطرت له انحرافاتو څخه :

د دی وجه څخه چې انسان محکوم په نقص ( کموالي ) سره موصوف دی ، یعنی انسان ډیر ضعیف دی په مقابل د شهواتو او نورو مشکلاتو سره نو دی په خپل ناقص عقل سره نشي کولی چې دخپل نفس تصفیه او تزکیه وکړی ، او خپل نفس د انحرافاتو څخهوساتي ، اوخپل فطرت سلامت وساتي او دی په تنهائی هیڅکله نشی کولی چې خپل مسیرد ځان لپاره وټاکي او تکامل او سعادت ابدی ته ځان ورسوي ، نو حتما دی یو داسې رهبر او رهنماته ضرورت لري ، چې د ده سالمه تربیه وکړی او دی د تعلیم او تکامل په لاره سوق کړي چې دغه کامل رهنما ندی بغیر د انبیاء (علیهم السلام) څخه بل څوک ، ځکه د دوی منبع او سرچشمه اخلی چې هغه الله (ﷻ) ( علیم ، حکیم ) او په نورو او صافو د کمال باندې موصوف دی ، د دی لپاره چې انسان مکمل تکامل ته ورسیږی او د خپل نفس تزکیه وکړی

---

۱- د الاسراء سورت ۱۵ آیت.

او دی دنیا او اخرت سعادت ځان ته حاصل کړی نو باید د دغه وحی الهي د ارشادتو مطابق خپل ژوند عیار کړي .

**۴ – د کتاب او حکمت تعلیم او تأمین د عدالت :**

بل حکمت د پیغمبرانو په رالیږلوکې دا دی چې دوی د الله (ﷻ) بندګانو ته تعلیم د کتاب او حکمت ورکړی او دهغوی د احکامو څخه یې خبر کړی او دځمکې په مخ عدالت الهي تأمین کړی ، د الله (ﷻ) پیغمبرانو (علیهم السلام) دی همیشه لپاره دغه شکل کړیدی چې دغه خپل عظیم مسؤلیت او امانت بشری ټولینی ته پر ډیر قوت او امانت شک ورسوي ، او دوی ډیر جد جهد ورکړلو چې د حق او باطل په منځ کې فرق او تمیز خلکو ته ښکاره کړی ، او خلکو رابلل د اخروي ژوند په طرف ، تزکیه ، تقوا ، او داسې نور د دوی د ژوند او دعوت اساسی اهداف دي الله (ﷻ) فرمايي : (**لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ وَأَنزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ**).[۱]

ژباړه : موږ خپل پیغمبران له روښانو څرګندو و نښانو او هداتو سره ولیږل ، او له هغو سره مو کتاب او تله نازل کړل ، ترڅو خلک پرعدل قائم او برابرشیاو اوسپنه مو راکوزه( پیدا) کړه چې په هغی کښې ډیر زور دی او د خلکو لپاره ګټی دی .[۲]

۱- د الحدیدسورت ۲۵ آیت.

۲- سیاسي فقه د شیخ یوسف قرضاوي کتاب، مخ ۳۳-۲۵، او ۴۱.

**د ګلونو کیډۍ د پیغمبر(ﷺ) د فضیلتونو په هکله:**

څومره ښائسته ده چې د نبی (ﷺ)د فضیلوتو په هکله چې الله (ﷻ) دته په نورو انبیا (علیهم السلام)باندې ورکړیدی د یو مبارک حدیث په رڼا کې بیان کړو ، نبی(ﷺ) فرمایي: ( **فضلت على الأنبياء بست: أعطيت جوامع الكلم، و نصرت بالرعب و أحلت لي الغنائم و جعلت لي الأرض مسجدا و طهورا، و أرسلت الى الخلق كافة و ختم بي النبيون** ).[۱]

ترجمه : په شپږو شیانو سره ماته په نورو پیغمبرانو باندې فضیلت او بهتری راکړل شویده:

۱ – ماته جوامع الکلم راکړل شویدی ( چې الفاظ یې کم وي ، لکن پر معنا وي ، یعنی د ډیر معنا څخه ډک وي .

۲- او ماته فتح او نصرت راکړل شویدی په رعب ، ترس ، او ډار د دښمن سره ، یعنی مخکې لدی څخه چې زه حمله وکړم په دښمن باندې ، د الله (ﷻ)له طرفه د دوی په زړونو کې رعب او ډار اچول کیږي.

۳ – او ماته الله (ﷻ) حلال ګرزولی دی مال د غنیمت.

۱- صحیح الامام مسلم حدیث: ۵۲۳.

۴ – او دی ما لپاره گرزیدلی ده ټوله ځمکه ځای د سجدی او پاکوونکې یعنی په هرځای کې ماته د لمانځه ادا کولو جواز شته دی ، او ماته ټوله ځمکه پاکه گرزیدلی ده ، په هرځای کې ور څخه استفاده کولی شم .

۵ – او زه رالیږل شوی یم د ټولو خلکو لپاره ، نه لپاره د یو خاص قوم .

٦ – او په ماباندې د پیغمبرانو رالیږلو سلسله ختمه شویده، او په بل متفق علیه حدیث شریف کې راغلی دي:**عن جابر أن النبي(ﷺ) قال:( أعطیت خمسالم یعطهن أحد من الأنبیاء قبلي نصرت بالرعب مسیرة شهر، و جعلت لي الأرض مسجدا و طهورا، فأیمارجل أدرکته الصلاة، فلیصل، و أحلت لیالغنائم و لم تحل لأحد قبلي، و أعطیت الشفاعة ، و کان النبي یبعث الی قومه خاصة و بعثت الی الناس کافة وأعطیت الشفاعة )** .[1]

پدغه حدیث شریف کې د نبی صلی الله علیه وسلم هغه پنځه امتیازات ذکر شویدی چې نور انبیاء علیهم الاسلام یې نلري ، چې دغه مذکور شیان په مخکې حدیث شریف کې هم راغلی وه ، ماسوا د دغه جملی څخه ( اعطیت الشفاعة ) چې ماته دشفاعت کړلو اجازه هم راکړل شوه ، که چېرته دغه فضیلت د مخکېنو فضیلتونو سره جمع شی چې په مخکېنی حدیث شریف کې راغلی وه نو مجموعه او ۷ ته رسیږی.

---

١- صحیح البخاري حدیث: ٤٣٨.

**الله (ﷻ) دغه خاصه (جوامع الکلم) خپل نبي ته ورکړی وه :**

پدغه ځای کې تنها فضیلت دی ( جوامع الکلم) ته په طور د نمونی اشاره کوو :

جوامع الکلم پدی معنا سره دی ، چې د نبی(ﷺ) خبری ډیری ښائیسته ، جذابی ، او په زړونو کې ځای نیوونکې وي ، ده مبارک ډیر یو ممتاز ترین ، او اعلی ترین مقام د ټولو ، ادباء ، فضلاء ، او بلغاء په منځ کې لرلو ، په یوه کوتاه عبارت کې ده مبارک، یوه دنیا معاني او مفاهیم سره راټول کړل ، او فرمایي: ( **أعطیت جوامع الکلم**) په صحیح البخاری کې راغلی دي: (**من یضمن لي ما بین لحیېه و ما بین رجلیه أضمن له الجنة** ).[1]

ژباړه : هر څوک چې ماته ضمانت راکړی ، د هغو شیچې د ده دواړو ژآمو او دواړو پښو په مابین کې واقع دي نو زه د جنت ضمانت ورکوم .

هو : ټول فساد او فتنه چې رامنځ ته شویده د خلکو په مابین کې هغه د ژبی او شرمگاه په واسطه منځه ته راغلی ده ، چې دغه فساد نور وجود ته هم سرایت کوي او سلامتی د جسم او روح یې د خلکو او جامعی په مابین کې په خطرکې غورځولی ده ، او د صلحی او امنیت قضایې مختل کړیده ، او قسم قسم امراضیې په جامعه کې رامنځه کړیدی .

١- صحیح البخاري، حدیث: ٦٤٧٤ .

**د پيغمبر ﷺ راليږل دوه طرفه وو:**

د اسلام مفکر ، استاذ ندوی په هغه کنفرانس کېچې په مدينه منوره کې ( يعنی د هغی په اسلامي جامعه کې ) داير شوی وه د اسلامی امت د خصائصو په باره کې وويل : د نورو انبياء عليهم السلام بعثت ( راليږل ) يو طرفه وه ، مگر د پيغمبر (ﷺ) بعثت د دوه طرفه وه:

۱ – راليږل د پيغمبر(ﷺ)په طرف دامت

۲ – راليږل د امت په طرف د نورو امتونو

الله (جل جلاله) فرمايي : (**كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللّهِ**).[۱]

ژباړه: اوس په نړۍ کښې هغه غوره ډله تاسې ياست چې د انسانانو دلارښوونې او صلاح لپاره راليږل شوی ياست ، تاسی د ښو امر کوئ او د بديو څخه منع کولی.

او همدارنگه فرمايي: ( **يآ أيها الذين أمنوا کونواقوامين بالقسط** ).[۲] ژباړه : اې مؤمنانو د عدالت علمبرداران او دخدای لپاره شاهدان اوسئ) او د الله (جل جلاله) رسول هغو

۱- د آل عمران سورت ۱۱۰ آيت.

۲- د النساء سورت ۱۳۵ آيت.

خلکو ته په خطاب کې وويل چې د وی يې يمن ته ليږل:( **بعثتم ميسرين و لم تبعثوا معسرين** ).[1]

ژباړه : تاسی لیږل شوی یې آسانی کوونکې ، او نه سختي کوونکې .

اصحابو کرامو دغه حقیقت ډیر ژور درک کړی وه او بغیر دکوم تکلف څخه د دوی په ژبو باندې جاری وه څرنګه یې( ربیعه بن عامر ) په خطاب کې رستم ته چې د فارس د لښکرو مشروه وویل: ( **الله ابتعثنا**) الله (ﷻ) موږ رالیږلی یو ، او داسېیې ونه ویل چې موږ راغلی یو .

(**الله ابتعثنا لنخرج من شآء من عبادة العباد الى عبادة الله وحده**...).[2]

نو بنا پدغو عواملو سره ،کامیابی، پیشرفت، د امت اسلامي او د دغو بدبختیو او ګمراهیو څخه نجات او خلاصون په تمسک لګولو په عقیده اسلامي سره چې مرجع د هغی قرآنکریم او احادیثی نبوی دی ممکن دی ، اوس دلته یو سوال مطرح کیږي چې څرنګه امت اسلامي په دغه عصر حاضر کې د خوارۍ او ذلت ، هلاکت په کندوکې پروت ده ، د مسلمانانو د ذلت او خوارۍ اسباب څه دي؟ قرآنکریم د ټولو څخه مخکې د مسلمانانو د دغه ذلت او خوارۍ اسباب بیان

---

۱- صحیح البخاري حدیث: ۲۲۰ ،٦١٢٨ .

۲- ماذا خسر العالم بانحطاط المسلمین د استاذ سید ابوالحسن علي الحسني الندوي کتاب ، دعبدالحکیم عثمانی ژباړه، د احسان خپرونه، کال ۱۳۸٤ ، ط ۱ ، مخ ٦٥-٦٦.

کړیدی او فرمايي:(**وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى**).[1]

ژباړه: او څوک چې زما له ذکر، نصیحت درس ، څخه مخ واړوي ، د هغه لپاره به په دنیا کښې تنګ ژوند وی او هغه مونږ ړوند پاڅوو په ورځ د قیامت او استاذ امام ندوی : د مسلمانانو قسم قسم اقسام د ذلت او د هغه اسباب تر یو غټ عنوان للاندې په کتابی شکل سره راغوند کړی دي چې د هغه نوم دی:( ما ذا خسر العالم بانحطاط المسلمین ) .

**د نجات (خلاصون) لاره د دغو بدبختیو او تورو ورځو څخه :**

څه شی باید وشي ؟ او د کوم ځای څخه شروع وشي ؟ د وه سوالونه دي چې علامه ابوالحسن ندوی مخکې جواب ورکړیدی.

دنیا هیڅکله کامیابی ته نه رسیږي ، سره د دی چې بهترین ځوانان په عربی ممالکو کې په خپلو شهواتو کې غرق دي او د دوی زندګی په محور ماده پرستی او د خیټې په لذتونو او خوراکونو کې چرخیږی ، ما سوا د دغو دووشیانو څخه دوی نور شی نه مراعات کوي ، د جهان لپاره هیڅ ممکنه ندهچې دوی سعادت ته ورسیږی ، مګر په هغه حالت چې دوی یو وار عبور (تیریدل) وکړي د جهاد ، او قربانۍ په پله باندې ، چې باید مسلمانان ځوانان یې تقدیم کړي او ځمکه ډیره

---

۱- د طهسورت ۱۲٤ آیت.

زیاته محتاجه ده کود (سرې) ته ، او د ځمکې کود چې په هغه سره ځمکه اصلاح کېږي ، او د اسلام د عظمت تخم ورپکښې زرغون کېږی هغه پرېښودل دفردي خواهشاتو دي ، چې باید عربی ځوانان هغه د اسلام د سر بلندۍ او د امنیت او صلحی ، او د خلکو په مسیر بدلولو د جهنم د لاری څخه په طرف د مسیر جنت قربانی کړي.[1]

یوازنۍ لار د مسلمانانو د حل د مشکل لپاره صادقانه او مخلصانه رجوع کړل دي خپل دین ته چې دوی د هر قسم مشکلاتو او مصیبتونو څخه خلاص کړی ، او دخپل پیغمبر او دهغه اصحابو کرامو لار تعقیبول دي په هر اړخ کې که هغه مادی اړخ وي یا معنوی ، او خصوصاً په دوی باندې لازم دی چې تمسگ ولگوي په کتاب الله او سنت رسول الله (ﷺ) سره ، د دی لپاره چې دغه وینا د الله (جل جلاله) د امت په هکله تحقق پیدا کړي چې فرمایي:(**وَيُنَجِّي اللَّهُ الَّذِينَ اتَّقَوا بِمَفَازَتِهِمْ لَا يَمَسُّهُمُ السُّوءُ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ**).[2]

ژباړه :کومو کسانو چې دلته پرهیزگاری کړی ده د هغو د بریالیتوب د اسبابو له امله به الله (جل جلاله)نجات ورکړی هغوی ته به نه څه آفت ورسیږی او نه به غمجن وي).

١- ماذا خسر العالم بانحطاط المسلمين كتاب، مخ٣٤٦-٣٤٧ .

٢- د الزمرسورت ٦١ آيت.

## د بحث پايلې:

**۱-** ډير مهربان او منان الله (ﷻ) په راليږلو د منجی بشريت (نجات ورکوونکې بشر ته) او په هغه باندې نزول د وحی الهی او دين مقدس اسلام په تکميلولو سره په بشر باندې ډير لوی انعام او احسان وکړلو چې تر ورځی د قيامت پوری به دغه انعام الهی جاری وي. په ټول بشريت باندې د دغه انعام الهي شکر فرض دی ځرنگه چې الله (ﷻ) فرمايي:(**لَقَد مَنَّ اللّهُ عَلَى الْمُؤمِنِينَ إِذ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولاً مِّنْ أَنفُسِهِمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِن كَانُواْ مِن قَبْلُ لَفِي ضَلالٍ مُّبِينٍ**). [۱]

او همدارنگه فرمايي:(**الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا**). [۲]

ژباړه: نن ورځ ما ستاسی دين، ستاسی لپاره بشپړ کړ او خپل نعمت مي پرتاسی پوره کړ، او ستاسی لپاره می**اسلام ستاسی**د دين په توگه منظور کړ او همدارنگه فرمايي(**النَّبِيُّ أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِن أَنفُسِهِم**). [۳]

ژباړه: پر مومنانو خو پيغمبر د خپلو ځانونو څخه لاگران دی.

---

۱- د آل عمرانسورت ۱٦٤ آيت.

۲- د المائدهسورت ۳ آيت.

۳- د الأحزابسورت ٦ آيت.

۲- که چېرته مونږ د نبي (ﷺ) سيرت تر ژورې مطالعې لاندې ونيسو نو هغه مبارک دخپلو يارانو په منځ کې هميشه ژوندي گورو او د ده ټول اقوال او افعال د دوی په زندگۍ کې مشاهدي کېږی.

او د ده اخلاقو تصوير د دوی په زندگی کې د واريه ښکاره کېږي لکه څرنگه چې الله (جل جلاله) د ده اخلاقو په هکله فرمايي: (**وَإِنَّكَ لَعَلى خُلُقٍ عَظِيمٍ**)[۱]

ژباړه: او بيشکه ته د لوړو اخلاقو مرتبه لري.

عکرمه د ابو جهل زوی وروسته له طولاني جنگونو چې ده او د ده پلار د پيغمبر (ﷺ)په مقابل کې وکړل د مسلمانی په وخت کې وويل: چې زه شاهدی وايم چې ما سواد الله (جل جلاله) څخه بل څوک لايق د عبادت نشته دی او ته د الله (جل جلاله) بنده او رسول يې، او زه شاهدی وايم چې ته بهترين د نيکو کارو او راست کارانو او بهترين د انسانانويې، او عکرمه وويل چې ما دغه خبری پداسې حال کې وکړی چې سر می د ډير شرم او حيا څخه د ځمکې په طرف نيولی وه.[۲]

۳- پيغمبر (ﷺ) په مدت د ديارلس کاله دعوت کېچې په ډير صبر او صداقت سره په مکه مکرمه کېد مشرکېنو په مابين کې سرته ورسولو ، او د اسلام مقدس دين ته يې ډيره فراخی ورکړله .

---

۱- د القلمسورت ٤ آيت.

۲- الرسول د الله اخري پيغمبر، سيعد حوي، د مصطفی أربابي ژباړه، مشهد واسع ۱۳۸۹ کال ، ط ۱، مخ ۱۸۰- ۱۸۱.

٤- وروسته يې د الله (ﷻ) په امر د مکې معظمی څخه مدینی منوری ته هجرت وکړ ، همغه وه چې د جمعی مبارکې په ورځ په دولسم د ربیع الاول په اول کال د هجرت مطابق ٢٧ سپتامبر ٦٢٢ میلادي ، په مینځ د بني نجارکې ، په هغه ځمکه کې راکوز شو چې مخامخ د ابو ایوب انصار کورته واقع وه ، او په هغه ځایکي په مؤقت ډول سره استوګن شو او اولین ګام د ده مبارک تهداب د یو علمی او پرمختللی مرکز جوړول وه، چې منبع اوسرچشمه د هر قسم خیروګر زي ، لکه توحید ، تقوا، عدالت اجتماعی ، او اخوت اسلامي او د ټولو بد بختیو سر چشمه لکه تبعیض ، تعصب وغیره ته يې د همیش لپاره خاتمه ورکړله ، او په مدت د لسو ١٠ کالونو کښې د اسلام مقدس دین په ټول جزیرة العرب او د هغی په نقاطو کې خپورکړلو.

او په آخر کې زه امید لرم د الله (ﷻ) څخه چې زموږ ته توفیق راکړی د اقتداء او اتباع د نبی (ﷺ ) په صورت او سیرت ، او نورو اخلاقو کې ، ( قولاً او فعلاً او عملاً) او الله (ﷻ) د موږ ته نصیب کړی محبت د ده او محبت د هغه چا چې د هغه سره محبت کوي او موږ ته مرګ راولی د ده مبارک حرم کې او موږ ته عزت او شرافت راکړی د ده په شفاعت سره ، لکه څرنګه چې زه سوال کوم د الله (ﷻ) څخه د ده په مبارک نوم سره چې داخل کړی موږ جنت ته بغیر د حساب او عذاب څخه په تحقیق سره الله (ﷻ) اجابت قبلونکې دي.

وفى الختام أرجو الله عزوجل، أن يوفقنا للاقتداء بالنبي الكريم فى سيرته و سلوكه و أخلاقه قولا وفعلا وعملا وأن يرزقناحبه والموت فى حرمه كما أسأله باسمه الاعظم أن يدخلنا الجنة بغير حساب ولا سابق عذاب انه تعالى مجيب الدعوات.

٢١

# د هجرت، دعوت او د یوی اسلامي جامعې تهداب ایښودل

## (دهجرت څخه تر رحلته پوری)

**الحمد لله العزيز الحكيم الذي شرع الهجرة للمستضعفين و نصر المجاهدين و الأنصار على أعداء الدين: (وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِينَ كَفَرُواْ السُّفْلَى وَكَلِمَةُ اللّهِ هِيَ الْعُلْيَا) [1]و أشهد أن لآ اله الا الله وحده لا شريک له، بشر رسوله بالفتح المبين، و أشهد أن سيد نا محمداً حبيبه، أرسله الله رحمة للعالمين، أللهم صل و سلم و بارک على أشرف عباده و أكمل خلقه سيدنا و حبيبنا و محمد و على أله و أصحابه الذين هاجروا فراراً بدينهم الى الله و على كل من اهتدى بهديه الى يوم الدين اما بعد:**

**قال الله تعالى : أعوذ بالله من الشيطان الرجيم ، بسم الله الرحمن الرحيم**

**(الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا).[2]**

**محترمو مشرانو ، او قدرمنو ځوانانو :**

د دغې مباركې جمعې خطبه د پيغمبر(ﷺ)او د مباركو اصحاب كرامو د هجرت په طرف د حبشې او مدينې منورې په طرف او د هغو د اسرارو په هكله ده چې د

١- د التوبيسورت٤٠ آيت.

٢- د المائدې سورت: ٣ آيت.

مسلمانانو هجرت په طرف د حبشې او مدینی منوری د ځان سره کوم کوم اسرار لرل او موږ ته د دوی په هجرت کولو کې کوم درس او عبرت په لاس راځی؟ او د ده مبارک په هجرت سره کوم تحولات په دنیا کې راغلل ؟ او هغه کوم عوامل دي چې دغه امت اسلامي يې نن ورځ دی انحطاط او روسته والي په طرف سوق کړيدي؟ او د پیغمبر(ﷺ) د کامیابۍ رمز په تطبیق کولو او عملی کولو د خپلو پلانونو لپاره د جامعی انسانی څه شی وه؟

**ړومبني هجرت د مسلمانانو په طرف د حبشې :**

الله ﷻ چې کوم وخت کې خپل پیغمبر ته امر وکړ: ( **وأنذر عشيرتكألاقربين** ).[١]

ژباړه : خپل ډیر نژدې خپلوان ( د الله ﷻ د عذاب څخه وویروه ) او وروسته لدی څخه چې الله ﷻ د ته د ستور ورکړ:(**فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ**).[٢]

ژباړه : نو ( ای پیغمبر (ﷺ)د کوم شی چې تاته حکم کېږی ، هغه په لوړ اواز ووایه او د مشرکانو څخه مخ واروه نو پیغمبر (ﷺ)سره د خپلو صحابه کرامو په ډیر جرأت او ایثار او قربانی سره د الله (ﷻ )دین ته په دعوت کړلو پیل وکړ، نو هم دغه وه چې د مسلمانانو تعداد زیات شولو، د قریشو کفار د مسلمانانو د دغه قوت او زیادت څخه وویردل ، نو د مسلمانانو په اذیت او آزارولو سره يې شروع وکړله او ډیر ظلم او زیاتی یې په مسلمانانو باندې شروع کړلو نو څرنګه چې نبی (ﷺ)د خپلو

---

١- د الشعراء سورت ٢١٤ آیت.

٢- د الحجر سورت ٩٤ آیت.

اتباعو د حمايت څخه د عجز تصور وکړ ، نو دوی ته يې امر وکړ په هجرت کولو په طرف د حبشی او داسېيې ورته وويل:( **ان بأرض الحبشة ملكا لا يظلم أحد عنده، فألحقوا ببلاده حتى يجعل الله لكم فرجا و مخرجاً مما أنتم فيه** ).[1]

ژباړه : که چيرته تاسی لاړشی او هجرت وکړی ځمکې د حبشی ته هلته داسې يو بادشاه دی چې دهغه په وړاندې په هيچاظلم نه کېږي ، تر دی پوری چې الله (ﷻ) وگرزوي تاسی لره فراخی او د مشکلاتو څخه د وتلو لار کوم چې تاسی ورکې واقع ياست د نبوت په پنځم کال د رجب په مياشت کې د مسلمانانو لومړنۍ ډله چې له د ولس سړيو او څلور و ښځه څخه جوړه شوی وه د حضرت عثمان بن عفان په مشرۍ د رسول الله(ﷺ)د لور ( بی بی رقيې ) په گډون حبشی ته مهاجر شوه ، رسول الله (ﷺ) د حضرت عثمان او د ده د بې بې رقيېد هجرت په هکله فرمايي: (**انهما أول بيت هاجرا في سبيل الله بعد ابراهيم و لوط عليهما السلام**).[2]

دا دواړه لومړنې کورنې دي، چې له ابراهيم او لوط عليهما السلام وروسته يې د خدای په لار کې هجرت وکړ .

مگر وروسته د دوو مياشتو تيريدلوچې مياشتی د شعبان او رمضان وه او د شوال په مياشت کېداسې دروغجن شايعات د دوی په منځ کې خپاره شول چې گا کې پيغمبر (عليه السلام) د مشرکېنو او قريشو سره مصالحه وکړه ، چې پدغه مهاجرنيو

---

١- السنن الكبرى للبيهقي، حديث: ١٨١٩٠.

٢- الرحيق المختوم، مخ ١٣٨.

باندې د غو شايعاتو يو څه اثر وکړ، او بيرته مکې ته راوګرزيدل ، وروسته چې دوی ته واقعيت ښکاره شولو ، نو يو څه کسان بيرته حبشې ته ستانه شول ، او څو نور کسان د يو قريشي په حمايت سره مکې معظمې ته بيرته را داخل شولو ، نو په دغو ورځوکې د قريشو تعذيب او شکنجه په مسلمانانو باندې ډيره زياته شوله ، نو دی دوهم ځل لپاره مسلمانانو د حبشې په طرف هجرت شروع کړلو چې تعداد يې ، که چېرته حضرت ( عمار ) پکې وګڼل شی (۸۳) سړيو او د (۱۸ يا ۱۹) ښځو حبشې ته هجرت وکړ.[۱]

کله چې مشـــــرکين د نجاشي د ښې رويې او ګاونډيتوب څخه خبر شـول نو د مهاجرينو خوندی توب او ښــه پناه نيول ځای (مشرـکينو) ته د تحمل قابل نه وه لدې کبله دوه ګړندي پوه نفر (عمرو بن العاص بن وائل) او ( عبدالله بن أبي ربيعه) چې تر اوســه يې اسـلام نوه راوړی له ډيرو ارزښــتناکه ډاليو سره د دوی د (بطريک) په واسطه نجاشي ته وليږدل ترڅو نجاشي د مهاجرينو د ويستلوته ژمن کړي ليکن نجاشي تصميم ونيولو چې اړوند موضوع د دواړو طرفه دلايلو اوريدلو وروسته فيصله کړی، لدې کبله يو نفر د مسلمانانو په طرف واستولو او هغوی يې خپله دربار ته را وغښـتل. مسـلمانانو قاطع تصـميم ونيولو چې د رښـتيا پرته بل څخه بايد ونه وايو پايله چې هر څه کيږی هغه به کيږی.

۱- زاد المعاد لابن القيم، ټوک ۱، مخ ۲٤، او ټوک ۲، مخ ٤٤ ، الرحيق المختوم،مخ ۱۴۱.

نجاشي وويل: دا كوم دين دی چې د هغه قوم وړاندې ولاړ دی چې د نه مونږ دين او نه د ټولې نړۍ دينونه قبلوی؟!

د نبي عليه السلام لومړی سفير او د مهاجرينو او د صدر اول د اسلام رئيس حضرت جعفر بن أبي طالب د حبشي ـ د پاچا محضر ـ کې د جهالت د دورونو احوال بيان کړه او بيا د هغو په وړاندې د پيغمبر صلی الله عليه وسلم قيام داسي بيان کړه.

پاچا! مونږ داسې د جهالت د وخت خلک وو چې د بوتانو عبادت موکولو، مړزکې مو خوړلي، په فحشاوو کړنو سره مبلوث وو، صله رحمي مو قطع کولي، د گاونډيو سره مو بد چلند کاوه، د موږ قوي به د ضعيف مال خوړلو موږ به داسې کړني تر سره کولي، تردې چې الله پاک موږ ځخه يو پيغمبر غوره کړو چې د هغه نسب، او ښه چلند نيکی، صداقت، امانت داری، او عفت يې پيژنو.چې موږ يې د الله واحد لا شريک طرفه او دهغه عبادت ته يې راوبللو، او موږ يې د تيرو. بتانو عبادت څخه چې د موږ اجدادو څخه به را ته پاتی وه وژغورلو او دعوت يې د ربښتيا ويلو، د امانت ساتلو او دصله رحمي په ټينگښت د گاونډی د حقوقو مراعت کولو، د حرام مال ځخه د ځان ژغورنی او په ناحقه د وينو تويولو څخه د ځان ساتنی، راکړو.

او موږ يې د فحشاوو درواغو، د يتيم د مال د خوړلو، او پاکدامنو ښځو ته د تهمت لگولوڅخه منع کړو.

او موږ ته يې امر وکړو چې يوازې د واحد لاشريک ذات عبادت وکړو او دهغه ذات سره هيڅ څوک شريک ونه نيســو او د لمانځه زکات او د روژی نيولو امر يې راته وکړو.[1]

بيايې د نجا شی په وړاندې د هغو ظلمونو چې مشرکانو به د دوی په اړه کولو ياد کړل او زياته يي کړه:

(د ستاسو هيواد ته راغلو او دنورو څخه موته غوره کړی او ديته مايل شوی يو چې د ستاسو په گاونډيتوب کې ووسيږو.

پاچا! هيله لرو چې د ستاسو په وړاندې په موږ باندې ظلم ونه شی).

نجاشي هغه ته وويل: آيا ستا سو سره هغه څه چې د ستا سو پيغمبر د الله پاک څخه راوړی شتون لری؟ جعفر ورته ځواب ورکړو هو کې (نجاشي) ورته وويل ماته يې وه وايه (جعفر) د سورت مريم لومړی آياتونه چې به کهيعص سره شروع کيږل تلاوت کړه په الله قســم دی چې نجاشــې داســې وژړل او هغه د مســيحانو لارښوونکي کتابونه هم د ده د تلاوت د اوريدلو د ژړا د اوښکو څخه لامده شول.

نجاشی وويل: يقينا دغه کلام او هغه څه چې حضرت عيسی راوړی دي د داسې مشکات (د نور دربچې) څخه دي چې نورترې باديږی بيا عمروبن عاص او دهغه

[1] - د سيد قطب شهيد تفسير: فی ظلال القرآن د صلاح الدين سلجوقي ژباړه: ( در سايه های قرآن ) ط ۱، ص ۲۳۰.

ملګری یې مخاطب کړه او وویل: قسم په الله دی چې دوی به ستاسو ته درنه کړم.[1]

او مهاجرینو ته یې وویل: ځئ ستاسو په امن کې یاستی! زه دا نه خوښوم چې د سروزرو غر ولرم او ستاسو څخه چاته ضرر ورسوم).

د قریشو ډالۍ یې ور واپس کړه او وویل: ( ما أخذ الله الرشوة مني حتی أخذها منکم).[2]

یعنی: الله پاک چی ماته پاچاهی راکړی کوم رشوت یې را څخه نه دی اخیستی چې زه یې د ستاسو څخه واخلم) په داسې ډول د قریشو د استازو کوښښونه له ناکامۍ سره مخامخ شول.

## حبشې او مدینې منورې ته دهجرت پیښې او پایلې:

دلته حبشې ته د مسلمانانو دهجرت پیښې او پایلو ، دپیغمبراسلام اویارانو بحرانی حالت په مکه کې او دقریشواو د مشرکینو د سیسو او پلانونو په یادولو بسنه کووچې دپیغمبر او یارانو له منځه وړلو لپاره یې کولی . بیا دپیغمبر علیه السلام دهجرت په هکله خبری کوو.

[1] - الرحیق المختوم، ص ۱٤۲-۱٤۳.

[2] - سیرة النبي ( إن هذا الحبیب یا محب ) د مسجد نبوي واعظ شیخ ابو بکر جابر الجزائری، دارالشروق، جده ۱٤۰۹ هـ = ۱۹۸۹ م ، ط ۲، ص ۱۲۵.

**درنو ورونواود پیغمبر ﷺ اصلی مینه والو!**

کله چې دمشرکېنو دوکې او چلونه د حبشې نه د مسلمانانو بیرته راګرځولو په هګله تس نس شول یوازی د مسلمانانو ربړول او کړول یې زیات نه کړل بلکه د پیغمبر علیه السلام دوژلو پسی شول خو هغه په پوره زړورتیا او زغم سره خپل بلنې ته په څرګند او ښکاره ډول دوام ورکړه ، او هره ورځ به د مشرکېنو لخوا زورول او ربړول کېده ، ابن اثیر او نور دسیرت خاوندان د عمروبن العاص (رضي الله عنه) وینا روایت کوي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل:( **أتسمعون یا معشر قریش! أما والذي نفس محمد بیده ، لقد جئتکم بالذبح)**.[1]

ای قریشو! اورې! قسم په هغه ذات چې د محمد (صلی الله علیه وسلم) نفس دهغه په لاس کې دی زه تاسوته دالله ﷻ له لوري ستاسو هلاکت ته راغلی یم بخاري د (عروه بن زبیر) نه روایت کړی چې وایي: د (عمرو بن عاص) دځوی نه می پوښتنه وکړه چې ټولو نه بدکارچې مشرکېنو د پیغمبر علیه السلام په وړاندې کړی راته ووایه! هغه وویل:کله چې پیغمبر علیه السلام کعبی ته نزدی لمونځ کاوه عقبه بن أبی معیط راوړاندې شو او خپل کمیس یې د پیغمبر علیه السلام په غاړه کې واچاوه او خفای کولو په موخه یې کلک غوټه کړ ، ابوبکر(رض) راوړاندې شو

---

١- صحیح ابن حبان، حدیث: ٦٥٦٧.

اوهغه پې اوړويې وينوه او د پيغمبر نه يې لرى کړ اووى ويل:" آيا داسې سړى وژنى چې وايي: څماپالونکې الله دى؟[1].

**په اسلامي دين باندې دحمزه او عمر رضي الله عنهما مشرفيدل :**

دبعثت شپږم کال د ذى الحجى مياشت کې حمزه بن عيدالمطلب رض دپيغمبر عليه السلام تره اودرې ورځې وروسته عمربن الخطاب رضي الله عنهدعربو جزيرې په خرپړ آسمان کې وځليدل او د دنيا دتيارو فضايې دايمان په نور کړه ، د دى دوو شخصيتونو په مسلمانيدو سره درحمت پيغمبر پخوانى هيله چې دعايې کړيوه : (**أللهم أعزالاسلام بأحب الرجلين اليک: بعمر بن الخطاب أو بأبي جهل بن هشام**).[2]

ترسره شوه ، د دى دوو اشخاصو په مسلمانيدو سره د مسلمانانو شمير زيات شو او مشرکينو د پيغمبر او يارانو سره خپله رويه او تګلاره بدله کړه. ابن مسعود وايي: مونږ دکعبى څنګ ته لمونځ نه شوکولاى تر هغه چې عمر مسلمان شو.

اووايي: " د عمر مسلمانيدو وروسته ځواکمن شولو[3]".

١- صحيح البخاري، باب ذکر مالقي النبي صلى الله عليه وسلم و أصحابه من المشرکين بمکة، ټوک ١، مخ ٥٤٤.

٢- د رسول مختصر سيرت، د شيخ عبدالله نجدى، مخ ١٠٣، الرحيق المختوم، مخ ١٥٤.

٣- صحيح البخاري، باب اسلام عمر بن الخطاب، ټوک ١، مخ ٥٤٤.

**پېغمبر  علیه السلام ته د قریشو داستازي سوله غوښتونکي وړاندیزونه:**

د دی دوو اتلانو (حمزه او عمر) د اسلام منلو وروسته دقریشو استازي عتبة بن ربیعه پېغمبر علیه السلام ته راغی اوڅنګ ته یي کېناست وی ویل: ای وراره! ته ځمونږ یي اوښه پو هیږی چې دکورنی او نسب له اړخه لوړځای لری ، خو خپل قوم دی دلوې ستونزی سره مخامخ کړی او یووالی دی ورته مات کړی ، ماته غوږشه څه خبری درته وړاندې کړم وګوره: پیغمبر(ﷺ)ورته وویل وایه ای ابوالولیده وویل ای وراره! کچېری په خپل راوړل شوی باندې دپانګی پیدا کولو موخه وي نو تاته به هومره مال اوشتمنی راټوله کړو چې ځمونږ ټولو څخه زیات پانګوال شی ، اوکه شان او شوکت غواړی نو تا خپل سره او مشرتاکو ، اوکه پاچایي غواړی نو تا خپل پاچا کوو او که تاته راتلونکې جنی (پیری) دی اودځان نه یې شړلی نه شی طبیبان به درته راټول کړ نو پیغمبر علیه السلام و چې اسلام دعتبه د وینا ترپایه ورته غوږؤ بیایې وفرمایل: ” ای أبا الولید آیا خبری دی پای ته ورسیدی؟ وی ویل: هو ، وی فرمایل: نو ځماواوره ، وی ویل: همداسې کوم وی فرمایل: بسم الله الرحمن الرحیم (**حم ، تَنزِيلٌ مِّنَ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ. كِتَابٌ فُصِّلَتْ آيَاتُهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لِّقَوْمٍ يَعْلَمُونَ بَشِيرًا وَنَذِيرًا فَأَعْرَضَ أَكْثَرُهُمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُونَوَقَالُوا قُلُوبُنَا فِي أَكِنَّةٍ مِّمَّا تَدْعُونَا إِلَيْهِ**).[۱]

---

۱- د فصلت سورت ۱-۵ آیتونه.

تر دی چې پیغمبر علیه السلام دسجدی آیت ته ورسیده او سجده یې وکړه بیایې وفرمایل: اباالولید! خبره دی واوریده ته خپله پوهیږی چې دهغی سره .... عتبه خپلو دوستانو ته ورغی هغوی ویل: راوړه اباالولید چه څه خبره ده؟ وی ویل: خبره داچې په الله قسم داسې کلام می واوریده چې هیڅکله مې دهغه په څیرنده اوریدلی قسم په خدای چې نه شعر دی اونه کوډی اونه کهانت ، ای قریشو!څما خبره واورئ اودغه کار ماته پریږدئ دهغه نه لاس واخلیء او څنگ ته شی، قسم په الله ماچې کومه خبر ترینه اوریدلی لوی خبرلري ، که عرب پری برلاسی شي نو تاسو کار په خپل سرته ورسیده اوکه هغه پرعربو بر لاسی شي دهغه پا چایي ستاسو پا چایي اودهغه بریا ستاسو بریا د اودهغه سره خورا بهر من خلک به یاستې یاستی ، او دهغوی وویل: قسم په الله خپلې ژبې سره یې پرتا کوډی کړي دي ، وی ویل: داڅما رایه ده تاسی چې څه کوی وی کړئ. [1]

دقریشو مشرانو د عتبه په خبرو اترو بسنه ونکړه ، پیغمبر (ص) ته ورغلل هماغه مطالب یې بیاځلي ددنه وړاندې کړل خو پیغمبر علیه اسلام داسې ځواب ورکړ: څه چې تاسی وایي په ماکې نشته څه چې ما راوړي ددی لپاره می ندی راوړی چې ستاسو د مالونو تمه ولرم اویا کوم شوکت دتاسو په منځ کې ولټوم اونه تاسوباندې دپاچایي هیله لرم ، مگرزه الله ﷻ داستازی په توگه را استولی او یو

---

۱- د ابن هشام سیرت، ټوک ۱، مخ ۲۹۳- ۲۹٤ ددی خبر یو برخه په المعجم الصغیر للطبراني په ټوک۱، مخ۲٦٥ کې هم راغلي دی.

کتاب يې پر ما نازل کړی دی او ماته يې امر کړی چې تاسو ته زيری ورکوونکې او ويره ورکوونکې ووسيږم، کچېرې هغه څه چې ما راوړای و مني ستاسو برخه به ددنيا او آخرت وي اوکه ما قبول نکړئ داالله په امر به صبر وکړم تر څو الله ﷻ ماته کاميابی رانصيب کړی او ځما او ستاسو ترمنځ فيصله وکړی.

**دپېغمبر عليه السلام نه دمعجزې او عذاب نازليدو غوشتنه:**

دغه مهال هغوی خصوصاً قصی بن کلاب دحضرت رسول الله نه وغوښتل چې: الله يې غرونه وخوزوي او ښارونه ستر کړي اوسندونه په ځمکه ننباسي او مړی ژوندي کړي ، خو پېغمبر هماغه پخوانی ځواب ورکړ ، داځل يې د پېغمبر عليه اسلام نه وغوښتل چې دخپل پالونکي نه وغواړي چې يو پرښته د استاذی په شکل راوليږی  چې دهغه تصديق وکړي او دوی دهغی سره دپېغمبر په هکله خبری وکړي او پېغمبر لپاره با غونه ، خزانی او سرو او سپينو مانی جوړی کړي ، خو پېغمبر عليه السلام هماغه پخوانی ځواب بيا ورکړ بيا يې څلورم مطلب وړاندې کړ او د پېغمبر نه يې عذاب وغوښت چې الله ﷻ دغوشتنی پوری تړاو لري که وغواړي همداسې به وکړي ، هغوی زياته کړه که مونږ ستا دين ونه منو څمونږ سره به څه و کړی؟ په پای کې يې رسول الله کلک وريتېه او گوت څنډنه يې ورته وکړه وی

ویل: مونږ به تا دهغه څه لا مله چې پرمونږ دی راوستی پری نږدو یا به تا هلاکوو یا به ته مونږه ، دالله رسول تری پاڅیده او خواشینی خپل کورته ولاړ.[1]

## د پیغمبر دوژلکیدلوکیسې په پلان کې د ابو جهل ماتې او شرمیدل:

خپل کورته د پیغمبر د ستنیدو وروسته ابوجهل په لویي او تکبر سره قریشوته ژمنه ورکړه چې: د لویي ډبری سره د پیغمبر لارڅارم ، کله یي چي په لمانځه کي سر په سجده کېښود سریي پدی ډبری څیرم... کله چې سهار شو ابو جهل چې کومه ډبره غوره کړی وه را واخیسته او دپېغمبر په انتظار کېښناست کله چې رسول الله سجدی ته لاړ ابوجهل ډبره واخیسته او د رسول الله (ص) په لور وخوځیده اوورنزدی شو خو ناڅاپه سخت وبیریده او د ماتې خوړلو په شان رنګ یې زیړ اوشاته شو اولاسونه یې چې ډبره یې اخستی وه وچ شول تر دی چې ډبره یې له لاسه وغورځیده دقریشو څونارینه ورته راغلل اووی ویل: ای ابوالحکم څه دربادنې وشول؟ ویویل: کله چې پاڅیدم او ورنزدی شوم ترڅو هغه چې پرون شپه می ویلي ؤ ترسره کړم نا څاپه یوه اوښه څما او د ده ترمنځ ښکاره شوه اوغوښتل یې چې ما ونیسي ، قسم په الله ج چې په هیڅ اوښ کې ما داسې غاړه ، سر او غاښونه ندی لېدلي! ابن اسحق وایي: ماته ویل شوي چې: رسول د الله ﷺ وفرمایل: هاغه جبریل علیه السلام ؤ که نزدی شوی وای نو هغه یې نیوه .[2]

۱- الرحیق المختوم ، مخ ۱۵۵-۱۵۸.

۲- د ابن هشام سیرت، ټوک ۱ ،مخ ۲۹۸-۲۹۹.

## دروغې جوړې طرحه:

غيرتمنو خويندو اوورونو!

کله چې الله ﷻ د ابوجهل پلان د پيغمبر عليه السلام د وژلو په اړه تس نس کړ نو د پيغمبر سره يې دروغې ، جوړې لاره غوره کړه ، ابن اسحاق په خپل سند سره راوړي چې: (سود بن عبدالمطلب بن عبدالعزى ، وليد بن المغيره ، اميه بن خلف او عاص بن وايل چې د خپلو قومونو نفوس لرونکي خلک وو د پيغمبر عليه السلام مخه ډب کړه په داسې حال کې چې هغه دکعبې په طواف بوخت ؤ ورته ويويل: اوس محمده! راشه! چې مونږ دهغه عبادت وکړو چې ته يې کوی او ته هم دهغه چه عبادت وکړه چې مونږ يې کوو او پدی کار کې يو دبل سره گدون وکړو ، مونږ به دهغه څه نه گټه واخلو چې ته يې عبادت کوی او ته به دهغه څه نه برخمن شی چې مونږ يې پرستش کوو!! نو الله ﷻ د (الکافرون) سورت نازل کړ . [1]

عبد بن حميد اونورو د ابن عباس رض نه نقل کړی چې قريشو وويل: که څمونږ معبودان د تايېد په نښه لمس کړی ستا د معبود پرستش کوو او الله ﷻ (الکافرون) سورت نازل وفرمايه . [2]

---

۱- الرحيق المختوم، مخ ۱٦٠ د ابن هشام سيرت ، ټوک ۱، مخ ۳٦۲ په حواله.

۲- همدغه مرجع د الدرالمنثور د امام سيوطي کتاب، ټوک ٦، مخ ٦۹۲ په حواله.

ابن جریر طبری او نورو د هغه نه نقل کړی چې: قریشو د الله ﷻ رسول ته وویل: یو کال مونږ د معبودانو عبادت وکړه او یو کال به مونږ ستا د معبود عبادت وکړو ، الله ﷻ دغه آیت:(**قل أفغيرالله تأمروني أعبد أيها الجاهلون**).[1]

ای ناپوهانو! آیا ماته امر کوی چې بی دالله ﷻ دبل څه عبادت وکړم؟ قریشو ددی غوڅ ځواب د اوریدو وروسته پوره نا هیلي شول ، نور هم پا سته شول ویویل: (**اِئت بقرآن غيرهذا أوبدَّله** ).[2]

بل قرآن راوړه یایې بدل کړه ! الله ﷻ ځواب کې دیونس سورت پنځلسم آیت نازل کړ او دا لاریې پری وتړله ، او خپل پیغمبر یې داسراء سورت (۷۳-۷۵) آیتونو په نازلید لوسرهدهغوی په لورد ډیر جزئي تمایل نه منع کړ او ددی کار د ناوړه پایلونه یې خبر کړ.

## د ناهیلې او نا امیدې وروسته د مشرکینو دیهودو د احبارو سره اړیکه او ارتباط:

کله چې دقریشو پلان په امتیاز و رکولو او سولی غوښتنی و ړاندېز کې بریالی نه شو د نوي فکر په جوړولو کې شول ، دنضر بن حارث په نوم د مکې یو شیطان صفته انسان ددی فرصت نه په ګټه اخستنی پور ته شو ویویل: ای قریشو! په الله

۱- د الزمر سورت ٦٤ آیت.
۲- د یونس سورت ۱۵ آیت.

ﷻ قسم چې تا سو باندې یوه بلا راغلی ده چې تر اوسه مو دهغی لپاره کومه لاره نده لټولی بیایې د پېغمبر صلی الله علیه وسلم په ستاینه کې وویل: محمد زمونږ په مینځ دټولونه زیات پوست خوی ، رښتیا ویونکې او امین ځوان دی او هغه جناب یې دهرډول دروغ ویلو کوډو ، شعرویلو او لیونتوب څخه پاک کړ . قریش یې و هڅول چې ددی ستری بلا نه دخلاصون لار ولټوي. دقریشو مشران ددی نظریو په اوریدو سره شکي شول چې هسی نه محمد (ص) دالله ﷻ استازی وي نو نضر بن حارث یې دیو یا دو تنو سره وگمارل چې: د مدینی یهودو ته ورشي هغه همداسې وکړل. دیهودو احبارو وویل: دری څیزونو په هکله ورنه پوښتنی وکړئ که ځواب یې وویل نو دیرا استول شوی پېغمتر دی او کنه نو دی دروغجن او مدَّعی دی:

۱- دهغو ځوانانو په هکله تری پوښتنه وکړئ چې پخوا تیرشوي اوبر خلیک یې څنگه ؤ؟

هغوی حیرانوونکېکېسه درلوده.

۲- دهغه سړي په هکله ورنه پوښتنه وکړئ چې دځمکې نه را تاو شو او دځمکې دهغه کېسه څنگه وه ؟

۳- د (روح) په هکله ورنه پوښتی چې څه څیز دی ؟

کله چې نضر  بیرته مکې ته راغی وی ویل: داسې څه می راوړي چې ستاسو او محمد شخړې پای ته رسوي او هغوی یې دیهودو له وینا نه خبر کړل ، قریشو هم دریواړه پوښتنی د رسول الله څخه وکړی څو ورځی وروسته د کهف سورت دقرآن اتلسم سورت نازل شو چې په هغه کې د نوموړو ځوانانو کېسه چې د ( اصحاب کهف ) په نوم یادیدل او هم دنړی د سیلاني شخص چې ذوالقرنین دی کېسه بیان شوی ده د اوهم د روح ځواب د قرآن کریم په اولسم سورت اسراء کې راغلی دی.[1]

پدی توگه قریشو ته جوته شوه چې پېغمبر حق او یو رښتینی انسان دی ، خو تیری کوونکو سرغړاوی وکړ او د حق نه یې انکاروکړ.[2]

ابوطالب وانگیرله چې مشرکېن قصد لري چې دده وراره ووژني ، د قرآن آیت هم دی دسیسی ته اشاره کوي فرمايي: (**أم أبرموا أمرا فانا مبرمون**). [3]

آیا د خپل کار کلک هوډیې کړی دی؟ نو مونږ هم کلک هوډ کړی دی . ابو طالب دینی هاشم او بني مطلب کورنې داټولی کړیې اوهغوی یې دپېغمبر دفاع او ساتنی ته راوبللی او هغوی کافر او مسلمان یې هم دهغه غوښتنه و منله او کعبی

---

۱- د اصحاب کهف بیان د الکهف سورت په: ۹-۲۵ آیتونه أو د ذوالقرنین بیان د همدي سورت په: ۸۳-۹۸ آیتونه، او د روح بیان د اسراء سورت په ۵۸ آیت کي.
۲- الرحیق المختوم، مخ ۱٦۱-۱٦۳ د ابن هشام سیرت ، ټوک ۱، مخ ۲۹۹- ۳۰۱په حواله.
۳- د الزخرف سورت ۹۷ آیت.

ته نزدی یې ورسره تړون وکړ ، یوازی وروړ یې ابو لهب تری لری شو او دقریشو سره پاتی شو.[1]

**اقتصادي بندیز، پریکون او د خفگان کال (عام الحزن):**

درنو او د اسلام خوږ پېغمبر مینه والو!

دقریشو مشرکېن پدی یو شول چې که محمد صلی الله علیه وسلم و وژني د مکېښار به د دوی په وینو ولړل شي نو داسې تیري ته یې لاس ورته کړچې د قتل نه لږ خو دتیرو او پخوانیو ظلمونو نه ډیر تریخ او ستونزمن ؤ ، هغه داچې په خیف ، بني کنانه په محصب دره کې سره راټول شول او دبني هاشم بني مطلب مسلمانانو او ملگرو په وړاندې یې تړون وکړ چې دوی سره هیڅ همکاری ونکړي: همدی لا مله یې یو تړون په یوه پاڼه ولیکه چې: (ترڅو بني هاشم پېغمبر علیه السلام د وژلو لپاده ورته نوي سپارلی هیڅکله به ورسره روغه نه کوو او هیڅ نرمښت او عطوفت ورته نه څرگندوو) ، پېغمبر علیه السلام دبني هاشم قبیلی کافر او مسلمان سره یو ځای د مکې ښار پریښود او دشعب ابی طالب په نوم یوې تالې کې میشت شول ویل کېږي چې دغه پیښه د بعثت اوم کال د محرم میاشتی په پیل کې را منځته شوی وه ددی پریکون او بندیز تړون لیکوال (بغیض بن عامر

---

۱- د ابن هشام سیرت ، ټوک ۱، مخ ۲٦۹، او د شیخ عبدالله نجدي مختصر سیرت مخ ۱۰٦ په حواله.

بن هاشم ؤ چې پیغمبر علیه السلام لعنت پری وویلي او نتیجه کې یې لاس فلج شو.[1]

پدی موده کې رسول الله او مسلمانانو ملا ماتوونکي کړاوونه و ګالل ، بني هاشمو دسختې لوږې لا مله دونو پاڼې او پوټکي خوړل ، د تالی لخوا د ورو کوچنیانو او ښځو چیغې اوریدل کېدی. هغوی په حرامو میاشتو کې کولای شول چې د تالی نه را بهرشي اود خپل ژوند اړتیاوی واخلي. رسول الله صلی الله علیه وسلم یوازی د حج په ورځو کې راووت او خلک یې اسلام ته را بلل ، دغه ظالمانه شلون دری کاله وغزیده، تردی چې دبعثت لسم کال د محرم میاشت کې دقریشو پنځوتنو خیر غوښتونکو په هلو ځلو (زهیر بن أمي مخزومي) د عبدالمطلب د لور لخوا لمسی ، او مطعم بن عدی اوابو البختری بن هشام اوزمعه بن الاسود بن عبدالمطلب د هشام بن عمرو په مشرې مات شو . دوی د حجون په منطقه کې راټول شول او د دی ظالمانه تړون په ماتولو یې ژمنه وکړه بیا د قریشو مجلس ته لاړل ، همغه ؤ چې زهیر د کعبی د طواف نه وروسته خلکوته مخ کړ او د تړون بدي او مشرکېنو ملامتی یې بیان کړه زیاته یې کړه ( قسم په الله ترڅو چې دغه ظالمانه تړون پاڼه څیرې نشي کرار نه کښینم ، ابو جهل ورته وویل: دروغ دی وویلې قسم په الله چې دا تړون پاڼه به نه څیریږی د ده په مقابل کې څلور غوښتونکی

---

١- صحیح البخاري، حدیث: ١٥١٨، ١٥٩٠ ، ٣٨٨٢، ٤٢٨٤، ٤٢٨٥، ٧٤٧٩، او فتح الباري، ټوک ٣ مخ ٥٢٩، او زاد المعاد، ټوک ٢، مخ ٤٦.

اشخاصو د زهیر ویناوی تصدیق او تقویه کړی، ابوطالب هم هلته شتون در لود او هغوی یې د پیغمبر د وینا څخه خبر کړل چې ګواکې د دی تړون پاڼی ټول محتویات د الله د نامه نه پرته وینو وخوړلي دي ، په پای کې د ابو جهل او نورو تر منځ د خبرو اترو په ترڅ کې مطعم د تړون پاڼی د ځیرولو لپاره پاځیده ګوري چې وینو د ( باسمک اللهم ) او هر ځای کې د الله تعالی نوم نه پرته ټوله تړون پاڼه خوړلی وه . د تړون د ماتی نه شپږ میاشتیورروسته د بعثت لسم کال رجب میاشت د شعب نه د وتلو شپږ میاشتی وروسته د پیغمبر علیه السلام سر حامي تره یې ابو طالب مړ شو په یو صحیح حدیث کې د مسیب نه روایت شوی چې : کله د ابو طالب مړینه راغله ابو جهل یې په ځنګ کې ؤ ، په دی وخت کې پیغمبر علیه السلام د ده په بالښت کیناست وی فرمایل : ( **ای عم ! قل لا اله الاالله کلمة أحاج بها عند الله** ) یعنی : ای تره ! لااله الا الله ووایه هغه کلام چې دهغه په وسیله د الله ﷻ په نزد دلیل راوړم او سپارش دی وکړم.ابو جهل او عبدالله بن أبی أمیه وویلی : ای ابو طالبه ! آیا د عبدالمطلب له قانونه مخ اړه وی ؟ ! او پرلپسی خبری یې کولی تردی چې وروستی خبره یې د دوی په مخکې داسې په ژبه راوړه: د عبدالمطلب په قانون ، پیغمبر(ص) وویل: تر هغو چې منع شوی نه یم ستا لپاره به د الله ﷻ نه ښښنه غواړم ، دغه مهال د توبی سورت ۱۱۳ آیت او قصص سورت

۵۳ آيت نازل شول:( **انک لا تهدي منأحببت**).[1] يقينا هغه چا ته لاربښونه نشى کولاى چې خوښ دى ۇ.[2]

د دى زړه بوګنوونکې مصيبت د پيغمبر د روح او روان نه لا نه ۇ تللاى چې د ابو طالب د مړينى نه درې مياشتې يا درى ورځى وروسته د پيغمبر فدا کاره او وفاداره ښځه او داسلام نوميالى حضرت خديجه رضي الله عنها د بنديز د کسالت لامله رنځوره شوه او د (٦٥) کلونو په عمر خپل ژوند له لاسه ورکړه ، پيغمبر عليه السلام د هغى په ستاينه کې وفرمايل : (**آمنت بي حين كفر بي الناس و صدقتني حين كذبني الناس و أشركتني في مالها حين حرمني الناس و رزقني الله ولدها وحرم ولد غيرها**).[3]

پدى توګه رسول الله خپل خو را ډير پالونکي اوزړه سولاندې هم په کور او هم په بهر کښله لاسه ورکړل ، هغه د دى دو وفاجعو په اغيزکې هومره غمجن او خواشينى شو چې د غه کال د عام الحزن په نوم ياد شو.

**پيغمبر د طايف په لور:**

رسول الله صلى الله عليه وسلم وروسته لدى چې په مکه کې خپل لوى حامي له لاسه ورکړ د بعثت لسم کال شوال کې چې د ٦١٩م کال جون مياشتى سره

---

١- د القصص سورت ٥٦ آيت.

٢- د کيسې تفصيل لپاره بخاري شريف باب قصة أبي طالب، ټوک ١ ، مخ ٥٤٨، دا رنګه الرحيق المختوم، مخ ١٧٢-١٧٣ ، مراجعه دى وکړى شي.

٣- الاستيعاب في معرفة الأصحاب لابن عبدالبر، ټوک ٢ ، مخ ٨٩، د المکتبة الشاملة.

سمون لري خپل ځوی بللي ( زید بن حارثه ) سره طایف د مکې جنوب ته روان شو ، لس ورځې هلته واوسیده او خلک یې ایمان او د ده حمایت ته راوبلل ، مگر د طایف خلکو نه یوازې د هغه دعوت ونه مانه بلکه د خپلو لنډغرو او پا گلانو په واسطه یې هغه ته ښکنځلې او سپکاوی وکړ او په ډبرو سره یې مبارکې پښې په وینو کې لیت پیت کړی .

زید بن حارثه چې خپل بدن یې د ډیرو په وړاندې ډال تر څو د رحمت پیغمبر بختور بدن د ډیرو څخه وژغوري ، سریې څوځایه مات شو ، تر دی چې پیغمبر علیه السلام اړشو او د طایف په دری میلو کې یو باغ ته ننووت چې د : ربیعه ځامنو: عتبه او شیبه ؤ. باغ ته د ننوتو وروسته یرغلگر په شاه شول او پیغمبر علیه السلام په سیوری کې په ځمکه کښناست او دیوال ته یې ډډه ووهله . پداسې حال کې چې زړه یې د غم او خفگان نه په سر راغلی ؤ خپله مشهوره دعاء یې وویله... کله چې د ربیعه ځامنو پیغمبر علیه السلام ولید ، زړه یې وسوزیده او خپل نصراني مریه ( عداس) یې را وغوښت ورته وی ویل : د دغه انگور یو وړی واخله او دغه سړی ته یې یوسه ! کله چې عداس انگور د رسول الله مخې ته کښښودل آنحضرت لاس ور اوږدکړ او بسم الله یې وویله او د انگورو په خوړو یې پیل وکړ بیایې په مات زړه او غمجمن حالت مکې ته مخه کړه

**د طایف د خلکو نه د پیغمبر د ناهیلی غمجن کیسه :**

امام بخاري د دی کسي تفصیل د عروه بن زبیر نه نقل کړی چې عایشه ورته روایت کړی چې یوه ورځ یې د رسول الله (ص) نه وپوښتل: آیا د احد غزا دورځی نه سخته ورځ په تاسو تیره شوی ده ؟ وی فرمایل : د ما ستاله قوم نه ډیر ځیزونه لیدلي خو ډیر به څه چې ماله دوی نه لیدلی د عقبه ورځ وه چې ابن عبد یا لیل بن عبد کلال ته ورغلم خو د کوم ځواب په تمه چې ووم هغه یې رانکړ زه هم غمجن په خپله لاره لاړم تر څو چې په (( قرن الثعالب )) چې په قرن المنازل یادیږی په هوښ راغلم ، سرمی او چت کړ گورم چې وریځي ځما پر سر سیوری غوړولی ، ورته ومی کتل او جبریل می ولید په ما یې غږ وکړ وی ویل : یقینا الله جلا ﷻ هغه خبری چې ستا قوم تاته کړي او کوم ځواب یې چې تاته درکړ واورید اواوس یې په غرونو باند گمارل شوی فرښته تا ته را استولی او څه چې غواړی د هغه امرورته وکړه د غرونو فرښتی ماته غږ کړ او سلام یې را ته وکړ وی ویل : ای محمد ! همغه شانه ده چې تا واوریدل او څه چې غواړی همغه به کیږي ، که غواړی (اخشبین) به دمکې په خلکو را چپه کړم اخشبین دمکې ددووغرونو (ابو قبیس ) په شمال کې او دهغه په مقابل جنوب کې غر چې قیعقعان نو میږي .

پیغمبر وویل: هیله لرم چې الله ﷻ د دوی په اولادونو کې داسې کسان پیدا کړي چې یوازې یو الله تعالی ته عبادت وکړي او هیڅ موجود دهغه سره سیال نکړي .[1]
پیغمبر علیه السلام دحیرانوونکي او خارق العاده سفر د اسراء او معراج د مکه مکرمه نه د مسجد اقصی ته اوپه شپه کې د آسمانونو په لور پورته کېدل دجسم او روح سره دی سفر نه وروسته دالله په لور بلنی ته په ډاډینی سره دپخوانه لازیات دوام ورکړ. دبعثت لسم کال دحج په موسم کې دیثرب خلکو شپږ کسیزه ډلی سره پیغمبر ص ملاقات وکړ او هغوی یې اسلام ته دعوت کړل هغوی یې دعوت ومانه او داسلام په دین مشرف شول ورپسی کال دحج موسم کې دیثربیانو ۱۲ تنو چې ۵ تنه یې پخواني مسلمانان ول دعقبه په تنگه کې چې په منا کې پروت ده د اطاعت او بعثیت لاس یې رسول الله ته ورکړ. رسول الله صلی الله علیه وسلم مصعب بن عمیر داسلام اودده دلومړنی سفیر او استازي په توگه دهغوی سره یثرب نه واستاوه ترڅو اسلامي تعلیم او قرآنی آیتونه وروښیي. په نتیجه کې دهغه ځای ۷۳ مسلمانان دبعثت په ۱۳ کال چې دری ښځی هم پکې وی هماغهدعقبه

۱- الرحیق المختوم، مخ ۱۸۹-۱۹۱ د صحیح البخاري کتاب بدأ الخلق، حدیث ۷۳۸۹، ۳۲۳۱، صحیح الامام مسلم، باب ما لقي النبي صلی الله علیه وسلم من أذي المشرکین والمنافقین، ټوک ۲، مخ ۱۰۹، فتح الباري، ټوک ٦، مخ ۳٦۰.

تنګۍ ته راغلل او د رسول الله (ص) سره یې بیعت وکړ او خپل چمتووالی یې وښود چې د اسلام او رسول الله څخه به دفاع کوي .[1]

**یثرب (مدینه منوره) ته هجرت:**

داسلام خوږ پېغمبر د ۱۳ کلونو په اوږدوکې خلک په پوره صبر اوزغم ، صداقت اومانتداری د اسلام دین ته راوبلل او اسلام ته یې په مکه مکرمه کې د مشرکېنو په منځ کې خپورکړ بیایې دالله ﷻ په امر مدینې منورې ته هجرت وکړ همغه ؤ چې دجمعی په ورځ دهجرت لومړي کال ۱۲ ربیع الاول چې (۶۲۲م کال دستمبر ۲۷ سره سمون خوري مدینی منوری ته ورسید او په بني نجار او په مقابل څمکه کې د ابو ایوب انصاری په کورکې پریووت وی فر مایل: که الله ﷻ وغواړي داځای د پریوتو او ځای ګی دی او په موقت ډول کورکې هستوګن شو ، هغه د لومړی ځل لپاره د پرمخ تللی ټولنی بنسټ په خپلو څواکمنو، مبارکو لاسونو کېښود چې اساس یې توحید ، تقوی ، عدالت اسلامي ورورولي ؤ، او د هر ډول توپیر ، تعصب نه لری ؤ . دلس کلنی مودی مشری کې یې د اسلام مقدس دین یې د یو کال ، جامع ، شامل ، الله ته منلی او غوره دین په توګه په ټوله جزیره العرب او نړی نورو بر خو کې خپور کړ . رسول الله صلی الله علیه وسلم د حج سورت د ۳۹ آیت د

---

۱- (جستارهای در دین شناسی تطبیقی) د سید احمد اشرفي کتاب د ابن هشام سیرت ، ټوک ۲، مخ ۸۴- ۸۶ په حواله.

نزول نه وروسته چې د جهاد اجازه یې ورکوله د الله جلاﷻ په لارکې د ظالمانو او تیری کوونکو په وړاندې یې په وسله وال جهاد پیل وکړ.
شاوخوا د ٦٦ سترې او وړې جګړې د ده لارښونې او مشرې للاندې ترسره شوي چې نبوغ او وړتیا یې په فوځی کارونو کې نندارې ته ږ دی. مؤرخین :هغه جګړې چې خپله رسول الله پکې ګډون کړی وي او لارښونه یې کړی وي د غزوه په نوم، او هغه جګړی چې خپله رسول الله پکې ګډون نه وي کړی د سریه په نوم یادوي. د رسول الله د سریو شمیر ۳۸ ته او د غز اګانو شمیریې د ۲۸ څخه زیا تیږی . د پېغمبر علیه السلام لومړنی غزا ودان یا ابواء نومیږی چې هجری دوهم کال صفر میاشت کې پیښه شوه او وروستی غزایې د تبوک غزا ده چې نهم هجری کال جمادی الاول میاشت کې وه . په ۲۸ غزاګانو کې یوازه په نهو ۹ غزا ګانو پېغمبر علیه السلام د خپلو دښمنانو سره نښته شوی . اما په پاتو غزا ګانو کې یا دښمن تسلیم شوی او یایې فرار په قرار غوره کړی دی او کومه جګړه نده شوی ، هغه غزا ګانی چې جګړه پکې شوی عبارت دي له : د بدر غزا دوهم هجری کال کې ، احد غزا دریم هجري کال کې ، بني مطلق ، احزاب خندق ، او بني قریظه غزاګانی چې پنځم هجري کال کې وی . خیبر غزا په اوم هجري کال کې ، مکې فتحی ،

حنين او طايف غزا گانی اتم هجري کال کې . دغوټولو جګړو کې بريا دپيغمبر صلی الله عليه وسلم په برخه وه. [1]

**د بحث پايلې:**

۱ ـ د پيغمبر عليه السلام د فطانت سيوري للاندې ټولو مهاجرو هجرت په هوساينی سره تيرکړ او هيڅ ډول مادي اودينوي ستونزو سره مخامخ نشول هغه که حبشی ته مهاجر شوي ؤ او که مدينې منورې ته. برسيره په دی نوی پرمختياوی او انکشافات يې راوړل ، په حقيقت کې د نړی په تاريخ کې هيڅ داسې هجرت د رسول الله په لاس مبارک باندې هجرت په ځير موفق اوارزښتونو ډک هجرت نه ؤ .

۲ ـ دبعثت شپږم کال دذی الحجه مياشت کې ابو عمار حمزه بن عبدالمطلب د رسول الله ( ص) تره او درې ورځی وروسته حضرت عمر بن الخطاب د جزيزة العرب خړ پړ او ګر جن آسمان کې و ځليدل دخورو ورو تياروو فضايې د ايمان په نور رڼا کړه.

۳ـ د اسلام خوږ پيغمبر د يار لسو کلو موده کې خلک په پوره زغم ، صبر ، صداقت ، امانت داری د اسلام دين ته دعوت کړل تر دی چې اسلام يې په مکه مکرمه کې د مشرکينو په منځ کې خپور کړ.

---

۱- (جستارهای در دين شناسی تطبيقی) د سيد احمد اشرفي کتاب، مخ ۳۳۰-۳۳۱.

۴ـ رسول الله (ص) د الله ﷻ په امر مدينی منوری ته هجرت وکړ ، د جمعی په ورځ د هجری لومړی کال ربيع الاول ۱۲ چې ميلادی کال سپتمبر ۲۷ سمون لري مدينی ته ننووت .

۵ـ د رحمت پېغمبرپه لومړی سرکې د انسانی پر مخ تللی ټولنی بنسټ په خپل ځواکمن مبارک لاس کېښود چې اساس يې توحيد ، تقوی، عدالت، اسلامي اخوت ؤ او هيڅ ډول تبعيض او تعصب پکې نه ؤ او دخپلی مشری په لس کلنه موده کې په مدينه منوره کې د اسلام مقدس دين د يو کال ، جامع ، شامل او الله ته منلی او غوره دين په توگه په توله جزيرة العرب او نوره نړۍ کې خپور کړ.

**وفي الختام، أرجو الله عزوجل أن يوفقنا للاقتداء بالنبي خير الأمة، حبيبنا محمد ﷺ في سيرته و سلوكه و أخلاقه، قولا و فعلا و عملا و أن يرزقنا حبه و حب من يحبه من المهاجرين والأنصاروعامة المؤمنين كما أسأله باسمه الأعظم أن يدخلنا بغير حساب ولا سابق عقاب انه مجيب الدعوات.**

**و آخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمين.**

۲۲

## د اسلامي ټولنې جوړښت او د اسلامي دولت تأسیس

**الحمد لله الذي نصر عبده و هزم الأحزاب وحده، والصلاة والسلام على من لانبي بعده، الذي أدى الأمانة، و بلغ الرسالة و نصح الأمة و على آله و صحبه الطيبين و من تبعهم باحسان الى يوم الدين.**

اما بعد:

مؤمنو ورونو د رحمت پیغمبر مینه والو!

رسول الله ﷺ د جګړی په ډګر کې په اتلانو کې ډیر ذړورو او د څرښندنی سیاست او په نظامی، اجتماعی، اقتصادی او تربیوی بیلابیلو ډګرونو بریالیو پلانونو په جوړولو کې بی سیاله ؤ، د اسلام خوږ پیغمبر د مدني په وخت کې کې یې اسلامي دولت تأسیس کړ دمهاجرو اوانصارو په منځ کې یې دوستی او وروری ټرون او د مدینی ټولو میشتو قومونو په منځ کې دسولی خپراوی د ده داهدافو او ژوند ښښوونکو پروګرا موښو په سر کې موقعیت درلود هماغه ؤ جې دیثرب ښار د رحمت پیغمبر په راتلو سره ښکلی او محتوا نه ډک نومونه (مدینه منوره) او (مدینه طیبه) وګټل او د علم او تمدن ترلاسه کولو مرکز شو . د اسلام پیغمبر د سولی او وروری

په فضا کې د اسلامي ټولنی ایجاد لپاره خپل کاري پلانونه په للاندې پړاوونو کې عملي کړل:

**لومړی پړاو: دنبوي شریف مسجد جوړول:**

لومړنی گام ؤ چې پیغمبر علیه السلام او چت کړ، رسول الله ﷺ د دی مسجد لپاره هاغه ځای وټاکه چې اوښ یې په هغه ځای کې په زنگون لگولو مامور شوی ؤ په هغه ځای کې چې د پیغمبر علیه السلام ما ماگان او بني نجار قبیله میشت وه، پیغمبر علیه اسلام د جومات ځمکه دهغی د څښتن نه چې دوه یتیم ماشومان ول واخیسته اوخپله هم په جوړولو کې سهیم ؤ، پداسې حال کې خښتې اوډبرې اوچتولی او زمزمه به یې کوله: (**أللهم لاعیش الاعیش الآخرة فاغفر الأنصار والمهاجرة**).[1] یاالله یوازی دآخرت ژوند رښتینی ژونددی نو انصار او مهاجروبښه!الله ﷻ مدینه دسرور کاینات د دعاء له برکته د مکې مکرمې نه منوره او ډیره محبونه وگرځوله.

**دوهم پړاو: د مهاجرو او انصارو ترمینځ د وروری تړون:**

په دوهم گام کې یې د مهاجرو او انصارو ترمنځ د وروری تړون وکړ، ابن قیم وایي: دغه وخت دالله رسول ﷺ دانس بن مالک په کور کې د نوي کسانو ترمنځ د وروری تړون وتاړه چې نیمایي انصار او نیمایي یې مهاجر ول تر څو یوبل سره مرسته

١- صحیح البخاري، حدیث: ٤٢٨.

وکړي او دمړینی وروسته دنسبي خپلوانو په ځای یودبل نه میراث یوسي، دغه حکم د بدر غزا پوری ؤ ترهغه چې آیت شریف: (**وَأُوْلُواْ الأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَى بِبَعْضٍ**).[١] نازل شویعنی: دوینی خپلوان( د سیرات دوړ دنظره) یو د دبل حقدار دی داسلام پیغمبر دایمانداری، ایثار، ووروری، او خواخوږی بېلگه ده ، رسول الله ﷺ مدینی ته د رسیدو سره سم انصار او مهاجر یو دبل سره ورونه کړل، او په روح کې یې داسې د ووروری تړون راوستل شو چې هغوی دغه ووروري دنسبي ووروری نه ډیر قوي او مخکې ؤ آن چې دیوی مودی پوری وراثت هم ددوی په منځ کې روان ؤ.

## د سعد بن ربیع(رض) د ایثار کیسه د خپل مهاجر ورور عبدالرحمن بن عوف(رض) سره:

پیغمبر علیه السلام سعد بن ربیع د عبدالرحمن بن عوف سره ورور کړ، سعد بن ربیع (رض) یوه ورځ دخپل ورور لاس ونیوه ورته وی ویل: (وروره! تاسو خپل هرڅه په مکه کې پریښودل اوتش لاس راغلی، اوس ته مجرد یې خوزه دوه ښځی لرم د الله رضا لپاره وایم ځما ښځی وگوره، کومه یوه دی چې خوښه شوه زه هغه خوشی کووم او وعدت دتیریدو نه وروسته ورسره واده وکړه عبدالرحمن بن عوف د اوښکو ډکو سترگو سره ورته داسې ځواب ورکړ: (ځما وروره! الله ﷻ دی ستاښځې تا ته مبارکې کړي، ماته دبازار لار راوښیه همدا را ته بس ده!څه موده وروسته

---

١- د الأنفال سورت٧٥ آیت.

عبدالرحمن بن عوف دخپلی کورتی د اداری وس پیداکړ او لمړنی کاريې چې وکړ هغه واده ؤ. [1]

داسلام خوږ پیغمبر د ایمان ریښې د خپلو پلویا نو په زړونو داسې خښی کړی چې هیڅ څیز ورته د الله او رسول د محبت نه ډیر محبوب نه ؤ . د اسلام احکامو او فرمانونو ته ژمنتیاد دنیوی مصالحو نه پورته گاڼه .

## دريم پړاو: د ټولیز میثاق تړون، وروري او همغږي:

دريم ستر کار د اسلام د پیغمبر د ټولو مسلمانانو په منځ کې ؤ تر څو دجهالت نه په میراث پاتې کېنه او قبیلوي ظالمانه اړیکې او لاملونه يې له مینځه يووړل ، اوټول نغښتی اسلامي وحدت يې رامينځته کړ. د دی تړون دځینو موادو لنډیز: د اتړون پاڼه يو مکتوب دی دپيغمبر محمد ﷺ دقریشو او یثرب د مومنانو او مسلمانانو او ده دغه چا تر منځ چې د دوی دین ته راشي او جهاد ورسره وکړي:

۱- هغوی یو مستقل امت د نا مسلمانو خلکو نه غیر شمیرل کیږي.

۲- د قریشو مهاجرین د پخوا په څیر دیوبل دیت (وینی قیمت) ورکوي او دمومنانو په منځ کې د خپل بندی د خلاصون فدیه په ښه او منصفانه تو گه ورکول او هره ډله خپل بندي د مؤمنانو په منځ کې په ښه او منصفانه ډول د فدي په ورکولو سره خوشی کوي.

---

۱- نور جاویدان، فتح الله گولن، د استاذ فیض محمد عثماني ژباړه، ټوک ۲، مخ ۱۲۴-۱۲۵.

۳- مؤمنان په خپل منځ کې اړ مؤمن نه خوشې کوي بلکه دهغه دفدیې دیت په ورکولو په ښه ډول مرسته کوي.

۴- پرهیز ګاره مومنان ټول د هغه چا په ضد یولاس او متحد دي چې پردوی تیرې وکړي یا په ظلم کوم څیز ترې وغواړي یا د دوی په منځ کې ګناه، تجاوز او فساد راوړي.

۵- ټول دهغه په ضد یولاس او یوه خوله دي ولوکه ظالم شخص د کوم یو د دوی ځوی هم وي.

٦- په هرڅه کې چې اختلاف و کړئ بیرته الله او محمد ته راګرځی.[۱]

**څلورم پړاو: دیهودو قبیلو سره دسولې تړون کول:**

د اسلام پیغمبر د نوی اسلامي ټولنې د جوړښت او د وروری د تړون نه دوزګارتیا وروسته پدې لټه کې شو چې دنورو قبیلو سره تړونونه وکړي لومړی یې د یهودو سره تړون وکړ

**دیهودو سره تړون:**

رسول الله ﷺ دټول بشریت لپاره دامنیت ، سولې ، ثبات ، نیکمرغۍ او خیر په موخه هڅه وکړه چې خلک په یو محور او ټولو ته د قبول وړ محورباندې را ټول کړي خپل روابط د مدینې ته نزدې ګاونډیانو د عربو مختلفو قومونو او نورو قومونو

۱- د الرحیق المختوم، مخ ۲٦۸-۲۷٤ خلاصه او نچوړ.

په مدينه کې میشت یهود و سره دترون کولو سره بر قرار کړل چې د دواړو خواؤ مسلمان، اویهود) د اساسی حقوقو تأمین لپاره په ۱۲ ما دوکې امضا شو چې کېسه يې په تفصیل سره د ابن هشام سيرت کې را غلی ده . [۱]

د نور جاودان کتاب مولف دغه تړون پاڼه د لومړني اساسي قانون په نوم یا دوي او وايې: پېغمبر علیه السلام مدینی ته تشریف راوړلو سره سم یو تړون پاڼه خپره کړه. حقوق پوهان دغه تړون پاڼه چې په لږ وخت کې چمتو شوی د رسول الله اساسي قانون گڼی ، گورو چې په دی تړون پاڼه کې ډیری ما دی داسې دي چې وروسته د بشر حقونو په منشور حتی د مونږ (تنظیموو نکي فرمانونه کی) ذکر شوي دي. هو! هغه حقونو سره چې رسول الله ﷺ مسیحیانو او یهودو ته ومنل د مدینی د اوسید ونکو تر منځ داسې پیوستون یو والی پیدا شو حې هغوی یې جذب کړل او دابدی دښمنانو لکه رومیانو، ساسانیانو او قریشانو نه یې جلا کړل.[۲]

**پنځم پړاو: دنورو قومونو او قبیلو سره تړون کول:**

د رحمت پېغمبر د مختلفو قومونو او قبیلو سره د تړونونو بر سیره د نورو قبیلو سره هم تړونونه وکړل تر څو امنیت تامین او تولنیز عدالت راشي چې ډیر مهم يې:

۱- د لا زیاتو معلوماتو لپاره الرحيق المختوم د عبدالله خاموش ژباړه شوي کتاب، ط ۲، مخ ۲۷۸-۲۷۹ ته رجوع وشي.

۲- نورجاویدان، د استاذ فیص محمد عثماني ژباړه، ټوک ۲، مخ ۱۲۹.

۱- د (جهينه) او د ( بني ضمره ) قبيلو سره تړون او معاهده د صفري په مياشت کې د هجري کال چې له ٦٢٣ زيږديز کال سره سمون خوری رسول ﷺ له هغو قبيلو سره چې په مدينه منوره او په هغو لارو چې د هغې څخه د مکې مکرمې په لور غځيدلی دي ميشې وې معاهده وکړه، د دې لپاره چې د اسلام د ښمنانو له لوری ونه غوليږي په پای کې په مسلمانانوپر ضد له هغو سره مرسته ونکړي.

د ابواء او دَّان ( د مکې او مدينې ترمنځ ځای دی) د صفري په مياشت د هجري په دوه هم کال چې د زيرديز له ٦٢٣ کال سره سمون خوری واقع شوی چې د مهاجرينو (٧٠) خاصو کسانو سره د قريشو د کاروان د حملې لپاره له مدينې څخه ووتلو تر دي چې ابواء او ودَّان چې (رابغ) سيمې سره په (٢٩) ميله کې پره ته دی ورسيد لکن جگړه ونشوله پيغمبر ﷺ د بني ضمره د قبيلې مشر (عمر و بن مخشي ـ ضميري) سره د سولې معاهده تړون وکړو چې د دغې معاهدې متن دارنگه وه : دغه معاهده د محمد د الله استازی ( رسول ) او د قبيلې د بني ضمره سره دی. د دوی مال او ځان د هميش لپاره خوندی او په امان کې دي کله چې څوک په دوی تجاوز وکړي نو په مسلمانانو يې نصرت لازم دی نه په هغه وخت کې چې د الله جل جلاله له دين سره په جنگ کې وي، او دا معاهده ترهغه وخت پورې چې سمند په هغه کچه اوبه ولری چې د وړيو جامه لمده کړی! دارنگه که چيرې پيغمبر ﷺ مرسته وغواړی نو دوی به هم دده مرستې ته ور ودانگی.

دغه لومړی غزوه وه چې رســول ﷺ د مدينې څخه د پنځلس ورځو پورې غايب کړيوه او په دغه غزوه کې ســپين رنګ جنډه د حضرـت حمزه بن عبدالمطلب په لاس کې لوړه وه.

۲- د دو مة الجندل په غزاکې د( د عيينه بن حصن ) سره تړون چې د ربيع الاول په اواخرو د هجری پنځم کال وروسته د بدر د دو همې غزوې څخه واقع شوه.

۳- د رحمت پيغمبر مصالحه د قريشو يو شيطان ستره چې هغه وی عميربن وهب جمحي چې دصفوان په تحريک او د ځوی د خلاصون په بهانه ، وهب چې په بدرکې بندي شوی ؤ په زهر جنی توری سره يې غوښتل پيغمبر عليه السلام ووژني.[۱]

٤- **د پيغمبر عليه السلام روغه جوړه** د هغه بانډه چي سره چې د هغه د وژلو لپاره راغلی ؤ . د (ذات الرقاع) غزا دهجرت اووم کال کې، رسول الله ﷺ د يوې ونې سيوري للاندې بيده ؤ او خپله توره يې د ونې په ښاخ کې زوړنده کړی وه . رسول الله ﷺ خپل ياران ځان ته راوغوښتل وی فرمايل: زه بيده ووم دغه سړی ځما توره له تيکې څخه راويسته ويښ شوم ګورم چې توره يې په لاس کې ده وی ويل : څوک دی ځمانه ژغور لای شي؟ ماوويل : الله ﷻ اوس ګوری چې ځما

۱- الرحيق المختوم، مخ ۳٤۱-۳٤۳ د ابن هشام سيرت ټوک ۱، مخ ٦٦۱-٦٦۳ په حواله.

ځنګ ته ناست دی ، خو پیغمبر بانده چي ته رټنه ونه کړه . ( د ابو عوانه) په روایت کې راغلي دي چې : د سړی له لاسه توره ولویده ! او رسول الله اوچته کړه وی فرمایل: څوک به دی ځمانه خلاص کړي ؟ هغه وویل : خورا ښه او چتوونکې اوښه ښښنه را ته وکړه! پیغمبر و فرمایل : ( آیا شاهدی ورکوی چې د الله نه پرته بل حق معبود نسته او زه دالله ﷻ را استول شوی یم ؟ کوچي وویل: تا سره ژمنه کووم چې تا سره جګړه نه کووم او دتا په ضد بل چا مل هم نشم ، رسول الله ﷺ ورنه تیر شو هغه خپل قوم ته لاړ اووی ویل: زه دټولو ګړو بهترین کس څخه راغلی یم.

## ٥- دیهودو په هکله د منافقینو د رئیس عبدالله بن أبي ابن سلول دغوښتنې منل:

وروسته لدی چې د بني قینقاع بازار کې یوی عربی ښځی ته بني قینقاع بې پتي واړوله ، او اسلام ته د پیغمبر بلنه یې ونه منله او د ده په ضدیې د جګړی اعلان وکړ چې د هجرت دوهم کال شوال میاشتی نیمایي کې پیښه شوه او دا بدر د غزانه وروسته د مسلمانا نو لومړنی جګړه وه د یهوده سره . رسول الله ﷺ د دی منافق شفاعت د بني قینقاع یهود و په اړه قبول کړ چې د خزرجیانو همغږی ول .[۱]

---

۱- الرحیق المختوم، مخ ۳٤۷،۳٤۹، ٥٤٤ او ٥٤۷ ، د ابن هشام سیرت ټوک ۲، مخ ٤۷ او ٤۸، په حواله.

## ٦- د بني نضير قبيلې ته دروغې جوړې وړانديز او مرستې غوښتنه:

د پخوانی تړون پاښې تر مخه د بني نضير قبيلې ته د سولې وړانديز او مرستی غوښتنه وکړه خو هغوی غدر او خيانت وکړ او دهغه د وژلو طرحه يې جوړه کړه . پېغمبر او ياران يې د خبرو اترولپاره د يوی خونی د يوال للاندې ناست ول بني نضير يهودو د ستونزی د حل لپاره په څرګنده ډول چمتووالی وښود تر څو رسول الله هلته په انتظار کې وساتي او سلام بن مشکم ته يې دنده ورکړی وه چې د خونی له سره په رسول الله ډبر راګذار کړي ، اما جبريل امين پېغمبر عليه السلام د هغوی د مکر او دسيسی نه خبر کړ او پيغمبر د خپلو يارانو سره هغه ځای پريښود.

## ٧- د خيبر فتح په درشل کې د سولې خبرې اترې:

دخيبر ستر ښار د هجرى اووم کال محرم مياشت کې د اسلام د سرتيرو په لاس فتح شو هغه شپه چې په سهاريې د اسلام ځواکونو وکولای شول چې خيبر ته ننووځي ، د څونا کامو جګړو نه وروسته رسول الله و فرمايل : ( سهار ته جنډه هغه سړي ته ورکوم چې الله او رسول سره يې مينه لري او الله او رسول هم ورسره مينه لري او الله ﷻ د هغه په لاسونو مونږ ته بريا را په برخه کوي هماهغه ؤ چې سهار ته يې علی بن ابی طالب را وغوښت خو هغه د سترګوله رنځه زوريده ، پېغمبر خپلې لاړې د هغه په سترګو را کاږلی او دعايې ورته وکړه ، سترګې يې پوره جوړې

شوې بيايې جنډه وروسپارله او داسې نصيحت يې ورته وکړ ( **انفذ على رسلک حتى تنزل بساحتهم ثم ادعهم الى الاسلام و أخبرهم بما يجب عليهم من حق الله فيه، فوالله لأن يهدي الله بک رجلا واحداً خيرلک من أن يکون لک حمر النعم** ).[1]

مخ په وړاندې زه ! تردی چې پولی ته يې ننوځی بيايې اسلام ته را وبله! او الهي حقونو نه يې خبر کړه چې د دوی په غاړه دي ، قسم په الله کېږی الله ﷻ يو سړي ته ستا په لاس لارښونه وکړي تا ته د سرو او ښانو نه چې وی لری غوره او ښه دی . دغه دسياسی پلانونو او خو ځښتونو خوز کلک مرکز د څو خونړيو جګړو وروسته د اسلام د خوږ پېغمبر په مشری او د حضرت علی کرم الله وجهه په سرښندنو د اسلام د سرتيرو په لاس فتح شو.

**۸- د حديبيه سوله ( الفتح المبين):**

حديبيه سوله د مسلمانانو په ژوند او اسلامی دعوت کې د ستر او نوي اوښتون پېلامه شميرل کېږي مسلمانانو سره د سولی خبرو ډګرته د قريشو راتګ چې د اسلام کلک او قوي دښمن ګڼل کېدل ، د اسلام سره د دښمنی مثلث ډېر مهم ضلع او د دری ګونو ( قريش ، غطفان ، يهود) ګوندونو ډېر ځواکمن مټ ، مات شو او د دوه خدای پالونکو جوش او جذبه د عرب جزيزی په شاوخوا کې تت شو . د حديبی سوله لومړنۍ او برخليک ټاکونکې اقدام ؤ دپېغمر عليه السلام د يهودو

---

۱- صحيح البخاري، باب غزوة خيبر، ټوک ۲، مخ ۶۰۵-۶۰۶، د حديث شميره: ۳۰۰۹.

پر ضد چې د مدینی نه د تبعید وروسته یې خیبر نه د راټولیدو ، دسیسو جوړولو، فتنو اچونو مرکز جوړه کړ. او د مدینی شاوخوا کو چپان یې دیپغمر او یارانو په ضد هڅول . حدیبی سوله د اسلامی دعوت د خپراوي او مادي او معنوي اړخه د اسلامي ځواکونو د ځواکمنتیا نوی فرصت ؤ ، د حدیبی سولی نه وړاندې د مسلمانانو شمیر د دری زرونه نه زیاتیده خو دوه کاله وروسته د مکې فتحې په مهال یې شمیر د لس زروتنونه واوښت. ډیر وخت نه ؤ تیر شوی چې ستره بریا اوفتح او تلپاتی خوشحالی د دوی په برخه شوه کله چې مسجدالحرام ته ننوتل، د حدیبی سوله د اسلام خوږ پیغمبر علیه اسلام دمسلمانانو دمور ام سلمه په مشوره راوستله، چې د انسانانو د پېښو ډک تاریخ کې دلومړی ځل لپاره دسولی او پخلاینی په نوم تعبیر شوی ده . [۱]

### ۹- دتبوک تاریخي غزا:

داسلام پیغمبر وروستی (ځانگړی غزا) دتبوک غزا وه چې دهجرت نهم کال په رجب میاشت د پراختیا غوښتونکو رومیانو او پلویانو په ضد ترسره شوه، دمکې فتحی برخلیک ټاکونکې غزا نه وروسته په جزیرة العرب کې سوله او کراری راغی،

---

۱- الرحیق المختوم، مخ: ۴۹۱-۴۹۲.

او مسلمانان دالهی قوانینو زده کړی اواسلامي دعوت خپراوي ته وزګار شول. پیغمبر علیه السلام چې د رومیانو دپرمختګ او دمنافقینو د دسیسو چې تل دمسلمانانو له منځه وړو په ټکل کې دي او د (ابوعامرفاسق) په واسطه د روم له پاچا سره ارتباط درلود سخت لاندېښمن ؤ او له بلخوا دسخت تود موسم لا مله مسلمانان دوچ کالیی او کړاوونو سره مخامخ ول نو ځکه یې دجګړی ډګرته تلل یې نه خوښیده د دی ستونزو او سختیو سره سره رسول الله هغوی جهاد ته وهڅول او دبرآئت یا (توبه) سورت هغه برخه چې مسلمانان جهاد ته پورته کوي نازل شو. دتبوک نه دالسلام دسرتیرو دبیرته راتلو په لارکې ۱۲ تنو منافقینو هڅه وکړه چې دتالی نه د تېرېدو په مهال پیغمبر علیه السلام باندې حمله وکړي خو بریالي نه شول اووتښتېدل، پدغه وخت کې دپیغمبر د اوښې واږې دعمار په لاس کې وه او حذیفه بن یمان روانوله، رسول الله ﷺ دهغوی موخه او هریو نوم خذیفه (رض) ته ښکاره کړل دهمدی لامله حذیفه ته د رازساتونکي (صاحب سر) د پیغمبر ویل کېږي، الله ﷻ ددی پېښی په هکله فرمايي: (**وَهَمُّواْ بِمَا لَمْ يَنَالُواْ**).[۱]
«د داسې کار قصدیې وکړ چې ترلاسه یې نکړ» کله کې: دمدینی نښی به لیری ښکاره شوی پیغمبر علیه السلام وفرمایل: (د اطابه ده، او دغه احددی هغه غر چې مونږ خوښوي او مونږ یې خوښوو، کله چې خلک د پیغمبر ﷺ د راستنیدو نه

۱- د التوبة سورت۷٤ آیت.

خبر شول، ښځو او ماشومانو یې خورا تود هرکلی وکړ او دغه ترانه یې په شونډو وه:

**طلع البدر علينا من ثنيات الوداع وجب الشكر علينا ما دعا لله داع**[1]

څوارلسمی میاشت دثنية الوداع له لوري پرموږ راوختله، دالله شکر او منته پرموږ تل واجب دی تر هغو چې یوبنده د الله ﷻ دربار ته دعا کوي پدی ډول پیغمبر علیه اسلام د رجب میاشت کې مدینی ته را ستون شو.

**حجة الوداع:**

مؤمنو ورونو او خویندو!

د اسلام خوږ پیغمبر دلسم هجري کال ذوالحجی میاشت کې دحج فریضی اداءکولو په موخه د مکې مکرمې په لور وخوځید پدی حج کې چې دهغه لومړنی او وروستنی حج ؤ جامعه وینایې مسلمانانو ته وکړه چې په هغې کې یې داسلامي دین ټولو اصولو او فروعوته اشاره وکړه د ژوند په بیلابیلو ډگرونو فردي او اجتماعي، ضروری حکمونه، مهمې او برخلیک ټاکونکې مسئلې یې بیان کړی، رسول الله په خپله وینا کې دخپلو وفالرونکو مسلمانو یا رانو او ورونو سره تل لپاره خدای پاماني وکړه دهمدی لامله دغه حج په حجة الوداع باندې شهرت پیداکړ.[2]

۱- جامع الأصول في أحاديث الرسول للسيوطي، حديث: ٦٤٤٥.
۲- صحيح البخاري، كتاب الحج، باب الخطبة أيام منى، په دې احادیثو کې: ١٦٥٥، ٤١٤١، ٥٦٩٦، ٥٨١٤، ٦٤٠٣، ٦٤٧٤، ٦٦٦٦.

دغی وینا ته نزدی (۱۲۴۰۰۰) بل روایت کې (۱۲۲۰۰۰) مسلمانان مهاجر او انصار ناست ول، چې د دغی تاریخي خطبی د او رولو وروسته دمائدی سورت دریم آیت نازل شو د دین پوره والی او دقرآن دنزول تماموالی یې اعلام کړ (**الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا**).[۱] یعنی: نن ما تاسو لپاره ستا سو دین پوره کړ او خپل نعمت می تا سوته پوره کړ او اسلام می ستا سو لپاره د دین په توګه غوره کړ (دژوند دقانون او پروګرام تنظیمونکی) ددی مبارک آیت په نزول سره یو نوی فصل دبشریت په تاریخ کې پیل شو او بشر الهي یو ډیر لوی لطف للاندې راغی د الله ﷻ ټولو نه زیات پوره قانون چې د ادیانو او شریعتونو روستی نقطه وه را نازل شو، دغه کمال او شمولیت دیو کامل او با صلاحیته نظام په توګه دعقایدو، عباداتو، اخلاقو او معاملاتو بر سیره د ژوند ټول اړخونه او څانګې رانغاړي او ټولو کارونو لپاره یې لارښونی او قوانین وضع کړي دي. میړه، ښځه د حکمونونه نیولی تر ولادت، دکورنی جوړښت، ماشومانو روزنه، وراثت، ټولنه جوړونه حکومت کولو نظام، اقتصاد، فردي حقونو او روابطو، اجتماعی او بین المللی حقونو، جزايي او حقوقي حکمونو نه تر دمعاملاتو اصولو او نورو انساني ارزښتونو پوری.

**د دنیا نه رحلت او رفیق اعلی ته ورتلل:**

---

۱- د المائدې سورت ۳ آیت.

رسول الله ﷺ دحج مناسکو اداء کولو او په مکه مکرمه کې دلس ورځو داقامت وروسته مدینې منورې ته ستون شو، دوشنبې په ورځ دیولسم هجری کال دصفرمیاشتې اته ویشتم ۲۸ یا نه ویشتم ۲۹ په سردرد اوتبې اخته شو، یوه اونۍ وروسته یې رنځورتیا لاسخته شوه، او دښځو په اجازه یې دخپلې خوږې ښځې حضرت عایشه صدیقه رضي الله عنها په خونه کې بستر شو، دعایشه صدیقه رضي الله عنها روایت سره سم دهمدی رنځورتیا په مهال یې دزهرجنې غوښې نه شکایت کاوه چې په خیبر کې یې خوړلی وه، ویل یې: (دهغوخوړو درد تراوسه احساسوم چې ما په خیبرکې خوړلي ؤ او اوس فکر کووم چې دزړه وال مې دهغو زهرو لا مله پرې شوی دی [1]

دپېغمبر ﷺ رنځورتیا د(صفر ۲۹ نه دربیع الأول تر ۱۲) چې ټول (۱۳) ورځې وغزیده. درنځورتیا نه پنځه ورځې وړاندې پداسې حال کې چې د بدن تودوخه یې اوچته شوی وه امر وفرمایه: اوه ژیه او به دمدینې له چاګانو نه راوړي او ځما په سراوځان یې تویې کړي، هغه یې په یو ډېرین یالرګین لوښي کې کښیناوه او دبوژي یې پرسر مبارک تویې کړی، رسول الله ﷺ د دینه وروسته دتحفیف احساس وکړ، پداسې حال کې چې خپل مبارک سریې په پریړه ټوټه تړلی مسجد ته ننووت، په منبر کښیناست او خلکو ته به خطاب کېیې وویل ( **لعنة الله على اليهود والنصارى**

---

۱- د(جستار های دین شناسی تطبیقی) کتاب څخه مخ ۲۴۰.

**اتخذو قبور انبیا ئهم مساجد)** ژباړه: د الله تعالی لعنت دی په یهود او نصارا ووی چې د خپلو انبیاؤ قبرونه یې عبادت ځایونه گرزولی دی.

کله چی فاطمې پیغمبرﷺ درد احساس کړو وی ویل افسوس ځما دپلار په درد اوغم او تکلیف پیغمبر علیه السلام وفرمایل: نن نه وروسته به ستا په پلار درد، غم او لاندېښنه نه وي، بیایې حسن، حسین، راوغوښتل او ښکل یې کړل او دهغوی په هکله یې وصیت وکړ، بیایې خپلې ملاندېنې راوغوښتی ټولو ته یې نصیحت او وعظ وکړ، په کوم کاریې چې بیا ځلي توصیه کوله هغه التزام دپنځگونو لمونځو په اړه ؤ او دمریانو سره احسان کول ؤ. پدی توگه د الله دحبیب، د دواړو جهانونو سردار، دامت غمخور، دبشریت ژغورونکي، درحمت پیغمبر رنځورتیا ورځ په ورځ سختیده او درنځورتیا (۱۳-یا۱۴) ورځو وروسته، دوشنبی په ورځ دولسم د ربیع الأول د ام المؤمنین عایشه صدیقه رضي الله عنها په خونه کې د ٦٣ کلو په عمر رفیق اعلی ته ورستون شو.

وروستې جملې چې دده مبارک په ژبه جاري شوی داوی: **(أللهم اغفرلي وارحمني وألحقني بالرفیق الأعلی)**.[۱]

یعنی: یا الله ! ما وبښه، او په مارحم وکړه او رفیق اعلی سره می ونښلوه!

---

۱- صحیح البخاري، حدیث: ٤٤٣٩.

**هغه تحولات چې نبي ﷺ د مدني عهد په وخت کې راوستل:**

درحمت پېغمبر ﷺ داسې لمر ؤ چې د نړۍ ګردجن آسمان کې وځلید او په خپلو ځلانده وړانګو يې دبشريت عالم منور کړ او په خپلو قرآن ډوله اخلاقو، عالمانه تصرف او حکېمانه چلند سره يې دعربو جاهلي ټولنه د بوتانو دعبادت، او طواغيتو له غلامۍ آزاده کړه، او خلک يې د ډول ډول ظلم، جهل، خرافاتو، رنځ او عذاب نه وژغورل او غافل زړونه يې د (لااله الاالله) عقيدې سره وتړل، او اسلامي ټولنه يې د اخوت، عدالت په ستنو جوړه کړله، دبشريت تاريخ يې سره نوی پرانست، ديو ځای اوسيدو، خواخوږۍ فرهنګ يې دودکړ، دبشر حقونه يې قانوني کړل، ډاکټر يوسف قرضاوي دهغې انساني ټولنې خصوصيات چې د اسلام پېغمبر په ځواکمنو لاسونو اکمال ته رسيدلې ځومره ښکلي بيان کړي دي: دغه ټولنه دهجرت نه وروسته دعقيدې دسيوري للاندې د مدينې په ښار کې موجوده شوه، په نتيجه کې هغه اور د دښمن د اوس او خزرج په منځ کې مړ شو د عدناني او قحطاني عربو په منځ کې موانع پورته شول، همغه شان چې دمهاجرو او انصارو په ورورۍ کې ما وليده دعربو او عجمو په منځ کې کېنې له منځه لاړې، دشتمنو او اړمنو، پرمخ تللو ښاريانو او بيديا ناستو کوچيانو به منځ کې در زونه ورک او پيغمبر ﷺ مسجد داسې شو چه په پراخه فضا کې يې د بلال په څير حبشي د سلمان په څير فارسي او صهيب په شان رومي دخپلو عربانو پاکو او ښه زړ ورو صحابه ؤ په

ځنګ کې راټول شول، همداشان د عبدالرحمن بن عوف او عثمان ين عفان په څير شتمن د ابوذر، ابو هريره په څيرتش لاسو ځنګ ته کېناستل، او درنګ، نژاد، پوټکي، قبيلواختلاف يا طبقاتی اختلاف يا هربل بشري ناسم والي چې خلک ډلی، ډلی سره ويشي دهغوی وروري اغيزمنه او سسته او مخدوشه نکړه.[1]

علامه ندوي درسول الله ﷺ اخوا په ډيره لنډه موده کې په ټولنه کې راوستل شوی انقلاب په اړه داسې وايي: دغه انقلاب په ټولو ابعادو کې حيرانونکې ؤ، په سرعت، ژورتيا، شموليت او فراختيا کې يې، همداشان په وضاحت او روښانتيا کې، هغه د لومړنی نمونی ټولنی په ستاينه کې چې د اسلام پېغمبر په لاس په مدينه منوره کې تأسيس شوه داسې څرګندهوي: پدی ټولنه کې: ځان غوښتنه په بندګی نفساني شهوتو نه او خواهشات په عفت او ستر توب اوښتی ؤ، غامديه او ماعز اسلمی دواړه ښځی په خپلو کړو ګناهونو اعتراف درلود او هرې يوې دګناه دککړتيا د پاکوالي په موخه دالهي حد دپلي کولو غوښتونکې شوی وی.[2]

دمکې خلک ديثرب مسلمانانو سره يوځای شول، ځکه پېغمبر عليه اسلام دهغو ارواح يې په قرآن سره تغذيه کړی وی، او ځانونه يې په ايمان روزلی له دين نوی دين نه يې بل تړاونه درلود، ډيره حيرانونکې صحنه وه چې تاريخ د دين دقدرت او ځواکمنتيا نندارہ کړی وه، اوس او خزرج دبعاث جګړی ګرد او دوړی لا دخپلو

---

١- صحيح البخاری، کتاب المغازي، باب مرض النبي صلی الله عليه وسلم و وفاته.

٢- الرحيق المختوم، مخ ٦٧١-٦٧٢.

جامونه نه وڅندلی او دتورو څخه یې وینی څڅیدی، ناڅاپه اسلام د دوی زړونه سره ونښلول، که چا دځمکي توله شتمنۍ خرڅه کړی وی داسې ألفت او مینه په یې د دوی په منځ کي نه وه راوستلی کومه چې الله ﷻ د دوی په منځ کي راوستلی وهدغه اخوت داسې ؤ چې نسبي اخوت دهغه په وړاندې هیڅ ؤ اود دوستانو ټوله دوستي چې دتاریخ په اوږ دوکې نقل سوی ده دهغه په وړاندې دړې وړې ده. دغه نوی جوته شوی او دمکې دمهاجرو او مدینی د انصارو څخه جوړه ډله د ستر اسلامي امت لومړنی هسته ګڼل کېږي. هغه امت چې خلکوته پیدا شوی او داسلام جوهر او راتلونکې ده.

په عادي او اضطراري شرایطو کې یې دپیغمبر علیه السلام اطاعت کاوه او د الله ﷻ په لارکې درانده او سپک وتل. په لومړنی جګړه کې اسلام پر جاهلیت بریالی شو، وروسته لدی دبریا په ټولو ډګرونو کې بریا د مسلمانانو په برخه وه ، هغوی په زړه او ځان، ظاهر او باطن اسلام کې ننوتل، پنځو کالونو په موده کې اوه ویشت ځلي د رسول الله په کاروان کې دښمن سره دجګړی په موخه استول شوي دي، دمسلمانانو په زړونو کې د آخرت په ورځ ایمان، بی مثاله زړورتیا، حیرانوونکې شوق له جنت سره او ژوند سره یې بی پروایي پیدا کړه، سترګوته یې اخرت مجسم،

او جنت دخپلو ټولو نعمتونو سره ورته ښکاره ول. هغوی دلیک وړونکې د کوتری په څیر چې خپل شاوخوا ته نه ګوري، دهغه په لوري يې وزری پرانستی. [1]

**دکدرونو روزنې او ښایسته سالاری ته دپیغمبر علیه السلام اهتمام:**

رسول الله ﷺ هیڅکله په خپل مدنی ژوند کې انساني عنصر له پامه ندی غورځولی حتی کله به چې ده دهغوی څه شمېر د جګړې ډګر ته استول دعلمي فقر، فکري او فرهنګي فقرله منځه وړوې په ډګر کې هم فراخه هڅې کولی. او هڅه يې کوله چې د انسان او چت او عالی مرتبه او دعلم او فرهنګ مزلت په متوازن ډول وساتي، د محمد ﷺ مدرسه یوازینی مدرسه ده چې وړتیاوی تر وروستې کچې پورته یوسی او اوچتوالی ورکړي. هرچا چې د دغې مدرسې لاره خپله کړه نو ټولی عقلي، قلبي او روحي ښکلاوې او ملکې ته يې تر هغه حده چې طبیعت يې اجازه ورکوي، وده او رشدور کړ او قوي يې کړ. ابوبکر صدیق رضي الله عنه یو فوځي، اداري او علمي نابغه دی، همداشان عمر، عثمان، علی نابغه ګان ول داسې ډول چې دغه نوراني عصر دنوابغو عصر په نوم یاریږي، په بل عبارت، هاغه عصر یوطلایي عصر دی، چې دهیچا ذره وړتیا او قابلیت له منځه نه وړل، عقبه بن نافع په پنځلس کلنی کې ښه آس زغلونکې ؤ او دمختلفو خلفاؤ په د ورونو کې ستری ستری دندی ترسره کړي دي، او ټوله افریقایې داطلس اقیانوس

---

۱- د(جستار های دی دین شناسی تطبیقی) کتاب څخه مخ ۳۴۰-۳۴۲.

ترسواحلو پورې للاندې کړه، او مشهوره ده چې کله خپل آس سره دهغه اقيانوس څنډو ته ورسيد چې عربان يې (دتيارو سمندر بولی وی ويل: ،يا الله! دغه سيند زه تم کړم کنه نو خپل مزل چې غزاوه او ستا شريف نوم می دسيند هغی خوا ته رساوه، (طارق بن زياد) دغه يو بربري غلام دی چې ارکان حرب ؤ ګورو چې خپل دولس زريز لښکر سره داسپانيا په نوي زريز لښکر باندې بريالی کېږي او يوه ورځ ثابت مهال ټوله اسپانيا نيسي او دپاچا ماڼی ته په (توليدو) کې رسيږي. رسول الله ﷺ خپل ياران او اصحاب په خورا دقيق اوښه بڼه په مناسبو ځايونو کې استخدام او وګمارل، هرڅوک يې چې کوم کارته ګمارلی يقينا کړنی هغه دشته افرادو په منځ کې ترټولو وړ شخص ؤ دهمدی کارتر سره کولو لپاره اودده اجراءات دصحت ښه پرې اينبې ده. هو! دغه ټول نابغه ګان يو عصر او يوزماني کې څرګند شول: لکه: سعد بن ابی وقاص، ابو عبيده بن جراح، شرحبيل بن حسنه، يزيد بن سفيان او نور نوابغ چې د رسول الله ﷺ څخه وروسته يوصف شول ډيری بيدياوې يې شاته وغورځولې او دآمو سينده، سند، چېن ديوالونو او جبل طارق ته ورسيدل چې ممکن نه ؤ اود اشونتياهم نه وه چې دپيړی يوی ربعی په اندازه موده کې دی دغومناطقو کې حاکميتونه تأسيس شي او اداره او سوکالي برقراره شي، او دبرقراريدو په صورت کې دی دوام پيدا کړي. خصوصا دپخوانيو اديانو د اغفال،

تضليل، تحقير او تجاوز او دينى جوړښتونو سره دى مقابله وشي دټولى دنيا او ټولو مقاومتونو سره، سره دغه نظام دولس پيړى ذروه پاتى شو. [1]

دغو ټولو برياو، موفقينونو او اړخ وركولو كې ثواب ته درسيدلو ځان رسول او د دغوټولو استعدادونو او وړتياو توجيه كول هم يوازى دهغه دنبوت او پيغمبرى دسيوري للاندې تفسيرولاى شو او دهغه دنبوت يوبل دليل گڼلى شو ځكه چې په اجراءاتو كې يې هيڅ ډول خطأ او اشتباه نه ليدل كېږي.

**كله كله يوانسان د زرو انسانانو وړتيا او ښكلا درلودلاى شي:**

د داسې سړي بېلگه دانسانيت مربي د لاس نيالگيو او روزل شوو كې موندلى شو. ابن عائذ په المغازي كې له مالك بن عبدالله خثعمي (رض) څخه روايت كوى چې دير موک په ورځ كې ما دهغه سړي نه ډير شريف بل څوک ونه ليد چې مبارزى ته راووت، يوغښتلى او ځواكمن سړى د (كفارو) دهغه مخې ته راووت، او هغه وواژه بيابل راغى، هغه يې هم وواژه بيا كفارو ماتى وخوړه، او هغه ورپسى ؤ بيا خپلې سترې خيمې ته را ستون شو او كښيناست او ستر لوښي يې راوغوښتل او خواته ناست خلک يې را وغوښتل، ماپوښتنه وكړه چې: دغه څوک دى؟ ځواب راغى چې: عمر بن معديكرب (رض) دى.

---

١- ماذا خسر العالم بانحطاط المسلمين، لأبي الحسن الندوي، مخ ٢١.

**په يوازې ځان دقادسيه په ورځ کې دهغه يرغل او جګړه:**

ابن أبی شيبه، ابن عائذ بن سکن، سيف بن عمر، طبراني او نورو په صحيح سند سره دقيس بن ابی حازم (رض) نه روايت کړی چې وايي: قادسيه کې حاضرووم، سعد رض د خللکو امير ؤ او عمرو بن معديکرب په کتارونو تاويده اوويل يې: ای دمهاجرو ډلي زړور زمري اوسئ ځکه کله چې آس زغلوونکې خپل غشی و غورځوي نا هيلی کېږي، همدی وخت کې د فارس قومانداناںو يو قوماندان هغه په غشي وويشت او غشی دده دکمان په څوکه ولږيده نو عمرو په هغه حمله وکړه، هغه يې په نيزه وواهه او ملايې ورماته کړه او پری ورکوز شو او تجهيزات يې راواخستل. او ابن عساکر دغه روايت دبلی لاری لږ اوږد روايت کړی دی جې په پای کې يې راغلي دي: ناڅاپه يوغشی دده په لور راغی او د زين په شاولږيده، هغه په غشي والا باندې ورودانګل او هغه يې دوينزی په څير وينوه او درواړو کتارونو په منځ کې يې کېښود او سير يې تری غخ کړو يې ويل: همداسې وکړئ. او واقدي د خياط عيسی له لاری روايت کړی چې وی ويل: عمروبن معديکرب رض دقادسيه په ورځ په يوازی سر ودانګل او دهغوی په منځ کې يې توره ووهله، بيا مسلمانان هغه وخت ورسره يوځای شول چې: کفارو راګير کړی ؤ اوده دهغوی په منځ کې توره کاروله، او مسلمانانو کفار تري شړل. او طبراني د محمد بن سلام جمحي نه روايت کړی وايي: عمر رض سعد رضي الله عنه ته وليکل: ماتاسره د ووزرو په استولو

مرسته وکړه: عمرو بن معد یکرب او طلیحه بن خویلد دولابي د ابو صالح بن وجیهه نه روایت کړی وایي: یوویشتم کال ؤ چې د نهاوند پېښه را منځته شوه. او نعمان بن مقرن ووژل شو او مسلمانانو ماتی و خوړه، عمروبن معد یکرب په دغه ورځ هومره وجنګیده چې فتح یې په برخه شوه او ټپ دلره یې په ځمکه ګزار کړ او روږده کلي کې مړشو. [1]

## د انحطاط او وروسته پاتی کیدلو پیل:

کله چې مسلمانان د شرعي او تجربه یې علومو په فهم کې داشتباه سره مخ شول او دواړو په منځ یې توپیرو مانه علمیانحطاط او شاته تګ د مسلمانانو لمن ونیوله او داسلامي زده کړو په ډګرکې دوه ډلی خلک را څرګند شول یوی ډلی بله ډله تخریبوله او دغه دوه ګونی توب چې منفي او نا انډوله دی تراوسه شتون لری ابو الحسن ندوی رح فرمایي: که د اتم قرن نه بیرشو، کېدای شی نهم قرن د. بشاط، تولید، ابتکار او په دین کې ویاړ وروستی قرن وي او لسم قرن د انحطاط، پرشاتګ، تقلید او محاکمولوړی قرن وي، هراړخی او شامل انحطاط او خمود چې په دینی علومو کې لیدل کېږي او هم په هنر او تعلیم کې. همدالامل دی چې د تراجمو او شرح احوال په یوکتاب کې هم چې پدی وروسریتیو قرنونو کې تالیف شوی د یو شخصیت نوم هم نه په ستر ګو کېږي چې د نابغه، عبقري یاکم ترکمه د محقق

---

۱- همغه مرجع، ماذا خسر العالم، مخ ۱۳۶-۱۳۷ او ۱٤٤.

لقب يې ځانته کړی وي. میلادی شپاړسم او اوولسم قرنونه د مادي تحولاتو او پر مختګونو له پلوه چې وروسته را منځته شو، دانساني تاريخ ډيرې مهمې دوری شمېرل کېږي، اروپا دځو قرنونو اوږده خوبه راويښه شوه اودغفلت، جهالت او مړاوی توب وختونه شاته وغورځول، او ټول ځواک سره دهدف په لور ودانګلی، دطبيعت قوتونه يې للاندې او دکون اوهستی اسرارو له مخی يې پردې لرې کړی. نوي کارونه اووسيلی يې چې تراوسه مجهوله ؤ کشف کړل اودعلم، فن او دژوند هر ډګر کې يې نوی ور پرانست او په لنډه موده کې دعلم، تخنيک، هنر او په ډګرونو کې مبتکرشخصيتو نه ځرګند شو اود نبوغ پوړ ته ورسيدل لکه: برواګ کو پرنيکس، ګاليله، کبلر، نيوتن انشتين او نور پوهان چې د زاړه نظامی دنوي او پرمخ تللي نظام بنسټ کېښود، غربيان ديوه ساعت نه ديوی او ځو ورځو او ديوې ورځې نه ديو کال يا ځوکلونو په اندازه ګټه اخلي. په دغسی حالت کې چې ديو ساعت ضايع کول د اوږدې مودې ضايع کولو سره مساوي دی مسلمانان نه يوازی ساعتونه او ورځی ضايع او بی ګټې تيری کړی بلکه پرپسی قرنونه او کلونه يې کاره او کوښښه ضیٔع کړل: پداسې حال کې چې اروپايان دهری ثانيې او دقيقی دګټې اخستو نستوڼي بډوهلي او پيړيو او قرنونو واټنونه يې د محدو دوکلونو په ترځ کې وهلي او دترقي عروج ته رسيدلي. [1]

---

۱- المعجم الأوسط للطبراني، ټوک۸، مخ ۳۸۰، شعب الايمان للبيهقي، ټوک ۲، مخ ۸۸.

## نو څه وکړو؟

ټول هغه لاملو نه او موانع چې په ټولو ډګرونو دژوند مخصوصا د علم، نوی تکنالوژی په ډګر کې د انحطاط او وروسته پاتېدو، چې مونږ وشمیرل، ټول په ټوله د یو ستر او اساسي علت معلول دي او هغه عبارت دی د عقیدتي او ایدیولوژیکي انحطاط څخه. نو داوسني دردونکي وضعیت نه د خلاصون لار اود دی رنځ درمان یواځینی لار اسلام ته ورګر ځیدل دي، د پر مختګ او ښیرازی ګوهر ته دورګرځیدو لار جهد او اجتهاد فرهنګی منګول لږول دي په **حبل الله المتین** باندې چې دبشریت د ټولو موانعو او ستونزو له منځه وړونکې دی، اسلام په اوسني عصر کې دبل هر عصر او زمانی نه زیات ذکي، مجتهد، مبتکر او قوي تابع ته اړتیا لري چې قوي وي په ایمان، تقوی، ذکي په علومو، مجتهد او مبتکر په صاعت،د زراعت، طبابت، تجارت، سیاست او.... کې، تر څو وکولای شي د ټولنی وګړي فکري، سیاسي، فوځي او اقتصادي آزادي په لور رهبري کړي، اسلامی امت هغه مهال داستقلال نعمت، دژوند کارونو کې دځان بسنی نعمت باندې مشرف کېږي چې: د خپلو اسلافو تاریخي ویاړونو او عزتونو چې د علومو په پرمختګ او متمدنی ټولنی په ایجاد کې اغیزلری، دژوندی کولو لپاره هلې ځلې وکړي دغه پرمختلې ټولنه اسلامي ټولنه ده، امام غزالي فرمایي: هرکار چې د ژوند کارونو د پتلښی او پرمختتک لپاره اړین دی هغه فرض د کفایی دی لکه د طباعت علم چې دحال

دروغتیا لپاره ورته ضرورت دی، یا د حساب علم چې معاملات، تجارت دمیراث ویش او ... بی دهغه نا شونی دی کچېرې په اسلامي هیوارونو کې کافي شمیر دغه شان علماء شتون ونلري نو ټول گناه گاردي او که یو شمیر علماؤ وکولای شول د هېواد اړتیا وی پوره کړي نو د پاتې خلکو دنده ساقطه شوه.[1]

**دخبری لندیز او دبحث پایلې:**

۱- **داسلام خوږ پېغمبر دسربښندنې سیاست کې بی سیاله ؤ**،سوله او جوړه یې په جگړی باندې غوره گنله، ډیری جگړی پېغمبر باندې تپل شوی دی، هغه هیڅکله د جگړی پیلوونکې نه ؤ او تل یې زیار ویست چې وینه تویې نه شي، دښمن سره په خبرو اترو کې تحمل منونکې او زغم لرونکې ؤ، په ترونونو ژمن ؤ، درحمت پېغمبرؤ، خو کچېرې جگړه پری تپل کېده نو پېغمبر حماسی جوړولی، او په ټول وس او ځواک سره یې دخپل دعوت نه دفاع کوله، او په ډیرلږ تامل سره چې د رسول الله ﷺ په جگړو کې وشي نو شکاري چې د دواړو لورو وژل شو وشمیرشي دزر حنگیالیو څخه نه زیاتیږي.

۲ـ **دپېغمبر علیه السلام لیکلي پیغامونه دنړۍ پاچایانو او واکمنانو ته،** دعمرو بن العاص مصالحه د مصر خلکو سره او سل نوری پیښی ددی حقیقت

---

۱- نور جاویدان، فتح الله گولن، د استاذ فیض محمد عثماني ژباړه، ټوک ۲، مخ ۱۰٤، ۱٦۸-۱٦۹، ٦٥-٦٦، ۱۰۹، ۱۷۰.

ثرګندو نه کوي چې: اسلام دسولی سلام، امنیت، هوساسنې، دنیکمرغی، پرمختګ برابرونکې، او دجګړی او تاوتریخوالی نه عاري ژوند ضمانت کوونکې دی دځمکې دټولو انسانانو لپاره.

**۳- پیغمبر علیه السلام ترڅو چې الله ﷻ د جګړی اجازه ورنکړه نو یوازی د رسالت او دعوت ښی لارې باندې بسنه وکړه**، لومړنی آیت چې مسلمانانو ته یې د جګړې د حج سورت ۳۹ آیت دی چې فرمایي: (**أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَى نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ**).[۱]

یعنی: هغو کسانو ته چې جګړه پری تپل شوی ده دجهاد اجازه ورکړ شو ځکه چې تیری پرې شوې او یقینا الله ﷻ دهغوی دنصرت او یاری وس لري. رسول الله ﷺ هڅه درلوده چې نه کوم کوچنی او نه کوم رنځور په نښه شي. دامت ځیړندویان پدی اند دي چې جهاد یوازی دمقدساتو او تشریع نه د دفاع په خاطر وضع شوی دی، او قرآني آیتونه اونبوي حدیثونه ځمونږ ددی مدعا لپاره خورا ښه دلیلونه دي. قرانکریم فرمایي: (**فَإِنِ اعْتَزَلُوكُمْ فَلَمْ يُقَاتِلُوكُمْ وَأَلْقَوْاْ إِلَيْكُمُ السَّلَمَ فَمَا جَعَلَ اللّهُ لَكُمْ عَلَيْهِمْ سَبِيلًا**).[۲]

---

۱- د الحج سورت ۳۹ آیت.

۲- د النساء سورت ۹۰ آیت.

**۴- حضرت علي رضي الله عنه د پېغمبر علیه السلام د نظامي سیاستونو په پیروي**،د صفین جنگ د پیلیدو وړاندې خپلو لښکریانو ته یو جامع امر وکړ چې زمونږ دبحث ویاند شاهد دی.(**لاتقاتلوهم حتى يبدءوكم فانكم بحمدالله على حجة، وتركم اياهم حتى يبدءوكم حجة أخرى لكم عليهم فاذا كانت الهزيمة باذن الله فلا تقتلوا مدبرا ولاتصيبوا معورا ولا تجهزواعلى جريح**
**ولا تهيجوا النساء بأذى وان شتمن أعراضكم وسببن أمراءكم**) .[۱]

هغوی سره جګړه مه کوئ، ترڅو هغوی جګړه پیل کړي ځکه چې تاسی بحمدالله (دخپل حقانیت لپاره) د دلیل او حجت خاوندان یاست دا چې تاسی هغوی پرېږ! دی ترهغه چې هغوی جګړه پیل کړي، یوبل دلیل دی دستاسو پګټه او دهغوی په زیان، کله مو چې د الله ﷻ په امرماتی ورکړه نو تښتیدونکي مه وژنئ، بی وسه خلک مه وژنئ، ټپیان مه وژنئ، اوښځی په زورولو او اذیت سره په هیجان مه راولئ ولو که تاسو ته ښکنځلی وکړي او ستاسو مشرانو ته ناوړه خبرې وکړي.

**۵- پیغمبر ﷺ د مؤته غزوې لښکر امیران هر یو:**

زید بن حارثه د امیر په حیث مقرر کړو او ورته وی فرمایل (کچېرې زید مړ کړی شی جعفر دې لښکر مشر او امیر وی، کچېرې جعفر قتل کړی شو نو بیا به عبدالله

---

۱- مرکز الاشعاع الاسلامی www.islameu.com د انترنتی سایت څخه په نقل دالکافي، ټوک ۵، مخ ۳۹.

بن رواحه د لښکر امیر وی پیغمبر ﷺ دې دیواړو اسیرانو ته سپین رنگه بیرغ وتاړه او
د زید بن حارثه په لاس کې ورکړو او ورته ویویل چې د حارث بن عمیر د قتل ځای ته لاړشی لومړی دوی نه داسلام په لور دعوت ورکړی کچېرې قبول کړو نو دوی په امان کې دي ورنه د الله په نوم دوی سره جنگ او جگړه شروع کړی.
دا رنگه دوی ته وفرمایل: (د الله په نوم د الله په لاره کې هغو کسانو سره چې کافران دي وجنگیږئ، خیانت ونه نکړئ ، ترون مات نه کړئ، هیڅ څوک د کوچنیانو او د ښځینوو څخه قتل نه کړئ، بوډاگان او ډیر عمر والا ته لاس ورنه وړئ، کومه خلک چې په صومعه کې په عبادت سره مشغول وی هغو سره کار ونه لرئ، خرما او نورې ونې قطع او پری نه کړئ او ودانۍ خرابی نه کړي.[1]

**وفى الختام أرجو الله عزوجل، أن يوفقنا للاقتداء بالنبي الكريم فى سيرته و سلوكه و أخلاقه قولا وفعلا وعملا وأن يرزقنا حبه والموت فى حرمه كما أسأله باسمه الاعظم أن يدخلنا الجنة بغير حساب ولا سابق عذاب انه تعالى مجيب الدعوات .**

---

۱- الرحیق المختوم ټوک ۲، مخ ۱۱٤، او مختصر سیرة الرسول مخ ۳۲۱، او سیرة رحمة للعالمین ټوک ۲، مخ ۲۷۱.

٢٣

## اسلامي اخلاق

**الحمد لله رب العالمين والصلاة و السلام على سيد المرسلين، و إمام المتقين، نبينا محمد و على آله و أصحابه أجمعين و بعد:**

د پیدایښت له پیل څخه الهي رحمت او مهرباني د آدم علیه السلام د اولادې د حال سره شامله ده او دوهم ځل یې په هغه وخت او ځای کې نوښت او تجدید ورکړ چې ټول انساني او اخلاقي معیارونه د ناپوهۍ او خرافاتو تر انبار لاندې راغلي وو. په ځانګړې توګه بشري اخلاق او خویونه چې په واقعیت کې د بشر جوهر دی، نا پیدا ملغلره ګرځیدلي وو. په داسې حساسه زمانه کې الله تعالی داسې پیغمبر را ولیږه چې فرمایي: (**بُعثتُ لأُتمّم مَكَارِمَ الأخلاقَ**).[1]

یعنې رالیږل شوی یم څو د اخلاقو ښیګڼې بشپړې کړم.

پیغمبر صلی الله علیه وسلم چې د بشریت لپاره د اخلاقو او رحمت بېلګه او ښبه ده، د پیغمبر کیدو سره جوخت یې د نا پوهۍ تیارې په روښنایۍ بدلې کړې،

---

١- السنن الكبرى للامام البيهقي ، حديث: ٢١٣٠١.

اخلاقی انحرافات چې د شرابو څکل، قمار وهل، ســود خوړل، د کوډو عقیده او فال کتنه او له ځانه جوړه شــوو او جعلي کعبو باندې طواف، قبیلوي او قومي ع صبیت، د شرم او عار له وجې د لورانو ژوندۍ خ ښول، ځان خرڅونه او فاح شه توب او نور په لسګونو ناوړه کړه وړه د هغه د وخت د ټولنې د اخلاقو جز ګرځیدلي وو. په همداسې ټولنه کې الله تعالی د اخلاقو ښوونکی را ولیږه چې لوړې مرتبې او مشرـۍ او رهبرۍ ته ورســیده نو چاچې د پیغمبر صــلی الله علیه وســلم دین قبول کړ او دده اخلاقي ښوونې یې ومنلې او د اخلاقي ښېګنو لوړو درجو ته چې عبارت دي له: رښــتینولي او امانت، عدالت او مینه، زړ ور توب ! او ســخاوت، وفا اوکرم، اخلاص او د شریعت پیروي ته ورسیدل چې د دوی په هکله د رب العلمین له لوري یو پیغام را ولیږل شــو چې څو څمکه باقي ده ولوســتل شي. د پیغمبر صلی الله علیه وسلم او دده د صحابه وو د اخلاقو د ستاینې په هکله یې فرمایلي دي:

(**محمد رسول الله و الذین معه أشداء علی الکفار رحماء بینهم**) [١].

ژباړه: محمد صــلی الله علیه وســلم د الله رســول دی او کوم کســان چې له هغه سره ملګري دي هغوی پرکافرانو سخت او په خپلو منځو کې خوا خوږي دي.

١- د الفتح سورت: ٢٩ آیت.

او ددوی د مینې او ایثار او ټولنیزو اخلاقو او خویونو په هکله یې فرمایلي دي: (**وَالَّذِينَ تَبَوَّؤُوا الدَّارَ وَالْإِيمَانَ مِن قَبْلِهِمْ يُحِبُّونَ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُونَ فِي صُدُورِهِمْ حَاجَةً مِّمَّا أُوتُوا وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ**... [۱]

ژباړه: (او د هغو خلکو لپاره هم دی) چې د دغو مهاجرینو له راتګ نه مخکې یې ایمان راوړی په دار الهجرت کې اســـتوګن وو دوی له هغو خلکو سره مینه کوي چې دوی ته یې هجرت کړی دی او هرڅه چې هغوی ته ورکړل شي د هغو څه اړتیا قدرې هم دوی په خپلو زړونو کې نه احســـاســـوي او پر خپل ځان باندې ترجیح ورکوي اګر که خپله محتاج هم وي.

بالآخره د صحابه وو کرامو اخلاقي او ټولنیز ا صلاحات دا سې کچې ته ور سیدل چې د الله جل جلاله له لوري تقدیر نامه را ولیږل شــوه چې فرمایي: (**لَقَد رَضِــيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ**).[۲]

ژباړه: الله له مؤمنانو څخه خوشــحاله شـــو همغوی چې له ونې لاندې له تاسره بیعت کاوه.

د صحابه کرامو اخلاق دا سې کچې ته ور سیدل چې ګنهګاران د الله نه پرته بل چا نه لیدل، سره له دې هم په ډېر ټینګار سره حاضرېدل او وویل یې اې د الله

۱- د الحشر سورت: ۹ آیت.

۲- د الفتح سورت: ۱۸ آیت.

رســوله زنا مې کړېده ما پاک کړه او بل اقرار کاوه چې اې د الله رســوله غلا مې کړې ده، جزا مې څه ده؟ دا چې صــحابه وود الهي قوانینو او اســلامي اخلاقو التزام کړی و نو د نړۍ رهبري یې په لاس کې واخســـته او لویې امپراتورۍ یې فتح کړې.

قیصران چې عرب د همیش لپاره د دوی د ظلم او ځور څخه په ویره او ډارکې وو هغوی یې تسلیم کړل، کله چې مسلمانانو له دیني اخلاقو سره مخه ښه وکړه نو اخلاقي او ټولنیز انحراف په اسـلامي امت کې د پردیو په واسـطه را داخل شـو. فساد او لوڅوالی، سود خوړل، مخدره او نشه راوړونکي توکي او نورې بدۍ دود او خپرې شــوې او په مســلمه امت کې د بیوزلۍ لامل او په خپلوکې یو د بل په ځان او مال باندې زړور شول او د استعمار د جګیدو او خیزوهلو سبب شول چې په پایله کې دولت او خلافت یې په وړو وړو هېوادونو تبدیل او اقتصـادیې د صـفر سره ضرب شـــو. د اخلاقي او ټولنیزو بدیو پایلې په فرد پورې تړلې نه وې بلکې دیني او اقتصــادي بنســټونه، عســکري او نظامي پیاوړتیا، ټولنیزې اړیکې، روغتیایي، نفسي او ذهني قوت د زنګ وهلو په څیر د فنا باد ته سپاري.

**د اخلاقو سره آشنايي:**

اخلاق څه ته وايي؟ ايا ښه اخلاق او بد اخلاق شتون لري؟ که شتون لري څرنګه کولای شــو د دواړ په توپير و پوهيږو؟ د اســلام ســپيڅلی دين د اخلاقو په هکله څرنګه ليدنه کوي.

د اسلام په سپڅلي دين کې دری ډوله لار ښوونې شتون لري چې عبارت دي له:

۱ – عقايد

۲ – احکام

۳ - اخلاق

عقايد د انسان باورونه او عقيدې صحيح کوي، احکام د انسان کړه وړه تنظيموي او اخلاق د انسان د طبيعت او د ښو او بدو خويونو څخه بحث کوي.

**د اخلاقو تعريف:**

اخلاق عربي کلمه ده او د انســـان په خوی او طبيعت باندې يې اطلاق کيږي، مفرد يې خلق او يا خُلق دی. په داســې توګه چې خلق ( د خاء په زبر او د لام په سکون) د انسان د ظاهري بڼې په سموالي دلالت کوي. همدارنګه خُلق ( د خاء په پيښ) د انسان باطني حالت څرګندوي.

د اخلاقو د علم په اصـــطلاح کې (خُلق) د نفس هغه حالت ته ويل کيږي چې اعتبار ولري او په آسانۍ او پرځان له فشار راوړلو څخه پرته صادر شي.

هرکله چې د چا خوی او طبیعت داسې وي چې ښه ځیزونه ور څخه صادر شي، دې ډول ځیزونو ته ښـــه اخلاق ویل کیږي او که په چا کې بد کړه وړه او خویونه ولیده شي، بد اخلاق ورته ویل کیږي.

**ښه او بد اخلاق:**

د نورو سره نیکي او مرسته، ښه ګاونډیتوب، میلمه پالنه، د سلام خپرول، دناروغو پوښتنه کول، د مسلمان جنازې ته حاضرېدل، لویانوته درناوی، د کوچنیانو سره شـفقت او مهرباني، رښـتیاویل، سـخاوت، عفو او تیریدنه او نور دا ډول ځیزونه د ښــو اخلاقو له ډلې څخه دي او په مقابل کې یې: دروغ ویل، شــومتیا او بخیلي کول، په نورو تیری، دوکه او چل، خبرې ټولول، د صـــله رحمی پرېکول، بده ژبه خوځول، کینه ساتل، تکبر او لویي کول او دا سې نور د بدو اخلاقو له ډلې څخه ګڼل کیږي.

هغه څه چې یاد شول له هغو څخه دا نتیجه اخلو چې نیک اخلاق د انسان ګانه ده، په دنیا کې خوشــحالي او په آخرت کې برلاسي لاس ته راوړي. په مقابل کې یې بد اخلاق داسـې رنځ دی چې د تل لپاره یې څښـتن ته کړاو او عذاب ورکوي او د نورو لپاره د ستونزو لامل هم ګرځي.

## د اخلاقو فلسفه اوګټه:

د اخلاقو علم د خير او شر، نيکۍ او بدی څخه بحث کوي او دا بيانوي چې انسانان بايد يو د بل سره څرنګه چلند وکړي او همدا اخلاق دي چې ددوی ګټه موخه او چلند تعينيوي او دا را په ګوته کوي چې په کومه کړنلاره نيکمرغۍ ته رسيدای شو.

پرته له شکه اخلاق د هر ملت د هستۍ بنسټ او لومړنۍ ستنه ده، همدا وجه ده چې پوهان او فيلســوفان په يوه نظريه دي چې اخلاق د ټولنې د هر وګړي لپاره واجب او اړين دي څو وکولای شي چې د ځان او ټولنې لپاره ګټور وي؟ څکه څرنګه چې دروغ او کينه او ريا ديو نفر په شـخصـيت عيب واردوي اوهغه فاسـدوي او نابودوی يې. هغه ټولنه چې د وګړو ترمنځ دا ډول نا خوښـه صـفتونه خوروي هغو ټولنه فاسد وي او بيوزله په حساب راځي.

په همدې وجه لومړنۍ څيز چې د فيلســوفانو او قانون جوړوونکو او ټولو هغه کســانو چې غواړي بشرـي ټولنه د نيکمرغۍ په لوري وخوځوي، توجه او پاملرنه ځان ته را جلب کړي، اخلاقي ښـېګڼو ته د خلکو بلنه او نا خوښـه اخلاقو څخه د خلکو ژغورنه ده، ځکه ښــه او خوښ اخلاق د هرې روغې ټولنې ســتنه او بنسـټ ګنل کيږي. شـــاتوبريان هيڅ مبالغه نده کړې چې وايي:( اخلاق د هرې ټولنې ستنه او بنسټ دی).

له همدې کبله د ټولو پیغمبرانو رسـالت ښـو او خوښـو اخلاقو ته پر تشـویق او ترغیب باندې ډېر تاکید کوي او قرآنکریم هم د نیکو اخلاقو په مراعاتولو او په ښو اخلاقو د مؤمنانو په ستاینه ټینګار کوي ځکه همدا ښه اخلاق دي چې په آخرت کې د الله د نعمتونو د لاس ته راوړو لامل کیږي.

**د اخلاقو ارکان:**

آیا اسـلامي اخلاق او آداب د وضـعي ( یعنې د انسـان پواسـطه جوړشـوي) او نور ادیانو او مذاهبو د آدابو او اخلاقو سره یو شان دي او که توپیر لري؟ په اسلام کې د اخلاقو سـتنې او ارکان څرنګه دي؟ په دې لوسـت کې د اسـلامي اخلاقو بنسټونه او ارکان تر مطالعې لاندې نیسو.

**په اسلام کې د اخلاقو ستنې:**

د ا سلام په سپڅلي دین کې اخلاق او آداب پر څلورو ستنو یا بنـسټونو ولاړ دي چې د یوه مسـلمان اخلاق او آداب له همدې څلورو اصـلونو څخه سرچینه اخلي او مسلمان وګړي خپل کړه وړه او اخلاق د هغه په بنسټ عیاروي.

**لومړی: اعتقادي او ایماني بنسټ:**

د اسـلام سـپیڅلی دین د اخلاقو لومړنی تهداب او بنسـټ عقیده او ایمان ګڼي چې د یوه مؤمن او مسـلمان وګړي ټول معنوي او ظاهري خویونه او آداب له هغه څخه سرچینه اخلي په دې معنا چې د مسـلمان اخلاق د مسـلمان د عقیدې او

ايمان جزء دی. په دې هکله د اسلام د علماوو څخه يو تن د اخلاقو او عقيدې تر منځ داسې ښکلی تعبير کړی دی: عقيده له اخلاقو پرته د هغې ونې په څېر ده چې سيوری او ميوه نه لري او اخلاق له عقيدې پرته د يو بې ثباته موجود په شان دي.[1]

**دوهم علمي بنسټ:**

علم د اسلامي ادابو او اخلاقو دويم رکن او بنسټ تشکيلوي ځکه علم د ايمان سره په يوه رديف کې دی او هيڅکله د صحيحو اخلاقي ارزښتونو سره تناقض او ټکر نه لري، بلکې کله چې علم او تکنالوژي د اخلاقي ارزښتونو په واسطه توجيه نشي ـ ډيری وختونه د بشريت لپاره تباهي رامنځ ته کوي، که چېرې موږ مختلفو علومو لکه د طب علم، انجينيري، اقتصاد او نورور ته نظر وکړو و به وينو چې هر يو له دې علومو څخه اخلاقي ارزښتونو ته اړتيا لري او د اخلاقي ارزښتونو له مراعاتولو پرته علوم نشي کولای د انسان لپاره واقعي خدمت وکړي.

**دريم د مکافاتو او مجازاتو بنسټ:**

د اسلام سپڅلي دين اخلاقي ارزښتونه يو بې گټې او اختياري کار نه گڼي، بلکې د نيکو اخلاقو لرونکي انسان لپاره په دنيا کې نيکه بدله او په آخرت کې ورته په اجر او ثواب قائليږي. او بر عکس د هغه انسان لپاره چې اخلاقي ارزښتونه يې له لاسه ورکړي، هغه لپاره يې په دنيا او آخرت کې سزاگاني ټاکلي

دي. ځکه اسـلام ښـيګڼې او بدی، پاکي او پليتي يو شـان نه ګڼي لکه چې الله تعالی فرمايي: (**ولاتستوي الحسنة ولا السيئة**).[1]

ژباړه: يعنی هيڅکله نيکي او بدي يوشان نه دي.

او همدارنکه الله تعالی فرمايي:( **قل لا يستوي الخبيث والطيب**).[2]

ژباړه: و وايه برابر نه دي پليت او پاک.

او همدارنګه پيغمبر صـلی الله عليه وسـلم فرمايي: ( **من غشـــنا فليس منا**) يعنی څوک چې ز موږ سره دوکه او چل وکړي زما له امت څخه نه دی.

## خلورم نفسي او انساني بنسټ:

اخلاقي ارزښـتونه د نورو انسـاني غريزو په څير په هر شـخص کې پټ دي، اما د اسـلام پاک او سـپيڅلی دين دغه غريزې مثبت او معقول لوري ته رهنمايي کوي څو د افراط او تفريط مخه ونيول شي. د بيلګې په توګه خوړل او څښـــل د هر انسـان لپاره يوه د ژوندانه غريزه ده، خو په عين حال کې يو اخلاقي ارزښـت هم دی ، اوس که د خوړلو او څښلو غريزه په مينځنۍ او معقوله توګه تر سره نشي ، هم انسـان ته او هم نورو ته تاوان رسـوي. نو بنا پردې د اسـلام اخلاقي نظام ډير آداب او قوانين د خوړلو او څښـلو د غريزې د توجيه او مهـښـت په برخه کې وضع

۱- د فصلت سورت: ۳٤ آيت.

۲- د المائدې سورت: ۱۰۰ آيت.

کېږي ځو د هغه د منفي اغیزو منخنیوی وشي. د بېلګې په توګه قرآنکریم په دې هکله د اسراف څخه منع کړې او دا سې لارښوونه کوي: (**وَكُلُوا وَاشـرَبُوا وَلاَ تُسْـرِفُوا إِنَّهُ لاَ يُحِبُّ الْمُسرِفِينَ**).[1]

ژباړه: خورئ او څښـــئ او له حد نه تیرى مه کوئ الله له حد نه تیرى کوونکي نه خوښوي.

هر کله چې په انسان کې معنوي او روحي انګیزې ضعیفې شي، طبیعتاً مادي او نفســاني غوښــتنې او میلونه یې شــدت مومي. په خوراک کې زیاتوالى انســان داســې ځاى ته کشــوي چې د ژوندانه څخه موخه یوازې د مادي خوندونو څخه استفاده ګني او د هغه معنوي ځواکونه او روحي صفتونه په داسې کچه ضعیفوي چې نیکۍ او قربانۍ او د نفس له غوښتنو لرې والى هیروي او ځان غوښتنه، زړه سختي او عیاشي خپل کسب ګرځوي او دا ټول ددې لامل کیږي چې انسان د ټولنې د داســې فاســد غړي په توګه را منځ ته شي چې هیڅ فایده نه د ځان د ترقۍ او پر مختګ لپاره نه د کورنۍ او نه د هیوادلپاره پکې ولیده شي په همدې توګه کله چې نور اخلاقي ارزښتونه تر مطالعې لاندې ونیسو، مومو چې ا سلامي لارښوونو ددې ارزښتونو د هر یو لپاره توضیحات او معین قوانین وضع کړي ځو

1- د الاعراف سورت:۳۱ آیت.

په معقول او ګټور لوري کې لاربښوونه او له هغه څخه استفاده وشي او د هغه افراط او تفریط او ضررونو څخه ځان او نور وژغورل شي.

**د ښو اخلاقو نښې نښانې:**

ښه اخلاق د انساني کمالاتو له ډلې څخه دي، څرنګه انسان کولای شي چې خپل ځان د عالي اخلاقو په ګانه ښکلی او ښایسته سنبال او د خلکو په منځ کې محبوبیت حاصل کړي؟ د ښو اخلاقو صفتونه او ځانګړتیاوې کومې دي؟

**د ښو او خوښو اخلاقو تفصیلي معیارونه:**

ښه اخلاق د ایمان نښه ده او بد اخلاق د منافقت نښه او د ایمان بیوزلي او ضعف ګڼل کیږي. ټول هغه آیتونه، حدیثونه او آثار چې ښایسته اخلاقو ( د اخلاقو ارزښتونو) ته بلنه کوي د ښو او خوښو اخلاقو صفتونه او نښانې شمیرل کیږي. مسلمان په اخلاقو سره د نورو په وړاندې محبوبیت حاصلوي، په فردي او ټولنیز ژوندانه کې خوشحال او نیکمرغه وي او په آخرت کې هم د الله د بخښنې او محبوبیت مورد ګرځي.

اسلامي اخلاق د انسان ویناوو، اخلاقو او د ژوندانه ټولو اړخونو ته شاملیږي. پرانیستې تنده، ښه خبره، صبر او زغم، نوروته خدمت او د بیوزلانو سره مرسته د خوښو اخلاقو له نښو څخه دي.

الله تعالی مسـلمان مکلف کوي چې د نورو سره نیکي وکړي او د خلکو سره ښـه خبره وکړي لکه چې فرمايي: (**وَبِالوَالِدَينِ إِحسَانًا وَذِي القُربَى وَاليَتَامَى وَالمَسَاكِينِ وَقُولُوا لِلنَّاسِ حُسنًا**).[1]

ژباړه: له مور او پلار سره او له خپلو خپلوانو سره، له یتیمانو او مسکینانو سره غوره چارچلن کوئ او خلکو ته ښې خبرې کوئ.

همدارنګه الله تعالی مؤمن ته امر کوي چې په عمل او معامله کې د نورو سره په ښه چلند و چلیږي او بدیو ته په نیکۍ ځواب ورکړي لکه چې فرمايي: (**وَلَا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ**). [2]

ژباړه: او اې پیغمبره:! نیکي او بدي یو شانته نه دي، ته د بدۍ مخنیوی په هغې نیکۍ سره وکړه چې هغه ډیره ښـــه وي ته به وګورې چې له تاسره چې د چا دښمني لویدلې ده هغه دې لکه صمیمي دوست کرځیدلی دی.

پیغمبر صـلی الله علیه وسـلم په یو حدیث شریف کې ابوهریره رضـی الله عنه ته په ښو اخلاقو نصیحت وکړ، حضرت ابوهریره پوښتنه وکړه اې د الله رسوله! ښه اخلاق څه دي؟ پیغمبر صـلی الله علیه وسـلم و فرمایل: چاچې سـتا سره اړیکې

---

۱- د البقرې سورت: ۸۳ آیت.

۲- د فصلت سورت: ۳٤ آیت.

پرې کړې اړیکې ټینګې کړه او چاچې پرتا ظلم و کړ هغه ته بخښـــنه وکړه او چاچې ستا سره مرسته ونه کړه د هغه سره مرسته وکړه.

امام غزالي دښــو اخلاقو صــفتونه او نښــانې داســې خلاصــه کړې دي: اخلاقي انسان حياناک، ضرر نه رسوونکی، نیک، رښتیا ویونکی ، لږ خبرې کوونکی ، ډیر کارکوونکی ، او لږ ښـوییدونکی وي ،نیک انسـان دروند با وقاره، زغمونکی، شـکر ایستونکی، راضي، حکمت لرونکی، نرم خویه او ښو اخلاقو واله وي. د ښو اخلاقو لرونکی لعنت نه وایي، کنځلې نه کوي ، خبرې نه ټولوي ، غیبت نکوي ، د بیړې او عجلې څخه کار نه اخلي ، کینه نه ســاتي ، بخیلي نه کوي او د ښـــو اخلاقو څښـــتن آســـاني کوونکی وي، د الله په خاطر دوســـتي کوي او د الله په خاطر دښــمني، د الله لپاره حلم او نرمي غوره کوي او د الله په لارکې غصــه کیږي، دا دي ښه او ښایسته اخلاق.

**اخلاقي ځانګړتیاوې:**

آیا اخلاقي صفتونه د نورو صفتوتو سره یوشان دي؟ څرنګه اخلاقي ځانګړ تیاوې له غیر اخلاقي ځانګړتیاوو څخه توپیر کړو؟

**لومړۍ ځانګړتیا:**

باید ښه صفت یا خوی په ډېر تکرار سره د انسان په طبیعت کې ثابت او په عادت سره تبدیل شـــوی وي. بنا پردې که چیرې یو تن یو دوه ځله د چا سره مرســـته

کوي، هغه ته سخي نه ویل کیږي ځو دغه صفت په ده کې تکرار وارزول شي او په طبیعي عادت بدل شي.

**دوه همه ځانګړتیا:**

یوله اخلاقي ځانګړتیا دا ده چې اخلاقي عمل په اسانۍ او پرته له کړاوه د انسان څخه صادر شي نو بنا پردې که چیرې کوم ظالم انسان یو وخت په تکلف او فشار واردولو پر نفس، پرچا رحم وکړي، نو دده په باره کې نشي۔ ویل کیدای چې هغه مهربان او زړه سواندی انسان دی ځکه ده په تکلف سره د ظلم نه ځای ژغورنه کړې او تر څو چې په آسانۍ او طبیعي توګه د زړه سواندۍ سره عادت نشي۔ نو ده ته مهربانه انسان نشي ویل کیدای.

**دریمه ځانګړتیا:**

د انسان اراده باید د اخلاقي عمل په ترسره کولوکې دخالت او شمولیت ولري نفسي۔ حالات چې د انسان له ارادې څخه خارج وي او انسان د هغه په جوړولو کې لاس و نه لري لکه ذکاوت، د ښه ذهن درلودند او داسې نور، په دې حالت کې اخلاق نه ورته ویل کیږي، ځکه په داسي حالتونو کې د انسان اراده دخالت نه لري او د هغه په درلودنه څوک نشي۔ کولای انسان نیکو کاره او یا بد کاره و نوموي.

**د اخلاقو په باره کې د علماوو نظريات:**

علماء او پوهان د ښو او بدو اخلاقو په هکله څه نظريې لري د ښو اخلاقو ګټې او د بدو اخلاقو ضرورنه بيان کړي دي. دلته ځنې له دې نظريو څخه يادوو څو په دې وسيله د تيرو لوستونو مفاهيم په ذهن کې کښيي:

**الف:** د پيغمبر صلى الله عليه وسلم څخه د ښو اخلاقو په باره کې پوښتنه وشوه، د الله رسول صلى الله عليه وسلم د الله دا وينا تلاوت کړه: (**خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ**). [1]

ژباړه: اې پېغمبره! د نرمۍ او تيريدنې لاره غوره کړه د ښو چارو ښوونکی اوسه او له ناپوهانو سره مه نښله.

بيا پيغمبر صلى الله عليه وسلم و فرمايل:( **هو أن تصل من قطعک و تعطي من حرمک و تعفو عمن ظلمک**). [2]

يعنې ښه اخلاق دا دي: چا چې له تا سره اړيکه پريکړه ته ورسره اړيکه وساته، چاچې ته له څه شي څخه محروم کړې ته هغه ته ورکړه کوه او چاچې له تا سره ظلم وکړ ته هغه عفوه کړه.

---

۱- د الاعراف سورت: ۱۹۹ آيت.

۲- المعجم الأوسط للطبراني، حديث: ۹۰۹.

**ب:** حضرت علی رضی الله عنه فرمايلي دی: ښه خوی او اخلاق دری خصلتونه لري: د حرامونه ځان ساتنه، حلال مال غوښتل او په خپله کورنۍ باندې پراخي کول.

**ج:** حسن بصري رحمة الله وايي: بدخويه انسان هميشه ځان په عذاب کې اچوي.

د: فضيل بن عياض رحمة الله وايي د بد اخلاق عابد له دوستۍ څخه د فاجر سړي سره دوستي او ناسته پاسته غوره ده.

هـ: عبدالله ابن مبارک رحمة الله وايي: ښه اخلاق، پرانستې تنده، د نورو سره ښيګڼه او له بدۍ څخه ځان ساتنه ده.

يو بد اخلاقه سړی د عبدالله ابن مبارک رحمة الله سره ملګری شو او هغه ته يې ډير کړاو او آزار ورکړ خو کله چې هغه له ده څخه جلا شو، نو عبدالله بن مبارک وژړل، چا ور څخه د ژړا د لامل په هکله پوښتنه وکړه، ده په ځواب کې وويل: دی له ما څخه جلا شو خو بد خوی يې ور سره ملګری دی.

و: جنيد رحمة الله فرمايلي دي: دری خويونه دي چې بنده په لږ عمل سره لوړو درجوته رسوي: حلم، عاجزي او نيک اخلاق چې دا ځيزونه د ايمان بشپړتيا ده.

## ښه اخلاق د زړه پاکي ده:

آیا پوهیږئ چې ښه اخلاق د انسان زړه پاکوي؟ لکه څنګه چې د انسان ظاهري بدن د ناروغتیا سره مخ کیږي، باطني نفس يې هم په درد او رنځ اخته کیږي. د بېلګې په توګه لکه څنګه چې لاس د بیمارۍ په نتیجه کې کار نشي ــ کولای، سترګې د مریضــۍ په ســبب له لیدلو پاتې کیږي، زړه هم د باطني ناروغتیا په وجه خپله دنده په سمه توګه نشي تر سره کولای.

د زړه دندې د الله تعالی پیژندنه، د الله سره مینه څرګندونه، د الله د عبادت لپاره په ښــه توګه چمتو کیدنه او د الله د رضــا په خاطر د ټولو غوښــتنو او نورو هیلو نیک او ښه جوړول دي.

الله تعالی فرمايي: ( **وما خلقت الجن والانس الا ليعبدون** )[1]

ژباړه: ما پیریان او انسانان له دې پرته د بل کار لپاره نه دي پيداکړي چې هغوی زما بندګي وکړي.

که څوک ټول څیزونه و پیژني خو خالق ( پیداکوونکی) و نه پیژني ئي، دا د هغه چا په څیر دی چې هیڅ شی يې نه دی پیژندلي، ځکه ده د ټولو څیزونو اصل او پیدا کوونکی نه دی پیژندلی.

---

۱- د الذاریات سورت: ٥٦ آیت.

د الله د پيژندنې ګټه او ميوه دا ده چې: د الله تعالى سره مينه وښودل شي او په بشـــپړه توګه دهغه د بندګۍ لپاره ځان چمتو کړي او هيڅ شي ته د الله په پرتله ترجيح ور نکړي او غوره يې ونه ګني.

نو هرڅوک چې د الله د دوســـتۍ او د هغه د خوښـــۍ د دعوې سره سره د نورو کسانو مينې او رضا ته د الله په پرتله ترجيح ورکوي نو ددې سړي زړه ناروغ دی. معده ( ګيډه) يې د هغه چا په شـــان ده چې د ډوډۍ په پرتله خاورې ورته خوندورې وي. دا ډول زړونه ډير په ناروغۍ اخته وي.

او د ښـو اخلاقو په واسـطه د زړونو شـفا او له ګناه څخه يې پاکي حاصـليږي. د بيلګې په توګه بخل او شـــومتيا يوه د زړه باطني ناروغي ده چې د هغه له وجې انسان له الله نه لرې کيږي.

ددې ناروغۍ علاج او درملنه داده چې د بخل په کمښت سره انسان خپل نفس وپيژني او د مال په لګولو کې له غيرته کار واخلي، ترڅو د سخاوت سره عادت او روږدی او اخلاق يې ښايسته شي. په همدې توګه د ښو اخلاقو نور ډولونه زړه ته صفايي او پاکي وربښي.

ښه اخلاق څرنګه په لاس راځي؟

ايا اخلاق او خويونه د تغير او تبديل وړ دي؟ آيا د انســـان هله ځله د اخلاقي ارزښتونو په څرنګوالي او د هغه په تغيرکې څه رول لوبوي؟ کومې کاري کړنلارې

کولای شي د انســـان د اخلاقو په رامنځ ته کیدو کې څه اغیز واچوي؟ د اخلاقو تغیر ورکوونکي لاملونه کوم دي؟

ځیني په دې نظر دي چې اخلاق یوه غریزه ده او انســـانان د هغې سره زیږول کیږي او اخلاق تبدیلي نه قبلوي اما ســـمه خبره داده چې په اخلاقو کې ارثي او غریزي صفتونه دواړه اغیز لري، خو د روزنې په واسطه د تغیر او تبدیل وړ دي.

الله تعالی قرآنکریم کې فرمايي: (**وَذَكِّرْ فَإِنَّ الذِّكْرَى تَنفَعُ الْمُؤْمِنِينَ**). [1]

ژباړه: البته نصیحت کوه، ځکه چې نصیحت د مؤمنانو لپاره ګټور دی.

**همدارنګه الله جل جلاله فرمايی:** (**وَنَفْسٍ وَمَا سَـــوَّاهَا فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَاهَا قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّاهَاوَقَدْ خَابَ مَن دَسَّاهَا**). [2]

ژباړه: او په انســانې نفس او په هغه ذات قســم چې هغه یې برابر کړ، بیايې بدی او د هغه پرهیزګاري هغه ته الهام کړه، په رښـــتیا سره بری و مونده هغه چاچې هغه د نفس تزکیه وکړه او ناکام شو هغه څوک چې هغه یې لاندې پټ کړ.

نو د ښــو اخلاقو په واســطه د نفس ښــایســـته کول او له بدو اخلاقو څخه د هغه پاکول. د پاسني آیت په حکم د مکلف انسان په اراده کې داخل دي. له همدې کبله الله تعالی په هره زمانه کې د خلکو د لارشـــوونې لپاره انبیاء علیهم الســـلام

١- د الذاریات سورت: ٥٥ آیت.

٢- د الشمس سورت: ٧- ١٠ آیتونه.

راليږلي دي څو انسانانو ته صحيح عقيدې، سم احکام او ښه اخلاق ور وښيي. الله تعالى د اسلام پيغمبر صلى الله عليه وسلم د داسې قوم په منځ کې را وليږه چې ډول ډول عادتونه او بد او ناوړه اخلاق پکې شـــتون درلود. په خپلو کې په جنګونو اخته وو، يو د بل مالونه يې لوټول او په بيوزلانو خلکو يې ظلم او تيرى کاوه. د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اخلاقي ښوونې او روزنې په پايله کې له همغه قوم څخه داســې سـړي را منځ ته شــول چې د ښــواخلاقو په مټ يې د اسلام دين په ټوله نړۍ کې خپور کړ او د پيغمبر صلى الله عليه وسلم صحابه او ملګري د ټول بشريت لپاره د ښو اخلاقو ښوونکي شول.

که چيرى مور او تا سې په خپل کلي او سيمه کې متوجه شو مومو چې خلک له خپل چاپيريال څخه اغيزمن کيږي، هغه هلکان او نجونې چې له نيکو کورنيو سره اړيکې او د ښــو اخلاقو لرونکو خلکو سره ناسـته پاسـته لري، د هغوى اخلاق ښـــه کيږي او که په هغه کورنيو کې چې شـــوونه او روزنه يې ښـــه نه وي او يا د خرابو دوســـتانو سره سر او کار لري، د دوى په اخلاقو خراب اغيز اچوي او د بدو اخلاقو لوري ته کشول کيږي.

لکه څنګه چې ځاروي او الوتونکي روزنه اخلي او د روزنې او پالنې په پايله کې ډول ډول ګټې ور څخه اخستل کيږي.

په همدې توګه انسانان هم د ښوونې او د روزنې په نتيجه کې اغيز قبلوي.

## د اخلاقو د تغییر لاملونه او لارې:

یو له هغو کړنلارو او لاملونو څخه چې په هغو کې د اخلاقو له تغیر او تبدیل څخه کار اخستل کیږي، ښوونه او روزنه ده، علم، انسان د اخلاقو ارزښت ته متوجه کوي او په دې هکله هغه ته قناعت ورکوي او اخلاق په تمرین او عمل سره په عادت تبدیلیږي، ددې موضوع زیاتې شرحې ته پاملرنه وکړئ.

**۱- ښوونه:** د ښوونې په وا سطه انسان ته د ښو اخلاقو په لاس ته راوړلو او له بدو اخلاقو څخه په پرهیز کولو قناعت ښښل کیږي. د ښوونې په وسیله انسان کولای شي ښه اخلاق او له هغو څخه د استفادې لارې وپیژني او همدارنگه له ناوړه اخلاقو او د هغو له تاوانونو سره آشنا شي.

قرآن کریم د اخلاقو تر ټولو لوی کتاب دی، په همدې توگه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت او سیرت او هغه ته غوږ نیول د اخلاقو د درک او پیژندلو له ډیرو مهمو منابعو څخه دی.

**۲- روزنه:** روزنه د عمل د تکرار سره د اخلاقو د پیاوړ تیا او ثبوت له غوره وسیلو څخه ده چې د کورنۍ د غړو، ټولگیوالو، د سیمې او ښار د خلکو سره په ناسته پاسته کې د انسان لپاره تلقین کیږي.

د هغو په څنگ کې په خپل عزم او ارادې د ښو اخلاقو د حاصلولو لپاره په اخلاقي روزنه کې پیاوړې اغیزې لري.

هر کله که څوک په تکلف سره څو ځله ښه کار انجام کړي او له ناوړه کارونو څخه ډډه وکړي ښه اخلاق یې په برخه کیږي.

**د ښو اخلاقو فضیلتونه:**

د اسـلام ښـوونې او نصـیحتونه د ژوندانه په مختلفو برخو پورې اړیکې لري یو له دغو برخو څخه چې د ارزښـــت او لوړې درجې لرونکې ده، اخلاق دي د اخلاقو ارزښت او غوره والی په ګڼو دلیلونو سره ثابت شوی دی.

**د دغو دلیلونو له ډلې څخه کولای شو لاندې موارد په نظر کې ونیسو:**

۱- یو له هغه موخو څخه چې د پیغمبر صـــلی الله علیه وســـلم په رســـالت کې مقصود وه او رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه په وجه په پیغمبرۍ را ولیږل شــو د مکارمو اخلاقو پیاوړتیا او کمال ته رسـیدنه وه. نبی کریم صـلی الله علیه وسلم په خپله فرمایلي دي:

( **إنما بعثت لأتمم مكارم الأخلاق**) .[1]

یعنی زه په دې خاطر په پیغمبرۍ رالیږل شـوی یم څو د اخلاقو ارزښـتونه بشـپړ کړم (کمال ته یې ورسوم).

۲- دینداري د نیکو اخلاقو په درلودنې سره مترادفه او په اخلاقي ښایسته خویونو باندې سنباله را پیژندله شوې ده. لکه څنکه چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم

۱- السنن الکبری للامام البیهقي حدیث: ۲۱۳۰۱.

ځخه پوښتنه وشوه: دينداري څه ده؟ هغه وفرمايل: (**حسن الخلق**) يعنې د ښو اخلاقو درلودنه.

۳- هغه تله او معيار چې د هغه په واسطه بشپړ او رښتينی ايمان د ضعيف ايمان ځخه جلا کوي.

هغه ښه اخلاق دي. ځکه له رسول الله صلی الله عليه وسلم ځخه پوښتنه وشوه: د مؤمنانو له ډلې ځخه کوم يو د غوره ايمان خاوند دی؟ ده وفرمايل: ( **أحسنهم أخلاقاً**) [۱]

يعنی هر هغه څوک چې د غوره اخلاقو ځښتن وي.

الله جل جلاله د قرآن په څو ځايونو کې خپل پيغمبر د ښو اخلاقو د درلودنې په خاطر د ستاينې مورد گرځولی دی. او دا پردې دليل دی چې ښه اخلاق لويه درجه او عالی ارزښت لري. لکه چې فرمايلي يې دي: (**و انک لعلی خلق عظيم**). [۲] سره په دې چې الله جل جلاله د پيغمبر صلی الله عليه وسلم په ښو او لويو اخلاقو گواهي ورکړې ده خو سره له دې بيا هم نبی کريم صلی الله عليه وسلم د الله نه په خپله په خپله دعا کې غوښتل چی اخلاق يې ورغوره او ښايسته کړي لکه چې : فرمايلې يی دي : (**أللهم کما أحسنت خَلقي فأحسن خُلقي**). [۳]

---

۱- سنن الدارمي، حديث: ۲۷۸۹.

۲- د القلم سورت: ٤ آيت.

۳- مسند أبي داود الطيالسي لسيلمان بن داود بن الجارود، حديث: ۳۷۲.

يعنى الهى لکه څنګه دې چې ز ما پيدايښت ښايسته کړى دى اخلاق مې هم ښايسته وګرځوه.

٤- تر ټولو غوره ډالۍ او الهي ورکړه بندګانو ته داده چې له ښـــو اخلاقو څخه برخمن وي، روايت شـوى چې څو کسـه بانډه چيان د نبى کريم صـلى الله عليه و سلم حـضورته راغلل او پو ښتنه يې وکړه د الله تر ټولو غوره ورکړه او ډالۍ بنده ته څه ده ؟ پيغمبر صـلى الله عليه وسـلم وفرمايل: (حسـن الأخلاق). يعنـى ښـه اخلاق.

که هغه نکتو ته چې په تيرو روايتونو کې راغلې دي وګورو درک به کړو چې يو ښه مؤمن او مســلمان هغه دى چې د ښـو اخلاقو څخه برخمن وي او له بدو او ناوړه اخلاقو څخه ځان ژغوري.

**د ښو اخلاقو پايلې:**

کوم غوره والى او مرتبه چې ښو اخلاقو ته ورکړى شوې او ثابته شوې ده، د هغو نتيجو او پايلو په دليل سره ده کومې چې په هغو مرتب دي . د ښـو اخلاقو پايلي او ميوې هم په دې دنيا کې ښرګندې دي او هم په آخرت کې او د انســـان د خلاصون او نيکمرغۍ لامل کيږي.

## ۱- د ښو اخلاقو دنيوي پايلې او ميوې:

څوک چې په ښايسته اولوړ و اخلاقو ښکلی شوی وي، ډير ژر زړونو ته لار مومي او محبوبيت يې د نورو په وړاندې زياتيږي. د ښو اخلاقو انسان هميشه د نورو په نظر کې ښه او ښکلی معلوميږي او خلک مينه ورسره کوي.

کله چې ښـــه اخلاق د ټولنې د وګړو تر منځ خوريږي، اعتماد هم ورپســـې دود کيږي او خلک يو بل ته په ښه نظر ګوري او يو په بل ښه ګمان او نيک نظر او يو د بل په وړا ندې د احترام او محبت چلند لري، د هغې ټولنې لاره د ترقی او پرمختګ په لوري پرانستل کيږي، خپله خپلواکي او عزت ساتی او خپل قوت او پياوړتيا په ثبوت رسـوي څکه د وګړو ترمنځ يې باور، همغږي او همکاري شـــتون لري، نو ليده کيږي چې د ښـــو اخلاقو پايلې په دې دنيا کې هم فرد ته متوجه کيږي او هم ټولنې ته او ټول ور څخه ګټه اخلي.

## ۲- د ښو اخلاقو اخروي ميوې او پايلې:

د اسـلام د سـپېڅلي دين له مخې د ښـو اخلاقو پايلې او ميوې يوازې دنيوي نه دي بلکې څښـــتنان يې په آخرت کې هم له پايلو څخه برخمن کيږي، په دې هکله د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د لارښوونو څو بيلګو ته اشاره کوو:

۱- حضـرت انس رضـی الله عنه روايت کړی چې پيغمبر صـلی الله عليه وسـلم و فرمايل: (پرته له شـــک بنده په خپلو ښـــو اخلاقو سره د آخرت لوړو درجاتو او

غوره منازلو ته رســېږي، هر څومره چې په عبادت کې ضــعيف هم وي، او د ناوړه اخلاقو په واسطه د دوزخ تر ټولو ټيټو درجو ته ور لوېږي).

**۲-** حضرت عائشې رضی الله عنها ويلي دي چې له پيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه مې واوريدل فرمايل يې: (**ان الرجل ليدرک بحسن الخلق درجة الصائم القانت الذي يصوم النهار و يقوم الليل**).[1]

مؤمن انســـان د ښـــو اخلاقو په درلودلو سره د هغه چا درجه لاس ته راوړي چې شپې يې په عبادت او ورځې يې په روژه تيرېږی).

**۳-** همدارنگه نبي كريم صــلى الله عليه وســلم فرمايلي دي:( **ما من شــيء أثقل في الميزان من حسن الخلق**). [2]

د مؤمن انسان د اعمالو په تله کې د قيامت په ورځ د ښو اخلاقو څخه درانه بل څه نشته.

٤- ښــه اخلاق د پېغمبر صــلى الله عليه وســلم په وړاندې د محبوبيت او ده ته د نږديوالي لامل کيږي ،ده جناب فرمايلي دي: ( **أخبر كم بأحبكم إلي و أقربكم مني مجلسا يوم القيامة**).[3]

---

۱- شعب الايمان للبيهقي، حديث: ۷٦۳٤.

۲- سنن أبي داود، حديث: ٤۸۰۱.

۳- شعب الايمان للبيهقي، حديث: ۷٦۱۹.

د تاســو څخه تر ټولو ماته محبوب او د قیامت په ورځ زما مجلس ته تر ټولو نږدې هغه کسان دي چې ښه اخلاق ولري.

که چیرې څوک په دنیوي ژوندکې کامیابي او نیکمرغي غواړي نو باید ښه اخلاق خپل کړي او په هغه ټینګ ولاړ و اوسي، او که چېرې د آخرت د کامیابۍ او برلاسۍ هیلمن وي هم باید په ښو اخلاقو سنبال و اوسي او که دواړه کامیابۍ یو ځای غواړي هم باید د ښو اخلاقو څښتن وي.

٢٤

## په اسلام کې زغم او مقام يې

**الحمدلله نحمده و نستعينه و نستغفره و نعوذ بالله من شرور أنفسنا و سيئات أعمالنا من يهده الله فلا مضــل له و من يضـــلله فلاهادي له، و نشــهد أن لآ إله إلا الله وحده لا شــريک له و أن محمدا عبده و رســوله صــلى الله عليه وســلم تســليما کثيرا و على آله و أصحابه و من تبعهم بإحسان الى يوم الدين.**

**قال الله تبارک و تعالى فى محكم التنزيل و هو أصــدق القائلين – أعوذبا الله من الشــيطان الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم:**

**( وَالصَّابِرِينَ فِي الْبَأْسَاء والضَّرَّاء وَحِينَ الْبَأْسِ أُولَئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوا وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ ) .**[١]

**و أيضا قال: (وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا) .** [٢]

د اســلام ډيرى اخلاقي او ايماني ارزښــتونه په صــبر او زغم پورې اړيکې لري، له همدې کبله پيغمبر صــلى الله عليه وســلم په يو حديث کې صــبر ته ايمان ويلى دى.

---

١- د البقرې سورت: ١٧٧ آيت.

٢- د طه سورت: ١٣٢ آيت.

صبر څه شی دی؟ څه ارزښت لري؟ ښېګڼې او ميوې يې څه دي؟ صبر په څو ډوله دی؟ په اسلام کې د صابرانو اجر او مرتبه څرنګه ده؟

**د صبر مفهوم:**

صـــبر د نفس منع کولو په معنا دی او له (منع، ســـتونزو او قوت) څخه اخســـتل شــوی دی په دې معنا چې صــابر انســان خپل نفس راجمع او له چيغو او فرياد منع کوي.

**د صبر تعريف :** صبر د ارادې اخلاقی پياوړتيا ده چې انسان د ستونزو، دردونو او رنځونو زغملو لپاره چمتو کوي او هغه له بيقرارۍ ، آه، افســوس ، چيغو ، فرياد ، غالمغال ، ورخطائي ، ويرې ، طمعې او نورو نفسي او غريزي غوښتنو او ميلانونو څخه بندوي.

**صبر دوه بنسټيزې څانګې لري:**

۱- بدني صــبر د ســتونزمنو کارونو د سرته رســولو په مقابل کې او د ســـتونزو او سختيو په وړاندې مقاومت.

**۲-** نفسي صبر چې د فطري او غريزي غوښتنو او هوسونو څخه ځان ژغورنه ده. نفسي صبر پراخه ډګر او ګڼ نومونه لري، مثلاً که د پرېشانۍ په وړاندې وي نو د صــبر په نامه ياديږي او که په جنګ کې وي "شـجاعت" ورته ويل کيږي او که د شـــهواني غوښـــتنو په وړاندې وي د "عفت"په نامه ياديږي او که د

غضـــب او غوســـې په وړاندې وي د "حلم" په نامه يادېږي. قرآنکريم دا ټول ډولونه د "صـبر" په نامه ياد کړي دي. لکه چې فرمايي: (وَالصَّـابِرِينَ فِي الْبَأْسَـاء والضَّرَّاء وَحِينَ الْبَأْسِ أُولَئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوا وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ ).[١]

ژباړه: او صابرين چې د تنگسې او غمونو په وخت کې او د حق او باطل په جگړه کې صبر وکړي همدا رښتيني او همدا پرهيز کار خلک دي.

**د صبر ارزښت:**

هر کله چې الله تعالى مرگ او ژوند د ارزونې لپاره پيدا کړي دي، هر انســـان په خپل ژوندانه کې په ناچارۍ سره د ډول ډول ستونزو، انديښنو او نا خوښيو سره مخ کيږي. کله چې د ژوندانه ناخوالې او انديښـــنې پيښـــې په انســـان يرغل او حمله راوړي، نو د صـبر او زغم روښـنايي د مسـلمان په مخکې په ځليدو راځي. مومن او واقعي مســلمان د صـــبر په ســـلاح سره د ارزونو او د ژوندانه د ترخو او خوږو په پيښو د رامنځ ته کيدلو په وړاندې را منډه کوي.

د صـبر نه سـمه او صـحيح پوهه او د دنيوي برلاسـۍ هيله او د هغه اخروي اجر، مسلمان له چيغو، فرياد او نا آرامۍ څخه د ستونزو او انديښنو په وړاندې بندوي صـــبر د انســـان د جوهر د پوخوالي او ميړانې په وړاندې ســـتونزې او انديښـــنې

١- د البقرې سورت: ١٧٧ آيت.

صیقلوي او د انسانانو د رښتیا او دروغو تله ده (الله تعالی فرمایي: (**وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ حَتَّى نَعْلَمَ الْمُجَاهِدِينَ مِنكُمْ وَالصَّابِرِينَ وَنَبْلُوَ أَخْبَارَكُمْ**).[١]

ژباړه: موږ به خامخا تاسې په ازموینه کې واچوو تر څو چې ستاسې حالات وڅیړو او وګورو چې په تاسي کې مجاهدین او ثابت قدم کسان څوک دي.

**د صبر فضایل:**

صبر ډیرې ښیګنې لري، د بیلګې په توګه لاندې ښیګنو ته اشاره کوو:

١- صبر د پیغمبرانو علیهم السلام له صفتونو څخه دی، لکه څنګه چې الله تعالی د ایوب علیه السلام د صبر ستاینه کړیده فرمایي: (**انا وجدناه صابرا نعم العبد انه أواب**)[٢] ژباړه: یقینا موږ هغه د زغم خاوندو موند ډیرښه بنده د خپل رب خواته ډیر رجوع کوونکی.

٢- صبر د با ثباته انسانانو او د ثابت عزم د خاوندانو له اخلاقو څخه دی. قرآن فرمایي (**وَلَمَن صَبَرَ وَغَفَرَ إِنَّ ذَلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ**)[٣]

ژباړه: البته څوک چې له صبرنه کار واخلي او ښښنه وکړي نو دا ډیر د لوړې ارادې له چارو څخه ده.

٣- صبر د رښتیني ایمان دلیل دی د (العصر) سورت په دې امر دلالت لري.

---

١- د محمد سورت: ٣١ آیت.

٢- د ص سورت: ۴۴ آیت.

٣- د الشوری سورت: ٤٣ آیت.

٤- صبر د انسان د ستونزو پرانستلو کلي ده، رسول الله صلى الله علیه و سلم فرمایلي دي ( **و اعلم أن النصـــر مع الصـــبر**).[١] یعنې و پوهیږه چې کامیابي او برلاسي د صبر سره مل ده.

١- صبر په دنیا کې رهبرۍ ته د رسیدلو وسیله او په دین کې امامت دی.

٦- د صـــبر ښـــېګنې او مرتبه تر هغه ځایه رســیږي چې الله تعالی صـــبر او زغم کوونکو ته د بې حســـابه اجر او ثواب ژمنه کړې ده لکه چې قرآن کریم فرمایي: ( **إنما یوفی الصابرون أجرهم بغیر حساب**).[٢] ژباړه: یقیناً صبرکوونکو ته به خپل اجر بې حسابه ورکړشي.

## د صبر ډولونه:

### ١- صبر پر طاعتونو:

په اسلام کې طاعتونه او اوامر ډېر دي چې د هغو اداء صبر ته اړتیا لري. طاعتونه په عمومي توګه په فرایضـو او نوافلو ویشـل کیږي چې الله تعالی په دې مبارک آیت کې جمع کړي او د هغو په اداء کولو یې امر کړی دی او فرمایي: ( **إِنَّ اللّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالإِحْسَـــانِ وَإِيتَاء ذِي الْقُرْبَى**).[٣] ژباړه: الله په (عدل)، ښـــګیڼې او خپلوۍ پالنې حکم کوي.

١- شعب الایمان للبیهقي، حدیث: ١٠٤٣ .
٢- د الزمر سورت: ١٠ آیت.
٣- د النحل سورت: ٩٠ آیت.

## ۲- صبر په عبادتونو:

عبادتونه د اســلام د طاعتونو له ډلې څخه دي او لمونځ ددې عبادتونو په سرکې ځای لري چې اداء کول يې صبر او استقامت غواړي، ځکه لمونځ هغه فريضه ده چې په يوه شــپه ورځ کې پنځه ځله تکراريږي او الله تعالی مومنانو ته د هغه په اداء کولو کې د صــبر او زغم امر کړی دی لکه چې فرمايي: ( **وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّــلَاةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا** ).[۱]

ژباړه: خپلې کورنۍ ته د لمانځه توصيه وکړه او په خپله هم د هغه پابند اوسه.

نو د لمانځه اداء کول څه ساده او آسـانه موضـوع نده؛ ځکه ددې فريضــې سـمه اداء، اخلاص، صبر او قرباني غواړي، د لمانځه د ادا کولو لپاره د ژوندانه د کار او مشــغوليتونو توقف (دريدنه) د ورځې پنځه ځله ســتونزمن کار دی. مگر نه د رښتيني مؤمن لپاره چې په صبر او اخلاص، عاجزۍ او خشوع سره خپل ځان د پنځه گونو لمونځونو د اداء لپاره وزگاروي او خپل کار او بار معطلوي او د الله مناجات ته را دانگي.

په همدې توگه که چېرې نورو عبادتونو ته وگورو و به وينو چې د هر يوه ادا کول د صــبر او قربانۍ ډولونو ته اړتيا لري د بيلگې په توگه د حج فريضـــه، د روژې

---

۱- د طه سورت: ۱۳۲ آيت.

فریضه، د زکات فریضه او نور اسلامي شعائر تر معنوي او مادي صبر او استقامت پورې اړه لري.

## ۳- صبر په جهاد کې:

الف: دلله په لارکې جهاد د طاغوتونو یو بل ډول دی چې د الله په لار کې په ځان او مال پیاوړي صــبر او قربانۍلره مســتلزم دی. په همدې دلیل قرآنکریم د صــبر ډیرې ســتونزمنې مرتبې په جهاد کې بیان کړې دي، لکه چې فرمایي:( **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اصْبِرُواْ وَصَابِرُواْ وَرَابِطُواْ وَاتَّقُواْ اللّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ**).[۱]

ژباړه: اې مؤمنانو! له زعم نه کار واخلئ او دباطل پرســـتانو په مقابل کې میړانه وښیئ، د حق د خدمت لپاره ملاتینگه وتړئ او ده الله نه ویریدونکي اوسئ ترڅو چې بریا و مومئ.

په دې آیت کې د صبر مرتبې او مرحلې، د صبر، مصابره، مرابطه. په کلمو سره د کامیابۍ او برلا سۍ د حـصول د شرط په توگه تاکید شوی دی چې د قرآن کریم اعجاز ورڅخه معلومیږي.

## ٤- صبر د علم تحصیل په لاره کې:

ب: همدارنگه د علم د تحصـــیل په لارکې صـــبر او اســـتقامت، د الله تعالی په کایناتو او مخلوقاتو کې څیړنه او سوچ په ا سلام کې پر طاغوتونو باندې د صبر یو

۱- د آل عمران سورت: ۲۰۰ آیت.

بل ډول ګڼل کیږي چې اوږده صـــبر، ټینګې ارادې او ډیرو زغملو ته اړتیا لري. همدا لامل دی چې په ا سلام کې د علم تحصیل او د شرعي احکامو ا ستنباط د اجتهاد په نامه نومول شـــوی چې د هلو ځلو په معنا دی. او دا درجه یوازې هغه کسان حا صلوي چې د صبر او ا ستقامت له پیاوړي قوت څخه برخمن وي. لکه چې قرآن کریم فرمایي: ( **أَلَمْ تَرَ أَنَّ الْفُلْكَ تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِنِعْمَتِ اللَّهِ لِيُرِيَكُم مِّنْ آيَاتِهِ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ**) [1]

ژباړه: ایا ته نه وینې چې په ســـمندرکې بیړۍ د الله په فضـــل سره چلیږي ترڅو چې همغه تا سـې ته خپلې ځنې نښـانې در وښـيي، په حقیقت کې په دې کې ډېرې نښانې دي د هر هغه چا لپاره چې صبر او شکر کوونکي وي.

دغه آیت پردې د لالت کوي چې د کایناتو په پدیدو کې تحقیق او سوچ انسان د الله جل جلاله وحدانیت ته رهنمایي کوي او همدارنګه پردې دلالت کوي چې علمي څیړنه او تفکر او د هغه د پایلونه اســتفاده یوازې په پیاوړي صــبر او ټینګ ایمان لاس ته راځي. [2]

---

۱- د لقمان سورت: ۳۱ آیت.

۲- حبنکه عبدالرحمن حسن، الأخلاق الاسلامية و أسسها، ج ۲، ص ۳۲۱- ۳۲۳.

**٥- د کورونه د ستونزو په وړاندې صبر:**

٦- کورنۍ یوه سپیڅلې فضا ده چې د دوو انسانانو (نر او ښځې) د نکاح د پیوند په ســـیوري کې را منځ ته کیږي او د قرآن کریم په تعبیر سره: ( **وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً** ).[١]

ژباړه: او د هغه له نښانو څخه بله داده چې ستاسې لپاره همدا ستاسې له جنس نه یې میرمنې پیدا کړی تر څو چې تا سو له هغو سره آرام ترلاسه کړي او ستاسو ( ښځې او خاوند) په منځ کې یې مینه او خوا خوږي پیدا کړه.

کورنۍ د آرامۍ، مینې، دوستۍ او رحمت مرکز دی. اما د طبیعتونو او خویونو د توپیرله کبله کله کیدای شي څه ســـهوې او غلطۍ د دواړو (میړه او ماندینې) څخه ولیده شي؛ امکان لري ښـځه د کورنۍ په مســئله کې د پخولو او د میړه د حق په رعایتونو کې د غلطۍ سره مخ شي او سړی هم امکان لري په کړو وړو ، د ژوندانه د ادارې په اخلاقو او کړنلاره کې د غلطۍ او ســهوې سره لاس او گریوان شي چې دا ټولې سهوې او غلطۍ د عفوې او سترگو پټولو وړ دي او په لږ صبر او زغم سره کولای شـــو د ډیرو ســـتونزو را څرگندېدو او د کورنۍ د مرکز له ړنگیدو څخه مخنیوی وشي. تجربې ثابته کړې ده چې تر ټولو غوره درملنه په گډ ژوندانه کې دډېرو گرمو او ناحله ستونزو لپاره، صبر او حوصله ده.

---

١- د الروم سورت: ٢١.

په صحيح مسلم کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه ابوهريره رضي الله عنه روايت نقل کړی : ( **لايفرک مؤمن من مؤمنة إن کره منها خُلقا رضي منها آخر**).[1]

ژباړه: صحيح مسلمان سړی دې د مسلمانې ښځې څخه نفرت نه کوي، ځکه که له هغې څخه يو صفت نه خوښوي ارومرو بل صفت په ور څخه خوښ کړي.

| | |
|---|---|
| روز اگر غم خـــوری غــم مدار | چو شب غمگسارت بـود در کنــار |
| اگرپارسا بـــاشد و خوش سخن | نـــگه در نکـــويي وزشتـــی مکن |
| کراخانه آبــاد و همخوا به دوست | خدا را به رحمت نظر سوی اوست |

(سعدی صاحب)

ژباړه: د ورځې که څه غمونه درته رسيږي هغه غم مه ګڼه، ځکه د شپې دې غم خوړونکې ښځه په غيږکې پرته ده

که بی بی دې پرهيزګاره او دښــې ژبې لرونکې وه نو په ښــيګڼو او بديو کې يې نظر مه کوه.

څوک چې آباد کور او دوسته بي بي ولري، نو الله د رحمت په نظر هغه ته ګوري.

**۷- د ګناهونوڅخه صبر:**

پيغمبر صـــلى الله عليه وســـلم فرمايلي دي: ( **حفت الجنة بالمکاره و حفت النار بالشهوات** ).[2]

---

۱- صحيح مسلم، حديث: ١٤٦٩.

۲- صحيح مسلم، حديث: ٢٨٢٢.

ژباړه: د جنت لاره په سختيو او ستونزو او د دوزخ لاره په شهواني غوښتنو پټه شوې ده.

انسان د ګڼو نفساني غوښتنو او شهواني غريزو سره مل پيدا شوى دى، دغه غو ښتنې او شهوات يا مباح او روا دي او يا منع ا و ناروا چې دواړه صبر ته ضرورت لري، د مسلمان لپاره روا غوښتنې او ددنيا حلال مال او سامان او د مال سره مينه نده منع شوې اما مسلمان بيا هم د دنيا له خوندونو څخه په استفاده يې کولوکې افراط نه کوي او له صبر، زغم، قناعت او پرهيزګارۍ څخه کار اخلي.

د مسلمان لپاره د ګناهونو او ناروا غوښتنو په وړاندې صبر يو جهاد او هميشنۍ مبارزه ده. مسلمان په دې هميشنۍ مبارزه کې صبر او پياوړې ارادې ته اړتيا لري څو مسلمان وکولاى شي چې د هغو نفسي– او مادي غوښتنو او دوکو په وړاندې چې په مخکې يې لري او په ډول ډول کړنلارو ورته ښايسته کيږي، صبر او مبارزه وکړي الله تعالى د ګناهونو ډولونه په دې مبارک آيت کې جمع کړي او د هغو له ارتکاب څخه منع کوي: ( **وَيَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاء وَالْمُنكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ** ) [١] ژباړه: او له بدۍ، بې حيايۍ او زور ظلم څخه منع کوي.

له دې ټولو ګناهونو څخه ځان ژغورل بيا هم صبر ته اړتيا لري،تر ټولو سخت صبر د هغو ګناهونو او ناوړه عادتونو څخه دى چې د خلکو په منځ کې په عمومى

---

١- د النحل سورت: ٩٠ آيت.

دود او رواج تبدیل شـوی دی، په ځانګړې توګه ژبني ګناهونه چې د مجلس نقل ورته ویل کیږي لکه: غیبت، دروغ، ریاء ځان سـتاینه، خبرې ټولول او داسـې نور چې د خلکو په منځ کې په آسـانۍ تکراریږي او په ورځني عادت بدل شـوی دي او د ټولنې له وژونکو ناروغیو څخه ګڼل کیږي چې په وړاندې یې صـــبر او مقاومت ته سخته اړتیا ده.

**یوسف علیه السلام د دوکې ورکوونکو په وړاندې یوه نمونه او بیلګه:**

د عزتمنو پیغمبرانو، صـــحابه کرامو، د الله د اولیاوو او نیکانو ژوند د صـــبر او استقامت له تجربو او بې مثله نمونو څخه ډک دی چې د ډول ډول دوکه ورکونکو او د نفس له غوښتنو او د شیطان د وسوسو او رنګارنګ ارزونو په وړاندې موږ ته د صبر درس را ښیي.

د بیلګې په توګه د حضرـت یوسـف علیه السـلام کیسـې ته پاملرنه وکړئ چې د فرعون په ماڼۍ کې یې د مصرـ د عزیز ښـځې د دوکو فشـارونو او ربړنو په وړاندې څرنګه صبر او مقاومت وښود او په دې سخته ارزونه کې برلاسی شو او دده صبر او استقامت د همیش لپاره د انسانیت په تاریخ کې ثبت شو.

ابن قیم جوزي رحمة الله د یوســف علیه الســلام له صــبر څخه داســې نتیجه اخستې ده: وایي د یوسف سورت مې ولوست او سوچ مې پکې وکړ چې د نفس د ناروا غوښـــتنو په وړاندې د یوســف علیه الســلام صــبر د هغه عظمت او لویي

هميشـــنۍ وګرځوله. له ځانه سره مې و ويل: عجيبه ده! که چيرې يوســـف عليه السلام د نفس غوښتنه منلې وای نتيجه او پايله به يې څه وه؟! اماهغه د نفس د غوښـــتنو په وړاندې مقاومت وکړ او په دې توګه دده صـــبر او زغم د تل لپاره د انسانانو لپاره سر مشق او وياړ وګرځيد، چې دا ټول عظمت او وياړ د څو لحظو د صبر نتيجه وه.[1]

## ۸- د پريشانيو په وړاندې صبر:

هره انديښـنه چې را باندې راشي په دريو شـيانو د الله شـکر کوم: لومړی دا چې کومه پريشـــاني چې را باندې راغلې ده په دنيا کې مې ده نه په دين کې مې. دويم دا چې دغه پريشاني او انديښنه له هغه نه چې را رسيدلې لويه نه وه. دريم دا چې د دې پريشانۍ په وړاندې مې چې صبر کړی اجر مې پرې حاصل کړی دی. د " حضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه له ويناووڅخه".

## په پريشانۍ او انديښنه باندې صبر د ايمان درښتينولی نښه ده:

صبر په پريشانۍ در ښتيي ايمان نښه او د الله په قضا او قدر باندې بشپړه رضا ده. د الله له لوري د پريشـانۍ راتګ يا د انســان ســزا او عذاب دی اويا ارزونه او آزموينه ده چې په دواړو حالتونو کې بايد له صبر او زغم څخه کار واخيستل شي. د ا سلام سپيڅلي دين هغه مؤمنان چې په انديښنو، دردونو او رنځونو اخته دي،

۱- الأخلاق فی الاسلام ، للدکتور کايد قرعوش و آخرون، ص ۱٤۳.

صـــبر ته را بللي دي او په مقابل کې يې د دوی لپاره د لوی اجر او بدلې ژمنه کړې ده. الله تعالی فرمايي:( **وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَـــيْءٍ مِّنَ الْخَوفْ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الأَمَوَالِ وَالأنفُسِ وَالثَّمَرَاتِ وَبَشِّـرِ الصَّـابِرِينَالَّذِينَ إِذَا أَصَـابَتْهُم مُّصِـيبَةٌ قَالُواْ إِنَّا لِلّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعونَ والَئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُونَ** ). [1]

ژباړه: او مونږ به ارومرو په وېره ،خطره، لوږه، د سر او مال په تاوان او د عائداتو په خساره کې په اخته کولو پر تا سې ازمېښت کوو اې پيغمبره هغو کسانو ته زيری ورکړه چې په دې حالاتو کې صـبر وکړي او د مصـيبت راتلو په وخت کې و وايي چې موږ د الله يو او د هماغه الله لوري ته زموږ ورگرځيدل دي. چې پر هغو به د هغو درب زياتې پيروزينې او رحمت وي او همدغه شان خلک پر سمه لار روان دي.

له دې قرآني آيت څخه معلوميږي چې الله تعالی مؤمنان په وېره، لوږه، د مالونو په کموالي او د روح په اخســتلو ارزوي. او همدارنگه دغه قرآنی آيت پردې دلالت کوي چې مسلمان د پرېشانيو او انديښنو په وړاندې د صبر او رضايت څخه کار واخلي نو هغه د ډېر لوړ قدر، درجې، ثواب او بدلې وړ گرځي.

---

۱- د البقرې سورت: ۱۵۵-۱۵۷ آيت.

**ارزونه او آزموینه د الله تعالی لاره ده:**

په پریشـــانیو باندې د انســـان ارزونه او امتحان الهي کړنلاره ده او ډیری وختونه خپل مخلص بندګان په پریشانۍ او ستونزو اخته کوي، لکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

( **من یرد الله به خیرا یصب منه**).[1]

یعنې چاته چې الله د خیر او ښګېڼې اراده وکړي هغه په پریشانۍ اخته کوي.

همدارنګه په بل حدیث کې راغلي دي: (**مایزال البلاء بالمؤمن و المؤمنة فی ولده و ماله حتی یلقي الله و ما علیه خطیئة**).[2]

ژباړه: د تل لپاره هر مؤمن سـړی او هره مؤمنه ښـځه چې د خپل اولاد او مال په هکله تر ارزونې او امتحان لاندې راشي تر هغه وخته پورې چې د الله سره پیوست او ګناهونه یې ښښل شوي وي د الله یو فضل او مرحمت په خپلو بندګانو دا دی چې د صبر، قناعت او رضایت قانون د درد، رنځ او پریشانیو په وړاندې د مسلمانانو لپاره دوه نتیجې را منځ ته کوي چې دواړه د مسلمان په ښېګڼه او ګټه تمامیږي.

۱- صحیح البخاري، حدیث: ۲۳٤٥.

۲- سنن الترمذي، حدیث: ۲۳۹۹.

۱- بيړنۍ بدله چې د انســان د ګناهونو له کفارې او د ښــوييدنو له ښښــلو څخه عبارت ده.

۲- د پريشــانيو او مصــيبتونو بدله چې مؤمنانو ته يې الله په آخرت کې د ثواب، فضل او رحمت په توګه ورکوي.

**د مصيبت او پريشانۍ په وخت د مومن ادب:**

بايد و پوهيږو چې انســان ته هغه وخت دنيوي بدله او اخروی اجر او ثواب ور په برخه کيږي چې په مصيبت د اخته کيدو په مهال اسلامي آداب مراعات کړي. د هر ډول مصيبت په وخت چيغې او فرياد لکه د ويښتانو شکول، مخ وهل، ګريوان څيرول، زړه تنګي، په څيره کې د عادت تغيرول او داســې نور د اســلام له نظره مردود دي. اسلام د مصيبت د هر کلي آداب تعيين کړي چې هغه د ( **انا لله و انا اليه راجعون)** .[1] کلمه ده

ژباړه: موږ د الله يو او د هماغه الله لوري ته ز موږ وګرځيدل دي.

همدارنګه پيغمبر صــلی الله عليه وســلم مومن ته د پريشــانۍ په مهال لارښــوونه کوي او وايي: (**أللهم أجرني بمصيبتي و أعقبني خيرا منها**).[2]

---

۱- د البقرې سورت: ۱٥٦ آيت.

۲- موطأ الإمام مالک، حديث: ۸۱۰.

یعنې اې الله ماته مې په مصـــیبت کې اجر په برخه کړه او له هغه نه غوره را وبښه.

په دې ترتیب هر کله چې مومن په داســـې ادب سره د هغه مصـــیبت په وړاندې چې ده ته رسـیدلی دی چلند وکړي، نو ښـایسـته صـبر ته شـاملیږي او د اسـلام علماء جمیل او ښـایســته صــبر داســې تعریفوي: دا هغه صــبر دی چې پرته له چیغواو فریاد څخه وي او چاته شکایت و نه کړي او یا دا چې مؤمن د مصیبت په مهال خپل عادي او طبیعی حالت له لاسه ورنکړي او د خیرې، لباس او مخکنی کړنلارې پرته د نورو سره چلند وکړي.

﴿٢٥﴾

## په ژوندانه کې د ملګرتیا اغیزه

**الحمد لله رب العالمين و العاقبة للمتقين والصلاة والسلام على سيد المرسلين و إمام المتقين. قال الله تعالى تبارک و تعالى فی محکم التنزيل و هو أصدق القائلين. أعوذ بالله من الشيطان الرجيم، بسم الله الرحمن الرحيم: ( يَا وَيْلَتَى لَيْتَنِي لَمْ أَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيلًا).[1] او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلی دي: ( المسلم اذا كان مخالطا الناس و يصبر على أذاهم خير من المسلم الذي لايخالط الناس ولا يصبر على أذاهم ).[2]**

ای فغان از یار نا جنس ای فغان　　　همنشین نیک جویید ایمهان

(مولوی)

انسان د ژوند په ټولو دوروکښې د ماشومتوب له ورځو تر بوډا توبه همیشه د نورو ملګرۍ او دوستۍ ته اړ دی او نشي۔ کولای د خپلو همجنسو سره د اړیکو مزی وشلوي او ګوښې ته پناه یوسي. ځینې د لغت پوهان عقیده لري چې د انسان کلمه د (انس)له مادې څخه اخستل شوېده او په همدې توګه یې د

---

۱- د الفرقان سورت: ۲۸ آیت.

۲- سنن الترمذي، حدیث: ۲۵۰۷.

انســـان له طبیعي اړتیاوو څخه یوه اړتیا د نورو سره د انس او همغږۍ اړتیا ګڼلې ده. بنا پردې که چېرته یو وګړی په کومه جزیره کې د آســـودګۍ له ټولو امکاناتو څخه برخمن وي بیا به هم د رنځ او پریشـــانۍ سره لاس او ګریوان وي ځکه دوست او ملګری نه لري چې دده سره غمخور و اوسي، ښايي وکولای شو داسې دعوی وکوو چې د همدې غریزې په بنسټ انسانان نکاح او د کورنۍ تشکیل او ټولنیز ژوندانه ته مجبور شـــوي دي، ځکه د یوازوالي تیارې ډارونکې تیارې د ژوندانه څیره ګونځې او په غمونو لړلې ده او روح او روان یې په تنګه محاصره کې اچولی ده له بله لوري. لکه څنګه چې بدن له ډول ډول خوراکونو څخه تغذیه کیږي او پیاوړتیا مومي روح هم د دوستانو له مجلس څخه ښېګڼې حاصلوي او یا به په ډول ډول بدیو ککړوي. دوســتي د ملګرتیا په تله او د ملګري په مادي او معنوي چاروکې نفوذ کوي. او هریو په پوهه یا ناپوهه د نورو په عقائدو. اخلاقو او کړو وړو اغیز اچوي.

**ځوان او ملګرتیا:**

که څه هم ښه او ښایسته دوست او ملګری د ژوندانه په ټولو دوروکې د خلکو د ټولو طبقاتو لپاره غوره او مهم دی، اما د ځوان نســـل لپاره چې د ماشـــومتوب د دورې ځانګړتیاوې یې شـــاته پریښـــې او د نوي ژوند په دروازه او ټولنیزو فعالیتونو او اړیکو کې ځای لري د زیات ارزښت برخمن دی.

ځوان د بیشماره عاطفي لاملونه او د ژر تیریدونکو انګیزو پر بنسټ مخکې له دې چې د نورو د سوچ او صلاحیت له کړنلارې څخه خبرتیا حاصل کړي له هغوی سره د ډېرې سختې مینې او دوستۍ دروازې پر خپل مخ پرانیزي او د عقل او مصلحت اړخونو ته په بې توجهۍ سره ممکنه ده ځوان د ژوندانه له شاهراه نه بند کړي او د تباهۍ او فساد وادي ته یې وکشوي. البته ځوان کله له بدې محاسبې سره هم اخته کیږي، هغه خپل ځان ته دوستان پیداکوي او په لومړیو ورځو کې د دوی دوستي په ظاهره مخلصانه او له هر ډول شک او شبهې څخه خالي وي خو وروسته لږ لږ انحراف پیلیږي .

که څه هم دغه انحراف د کار په پیل کې ډېر بې ارزښته په نظر راځي اما د زمانې په تیرېدو دانحراف زاویه پراختیا مومي او ددې نا مبارک پیوند په منځ کې کړاوونه او مسئوولیتونه د هېرې باد ته سپاري. خبرې یې د درس او ښوونې له موضوع څخه په زړه وړونکو خوبونو بدلیږي او دا دوه دوستان په عاشق او معشوق بدلیږي او په دې توګه دا روح سوځوونکی عشق ټول دیني فرائض او ټولنیز مسئوولیتونه په چور او چپاول سره وړي. بالآخره هغه د پوهې ممتاز زده کوونکی په درسونو کې وروسته پاتې کیږي، هغه هله ځله کوونکی او د تیرې ورځې متحرک داعي (بلونکی) په یو بې کفایته او بې پروا عنصر – باندې بدلیږي او مسلمان چې د شرعې په احکامو ملتزم ؤ د ډول ډول تورونو په ګمان ځای کې

ځای نیسي، نو نه ښایي چې د ځوان میلانونه او ځان ته را کشونه او طبیعي کششونه د همزولو له ډلې سره د اړیکو او چلند په کړنلاره کې نالیدلي وګڼو او له خیر غوښتنې او لارښوونې په مبتذل، نالایق او لنډ منطق سره کوتاهي غوره کړي څو د تباه کوونکو او نا صالحو او نا مبارکو عناصرو له هر ډول نفوذ نه سالم او له هر ډول روزنیز ضرر څخه وده او پالنه و مومي .

**د ناوړه او بد رفیق خطر:**

پرته له شکه د ښایسته ملګري او صمیمي دوست نه درلودنه ددنیا په ژوندانه کې د محرومیتونو لامل دی خو ډیر لوی مصیبت د فاسدو عناصرو سره ملګري او ناوړه وګړو سره ناسته پاسته ده؛ ځکه دارنګه دوستان او ملګري په شیطاني خبرو خپل رفیق لار ورکی او ګمراهی ته سوق کوي او په منحرفو وسوسو سره یې په ډول ډول ګناهونو او چټلیو ککړوي یا په بله وینا څوک چې ښه ملګری نه لري یوازې یوې برخې نعمتونو ته نشي رسیدای او له ممکنو کمالاتو څخه چې د نیک او لایق دوست په وجه دده په برخه کیږي له هغه محرومیږي. خو هغه څوک چې بد او ناوړه ملګری لري نه یوازې بشپړتیا ته نه رسیږي بلکې خپل فطري کمالات او طبیعي ښګیڼې هم له لاسه ورکوي او په پایله کې ده په دنیوي محرومیتونو او دردونو او اخروي سزاګانو اخته شي او کله چې بدمرغه او سپیره ورځی شو نو

دین او دنیایې تباه او د پښــیمانتیا څرګندونه به کوي او دا هیله به کوي چې کاشکي له داسې فاسد عنصر سره نه وای ملګری شوی.

قرآنکریم د دوزخیانو له ژبې داسې نقل کوي: ( **يَا وَيْلَتَى لَيْتَنِي لَمْ أَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيلًا** ).[۱]

ژباړه: اې ز ما بده بخته، کاشکي ما فلانی سړی په دوستۍ سره نه وای نیولی.

په رښتینې توګه د نا اهل ملګري له نا ستې پا ستې څخه یوازوالي ترخه زغمل په مراتبو خواږه دي.

رسول ا کرم صلی الله علیه وسلم فرمایي: ( **والوحدة خير من جليس السوء**). [۲]

یواز والی په مراتبو له ناوړه ملګري څخه غوره دی.

بلې: ناوړه ملګری د روح لطافت او نرمي او د هغې پلتڼه له منځه وړي له همدې کبله مولوي په مثنوي کې وایي: بد مار له بد ملګري څخه غوره دی؛ ځکه بد مار د مار چیچلي روح اخلي.

اما بد دوست انســان د دوزخ د همیشــني اور په لوري کشــوي او د وګړي معنوي پانګه په چور او چپاول وړي.

مار بد جانی ستاند از سلیــم		یار بد آرد سوی نار مقیم
چون که او افگند برتو سایه را		دزدد آن مایه از تو مایه را

۱- د الفرقان سورت: ۲۸ آیت.

۲- شعب الایمان، حدیث: ٤٦٣٨.

بنا پردې له نا اهل سره ملګرتیا د معنویاتو د کموالي سبب او د عقل تباهي ده او حیراني او سرګرداني ور پسې لري.

سعدی رحمه الله هم څومره ښایسته فرمایي:

پسر نـــوح بابــــدان بنشست		خانــــدان نبوتش گم شد
سگ اصحاب کهف روزی چند		پی نیکان گرفت مردم شد

ژباړه: د نوح (ع) د بدانو سره ناســته پاســته درلوده، د پیغمبرۍ کورنی یې د اصحاب کهف سپی څو ورځی به د نیکانو پیروی وکړه شوی شو.

**د ښایسته ملګري غوره کول او انتخابول:**

د پاکانو سره نا سته پا سته چې د اخلاقي او انساني ملاحظاتو پابند وي دانسان د روحي قوې د تغذیې او نمو لپاره مناســب وخت او موقعیت دی. د دوی د لوړو افکارو په ســیوری کې فکرونه پر اختیا مومي او د انســان په مغز کې د نیکۍ او پاکۍ علاقه نمو او رشد کوي. د هغو سره د اړیکو په نیولو شخص د خپل روح په نقصــانونو ډیر ښــه پوهیږي او خپل صــلاحیت د لایقو او با کفایته خلکو سره ســنجوي له همدې مقایســوی لارې ممکنه ده ورو ورو د ګناهونو او نا خوښــه صفتونو له نفوذ او اغیز څخه بیرون ته را ووځي.

حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په زړه را ښکونکي او ښایسته بیان سره فرمایي:

**( المرء على دين خليله فينظر أحدكم من يخالل ).**[1]

يعنې انسان عملاً د خپل دوست له کړنلارې څخه پیروي کوي ستا سو نه هریو باید د دوســـت او ملګري په غوره کولوکې کافي غور او توجه وکړي او د چا سره چې دوستي کول غواړئی هغه باید مخکې له ملګرتیا ښه مطالعه کړي.

یو شـمیر خلک داسـې په خپل دیانت او پاک لمنۍ باور لري چې ګمان کوي د بدانو سره په ناسته پاسته هیڅ ضرر دوی ته متوجه نشي. خپل شخصیت تر هغه لوړ ګڼي چې بد اخلاق په هغو کې بد اغیزوکوي، خو له دې نه غافله دي چې مالوچ د اور له څنګه ناچار اور اخلي که چېرې کوم ګل د وښـــو او زیاتو اغزیو په منځ کې را زرغون شي ورو ورو مړاوي کیږي او له منځه ځي. همدا وجه ده چې دهقانان د خپلې ځمکې ناکاره ګیاوې او شینلي له منځه وړي څو کښت یې تر او تازه شي او ګټه ورکړي. انسـان هم د ګل په څیردی که چېرې یې دوسـتان او ملګري با ادبه خلک وي اخلاق یې غوره کیږي او پوهه یې ورځ تر بلې زیاتوالی مومي.

| | |
|---|---|
| گلی خوشبو در حمـــــام روزی | رسید از دست محبوبــی تو مستم |
| بدو گفتم که مشکی یا عبیـــری | که از بوی دلاویـــز تـــو مستـــم |
| بگفتــا من گلی نا چیـــز بـــودم | ولیکـــن مدتـــی بـــا گل نشستم |

[1] - د أبي داود سنن، حديث ٤٨٣٥.

کمال همنشینی در من اثر کرد     وگر نه من همان خاکم که هستم

سعدی

## د ملگري او دوست اسلامي معيارونه:

اســلام د جمع کيدلو، مينې او همغږۍ دين دی، او د هغه په لاربښــوونوکې د خلکو سره د آشنايې او گډون رغبت او ريښنې لري.

او د گوښــه نيونې په ســتنو او فردي ژوند ته ميلان نه لري او خپل اولادونه گوښــه نيونې او د ژوندانه څخه تيښتې ته نه را بولي او د مسلمان رسالت يې د خلکو نه په پريکيدو او په گرجه او کليسا کې د عبادت لپاره نه دی رسم کړی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

**( المسلم إذا كان مخالطا الناس و يصبر على أذاهم خير من المسلم الذي لايخالط الناس ولا يصبر على أذاهم ).**[1]

يعنی: هغه مؤمن چې د خلکو سره گډون او راشــه درشــه کوي او ددوی په اذيت او آزار له صــبر او زغم څخه کار واخلي دا له هغه مومن څخه غوره دی چې نه له خلکو سره راشه درشه او گډون کوي او نه د دوی په آزار صبر کوي.

۱- د هميشــنۍ او رښــتينې دوســتۍ لومړنی شرط دادی چې د الله د رضــا لپاره وي، څومره ښــايســته خبره ده چې دوه تنه د الله په خاطر يو له بل سره دوســتي

---

۱- سنن الترمذي، حديث: ۲۵۰۷.

کوي، ناســته پاســته لري او د الله اطاعت دوی سره یوځای کړی دي او په هغه ورځ چې یو له بله سره جلا کیږي په داسې حال کې جلاکیږي چې یو او بل ته د الله د اطاعت لارښوونه کوي چې څرنګه د سهار د لمانځه لپاره ویښ شم.

څوک دا بل بیدار کړي؟ یو او بل ته وایي: هیره نکړې چې نن ورځ دغه دوه رکعته اداء کړې یا له دې ګناه څخه ځان وژغوره دغه دوســتي د الله لپاره او دا عشــق دده د رضایت په خاطر دی.

د دې دوستۍ خوږوالی به هغه وخت احساسوو چې دغه قدسي حدیث اورو.

( **وجبت محبتي للمتحابين في** ) .[1]

خپل محبت مې پر هغو کسانو چې زما په خاطر یو د بل سره دوستي کوي واجب کړ.

اړیکې او دوســتي د الهي انګیزې سره له ښــایســته اړیکو څخه دي، هغه هم په هغه وخت کې چې په ســختۍ سره هغه خلکو ته محتاج وو چې زموږ لاس د الله په لوري ونیسيـ، هغه وګړي چې د هغه سره کښـیـنې او مجلس وکړی په داســې حال کې چې الله له تا راضي وي او بد له درته لیکي. موږ په دنیا کې ډېر دوستان وینو چې یو د بل سره یې خیانت کړی او یو بل نا بودۍ ته کشوي، ځکه د دوی دوســتي او ملګرتیا له همغه لومړۍ ورځې څخه الهي مبنا نه درلوده او د

---

۱- صحیح ابن حبان ، حدیث: ۵۷۵.

هغه دنيوي موخو ته يې بڼه ورکړې ده رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ( **أفضل الأعمال الحب فى الله و البغض فى الله** ).[1]

تر ټولو محبوب او خوښ عمل د بندگانو د اعمالو څخه د الله په وړاندې صميميت او نفرت يوازې د الله د رضا په خاطر دی.

٢- دوستي او ملگرتيا د ايمان او تقوی پر بنسټ ولاړه وي او دا مستلزم ددې ده چې مسلمان وگړی د دوست په غوره کولو او انتخاب کې مبنا د وگړو ايمان او تقوی وښيي؛ ځکه دوستي او ملگرتيا چې کله د ايمان څخه جلا وي بالاخره د ذاتي مصالحو او شخصي- گټو پر سر يو له بل سره خوري او کله چې رفاقت له تقوا څخه خالي وي نو په محض پيدايښت لومړنی دنيوي کشمکش او د غنيمتونو پر سر لومړنۍ مسابقه او شخصي مصلحتونه د دښمنۍ او په زړونوکې تنگي را منځ ته کيږي، نو کوم انسان چې له الله نه نه ويريږي د هغه په دوستۍ او ژمنه باور نشي- کيدای او له ضرورونو څخه يې هم ډاډينه نشي- راتلای. په حديث شريف کې راغلي دي: (**لاتصاحب إلا مؤمنا ولايأكل طعامك إلا تقي**).[2]

ژباړه: له مؤمن انسان څخه پرته د بل چا سره ملگري مه کوه او د تقوی له اهل پرته دې ستا ډوډۍ بل څوک و نه خوري.

---

١- سنن أبي داود ، حديث: ٤٦٠١.

٢- سنن أبي داود ، حديث: ٣٨٣٤.

په رښـتیا سره د انسـان په روزنه او ښـو اخلاقو کې یو څرگند او مهم عامل دا دی چې د پرهیزگارو او ښو خلکو سره ملگري وکړي، ځکه انسانان لکه څنگه چې په جامو اغوســتلو او محلی آدابو او رســمونو کې یو له بل نه تقلید او پیروي کوي همدارنگه په اخلاقو کې هم یو له بله تقلید کوي. پخوانیو ویلي دي:

عن المرء لاتسأل و سل عن قرینه		فکل قرین بالمقارن یقتدي

یعنی په خپله دیوه ســړي نه پوښــتنه مکوه بلکې دده په ځای یې له ملگري پوښــتنه وکوه هر دوســت په خپل ملگري پســې اقتداء کوي یعنی د هغه لاره تعقیبوي.

مســلمه خبره داده چې د مؤمنو اوښــو انســانانو سره ملگري اخلاقي ښــیگڼې، کرامت او شرافت د انسان په نفس کې وده او نمو کوي او هغه د معنوي کمالاتو، عزت او شرافت په لوري کشوي. ډیری لوی، نابغه او په ټولنیز ژوندانه کې برلاسي انســانان خپله کامیابي او لویي د رښــتینو، پاکو او با وفا ملگرو مرهونه گڼي چې دوی ته یې د حقې او سمې لارې ښوونه کړې ده او ددوی دلارښوونو له برکته یې گټه اخستې ده.

قرآنکریم هم خلکو ته بلنه ورکوي څو صـالح او ښــه انســانان د ملگرتیا لپاره غوره کړي.

**( وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ )**.[1]

ژ باړه: او خپل زړه د هغه خلکو په ملګرتيا ډاډه کړه چې روزونکي، پالونکي واکوال د خوښې غوښتونکې سبا او ماښام هغه ته بلنه ورکوي.

د الله پيغمبر صلى الله عليه وسلم د ښو او نيکو دوستانو او د بدو اوفاسدو دوستانو نمونې په غوره مثالونو کې را په ګوته کړې دي فرمايي: ( **مثل الجليس الصالح و السوء کحامل المسک و نافخ الکير فحامل المسک إما أن يُحذيک و إما ان تبتاع منه و إما تجد منه ريحا طيبة و نافخ الکير: إما ان يحرق ثيابک و إما أن تجدمنه ريحا خبيثة**).[2]

ژباړه: ښه او نيک دوست او ملګرى د مشک پلورونکي په څير دى او بد او ناوړه ملګرى د هغه چا به څېر دى چې د آهنګر کوره پوکوي، مشک خرڅوونکى يا لږ درکوي او ياپې له هغه څخه په بيع اخلې او يا يې ښه بوى ستا پزې ته رسيږي او دوهم دې يا جامې سوځوي او ياپې بد بويي ستا پزې ته رسيږي.

۳- په دو ستۍ او ملګرتياکې د ا سلام په بنا وو التزام ا ساسي شرط دى او دا کار هغه وخت عملي ښه ځان ته رانيسي_ چې دوه تنه ژمن شي څو د اسلام شريعتونه او قوانين د دوى ترمنځ حاکم و اوسي، رسول الله صلى الله عليه وسلم دغه نکته داسې بيانوي: (**رجلان تحابا فى الله اجتمعا عليه و تفرقا عليه**).[3]

---

۱- د الکهف سورت: ۲۸ آيت.

۲- صحيح البخارى، حديث: ٥٥٣٤.

۳ ـ صحيح البخاري، حديث : ۵۸۴۴.

یعنی: دواړه تنه ژمن  کیږي چې په یو ځای کیدو او جلا کیدو کې الله د خپل ژوندانه سر مشق وګرځوي.

که چیرې ستاسو دوستان داسې کسان وي چې د واجباتو په اداء او د حقوقو په ساتنه او له بدیو او محرماتو څخه په مخه نیونه کې ستاسو سره یاري کوي نو پوه شـی چې دا ښـه دوسـتان دي باید دوسـتي ورسره وشي او ددوی. له دوسـتۍ خوشحاله و اوسئ او که داسې نه وي نو دوستي ورسره مناسبه نده.

با مردم با شرف در آمیز　　　　　تا طبع تو باشرف شود نیز

یعنی:  د با شرفه خلکو سره دوسـتي او ګډون وکړه څو سـتا طبیعت هم با شرفه شي.

٤- په دوستۍ کې باید نصیحت او خبر غوښتنه وي په یقیني توګه  دا کار تردې پورې اړیکې لري چې انسان د خپل دوست په پرتله د آینې (شېشې) په څیر وي په دې معنا که چیرې  یې دوسـت د ښـه کار په ترسره کولو ولیده هغه په ادامه تشویق شي او که له هغه یې نقص یا ضرر ولید په پټه توګه ورته نصیحت وشي او هغه توبې او د حق او هدایت لارې ته په را ستنیدو سره و هڅوي او دا کار په دې هکله لویه مرسـته کوي چې زړونه په ښـېګڼو سـنبال  او له رذائلو څخه  خالي

کړي. رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم فرمایي: (**الدین النصـیحة قلنا لمن قال لله ولکتابه ولرسوله و لأئمة المسلمین و عامتهم.**[1]

ژباړه: دین نصـیحت او خیر غوښـتنه ده موږ وویل: اې د الله رسـوله د چا لپاره؟ ویې فرمایل: د الله لپاره ، د هغه د کتاب لپاره، د هغه د رسول الله لپاره.

د مسـلمانانو د ائمه وو (علماوو) او عامه مسـلمانانو لپاره د واقعي دوسـت دنده داده چې د خپل دوسـت عیبونه د نصـیحت او خیر غوښـتنې په ژبه دده په مخ کې و وایي اما په غیاب کې یې ابرو او حیثیت وساتل شي.

دوست باید جمله عیب مرا　　　　همچو آیینه رو برو گوید

نه که چو شانه با هزار زبان　　　　پشت سر رفته مو به مو گوید

یعنی: دوست مې باید ټول عیبونه د شیشې په څیر مخامخ راته و وایي.

نه د ږومنځې په څېرپه زرګونو ژبو زما په غیاب کې ویښته په ویښته و وایي؟

اوس دا پوښـتنه را مخکې کیږي چې که چېرې مقابل لوري پند او نصـیحت ته ارزښت ور نکړ نو ز موږ وظیفه څه ده؟

کله چې حکیمانه نصیحتونه د هغه شخص په ویرولو کې چې همیشه ناروا کارونه ترسره کوي اغیزناک واقع نشول او صمیمانه نصیحتونه له هغې ګناه څخه چې د هغو د ارتکاب لپاره یې غوڅ هوډ نیولی ګټور تمام نشول نو په دغه صورت کې په

[1] _صحیح مسلم، حدیث : ۵۵.

یو مسلمان واجب دي چې هغه شخص پریږدي څو هغه حق ته نه وي راستون شوی او سمې لارې ته نه وي را ګرځیدلی. عبدالله بن عباس رضی الله عنهما روایت کوي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم و فرمایل: (**أو ثق عرى الإيمان الموالاة فى الله و المعاداة فى الله و الحب فى الله و البغض فى الله عزوجل**).[1]

ژباړه: د ایمان تر ټولو پیاوړې وسیله، د الله په خاطر دوست ګڼل او د الله په خاطر دښمن ګڼل او همدارنګه د الله لپاره مینه کول و د الله لپاره دښمني او کینه کول دي.

د داسې دوست په هکله بې پروایي او د اړیکو پریکون د جزا په توګه څو دی له ګناه څخه وژغوري او د موقت ادب ورکولو په عنوان د استفادې موردو ګرځي.

٥- دوست او ملګری باید یو هوښیار انسان وي، یوه تر ټولو تاواني معاشره داده چې د ناپوهو اوبې عقلو خلکو سره تماس او اړیکي وي چې د انسان په وروسته پاتې کېدو او بد بختۍ تماميږي .کله د ناپوه او بې عقل دوست له خوا داسې خطرناک او درد ناک تاوان سړي ته رسيږي چې د يوه د ښمن له خطر څخه ډير زيات وي نو له دې کبله په دوه اړخيزه اړيکو کې يوازې مينه، صميميت او وفا د اشخاصو په غوره کولو کې د دوستۍ په توګه کافي نه دي بلکې باید د مقابل لوري د هوښیارۍ پيژندنې کچه په لومړۍ درجه کې تر نظر لاندې ونيول شي.

---

١ ـ مسند الطيالسي، لسليمان بن داود الجارود، حديث : ٧٨٣.

دشمن دانا بلندت می کند		بر زمینت میزند نادان دوست

یعنی هوښیار دښمن دې لوړوي او نا پوهه دوست دې پرځمکه وهي.

٦- د دنیوي منابعو حا صلول او د دو ستۍ او صمیمیت په طرح کولو سره د وګړو استثمار څرګند توپیرلري. کله بې حقیقته ځان پرستان د وګړو سره د دوستۍ او ګډ ژوند کولو په موضوع کې ځانګړې موخې په لار اچوي، دوی همیشه د داسې دوستانو په پیدا کولو کې دي چې له هغوی څخه ګټه ورته ورسیږي. د بیلګې په توګه هیڅکله د دا سې کسانو سره دو ستی نه کوي چې دوی د پاکو احسا ساتو او ربښـــتینو نیتونو لرونکي وي خو د دوی پر دوســـتۍ باندې مادي ګټه مرتبه نه وي. د همدې پروګرام په بنسټ تر هغه وخته د دوی پیوند د دوستانو سره محکم او ټینګ دی چې د ګټې جلبولو هیله باقي وي.

اما څنګه چې له همدې لارې یې خپل زړه غوښـــتونکې موخې ته لاس رســـی موند او احـساس یې کړه چې د دو ستۍ څرخ د دوی د هدف او موخې پر محور نه څرخیږي، یو ډول ځانګړې یخني د ګرمو اړیکو او ګرمې دوســتۍ ځای نیسي- او د خپلې ریا او ځان ښـودنې اړیکې شـلوي دارنګه وګړي چې له شـخصي- ګټو پرته بل څه ته فکر نه کوي د دوستۍ او ملګرتیا ارزښت نه لري.

شیخ سعیدی د دې ډول دوستانو په باره کې فرمایي:

ایــن دغل دوستــان که می بینی		مګسانـــــــد ګرد شیــــرینی

تــا طعــامی هست می نوشنــد　　همچو زنبور گرد تو جوشنـــد
تــا به روزی کــه ده خراب شود　　کیسه چون کاسه رباب شــود
بار دیــگر کــه بخت بــاز آید　　کــامرانی ز در فـــراز آیـد
دوغبـــایی بپز که از چپ و راست　　کاستخوان از تو دوست تر دارند

ژباړه: دغه حیله ګر او خراب دوســتان چې وینې، مچان دي چې د شریني په چاپیریال کې ګرځي توځو چې خوراک شته چېښي يې لکه غومبسه ستا په شا وخوا کې جوشیږي.

تر هغه ورځې چې کلی خراب شي، جیب د رباب د کاسې په څیر شي
یو ځل بیا چې بخت بیرته راشه، بر لاسي به د دروازې نه راشي.

د مســتو آش پوخ کړه چې له کینې او ښــې خوا په هغه کې ولویږي لکه مچان په مستوکې. رښتیا وایم د بازار سپي دي چې هډوکي له تا څخه ډیر دوست او ښه ګني.

دا ډول وکړي خپل دوســت په ناځیزه مادي ګټه خرڅوي او د دوســتۍ رازونه خوروي او یا د مادي حاجت او اړتیا په وخت انسان پریږدي او په خپله مادي ګټه پلټلو پسې ځي.

**د دوست له سهوو او ښوییدنو څخه سترګې پټونه او تیریدنه:**

ځینې له وګړو څخه د ټولنیز بلوغ د نشتون په وجه او د ګډ ژوندانه د لازم رشد نه در لودلو له کبله په داسې اندازه حساس او ژر رنځه دي او د دوستۍ په نړۍ کم تیریدونکي او سخت نیوونکي دي چې ډیر کوچنی انتظاری خلاف نه بخښي او له دوستانو څخه دیوه غفلت او اشتباه په لیدلو سره په آسانۍ خپلو خامو او سوځوونکو احسا ساتو ته تسلیمیږي او له هغو سره د تفاهم لاسونه وینځي او د زړه په تنګۍ او ژور رنځ سره د خپلې مینې او مهربانۍ پیوند پرې کوي او حال دا چې په ژوندانه کې روښنایي او تیارې، اغزي او ګلان، ناوړه او ښایسته همیشه دیو او بل په څنګ کې ځای لري او باید و پوهیږو چې د ټولنیز ژوندانه نبض پر دې پایه ولاړ دی چې د څو امتیازونو څخه د استفادې په وړاندې اړتیا لري ،نا مناسب او د انتظارونو خلاف تر هغې کچې وزغمي او په عین حال کې له بیځایه هیلو او د چټي خوبونو له تعقیب څخه ځان و ژغوري او د ژوندانه هنر او کمال همدا دی چې وکولای شو حتی المقدور د خپلو هیلو په وړاندې د انعطاف حالت رامنځ ته کړو، د خپلو میلونو او رغبتونو پر بنسټ د ټولو شیانو ارزونه اشتباه ده خو ډیر کسان داسې دي چې احساسات یې په سخته توګه یو طرفه تګ کوي او په طبیعت کې یې د ځان غوښتنې او ځان لمانځنې حس په هغه کچه پیاوړی دی چې واقعیت په کلیزه توګه له لاسه ورکوي او له بلې خوا ځان ته عذاب او

کړاو هم متوجه کوي حال دا چې واقعيت او د معقولو او مناســبو هيلودرلودنه د داخلي آسودګۍ مايه ده.

## په دوست کې عزم او احتياط:

دوه تنه د پاکو زړونو خاوندان چې يو د بل ډېر خواږه او محرم ملګري شــوي دي په بشــپړ اخلاص او صــفايۍ يو د بل سره چلند کوي. که چېرې هوښــيار او راتلونکې ســنجوونکی وي بايد له دې نکتې څخه هيڅکله غفلت ونکړي چې د دوســتۍ او ملګرتيا پيوند هميشــه او په ټولو شرائطو کې محکم او ټينګ نه پاتې کېږي او ممکنه ده پيښې د ملګرتيا ريښې غوڅې کړي او د هغو دواړو دوستي په د ښمنۍ بدله کړي بنا پردې دا دوه ديوه زړه ملګري د دو ستۍ په ورځو کې بايد هميشه له افراط څخه ځان وژغوري. د ساده زړونو ځوانان چې د دوست په غوره کولو کې د خپلو عواطفو او آني احســاســاتو پيرو دي او هيڅکله د ســبا ورځې دوســتۍ ته فکر نه کوي او د نن ورځې اړيکې يو ثابت او نه شــليدلی پيوند ګڼې او دومره په دوســتۍ او همغږۍ کې افراط کوي چې ګواکې يو روح دی په دوه بدنونو کې، يو شــان جامې اغوندي، په هره کوڅه او هر محل کې يو ځای ولاړ دي او په خپلو کې له هرې دروازې او له هر سر څخه خبره کوي . او له خپل رفيق څخه هيڅ راز نه پټوي. بايد وپوهيږي چې د دې توندۍ ضرر هغه وخت څرګنديږي چې د يوې نا مطلوبې پيښــې په اثر د زړه په رنځيدو يو له بله غوســه

کوي او د هغو دواړو دوستي په دښمنۍ بدليږي. نو په دغه مهال د غچ اخستنې لپاره هر يو د بل راز خوروي څو په دې وسيله هغه شرمنده او رسوا کړي، حضرت رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

(**آحبب حبيبک هوناً ما عسی آن يکون بغيضک يوماً ما و ابغض بغيضک هونا ما عسی ان يکون حبيبک يوما ما**).[۱] يعنی په دوستۍ او دښمنۍ کې له توندۍ څخه کار مه اخلئ؛ ځکه ښايي يوه ورځ حالت تغير وکړي او دوست دښمن شي او يا دښمن ستا د مينې مورد وګرځي او د دوستۍ دروازه ور سره پرانستل شي.

**کتاب ارزښتناک ملګری:**

د وزګارتيا او يوازوالي په وخت هم کولای شې يو ارزښتناک ملګری او دوست ځان ته غوره کړې دغه دو ست (کتاب) او په هغه چارو کې فکر او سوچ دی چې د فکر د پراختيا لامل ګرځي. د غور او فکر له لارې د لويانو له ليکنو څخه کلونه کيږي چې د نړۍ سره يې مخه ښه کړې او د خاورو په غيږ کې ويده دي، د هغوی د افکارو، پوهې او واقعي شخصيت څخه خبريږو او د دوی له ښوونو ګټه اخلو.

اګر باز جويي خطا از صواب نيابی يکی همنشين چون کتاب
يکی همنشين است پاکيزه دل نه بد خواه مردم نه پيمان ګسل
چنين همنيشين ګر بدست آوری نشايد که بګذری و بګذری

۱ ـ شعب الإيمان، حديث : ٦١٦٨ .

که چېرې د غلط او صحیح،د حق او نا حق پلټنه او څېړنه وکړې و به نه مو مې د کتاب په څیر هیڅ ملګری.

کتاب یو پاک زړی ملګر ی دی، نه خلکو ته بدي غواړي او نه ژمنه او تړون شلوي.

که داسې ملګریی دې چیرته لاس ته راوړ، ښایي چې پرې ایږدې.

البته لکه څنګه چې د هغه خطر نه د ځان ژغورنې لپاره چې د نامناســبو اړیکو څخه را منځ ته کیږي ښایي د دوست په انتخاب او غوره والي کې هوښیار وې، د کتاب په انتخاب کې هم باید له ډیر غور او توجه څخه کار واخلې، هر کتاب د مطالعې وړنه دی او د وخت د لګولو ارزښــت نه لري ځکه نه یوازې له داســې مطالعو څخه ګټه نه ترلاســه کیږي بلکې هغه په زهرو لړلي افکار چې د ځنو کتابونو په صفحو کې لیکل شوي پاک روحونه مسموم کوي، نو د ګټورو کتابونو مطالعه ارزښتمن کار دی.

**د مخلصانه دوستۍ معنوي میوې او پایلې:**

دا ډول خلک د الهي عرش تر سیوري لاندې ځای نیسي.

**(ســـبعة يظلهم الله فى ظله يوم لاظل إلا ظله... رجلان تحابا فى الله اجتمعا عليه و تفرقا عليه).** [1]

---

۱ - صحیح البخاري، حدیث: ۵۸۴۴ .

ژباړه: الله تعالی اوه ډلې خلک تر خپلې سیوري لاندې نیسي په هغه ورځ چې د ده له سیوري پرته به بل سیوری نه وي ... له هغه اووه ډلو څخه دوه هغه سړي دي چې د الله په خاطر یو د بل سره دوستي کوي.

ټول خلک به د قیامت په ګرمۍ کې را غونډ شوي وي او د لمر حرارت به ډیر سخت وي، خولې ،ستړیا او د اوږدو کلونو انتظار، اما اوه ډلې خلک به ترسیوري لاندې ولاړوي، نه د ونې تر سیوري لاندې بلکې د الله د عرش تر سیوري لاندې له هغوډلې څخه به دوه هغه تنه وي چې د الله له پاره یو د بل سره دوست شوي وي.

نواې وروره! دوست هغه څوک نه دی چې د زمانې شرایط هغه ستا سره د لارې پر سریو ځای کوي، بلکې دوست هغه دی چې ته خپله هغه انتخاب او غوره کړې ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: (**المرء مع من أحب**)[1]

یعنې انسان د هغه چا سره دی چې هغه دوست ګڼې (خوښوي یې).

هر څوک چې خو ښوې د قیامت په ورځ به د هغه سره او سیږې، نو خپل نفس ته دې ووایه څوک خوښوې چې د چا سره و اوسې؟

دور باش از صحبت اهل فساد	کآورد سستی بدین و اعتقاد
چون گل سوری حریف خار شد	عاقبت دیدی جزایش نار شد
تا توانی صحبت نیکان گزین	کآب را ناله بود از همنشین

۱ - سنن أبي داود ، حديث : ۵۱۲۹ .

یعنی د فاسـدانو د له مجلس نه لرې اوسـه، ځکه هغه دې ولیده چې په دین او اعتقاد کې سستی راولي.

کله چې سور ګل د اغزي سره مل شو، نو په پایله کې دې ولیده چې جدایې اور شوه.

څو چې کولای شـې د نیکانو ملګرتیا غوره کړه، چې او به هم د خپل ملګري نه فریاد کوي.

۲٦

# غوسه او تند خويي

**الحمد لله رب العالمين و الصلاة والسلام على أشرف الأنبياء و المرسلين محمد و على آله وأصحابه أجمعين و بعد:**

يو بل له هغو رنځونو او ناروغيو څخه چې ممکنه ده څنې ديندراه او دعوت کوونکي پرې اخته شي او د ډېرو ناخوالو او ستونزو لپاره زمينه برابره کړي غوسه او تندخويي ده.

**لومړی د غضب تعريف:**

په لغت او عربي ژبه کې د (غضب) کلمه په لاندې معناوو کارول شوې ده:

١- غوسه او نارضايي.

٢- ديوځه صفت او سخت ويل.

٣- مخ تريوول او ګونځې کول .

٤- په غړوکې پړسوب .

٥- په اړيکو، خُلق او خوی کې خړپړتيا رامنځ ته کيدل .

٦- جليقه يا هغه كميس چې د اوښ له پوســت څخه جوړيږي او په جنگ کې د عسكرو د ساتنې لپاره ورڅخه استفاده كيږي.

٧- ناويلي پاتې نشي- د پاســنيو معناوو ترمنځ دومره تضــاد او نا همغږي شــتون نلري، ځکه لومړۍ معنا د غوســـې او غضــب حقيقت بيانوي، دوهمه، دريمه او څلورمه معنا د غوســې او غضــب نښــې نښــانې بيانوي، پنځمه معنا د غوســې او غضب پايله او شپږمه د غوسې او قهر يا غضب موخه او آخري قصد بيانوي.

او په هغه اصـــطلاح کې چې د پوهانو او دعوت کوونکو تر منځ رايجه او دود ده، غوســه او غضــب عبارت دی له هغه ځانگړي انفعالي او تغيري حالت نه په داخل د انسان کې چې دی تيري، غچ اخستلو او د داخلي اور مړه کولو ته هڅوي او له دې نه لوړ غيظ يا قهر دی او د هغه په تعريف کې ويل شــوي چې غيظ: زيات او گڼ غضب دی .

**د غوسې او تند خويۍ نښې نښانې:**

١- د بدن رگونه پړسوي سترگې او ځيرى سرې کوي.

٢- مخ او ټنډه تريووي او گونځې کوي يې.

٣- د خبرو په وسيله يا عملاً نور تر حملې لاندې راوستل .

٤- د دښمن او د نورو د حملې په وړاندې هم مثله مقابله کول او...

د ا سلام له نظره هر ډول قهر او غو سه حرامه او ممنوع نده بلکې ځنې له هغو نه صحيح او روا او ځنې نور نادر او ناروا دي.

هر ډول قهر او غوســـه چې د ځان، آبرو، پانګې، دين، عمومي حقوقو او د مظلوم نه د ملاتړ او دفاع لپاره وي، مطلوب ده او د هغه په تاييد کې ډير دلايل شـــتون لري:

١- الله تعالی انســـان پيداکړی څو امين او په ځمکه کې د هغه خليفه او ځای ناستی وي:

الله تعالی فرمايي: ( **وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلاَئِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الأَرْضِ خَلِيفَةً** ) .[1]

ژباړه: هغه وخت په زړه کړه چې کله ســـتا رب پرښـــتو ته ويلي وو چې زه په ځمکه کې د يو خليفه پيدا کوونکی يم.

او ددې مسئووليت د اداء لپاره الله هغه د روح او بدن څخه پيدا کړی، چې جسم او بدن د روح په اختيار کې ولويږي او بدن يې هم په داســـې توګه پيدا کړی چې کولی شي د روح د خدمت له ژمنې څخه په ښـــه توګه و وتلی شي. او بل ځواک يې هم په هغه کې پيدا کړی:

لومړی: شـــهواني او طلب کوونکی ځواک چې مســـئووليت يې د بدن اړتياوې برابرول دي.

١ - د البقرې سورت : ٣٠ .

دوهم: د غوســـې ځواک چې د هغه کار د ټولو هغو شـــيانو مقابله ده چې په يوه کړنلاره د انسان بدن تر تهديد لاندې راولي.

همدارنگه د انسان لپاره يې داسې غړي پيدا کړي څو هريو د دوو قوو شهواني او غضـبي په خدمت کې ولگيږي او عقل يې هم د يوه سـپين گيري او قاضي او د روح دعوت کوونکي په عنوان پيدا کړی دی .هر کله چې روح له هغو دوو ځواکونو څخه يوه ته منځگړيتوب او د اعتدال له حد نه زيات رغبت پيدا کړي هغه ته لارښوونه او نصيحت کوي او په سمه هوډ نيونې سره د اعتدال د ايجاد لپاره يې را غواړي. له بل لوري متعال او حکيم الله په خپله پوهيږي چې کله عقل په دلايلو او د دندې د اداء تر شرائطو لاندې په ښــه توگه لارښــوونه نشي- کولای په همدې وجه يې د پيغمبرانو په واســـطه يو پروگرام او کړنلاره او عملي ســـيرت را وليږه تر څو لاره روښـــانه او حق څرگند او لازم توازن او همغږي د ډول ډول برخو ترمنځ د انسان شخصيت چمتو کړي او د هغه سلامتي او توازن وساتي او هغه له بې لارې او کږ والي څخه منع کړي نو په انســان کې غوســه اســاساً د احتمالی خطراتو د مقابلې لپاره او د ارزښـــتونو، گټو او دده د حرمت د دفاع لپاره پيدا شوي ده.

۲- الله تعالی د کفارو پر ضد د مسلمانانو غوسه او د عمل سختوالی د ستاينې مورد گرځولي او فرمايي: ( **مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاء عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاء بَيْنَهُمْ**). [۱]

ژباړه: محمد صلی الله عليه وسلم د الله رسول دی کوم کسان چې له هغه سره ملگري دي هغوی پرکافرانو سخت او په خپلو منځو کې خوا خوږي دي.

۳- د هغو کسانو له ځانگړتياوو څخه چې ددين د دفاع او ملاتړ او د الله د شريعت د حاکميت لياقت لري او زمينه ورته مساعده ده، د کافرانو په وړاندې د غرور اوعزت خوی دی.

الله تعالی فرمايي: ( **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ مَن يَرْتَدَّ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ** ).[۲]

ژباړه: اې مؤمنانو که له تاسې نه څوک له خپل دين نه واوړی (نو وادې وړي) الله به نور ډير داسې خلک پيدا کړي چې الله ته گران وي او الله هغوی ته گران وي. چې له مؤمنانو سره به نرمي کوي او پر کافرانو سختي.

٤-الله تعالی فرمايي: ( **يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ**).[۳]

---

۱ - د الفتح سورت : ۲۹ .

۲ - د المائدې سورت : ۵۴ .

۳ - د التوبه سورت : ۷۳ .

ژباړه: اې پېغمبره! له کافرانو او منافقانو سره جهاد وکړه او له هغو سره سخت بر خورد وکړه د هغوی استوګنځی دوزخ دی او هغه ډېر ناکاره استوګنځی دی.

 څرګنده ده چې د کافرانو په وړاندې د تندی او سختی لازمي نتيجه غوسه او غضب دی. هغه هم يوازې د دوی د عناد، ضد او انکار او د حق سره په مقابلې او د الله دلارې سره په مخکيدو هغه لار چې د نيکمرغی او خوشبختی مايه ده.

د نبی کريم صلی الله عليه وسلم د ځانګړتيا وو په بيان کې ويل شوي دي: کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته د دوه کارونو تر منځ اختيار ورکړی شوی نو ده به هغه ډير آسانه غوره کاوه په دې شرط چې ناروا به نه ؤ . او که ګناه به پکې وه ، نو ده به تر ټولو دمخه ورڅخه لريوالی غوره کاوه او هيڅکله د خپل ځان په خاطر يې د چا نه غچ نه دی اخستی مګر دا چې د يو حرمت حريم به پکې ماتيده.

د همدې ډول غوسې او غضب په هکله امام شافعی رحمة الله عليه فرمايلي دي: که چېرې غوسه يو څوک را و هڅوي او هغه په غوسه نشي دا ناپوهه دی.

اما هغه غوسه او تُندی چې د شخصي ـ ګټو او مسئلو او غچ اخستلو لپاره وي هغه حرام او ناروا دي او هغه ډېر آيتونه او احاديث ردوي.

ابو هريره رضي الله عنه د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه نقل کوي: عن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال : ( **ليس الشديد بالصرعة إنما**

**الشـديد الذي يملک نفسـه عند الغضـب ).**[1] زړور او پهلوان انسـان هغه نه دی چې پهلواني وکولای شي بلکې پهلوان هغه دی چې د غوســې په مهال ځان کنترول کړي.

وعن عبد الله بن عمرو: ( **أنه سـأل رسـول الله صـلى الله عليه و سـلم ماذا يباعدني من غضب الله عزوجل ؟ قال : لاتغضب ).**[2]

له عبدالله بن عمرو نه روايت کوي چې هغه له رسـول الله صـلى الله عليه وسـلم څخه پوښتنه وکړه کوم شی ماته د الله د غوسې نه خلاصون را کوي؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم و فرمايل: غوسه مه کوه.

ابودردا رضي الله عنه وايي: ما و ويل اې د الله رسوله! ماته د داسې کار لارښوونه وکړه چې جنت ته مې بوځي. ويې فرمايل: په تاســو کې هغه کســان برلاسي او نيکمرغه دي چې له طمعې، نفسي غوښتنو او غوسې څخه وساتل شي.

د اوه د اســلام په نظر کې د غوســې حقيقت او شـيخ علی محفوظ هغه د ا مام غزالی رحمة الله عليه نه په ساده طريقه داسې شرح کوي:

---

١ - صحيح البخاري، حديث : ٦١١۴ .

٢ - مسند الإمام أحمد، حديث : ٦٦٣٥ .

**غوسه او قهر درې درجې لري:**

**۱- منځنۍ او د اعتدال کچه:** په دا سې توگه چې انسان د ځان، آبرو، مال، د خلکو حقوقو او د مظلوم سره د مرستې او... د دفاع په خاطر په غوسه شي. په حقیقت کې د غوسې د پیدا کیدو موخه په همدې اړیکه ده او لازمي پایله يې د امنیت، آبادۍ او د انساني ټولنیز نظام را منځ ته کیدل دي، همدارنگه د هغو تجاوز کوونکو سره رقابت دی چې دوی د نورو په حقوقو، خپلواکۍ او امنیت تیری کوي. او د دیني او انساني ارزښتونو د دفاع لپاره هله ځله ده لکه شتمني، آبرو، عمومي حقوق که داسې دفاع ونشي- فساد، فتنه، د ټولنیز نظام د ستنو لړزیدل او.... را منځ ته کیږي او که چیرې یو څوک د ځان د دفاع لپاره په غوسه نشي، نو د سختو ضررونو سره مخ کیږي او نور کسان هغه د حیواناتو په څېر خپل خدمت ته را غواړي. او همدارنگه څوک چې د ایماني ارزښتونو په دفاع کې غوسه او د دفاع انگیزه و نه لري نو مجبور دی چې له زور واکو تقلید وکړي او د ړندو په څېر په هغوی پسې ولاړ شي او هره ورځ بل دین غوره کړي. او که څوک د خپل ناموس په هکله شهامت چې د غوسې له ځواک څخه قوت اخلي، و نه لري نو د هغه آبرو او حیثیت به د سخت ضرر سره مخ شي او فساد او فتنې به پراختیا و مومي او د انسانانو په فرهنگ به د حیوانا تو روش حاکم وگرځي. همدارنگه که څوک د خپلې شتمنۍ د ساتنې لپاره له غیرت او شهامت څخه

کار وانخلي نو په ظلم به مال ور څخه اخســتل کيږي او دی به د بيوزلۍ او مســکينۍ سره مخ کيږي او په پايله کې به د ټولنې د کار، تجارت، کرهڼې او صنعت نظام د ناخوالو سره لاس او ګريوان وي.

او څوک چې د خلکو د حقوقو او د نورو د امنيت، خپلواکۍ او کرامت د دفاع په هکله غيرت او شهامت و نه ښيي او د مظلومانو په دفاع کې زړه سوی و نه لري نو دا انسان ضعيف، ډارن او بې غيرته دی.

همدارنګه په دې هکله امام شافعي رحمة الله عليه فرمايي: هر څوک چې غوسه را وپاروي او هغه په غو ســه نشيـ هغه تر حيواناتو کم او ټيټ دی يعنی هغه دسست او بيوزلي او بې غيرته شخصيت لرونکی دی.

که چيرې الله د يوې ډلې خلکو په واسطه د بلې ډلې خلک نه دفع کولی، ټوله ځمکه به د تباهۍ سره مخ شــوې وای اما الله تعالی د نړيوالو لپاره د فضــل او ښښنې خاوند دی.

**۲-د تفريط او کمي درجه:** په داسې توګه چې دغه قوه په انسان کې له منځني او طبيعي عدالت څخه خارج شي او له حده زياته ســـته او بيوزلی يايه ټوله معنی نابوده او له منځه ولاړه شي، همدارنګه ويل شـوي څوک چې د ځان، مال، آبرو او عمومي مصــلحتو په پرتله بې تفاوته وي هغه ضــعيف، ډاران او بې غيرته انسان دی او دا سې انسان نشي کولای د الهي قوانينو په بهير کې قدم واخلي

او دا کيدای شي داسې خطر وي چې د انسان د ژوندانه صحيح ميزان او کړنلاره د تهديد مورد وګرځوي.

**۳- د افراط او زياتوالي حالت:** په داسې توګه چې غوسه او قهر د طبيعي حالت نه خارج شي او دين او عقل تر پښو لاندې کړي او د نورو په حقوقو تيري ته مخه کړي او په خپله د انسان د نابودولو او له منځه وړلو زمينه جوړه کړي. کله غوسه او بد اخلاقي ديوه واړه کار په وجه دی ديته هڅوي چې ډير بد او ناوړه جنايت ته ملا وتړي هم د خلکو کارو نه له ستونزوسره مخ کوي او هم خپل کار له لاسه ورکوي، داسې غوسه او قهر د اسلام په نظر او بشري عقل کې ډير بد، نا خوښه او حرام دی او د هغه د حراموالي او ناروا والي درجې د غوسې تر درجاتو پورې اړيکې لري. هر څومره يې چې تاوان زيات وي د هغه غوسې اندازه ډېره وي او ډيره بدي او عذاب ور پسې وي.

**د غوسې او غضب اسباب او لاملونه:**

**۱- د انسان چاپيريال ( محيط):**

يو له هغه لاملونو څخه چې سړی د غوسې د ضرر په دام کې راښکيل کيږي، شرائط او د ژوندانه او کورنۍ او ټولنيز محيط دی.

کله د کورنۍ فرهنګ په داسې کړنلاره وي چې شيطانت او شرارت ته شجاعت او د نورو په حقوقو تيری غيرت او ميړانه ګڼي، الله تعالی فرمايي: (**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا**

لَا يَسْخَرْ قَومٌ مِّن قَوْمٍ عَسَى أَن يَكُونُوا خَيْرًا مِّنْهُمْ وَلَا نِسَاء مِّن نِّسَاء عَسَى أَن يَكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ وَلَا تَلْمِزُوا أَنفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ بِئْسَ الاِسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الْإِيمَانِ وَمَن لَّمْ يَتُبْ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِّنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَّحِيمٌ ).[١]

ژباړه: اې مؤمنانو نه دې نارینه پر نورو نارینه وو ټوکې ټکالې کوي کیدای شي چې هغوی له دوی نه غوره وي او نه دې ښځې په نورو ښځو ټوکې ټکالې کوي، کیدای شــی چې هغوی له دوی نه غوره وي، په خپلو منځو کې یو دبل طعن مه وایئ او مه یو بل په بدو نو مونو سره یادوئ له ایمان راوړلو وروســته په فســق کې نوم پیداکول ډیره بده خبره ده کوم کسان چې له دغه چارچلن څخه را وانه وړي هغوی ظالمان دي.

اې مؤمنانو له ډېرو گومانونو کولونه ډډه وکړئ چې ځنې گمانونه گناه وي، د چا پټ عیبونه مه لټوئ او له تاسې نه دې څوک د چا غیبت نه کوي ایا په تاسې کې داسې څوک شته چې د خپل مړ ورور غوښې خوړل خوښ کړي؟ گورئ تاسې په خپله ددې نه کرکه کوئ، له الله نه و ویریږئ، الله ډیر ښه توبه قبلوونکی او ډیر مهربان دی.

١ - د الحجرات سورت : ١١-١٢ آیتونه .

## ٢- شخړه او جګړه:

د غوسې دوهم لامل د مناقشې موضوع ته بيهوده او بې موخې را ګرځي، ځکه هر يو د مجادلې له دوه طرفونو څخه غواړي چې په هر قيمت وي په بل غالب شي او هر کله چې داسې هله ځله ديو ددوی لپاره نتيجې ته راونه رسيده، د غوسې اور هغه رو ښانوي او په خپلو سرکشو شغلو د مقابل لوري شخصيت او حيثيت په درمنده اور لګوي.

## ٣- ناسنجولې ټوکې ټکالې:

د غوسې د ناروغۍ څرګندېدو دريم لامل: د نزاکت نه لرې او نا سجولې ټوکې او شوخۍ دي، ځکه هر کله چې شوخي د ا سلامي ادب له حدودو خارج شي او د انسان آبرو او شخصيت د حملې مورد وګرځي نو دښمني رواګڼي غلطي او سهوه چې انګيزه يې يوازې زړه سوی او ديني غيرت او له عمومي مصلحت داور د شغلو لامل کيږي او ډير کرته نابېره غوسه د خطرناکو پېښو سبب کيږي چې په هيڅ وجه يې جبيره ممکنه نده.

همدا وجه ده چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم ټوکې او شوخۍ ډيرې محترمانه او مؤدبانه او د حق او رښتيا په چوکاټ کې وې او د دروغو له ټوکو څخه يې منع کړيده او فرمايي: د خپل دوست او ورور سره مجادله او شوخي مکوه، داسې قول او لفظ چاته مه ورکوه چې هغه تر سره کولای نشې.

## ٤-د نورو د دښمنۍ مختلف ډولونه:

د غوســـې د لاملونو څخه يو بل لامل د نورو د حرمت په حريم تيری او يرغل دی ځکه هر کله چې يو انسان د طعنې او سرزنښت، استهزا، پلټنې او جاسوسۍ، غيبت، خبرو ټولولو، تورلګولو، په ناحق بندي کولو، عذاب او آزار دهغې هدف وګرځي نو دده د غوسې لامل کيږي.

په داســې توګه چې نن ورځ ځنې حکومتونه هغه د ځوانانو او د اســلامي بيدارۍ د کارکوونکو په حق کې چې د دين، آزادۍ او خپلواکۍ په دفاع کې د غلطۍ او سهوې سره مخ شوي دي، واکمني څخه دفاع ده. د الله او د هغه د رسول صلى الله عليه وســـلم د اخطار دليل چې له دښـــمنۍ، اذيت او آزار او آزادۍ او د انساني کرامت له منځ وړلو په هکله الله تعالى فرمايي:

**( يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ قَومٌ مِّن قَوْمٍ عَسَى أَن يَكُونُوا خَيْرًا مِّنْهُمْ وَلَا نِسَاء مِّن نِّسَاء عَسَى أَن يَكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ وَلَا تَلْمِزُوا أَنفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ بِئْسَ الاِسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الْإِيمَانِ وَمَن لَّمْ يَتُبْ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِّنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَّحِيمٌ ).**[١]

١ - د الحجرات سورت : ١١ ــ ١٢ .

ژباړه: اې مؤمنانو نه دې نارينه پر نورو نارينه وو ټوکې ټکالې کوي کيدای شي چې هغوی له دوی نه غوره وي او نه دې ښځې په نورو ښځو ټوکې ټکالې کوي، کيدای شــی چې هغوی له دوی نه غوره وي، په خپلو منځو کې يو دبل طعن مه وايئ او مه يو بل په بدو نو مونو سره يادوئ له ايمان راوړلو وروســته په فسـق کې نوم پيداکول ډيره بده خبره ده کوم کسان چې له دغه چارچلن څخه را وانه وړي هغوی ظالمان دي.

اې مؤمنانو! له ډيرو گومانونو ډډه وکړئ چې ځنی گمانونه ته گناه وي، د چا پټ عيبونه مه لټوئ او له تاســې نه دې څوک د چا غيبت نه کوي، ايا په تاســې کې داســې څوک شـــته چې د خپل مړ ورور غوښـــې خوړل خوښ کړي؟ گورئ٦ی تاسې په خپله دې نه کرکه کوئ، له الله نه ووريږئ الله ډېر ښه توبه قبلوونکی او ډير مهربانه دی.

رسـول الله صـلی الله عليه وسـلم فرمايلي دي: له بد گمانۍ څخه په کلکه ځان وژغورئ، له جاسوسۍ، کينې، دښمنۍ او يو بل ته له شا اړولو او يو د بل سره د اړيکو له پريکولو پرهيز وکړئ، د الله بندگان او يو له بل سره وروڼه و اوســـئ، مسلمان د مسلمان ورور دی، په هغه به ظلم نه کوي، بدې خبرې به نه ورته کوي او هغه به نه سپکوي.

**٥- تکبر او په نورو ناروا بهتري غوښتنه:**

د غوسې او غضب د پديدې پيداکيدو او د هغه د زياتوالي يو بل لامل په خلکو ناروا زور او لويي کول دي، ځکه متکبر او قدرت غوښتونکی د خپل مقام او عزت لپاره هر کار ته لاس اچوي او هر کله که څوک خپل کرامت او خپلواکي ترې وغواړي، ځيره يې گونځې او له غوسې ډکيږي او کله چې هغه له ظلم او فکري او ټولنيز فساد خورولو څخه وژغوري نو د حق قبلولو په ځای کنداغ او سوټې ته لاس کوي او هيڅ ته اجازه نه ورکوي چې هغه ته امر يا منع وکړي او هغه لارې ته راولي. دا ډول نظريې او انسانان په واقعيت کې بيوزلي او ضعيف دي او غواړي په زور او قهر او غضب خپل کموالی جبيره کړي الله تعالی فرمايي: (**تِلْكَ الدَّارُ الْآخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِي الْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ**)[١].

ژباړه: د آخرت هغه کور خو به د هغو خلکو لپاره مخصوص کړو چې په ځمکه کې خپله لويي نه غواړي او نه د فساد کولو اراده لري او نيک عاقبت يوازې د پرهيزگارانو لپاره دی.

**٦- د نفس هيرول:**

دغه لامل چې د خلکو غوسه او قهر راپاروي دا د نفساني غوښتنو او د نفس د محاسبې کنترول او نظارت لپاره د پاملرنې نه کولو کړه وړه وي، ځکه کله چې

١ - د القصص سورت : ٦٩ .

انسان په اخلاقي کمزوريو اخته کيږي لکه څنګه چې هغه په خپل حال پريږدي څو د خپل نفس سره مقابله ونکړي نو دده نفس داسې کچې ته رسيږي چې په هغه صورت کې معالجه ورسره سختيږي نو په همدې دليل الله پاک موږ د نفس سره مقابلې ته را غواړي او فرمايي:

(**وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ**).[1]

ژباړه: کوم کسان چې زموږ په خاطر مجاهده وکړي هغو ته به موږ خپلې لپارې ور وښيو او په باوري ډول الله د نيکو کارانو ملګرى دى.

### ۷- د دوستانو او خپلوانو نه پاملرنه:

دغوسې او قهر له لاملونو څخه يو بل لامل د قهرجن او غوسه ناک سړي د دوستانو او خپلوانو نه پاملرنه ده، ځکه انسان چې هرڅومره په خپل عيب او ناروغتيا خبر داره وي، خو دا چې د نفساني غوښتنو په وړاندې د ده اراده او هوډنيونه سسته او بيوزلې وي او د ښکاره او پټو شيطانانو او دوکه ورکونکو د قهر او غوسې د دام نه ځان نشي خلاصولى، نو په داسې حالتونو کې ديار او دوست مرستې ته ډيره سخته اړتيا لري ځکه که چيرته ژرېې درملنه ونشي، د زمانې په تيريدو غوسه دده جز ګرځي او دده د شخصيت نه نشي جلا کيدلاى.

---

۱ - د العنکبوت سورت : ٦٩

**۸ - په ناوړه اوناخوښه صفت سره د چا نوم اخستل:**

کله د قهر او غوسې د راپارېدو لامل دادی چې چاته په داسې صفت سره خطاب وشي چې په هغه کې دده ددبدبې او شـخصـيت توهين او سـپکتيا وي. يادی د نورو په وړاندې په ډار او ويرې سره تورن کړي او ووايي! که ته نرواى د فلاني سره به دې مبارزه او مقابله کړې واى، معلومه ده چې د هغه سره د مقابلې جرأت نه لري، داســـې خبرې کله ددې لامل کيږي چې خام او ضـــعيف النفس خلک په داخل کې تحريک شي او دده داخلي حالت دده په کړو د وړو او هوډنيونه اغيز وکړي او حالت او ځيره يې گرمه شي او د احسـاسـاتي انگيزې په بنسـټ داسـې هوډ ونيسي چې د عقل نه لرې او انديښنه راوړونکی وي.

**۹ - تيرې دښمنۍ رايادول:**

کوم  چې د خلکو تر منځ د جني او انسي شيطانانو د وسوسو په واسطه د غوسې او قهر لامل کيږي. هغه د طرفينو د تيرو جنگونو او دښـــمنيويا دول دي چې د دښمنيو داور له مخ څخه هيرې ايرې لرې کوي. کله يو انسان يا يو قوم د ايماني انگېزې او دينی تيريدنې له وجې د غچ اخستلو او ځان غوښتلو څخه عفوه کوي. امابدخويه او شيطان صفته انسانان ځانگړو موخو ته د رسيدنې لپاره تيرې زمانې وريادوي او دوی يو په بل اخته کوي چې د هغو بيلگه مخکې يهودو د مدينی

منورې د دوو طايفو اوس او خزرج تر منځ د تير وخت د جنگونو اووژنو يادونه را ژوندي کړل.

**۱۰ - د قهر او غوسې د پايلو نه غفلت او بې پروايي:**

د غوسې او غضب د اور بلولو لپاره يو بل لامل دادی چې انسان د قهر او غوسې د فردي، ټولنيز، دنيوي او اخروي ناکارو پايلونه غفلت کوي. ځکه مخکې مو هم وويل: هر کله چې کوم انسان ديوه شی له پايلو څخه ناخبره وي نو ژر يا وروسته هغه ترسره کوي او د هغه په پايلو اخته کيږي همدا وجه ده چې الله او رســول خلک پوهې او علم زده کولو ته را بللي دي او فرمايي: ( **اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ**). [۱]

ژباړه: ولوله اې پيغمبره د خپل رب په نوم چې هغه پيداکړ، د کلکې شـوې وينې له يوې ټوټې څخه يې انسـان هسـت کړ، ولوله او سـتا رب ډېر مهربانه دی چې هغه د قلم په مرســته علم وښــوده، انســان ته يې علم ورکړ چې هغه پرې نه پوهيده.

**د غوسې آثار او پايلې:**

غوسه او قهر پر ديندارانو او ا سلامي دعوت کوونکو باندې ډېرې خطرناکې پايلې لري چې مهمې يې دادي:

---

۱ - د العلق سورت : ۱-۵

**الف: پر ديندارانو او دعوت کوونکو:**

**۱- جسمي ضرر:**

داچې د قهر او غوسې په وجه وينې په جوش راځي او د زړه د تکان، تونديۍ او په رگونو کې د وينې جريان شدت مومي نو دا کار کله د وينې د فشار سبب او کله د مغز د رگونو د شـــليدلو او بالاخره په ډيرو حالتونو کې ددې باعث کيږي چې قلبي سکته او د انسان د بدن د ځنو غړو د فلج کيدلو لامل وگرځي.

**۲- د دين او پرهيزگارۍ بيوزلي:**

په ډيرو حالتونو کې قهر او غوســه انســـان غيبت کولو، بدو ،ويلو، توهين او ديته هڅوي چې کله د چا په آبرو او ناموس او کله د چا د مال په چور کولو او ځاني تهديد باندې تيرى وکړي او دا ټول د الهي دين او شريعت خلاف دي او د انسان ايمان او تقوى ضعيفوي.

**۳- د نفس په کنترولولو کې ناتواني:**

د قهر او غضب په مهال عقل د تيارې پردې تر شاځاى نيسي او له کار، پند ويلو او لار ښوونې

څخه منع راوړي نو په دغه حالت کې انســـان پر خپل نفس او اراده کنترول له لاســه ورکوي او ناوړه کارونو ته لاس غځوي چې بيا وروســته پښـيماني څه گټه نه

ورکوي. سـليمان عليه السـلام فرمايلي دي: له غوسـې څخه ډير ځان وژغورئ ځکه غوسه د صابر او زغمونکي انسان زړه له حده زيات سپکوي.

يوه ورځ يو نفر خپل زوی ته نصـيحت کاوه ويې ويل اې زامنه! لکه څنګه چې انسان په شعله ور تنورکې ژر خپله روح ورکوي همدارنګه د غوسې په وخت کې هم د انسـان عقل د پاتې کيدو توان نه لري، هر هغه څوک چې غوسـه يې کمه وي عقل يې ډېر وي. غوسـه که چيرې د دنيا له وجې وي نو دا چالاکي او دوکه ده او که د آخرت له وجې وي نو پوهه او حوصـله ده. ويل شـوي غوسـه د عقل دښمنه ده او هغه د يوه غول او ناپوهه سړي په څير پر ځمکه را پرځوي.

**٤- څوک چې په قهر او غوسـه اخته کيږي** هغه په غالبه توکه خپلو کړو وړوته پاملرنه نه کوي او نه پوهيږي چې څه وايي او څه کار تر سره کوي، په همدې وجه په خوارۍ او شرمندګۍ اخته او عذر غوښـتلو ته مجبوريږي او رسـول الله صـلی الله عليه وسـلم موږ د هغه کار له کولو څخه منع کړي يو چې له کولو وروسـته عذر غوښـتې ته موږ مجبور وي، فرمايي: له هر هغه څه چې د معذرت غوښتلو سبب کيږي ځان وژغورئ. ځنو پوهانو ويلي دي: يوې منبع ذکر کړي له غوسې ځان وژغورئ څو په خوارۍ او عذر غوښتلو اخته نشئ.

٥- عصـبی او په قهر اخته وګړي له نورو ډېر په اشـتباه او ګناه اخته کيږي او دا ګنهکاري دده لپاره دنيوي او اخروي درد او عذاب چمتو کوي:

الله تعالی فرمايي: ( وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَـةً ضَـنكًا وَنَحْشُـرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى) .[1]

ژباړه: او څوک چې زما له (ذکر) د نصـيحت له درس نه مخ واړوي د هغه لپاره به په دنيا کې تنګ ژوند وي.

## ب: اسلامي بيداري او اسلامي دعوت:

### ١- د ملګري د جذبولو د بهير بيوزلي:

د انســـان خوی او طبيعت په داســـې توګه دی چې خپل زړه د آرامو، محترمو او پوهانو خلکو په عشـــق او محبت کې ګرو ايږدي او ددوی له هيڅ ډول مرســـتې څخه ځان نه سپموي او د عصبی، توند خويه او احساساتي خلکو نه تيښته کوي او د دوی سره هيڅ ډول ملګرتيا ته نه حاضريږي نو کله چې اســـلامي دعوت کوونکي د ارزښـــتمنو کارونو په وجه او يا د هغومســـائلو له کبله په قهر او غوســـه شي چې په همدوی پورې اړينې وي او پايلو ته يې پاملرنه ونکړي نو په هيڅ ډول خلک دوی ته مخ نه اړوي او نه ددوی سره ملګری ته حاضريږي. په همدې وجه اسلامي بيداري ډير خپل محبان له لاسه ورکوي.

---

١ - د طه سورت : ١٢۴

## ۲- تفرقه او اختلاف:

د قهر او غوسې او بد اخلاقۍ يوه بله پايله د اختلاف او بيلا بيل والي لپاره زمينه چمتو کوي، ځکه غوسه په خپله نښه ده چې کار د اخلاص له ارزښت څخه خالي دی او د الله رضا موخه نده، او هر کار چې دا ډول وي له هغه نه بايد د ښيګڼې او نيکۍ طمع و نه لرو بلکې هغه به ډېرې ناخوالې او اختلافونه را منځ ته کړي.

له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه روايت شوی: د انسانانو له ارواحو څخه دا سې سر جاروونکي د خدمت لپاره چمتو دي چې هر يو، يو او بل سره پيژني او سره يو ځای کيږي او کوم چې يو او بل نه سره پيژني هغوی له يو او بل څخه تښتي.

## ۳- د لارې اوږديدل او دمسئووليتونو ډيريدل:

په کار او ا سلامي عمل باندې د قهر او غوسې وروستنۍ پايله، د لارې اوږدوالی دی او دا يو معلوم شی دی، ځکه د يارانو او دوستانو کمښت او د اختلاف د ناوړه پد يدې پراختيا د ځنو پراوړو د لارې د اوږدوالي او د مسئووليتونو د پاره د ډېروالي سبب کيږي.

## د قهر او غوسې درملنه:

داچې د اسلام له نظره د غوسې د ماهيت په هکله او هغه لاملونه چې غوسه رامنځ ته کوي او د اسلامي دعوت د دعوت کوونکو آثار او پايلې را پيژني نو بايد څه کړنلارې رسم کړو او دا کړنلارې داسې خلاصه کيږي:

۱- پر ديندارانو او د اسلامي دعوت پر دعوت کوونکو باندې د قهر او غوسې دنيوي او اخروي نابودوونکو او تاواني پايلو څيړنه او هغه ته پاملرنه، ځکه هغو پايلو ته توجه او له هغو نه خبرتيا د داخلي انګيزې په رامنځ ته کيدوکې د درملنې او نجات په لوري کې دهلو ځلو او زيار لپاره کولای شي ډير ګټور تمام شي.

۲- د کورنۍ او ټولنې د چاپيريال سلامتيا له دې ناروغۍ څخه په ممکنه کچه او له دې پرته لازمه ده څو د ژوندانه لپاره د ښوونې او روزنې روغ او ټولنيز چاپيريال انتخاب کړو.

۳- د مناقشه کولو د ناروغۍ درملنه او همدارنګه د ادب نه لرې او ناروا شوخيو څخه ځان ژغورنه، ځکه د دې دوه ناروغيو څخه شفا او درملنه د قهر او غوسې د زمينې په کمولو کې ډير ګټور او کار جوړونکی دی.

٤- د نورو عزت، کرامت او شتمنيو په حريم باندې له تيري نه پرهيز او ځان ژغورنه، ځکه د نورو په حقوقو باندې ظلم او تيری ژر يا وروسته د هغوی عکس

العمل راپاروي او د ســتونزو د حل لپاره يو ژر او يوه لاره شــتون لري چې تر ټولو وروستۍ يې شخړه او جنجال دی.

٥- له لويۍ او تکبر څخه ژغورنه او پر نورو باندې ناروا ځان غوره ګڼل او د تفاهم، ســترګو پټونې، مينې او عاجزۍ د رامنځ ته کيدو لپاره هله ځله، ځکه په عشــق، مينې او ورور ګلوۍ سره کولای شــو ډير اختلافونه، نظريې او ســتونزې حل او فصل کړو او له ډيرو ناخوالو ځان وژغورو او د نورو د قهر او غوسې پر اور ګلوونکې ايرې و شيندو.

٦- په ډول ساحو کې د خلکو او د تولنيز نظام د مسئوولينو پاملرنه، د هغو کســانو په هکله چې په يوه ډول له بد اخلاقۍ او غوســې نه خپلو غوښــتنو ته د رســيدو لپاره ګټه اخلي کله د هغوی سره په پند او کله د ناخوښــۍ په څرګندتيا او کله په ويرولو يا بدلې ورکولو او کله د اړيکو په پرې کولو او تحريم باندې چلن کوي، دې مسؤوليتونو ته په پاملرنې سره کولای شي ډير ګټور تمام شي.

٧- هر څوک بايد په خپله مرتبه او مقام کې د احترام مورد وګرځي او د هغه په هکله له توهين او ناخوښو صفتونو څخه ځان وژغورو.

٨- د ملتونو او کورنيو په منځ کې د دښــمنيو او زړو مســايلو د ژوندي کولونه ډډه وکړو.

۹- څوک چې د غوسې او قهر په حالت اخته کيږي، غوره داده چې غسل کولو يا اودس تازه کولو ته مخه کړي، که چيرې ولاړ وي کښېني او که ناست وي د امکان په صورت کې اوږدو غځيږي او لاس د دعا او بخښنې لپاره اوچت کړي، او که په څه دليلونو سره د کيناستو امکان نه ؤ لږ دې قدم واخلي ځکه دا د حالت تغير د غوسې د اور په سړولوکې ډېر ګټور کار دی.

له ابی حرب بن ابی الا سود رضی الله عنه څخه هغه د ابوذر رضی الله عنه څخه نقلوي: رسول الله صلی الله عليه وسلم هغوی ته ويلي وو: هر کله که د ولاړې په حالت په غوسه اخته شوئ کښينئ که آرام نشوی نو اوږد وغځيږئ.

له ابو وائل القاص نه نقلوي: د عروه بن محمد السعدي په حضور کې و، يو نفر څه وويل چې د هغه د غوسې لامل شول، جګ شو ولاړ او اودس يې وکړ او راغی او ويې ويل: له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه نقل شوي:( غوسه د شيطان لمبه ده، ځکه شيطان له اوره پيدا شوی دی او اور د اوبو په وسيله مري، هر کله که په غوسه شوی نو اودس تازه کړئ.). [1]

۱۰- د عصبي انسانانو حالت او کړه وړه د غوسې او قهر په وخت دوی ته ور په ګوته کړئ او ورته و وايئ چې د ليونيانو په څېر شوي وی او ستا سو کړه وړه د

---

۱ - تفسير انوار القران ، ټوک ۱،مخ ۱۰۹ دشاملې مکتبه .

انســان له کړو وړو سره هيڅ مشــابهت نه درلود هغه انســان چې الله په ډېر غوره بڼه سره پيدا کړی دی او پر ډيرو مخلوقاتو يې ده ته غوره والی ببنلی دی.
الله تعالی فرمايي: ( **وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَى كَثِيرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا**).[١]
ژباړه: ( دا خو زمونږ پيرزوينه ده چې) موږ بنيادم ته عزت ورکړ او هغو ته مو په وچه او لمده کې ســپرلۍ ورکړې او هغو ته مو له پاکو شــيانو څخه روزي ور په برخه کړه او پرخپلو زياتو مخلوقاتو مو ښکاره لوړتيا ور وبښله.
١١- د نفســاني غوښــتنو په وړاندې پاملرنه د هغه له ډلې څخه د غوســې او قهرڅخه ځان ژغورل او ځان کنترولول دي او با يد دا يقين ولري چې غيرت، ميړانه او پهلوانی د غوسې په کنترول او زغملو کې ده، په غوسه توب او قهر کې.
رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: کاميابي او اتل والي د زړور توب ښبه نه ده بلکې اتل هغه دی چې په خپله غوسه او قهر بر لاسی شي.
١٢- هغه اجر او بدلې ته فکر او پاملرنه چې د مســلمان په انتظار کې دی الله فرمايي: (**وَسَارِعُواْ إِلَى مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ الَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي السَّرَّاء وَالضَّرَّاء وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ**).[٢]

---

١ - د الاسراء سورت : ٧٠
٢ ـ د ال عمران سورت : ١٣٣ـ١٣٤ آيتونه.

ژباړه: جلتی وکړئ د الله جله جلاله ښښــنې او هغه جنت ته چې پلنوالی یې د اسمانونو او ځمکې په اندازه دی هغو متقیاتو ته تیار شویدی چې د سوکالۍ او سختۍ حالاتو کې خرڅ کوي او غوسه خوري او خلکو ته عفوه کوي ( دا کړنې د نیکیو څخه دي ) او الله جل جلاله نیکان خوښوی.

د الله رسول صلی الله علیه وسلم فرمایي: هیڅ غوړ، د غوسې او قهر د غوړپ په اندازه چې د الله د رضا لپاره وي د اجر او بدلې لرونکی نه دی.

او فرمایي: هر څوک هغه غوســـه او قهر چې په تر سره کولو یې قادر وي خو هغه وزغمي، الله هغه د ټولو خلکو په وړاندې را غواړي او د جنتي حورو د انتخاب واک ورکوي په هره اندازه چې وغواړي هغه ته یې ورکوي.

۱۳- په واقعیت کې د بدلې برق چې د هرچا پرسترګو وځلیږي سختي او کوښښ به ورته آسانه شی.

د قرآنکریم په آیتونو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنتو همیشنی سوچ او مطالعه ضروري ده ځکه قرآن او سنت دلارې د هغه روښنایۍ په څیر دي چې انسان ته لاره روښانوي او د پرهیزګارۍ خوی پکې زیاتوي چې دا تر ټولو غوره د غوسې او قهر نه د ژغورلو وسیله ده.

۱٤- د صابرو او زغمونکو انسانانو د ژوند او کړنلارې نه خبرتیا چې پرخپله غوسه باندې ډېر ســاده غالب شــوي دي لکه احنف بن قیس، عمر بن عبدالعزیز، امام

شـــافعی او ... ځکه دغه خبرتيا ډير کرته د بيلګې نيولو ســـبب له هغوی څخه کيږي.

١٥- د هغه زړه د درملنې لپاره چې دغوسې او قهر په ناروغۍ اخته شوی دعا او د الله د در بار څخه غوښـــتنه ورته چې د غوســـې په ځای د رضـــايت، رحمت او شـــفقت باران پرې و اوريږي. ځکه خالصـــانه دعاوې داســـې دعاوې دي چې له هدف څخه نه خطا کيږي. [١]

---

١ د ( آسيب شناسی ديندارى و دعتوتگرى ) د شيخ محمد نوح تأليف

٢٧

# غیبت او دهغه تهولنیزې پایلې

الحمد لله الذي أمرنا بتقوى و نهانا عن التجسس و الغيبة و الصلاة و السلام على سيدنا محمد و على آله و أصحابه أجمعين.

قال الله تبارک و تعالى فى محکم التنزيل و هو أصدق القائلين أعوذ بالله من الشيطان الرجيم بسم الله الرحمن الرحمن : ( ولا يغتب بعضكم بعضاً أيحب أحدكم أن ياكل لحم أخيه فكرهتموه و اتقوا الله إن الله تواب رحيم ).[1]

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : (كل المسلم على المسلم حرام دمه و ماله و عرضه).[2] عن أبي هريرة رضى الله عنه قال قيل يا رسول الله ما الغيبة قال : ( ذكرک أخاک بما يكره) قال أرأيت إن كان فيه ما أقول قال: إن كان فيه ما تقول فقد اغتبته و إن لم يكن فيه ماتقول فقد بهته.[3]

مکن غیبت کسی را بیان — که روزی شود بر تو غیبت عیان

سعدی شیرازی

---

١ - ی الحجرات سورت : ١٢ آیت .

٢ - صحیح مسلم، حدیث : ٢٥٦۴ ،

٣ - د أبي ناوی سنن, حدیث : ۴٨٧٦ .

يو د ژبې د لويو، خطرناکو او په عين حال کې د خورو انحرافاتو څخه غيبت دی، چې د انسان د ژبې له هلاکوونکو آفتونو او د لويو ګناهونو څخه ګڼل کيږي.

**دغيبت تعريف:**

غيبت د نورو خلکو د ضـــعيفو نقطو او پټو عيبونو يادول دي که چېرې يې واوري خفــه کيږي ، برابره ده دا نقطې پــه اخلاقي، روحي، او ټولنيزو اړخونو پورې اړوندوي يا په بدني اړخونو پورې، يعنې په بدن يا ځيره کې وي او يا په حرکاتو او کړو وړوکې او يا په انســـاني اړيکو کې يعنې تر ښـــځې ، زوی يا جامې ، کور او داسې نورو پورې اړوند وي.

غيب کوونکي عاجز او بې وســـه خلک دي د خلکو په بدن کې دخپل زهرجن نيش په داخلولو سره د نورو د بد نامۍ په نيت د هغواعتبار، آبرو او شـــخصـــيت عيبجنوي ، دغيبت په وجه د خلکو عزت له منځه ځي او د آبرو لويه پانګه يې د چور او چپاول سره مخ کيږي او په رښتيني توګه کله ديوه وګړي د شخصيت ترور د شـــخص له ترور څخه دروند دی او ډير خدا بوونکي آثار ورځنې پاتې کيږي . پرته له شـــکه دې ناروا او ناوړه کارته را دانګل او اقدام کول دخلکو په شـــخصـي‌ـ حريم باندې تيری کول ګڼل کيږي چې په کولو سره يې دښـــمني را زرغونيږي او د يوې کورنۍ او يوې ټولنې د وګړو ترمنځ بد آثار او اغيز را منځ ته کيږي، ټولنيز

پیوند او اړیکې په لړزه راولي او په پایله کې باور له منځه ځي او د مرستې او همکارۍ ستنه رالویږي .

بلې! اختلاف او بیلتون ، فتنه ، شور او غوغا ، غوسه ، جدایي ، کینه ، دښمني او د نورو بدنامول او آبرو تویول ، فساد په دین کې تباهي او په نافرمانۍ او گناه باندې ککړ کیدل ټول د غیبت د خرابوونکو آثارو څخه دي .

که چېرې په ورځنیو مجلسونو او غونډوکې نظر واچوو په روښانه توگه مومو چې څومره غیبت پکې دود او رواج دی.ځنې خلک چې کله د نورو په غیبت پیل کوي، او بیا په دې شرمناک کار د سرپوښ ایښودلو لپاره څرگندوي ، چې زه د فلاني غیبت نه کوم د ده په مخ کې هم دا وایم ، موخه یې دا ده چې هر کله زه دده په مخکې هم داخبره کوم نو دهغه شخص غیبت راته روا دی ، دا په یاد ولرئ چې که تاسو د هغه شخص په مخکې د هغه بدي بیان کړی او یا د ده په نشتون کې دې ناوړه کارته رامنده کړی په هره توگه لویه گناه ده.

البته دا په هغه صورت کې ده چې د غیبت کوونکي خبره او وینا صحت ولري ، اما لکه څنگه چې غیبت کوونکی د خلکو پ سې شاخه وایي ر ښتیا او حقیقت نه وي نو په واقعیت کې په یوه خبره د لویو گناهونو مرتکب شوی دی ، په دې معنا چې هم یې غیبت کړی ، هم یې دروغ ویلي او هم یې تور پورې کړی دی.

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: **قيل يا رسول الله ما الغيبة ، قال: ( ذكرک أخاک بما يكره ) قال أرأيت إن كان فيه ما أقول قال : إن كان فيه ماتقول فقد اغتبته و إن لم يكن فيه ما تقول فقد بهته).**[1] له ابو هريرة رضـــی الله عنه څخه روايت دی وايي له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه پوښتنه وشوه چې غيبت څه شــی دی ؟ دوی وفرمايل : دخپل ورور په هكله داســې يادونه وكوې چې هغه يې نه خوښوي ، وويل شوه كه چېرې هغه څه چې زه يې وايم په ده كې واقعا وي بيا هم غيبت ګڼل كيږي؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: كه چيرې هغه عيب په هغه كې وي نو ته د غيبت مرتكب شــوی يې اوكه نه وي پكې نو بياخو تا تور او بهتانو لګولو چې جرم يې له غيبت څخه دروند دی . نو بنا پردې بايد پاملرنه ولرو چې هيڅكله د نورو غيبت ونكړو او نه د نورو غيبت ته غوږ ونيســـو او په مجلسونو كې كه له چاڅخه غيبت ښكاره كيده بايد د خبرو رخ او مسير بدل كړو او بله موضـــوع پيل كړو او كه دخبرو لوری نه بد ليده بايد هغه مجلس او غونډه پريږدو ، ځكه غيبت كول او غيبت اوريدل دواړه حرام دي

رفيقی كه غايب شد ای نيک نام　　　دوچيز از او به رفيقان حرام
يكی آنكه مالش به باطل خــورند　　　دگر آنكه نامش به زشتی برند

بوستان سعدی

---

١ - سنن أبي داود، حديث : ۴۸۷٦ .

یعنې : ملګری چې غایب شو اې د ښه نوم څښتنه ، دهغه دوه څیزونه په ملګرو حرام دي ، یو دا چې مال یې په باطله و خوړل شي ، بل دا چې نوم یې په بدی یاد شي.

**د غیبت او غیبت کوونکو نښې:**

۱ – د نورو د بدني عیب او کمي نه خبرې کول ، د بیلګې په توګه وویل شي : فلان ړوند ، بدڅیره ، شاکړوپ ، بدخیتې او نور داسې لقبونه چې په بدني عیبونو پورې تړاو لري .

۲ – د وګړو د دیني او اخلاقي بیوزلیو او کمیو په هکله خبرې کول او د هغو لپاره له فاسق ، فاجر ، غل ، خاین ، ظالم او نورو تعبیرونو څخه ګټه اخستل .

۳ – د نورو د ټولنیز ژوندانه له کمیو او نقصانونو څخه خبرې کول لکه چې وایي: ادب نه لري، خلک سبک ګڼي، ډیرې خبرې کوي، ډیر خوب او خوراک کوي، په نامناسبو ځایونو کې ناسته پاسته لري.

۴ –د کورنۍ په هکله عیبونه ویل لکه پلارېې فاسق سړی ؤ ، غوایه یې پوول ، جوالي دی ، مورېې فاحشه ده او ......

۵ – د خلکو د جامو او ظاهري بڼې په اړوند عیب او نقص بیانول لکه خیري یې له ګریوان راوتلي ، خولۍ نه پرسر کوي ، لنګۍ نه پرسر کوي او ........

٦ – په لاره تللو کې د نورو تقليد او پېښــې او دخبرو کړنلاره لکه په لاره کاږه واږه تلل ، په نخرو او وياړ حرکت کول ، گود،گود تلل ، خيټه بيرون را ايســتل او سترگې کږول او دهغو نسبت نوروته کول .
٧ – پرته له دليل او ډاډينې په نورو بدگماني کول ؛ ځکه بدگماني د زړه غيبت دی.
٨ – د غيبت کوونکو خبروته غوږ نيول او هغوی ته پند او نصــيحت نه کول او دهغوی مجلس نه پرېښو دل او.....

**غيبت د کتاب او سنتو په هنداره کې :**

دا چې غيبت له ډېرو سختو گناهونو څخه دی ، ددې په موخه چې د چا سپکتيا او بدي د خلکو په ذهنونو کې ځای په ځای کړي دايې په قرآن کريم کې د خپل ورور د غوښې خوړلو سره تشبيه کړې دي ، الله لاربښوونه کوي : (**وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَّحِيمٌ**). [١]

ژباړه : او له تاسې نه دې څوک د چا غيبت نه کوي ايا په تاسې کې داسې څوک شته چې د خپل مړ ورور غوښې خوړل خوښ کړي ؟ گورئ تاسې په خپله د دې نه کرکه کوئ له الله نه وويرېږئ الله ډېر ښه توبه قبلوونکی او ډېر مهربان دی.

١ - د الحجرات سورت : ١٢ آيت .

د دې تشــبیه لامل روښــانه دی ، ځکه د اســلام له مخې د مســلمان ورور آبرو او عزت د ده دوینې په څیر محترم دی اوهماغه ډول چې د مسلمان ورور د خوښې خوړل حرام او ډیر ټیټ او ناوړه کار دی غیبت هم حرام او ناخوښ عمل دی او د غیبت کوونکي لپاره څه د میړانې کارنه ګڼل کیږي.

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایي : (**کل المسلم علی المسلم حرام دمه و ماله و عرضه**).[1]

ژباړه : د هر مسلمان وینه ، مال او آبرو پر بل مسلمان باندې حرامه ده.

آن کسی که لوای غیبت افراخته است    او از تن مردگان غذا ساخته است

آن کس که به عیب خلق پرداخته است    زآنست که عیب خویشتن نشناخته است

سنایی

ژباړه : چا چې د غیبت بیرغ پورته کړی ، هغه د مړوله بدن څخه خوراک تیار کړی دی ، څوک چې د خلکو عیب بیانوي ، هغه له هغو خلکو څخه دی چې د ځان عیب یې نه دی پیژندلی.

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی وایي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : (**لما عرج بي مررت بقوم لهم أظفار من نحاس یخمشون وجوههم و صدورهم فقلت من هؤلاء یا جبریل قال هؤلاء الذین یأکلون لحوم الناس ویقعون في أعراضهم** ).[2]

---

۱ - صحیح مسلم ، حدیث : ۲۵٦۴ .

۲ - سنن أبی داود ، حدیث : ۴۸۸۰ .

ژباړه : كله چې د معراج په سـفر ولاړم په داســی خلكو مې تيريدنه وشـوه چې د مســو په نوكانو يې خپل پوســتكي، غوښــې، مخونه اوســينې په ســختۍ سره راتوړلې، له جبرئيل عليه الســـلام څخه مې پوښـــتنه وكړه چې دا څوک دي ؟ جبريل عليه السلام وويل : د اهغه كسان دی چې په دنيا كې يې د خلكو غوښې خوړلې (د الله د بندګانو يې غيبت كاوه ) او د خلكو په عزت او آبرويې لوبې كولې.

مکن غيبت هيچ کس را بيان          که روزی شود برتو غيبت عيان

(بوستان سعدی)

د هيچا غيبت مه بيانوه يوه ورځ به ستا غيبت هم څرګند شي.

له جابر بن عبدالله او ابي سـعيد الخدري رضي الله عنهما څخه روايت دی دواړه وايي : (**رسـول الله عليه وسـلم و فرمايل : إياكم و الغيبة فإن الغيبة أشـد من الزنا قيل يا رسول الله وكيف الغيبة أشد من الزنا قال الرجل يزني فيتوب، فيتوب الله عليه و إن صاحب الغيبة لايغفر له حتى يغفرله صاحبه**).[1]

ژباړه : د غيبت ګناه او جرم له زنا څخه هم ډير سخت دی ! پوښتنه وشوه اې د الله رسـوله څرنګه غيبت له زنا څخه سـخت دی ؟ پيغمبر صـلی الله عليه وسـلم وفرمايل : زنا كوونكی ډير كرته له خپل ناوړه كارڅخه پښــيمانه او شرمنده كيږي

١ - المجالسة وجواهر العلم لابي بكر احمد بن مروان الدينوري المالكي، حديث: ٣٠٤١ .

او توبه کوي، او الله يې توبه قبلوي . اما هغه څوک چې د خلکو غيبت کوي هغه ته هيڅکله بخښــنه نه کيږي مگر دا چې له غيبت شــوي نه بخښــنه وغواړي : د يادولو وړ ده چې ددی روايت بيانول د زنا دناوړه او بدعمل په انجامولو د جواز دليل نه دی ، څوک گمان ونکړي چې د ددې دوه عملونو په مقايســې سره د زنا ناوړه او پليت کارچې د انســان ، کورنۍ او ټولنې د فســاد او نابودۍ لامل گرځي وړه گناه وگڼي، نه بلکې د زنا چټل کار د هغو لويو گناهونو څخه دی چې الله په قرآن کريم کې د هغه له وجې د دورخ د اور ژمنه کړيده ، اما د دې دواړو مقايسه د دې لپاره ده چې زنا کار هميشه ځان ملامتوي او سرزښت ورکوي، د وجدان له عذاب سره مخ دی او له توبې څخه به پرواهي نه کوي ، اماغيبت کوونکی ځان پاک گڼي او خپل غيبت گناه گڼي په پايله کې توبې ته اړتيا نهويني ، او بل دا چې زنا د الله له حقوقو څخه ده ښايي د رښتنيې توبې په وجه يوه ورځ الله د ده له گناه څخه تيرشي. اما غيبت د الله په نافرمانۍ برســيره د بندگانو د حقوقو پايمالول دي چې د دوی له عفوې او تيريدنې پرته نه معاف کيږي .

حضرــت امداد الله مهاجر مکي رحمة الله عليه په دې هکله يو جالب بيان لري فرمايي : د زنا په پرتله د غيبت جرم دســختۍ لامل دادی چې د غيبت گناه د مرتبې او مقام له محبت څخه سرچينه اخلي او د زنا گناه د باه شـــهوت له مينې او محبت څخه رامنځه ته کيږي ، نو د زنا له ارتکاب څخه پښــيماني څرگنده ده

چې ولې یې په داسې ناوړه او شرمناک عمل لاس پورې کړی اما د غیبت نه وروسته له دې پښیمانۍ څخه هیڅ خبره نشته .

له عبدالله ابن مسعودرضي الله عنه څخه روایت دی وایي:

**(كناجلوسا عند النبي صلى الله عليه وسلم فقام رجل، فوقع فيه رجل من بعده فقال رسول الله : تخلل فقال : ممن أتخلل يا رسول الله ؟ ما أكلت لحما أفأتخلل، قال : بلى من لحم أخيک أكلت أنفا).** [1]

ژباړه :د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حضور کې ناست وو یو سړی دمجلس له منځه ولاړ شو او بیرون ته ولاړ او یو بل د ده له تللو وروسته د هغه غیبت پیل کړ ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل ، خپل غاښونه دې خلال کړه ( دهغو له منځه غوښه را وباسه! ) سړي په تعجب پوښتنه وکړه له څه شي څخه مې غاښونه پاک کړم ماخو غوښه نده خوړلې، پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل : بلې تا همدا اوس د خپل ورور غوښه وخوړه .

## غیبت یوازې په ژبه پورې محدود نه دی :

باید پاملرنه ولرو چې غیبت په ژبې سره په دې وجه حرام شوی چې د خپل دیني ورور عیب دې نوروته وایې او هغه په داسې صفتونو او خویونو یادوې چې د هغه د آزار او ضرر لامل کیږي ، نو که چیرې هغه ته په کنایې او اشارې سره آزار

---

١ - صحیح الترغیب والترهیب, حدیث : ٢٨٣٧, غایة المرام, حدیث: ٤٢٨

ورکړي هغه داسـې دی لکه په صريح خبرې . دلاس ، سـترګې، قلم او حرکت په اشـــارې سره چا ته ازار او رنځ ورکول د غيبت جزء ګڼل کيږي او حرا مه ده همدارنګه د چا د خبرې يا دلارې تګ تقليد کول د ټوکې او ملنډو وهلو په موخه دهغه غيبت دی او دغيبت له سختو ډولونو څخه دی ځکه د همغه طرف عيب او نقص انځوروي .

له بی بی عائشـــی رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي : (**قلت للنبي صـــلى الله عليه وسـلم حسـبک من صـفية کذا وكذا و قال غير مسـدد تعني قصـيرة فقال : لقد قلت كلمة لو مزجت بماء البحر لمزجنة : قالت و حكيت له إنســـان فقال ما أحب إني حكيت إنسانا و إن لي كذا وكذا**).[1]

يوه ورځ مې پيغمبر صـــلی الله عليه وســـلم ته د صـــفيې چې د يوه مؤمنانو له مورګانو څخه ده په هکله وويل دا اندازه او دا اندازه درته کافي ده د دې د لنډ قد څخه کنايه ده- رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل :دا سې خبره دې وکړه که چېرې د درياب له اوبو سره ګډه شـوې وای هغه به يې چټلې کړې وای! حضرت عائشه رضی الله عنهما زياتوي يوه ورځ مې د چا پيښې وکړې رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل : زه په هيڅ ډول نه خوښوم چې د چاپيښې وکړم ولو که هرڅومره دنيا ځوک راکړي .

---

١ - سنن أبي داود،حديث: ٤٨٧٧

غيبت د ليکلو په وسيله هم حرام دی ځکه قلم دوهمه ژبه ده ، همدارنګه د نورو غيبت ته دتعجب په حالت غوږ نيول هم دغيبت جزء دی ځکه د غيبت نه تعجب څرګنديدل د غيبت کوونکي د تشـويق لامل ګرځي او هغه پکې لا ډير ننوځي، مثلا داکړنلاره چې هغه ته وويل شوه : عجب! زه نه پوهيدم چې هغه دا ډول دی ما تراوسه هغه ښه سړی ګڼلو ما ګمان کاوه هغه بل ډو ل دی .

الله دې ما د هغه له بلانه وساتي ، د دا ډول جملو ويل په بشـپړه توګه د غيبت کوونکي تصـديق ګڼل کيږي او باوري خبره ده چې د غيبت تصـديق په خپله غيبت دی او دهغه په وړاندې چوپتيا د غيبت په ګناه کې برخه اخستل دي.[١]

**د روژې په مهال د دوو ښځو د غيبت پيښه :**

انس رضي الله عنه وايي : يوه ورځ رسول الله صلى الله عليه و سلم امر وکړ چې روژه ونيسئ او تر هغه وخته چې رسول الله صلى الله عليه وسلم اجازه نه وي کړې ماته يې نکړئ . هغه ورځ ټولو مسـلمانانو روژه ونيوله تردې چې د لمر په ډوبيدلو د روژې ماتولو وخت راورسيده ، خلک يويو رسـول الله صـلى الله عليه وسلم ته راتلل او دافطار اجازه يې اخستله ، او رسول الله صلى الله عليه وسلم اجازه ورکوله . په دې ترځ کې يو سړی رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی او عرض يې وکړ : اې د الله رسوله ، زما د کورنۍ څخه دوو ځوانو ښځو روژه نيولې

---

١ - احياء علوم الدين، ج ٢ ص ٧٢.

ده خو شرميږي چې ستا خدمت ته راشي او د روژې ماتولو اجازه واخلي ايا اجازه ورکوې څو خپله روژه ماته کړي ؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم له هغه سړی څخه مخ وگرځاوه او ځواب يې ورنکر ، هغه سـړي خپله خبره تکرار کړه ، داځل پيغمبر صلى الله عليه و سلم دده په ځواب کې وفرمايل: ( ما صامتا و کيف صام من ظل هذا اليوم يأكل لحوم الناس، اذهب فمرهما إن كانتا صـائمتين ان تستقيا).[1]

يعنى هغه دوه ښـځې روژه نيوونکې نه وې څرنگه هغه چاته روژه نيوونکې ويلای شـو چې هغه خپله روژه د خلکو په غوښـوتېره کړې وي ؟ اوس دوی ته ورشـه او ورته ووايه که يې روژه نيولې وي استفراق دې وکړي).

هغه سړی کورته راسـتون شـو او کيسـه يې ورته وکړه او هغوی هم اسـتفراق وکړ چې نا څاپه د هرې يوې له خولې څخه د وينو ټوټې راووتې : سـړی د حيرانتيا په حالت کې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی او پيښه يې ورته بيان کړه .هغه صـلى الله عليه وسـلم د خبرو اورېدونه وروسـته وفرمايل : ( **لو ماتتا و هما فيهما لأكلتهما النار**).[2]

يعنى که چېرې هغه دواړه مړې شـوې وای او هغه د وينو ټوټې د دوی په خېټه کې پاتې وای پرته له شکه د دوزخ اور کې به لويدلې وای.

---

١ - شعب الايمان, حديث: ٦٢٩٦.

٢ - شعب الايمان, حديث: ٢٢٩٦.

**غيبت كوونكي ته د حسن بصري رحمة الله عليه ډالۍ :**

حسـن بصرـی رحمة الله علیه ته خبر ورکړ شـو چې فلاني سـتا غیبت کړی دی هغه یو تشت کاسـه خرماوې وروليږلې او خبريې ورکړ چې ماته خبر را رسـیدلی چی تا خپلې نیکۍ ماته ډالۍ راليږلې دي ، ومې غوښتل هغه جبیره کړم او هیله ده زما عذر ومنې او ما و بخښـې ځکه و می نه شـوکولای شـو چې په بشـپړ توګه ستا ډالۍ او محبت جبیره کړ م.[1]

**د جنيد بغدادي رحمة پيښه :**

جنید رحمه الله وایي : یوه ورځ د شـــونیزیه جومات کې د یوې جنازې په انتظار نا ست وم او د بغداد خلک ټول د دې جنازې لپاره منتظر وو څو په هغه د جنازې لمونځ وکړو ، یو فقیر چی د عبادت نښـــې پرې ځرګندې وې له خلکو څخه څه غوښــتل ، له ځان سره مې وویل که چیرې دې فقیر څه کارکولی څو ځان یې له سوال کولو ساتلی وای غوره به وه ، کله چې له جنازې را ستون شوم د شپی په اورادو مشغول وم چې خوب راباندې غلبه وکړه او په نا سته خوب را باندې راغی، هغه فقیر مې په خوب ولیده چې هغه یې ماته راووســـت او پر دســـترخوان یې پریښــود او ویې ویل د ده له غوښــو خوره ځکه تا دده غیبت وکړ. ځواب مې ورکړ چې مادده غیبت نه دی کړی یوازې مې د ځان سره څه وویل ، راته ویې ویل ،

---

١ - الرسالة القشيرية: ٢٣٦.

ته د هغو کسانو له ډلې څخه یې چې لایقه نده داسې تصور د نورو په حق کې وکړې. دده نه ښښنه وغواړه ، سهار مې ډېر و پلټلو وروسته مې د یوې ویالې په غاړه وموند چې په ویاله کې چا سبزي مینځلې وه ، ده د هغو سبزیو پاڼې له اوبوڅخه راټولولې، پرهغه مې سلام وکړ ویې ویل: لاتر اوسه هماغه مخکینی تصور دې په ذهن کې شتون لري؟ ځواب مې ورکړنه ، ویې ویل : ( غفرالله لنا ولک ) یعنې الله دې موږ او تاته بخښنه وکړي.[1]

**د خلکو په غیبت له مشغولیا نه ویده کیدل غوره دي:**

شیخ سعدي رحمه الله په ګلستان کې لیکي : په یاد مې دي چې د ماشومتوب په ورځوکې یوه شپه د خپل پلار په خدمت کې ناست وم او ټوله شپه مې سترګې پټې نکړې او قرآن مې په غیږ کې نیولی ؤ او شاوخوا خلک ټول ویده وو، پلارته مې وویل له دې خلکو یو سرنه جګوي چې دوه رکعته لمونځ وکړي ، داسې د غفلت په خوب ویده دي چې ګوا کي ویده نه بلکې مړه دي . پلار مې وویل: اې د پلار روحه که ته هم ویده شې دا غوره ده له دینه چې د خلکو په پوستین کې غیبت کې ننوځې.[2]

---

۱ - القشیریة مع التسهیل،۲۳۷.

۲ - ( رسایل کلیات سعدي ) دریم باب درویشانو په اخلاقوکی، ص ۵۷.

**د ابراهيم ادهم وينا :**

ابراهيم ادهم رحمه الله يوې ميلمستيا ته وغوښتل شو ، کله چې کيناست ، خلکو په غيبت لاس پورې کړ : ده وويل : زموږ په دود او رواج خلک غوښه له ډوډۍ نه وروسته خوري او تاسو لومړی غوښه خورئ.[1]

**د غيبت تر ټولو غوره انګيزې :**

ډېر لاملونه او انګيزې د غيبت د پيدا کيدو سبب کيږي چې غوره يې دادي :

١ - **کينه کول او غچ اخستل :** ځکه د کينې او غچ اخستلو د شغلو وژلو لپاره چې د ځنو خلکو په سينه کې سر راپورته کوي ، نو د مورد نظر شخص د آبرو او عزت د ضايع کولو لپاره تر غيبت آسانه لازه بله نه پيداکيږي .

٢ - **حسد:** کله انسان د هغه کسانو په پرتله چې د خلکو د مينې او محبت او ډاډينې مورد دي حسد کوي ، هرکله چې حسد کوونکی د تل لپاره د محسود د نعمت زوال غواړي ، نو کله چې حپل هدف او موخې ته لاسرسی نه پيدا کوی دهغه د جبران لپاره هلې ځلې کوي څو محسود د غيبت او دهغه د ضعيفو نقطو په ياد ولوسره د هغه آبرو او اعتبار کم کړي او دخپل حسد اورته له دې لازې داډينه وبخښي .

١ - د قشيری رساله.، ص ١٧٩

**۳ - د کومې گناه چې مرتکب شوی د هغې نه د پاکۍ لپاره هله ځله**: يعنې د نورو د عيبونو يادولو له لارې غواړي خپلو کړو وړو ته ساده يا په څه دليل ځلا وبخښي.

**۴ - غوسه او قهر**: کله غوسه او قهر د نورو د غيبت او بد ويلو لامل کيږي ، ځکه هر کله چې انسان ديوه شي خند نشي نو د خپلې آرامۍ لپاره ژبه په بدو وينا وو پرانيزي.

**۵ - لويي او ځان خوښول:** کله انسان دومره په خپل ځان غره کيږي چې ځان له نورو څخه غوره گڼي او خوښوي چې خلک هغه له هر نظره تر نورو لوړ او غوره وپيژني او ددې کار د ثبوت لپاره د نورو عيب ويلو او سپکتيا ته اقدام کوي .

**٦ - د نورو له خوا د توهين احساس**: په ځنو وختونوکې يو تن احساس کوي چې د نورو له خوا د توهين مورد گرځي او د ده په هکله عيب پلټنه کيږي ، په پايله کې ددې گمان پربنسټ غواړي مسابقه وکړي او دهغه په هکله لومړی دی بده وينا او غيبت پيل کړي.

**۷ - تفريح او ساعت تيري**: ډيری داسې کسان شتون لري چې له يادوشوو لاملونو او انگيزوڅخه يوه هم نه لري ، يوازې د تفريح او ساعت تيری يا دمجلسونو د گرم کولو لپاره د نورو د ضعيفی او عيبونو نقطې يادوي ، ځکه د خلکو په نظر

کې تر ټولو کمه گناه دغيبت په شرينۍ سره ده حال دا چې له دې نه غافل دی چې د غيبت ناوړه عمل په حقيقت کې د مړوکسانو د غوښې خوراک دی .

٨ - **د بدويلو پايلې ته نه پاملرنه**: کله هغو پايلوته نه پاملرنه چې د غيبت نه رامنځ ته کيږي ، د دی سـبب کيږي چې په غيبت اخته شي ، ځکه که چيری انسان د يوه کار په هکله د هغه بدو او ناوړه پايلو ته پاملرنه ونه کړي نو دهغه کار د تر سره کولو جرئت ځان ته ورکوي او په ډيرو وختونو کې به د ځان خلاصـولو توان له لا سه ورکړي .

**دغيبت نښې او پايلې :**

غيبت او بده وينا څه نښې او بربادوونکې پايلې لري چې ځنوته يې اشاره کيږي:

١ - **د زړه سـختوالی**: غيبت کوونکی او بدويونکی د الله د ياد نه پرته ډيرې خبرې کوي او کاريې هميشه د خلکو په آبرو او عزت تيری وي ، هره ورځ د غيبت د گناه په تر سره کولو چې په نظر کې غوره نه بريښـي خپل زړه د نافرمانۍ او گناه په گرداب کې ډوبوي او د ښـېگڼې او نيکۍ په هکله څه توفيق نه مومې او که چېرې په ظاهره څه توفيق يې په برخه شي زړه يې هماغسې د سختۍ د ديو بندي وي .

۲ – **د الله د غوسې مورد گرځي**: بدیونکی او غیبت کوونکی په دې خپل ناوړه عمل د الله حریم او قانون ماتوي او د الله فرمان نالیدلی گڼي او په نتیجه کې د الله غوسې ته ځان سپاري او در دوونکی عذاب یې په انتظار کې دی.

۳ – **څوک چې د نورو په هکله بده وینا خپل کسب گرځوي**: په واقعیت کې یې، د ښیگڼو او نیکیو درمن ته اور اچول شوی او په تدریجي توگه د بدیو په گرداب کې ننوځي او بالاخره د دوزخ عذاب سره مخ او دآخرت د مفلسانو په ډله کې چې نیک کړه وړه یې نوروته ورکول کیږي ، ځای نیسي.

۴ – **غیبت کوونکی وگړی د خپلو مسؤولیتونو په ترسره کولو کې ناوسی دی**: ځکه هغه خپل ټول توان او وس د خلکو د غوښو په خوړلو او دخلکو د آبرو او عزت په داغ لگولو بابیزه له لاسه ورکړی او په نتیجه کې د دیني دندو او تکالیفو د انجامولو لپاره نور توان پکې نه دی پاتې.

۵ – **ویره او ډارهم دغیبت** له عوارضو څخه گڼل کیږي ځکه که چیرې بدویونکي او عیب لگوونکي جرأت او میړانه درلودی نو د خلکو عیب یې مخامخ ورته ویلو او په حکمت او ښه نصیحت یې دوی ته پند او درس ورکاوه.

**دغیبت نه د خلاصون لار :**

علامه تهانوي رحمه الله وایي : د غیبت نه د ژغورلو او خلاصون یوازنۍ لار داده چې موږ پرته له اړتیا په خپلو مجلسونو کې د نورو له یادولو ډډه وکړو ، نه یې

ښېګڼې یادې کړو او نه یې بدۍ ، ځکه د انسان قسم خوړونکی او مکار د ښمن (شیطان) د تل لپاره په سنګر کې دی ، کله چې موږ د یو چا ښېګڼې او نیکۍ یادوو زموږ ذهن ته دا سې رسیږي چې دا غیبت نه دی ځکه موږ یې نیکۍ یادوو اما په عین حال کې چې موږ د خلکو له ښېګڼو خبره کوو ، شیطان د خبرو په منځ کې داسې جمله را اچوي چې د خبرو لوري ته تغیر ورکوي او انسان ګمراهۍ ته سوق کوي ، دبېلګې په توګه فلانی ښه سړی دی خود"مګر" په لفظ سره هرڅه بدلیږي او په نتیجه کې زموږ خبرې او مجلس په غیبت بدلیږي، نو ځکه اشرف علی تهانوی رحمه الله نصیحت کوي چې پرته له اړتیا په خپلو مجلسونو کې د نورو نومونه یاد نکړو څو د شیطان حیلې او چلونه د غیبت لپاره بستره چمتو نکړي.

**د غیبت نه منع کوونکي لاملونه:**

با ید د امکان تر کچې پورې د غیبت د بیمارۍ پایلو ته په پاملرنې سره ز یار وایستل شي څو انسان په غیبت ککړ نشي او که د غفلت په وجه پرې اخته شو نو باید د درملنې او علاج لارېې وپیژندل شي او دځان جوړونې او د دې بیمارۍ په بدو پایلو کې په سوچ کولو سره د توبې مقام خپل کړو ، لاندې د دې ناروغۍ د درملنې ځنولارو ته اشاره کیږي:

**۱ - په ځان کې د الهی تقوي د پياوړتيا روحيه :**

په باوري توګه کوم کســان چې د الله نه ويريږي د هغه اوامرو ته درناوی کوي او د الهی موانعونه ځان ژغوري او دده فرمان دی چې ( **ولايغتب بعضكم بعضاً** ). [۱]يو دبل غيبت مه کوئ.

جالبه خبره داده چې د غيبت د تحريم په آيت کې دهغه دوا ته هم اشـاره شـوې ده، الله تعالی فرمايي : (**واتقوا الله إن الله تواب رحيم** ). [۲]

يعنی د الله نه وويريږئ يقينا الله توبه قبلوونکی او رحيم ذات دی.

**۲- په خپلو عيبونو کې سوچ او فکر :**

ځکه موږ هميشه د نوروبدی وينو او ځان ته پاملرنه نه کوو ، نو بايد خپل عيبونه حاضر کړو ځکه کله چې موږ خپل عيبونه تر نظر لاندې ونيســو نو دا فرصــت او وخت نه راته پاتې کيږي چې د نورو په عيبونو کې غور او دقت وکړو.

همه حمال عيب خويشتنيم طعنه برعيب ديگران چه زنيم

يعنې : موږ ټول د خپل عيب باروونکي يو ، د نور و په عيبونو څه ملامتيا ووايو.

کيف تری فی عين صاحبک القذی ويخفی قذی عينک وهو عظيم[۳]

فان عبت قوما بالذي فيک مثله فکيف يعيب الناس من هو أعور

۱ - د الحجرات سورت: ۱۲آيت.

۲ - د الحجرات سورت: ۱۲ آيت.

۳ - عبوب الأخبار، ۱۹۸۳.

و ان عبت قوما بالذي ليس فيهم فذلک عند الله و الناس أکبر[1]

ژباړه : څنګه دخپل ملګري په سترګه کې خس وينې او ستا د سترګې عيب پټوي د اخو ډېر لوی کاردی.

که چېرې په يو قوم ، داسې عيب لګوې چې په تا کې هم موجود وي ، نو څنګه د خلکو عيب وايې هغه ځوک چې د ده سترګه کړه وي.

که چېرې په کوم قوم داسې عيب لګوې چې په دوی کې نه وي نو دا خو د الله او خلکو په وړاندې ډېر لوی کار دی .

**۳ - دبدو ملګرو سره ناسته پاسته نه کول:**

ځکه د هغوی سره ناسته پاسته د نورو د غيبت بستره چمتو کوي.

**۴ – د غيبت د ګناه د عذاب حاضر ګڼل :**

زموږ ټولې خبرې ثبتيږي او د هغوی په اړه تر پوښتنې لاندې راځو لکه چې الله فرمايي : ( **و مايلفظ من قول إلا لديه رقيب عتيد** ).[2]

ژباړه : هيڅ داسې لفظ دهغه له خولې نه راوځي چې د هغه د محفوظ ساتلو لپاره يو حاضر باش څارونکی ورسره موجود نه وي.

**۵ - د خبرو کولونه مخکې سوچ او فکر.**

**٦ – د غيبت کولو نه وروسته عفوه غوښتل :**

---

۱ - منهاج القاصدين، ۱۷۱.

۲ - د ق سورت : ۱۸ أيت .

له انس رضي الله عنه څخه روايت دی وايي : قال رسـول الله صـلى الله عليه وسلم: ( **إن من كفارة الغيبة أن تستغفرلمن اغتبته تقول أللهم إغفرلنا وله**).[١]
ژباړه : رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : يوه د غيبت له کفاروڅخه داده چې د هغه چالپاره چې د هغه غيبت شوی دی د الله نه بښنه وغواړي او ووايي: الهی زمونږ او دده ګناه وبښه.

**٧ – د عيب ويونکو او غيبت کوونکو په اړوند د مسؤوليت احساس:**

په داسې توګه چې د هغو خبروته غوږ ونه نيسي- او د هر ډول وسيلو او کړنلارو څخه په استفادې سره د هغو سره مقابله وکړي ، تر ټولو څرګنده داده چې ووايي د خلکو غيبت او عيب پلټنه مه کوئ. يوه ورځ يوتن د امداد الله مهاجر مکي رحمه الله حضورته راغی او ويې ويل : فلاني تاته داسې ويلي دي ، هغه پرته له ځنډه وويل هغه.[٢]

**٨ – د تغذي يا عبادي جريمې تعين:** علامه تهانوي رحمة الله عليه وايي: د غيبت د درملنې يوه اغيزنا که لاره د جريمې ټاکل دي، دبيلګې په توګه هوډ ونيسي که د چار دغيبت مرتکب شوم ، نو دوه رکعته نفل به اداء کوم يا به د الله په لار کې څه صـدقه ورکوم نو راشـی چې غوځ او ثابت هوډونيسـو چې غيبت پريږدو او د نن او سـبا ژمنه له منځه يوسـو اوله همدې ورځې څخه د خپل ځان درملنه پيل کړو . کومې دقيقې او شـيبې چې د نورو په عيب پلټلوکې تيروو هغه که د خپلو عيبونو په فکرکې تيرې کړو په لس ګونو فايدې به زمونږ په برخه شي

١ - جامع الاحاديث, حديث: ٨٥٤٨ .
٢ - نسايي النفس, ١٨ .

چې تر ټولو وړه ځان پیژندنه ده د دوه رکعتونو د حاجت لمانځه په اداء کولو او د واحد الله دربارته په دعا کولو سره له هغه ذات څخه وغواړو چې موږ ته له دې گناه څخه نجات او خلاصون راکړي.[1]

پاک کن از غیبت مردم دهان خویش را    ای که از مسواک هردم می کنی دندان سفید

صائب تبریزی

1 دتکامل اخلاقی د محمد رضا رخشانی تألیف

۲۸

# ژبه او دهغې د آفتونو څخه مخنيوی

الحمد لله الذي من علينا بنعمة الإسلام وعلمنا البيان و أمرنا بحفظ اللسان من الآ فات و الصلاة و السلام على سيدنا محمد الذي بعثه الله عزوجل ليتم مكارم الآخلاق و على آله و صحبه و كل من اهتدي بهديه و صار على نهجه إلى يوم الدين أما بعد:

قال الله تبارک و تعالى فی محكم التنزيل و هو أصدق القائلين أعوذ بالله من الشيطان الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم: (يَوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ أَلْسِنَتُهُمْ وَأَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ). [1] وايضاً قال الله تعالى: (مَا يَلْفِظُ مِن قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ).[2]

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ( أمسک عليک لسانک و ليسعک بيتک و ابک على خطيئتک).[3]

ايزد که همی کرد مرکب تن و جان — درهر عضوی مصلحتی کرد نهان
گر مفسده ای نديده بودي به زبان — محبوس نکرديش به زندان دهان

( مسعود سعد سلمان)

---

۱ - د النور سورت: ۲٤ أيت.

۲ - د ق سورت: ۱۸ أيت.

۳ - سنن الترمذي،حديث: ۲٤۰٦ .

ژباړه : الله چې تن او روح سره مرکب کړل ، نو په هر غړي کې یې یو مصـــلحت پټ کړ. د الله دلویو بخششـونو او ډالیو څخه یوه ډالۍ ژبه ده ، الله د دې لپاره چې د انسانانو او د هغوی د داخلي احسا ساتو د څرګندولو تر منځ دا سې فعاله او پر مختللې دســتګاه د دوی په واک کې ایښـــې ده چې هر کله وغواړي په فعالیت پیل کوي ، اما دا چې خلکو د دې دسـتګاه د چمتو کولو لپاره پانګه نده ذخیره کړې او هغه یې له زیار او هلوځلو پرته لاس ته راوړې ده ، نو په ډیر ارزښت ورته قایل نه دي ، که چېرې د دې خدای راکړې نعمت د ارزښـــت په درک کولو سره راووځو باید له هغو کســانو څخه پوښـــتنه وکړو چې له هغه نه محروم دي ، هغه کســـان چې غواړي خبره وکړي خو وس نه لري ، په زړه کې یې زرګونه احســاســات را منځ ته کیږي ، اما د هغو له څرګندولو عاجز او ســتړی دي. په ربښـتینې توګه که چېرې زموږ ویونکې ژبه بنده شي څه پېښــه به را منځ ته شي؟ بلې! ژبه انسان د زړه ژباړونکې او دعقل استازې او د نفس د تهذیب کلي ده شاه ولی الله محدث دهلوي رحمه الله ، (**حجة الله البالغة**) کتاب کې لیکلي دي :

**(اللســان ترجمان القلب و مقدمته و لا یتحقق تهذیب القلب حتی یواخذ بحفظ اللســان )**

یعنی ژبه د زړه ژباړونکې او د هغه مقدمه ده او ترڅو چې د ژبې ساتنې ته ارزښت ورنکړشي د زړه تهذیب به حاصل نشي.

هغه څه چې د بشر دروح په صفحه نقش رسموي ، برابره ده فکري ، عاطفي او احساساتي پديدې له هر څه مخکې د ژبې پر صفحه د وګرو د خبرو په ترڅ کې روښـــنايي مومي . که چېرې په تيرو وختونو کې طبيبانو د مزاج د اعتدال او انحراف له مهمو برخو څخه د ژبې د څرنګوالي نه تشخيص کولای ، نن ورځ به د روح کاروان ډېرې روانی مسـلې د وګړو دويناوو په ترڅ کې پلټلې. الله جل جلاله د ژبې او مغز تر منځ څه دقيقې او پيوســـته اړيکې ځای په ځای کړې دي ، هر کله چې مغز وغواړي چې يوه کلمه له ژبې راوباسي پرته له فاصـــلې کولای شي هغه کلمه په ژبې سره تلفظ کړي .

د نعمت د لويئ لايق ، دهغه حق او شـکر هم ډير لوی او واجب دی او ناشـکري يی بده ده ، نښـايي دغه د الله انحصـاري ملک او الهي امانت د بدې اسـتفادې مورد وګرځي.

**ژبه د شلو ګناهونو سرچينه :**

د ژبې د اصــلاح ارزښــت هغه وخت ښــه روښــانه کيږي چې و پوهيږو د ګناهونو مهمې برخې لکه د نيکو اعمالو مهمې برخې د ژبې په وسيله ترسره کيږي .

امام غزالی رحمه الله په "احياء علوم الدين" کې د ( ژبې ګناهونه ) تر عنوان لاندې مفصل بيان کړی دی د هغه ډلې يې شل ډوله د ژبې انحراف او ګناه نقل کړي دي چې څنې يې دادي :

۱ – په هغه چاروکې خبرې چې په انسان پورې اړه نه لري .

۲ – ډېرې او بې ګټې خبرې کول.

۳ - په باطلو چاروکې خبرې لکه د شرابو ، قمار او نا کاره ښـــځو د مجلســـونو ستاینه.

۴ – شخړې او جنګونه.

۵ – په خبرو کې دښمني او لجاجت.

٦ – بده ژبه خوځول او کنځلې.

۷ – لعنت ویل .

۸ – ناخوښه او بیکاره ترانې او اشعارویل.

۹ – ملنډې او مسخرې.

۱۰ – دنورو اسرار پاشول.

۱۱ – د دروغو ژمنه.

۱۲ – غیبت.

۱۳ – خبرې ټولول.

۱۴ – په خبروکې دوه ژبي او منافقت.

۱۵ – تور او تهمت.

۱٦ – باطل او د دروغو شهادت.

۱۷ – په خبرو سره نوروته آزاروركول.

۱۸ – د نعمت ناشكري.

۱۹ – ځان ستاینه .

۲۰- دالله تعالی د صــفتونو په هكله د یوې ډلې خلكو خبرې اترې چې قدیم دی یا حادث او نور ددې په شان.

شک نشته چې د ژبې د اصلاح مسئله باید د اخلاقي مسئلو د مهمو او بنسټیزو مسئلو په عنوان تر مطالعې لاندې ونیول شي .

دا ټول آفتونه د انسان د ژبې له شلیدلې قیزې د كورنۍ سوځوونكي اورڅخه دي ، هماغه وړوكی بدن چې پرته له مقدمې پرته له اسـبابو او ضروري لوازمو د خلكو په منځ كې په لار ځي او داسې زخم منځ ته راوړي چې ژر د جوړیدو نه دی.

| | |
|---|---|
| جــراحات السنـــان لها الالتیام | ولایلتـــام ماجـــرح اللســـــان |
| د نیزو زخمونو لره جوړوالی شته | او د ژبې زخم ته جوړ والی نشته |
| پرهار د نیزې ښه ده چې به جوړ شی په دارو | ولې بد پرهار د ژبې دی چې نه لري دارو |
| جــرح های نیزه به گــردد به دارو | ولی جرح زبان را نیست دارو |
| د نیزو زخمونه به په دوا جوړ شي | خو د ژبــې رخم ته دوا نشتــه. |

هر یو له غړو ، مقدماتو او لوازمو ته اړتیا لري څو انحراف ته وكشول شي او د گناه مرتكب شي اما یوازې ژبه ده چې پرته له مقدماتو په آرامۍ سره د غلطۍ او گناه لازه هموارويي .

ابو حامدغزالی رحمه الله وایي : فانه صـغیر جرمه ، عظیم طاعته وجرمه ) د دې غړي حجم وړوکی اما کوم طاعت ، جرم او گناه چې له هغه نه صـــادریږي ډېر لوی دی.

الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایي: (**ما یلفظ من قول إلا لدیه رقیب عتید** ). [1]

ژباړه : هیڅ داســې لفظ دهغه له خولې څخه نه راوځي چې د هغه د محفوظ ســـاتلو لپاره یو حاضر باش څارونکی ورسره موجود نه وي . ( **یوم تشـــهد علیهم ألسنتهم و أیدیهم و أرجلهم بما کانوا یعلمون** ).[2]

ژ باړه : هغوی دې هغه ورځ نه هیروي چې کله دا هغو خپلې ژبې او دا هغوی خپل لاسونه او پښې به د هغو په کړو وړو شاهدي ووایي.

**د ژبې په سانته کې د انسان نجات :**

عقبه بن عامر رضي الله عنه فرمایي : یوه ورځ د نبی کریم صلی الله علیه وسلم مبارک حضورته ورسیدم او عرض مې ورته وکړ اې د الله رسوله ! نجات اوخلاصون په څه کې دی ؟ ده په ځواب کې وفرمایل : ( **أمســک علیک لســانک و لیســعک بیتک و ابک علی خطیئتک** ).[3] یعنې خپله ژبه دې ترکنترول لاندې راوله او ســـتا

---

۱ - د ق سورت: ۱۸ أیت .

۲ - د النور سورت: ۲٤ أیت .

۳ - سنن الترمذي، حدیث : ۲٤۰٦.

کور دې ســتا د اوســيدو ځای وي او په کومه ګناه چې اخته شــوی يې دهغه په وجه د الله حضورته ژړا وکړه .

بلې! د دې په ځای چې انســـان د خپلې ژبې جلب په خپل حال پريږدي او ژبه يې په بدو ويناوو لکه غيبت ، خبرې ټولولو ، عيب لګولو او ... مشـــغوله وي د اغوره ده چې دکور په ګوښــه کې کيني او د خپلو عيبونو او ګناهونو په هکله او د خپل کار پايلې ته فکر او سوچ وکړي . په يوه بل حديث کې رسول الله صلی الله عليه وسلم سلامتي په دين کې او رښتيا هغه ستنه او په جهاد کې توفيق په يوه غړي پورې اړوند ګڼي او هغه ژبه ده

هغه وخت چې معاذ ته په خطاب کې فرمايي : ( **ألا أخبرک بملاک ذلک وکله** ) قلت بلى يا نبي الله قال : **فأخذ بلســـانه قال ( كف عليک هذا ) فقلت يا نبي الله و انا لمواخذون بما نتكلم به فقال : ثكلتک أمک يامعاذ وهل يكب الناس في النار على وجوههم أو على مناخرهم إلاحصائد ألسنتهم)**.[1]

ژباړه : آيا زه ستا لپاره هغه څه چې د ټولو اعمالو دارمدار په هغه دی ،بيان کړم ؟ معاذ رضی الله عنه وايي ومې ويل بلې : وفرمايئ هغه وخت رسول الله صلی الله عليه وسلم په داسې حال کې چې خپله ژبه يې نيولې وه ماته وويل : دا وساته ، معاذ وايي، په حيرت او تعجب مې پوښـــتنه وکړه اې د الله رســـوله ! آيا د خپلو

---

١ - سنن النسائي، حديث: ١١٣٣٠.

خبرو په وړاندې هم زموږ څخه پوښــتنه کیږي او پرې نیول کیږو ؟ ویې فرمایل : مور دې در باندې بوره شي ایا څه بل شــی خلک پرته د خپلې ژبې له لوکولو څخه په خپله خوله او پزه سرښکته یا پخپلو څیرو په دوزخ کې اچوي .

په ربښتیا سره دبدمرغۍ تر ټولو لوی لامل قیزه شلیدلې ژبه ده اوبیهوده او بابیزه خبرې یې ټول نیک عملونه بی ارزښته کوي.

نگهدار زبان تا به دوزخت نبرند  که از زبان بدتر اندر جهان زیانی نیست

سعدی، قصد

یعنی خپله ژبه وساته څو دوزخ ته دې بونه ځي، چی له ژبې نه بدتر په نړۍ کې بل زیان او تاوان نشته.

**د ژبی څخه د غړو فریاد :**

حضرت ابو سعید خدری رضي الله عنه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه نقل کوي چې رســول الله صــلی الله عیله وســلم وفرمایل :( **إذا أصــبح ابن آدم فإن الأعضـاء کلها تکفراللسـاان فتقول اتق الله فینا فإنما نحن بک فإن اسـتقمت اسـتقمنا و إن اعوججت اعوججنا** ) . [1]

ژباړه : هر ســهار د انســان ټول غړي په بشــپړ عاجزۍ او زاریو ژبې ته په خطاب کې وایي زموږ په حق کې له الله و ویریږئ! ځکه زمونږ د کار اصــلاح په تا پورې

---

۱ - سنن الترمذي. حدیث: ۲٤۰۷.

ترلې ده که چېرې ته ښه وې موږ به هم ښه وو او که تا غلطي او کږ والی غوره کړ مونږ به هم غلطۍ ته وهڅول شو .

احفظ لســانک أیها الإنســان لایلــدغنــک إنــه ثعبــان

کم فی المقابر من قتیل لسانه کانت تهاب لقاء الشجعان

ژباړه: اې انسانه ژبه دې کنترول کړه ، دغه اژدها دې و نه چیچي.

په قبرونوکې ځومره د ژبې وژل شــوي شــتون لری چې له مقابلې څخه یې زړور خلک ډاریدل.

له سهل بن سعدرضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: من یضمن لي ما بین لحییه و ما بین رجلیه أضمن له الجنة ).[1]

ژباړه : هرڅوک چې دګیرې ددووطرفونو ترمنځ (ژبې) او ددوو پښو ترمنځ ( عورت ) د ساتنې تضمین راته وکړي زه هم هغه ته دجنت تضمین کوم .

**یوه خبره د درجاتو د لوړ والي یا په دوزخ کې د لویدو لامل :**

حضرت بهز بن حکیم رضی الله عنه له خپل پلار څخه او هغه له خپل نیکه څخه روایت کو ي چې د اســلام مکرم نبی صــلی الله علیه وســلم فرمایل: ( **ویل للذي یحدث فیکذب، لیضحک به الناس، ویل له ویل له** ).[2]

---

۱ - صحیح البخاري, حدیث : ٦٤٧٤ .

۲ - سنن أي داود، حدیث: ٤٩٩٢.

ژباړه : افســوس پر انســان چې دروغ خبره په دې موخه كوي څو خلک ( په مجلس كې حاضر ) وخندوي بيايې دوه ځله وفرمايل هلاكت دى هغه لره.
شاعر وايي :

**يموت الفتى من عثرة بلسانه وليس يموت المرء من عثرة الرجل**

يعنى : ځوان د ژبې پرښوييدو مري حال دا چې سړى د پښې په ښوييدونه مري ، همدارنگه ابو هريره رضى الله عنه د پيغمبر صلى الله عليه وسلم څخه روايت كوي چې ويې فرمايل : ( **إن العبد ليتكلم بالكلمة من رضــوان الله، لا يلقى لها لا يرفع بها درجات و إن العبد ليتكلم بالكلمة من سخط الله، لا يلقى لها لا يهوي بها فى جهنم** ).[1]
ژباړه: پرته له شــكه كله انســان په بې فكرۍ يوه كلمه پر ژبه وايي چې د الله د خوشحالۍ او رضا لامل كيږي او الله هغه د هغې كلمې په وجه د جنت مقام ته جگوي او برعكس كله انســان په بې فكرۍ داســې خبره په ژبه وايي چې دالله دغوسې او قهر سبب كيږي او د هغې له كبله په دوزخ كې لويږي.

## ژبه د لويانو په خبروكې :

حضرت ابوبكر صديق رضى الله عنه چې له انبياوو ورسته له ټولو انسانانو څخه غوره دى ، يوه ورځ يې خپله ژبه نيولې وه او را كشوله يې ، كله چې خلكو پوښتنه وكړه ولې داسې كوي ؟ د هغوى په ځواب كې يې وويل :( **ان هذا أوردني الموارد** ).[2]

١ - د صحيح البخاري، حديث: ٦٤٧٨.
٢ - موطأ الإمام مالك، حديث : ٣٦١ .

یعنی دې ژبې زه په لوی هلاکت کې اچولی یم ) حضرــت ابن بریده رضـــی الله عنه وایي : یو ځل مې حـضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه ولیده چې خپله ژبه یې نیولې وه او ویل یې : ( و **یحک ، قل خیر تغنم أو اسکت عن سوء تسـلم، وإلا فاعلم إنک سـتندم** )[1] . ژباړه : افـسوس پرتا ښه خبره کوه ، ګټه به وکړې یا له بدو ویلو سکوت غوره کړه څو سلامتي ومومې و الا و پوهیږه چې یوه ورځ به پښیمانه شې .

ابن عدي وايي : إن أيمن امرء وأشأمه بين لحييه يعني لسانه.

ژباړه : پرته له شکه د انسان په غړو کې بابرکته او شوم شی په خوله کې د ننه د پاسینو او لاندینیو هډوکو تر منځ موقعیت لري ( ژبه ) ده.

عبدالله بن مسـعود رضي الله عنه وایي : (**والله الذي لآ اله إلا هو ماشـيْ أحوج إلى طول سجن من لسان** ).[2] ژباړه : قسم په هغه ذات چې پرته له هغه بل معبود نشته ، هیڅ شی د ژبې په څېر اوږده بند ته احتیاج نه لري .

---

۱ - صحيح البخاري، حديث : ٦٤٧٨ .

۲ - أخبار مكة في قديم الدهر وحديثه من عبد الله محمد بن اسحاق المكي الفاكهي، حديث :٢٧٠، وأيضا جامع العلوم والحكم لابن رجب، حديث: ٢٩.

طاوس رحمه الله ويلي دي : (**لســاني ســبع إن أرســله أكلني** )[1]: يعنې ژبه مې ځيروونکی حيوان دی هر کله چې هغه خوشــې کړم ما خوري او له منځه مې وړي.

## د ژبې څخه سمه استفاده :

لکه څنګه چې ډېر ګناهونه په ژبې سره تر سره کيږي ، د عباداتو او نيکو اعمالو مهم او دپاملرنې وړ برخه لکه د الله ذکر ، د خلکو لارښــوونه ، زده کړه او نوروته ښوونه ، په نيکيو امر او له بديو منع په ژبې سره تر سره کيږي.

د همدې ژبې په واسـطه تر ټولو ژور داخلي تحول د شـهادت کلمې ( **أشــهدأن لآ إله إلا الله و أشــهد أن محمدا رسـول الله** ) په ويلو سره د انسان په ژوند کې را منځ ته کيږي . په همدې ژبې سره کله چې الله تعالی د سـتاينې او لويئ مورد ګرځي ، د انســان د عمل تله د نيکيو څخه ډکيږي ، لکه (څنګه چې په نبوي حديث کې راغلي دي :

(**الحمد لله تملأ الميزان و سبحان الله و الحمدلله تملأن أو تملأ مابين السموات و الأرض**).[2]

يعنی د "الحمدلله" ويل د نيکيو تله ډکوي او سبحان الله و الحمدلله د اسمانونو اوځکمې ترمنځ واټن ډکوي . په همدې غړي سره چې کله مصـيبت رسـيدلي ته

---

١ - شعب الإيمان، حديث : ٥٠٦٢ .

٢ - صحيح مسلم، حديث : ٢٢٣٠ .

تسـلې او ډاډینه ورکول کیږي الله تسـلې ورکوونکی د جنت په جامه سـنبالوي ،نیکه وینا او خوږه ژبه چې منبع یې ښیا هم ژبه ده ، دا د خپل خاوند لپاره یو ډول صـدقه ګڼل کیږي. رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم فرمایي: (**الکلمة الطیبة صدقة** ) . یعنې خوږه خبره او ښه وینا یو ډول صدقه ده . لنډه دا چې په هماغه توګه چې د ژبې ګناهونه، دا د خولې اصـــلي ماده ډیره خطرناکه او کورنۍ له منځه وړونکې ده ، کوم نیک اعمال چې په هغو سره تحقق مومي د بدلې د لوړو مراتبولرونکي دي

**د ژبې د آفتونوڅخه د خلاصون لار پټه خوله اوسیدل دي :**

چون گل بدل افروخته می باید بود چون غنچه برلب دوخته می باید بود
چون هست و بال ما سخن گفتن ما چون شمع زبان سوخته می باید بود

هغه خطرونو ته پاملرنه چې د ژبې له آزاد پریښـــولو د انســـان لمن رانیوونکی کیږي، د اخلاقو لویانو په هغه ځایونو کې چوپتیا چې خبرو کولو ته اړتیا نه لري د لویو خطرونو څخه د یوې لارې د مخنیوي په عنوان ګڼلي دي ، چوپتیا کولای شـو د نفسـاني او رواني او کمال اخلاقي او انسـاني سـلامتۍ په لوري یوه لاره وګڼو . په دې معنا که چېرې یو وګړی داســې چوپتیا چې په هغه کې د الله په کایناتو کې فکر او ســوچ کوونکی وي په خبروکولو ترجیح ورکړي ،نو په حقیقت کې ده خپل باطن د شـــهوتونو او رواني آفتونو څخه ومینځا، دا ځانګړتیا د هغو کسـانو ده چې هغوی په الهی لطف او مهربانۍ کې شـامل دي ، ځکه انسـانی

نفس په طبیعي توګه دا سې آزادۍ ته میلان لري چې هغه له قید او بند خلاصه وي ، او چوپتیاته به میلان نه لري یوازې د دې په خاطر چې سکوت او چوپتیا شرعاً مطلوبه ده هغه ته به مخه کوي. محی الدین عربي وایي : که چېرې څوک غواړي چې باطن یې دې خبرې وکړي باید ظاهري ژبه په تالو کې چوپتیاته وهڅوي.

په قرآن کریم کې هم د چوپتیا مسئله ځنو انبیاوو علیهم السلام لپاره دحکمت په عنوان پیژندل شوې ده لکه چې فرمایي:( **قَالَ رَبِّ اجْعَل لِّي آيَةً قَالَ آيَتُكَ أَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ ثَلَاثَ لَيَالٍ سَوِيًّا**).[١] ژباړه:زکریا علیه السلام وویل ( پروردګاره) زما لپاره کومه نښانه وټاکه ویې ویل ستا لپاره نښانه دغه ده چې ته پرله پسې درې ورځې له خلکو سره خبرې ونشې کړای .

نو چوپتیا د الله له نښوڅخه یوه نښه او دالله جل جلاله د حکمتونو څخه یو حکمت دی.[٢]

په نبوي حدیثو کې ( د ژبې له آفتونو څخه د تیښتې لار ) عنوان ورکړی شویدی. عبدالله بن عمرو بن عاص له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایات کوي یې فرمایل: ( من صمت نجا)[٣] یعنی څوک چې چوپ شو خلاصون یې وموند . او

١ - د سورت مریم : ١٠ آیت .
٢ - روانشناسي اسلامي, ص : ٣٣٥ .
٣ - سنن الترمذي، حدیث : ٢٥٠١ .

د ابو هريره رضي الله عنه په روايت کې راځي، رسـول الله صـلی الله عليه وسـلم فرمايي : (**و من كان يؤمن بالله و اليوم الأخر فليقل خيرا أو ليصـمت** )[1] ژباړه : څوک چې په الله او د قيامت په ورځ ايمان لري پرهغو لازم دي چې يا د خير او نيکۍ خبره وکړي يا چپ واوسي. همدارنګه انس رضي الله عنه روايت کوي وايي : رسول الله صلی الله عليه وسلم ابوذر غفاري رضي الله عنه ته وفرمايل: (**يا أباذر ! ألا أدلک على خصـــلتين هما أخف على الظهر و أثقل فى الميزان من غيرهما ؟ قال بلى يا رسول الله قال عليک بحسن الخلق و طول الصمت والذي نفس محمد بيده ما عمل الخلائق بمثلهما**).[2] ژباړه : اې ابوذر ! اياتا ته دوه خويونه چې پرانسان ډېر سپک او داعمالو په تله کې ډېر درانه دي ونه ښـــيم ، ابوذر وويل بلې هغه دوه خويونه حتماً راته وښيه : ويې فرمايل ښه خوی خپل کړه او اوږه ده چوپتيا غوره کړه ، قسم په هغه ذات چې روح مې د ده په واک کې ده د انسانانو په اعمالو کې دغه دوه صفتونه بې مثاله دي ، علامه محمد منظور نعماني په معارف الحديث کې د حديث په پای کې ليکي.[3]

په دې نړۍ کې رســـول الله صـــلی الله عليه وســـلم د نورو خلکو نه زياتو خبرو کولوته اړتيا درلوده ، ځکه د بشرـــيت لپاره ښــــايېدل چې تر قيامته پورې يې د

---

١ - صحيح البخاري, حديث : ٦٠١٨ – ٦٠١٩ .

٢ - مسند البزار لأبي بكر أحمد بن عمرو البزار, حديث : ٧٠٠١ .

٣ - معارف الحديث لمحمد منظور نعمان , ترمه عبدالمجيد مرادزهي خاشي, ص :٤٧٧ .

ژوندانه قانون بیان کړی وای او په دې هکله یې د کلي او جزئي مبانیو بنسټونه څرګند کړي وای ، اما سره له دې صحابه کرامو د دوی عمومي حالت داسې بیان کړی دی :

کان رسول الله صلی الله علیه وسلم : ( **طویل الصمت قلیل الضحک** ...).[1] یعنې رسول الله صلی علیه وسلم ډېر چوپ او کم خبرې کوونکی ؤ ، رسول الله ﷺ دا سې عادت درلود چې : ( **ولا یتکلم إلا فیما یرجو ثوابه**).[2] ژباړه : یوازې یې دهغه چارو په هکله خبره کوله چې په هغه کې یې د ثواب هیله درلوده. بناپردې مخکې له دې چې انسان د نوروسره خبرې وکړي باید له ځانه پوښتنه وکړي : آیا د خبرو کولو میدان او دهغه لپاره څه انګېزه شته ؟ که چېرې څه سبب او انګیزه دهغه لپاره وي نو هغه وخت دې خبره کوي والا چوپتیا غوره ده . حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه وایي: پنځه شیان د قیمتي تورو آسونو څخه غوره دي :

۱ – دا هغه څه په باره کې چې فایده درته نه لري او مقصودي نه وي خبره مه وایئ ، ځکه بې فایدې ده او دا چې تاته ګناه رامنځ ته نکړي ډاډمن نه یم .

۲ – د هغه څه په هکله چې تاته مقصودي وي خو د هغه په هکله د خبرو میدان او ځای نه وي ، خبرې مه کوه ځکه ډېری کسان د هغه څه په هکله چې تاته

---

۱ - مسند الإمام أحمد،حدیث: ۲۰۸۱۰ .

۲ - زادالمعارف فی هدی خیر العباد فصل فی هدیه صلی الله علیه وسلم فی کلامه و سکوته و ضحکه و بکائه.

مقصودي دي بيځايه خبرې کوي او په نتيجه کې يې غوښتنې ناليدلې نيسي او په عيب او کمي اخته کيږي.

۳ - د حليمو او بې عقلو خلکو سره شـــخړه او جنجال مه کوه ځکه حليم هغه وخت تا دښـــمن گڼي او بې عقل او ناپوه تاته آزار درکوي او د ورور او دوســـت په باره کې چې غايب وي هغه څه ووايه چې خوښوې يې څوهغه پسې شا درپسې ووايي او هغه له هغه څه چې خوښوې تا عفوه کړي ، ته هم عفوه وکوه .

۴ - د هغه چاپه شـــان کارکوه چې هغه عقيده لري چې نيک کارونه بدله لري او د گناهونو او بدو اعمالو په هکله پوښتنه لري.

فريد الدين عطار رحمه الله وايي :

ای برادر گر تو هستی حق طلب — جز به فرمان خدا مگشای لب

گـر خبـرداری زحـــی لایموت — بردهان خود بنه مهر سکوت

ای پسر پند ونصیحت گوش کن — گر نجاتی بایدت خاموش کن

ژباړه : اې وروره که چېرې ته د حق غوښتونکی وې ، پرته د الله په فرمان شنډې مه پرانيزه. که چېرې د هغه ژوندي په هکله چې نه مري د الله په هکله خبر لرې نو په خپله خوله د چوپتيا مهر ولگوه. اې بچيه درس او نصـــيحت واوره که چېرې نجات غواړې بايد چوپ شې .

فريد الدين عطار رحمه الله وايي:

هر که در گفتار بسیارش بود — دل درون سینه بسیارش بود

عاقلان را پیشه خاموشی بود پیشه جاهل فراموشی بود
خاموشی ازکذب وغیبت و اجب است ابله است آنکه بگفتن راغب است
دل زپر گفتن بمیرد در بدن گرچه گفتارش بشود در عدن
روزبانت در دهان محبوس دار وزخلایق خوش را مأیوس دار

ژباړه : د چاچې خبرې ډیرې وي ، د هغه په سینه کې زړونه ډیر وي
د علاقلانو کسب چوپتیا ده ، د جاهل او ناپوه کسب هیره ده
چوپتیا له دروغو او غیبت څخه وا جب دی ، بې عقل دی هغه چې خبرو ته شوقمن دی
زړه په بدن کې له ډیرو خبرو مري ، که څه هم خبرې یې په عدن کې وشي
ژبه دې په خوله بندي ساته ، او له مخلوقاتو ځان ناهیلی ګڼه .

## د ژبې د کنترول لپاره د چوپتیا قلف :

دهندوستان په ځینو آثارو کې داسې راغلي ، یوه شپه یو غل د مال د لاس ته راوړلو لپاره له خپله کوره راووت او د ښکاري په څیر د ښکار په لټه کې ؤ ، ترڅو د شپې په تیاره کې د وریښمو اوبدلو کارګاه ته راغی او ځان یې هلته غلی کړ ، وریښم اوبدونکي هر تار چې اوبدلو خپلې ژبې ته یې ویل: اې ژبې په تا پناه غواړم او له تا مرسته غواړم چې له ما څخه لاس واخله او زما سر په بدن کې وساته، هغه ټوله شپه د خپلې ژبې نه دا غوښتنه کوله تردې چې هغه د وریښمو پارچه یې پای ته ورسوله ، غل ونشو کړای په هغه شپه هغه پارچه له ده څخه غله

کړي سـهار وختی وریښـم اوبدونکي هغه نازکه وریښـميني پارچه واخسـته او له کوره بیرون شو په دې نیت چې د هند امیر ته ولاړ شي او هغه ده ته ډالۍ کړي. غله د ده په مورچه کې آرام حرکت کاوه ، څو ووینې د ده د ژبې له تیغ څخه څه ملغلرې ښکاره کیږي؟ هغه خپله ښایسته پارچه امیر ته هدیه کړه، کله چې امیر هغه ولیده هغه یې ډیره ښـــایســـته او نازکه ومونده او خوځلې یې هغه ته آفرین وویل او هغه یې ډیر تشـــویق کړ، بیایې ورته وویل : دا پارچه دې ډیره نازکه ، ښکلې او عالي اوبدلې ده ، اوس ووایه دا ښکلې او ښایسته او زړه وړونکې پارچه دڅه لپاره او دکوم ځای لپاره ښـه ده ؟ وریښـم اوبدونکی اسـتاد وویل ، امر وکړه تر څو هغه په یو ځای کې ګیرډي ، و صیت وکړه کله چې له دنیا ولاړې هغه ستا د تابوت پرمخ واچوي .

امیر د دې خبرې نه ډېر پریشـانه شـو او امر یې وکړ چې هغه پارچه وسـوځوي او اوبدونکی یې د جزاورکولو ځای ته بوځي او د سرشـایې سـورۍ او ژبه یې د هغه سـوري نه راوباسي کله چې غله د امیر فرمان واورید ، جګ شـــو و یې خندل ، امیرورته متوجه شو او هغه یې راوغو ښت او ورته ویې ویل ولې دې وخندل ؟ غله وویل : که چیرې ما په هغه ګناه چې کړې مې نده خو هوډ مې یې درلود ، نه مجازات کوې او ماته امن راکوې پیښه او کیسه درته بیانوم.

امیر هغه ته امن ورکړ غله خپله کیســـه پیل او تر پایه یې بیان کړه او ویې ویل دې وریښم او بدونکي استاد هره شپه خپلې ژبې ته خطاب کاوه او مرسته به یې ترې غوښته چې هغه خطر ته وانه چوي ، په عین حال کې ژبې هغه په خطر کې واچاوه ، امیر وویل : نو دې بیچاره تقصیر او کمی نه دی کړی او غوښــتنه یې له ژبې څخه د قبول مورد گرځیدلې ده ، هغه ته یې عفوه وکړه او داســې نصــیحت یې ورته وکړ : که چېرې غواړې د ژبې له خطر څخه وژغورل شـــې پر خپله ژبه دې د چوپتیا ټاپه (مهر) ووهه او په هغې باور مه کوه او پوه شه چې هیڅ ښایست او ښکلا له چوپتیا غوره نشته . [1]

زبان بریده بکنجی صم وبکم          به از کسی که نباشد زبانش اندر حکم

سعدی

یعنی : ژبه پرې کړې او په گوښـــه کې کوڼ او گونگ ناســـت له هغه نه غوره دی چې ژبه یې ترحکم لاندې نه وي.

**د چوپتیا گټې :**

کولای شو په لنډه توگه په لاندې امورو کې بیان کړو :

---

۱ - جوامع الحکایات، عوفي، ص : ۲۲۱ .

۱ – چوپيتا انســـان د ډيرو گناهونو په وړاندی بيمه کوي څنگه چې مخکې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په يوه لنډه او معنا لرونکې جمله کې تيره شوه : ( من صمت نجا).[۱]

هر چاچې چوپتيا غوره کړه خلاصون يې وموند.

۲ – چوپتيا انسان تفکر او سوچ ته چې د معنوی ژوندانه سرچينه ده ، راغوړي له دې وجې چوپ وگړي يو ډول فکر من ، قيمتي او د علم وړکســـان دي ، برعکس زيات ويونکې وگړي په غالبه توگه بې ارزښـته او له ځانه کم عمل راښـيي ، پردې چوپتيا برسېره روح ته آرام ბښونکی او د احسا ساتو تعديل کوونکی دی لکه چې عربي متل دی وايي: د چوپتيا له ونې د آرامۍ ميوه را څوړند ده، نوچوپتيا ته کولای شو د فکر او سوچ باغ ورته ووايو .

۳ - ډيرې خبرې چې د چوپتيا د نقطې مقابل دي انسان يې پروا گرځوي .

مزن بی تامل به گفتار دم نيکو گو اگر دير گويی چه غم

سعدی

بی فکره خبرې مه کوه ، ښه خبره وکړه که وروسته يي وکړي هم څه غم نشته.

اما دغه نکته بايد هيره نشي– چې چوپتيا په غه ځايونو کې چې خبرې کول لازم وي يو له ډيرو لويو عيبونو حسابيږي او دا دبيوزلی، نا چارۍ او سستۍ نښه او د غيرالله نه ويره ده ، خبرې کول او چوپيتا بايد د موقعيت په بنا وسنجول شي.

وگر بينم که نابينا و چاه است اگر خاموش بنشينم گناه است

۱ - سنن الترمذي, حديث : ۲۵۰۱ .

که چيرې وينم چې ړوند او ښاده ، نو که چوب کينم دا گناه ده

لښده دا چې د ډيرو گناهونو څخه پرهيز د ژبې تر ساتنې پورې اړه لري او څومره ښه خبره ده چې انسان خپله ژبه د الله په ذکر مشغوله کړي او هغه د اخلاقي بديو څخه وژغوري او د معنوي پر مختگ په لوري قدم واخلي .[1]

---

۱- د (تکامل اخلاقی) د محمد رضا رخشانی تألیف.

﴿۲۹﴾

## غیبت یا چغل گري

**الحمد لله رب العالمين، والعاقبة للمتقين، والصـلاة والسـلام على سـيدالأنبياء، و المرسلين محمدو على آله، و أصحابه أجمعين أما بعد:**

شاعر وايي:

میان دو کسی جنگ چون آتش است　　　سخن چین بدبخت هیزم کش است

کننـد ایـن آن خـوش بـاره دل　　　وی انـدر میـان کور بخت و خجـل

دهرې ژبې او د ډېرو بدو عاداتو له جملې څخه چې متاسـفانه د خلکو تر منځ لیدل کیږي یو یې نمامي او چغل گري ده.

د یو شخص له خوا څخه دا سې خبرې د بل شخص د ځوریدلو، او د هغه سره د رابطې د له منځه وړلو سبب گرځیدې د وینا، لیکو، اشارې یا د نورو لارو څخه بل شخص ته نقلو غیبت اوچغل گري بلل کیږي.

له کومه ځایه چې نیکه معاشره او سالم روابط رامنځ ته کول د پیغمبر صلی الله علیه وسلم

له مهمو تعلیماتو څخه دي نو څوک چې د دوسـتانو تر منځ د دې صـمیمانه روابطو د له منځه وړلو په لټه کې وي، او غواړي چی په ورورولی، یووالي، او د

تفرقې اچولو څخه لرې والي باندې يې امر کړی دی يقيناً چې داسې شخص د ډيرې بد ترينې گناه مرتکب کيږي.

ډيرې وژنې، جرمونه ، اختلافونه، او سخت کشمکشونه د چغل گرۍ له امله رامنځ ته شوي دي.

دغه ناوړه خوی څومره کورنۍ ويجاړې کړي دي! د ښځې او خاوند تر منځ ، د مور او پلار سره ، د پلار او ځوی ترمنځ جدا والی اکثره د دې ناوړه عمل له امله رامنځ ته شوې دي .

## چغل گران په دوه ډوله دي :

۱ – يوه هغه ډله ده چې په قصد سره د خلکو تر منځ د تفرقې اچولو په موخه او د خلکو ترمنځ د بې اتفاقۍ اچولو په هدف د يو کور څخه بل کورته ځي ، او د ده او هغه سره کيني او چې کومه خبره يي غوږ ته ورسيږي بې له درنگه هغه په کار اچوي او په خپلې چغلۍ سره فتنه او اختلاف رامنځ ته کوي .

۲ – دوهمه ډله هغه کسان چې پرته له کوم قصد او غرض څخه دا کاريې خوښيږي چې د خپلې ساعت تيرۍ لپاره ده او هغه سره کينې، او د نورو تر منځ چغلي کوي. دا ډله خلک هغه کسان دي چې کله يې يو حرف غوږوته ورسيږي مشهور متل دی چې د يو کارغه څخه څلويښت کارغان جوړوي چې په نتيجه کې د خلکو او کورنيو ترمنځ د تشنج او اختلاف اچولو سبب گرځي.

د اسلام د مقدس دين له نظره چغل گري د ډير و بدو اخلاقو له جملې څخه ده، او خوراحرام کار دی؛ چی د انســـان لپاره د جنت څخه د محرومیدلو باعث گرځي، او د دوزخ په عذاب باندې مبتلا کيږي . الله تعالی فرمايلي دي : ( **ولا تطع كل حلاف مهين هماز مشاء بنميم**) .[1]

د ســپکو خلکو چې ډير قســمونه خوري پيروي مه کوه هغه چې عيب ويونکی او چغل کوي . بيا د دې په ادامه کې وايي : ( **عتل بعد ذلک زنيم**).[2] ( بدخويه دی ، د دې نه علاوه بدکاره دی ) عبدالله بن مبارک (رح) فرمايلي دې چې زنيم د حرامزاده په معنادی يعني بې کســه بی تربيته دی چې هيڅ راز نه ســاتي الله تعالی د ابولهب د ښځې په اړه وايي ( **وامراته حمالة الحطب**) .[3]

او ښځه د ده چې چغل گري کوي .

همدارنگه رســول الله -صــلی الله عليه وســلم – هغه چغل گري ټکولی ده ، او د اخرت د عواقبو په باره کې يې خبر داری ورکړی دی . عن حذيفه قال قال رسول الله – صلی الله عليه وسلم : ( **لايدخل الجنة قتات**). [4] ( حضرت حذيفة رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي : چغل گر به جنت

---

١ - د القلم سورت ، ١٠ – ١١ ، آيتونه .

٢ - د القلم سورت ،١٣ آيت .

٣ - د المسد سورت : ۴ ، آيت .

٤ - صحيح البخاري، حديث : ٦٠٦٥ .

ته داخل نه شي ) په صحیح مسلم کی د (قتات) کلمې پر ځای ( نمام) راغلی دی چه هغه هم د چغل گر معنا لري .

بلې! چغل گري هغه بدعادت دی چې په دې مرض مبتلا خلک به په اسانۍ سره جنت ته داخل نه شي، او دا رذیل عادت به د دوی د لارې خنډ وي جنت ته د د اخلیدو په لاره کې. **(عن عبد الرحمن بن غنم یبلغ به النبي صلی الله علیه وسلم : خیار عبادالله الذین إذا رءوا ذکر الله و شرار عباد الله المشاءون بالنمیمة المفرقون بین الأحبة الباغون البرآء العنت ).**[1]

د عبدالرحمن بن غنم څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: د الله تعالی غوره بندگان هغه کسان دي چې کله دوی ولیدل شي الله تعالی انسان ته یادشي، او د الله تعالی بدترین بندگان هغه کسان دي چې د چغلۍ له امله د دوستانو تر منځ جدایي راولي، دوی هغه کسان دي چې په پاکدامنو اشخاصو باندې تهمتونه تړي ) .

## د قبر عذاب د چغل گرانو په انتظار کې دی:

عن ابن عباس قال رسول الله صلی الله علیه وسلم علی قبرین فقال : ( **إنهما یعذبان ومایعذبان فی کبیر أما هذا فکان لا یستنزه من البول و أما هذا فکان یمشي بالنمیمة ).** [2]

۱ - مسند الإمام احمد، حدیث : ۱۷۹۹۸ .

۲ - صحیح البخاري، حدیث : ۲۱۸ .

د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وســلم د دوه قبرونو ترڅنګ تيريده او وه يې فرمايل : دې دواړو مړو ته عذاب ورکول کيږي او په کومه لويه ګناه کې عذاب نه ورکول کيږي . دايو هغه شــخص دی چې د تشــو متيازو څخه يې ځان نه ســاتلو، او دا دوهم چغل ګړي کوله.

## په بني اسرائيلو کې قحطي او وچکالي :

کعب احبار وايي: يو کال قحطي او وچکالي بني اسرائيل ځورول حضرت موسی عليه السلام د خشک سالۍ د لري کيدو لپاره د الله تعالی څخه د باران غوښتنه وکړه. الله تعالی موسی عليه السلام ته وحي وکړه ، او وه يي فرمايل : اې موسی ! زه ســتا او ســتا د ملګرو دعا نه قبلوم ؛ ځکه ســتاســې په منځ کی يو چغل ګر شــخص مو خو د دی چې په خپل بد کار زياته زيار باسي . موســی عليه الســلام عرض وکړو ای پروردګاره ! هغه شــخص څوک دی تر څو د خپل منځ څخه يې وشړو ؟

الله تعالی وقرمايل : زه تاســـې له نميمت او چغل ګری څخه منعه کوم نو دا څرنګه کيدای شي چې زه خپله چغل ګر شــو ؟ کله چې د موســی عليه الســلام

قوم د دې واقعی له مخې پر هغوی باران وکړي ، او بنې اسرائيلو له قحطی او خشک سالۍ څخه نجات وموند.[1]

**د چغل گری عوامل :**

**۱ – خراب محيط او ناسالم تعليم او تربيت :**

ځينو خلک په داسې خراب محيط کې رشد وکړي چيرته چې طعن ، او لعن د هغه محيط د خلکو عادت ، او فرهنگ گرځيدلی وي . په خوښه يانا خوښې سره داسې خلک د داسې محيط له اغيزې لاندې راغلي وي او ورسره ملگرتيا کوي .[2]

**۲ـ کينه او بد خواهي:**

کله کله کينه او بد خواهي د نورو په نسبت د فتنې او شيطانت د پيداکيدو لپاره مهم لامل گرځيږي.

امام محمد غزالي (رح) د حماد څخه نقل کوي وايي: يو سړي خپل غلام بازار ته د خرڅلاو لپاره بوته.

د خرڅيدو په وخت کې پيردونکې ته وويل دغه غلام پرته د شيطانت او چغل خورۍ څخه بل عيب نلري.

۱ - احياء علوم الدين، ټوک ۳، مخ ۱۵۵ .

۲- د تکامل اخلاقی د محمد رضا رخشانی تألیف.

پیریدونکې د دې سره د ده پیریدو ته اماده شو او هغه یې واخیست او کورته یې بوته څه وخت چې تیر شو یوه ورځ غلام د خپل مالک او بادار ښځې ته وویل ستا خاوند تا نه خوښوي اوغواړي چې بل واده وکړي .

که غواړې چې دی د بل واده څخه منع شي نو د هغه د ځټ ویښـــتان په تیزه چاړه راپري کړه او ماته یې راکړه ترڅوه په هغه دم او تعویذ وکړم او ســـتا د خاوند زړه تاته مایل شي او تاسره یې مینه پېداشي.

په هماغه ورځ یې خپل مالک او بادارته وویل .ستا ښځه خیانت کاره ده او د بل چا سره مینه لري او ته یې خوښ نه یې او که زما په خبره دی باورنه راځي نو بیګاه ته ځان په ویدو واچوه ترڅوهغه یقین وکړي چې دی ویده دې بیا ګوره چې څه کیږي.

په هماغه شپه سړي د خپل خوب ځای ته دخوب لپاره لاړاو ځان یې داسې ونیوه چې ګوندی ویده دې خپله ښـــځه یې ولیده چې چاړه په لاس د ده بالخت ته را روانه ده .

سړې د دی حالت په لیدو یقین راغی چې ښځه یې د وژنې اراده لري سمدستي راپورته شو او خپله ښځه یې ووژله .

په دغه وخت کې غلام په چټکۍ لاړه او د ښځې وارثان یې دهغی د قتل او وژنې څخه خبر کړل.

کله چې د ښځې وارثانو او کورنۍ ته د هغې د وژنې خبرورسيده.

هغوی سـمدسـتي د سړي په کور حمله وکړه او هغه سړي يې وه واژه پايله دغه شوه چې د دواړو قبيلوترمنځ شخړه او وژنه پيل شوه.[1]

### ۳ـ خوشامندې او چاپړوسي:

ځينی وخت کې خوشـامندې او چاپلوسي د يوچا يا د حکومت د رضـا او يا مال حاصلولو په موخه د شيطانت او چغل خورۍ سبب او لامل کيږي.

ځکه ځينی خلک د خپل منفی فکر په لرلوسره گومان کوي چې د بل په شيطانت او چغل خورۍ او سپکاوی او فتنه اچولو سره به د مسئولو شخصيتونو رضايت تر لاسه کړي او د دی لارې به ډوډۍ او رزق ترلاسه کړي .

### ۴ـ ساعت تيري او مجلس گرمول:

ځنی خلک شيطانت چغل خورۍ، فتنه اچول اوسپکاوی د ساعت تيری اومجلس گرمول سبب او ذريغه گڼي .

او د دې په خاطر چې خلک د دی په شاه او خوا را غونډ شي او دی ورته د يو چا په سپکه او هتک سره مجلس گرم کړي او د خلکورضا يت او خوښي لاسته راوړي او په دې لاره کې هيڅ سستی او ستړتيا نه احساسوي او دخلکو په حقوقي حريم

---

۱ احياء علوم الدين، ټوک ۳، مخ۱۵۸.

او حيثيت او ابرو تيرې کوي او فتنه او جګړه را منځ ته کوي او خپل دنيا او اخرت په تباهۍ او ويرانۍ کې اچوي.

**۵. د خلکو په شـــيطا نت او چغل خورۍ کې د ګناه او مســؤوليت نه احساسول:**

کله کله د يو شخص په سپکاوی دروغ تړلو رټنو ويرولو او تند خويې کې د ګناه او مســؤوليت احســـاس نه کوی او يواځی د خلکو د خندولو په موخه دغه کړنې او فعاليتونه سرته رســـوي او دا په خپله د چغل خورۍ او شـــيطانيت او دی ته ورته کارونو بنسټيز لامل کرځيږي.

٣٠

# په بیړه پریکړه کول

**الحمد لله رب العالمین، والعاقبة للمتقین، والصلاة و السلام علی سیدالأنبیاء، والمرسلین محمدو علی آله، و أصحابه أجمعین .**

د دینداری او دعوت د لارې د آفتونه له جملې څخه یوې هم په بیړه سره پریکړه کول دي . یواځنی سبب چې انسان د دې آفت څخه ژغورلای شي هغه د الله تعالی سره کلکه او محکمه رابطه ده .

الله تعالی مونږ ته د معلوماتو او خبرونو داوریدو په اړه د تبیین او وضاحت امر کړی دی او فرمایی : ( **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن جَاءكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَأٍ فَتَبَيَّنُوا أَن تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ** ).[۱] ای هغه کسانو چې ایمان مو راوړی ! که چیرې یو فاسق شخص تاسو ته کوم خبر راوړلو د هغی په باره کی تحقیق وکړئ، داسې نه شي چې په ناپوهی کې کوم قوم ته ضرر ونه رسوئې، بیا به په خپلو کړو پښیمانه اوسی . تبین او تحقیق په خبر رسولو کې یو منل شوی اصل دی .ترڅو د هغه خبرو مخنیوی وشي چې د فتنو د را پیداکیدو لامل گرځي دهغه انسانانو

۱ - د الحجرات سورت : ٦ آیت .

د خلاصـون په موخه چې په دې مرض اخته شـوي ، او دهغه انسـانانو د حفاظت په هدف چې په دې مرض مبتلا نه دي مونږ اړيو چې د دې مرض او د دې آفت د علامو په اړه پوره دقيقه څيړنه وکړو:

**لومړی : په بيړه فيصله کول، او په تيزۍ سره د نظر اظهار:**

پرته له تحقيقه ، او په تيزې سره د نظر اظهار د مسـلمانانو په هغه مسـائلو کې چې په ټولو پورې اړه لري لکه : په احکامو ، او عقايدو په اړه د رأی او نظر ورکول، د هغې د نقل او بيان د څرنګوالي په اړه د نظر اظهار پرته له دې چې به اړونده موضوع کې دقيق معلومات ولري، او بې له دې چې د نوموړې موضوع د شرايطو او واقعيت څخه کره معلومات په لاس کې ولري . دافک د حادثې د بيانولو په باره کې الله تعالی دې خبرې ته اشاره کوي .

الله تعالی فرمايي:

**(إِذْ تَلَقَّوْنَهُ بِأَلْسِنَتِكُمْ وَتَقُولُونَ بِأَفْوَاهِكُم مَّا لَيْسَ لَكُم بِهِ عِلْمٌ)**. [1]

( کله چې تاسـو دا دروغ په خپلو ژبو باندې راړول راړول ، او خپرول به مو په ژبو باندې هغه څه چې تاسو ته پرې علم نه ؤ ).

دا بديهي خبره ده چې ديوې موضوع په اړه معلومات ، او موندنې لومړی د اوريدو له لارې تر لاسه کيږي، بيايې زړه او عقل ته سپارل کيږي ، او بالاخره هغه د وينا

١ - د النور سورت : ١٥ آيت .

يا د ليکلو او ... خپريږي او نقليږي . مګر دلته قرآن کريم داسې فرمايي : چې د دوی دافک د واقعی موندنه د ژبو له لارې وه ، او په يو ډول بې پروايي سره يې په ډيره تيزۍ سره له يوې ژبې څخه بلې ژبې ته نقلوله چې دا د دوی پرته له تحقيق څخه په بيړې سره پريکړه وه . د عبدالله بن ابی د منافقينو مشر د تهمت په لګولو سره د دوی غوږونه کاڼه شول، په عقلونو يې تورې پردې را ښکل شوی ، او زړونه يي له درک څخه ولويدل ، او د ژبو لپاره ميدان ګرم شـو بی له دې چې دموضوع د حقيقت په اړه ځانونه پوهه کړي . بدون له دې چې مسائلو او شرايطو ته توجه وکړي .

سيد قطب د ( فی ظلال القرآن ) تفسير ليکونکی د افک حادثې څخه په لاندی ډول تصوير وړاندې کوي: ( دا دموضوع څخه داسې تصوير دی چې د توهين ، د حرمت پايمالولو ، او بې پروايي سره، يو خطرناک او ډير لوی کارته لاس اچول دی هغه هم په ډيره بې باکۍ او بی پروايي سره ( يو دبل ژبو څخه يې نقلوي) يعنی پرته له نديده تدبره يې يوه ژبه يې ژبې څخه اخلي، او بدون د تحقيق او پلټني، او پرته له سـوچ او تأمل څخه ګويا چې دا خبره غوږو يي نه اوري ، او د عقل هم ورسره څه کار نشته ، او زړونه هم په کې کوم تدبر نه کوي . ( په ژبو هغه خبره نقلوی د کومی په اړه چې تاسوته پرې علم نشته ) يعنې يوازې په ژبو باندې يي اړوی رااړوی؛ نه په عقل او نه په زړونو سره ؛ بلکی دا داسی کلمی دي چې

يوازی ژبې پرې تلفظ کوي مخکې له دې چې په کوم مدرک کی ثبت شي ، او مخکی له دې چی په عقل کې ورته ځای ورکړل شي ).[1]

**دوهم : په تيزۍ سره د حکم کولو ، او په بيړه د نظر ورکولو اسباب :**

ځينی اســباب او عوامل شــته چې په تيزۍ سره د حکم کولو ، او په بيړه د نظر ورکولو لامل گرځي ، چې ځينوته يي په لاندې ډول اشاره کوو :

**۱ – په وړوکتوب کې پالنه :**

ځينو وختونو کی يو انسان د داسې کورنۍ ، مور او پلار په غيږه کی تربيه کيږي چې د هغوی خصوصيت داسې وی چې به تيزی سره نظر ورکوي او پرته له کوم دليله ، او تحقيقه حکم کوي چې په ډيره ســاده گی سره ورته د غه خويونه انتقاليږي او انسان د هغوی کاپي گرځي . دلته له هرڅه مخکې د مور او پلار په اســلامي اخلاقو پابندي اړينه ده . که چيرې مور او پلار د دې مســؤليت مراعت کړي نو اولادونه به يی د هر ډول انحرافاتو څخه مصؤون وي ، او بيابه خطاب ، او وينا ته هيڅ اړتيا پاته نه شي .

**۲ - د ناستې ملگرې او دوستان:**

کله انســان د داسي خلکو په منځ کې رالوی شي چې هغوی اســلامي آدابو او اخلاقو ته ژمن نه وي؛ چی انســان ور څخه متأثر کيږي او دهغوی نمونه گرځي ،

---

۱ - تفسير في ظلال القرآن، ج ٦، ص ٨٠ .

په ځانګړي ډول کله چې انسان د کمزوري شخصیت خاوند وي، او دخپل ځان په اړه ، او په خپلو تصمیمونو باندې پوره اعتماد ونه لري . په همدې ځای کې په ا سلامي آدابو ، او په دیني اخلاقو مزین ملګرو نقش دیادولو وړ دی چې د روحې آرامتیا، د شعور، احساس او جوار حو د بیدارۍ سبب ګرځي .

**۳ - غفلت او هیرول :**

د انسان غفلت او بي توجهي او هیرول کله هم د بیړي د نظر ورکولو، او په تیزۍ سره د حکم کولو سبب ګرځې. داسې شخص دې ته اړتیا لري چې د خپل حالت څخه په خپل ټول ژوند کې درس واخلي ترڅو د دوهم ځل لپاره د داســې مشکلاتو سره مخ نه شي . رسول الله صلى الله علیه وسلم فرمایلي دي: ( **كل بني آدم خطاء وخير الخطائين التوابون** ).[1] د آدم علیه الســلام ټولو اولادونو څخه خطا کیږي، غوره خطا وتونکی هغه دي زیاتې توبې اوباسي.

**۴ - غرور او ځان غوره ګڼل :**

کله ځینی الفاظ، خوږی خبرې، او ښایسته جملی د انسان په غوږ ښی لګیږي ، او د غرور او ځان غوره ګڼلو سبب ګرځي . په دی صورت کې ځان مستحق ګڼي چې پرته له تحقیق او څیړنې د نورو خلکو په حق کې نظر ورکړي ، او دهغوی په حق قضاوت وکړي. د ا سلام ستر پیغمبر رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې

---

١ - سنن ابن ماجه، حديث: ۴۲۵۱، وحكم الشيخ الألباني بحسنه.

موضـوع په هکله داسـې فرمايي : ( **إِنَّكُمْ تَخْتَصِـمُونَ إِلَيَّ وَلَعَلَّ بَعْضَـكُمْ أَلْحَنُ بِحُجَّتِهِ مِنْ بَعْضٍ فَمَنْ قَضَيْتُ لَهُ بِحَقِّ أَخِيهِ شَيْئًا بِقَوْلِهِ فَإِنَّمَا أَقْطَعُ لَهُ قِطْعَةً مِنَ النَّارِ فَلَا يَأْخُذْهَا**).[١]

( سـتاسـو څخه ځينې كسـان زما خواته راځي، او خپل منځي شـخړه زما په وړاندی مطرح كوي چې ځينې يې په اسـتدلال او خبرو كې ډير تيز وي . كه چيرې زه د هغه د خبرو او استدلال په بنا دهغه په حق فيصله وكړم، او د بل حق هغه ته وركړم، په حقيقت كې د جهنم يوه ټوته مې هغه ته وركړله، په كارده چې هغه دی ونخلي).

## ۵ – د تحقيق او څيړنو د لارو چارو څخه بې خبري :

په ځينو وختونو كې د تحقيق او څيړنو، او د اطمينان د حاصـلولو د لاروچارو څخه ناخبري د دې لامل شي چی انسان په بيړه حكم اوژر فيصله وكړي، او پرته له خطره هغه په هر ځای او هر وخت كې مطرح كوي. حقيقت ته درسـيدو او ديقين د تر لاسه كولو لپاره زياتې لارې او روشونه شته چې د هغې په مټ انسان كولای شي د يو موضـوع حقيقت معلوم كړي . د دغه مواردو څخه ځينې يې په لاندې ډول دي:

١ – د يوې مو ضوع د حقيقت معلومولو لپاره په ترتيب سره لومړی دې قرآن كريم ته ، بيا د پيغمبر صـلى الله عليه وسـلم سـنتو ته، او بيا د نظر خاوندانو ته، او

---

١ - صحيح البخاري, حديث : ٢٦٨٠ .

عقلمنده، او د درایت خاوندانو ته باید رجوع وشي . الله تعالی فرمایلي دي :(**وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وَإِلَى أُوْلِي الأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنبِطُونَهُ مِنْهُمْ**).[1]
که چیرې د نظر د اظهار لپاره یې هغه پیغمبر علیه السلام ته ، او خپلو مشرانو ته یي وړاندې کړې وای، تنها هغه کسان د دې څخه معلومات لري چې خاوندان د علم دي. که چیرې داسې خلکو په دې باره کې وینا کول پیغمبر علیه السلام ، او خپلو مشرانو ته پریښې وای ( او کومې خبرې چې دوی یې اوري فقط مسئوولو کسانو ته یې پریښې وای ) دا به غوره وه ځکه چې د دې خبرې څخه یواځې د حل او عقد ا شخاص خبر دي، دا چې دا به څرنګه وي یواځې هغوی ورڅخه پوره درک لري .
۲ – تحقیق او پوښتنه له هغه چا څخه چې موضوع ورپورې تړاولري . د دې مسألې غوره مثال د حاطب بن أبی بلتعه په حق کې د پیغمبر علیه السلام دریځ دی کله چې هغه د قریشو مشرکینو ته لیک استولی ؤ، او هغوی په مکه باندې د مسلمانانو له هجوم څخه خبرول وو؛ چې له دې واقعې څخه الله تعالی خپل پیغمبر دوحي په ذریعه خبر کړو ، سره له دې چې الله تعالی خپل پیغمبر خبر کړی هم ؤ ، بیا هم رسول الله صلی الله علیه وسلم مخکې د نظر ورکولو څخه ډډه وکړه او هغه یي راوغو ښتلو ، او ورڅخه یې وپو ښتنه وکړه، او ورته یې وویل: (

---

۱ - د النساء سورت : ۸۳ .

اې حاطبه څه شوي دي ؟ ولې دې دا کار وکړ ؟ حاطب وويل اې د الله رسوله : زما په حق کې په تيزۍ سره فيصله مه کوئ ، زه له قريشو سره يواځې يو تعهد لرم ، او بله هيڅ رابطه ورسره نلرم . تاسو وينئ چې نور مهاجرين هم په مکه کې خپلوان او خپلولي لري چې د دوی د کورنيو او مالونو څخه ساتنه کوي ، ما چې په مکه کې خپل او خپلوان نه درلودل د هغوی د ځينو کسانو سره مې دا تعهد کړی ؤ چې زما د مال او اولادونو څخه دې حمايت وکړي . او دا کار مې د دې لپاره هيڅکله نه کړی گوندې زه دی د اسلام څخه گرځيدل يم . د اسلام راوړلو څخه مې وروسته د کفر سره هيڅکله زړه نه دی تړلی . رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغه عذر ومنلو ، او خپلو اصحابو ته يې په خطاب کې وويل : حاطب تاسو ته دروغ نه وايي،عمربن خطاب له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه وغوښتل اجازه راته وکړئ چې سر يې غوڅ کړم . رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته په ځواب کې وويل : الله تعالی ښه پيژني . الله تعالی ويلي دي : اې بدری يينو ! هرڅه مو چې خوښه وي وه يې کړئ ، ماتاسو ښښلي ياستی ).[1]

۳ – د خبرو پر وخت خبرې ته ښه غوږ نيول ، حتی د اړتيا په صورت کې د خبرې د حقيقت لپاره بيا پوښتنه کول . د خيبر په ورځ رسول الله صلی الله عليه وسلم بيرغ حضرت علی رضی الله عنه ته سپاري. او په خطاب ورته وايی ( زه لاړشه د

---

١ - مسند الإمام أحمد, حيث : ٦٠٠ .

خيبر د دروازه دبر سره کيدو پورې وجنگيږه ، د فتحى پورې وجنگيږه او راونه گرځئ ) حضرت على رضى الله عنه پس له څو قدمه وړاندي لاړ دا چى مسؤليت ورته سپارل شوى احساس يې درلود؛ کارورته و سپارل شو خو حدود يې معلوم نه وو چى تر کومه به وجنگيږي، او د توضـيح ضرورت يى درلود؛ بيا د رسـو الله صـلى الله عليه وسـلم حضـور ته راغى او يې پوښـتل د هغوى سره په کومو شرطونو ، او تر کوم وخته پورى وجنگيږو ؟ د الله رسـول ورته وفرمايل : ( تر هغى پورې ورسره وجنگيږه تر څو د دې گواهي ورکړي چې پرته له الله تعالى هيڅ فرمان روا نشته ، اوبل فريادرس نشته او محمد د الله بنده او دهغو رسول دى ) که چيرې دوى حاضر شـول ؛ نو بيا دهغوى د وينو تويول ، او د هغوى د مالونو اخيستل مونږ ته روا نه دي ؛ مگر په هغه مواردو کې چې اخستل يې جايز دي ، او حساب يي په الله تعالى دى ).

۴ – د ناسـتې ولاړې او ملگرتيا ترڅنگ بايد د نورو خلکو په اړه معلومات تر لاسـه شي .

يو شـخص د عمر رضـى الله عنه په مخکى د يو بل شـخص ډير زيات صـفت وکړ ؛عمر رضـى الله عنه وفرمايل : کله دې د هغه سره په سـفر تللى ؟ هغه وويل : نه يم تللى. عمر رضـى الله عنه وفرمايل : کله ورته امانت سـپارلى ؟ هغه وويل : نه داسى کا مى نه دى کړى ، عمر رضى الله عنه وويل : چوپ شه نور د هغه صفت

ونکړی ؛ فکر کووم تا هغه سم نه دی پیژندلی هغه دي په مسجد کی لیدلی چی سریي ښکته او پورته کولو .

٥ – په حساسه موضوع کې هغه څوک مخامخ کول چې موضوع په هغوی پورې تړلې وي . کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت علی رضی الله عنه یمن ته د قا ضی په صفت لیږلو نو اول یې ورته د اطمینان حا صلولو په غرض په یو ډول تفاوت ور وښودلو: ( الله تعالی دې د لارښوونې قابلیت زیات کړه، او ژبه دې الله تعالی سمه کړه! هر کله چې د دعوا دواړې خواوې درته حاضرې شوې، او د یو شخص خبرې دې ښې واوریدې، د دوهم شخص د خبرو داوریدو څخه مخکې قضاوت مه کوه، دا ددې باعث گرځې چې درست او دقیق قضاوت وکړای شي ).[1]

٦ – د یو ځل څخه هم زیات په مختلفو وختونو کې د یو چا څخه په تکرار سره خبره اوریدل له هغو څخه چی موضـــوع ورپورې تړاولري، او هغه خبرې په خپل منځ کې څو ځلې مقایسه کول د مثال په ډول دی روایت ته توجه وکړئ .

عائشې رضی الله عنها ته خبر ورسید چی عبدالله بن عمر رضي الله عنهما اراده لري چې د مصرـ څخه د حج لپاره راشي . عائشــی رضــی الله عنها خپل خوریي عروه بن زبیر ته وویل چې :داســـې خبر راغای چې عبدالله بن عمر اراده لري

١ - سنن أبي داود، كتاب القضاء.

چې د مدينې له لارې حج ته ولاړ شي . کوښښ وکړه چې له هغه سره ووينې او هر څومره چې ممکن وي له هغه څخه پوښتنې وکړه؛ ځکه هغه د رسول الله صلی الله علیه و سلم څخه زيات علم زده کړی . عروه رضی الله عنه وايي : چې ما له عبدالله بن عمر رضی الله عنه سره ملاقات وکړ، د ټولو هغه څه چې ده درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه زده کړي وه ورڅخه مې و پوښتل . د هغه څه له جملې څخه چې ماته يې وويل يو يې داؤ: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي : ( الله تعالی علم د خلکو د منځ څخه په يوځل نه اوچتوي ؛ مگر دا چې د علماوو مرگ راشي ، کله چې علماء مړه شي علم سره د اهله اوچتيږي ، او د خلکو په منځ کې جاهلان پاتې کيږي ، او پرته له علمه خلک په خپل منځو کې سره اچوي . خپله هم گمراه وي ، او نور هم په گمراهی کې اچوي ) عروه رضی الله عنه وايي هرڅه می چی د عبدالله بن عمر څخه واوريدل ټول می حضرت عايشې رضي الله عنها ته وويل ؛ مگر هغې د دې روايت په اړه شک او ترديد درلود ، او ورته سخته وه چې دا ومني چې دا به رسول الله صلی الله علیه وسلم ويلی وي . او راته يې وويل : عروه ! آيا هغه تاته وويل چې هغه دا روايت د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوريدلی دی ؟ ورته مې وويل که ته غواړې ؛ نو کله چې د حج څخه واپس راوگرځيده ورڅخه به بيا وپوښتم؟ عايشې رضي الله عنها وفرمايل: هو ! کله چې عبدالله بن عمر رضی الله عنه له

حج څخه راوګرځيده ورسره وګوره ، او ورڅخه د دې حديث په باره کې بيا پوښتنه وکړه ! عروه رضـــى الله عنه وايې : ما له هغه څخه د نوموړي حديث په اړه بيا پوښــتنه وکړه . حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه راته د علم د حديث بيا په هکله هما غسې وويل . ما هم دقيقا هماغسې حضرت عايشى رضى الله عنها ته نقل کړلو . هغې وويل : فکر کوم هغه به رښــتيا ويلي وي ځکه په خبرو چي يې هيڅ کمی او زياتی د لومړي ځل سره نشته .[1]

داسې او دې ورته نورې ډيرې لارې شته چې متاسفانه خلک يې په اړه معلومات نه لري . او د وينا وو سره پرته له تحقيقه او ثبوته نا عادلانه برخورد کوي .

**٦ – په ديني احساساتو، او عاطفو کې افراط:**

ديني جوش او جـذبـه، او ديني افراطي حـالـت پـه ځينو مواردو کې د بيړنۍ پريکړې ، او بې ثبوته ، او بې علمه فيصـــلې لامل ګرځي دانســـان څخه اختيار اخلي، او هغه نا همواره لارې ته ســوقوي . بالآخره په ژوند کې يې سرګردانوي، او ناکاموي يې. غوره به وي چې اسامه بن زيد د روايت په روښنايۍ کې ددې عامل سره ښـه اشـناشـو: اسـامه رضـى الله عنه فرمايې : ( رسـول الله صـلى الله عليه وسلم ( حرقي) ته واستولم. سحروختي زه د هغوی له شخص سره مخامخ شوم ، هر کله چې هغه ځان محاصره وليد ويي ويل : لااله الا الله ، انصارو ورڅخه لاس

---

١ - صحيح الامام مسلم، كتاب العلم .

اوچت کړ ؛ مګرما په خپلې نیزې سره هغه له پښو وغورځولو ، له هغې نه وروسته چې کله د رسول الله صلی الله علیه وسلم خدمت ته حاضر شوم ، خلکو د دغې واقعې خبر رسول الله صلی الله علیه وسلم ته رسولی ؤ ، رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل : اسامه! پس له هغې نه چې هغه لااله الا الله وویل تا هغه ووژلو ؟! ما وویل : هغه غوښتل د دې په ویلو سره ځان خلاص کړي . رسول الله صلی الله علیه وسلم دا خبره دومره تکرار کړه ، او زه یې سرزنش کړم چې ما ددې ارمان وکړ چې کاش زه د دې څخه مخکې نه وی مسلمان شوی ). بلې! د اسامه رضي الله عنه د تحریک عامل پس له هغې چې د هغه کس په ژبه لااله الا الله جاري شوه کومه کلمه چې ځان او مال ته عصمت وربښې پرته له سر کشو احساساتو او جذباتي عاطفې بل څه نه ؤ. هغه احساسات چې د اسامه رضی الله عنه د سوچ اوارادې، او دبندي شخص د شهادت د ویلو تر منځ یې پرده وغوړوله هغه احساسات چې د بندې د اقرار له درست درک کولو په مخ کې مانع واقع شو ، او هغه یې په درواغو، فریب او دوکه باندې متهم کړ ، او دا یې ورڅخه له یاده وویستل چې یواځې الله تعالی دی چې د زړونو په پټو رازونو آګاه دی ، او یواځې هغه د سینو په رازونو باندې خبر دی اوبس . الله تعالی فرمایي : ( **قُلْ إِن تُخْفُواْ مَا فِي صُدُورِكُمْ أَوْ تُبْدُوهُ يَعْلَمْهُ اللّهُ** ). [1] دوی ته ووایه ! که چیرې پټ

١ - د آل عمران سورت : ٢٩ آیت .

کړی هغه څه چې ستاسو په سينو کې دي ، او که هغه ښکاره کړی الله تعالی پرې خبر دی . په بل ځای کې فرمايي: ( **يعلم خاينة الأعين و ما تخفي الصدور**). [1] ( پوهيږي – الله تعالی – د سترگو غلا، او په هغه څه چې په سينو کې پټ دي .

## ۷- د دنيا په متاع پورې زړه تړل:

همدارنگه کله د دنيوي دروغجنو، او فنا کوونکو مظاهرو پورې زړه تړل ددې ډول بيمار يو سبب گرځي ، او په بيړه د نظر ورکولو ، او صريح حکم کولو لامل گرځي . ځکه له حده زياته مينه او عشق د انسان سترگې ړندوي ، او غوږونه درونِدوي . او د تحقيق او څيړنې ، او حقيقت موندنې په مخ کې مانع واقع کيږي . الله تعالی همدغي موضوع ته ا شاره کوي ، او فرمايي : ( **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِذَا ضَرَبْتُمْ فِي سَبِيلِ اللّهِ فَتَبَيَّنُواْ وَلاَ تَقُولُواْ لِمَنْ أَلْقَى إِلَيْكُمُ السَّلاَمَ لَسْتَ مُؤْمِنًا تَبْتَغُونَ عَرَضَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فَعِندَ اللّهِ مَغَانِمُ كَثِيرَةٌ**). [2] اې هغه کسانو چې ايمان مو راوړی ! کله چې د جهاد لپاره په سفر تللی حقيقت معلوموئ ( چې له چا سره جنگيږئ آيا مسلمانان دي او که کافران) ، او چاچې تاسو ته سلام واچولو ( خپل ځان يې مسلمان معرفي کړ) ورته مه واياست چې ته مؤمن نه يې، په دې خبرو سره تاسې

---

۱ - د المؤمن سورت : ۱۹ آيت .

۲ - د النساء سورت : ۹۴ آيت .

د دنیا د مال په لټه کې یاست ( بلکې د هغه سلام و منئ) ځکه د الله تعالی ډیر غنیمتونه دي .

**۸ - په بیړه سره دنظر ورکولو او په بیړه د حکم کولو له نتایجو څخه بې خبري:**

بالاخره د عجولانه فیصـــلو ، او قضــاوت د نتایجو څخه بې توجهي ، او د دې د مسـئولیت څخه بې خبري د عجولانه فیصـلې ، تیز قضـاوت لامل گرځي ، او په نتیجه کې پرته له تحقیق ، او ارامۍ فیصـله صـادریږي . ځکه د یوشي د نتایجو څخه غفلت او بې خبري هرڅومره چې زیاته وي په هماغه اندازه انســان له بدو عواقبو سره مخامخ کوي ؛ مگر هغه څوک چې الله تعالی یې وساتي.

**دریم : د عجولانه حکم ، او په تیزې سره د قضاوت کولو نښې نښانې :**

دا امراض ځانگړې علامې او نښــې نښـانې لري ، چې عجولانه حکم ، او په تیزې سره قصاوت باندې دلالت کوي ، چې ځینوته یې په لاندې ډول اشاره کوو :

۱ - د هغه کسانو ، او ډلو سره دښمني کول ، او ور څخه فاصله نیول چې اسلام ته کار کوي چې داکار دښـــمنیو ته ، هجوم او د چا په حق کې ناســـمه او ناروا تبلیغاتو ته زمینه مســـاعد وي پرته له دې چې د هغوی سره ناســـته ولاړه وشي ، رفت او آمد ورسره وشي، او د هغوی د حال احوال او اخلاقو څخه له نږدې نه خبر شي .

۲ - ظاهر ته توجه کول ، او ظاهر معيار گرځول ، او د باطن په اړه بې توجهي او بې تفاوتي ، متاسفانه چې نن صبا ځينې زياتې ډلې چې د دين لپاره کار کوي د هرڅه د مخه د انسان ظاهر لکه : ږيره ، مسواک ، لباس ، خولۍ او پټکی .... ته زيات ارزښت ورکوي او د شخص عمل او ماهيت په اړه بيخي بې تفاوته وي ، داسي وضعه د دې باعث گرځي چې ښه اوبد، رښتينی او درواغجن او له يوبل څخه تشـــخيص شي . البته زمونږ قصــد دانه دی چې دغه موارد بې اهميته او شاته واچوو ځکه د دې په اړه روايات سره د صحت او سقم شتون لري ، او دلته د دوی په اړه د تحقيق کولو ځای نه دی. مگر هغه څه چې مونږ يې د يو مســلمان څخه آرزو لرو هغه داولويتونو د ترتيب رعايتول، او دانسان د فکر او کار ماهيت ته احترام او قدر دانې کول دي . هرڅومره چې د هغه ظاهر برابر نه وي ، ځکه د ده ظاهر ده ته کوم ضرر نشي رسولاي.

۳ – د بل چا عذر او بهانه نه قبلول ، او دهغوی اســتدلال ته بي توجهي په دې بهانه چې د انسان په ژوند کې مانع ، او مشکل کومه معنا نلري .

۴ – د هرې خبرې د اوريدو، او هر کار په ليدو سره بې له درنگه دهغې په اړه خوله خوځول، او هغه نورو خلکو ته رسول.

۵ – د دستور د تر لاسه کولو او اوريدلو سره په ډيره تيزې سره صريحه اقدام کول بدون له دې چي فکر په کې وشي چې دا دســتور د چا له خوا دی ؟ دســتور

راوړونکی څوک دی او پرته له دې چې د دې څخه ځان خبر کړي چې د تکليف د تعين حق او مسئوليت د چادی؟

**څلورم : د عجولانه حکم او قضاوت ناوړه پايلې:**

په عجولانه ډول فيصلې ، او په تيزۍ سره د قضاوت کول په اسلامي دعوت ، او دعوتگرو باندې ډيرې ناوړه اغيزې له ځانه سره لري ، چې ځينو ته يې په لاندې ډول اشاره کوو:

**پر دينداراتو او دعوتگرو يې اغيزې:**

**١ - په بې گناهانو تهمت لگول:**

په حضرت عايشه رضي الله عنها باندې په ناحقه تهمت ولگول شو؛ هغه چې آن د جاهليت دزمانې څخه يي لمنه پاکه وه ؛ داخو لا پريږده چې په مسلمانيدو يې الله تعالی مقام نور هم اوچت کړ ، او د مســــلمانانو درهبر، او دپيغمبرانو څخه د غوره پيغمبر ،او د مسلمانانو د پيغمبر ماندينه شوه داسې تهمت چې مسلمانان ، دالله تعالی پيغمبر ، دهغه کورنۍ او په ځانگړې توگه د پيغمبر د ښـځې د دې ټولو د پريشانۍ او اضطراب سبب وگرځيده ، او دا پريشاني تريوې مياشتی پورې وخت ونيوه تر هغې پورې ترڅو چې د الله تعالی له خوا د تزکيی آيتونه را نازل شول.

د دې تهمت علت يو د منافقينو له خوا د شــــايعاتو خپرول وه . او له بلې خوا د خلکو له طرفه عدم تحقيق او ځيرنه وه چې په پټو سـترگويی شـايعات ومنل. الله

تعالى فرمايى : (**لَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ الْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بِأَنفُسِهِمْ خَيْرًا وَقَالُوا هَذَا إِفْكٌ مُّبِينٌ لَوْلَا جَاؤُوا عَلَيْهِ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاء فَإِذْ لَمْ يَأْتُوا بِالشُّهَدَاء فَأُوْلَئِكَ عِندَ اللَّهِ هُمُ الْكَاذِبُونَ**).[1] ولې کله مو چې تهمت واوريدلو مؤمنانو سړو او ښځو په خپل ځان باندې نيک گمان ونه کړ ! او داسې مو ونه ويل : چې دا ښکاره تهمت دى . ولې دوى په دې تهمت باندې څلور گواهان راوړندې نه کړل؟! کله چې دوى څلور گواهان رانه وستل نو دا خلک د الله تعال په نزد هم دوى درواغجن دي .فکر کوم د دعوتگرو لپاره دا نمونه کافي ده . ځکه د فتنې اچولو او گنهگاريدو سبب دى . په هغه شکل چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي : د الله تعالى غوره بندگان هغه دي چې په ليدو سره انسان ته الله تعالى رايادېږي . او د الله تعالى په خلکو کې بد ترين خلک چغل گرخلک دي ، چې د دوستانو په منځ کې دشنبي را منځ ته کوي ، او د بې گناه خلکو په لمنو داغ لگوي ).

**۲ – وينه تويول ، او دمالونو چورکول:**

اسامه بن زيد رضى الله عنه او نورو کسانو پرته له تامل او تحقيق څخه توره وکاروله ، او په توره يې خلک ووژل ، او دهغې مالونه يې مصادره کړل . دا واقعه او دې ته ورته نورو حادثو په اړه الله تعالى فرمايې : ( **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِذَا ضَرَبْتُمْ فِي سَبِيلِ اللّهِ فَتَبَيَّنُواْ وَلاَ تَقُولُواْ لِمَنْ أَلْقَى إِلَيْكُمُ السَّلاَمَ لَسْتَ مُؤْمِنًا تَبْتَغُونَ عَرَضَ الْحَيَاةِ**

---

۱ - د النور سورت : ۱۲ – ۱۳ آيتونه.

**الدُّنْيَا فَعِندَ اللّهِ مَغَانِمُ كَثِيرَةٌ كَذَلِكَ كُنتُم مِّن قَبْلُ فَمَنَّ اللّهُ عَلَيْكُمْ فَتَبَيَّنُواْ إِنَّ اللّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا** ) . [1] ( اې هغه کسانو چې ایمان مو راوړی! کله چې ( د جهاد لپاره) په سفر تللی حقیقت معلوموئ ( چې له چا سره جنګیږی آیا مسلمانان دي او که کافران ) او چاچې تاسو ته سلام واچولو ( خپل ځان یې مسلمان معرفي کړ) ورته مه وایاست چې ته مؤمن نه یي ، په دې خبرو سره تاسې د دنیا د مال په لټه کی یاســـت ( بلکې د هغه ســـلام و منی) ځکه د الله تعالی سره ډیر غنیمتونه دي تاسی مخکی داسی وی نو الله تعالی په تاسو احسان وکړ نو تاسی ښه وضاحت کوی ځکه الله تعالی ستاسو کړو ښه خبر ده) .

## ۳ - حسرت او پښیماني:

دپیغمبر علیه الســـلام ځینې ملګري چې له حده زیات د (افک) په واقعه کې دلچسـپي واخسـتله ، او پرته له تحقیقه یې دا جریان نورو ته نقلولو؛ لکه حسـان بن ثابت ، او مسطح بن اثاثه او داسې نور چې د اسلام د راوړلو څخه وروسته یې دهغوی مالونه واخیستل لکه ا سامه بن زید رضی الله عنه ورو سته له دې د الله تعالی له لورې آیتونه راغلل ، اوددوی دغه کړنې یې ناروا وبللې ، او دموضـوع په باره کې توضیحات راغلل داسې کسان په خپلو کړو پښیمانه وو ، آن تردې چې د مرګ تروخته پورې خپلو کړو ازارول الله تعالی د ولید بن ابي معیط په اړه چې

---

۱ - د النساء سورت : ۹۴ آیت .

کوم برخورد یې بنی مصـــطلق له قبیلې سره کړی ؤ د اشـــارې په ډول وایي : (**فَتُصْــبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ**).[1] پس وبه گرځی په هغه څه چی تاســو یي کوی پښیمانه ) .

## ۴ – د خلکو اطمینان د لاسه ورکول ، او د نفرتونو را منځ ته کول:

ځوک چې د خلکو په منځ کې په عجولانه قضــاوت باندې وپیژندل شــو، خلک هغه ته د ناپوهه او احمق په سترگه گوري . طبعي ده چې دا سې انسانان نشي کولای چې د خلکو ترمنځ باور لاس ته راړوي او خلکورباندې اعتماد وکړي ؛ آن تردې د دوې په اړه خلک احســـاس د نفرت کوي . او کله چې د اطمینان او محبت ځای کرکه ، نفرت او کینه ونیسي بیانو د دوستانو د جلب او جذب لپاره د مسلمان سره بله کومه لاره نه پاتې کیږي.

## ۵ – د الله تعالی دغضب لاندې واقع کیدل:

ځوک چې تحقیق او ځیړنه بي ارزښته وگڼي د زیاتو لغز شونو ، او اشتباهاتو سره مخامخ کیږي چې په نتیجه کي د الله تعالی دغضــب لاندې واقع کیږي ، او پر هر چاچې د الله تعالی غضب واقع شو ؛ نو په دنیا ، او آخرت کې د ښکاره زیان

١ - د الحجرات سورت : ٦ آیت .

سره مخ شـو. الله تعالی فرمايلي دي : (وَمَن يَحْلِلْ عَلَيْهِ غَضَـبِي فَقَدْ هَوَى ). [۱] ( او په چاچې زما غضب واقع شو، هغه هلاک شو)

**په اسلامی دعوت په بیړه سره فیصله کولو آثار:**

**۱ - په بیړه سره فیصـــله کول د دعوتگرو په صـــفونو کې بې نظمي او خلل رامنځ ته کوي** : د في ظلال القرآن د تفسير ليکونکی د دې موضوع څخه داسې تصوير وړاندې کوي : ( د دا ډول منفي شايعاتو خپريدل د هغه مبارزينو په منځ کې چې په خپل توان باور لري، او ثابت ولاړ وي د دوی صـــفونه د اختلال او بې نظمی سبب گرځي.

د فی ظلال القرآن ليکوال پدې هکله هراړخيز او څرگند انځوردې موضـــوع ته کتلی اوفرمايي: په خپل ځواک ډاډمنو سربښـــندونکو او ټينگوولاړو په منځ کی د داسې ناوړه او ترهگرو اوازو خپراوی د ډيريدو گډو ډير او ويجاړ يو لامل گرځيدلی دی ، او ناسم ، غير ضروري خوزښتونه د دی لپاره چې د هغه څه مخنيوی وکړي چې ترې بيريږي . داســـې خزښـــتونه دي چې کيدای شي يو مهال له منځه وړونکي او تباه کوونکي وي.[۲] همدا شـان هغه پېښـه چې د اوس او خزرج قبيلو ترمنځ په مدينه منوره کې رامنځته شـوه ، د هغه فتنه اچوونکی يهودي ســړی د

۱ - د طه سورت : ۸۱ .

۲ - في ظلال القرآن، ټوک ۲، مخ ۴٦۸ .

فتنه اچوونکو خبرو لامله ؤ چې د دوی په منځ کې يې ځای نيولی ؤ ، هغه هم داسې ورځې چې په دوی کې صفا او صميمت خپل سيوری غوړولائ ؤ ، يهودي سړي هغوی ته د ايوم البعاث جګړې پخوانی وژنی او چور او شوکې ورپه ياد کړې ، تر دې چې خپل وګړي او نارينه چمتو او وســلوال يو بل سره مخامخ کړي او يو د بل څخه غچ واخلي ، هو د جاهليت زمانې د دود سره سم د اوس او خزرج ډلو خپل نارينه جګړی ته چمتو کړل ، که چيرې د الله جل جلاله رحمت او لطف او د رســول الله صــلی الله عليه وســلم منځګړ توب نه وای هماغه د جاهليت په ځيروژنی ، څو خواوی توب وضــعيت او حالت بيا ژوندی کيده د الله جل جلاله رســول هغوی ته د کفر او ګمراهی نه وروســته د الله جل جلاله هدايت او نعمت يادونه وکړه وی فرمايل : اې مسلمانانو ! الله جل جلاله ته وګورئ! تا سې غواړی د جاهلي پير جګړې او د عواويي را ژوندی کړئ پداســې حال کې چې زه په تا سې کې شتون لرم او الله جل جلاله تا سوته د ا سلام په لور لارښوونه کړې ده او دهغه په مټ يې عزت او کرامت درېښلی دی ، او دجاهليت دوران دود او رواج يې تاســونه لرې کړی دی او دکفرنه يې ژغورلي ياســت او تاســو کې يې مينه او محبت راوســتی دی د دې ټولو سره غواړی هغه څه ته واوړئ چې د هغه لامله کافر وی .[1]

---

١ - د ابن کثير تفسير، ټوک ١، مخ ٣٩٨ .

او همداسی واقعه چې پنځو سمه ميلادي لسيزه کې د مصر اسلامي تحريک ته پيدا شوه پدې ډول چې : د تحريک يو شمېر غړو د فتنه گرو او کينه کرو او اهل باطل پوچو خبرو ته يي بی تحقيق او بې تامله غوږ ونيوه او د څه مودې لپاره د بلونکو او دعوت کوونکو ترمنځ اختلاف او دلگه گی څرگندی شــوي ، کچيرې د الله جل جلاله رحم ، اراده او حکمت او د هغوی د يوې ډلې ثابت قدمي نه وای يقيناً اسلامي دعوت به يوي سيلۍ له منځه وړی وای .

## ۲ - ددينې کار لوری تت کېدل :

په کارونو کې د حقيقت نه معلومول او ځيرنه نه کول نيغ په نيغه د دعوت په تگلوري باندی اغيز لري او داســـتی رکود لامل گرځې ، او د يو لړ ســتونزو او بوختيا ؤ د شتون لامله چې انسان خفه کوي رکود رامنځه کوي همغه شان چې د فی ظلال القرآن ليکوال فرمايي : ( داســی اوازی خپرول چي گوا کې امنيت دی او خطر نشته ، د هغو مجاهدينو او لښکريانو په منځ کې چې ويښ او چمتو دي او د دښــمن ديرغل په انتطار دي که څه هم چې د چمتووالی او هوښــيار اوسـيدو کلک فرمان هم ورکړشـوی وي بيا هم يو ډول ســستې او غفلت منځته راوړي او همدا ستونزه په خپله ډيری ناخوالې او کړاوونه زيږولای شي ).[۱]

۱ - فی ظلال القرآن، ټوک ۲ ،مخ : ۴۶۷ – ۴٦٨.

**۳ - نا اهلو او ښکیلاګروته وخت ورکول :**

د څېړنې او تحقیق نه وروســته قضــاوت ته نه پاملرنه او اهمال ډیری اســلامي ټولنې او ګوندونه د بدنیتو او نا اهلو خلکو تیرې لاندې راوســتی شي او ډیری مســئلی د دوی بر بنډه وي چې توریې واوري او و ګوري چې د اخطر کوم عادي او ســاده خطرنه دی او دغه دســتورې خلک یوازې د دغو ټولنو او ګوندونو د خرابولو او بربادولو هلې ځلې کوي او دهغو په ضـد توطیې او دسـیســې جوړوي خو په خواشـینی سره چې د دغو ټولنو اصـلي بنسـټ ایښـودونکي اوځښـتنان د غفلت په خوب بیده دي او دغه خورا خطري ستونزې ته پام نه کوي .

**۴ – د ځینو یارانو او هم خیالو دوستانو له لاسه ورکول :**

د عجولانه قضــاوت او نظر څرګندولو سره ، اســلامي دعوت خپل ډیر پلویان او همفکره خلک له لاسه ورکولای شي او داسی هم شوي چې همغوی د خپل فکر او وړتیا وســله د همدې اســلامي عمل په وړاندې کارولې ده په داســې حال کې چې تمه دا وه چې دوی به د دعاتو ترڅنګ او کتار کې ودریږي.

**۵ – د واقعیتونو پریښوول او هواګزول :**

عجول ، وارخطا ، تحقیق نه تښــتیدونکي او فیصـــله کوونکي خلک کارونه اپوټه څرګندوي او د واقعیت څیره هغه شان نه جوتوي په کوم شان چې وي ، دوی که

کومه طرحه او پروګرام او فکرولري هغه هم سست خیالي او د واقعیت نه لرى وي چې داسی کړنی یوازې دماتې او بن بنست سره مخ وي او بس .

**٦ – د الله جل جلاله د مرستی نه پاتیدل :**

د صحیح عادلانه او څیړوندویه قضاوت په توجه نه کولو برسیره په یادوشوو ناوړه پایي د زړه د ککړتیا او رنګ کیدو لامل ګرځي او دا حالت د الله جل جلاله په د مرســـتې او تایید نه د محرومیت زمینه برابروي ، ځکه بندګانو سره د الله جل جلاله د مرستې او توفیق شرط دادی چې بندګان د الله جل جلاله په لاره ثابت او ټینګ وي .

الله تعالی فرمایی : (**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تَنصُرُوا اللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ**) .[١]

( ای ایمان والو! که د الله له دین سره مو مرســـته وکړه هغه هم له تاســـو سره مرسته کوي او ستاسو قدمونه ټینګوي ) او همدارنګه فرمایی : (**وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِينَ إِنَّهُمْ لَهُمُ الْمَنصُورُونَ وَإِنَّ جُندَنَا لَهُمُ الْغَالِبُونَ**). [٢]

زمونږ وعده د خپلو استول شوو بندګانو په هکله پخوا ( په لوح محفوظ ) کې ثبت شوی او هغه دا چې یقینا مرسته به ورسره کیږي او زمونږ لښکر په هرومرو بریالی کیږي.

---

١ - د محمد سورت : ٧ آیت .

٢ - ی الصافات سورت: ١٧١ – ١٧٣ .

**د عجولانه او ژر قضاوتونو د زيان علاج :**

بيان شــوو مطالبو ته په پام کولو سره دغه زيان وپيژندل شــو او چوکاټ يې جوت شــو خو د علاج لارونه خبريدل هم لازم او ضروري دي ، د علاج تګلورى د لاندې نکتو له لارې کولاى شو :

**۱ - د پرهيز ګارى خوى تقويه او دهغه د څارنې او حضور احساس :**

ځکه که داســې خوى او خصـلت په انســان کې تقويه شي نو هغه کې د حقيقت ويلو ، دقت او تامل او انصـــاف کولو صـــنعت هم پياوړى کيږى ، او دزړه ډيوه روښانه کوي او بصيرت او نظر ځلانده کوي الله تعالى فرمايى : ( **يآأيهاالذين آمنوا إن تتقوا الله يجعل لکم فرقانا** ). [۱] اې مؤمنانو ! که دالله جل جلاله نه بير ه ولرى او پرهيز ګاري وکړئ الله جل جلاله ځانګړى بصيرت تاسوته درکوي چې په رڼا کې يې حق له باطل نه جلا کوي.

دعلاج لاروته دپيغمبر عليه الســـلام په لارښـــوونو کې هم اشـــاره شـــوى ده چې فرمايي : تحقيق کول او يقين ترلاسه کول د الله جل جلاله او عجله او وارخطايي د شيطان کار دي .

۲ – د الله جل جلاله کار په وړاندى د اودريدو يادونه چې الله ته ځواب ووايي يا ثواب يا سزا ورکړي الله جلت عظمته فرمايى : ( **وقفوهم إنهم مسئولون** ).[۲] ( هغوى

---

۱ - د الانفال سورت : ۲۹ آيت .

۲ - د العافات سورت : ۲۴ آيت.

دوی نه پوښتنه کیږی). او همدارنگه فرمایی : ( **فوربک لنسألنهم أجمعین**).[1] ستا په رب قســـم د ټولو نه دهغوی د کړنو په هکله پوښـــتنه کوو . دارنگه فرمایې : (**وَلاَ تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّـمْعَ وَالْبَصَـرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْـؤُولًا**).[2] په ځه چې نه پوهیږی هغه پلټه ځکه غوږ ، سترگه او زړه ټول پو ښتل کیږي . ځکه که دغه یادونه د انســـان په زړه کې ځای پرانیزي هغه په یقیني ډول تحقیق ، ځیړنې بیا قضاوت او نظر ځرگندولو ته اړباسي.

۳ – قرآن او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنتو سره ناسته او ژوند: دقرآن او سنت د لارښونو سره سم د یقین او علم ترلاسه کول بیا د نظر ځرگندول کله چې الله جل جلاله د نســاء ســورت په ۸۳ آیت کې فرمایې : (**وَإِذَا جَاءَهُمْ أَمْرٌ مِّنَ الأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُواْ بِهِ**).[3] ژباړه : کله چې کوم خبر ډاډ یا ډار ځرگندوي دویته راشي نو خپروي یې) همدا شـان فرمایي : (**یآ أیهاالذین آمنوا إن جاءکم فاسـق** ).[4] ژباړه : اې مومنانو! که کوم فاسق تاسوته کوم راپور راووړ نو ښه ځیړنه وکړی هسې نه په ناپوهی سره کومې ډلی ته زیان ورسوی او بیا د خپلو کړنو نه پښیمانه شی . او د ص سورت آیت چې د داود علیه السلام او دوه نفرو په منځ کې اختلاف ؤ په هکله فرمایي : ( **و هل أتاک نبأ الخصم إذا تسور وا المحراب**) .[5]

---

۱ - د الحجر سورت : ۹۲ آیت.

۲ - د الاسراء سورت : ۳٦ آیت.

۳ - د النساء سورت : ۸۳ آیت .

٤ - د الحجرات سورت : ٦ ، آیت .

۵ - د ص سورت : ۲۱، آیت .

ژباړه : آیا د عدل غوښتونکو خبر تاته را رسیدلای چې دهغه د لمونځ ځای نه بره لاړل . او د ملاچرګک او سلیمان علیه السلام اړوند آیت په النمل سورت کې چې هغه ته خطاب کې یې و فرمایل : ( **قال سننظر أصدقت أم كنت من الكاذبين** ) .[1]

ژباړه : وبه ګورو چې رښتیا دي ویلي یا دروغجنو نه یې ؟ ټول دغه آیتونه د څېړنې او پلټنې روچې د تقویه کولو لپاره مونږ هڅوي او تشویقوي .

**۴ - د پخوانیو د ژوند تګلارې او برخلیک مطالعه او څېړنه :**

د ډیرو څیزونو بېلګې پکې شـــته لکه : د عجولانه قضـــاوت کولو او نظر ورکولو نه ډډه کولو روحیه او هغه زمونږ په وړاندې انځوروي د بېلګې په توګه څو مثالونو ته اشاره کوو :

کیســه د حضرت عمر بن الخطاب رضـی الله عنه او په حمص کې د هغه دوالي سعید بن عامر رضی الله عنه جمعي اړوند ده ، عمر رضی الله عنه دغه ښار ته یو ســفر درلود ، د حمص خلکو نه یې د خپل والي په اړه وپوښـــتل چې : والي مو څنګه دی ؟ هغوی د سـعید بن عامر نه ګیله درلوده او دکوفې نه وروسـته ټولو نه زیات شکایت د حمص خلکو د خپلو چارواکو نه درلود په همدې دلیل دغو خلکو ته د دوهم کوفیانو لقب ورکړ شـــوی ؤ د حمص خلکو د اســـی نیوکې درلودې د سعید بن عامر نه یعنی د څلورو خبرو په هکله یې ورنه ګیله درلوده :

---

۱ - د النمل سورت : ۲۷، آیت .

۱ – ترڅو لمر اوچت نشي مونږ ته نه راځي، عمر رضی الله عنه وویل ځومره لویه غلطي ولې داسې کوي؟

۲ – په شـپو کې هیڅوک خپل حضـور ته نه مني ، حضرـت عمر رضــی الله عنه وفرمایل : دا هم د حیرانتیا وړده ولې داسې وشي ؟

۳ – میاشت کې یوه ورځ بیخي مونږ ته نه راځي

۴ – کله کله ناڅاپه بېهوښه کیږي او اغماء حالت ته ځي ، حضرت عمر رضی الله عنه پدې هکله قضــاوت او نظر ځرګندونه ونه کړه ترڅویې هغه راوغوښــت ، کله چې : سعید بن عامر راغلو عمر رضی الله عنه وفرمایل : یا الله ځومره ښه ګمان مې پرې درلود، ســتا څخه غواړم چې غلطي مې نه وي کړي . محاکمه او ارزونه پېل شــوه او عمر رضــی الله عنه خلکوته وفرمایل : دا چې ســعید په خپله دلته شــتون لري څه نیوکه پرې لرئ ؟ هغوی وویل : ترڅو لمر اوچت نشي- مونږ ته نه راځي ، عمر رضی الله عنه سعید رض ته وویل : ځواب څه دی ؟ سعید وویل : په الله قســم چې نه وم چې داخبره یاده کړم خوکله اوړه واغږم ( لامده کړم) بیا انتظار وباسم چې چمتو او خمیره شي بیا ډوډی پخه کړم بیا اودس وکړم وروسته تاسوته راشم؟!

عمر رضــی الله عنه وفرمایل : نورڅه شـکایت ورنه لرئ ؟ هغوی وویل : شــپو کې څوک نه مني ، عمر رضــی الله عنه  وفرمایل : ســعیده څه ځواب لری ؟ ســعید

رضـی الله عنه وويل : په الله قسـم د دې موضـوع په ويلو راضي نه وم ، خو اوس يې وايم : ما خپله ورځ د خلکو په واک او خپله شـپه د الله جل جلاله عبادت لپاره ځانگړی کړې ده . عمر رضی الله عنه وفرمايل : ستاسو ورستی پوښتنه څه ده ؟ هغوی وايې ؟ سعيد وويل : په مياشت کې يوه ورځ بالکل نه راووځي . عمر رض وفرمايل : سعيده څه ځواب وايې ؟ سعيد وويل : د جامو وينځلو لپاره څوک نلرم او يوازې يو جوړ جامې لرم ، خپلی جامې وينځم او ناست يم ترڅو وچې شي بيا يې واغوندم او دورځې په پای کې دوی ته ورځم . عمر رض وفرمايل : نر څه شکايت تری لری ؟ هغوی وويل : په ورځ کې يوځل بېهوښه کيږي او اغماء حالت پری راځي عمر رضـی الله عنه وفرمايل سـتا ځواب څه دی اې سـعيده ؟ سـعيد وويل : د خبيب انصـاري رضـی الله عنه د شـهادت شـاهد وم چې د مکې د مشرکينو لخوا په شهادت ورسيد ، د بدن غوښې يې توټه پرې کولې بيايې هغه د ونې ډډ پورې وتاړه او ورته ويل يې : دا خوښـوې چې اوس محمد صـلی الله عليه وسـلم سـتا په ځای وي ؟ خبيب رضي الله عنه وويل : په الله جل جلاله قسم چې دانه خوښوم چې دخپلې ښځې او اولادونو په منځ کې اوسم او د رسول الله صـلی الله عليه وسـلم په پښـه ازغی لاړشي بيا يې په اوچت غږ د الله جل جلاله په رسـول الله صـلی الله عليه وسـلم باندې درود وويل ، نو کله چې هغه شيبه او هغه ورځ را ياده شي چې د هغه په سبب ... او په الله جل جلاله باندې

ايمان نه درلود او مرســته مې ورسره ونکړه ، د ځان سره فکر کوم چې د دغه کار په خاطر به الله جل جلاله ما ونه بښــي او د خواشــينی نه بيهوښــه کيږم له دې وروســته چې خلک متوجه شـول چې کيسـه څنگه وه او خوشـحاله شـو او سـعيد پاک وخوت ،عمر رضـــی الله عنه وفرمايل : د الله جل جلاله شـــکر کوم چې د ســعيد په هکله ما غلطې نده کړې ، مدينی ته د بيرته تللو وروســته يې زر ديناره ورته وليږل او ورته وی ليکل : چې خپلې ستونزې پرې لرې کړه خو سعيد هغه په اړو خلکو وويشلې . [1]

ښه ده چې د بنی عباس د يو وزير ابو القاسم بن مسلمه کيسه د يوه ډله د اهل خيبر د يهودوسره چې د هجرت په پنځمه پيړی کې شوې وه را نقل شي : يهودو يو ليک او سند ابوالقاسم ته وښود او دعوای کوله چې دا ليک د رسول الله صلی الله عليه وســـلم د وخت دی چې هغوی يې د جزيې او ماليې د ورکولو څخه معاف کړی ول ، هغه د ســـند په هکله خپل نظر څرگند نکړ او هود يې وکړ چې هغه د نظر او تحقيق خاوندانو په واک کې ورکړي ، ليک يې د بغداد ســتر تاريخ پوه او محدث بغدادي حافظ ته يوړ، هغه ســـند وليد او ويي لوســـت ويي ويل : داليک دروغ او جعلي دی ، ابوالقاسم وويل : د جعلي کيدو دليل څه دی ؟

---

۱ - أخبار عمر , ص ۱٦۲ – ۱٦۴، د حلية الأولياء ابن نعيم نه په نقل .

بغدادي خطیب وویل : د دې لیک یو شاهد معاویه بن ابی سفیان دی او هغه د خیبر جګړې په مهال مسلمان نه ؤ او د خیبر جګړه د هجرت په اووم کال پیښه شوې وه ، خو معاویه د مکې د فتحې په مهال مسلمان شوی دی ، همدارنګه د دی لیک یو بل شاهد سعد بن معاذ دی چې هغه د خیبر پیښې نه وړاندی د هجرت په پنځم کال مړ شوی دی ، ټول د خطیب دې زیرکتیا او پوهی ته حیران شول او وزیر د یهودو د لیک د منلو څخه انکار وکړ ).[1] او بان اثیر اشاره کوي چې ابن جرېو طبري د خطیب نه وړاندې دې موضوع ته اشاره کړې ده. که چیرې ابو القاسم د دې جملې سند په منلو کې بیړه کړې وای او کارپوه او څیړونکي ته یې نه وای سپودلی نو پایله یې څه کیده ؟ پایله یې دا کیده چې د دې کار قبلول او اجرایې د قران د صریح ایت سره بې دلیله تضاد کې واقع کیده چې الله تعالی فرمایي : ( **قَاتِلُواْ الَّذِينَ لاَ يُؤْمِنُونَ بِاللّهِ وَلاَ بِالْيَوْمِ الآخِرِ وَلاَ يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللّهُ وَرَسُولُهُ وَلاَ يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُواْ الْكِتَابَ حَتَّى يُعْطُواْ الْجِزْيَةَ عَن يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ**).[2]

د اهل کتابو هغوکسانو سره جګړه وکړئ چې په الله او دقیامت په ورځ ایمان نه لري او نه هغه څه چې الله جل جلاله په ( قرآن کی) او استازیی یي په خپل سنت کې حرام کړي حرام نه ګڼي او نه د حق قانون مني ، تر هغه مهاله چې

١ - البدایة و النهایة، ټوک ١٢، مخ : ١١٠ – ١١١ .
٢ - د التوبة سورت، ٢٩ آیت .

(اسلام ومني) یا دا چې په خپل لاس جزیه ورکړي او دوی خواروي ) دې موضوع سره ځان عادتول او د پیښــو او حوادثو مطالعه کول لکه د اســامه بن زید ، افک حادثه، د داؤد او دوه شاکیانو کیسه ، او د حضرت سلیمان او هدهد قصه د ولید بن عقبه کیسه د بنی مصطلق یوې ډلې سره چې پخوا مو ورته اشاره کړی او دې واقعیتونوته توجه کول انســان دیته هڅوي چې نصــیحت ومني او تجربه ترلاســه کړي ، دا چې د دې زمانو پیښې د اوسنې زمانې سره تړاولري نو ښه ده چې ډیر ښه او مناسب سرلیک او نصیحت وي د هوښیارانو لپاره

۵ - د ځیرنې او ارزونې تګلارې زده کړی :

او هغه د ځان لپاره یادی کړئ ځکه انســـان طبیعی ډول هیروونکی دی او علاج یې دوامداره یا دول دي . الله تعالی فرمایي : ( **وذكر فإن الذكرى تنفع المؤمنين**).[۱] ورپه یاد کړه ځکه یادول مؤمنانو ته ګټه ر سوي) دځیړنی او رونې اندی نه د غفلت ارزونه د دنیا په ژوند کې او تړاویې دقیامت د پوښـــتنو او ځکه دغه شـــان ځیړنه کولای شي د باطنی هڅونی لپاره ډګر چمتو کړي چې د نظر په څرګندولو او قضاوت کې ژور فکر او ډیره تو جه وکړي.

٦ – هغو کسانو سره ناسته او ملګرتیا چې د فکر ، ارامتیا او پلټنی خاوندان پوري :

---

۱ - د الذاریات سورت : ۵۵ ، آیت .

ځکه دغه شـان ناسـتې ورته سـمون ورکوي ، او هغه يو ډول کيدو ، او بيلگه منلو ته اړباسي په پای کې يې خطاگانې کميږي او ډيرې کرارۍ سره گامونه اخلي ، په ځای موقع حکميانه کړه وړه د خلکو سره مراعاتوي ، په ظاهر او قيافی باندې نه دوکه کيږي ، او د خلکو د ژوند پټو رازونونه د ځان خپرولو لپاره د حدنه زياته پلټنه او تفتيش نه کوي . او د واقعيت لاس د خلکو سره د چلند په ځرنگوالي باندې پرانستی پريږدي .

دحقيقت موندنې او عادلانه قضـــاوت شرطونو په هکله د ټولو د تجربو او تگلارو څخه د ا ستفادې او خبرتيا لپاره هڅه کول . پدی شرط چې د ا سلامي ارزښتونو سره مخالف نه وي ځکه نور په دی ډگر کې فريمانه تجربې ، فرهنگ او تاريخ لري او چېې مسـلمانان يې په ريښـتنی ډول ترسره کړي گټورې لاسـته راوړنې به له ځان سره ولري .

کوم مسـلمان که غواړي د چا په هکله کوم عجولانه قضـاوت وکړي نو ښـه داده چې خپل ځان د هغه په ځای وگڼي او هغه په خپل ځای کښـينوي ، که دغه توجه او دقت په ښـه ډول مراعات کړي او د هر ډول قضـاوت او نظر څرگندلو نه وړاندې دې موضوع تحقيق او څيړنی ته پام وکړي او بيا دی فيصله وکړي ، ځکه هغه څه چې د ځان لپاره نه خوښوي د نورو لپاره دې هم نه خوښوي.

۷ – خپل ځان دی په مسلمانانو باندی په حسن ظن عادت کړي :

مګر دا چي داسی کوم کار تری وشي چې په هیڅ دلیل د منلونه وي . الله تعالی فرمایی: ( **لَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ الْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بِأَنفُسِهِمْ خَيْرًا**).[1]

( آیا دا ښه نه وه چې د افک پیښې داوریدو وروسته نارینه وو او ښځینه وو مومنانو د خپلو ځانونو په هکله ښه ګمان درلودلای ).

نوټ : ددې خطبې موضوعات د ( آسیب شیناسي دینداري و دعوتګری ) نوموتی کتاب څخه اخستل شوې دې چې مولف یې : ډاکټر محمد نوح . ژباړونکی یي : عبدالعزیز سلیمی.[2]

۱ - د النور سورت : ۱۲ آیت.

۲ -د (آسیب شناسی دینداری و دعوتګری) د محمد نوح تألیف د عبدالعزیز سلیمی ژباړه.

﴿٣١﴾

# تکبر او ځان غوره ګڼل

**الحمد لله العزيز العلي المتكبر الذي كل جبار له ذليل خاضع، و كل متكبر في جناب عزه مسكين متواضع، و أشهدأن لآ إله إلا الله وحده لاشريک له، الغني الذي ليس له شريک فی الملک ولا منازع، و أشـــهد أن محمدا عبده و رســـوله الذي بعثه الله للعالمين كافة نجم ساطع صلی الله عليه وآله و صحبه وسلم ما سجدلله ساجد، أو ركع لله راكع .**

**قال الله سبحانه و تعالی : ( إن الذين يستكبرون عن عبادتي سيد خلون جهنم داخرين).**[1] (بیشـــکه هغه کســـان چې زما له عبادت څخه تکبر کوي زر دی چې جهنم ته به ذلیله داخل شي ) همدارنګه فرمایی : ( **إنه لا يحب المستكبرين** ).[2] ( بیشکه هغه – الله تعالی- نه خوښوي کبر جن خلک ). **و عن عبدالله بن مسعود – رضی الله عنه – عن النبی ﷺ – قال : (لايدخل الجنة من كان في قلبه مثقال ذرة من كبر ! قال رجل: إن الرجل يحب أن يكون ثوبه حسنا ، و نعله حسنة ؟ قال : ان الله جميل يحب الجمال، الكبر : بطر الحق و غمط الناس )** [3] عبدالله بن مسعودرضي الله عنه د رسول اکرم – ﷺ –

١ - د المؤمن سورت : ٦٠ آیت.

٢ - د النحل سورت : ٢٣ آیت.

٣ - صحيح مسلم, حدیث : ٩١ .

ځخه روايت کوي چې رســو الله ﷺ – وفرمايل : د چا په زړه کې چې د ذرې په اندازه کبر وي جنت ته به داخل نه شي . يو ســړي وويل : که څوک دا وغواړي چې دهغه جامې دې خايسته وي ، او دهغه پڼې دې خايسته وي ؟

رسول الله ﷺ وفرمايل : بيشکه الله تعالی ښکلی دی، او ښايست خوښوي، کبر د حق څخه سر غړونه، او د خلکو حقير ګڼلو ته ويل کيږي.

و عن حارثة بن وهب – رضــی الله عنه قال : ســمعت رســول الله ﷺ – يقول ( **ألا أخبركم بأهل النار : كل عتل جواظ مســـتكبر** ) .[1] ( حضرــت حارث بن وهب څخه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رســول الله ﷺ – څخه اوريدلي دي چې ويې فرمايل: آيا تاســو د جهنميانو څخه خبر نکړم ؟ هر بدخويه ، احســان کونکی او کبر جن انســان دی. ) يوله هغو مرضــونو او آفتونو له جملې څخه چې د ټولنې ځينې وګړي وربانديې مبتلا دي چې متأســفانه د دوی په ژوند کې ډيری ناوړه اغيزې لرې ، او ددې مرض څخه د خلا صون او م صئونيت په غرض لازمه ده چې په مقابل کې يې هر اړخيزه مبارزه ترسره شي هغه تکبر او ځان غوره ګڼل دي . د دې لپاره چې زمونږ خبرې د دې مرض او ضررونو لپاره يو ځانګړی چوکات او مشخصې علامې ولري په لاندې ډول يې څېړنه کوو :

---

١ - صحيح البخاري, حديث : ٤٩١٨ , ٦٠٧١, صحيح مسلم, حديث : ٢٨٥٣ .

## دتکبر اوځان غوره ګڼلو مفهوم :

## د تکبر معنا :

په عربی ژبه کې ( تکبر ) د ځان غوره ښودلو ، او لويي کولو معنا لري . د لسان العرب ليکونکی وايي : تکبر او ا ستکبار خپل ځان لوی او غوره ښودلو معنا لري. دا راز د ســـورت اعراف په ۱۴٦ نمبر آيت کې تکبر څخه همدا معنامرادده: ( **سَأَصْرِفُ عَنْ آيَاتِيَ الَّذِينَ يَتَكَبَّرُونَ فِي الأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ** ).[1] زردی چې وابه اړوم د خپلو آيتونو څخه هغه کســان چې په زمکه کې په ناحقه تکبر کوي .) يعنې هغه څوک چې د نورو څخه ځان لوی او قدرمن حســـابوې ، او په کومو حقوقو چې ځان ته قائل دې د نورو لپاره پرې قائل نه دي . کوم روايت چې د دې بحث په شروع کې ذکر شو هغه همدا مطلب بيانوي : ( لا يدخل الجنة من کان فی قلبه مثقال ذرة من کبر ) د چا په زړه کې چې د ذرې په اندازه کبر وي جنت ته به داخل نه شي.

## ځان غوره ګڼل څه شی دی ؟

ځان غوره ګڼل يعنـي ځان خوښول ، او په خپل ځان راضي کيدل ، او خپل ګفتار ، کردار او تصـــاميم برتر او مهم ګڼل ، او د نورو وينا او کړنې واړه او بې ارزښـــته شميرل ، او ور پورې ټوکې او مسخرې کول ، او دا حالت دومره وده وکړي چې د

---

۱ - د الاعراف سورت : ١٤٦ .

ځان غوره ګڼلو په مرض تبدیل شي ، او بیا د خپل ځان په غم کې وي او یواځې خپل ځان په سم او روغه ګڼي .

**د تکبر او عزت النفس تر منځ توپیر :**

دتکبر او عزت النفس ترمنځ توپیر ښــکاره دي . په عزت النفس کې ځان لوی ګڼل د حق او واقعیت په بنا وي، په حقیقت کې په خپلو ذاتي او شــخصيــ مواهبو او اســتعدادونو باندي مطمئن کیدل، او خپل شـخصـیت ته په ارزښــت قائلیدلو ته عزت النقس ویل کیږي . مګر تکبر په ناروا او ناحقه سره ځان لوی ښودل ، او پر نورو ځان لوی ګڼلو ته ویل کیږي .

**تکبر او ځان غوره ګڼل لومړنۍ هغه ګناه ده چې په عالم کې ثبت شــوې ده :**

کله چې الله تعالی شـیطان ته امر وکړ چې انسـان ته سـجده وکړه ، تکبر اوځان لوی ګڼلو هغه ته اجازه ورنکړه چې هغه ســجده وکړي او په عالم کې د لومړنۍ ګناه مرتکب شو ، الله تعالی دا واقعه دا سې بیانوي : ( **قَالَ مَا مَنَعَكَ أَلاَّ تَسْجُدَ إِذْ أَمَرْتُكَ قَالَ أَنَاْ خَيْرٌ مِّنْهُ خَلَقْتَنِي مِن نَّارٍ وَخَلَقْتَهُ مِن طِينٍقَالَ فَاهْبِطْ مِنْهَا فَمَا يَكُونُ لَكَ أَن تَتَكَبَّرَ فِيهَا فَاخْرُجْ إِنَّكَ مِنَ الصَّاغِرِينَ** ).[۱]

۱ - د الاعراف سورت ۱۲ – ۱۳.

( الله تعالی د توبیخ په ډول شــیطان ته وویل : څه شي ته منع کړې د ســجدې کولو څخه کله چې ما درته امر وکړ چې ( آدم ته سجده وکړه ؟ ) شـیطان وویل : زه له هغه ي ( آدم) څخه غوره یم . ځکه زه دې د اور څخه پیدا کړی یم ، او هغه ( آدم) دې له خاورې پیدا کړی دی . ( او اورا له خاورې غوره دی ) . الله تعالی شــیطان ته وفرمایل : کوزشــه له جنت څخه . تاته په کارنه ده چې په جنت کې تکبر وکړې ( ځکه جنت د پاکو خلکو ځای دی ). نه شې کولای ته چې په جنت کې تکبر وکړې ( او په کې واوسیږې ) . ووزه له جنته بیشکه ته خوار او ذلیله یې ( هر څومره چې ځان په آدم باندې غوره وګڼې ) په همدې ترتیب سره شـیطان د تکبر او ځان غوره ګڼلو له امله د زرګونو کلونو عبادت د لاســـه ورکړ . او د رب العالمین له دربار څخه وشړل شو.

## دتکبر او ځان غوره ګڼلو علامې :

په ځینو خلکو کې داسې نښې او نښانې شته چې د هغوی په تکبر او ځان لوی ګڼلو باندې دلالت کوي ، چې ځینې یې په لاندې ډول دي :

١ – په لار باندې په نشــه او تکبره سره تلل الله تعالی فرمایلي دي : (**وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ** ). [1] ( په تکبر او بې

١ - د لقمان سورت : ١٧ آیت .

اعتنایي سره د خلکو څخه مخ مه اړوه ، او په زمکه باندې په مغرورانه ډول سره تلل مه کوه ځکه چې الله تعالی نه خوښوي مغرور او متکبر انسان ) .

۲ – د فساد لپاره خلک هڅول، دفساد خپرول، که چیرې فرصت په لاس ورشي نو تباهي او بربادي رامنځ ته کول د حق څخه مخ اړول او تیښـــته کول ؛ الله تعالی فرمایي : ( **وَمِنَ النَّاسِ مَن يُعْجِبُكَ قَوْلُهُ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيُشْهِدُ اللّهَ عَلَى مَا فِي قَلْبِهِ وَهُوَ أَلَدُّ الْخِصَامِ وَإِذَا تَوَلَّى سَعَى فِي الأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيِهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ وَاللّهُ لاَ يُحِبُّ الفَسَـادَوَإِذَا قِيلَ لَهُ اتَّقِ اللّهَ أَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالإِثْمِ فَحَسْـبُهُ جَهَنَّمُ وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ**[1] ). او شته په خلکو کي دا سې کسان چې تا به په تعجب کې واچوي وینا دهغه په ژوند د دنیا کې ، او الله تعالی په هغه څه چې په زړه کې بې دي ګواه ګرځوي حال دا چې دا شــخص سرســخته او بدترین دښــمن دی . او کله چې تاته شــا کړي او مخ درڅخه وګرځوي ( او یا ریاســت او حکومت ورته ورســیږي ) په زمکه کی کوښــښ کوي ترڅو فساد وکړي، او تباهي رامنځ ته کړي او فصل او نسل ټول تباه کړي ، او حال دا چې الله تعالی نه خوښوي فساد . او کله چې ورته وویل شي چې دالله تعالی څخه وویره . نو یې نیسيــ غیرت په ګناه کولو باندې ( یعني غرور یې نور هم ګناه کولو ته وهڅوي ). بس کافي د ده لپاره جهنم او ډیر بد ځای د پریوتو دی .

---

۱ - د البقري سورت : ۲۰٤ – ۲۰٦ آیتونه .

۳ – شیک اغوستل او په لباس باندې فخر کول رسول کریم – ﷺ فرمایلي دي : ( **من جر ثوبه خیلاء لم ینظر الله إلیه یوم القیامة** ).[۱] ( چاچې په تکبر او غرور سره خپلې جامې په ځان پســې کش کړي پر زمکه، الله تعالی به ورته د قیامت په ورځ درحمت په نظر ونه ګوري ) ســنن ابی داود – و ســنن الترمذي . په یوبل روایت کې د رسول الله ﷺ – څخه نقل شوي دي چې هغه وفرمایل : ( **بینما رجل یمشي في حلة تعجبه نفسه، مرجل رأسه، یختال في مشیته، إذ خسف الله به، فهو یتجلجل في الأرض إلی یوم القیامة** )[۲]. یو سړی په تیره زمانه کې په لار روان ؤ په داسې جامو کې چې ځانه ورته د نوروخلکو په نسبت غوره ښکاریده ( یعنی د خپل لباس له امله ورته ځان ښایسته ښکاریده )، او د خپل سرویښتان یي هم ګومنځ کړي وه ، او په خپلو تللو کي یي هم تکبرکولو ، الله تعالی ناڅاپه هغه په زمکه کې ښکته راښکلو، او هغه به ترقیامته پوري په زمکه کې ښکته ځي .

۴ – د دې سره علاقه مندي چې خلک ورته راشي؛ په عین حال کې خپله نه غواړي چې خلکو ته دې ورشي . او که چیرې د چا خواته ورشي ؛ لازمه بولي چې خلک دې ورته ودریږي .

---

۱ - صحیح البخاري, حدیث : ۳٦٦٥, ٥٧٨٤, او ٥٧٩١ .

۲ - صحیح البخاري, حدیث : ٥٧٨٩ .

٥ – دا غوره ګڼل چې دخلکو سره په لاره د تللو پر وخت دې د نورو خلکو څخه مخکې وي ؛ او په مجلس کې تر نورو په لوړ ځای کې کیناستل ؛ او مراسمو او ټولنو کې د نورو څخه مخکې خبرې کول .
٦ - خپل ځان پاک او بې عیبه او بې نقصه ګڼل ؛ او خپل ځان پورته شمیرل او په خوښه یا نا خوښه سره دالله تعالی دا ایت هیرول: ( **فلاتزکوأ أنفسکم هو أعلم بمن اتقی** ).[1] ( ځانونه د عیب او نقص څخه پاک مه بولئ ځکه هغه ( الله تعالی) په متقیانو ډیر پوهه دی ) .

**د ځان غوره ګڼلو او تکبر اسباب :**

ځان غوره ګڼل او تکبر او ځان لوړ ګڼل ځینې عوامل او اسباب لري چې که چیرې پر وخت یې علاج ونه شي او په اړه بې پروایي او بې تفاوتي اختیار شي د زمانې په تیریدو سره هغه تکامل او رشد کوي او لوئیږي چې دهغو عواملو څخه ځینې په لاندې ډول دي :
١ - د چا په مخکې د هغه تو صیف او ستاینه کول ، او د ستاینې شرعي آداب نه مراعتول ؛
په ځینو وختونو کې د تکبر او ځان غوره ګڼلو لامل د چاپه مخ کې د هغه صفت ، مدح او ستاینه کول وي پرته له دې چې د مدحې او صفت په باب کې د شریعت

١ - د النجم سورت : ٣٢ أیت ,

قاعده او آداب مراعت شي . داځكه چې په ځينو وختونو كله چې ځينې اشخاص د نورو په مخكې وستايل شي او په دې اړه اسلامي او شرعي موازين ترپښولاندې شي دا چې د شيطان له فريب څخه بې خبره وي ځان ورڅخه ورک شي ، او په دې فكر كې شي چې كومه ستاينه چې د ده وشوه دادده د ځانګړي او بې سارې اســتعداد او توانائي له كبله ده چې د ده په تن او وجود كې ده ، او تنها يواځې دى ورڅخه برخمند دى ، او نورخلک ورڅخه بې برخې دي ، د ده دا ګمان ورو ورو په ده كې رشـد وكړي ، او متاسـفانه چې بيا د ځان غوره ګڼلو په مرض مبتلا كيږي .

۲ - دځان غوره ګڼونكو او متكبرو خلكو سره ناســته ولاړه؛ دځان غوره ګڼونكو او كبر جنو خلكو سره دوســتي او ناســته ولاړه د دې مرض نورو ته سرايت او انتقال ســبب ګرځي ؛ دا ځكه چې هر انســان د خپل ملګري او دوســت څخه متأثره كيدونكى دى ؛ همداســې كه چيرې څوک د تكبر او ځان غوره ګڼلو په مرض مبتلا وي د ده دا مرض د ده نورو دوستانو او ملګرو ته حتما سرايت كوي .

۳ – په نعمتونو پورې هر اړخيز زړه تړل ، خو د نعمتونو اصــلي وركوونكي هيرول ،او د نعمتونو په هميشه والي ګمان كول ؛ ځيني وخت د الله تعالى له خوا ډالۍ شــوو نعمتونو هراړخيز زړه تړل خو ددې نعـمت حقيقي خالق هيرول دي په

داسي حال کي چې هغه فرمايي : ( **و ما بکم من نعمة فمن الله** ) .[1] ( هرڅومره نعمتونه چې لرئ نو ټول د الله تعالى له طرفه دي ) ځان غوره ګڼل رامنځ ته کوي ، او د داسې ګمان او ذهنيت ښکار کيږي چې اصلا د دې ډول نعمتونو شتون د دې علامه ده چې دوی ددې نعمتونو مستحق او حقدار دي ، او تنها دی يي لياقت لري . قارون د خپلو شتو ، او مالونو په اړه همداسې ګمان درلود او ويل به يي: ( **إنما أوتيه على علم عندي** ).[2] ( دا هر څه زما په اختيار کې دي دا دهغه پوهي له امله دي چې زه يې لرم).

همدا راز کله په دې ګمان چې دا نعمتونه به تل وي ، او يا د انسان ګټه اخستل به له نعمتونو هميش وي د تکبر او د ځان لوی ګڼلو باعث ګرځي ، لکه چې د الکهف په سورت ٣٦ نمبر آيت کی يو باغوان بل ملګري ته داسی خطاب کوي: (مَا أَظُنُّ أَن تَبِيدَ هَذِهِ أَبَدًا مَا أَظُنُّ أَن تَبِيدَ هَذِهِ أَبَدًا وَمَا أَظُنُّ السَّاعَةَ قَائِمَةً ).[3] ( هيڅکله زه دا ګمان نه کوم چې دا باغ به له منځه لاړشي ، او فنا به شي ، او دا ګمان هم نه کوم چې قيامت به قائم شي ) .

۴ – په سرکې کيناستل او ژرمسئوليت په غاړه اخستل او د کافی تربيت تر لاسه کولو څخه د مخه مسئوليت پر غاړه اخيستل او مشری کولو له امله ځان غوره

---

١ - د النحل سورت : ٥٣ آيت .

٢ - د القصص سورت : ٧٨ آيت .

٣- د االکهف سورت : ٣٥— ٣٦ آيتونه .

ګڼلوسره تکبر رامنځ ته کیږي . د همدی کبله ا سلام د مشر تابه ، رهبر کیدلو او د مسؤولیت اخستلو څخه د مخه د علم او پوهی پر حا صلولو باندې زیات تاکید کوي ، او دا کار ضروري بولي : (**فَلَوْلاَ نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُواْ فِي الدِّينِ وَلِيُنذِرُواْ قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُواْ إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ**)[۱]. ( باید له هر قومه یوه ډله لاړه شي ترڅو دینی زده کړه وکړي ، او کله چې ورته خپل قوم راوګرځي هغوي وویروې د دې لپآره چې د نافرمانی څخه ځانونه وساتي .

حضرت عمر رضی الله عنه ویل : ( د مسئولیت د قبلو لو څخه مخکي د هغه مسئولیت په اړه علم زده کړئ ترڅو د علم په وسیلي سره د مسئولیت او سیادت د ګواښونو او مصیبتونو څخه ځانونه وژغوري ).

۵ – د خپل ځان دنه پیژندلو په اړه بې پروایي ؛ همدا راز کله د تکبر او ځان غوره ګڼلو د پیدایښت سبب د خپل ځان دنه پیژندلو په اړه بې پروایي وي . ځکه که چیرې انسان خپل حقیقت هیر کړي او دا ونه پیژني چې انسان د اوبو دیو بی ارزښته ځاڅکي څخه پیدا شوی دی ، چې کمزوري ، ناتواني او نقص د ده د پیدایښت جزء دی ، او بالاخره د خاور و په منځ کې به د ده اصلي تاتوبی وي . خوشیطان دی چې ده ته ددې وسوسه وراچوي چې ته یو مهم موجود یي چې په نتیجه کې یي د تکبر او ځان غوره ګڼلو دام کې راګیر کړي یي .

---

۱ - د التوبة سورت : ۱۲۲ آیت.

٦ – نسب او دکورنۍ شهرت ؛ نسب او دکورنۍ شهرت هم کله نا کله د تکبر او ځان غوره ګڼلو د مرض په پیدایښت کې ډیر مهم رول لري . کله ځینې خلک په شعوري یا غیر شعوري ډول سره خپل ځان او خپل کارونه د نورو خلکو د کارونو څخه غوره او بهتر ګڼي خو دا خبره ورڅخه هیره وي نسب او د کورنۍ شهر ت د بهترۍ او برتري لپاره معیار نه دی ؛ بلکې د برترۍ معیار کوښښ او ریښتونی عمل دی او بس . الله تعالی فرمایلي دي : (**فَإِذَا نُفِخَ فِي الصُّورِ فَلَا أَنسَابَ بَيْنَهُمْ يَوْمَئِذٍ وَلَا يَتَسَاءلُونَ** ). [١] ( کله چې په شپیلۍ کې پوکی وشي نو هیڅ ډول خپلولي او نسب به پاتي نه شي ، او په دغه ورځ به یو له بل څخه پوښتنه هم نه کوي . )

٧ – د تکبر او ځان غوره ګڼلو د بدو نتایجو په اړه بی پروایي سر انجام د تکبر او ځان غوره ګڼلو له عواملو څخه یو د تکبر د بدو عواقبو په اړه بی پرواېی او بی اعتنایی ده . په همدې اساس خلک باید د تکبر او ځان غوره ګڼلو د بدو نتایجو څخه ځانونه اګاه کړي ترڅو به دي مرض مبتلا نه شي .

٨ – د برترۍ د معیارونو او ارښتونو په اړه بې پروایي: ځینې وخت د تکبر او ځان غوره ګڼلو مرض درامنځ ته کیدو لامل د برتری او بهتری د معیارونو په پیژندلو کې د خلکو په فهم کې اختلال موجود وي . ته به وینې چې خلک ثروتمند ته په نادارانو باندې ترجیح ورکوي ؛ هغوی که هر څومره نافرمانه وی او الله تعالی

---

١ - د المؤمنون سورت : ١٠١ آیت.

فرمايي : ( **وَمَا أَمْوَالُكُمْ وَلَا أَوْلَادُكُم بِالَّتِي تُقَرِّبُكُمْ عِندَنَا زُلْفَى إِلَّا مَنْ آمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَأُوْلَئِكَ لَهُمْ جَزَاء الضِّعْفِ بِمَا عَمِلُوا وَهُمْ فِي الْغُرُفَاتِ آمِنُونَ** ).[1] نه دی مالونه ستاسي، او اولادونه ستا سی هغه شان چې تاسي مونږ ته رانږدي کړي ؛ بلکې څوک چې ايمان راوړي ، او نيک عمل وکړي ( هغوی به الله تعالی نږدي وي ) ؛ نوشته د داسي کسانو لپاره دوه چنده ثواب دخپلو اعمالو له برکته ، او وي به دوی د جنت په اوچتو ماڼيو کې ( د جنت په لوړو درجو کې په امن کې به وي ).

**د تکبر او ځان غوره بللو ناوړه آثار :**

ځان غوره بلل، تکبر او بې ځا يه ځان برتره ښودل بې شميره ز ياتو نه،او نابودوونکې پايلې لري چې ځينې يې په لاندې ډول دي :

١ – ځان غوره ګڼل او تکبر د انسان عقل او پوهه پوخوي ، او يو ډول پرده ورباندې غوړوي چې چې په نتيجه کې انسان د اشياوو د حقيقاتونو د درک څخه پرې باسي ، او انسان ته ددي اجازه نه ورکوي ترڅو خپل ځان او نور څرنګ چې دي هغه شان يې وپيژني ، او د زمانې حوادث په سمه توګه وارزوي ، او د هغې په مقابل کې سم او درست دريځ ونيسي .

٢ – تکبر او ځان غوره ګڼل د شکست او وروسته پاتي کيدو اصلي عامل دي ؛ يو لښکر د غرور له کبله جنګ په ډيره آسانۍ سره بايلي ؛ مغروره سيا ست مدار په

١ - د سباء سورت : ٣٧ آيت.

اســـانی سره زمکه خوري ، ویو مغرور زده کونکی په امتحان کې ناکامیږي ، یو مغروره ورزشکار د خپل مقابل په وړاندی او بالاخره یو مغرور مسلمان ځان د الله تعالی په غضب او قهر باندې اخته کوي .

۳ – د مغروره انســانانو ژوند تل د نقصــانونو، کمزوریو، شــخصــې، اجتماعي ، او سیاسي مشکلاتو سره مل وي . په داسې حال کې چې هغه د دې احساس کوي چې هغه د هر ډول نقصانونو او کمیو څخه پاک دي ، الله تعالی فرمایی: (**قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْأَخْسَرِينَ أَعْمَالًا الَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا**).[1] ( ای پیغمبره کافرانو ) ته ووایه! آیا تاسی زیانمن ترینو خلکو څخه خبر کړم ؟ هغوی هغه کسان دي چې زحمتونه او کوښښونه یې ( د عقیدې او باور د تباهی له امله ) په دنیا کې له منځه ځي او هغوی په دې گمان کې وي چې دوی ډیره غوره کار کوي .

۴ – تکبر د انســـان تکامل په تپه دروي ، بلکي د هغه د وروســـته پاتی کیدو او انحطاط ســبب گرځي ، ځکه کله چې انســان مغروره شي هغه خپل نقصــانونه نه ویني ، او څوک چي د نقصــان احســاس نه کو هیڅکله د کمال په لور حرکت نه کوي.

---

۱ - د الکهف سورت : ۱۰۳ --- ۱۰٤ .

۵ – تکبر او ځان غوره ګڼل اکثره دوختونو کې د پیښــیمانۍ او ندامت ســبب ګرځي، ځکه په داســې حالت کې انســان نشيـ کولی چې د خپل ځان او نورو انســانان په اړه صــحیح ارزونه له ځانه سره ولري، او په خپلو محاســباتو کې په فردي او تولنيز حرکت کې د اشتباهاتو سره لاس او ګریوان وي ، او دا حالت هغه تل د پښیمانیو او ندامت خوا ته راکاږي.

٦ - اخري نتیجه چې تکبر یې له ځانه سره لري هغه د جنت څخه محرومیدل دي . دا ناوړه عاقبت یو طبیعی خیره ده ؛ ځکه څوک چی د الله تعالی په حریم کې پښه کیږدي په نتیجه کی یوه ورځ د هغه حالت له منځه ځي . چون د کارونو په بدل کې ورته هیڅ په لاس نه یوه ورځ دتل لپاره ، د جنت څخه محرومیږي . الله تعالی په یو قدسي حدیث کې فرمایي : ( عظمت او لویي یوداســی لباس دی چې یواځی زما لپاره تیار شوی دی . او هر څوک چې په هغې زماسره جګړه کوي هغه د جهنم په اور کې اچوم.[1]

---

۱ - سنن ابن ماجه کتاب الزهد .

**په تکبر مبتلا شوو کسانو سره څرنګه چلند او تعامل وکړو؟:**

په هر حال د نورو د تکبر عامل چې هرڅه وي زمونږ وظیفه داده چې د نورو خلکو عیبونه په نادیده سترګه کتل د خپل ځان څخه غوره رفتار او حرکت باید ښکاره کړو . په دی اساس د متکبرو او مغرورو خلکو په مقابل کی باید دا

سې به تفاوته پاتی نه شو چې هغوی هرڅه وغواړي ترسره يي کړي و او داسی دی وانګیري چې دوی هر کار کوي هغه درست او سم دی .

یعنی په خپل سکوت سره متکبر شخص تشویق او ترغیب نه کړو . له بل پلوه مونږ د دې حق نه لرو چې د نادرسته رفتارونو ، او ناوړه کړو وړو په مقابل کې مونږ هم له خپل ځان څخه نادرسته حرکتونه اجراء کړو او دبدو او ناوړه رفتارونو او کړو وړجواب په بالمثل سره ورکړو . یعنې هغه کسان چې مغروره او متکبره دي د خپل ځان څخه منفي برخورد د هغوی په مقابل وښايو ، دا ځکه څرنګ چې غرور او تکبر یو بد او ناوړه عمل دی ؛ د نورو سره منفي برخورد ، او د هغوی سره بالمثل مقابله ولو که ځینی وګړي منفي اخلاق هم ولري دروند او غوره تعامل وښايو، پورتنو خبرو ته په کتو سره باید مونږ د متکبرو او مغروره خلکو سره لاندې نکتې په نظر کې ونيسو:

۱ – د نورو خلکو څخه د بدو اخلاقو ، او نادرسته کړنو صادریدل هیڅکله د دې دلیل کیدای نه شي چې مونږ دې هم زشت او بد اخلاق او نادرسته برخورد ترسه کړو.

۲ – په اسلام کې غوره اخلاق ، عفو او ګذشت ، تواضع ، ځانګړی ځای لري . په دي اساس د نورو سره د تعامل په وخت پورتني اصول باید مراعت شي .

۳ – د مغروره او متکبرو کسانو سره ستاسې غوره او مناسب برخورد ددې لامل کیږي چې هغوی خپلې اشتباه ته متوجه کیږي او د هغه کار څخه لاس اخلي ولو که ډیر وخت هم ونیسي .

۴ – هغه کسان چې مغروره او متکبره دي خپل ځانونه پر نورو غوره او برتره بولي . بناءً که چیري دوی ته د اخبره تلقین شي چې په نړۍ کې هیڅوک بې عیبه او بې نقصانه نشته، او که چیري ممکن وي داسې موارد ورته په ګوته کړل شي چې په هغه مواردو کې دی په کې ناتوانه وي او یا یي کافي مهارت ونلري دابه غوره کار وي . خودشناسي یا خپل ځان پیژندل د تکبر او غرور لپاره ډیر مهم او بهتر درمل دي.

٦ - تاسی کولای شئ چې هغه شخص چې متکبره او مغروره دی د ځان پیژندنې په برخه کې له هغه سره مرسته وکړئ . که چیرې د داسې کسانو سره ستا سو پورتني رفتار کومه نتیجه ورنکړه ، او ستا سې یادونو هم کوم مثبت تاثیر

ونکړ يعنې هغه شــخص د خپل غرور او تکبر څخه لاس په سر نه شــو ؛ دوه ډوله لارې په مخکې لري :

الف : که چيرې دا سې شخص ستا سې د نږدې دو ستانو ، اويا د کورنۍ له غړو څخه مو هم نه دي تاســو کولای شي چې ورسره ارتباط کم کړی تګ را تګ ، ناسته ولاړه ورسره کمه کړی ، داسې برخورد کيدای شي داسې شخص خپلوکړنو ته متوجه کړي، او کيدای شي چې د خپل خوی څخه واوړي.

ب : مګر که چيرې داسې شخص ستاسې د نږدې دوستانو څخه وي ، او يا مو د کورنۍ د غړو څخه وي چې ورسره د ارتباط قطع کول نشيــ کيدای غوره داده چې د داسې شخص سره ګذاره وکړی . په دې صورت کې ستاسي لپاره يوائينی لاره داد چې په خواخلاقو سره او په پراخه سينې سره په خورا متانت او د مهربانۍ له مخې د داســې کســانو سره نيک برخورد وکړی . د دی لپاره چې په داســې اشـخاصـو مثبت تغيير راشي ، او اصـلاح شي ، لازمه ده چې دوی ته زيات وخت ورکړی . تا سو د دوی سره د مقابلې او سخت چلن پرځای د دوی سره د ا صلاح په غرض مرسته وکړئ ؛ ترڅو په خپل نيک چال اوچلن دوی اصلاح کړی.

**د تکبر علاج :**

د تکبر علاج پ داسې شان سره چې د انسان نفس ورڅخه پاک شي او د بل ځل لپاره پرې مبتلا نشي د لاندې لارچارو په عملي کولو سره ان شاءالله ممکن دي :

۱ – د تکبر او ځان غوره ګڼلو د بدو عواقبو یادول.

۲ – د مریضانو پو ښتنه کول په ځانګړي توګه دهغه مریضانو چې مرګ ته نږدې شوي وي ، د فلج شوومریضانو عیادت، د نورو آفت ، دځپلو کسانو پو ښتنه . د جنازې په نقلولو کې برخه اخیستل

۳ – د محتاجو،اړو او هغه کسانو سره ناسته ولاړه کول چې د بدن او اعضاوو په درد ، او کمبود باندې مبتلا وي ؛ د داسې کسانو سره خوراک او څښاک کول

۴ – د انسان او ټول جهان او نعمتونو ، خپلو شاو خوا نیکیو په اړه فکر کول چې د دې ټولو اشیاوو سرچینه له کومه ځایه ده ؟ او څوک کولای شي چې د دې څخه وړاندې والی وکړي اوکوم شي بندګان د دې نعمتونو مستحق ګرځولي دي؟

۵ – دکبرجنو انسانانوسره د روابطو قطع کول ، او د الله تعالی څخه د ویریدونکو او عاجزو انسانانو سره د رابطې جوړول،

٦ – د متکبرو د سرگذشت او انجام په اړه مطالعه او څیړنه کول ؛ لکه : ابلیس ، نمرود، فرعون، هامان ، قارون ، ابوجهل ، ابی بن خلف ، او نور سرکشان او کبر جن او خطا کاران چې هغوی څرنګ رفتار کولو او سرانجام یې کوم ځای ته ورسیده.

٧ – په عملي مجالسو کې ګډون کول ، او داسې مجالسو کې برخه اخیستل چې هغه اصلاحي ، او تربیتي بڼه ولري.

٨ – په عبادت زیات اهتمام کول ، او عبادت ته توجه کول . الله تعالی فرمایل دی : (**مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ**).[١]

( هرڅوک که هغه نر وي یا ښځه نیک عمل وکړي په داسې حال چې هغه ایمانداره وي مونږ به ورته ژوندون ورکړو ، ژوندون ښکلی.)

٩ – مراقبت ، او د نفس سره محاسبه.

١٠ – تل په دوامداره توګه دعا غوښتل ، او پناه غوښتل ، او دځان د اصلاح په غرض د الله تعالی د توفیق غوښتل.

١ - د النحل سورت : ٩٧ آیت.

۳۲

# د اسراف سره مبارزه

**الحمد لله الذي لا يحب المسرفين و المتجاوزين عن حدالا عتدال والا نصاف إلی حدالغلو و التفريط والإفراط والصلاة والسلام علی سيدنا محمد مصطفی الذي قال: ( ما ملأ ابن آدم وعاءَ شرا من بطنه حسب ابن آدم اكلات يقمن صليه فإن كان فاعل لا محاته فثلث لطعامه و ثلث لشرابه و ثلث لنفسه )،[1] و علی آله و صحبه أجمعين وبعد:**

**قال الله تبارک و تعالی فی محکم التنزيل وهو أصدق القائلين أعوذ بالله من الشيطان الرجيم بسم الرحمن الرحيم : (وكلوو واشربوا و لاتسرفوا إنه لا يحب المسرفين ).[2] وقال رسول الله صلی الله عليه وسلم : ( من الإسراف أن تأكل كل ما اشتهيت ).[3]**

د خوشحاله ژوندانه او په ناروا مزو چړچوكې د ډوبيدلو له نښو نښانو څخه د مالو نو په لګولو كې اسراف او په غير ضروري چاروكې كې مصرفول دي يعنی هغه چارې چې حرامې او بيځايه وي . داسی دغريبی او بيوزلی، خواری او ستونزو پديده چې د كم حاصلو طبقاتو په منځ كې يې خپروي . او معلومه ده چې د

---

۱ - مسند الإمام أحمد، حديث : ۱۷۱۸۶ / ۱۲۳۱۸ .

۲ - د الأعراف سورت : ۳ أيت .

۳ - سنن ابن ماجه، حديث : ۳۳۵۲ .

بېوزله او بېچارګی په وجه کینې او دښــمنۍ را څرګندېږي ، خوارۍ او پســتۍ لوړې کچې ته رسیږي او په ټولنه کې ښوییدنې او جنایتونه راښکاره کېږي .

داسـلام له نظره مال او شـتمني په اصـل کې دالله تعالی دي او الله جل جلاله هغه د امانت په توګه انســان ته بخښــلي دي څو هغه دځپل خیر او ښــېګڼې او ټولنې په لار کې ولګوي . قرآن کریم په دې هکله په څرګنده توګه فرمایي : (**وآتوهم من مال الله الذي أتاكم**).[1]

ژباړه : او هغوي ته له هغه مال څخه ورکړی چې الله تاسې ته درکړی دي .

بناپردې اسراف او په ناروا لاروکې د مال بېځایه لګول د فقیرانو او بېوزلانو په حق کې یو ډول تیری ګڼل کېږي .

نن ورځ پر چاپېره نده چې بېځایه اسراف او په ټولنه کې ناروا مال او شته لګول په ځانګړې توګه د پانګه والو او منځنیو طبقاتو تر منځ پراخه دود او رواج موندلی دی . ډېری وګړي لوکسـو شـیانو او وسـایلو چمتو کولو، دکور ډول او سـنګارولو ، بې معنا لوحو او چوکاټونو او ...... لپاره زیاتې پیســې ذخیره کوي چې ډېری دهغو له حرامې لارې او ځینې په زرګونو بد مرغیو او مکافاتو لاس ته راځي .

د ښــار اوســیدنې تمدن پرمختګونه او ترقي د ډالۍ په توګه راوړې دي چې د ټولنې دوګړو مالونه او شــتمنۍ نابودۍ او هلاکت ته کشـوي دخلکو په منځ کې

---

١ - د النور سورت ٣٣ آیت.

دمادي رقابت روحيه دودکيږي او هر څوک زيارباسي په دې ساحه کې د ميدان يوازنی اتل واوسي . کوم تازه جنسونه او توکي چې هره ورځ په ډول ډول څيرو او څل او بل بازارونو ته راځي د ژوندانه د موخې او هدف په توګه ګرځيدلي او خلک د مسابقې او سيالۍ په توګه دهغو اخستلو ته را دانګي خو په دې لوګو کې د نورو څخه وروروسته پاتې نشي .

ډيری ميرمنې دضرورت او اړتيا نه زيات مصارف او پانګه له خپلو ميړونو څخه غواړی هغه ښځې چې متأسفانه د ګاونډيانو يا چاپيريال او ا شنايانو د سيالۍ او مسابقې تر اغيز لاندې راغلې دي او د همدې سياليو او تقليدونو په وجه ټولنيز فساد رامنځ ته کيږي هغه هم په هغه وخت کې چې سړی په هره ممکنه لار دداسې غيرضروري لګښتونو او ملاماتوونکو پانګو د چمتوکولو لپاره ناچاره او مجبور وي چې کله په ژوندانه کې زندان، مرګ ، تل پاتې بيوزلۍ او خوارۍ ته منجر کيږي . په رښتينې توګه ايا د ښځو له حده زيات ډول او سنګار او د مختلفو جامو اغوستل او دمد نه لويدلوجامو لرې غورځول چې لاتراوسه دګټې اخستنې وړدي دا اسراف نه دي؟

آيا د خوراک بيځايه اچول او ديوې ميلمستيا لپاره څو برابره خوراک چمتوکول او د پاتې خوراکونو غورځول اسراف نه دی ؟

آیا د سیگرټو او ډول ډول مخدراتو اونشه راوړونکو توکو استعمال او په پای کې زیاتې پیسې په دې لارکې لگول دا هیڅ په وړاندې اسراف او تبذیر نه دی؟

آیا گیم کیرکټ او نورو لوبو او تلویزیون ته په ساعتونو کیناستل او د پستی او ټنبلی په لارو کې دخپلو ذکاوتونو، ځواکونو او ا ستعدادونو له منځه وړل په وخت کې اسراف نه دی ؟

بلي! اسراف د لاس ته راوړنې او لگښت تر منځ د تعادل او موازنې له منځه وړل او همدارنگه دژوندانه د مالي توان او وس او د ژوندانه د پانگې او امکاناتو تباه کول دي . اسراف کوونکی که څېرې وغواړي په خپل عادي او طبیعي لاس ته راوړنې باندې بسنه وکړي نو دخپل ځان او کورنی اړتیاووته دځواب ویلو توان نه لري نو په نتیجه کې یا باید تن د توان نه لوړو او ستومانه کیدونکو اضافه کاریوته ورکړي- که چیرې د جرم له ارتکابه په ځان کې د گناه احساس وکړي اویا د ناچاری له مخې خپله لمنه په جرمونو لکه په رشوت اخستلو، غلاکولو گران پلورلو دوکه ورکولو او ........

**په خوراک او څښاک کې د اسراف څرګند مصداقونه :**

الله جل جلاله په قرآن کريم کې لارښـوونه کوي : ( **وكلوا واشـربوا ولاتسـرفوا إنه لايحب المسـرفين**).[١] ژباړه: خورئ او څښـئ او له حد نه تيرى مه کوئ الله له حدنه تيرى کوونکي نه خوښوي .

نن ورځ د پوهانو او ډاکترانو دڅيړنو په اثر ثابته شـوې ده چې د روغتيا له غوره قوانينو څخه يو دادى چې ډېر خوراک د ډول ډول ناروغيو سر چينه ده .

فاروق اعظم رضـى الله عنه فرمايي: له ډير خوراک څخه ځان وژغورئ ځکه ډير خوراک بدن فاسـدوي او مرضـونه را منځ ته کوي او په کړو وړوکې د تنبلى لامل ګرځي ، بلکې په خوړلو او څښـلو کې منځنى لاره غوره کړئ چې هم د روغتيا لپاره ګټوره ده او هم د اسراف څخه لرې ده .

دنيکانو سـلفو څخه نقل شـوې ده خوراک د ژوند کولو لپاره دى نه ژوند کول د خوراک لپاره يعنې خوراک ددې لپاره دى چې ژو ند برقرار واوسي نه دا چې انسان هميشه خپل غم او انديښنه په خوړلو او څښلو کې ورلګوي .

په يوه حديث کې له رسول اکرم صلى الله عليه وسلم څخه معلوميږي :

(**من الاسراف ان تأكل كل ما اشتهيت**) (داهم اسراف ګڼل کيږى چې هر څه غواړې هغه وخورې .

١ - د الأعراف سورت: ٣١ , أيت .

ځنو ددیني نظر خاوندانو له (**وکلوا واشـربوا ولاتسـرفوا** ) څخه اته نکتې اسـتنباط کړې دي :

۱-خوړل او څښل داړتیا په کچه فرض دي .

۲-تر هغه وخته پورې چې دیوشي حرمت په شرعي دلیل ثابت شوی نه وي حلال ګڼل کیږي .

۳- د هغه شیانو څخه استفاده چې الله او رسول ترې منع کړې اسراف او ناجایز دي .

٤- د هغو شـیانو حرام ګڼل چې الله حلال کړي دي، اسراف او سـخته ګناه حسابیږي .

٥- دګیډې له مړښت څخه وروسته خوړل روانه دي .

٦- دومره کم خوراک چې شخص ضعیف شي او واجبات اداء نشي۔ کړی ، روانه دی .

۷- هر وخت دخوړلو او څښلو په فکر کې اوسیدل هم اسراف دی .

۸- هر کله چې د چا زړه څه وغواړي او دی خپله ټوله انرژي دهغه د لاس ته راوړلو لپاره ولګوي ، دا هم اسراف دی . که چېرې د طبي او ډاکترۍ له مخې په دې مسئله کې فکر وشي، نو په خوړلو او څښلوکې منځنی لار ترټولو غوره نسخه ګڼل کیږي .

## د هارون الرشيد د زماني کيسه :

په روح المعاني او مظهري او ...... تفاسـيروکې راغلي دي چې يو ځل يو طبيب د هارون الرشـيد دربارته د ناروغانو د درملنې لپاره راغلی ؤ. ده علی بن حسـين واقدي ته وويل: سـتاسـو په کتاب يعنی قرآن کريم کې دطب علم په هکله هيڅ بحث نه دی راغلی، حال دا چی په دنياکې دوه علمونه شـتون لري يو د اديانو علم او بل د ابدانو (بدنونو) چې هغه ته دطب علم وايي .

علی بن حسـين رحمه الله يې په ځواب کې وويل الله تعالی ټول د طب علم په نيم آيت کې جمع کړی دی .

(**وکلوا و اشربوا ولا تسرفوا**) او بيايې ادامه ورکړه چې ډيرښه آيا ستاسو د پيغمبر په وينا ووکې د طب علم په اړه څه شی راغلي دي؟ علی رحمه الله وويل: رسول الله صـلی الله عليه وسـلم ټول د طب فن څو کلمو کې بيان کړی دی:( **ما ملأ أدمي وعاء شر ا من بطنه، حسب ابن آدم لقمات يقمن صلبه** ).[1]

ژباړه: انسان هيڅ لوښی دګيډې نه بدتر نه دی ډک کړی دآدم دزوی لپاره کافی ده چې څو مختصرې نمړی وخوري څو په هغه سره خپله ملاسمه کړي .

١ - مسند الإمام أحمد، حديث : ١٧١٨٦ / ١٢٣١٨ .

مسيحي طبيب وويل: ستا سو كتاب او ستا سو پيغمبر د جالينوس لپاره طبابت نه دی پريښی .

**درخبر خيرالامور اوساطها نافع آمد زاعتدال اخلاصها (مولوی )**

يعنی په حديث كې راغلي چې غوره د چارو منځگړتيا ده گټور شـو په بدن كې د اخلاطو توازن او منځگړيتوب دهندلايق صدراعظم جواهر لعل نهرو وايي: ډيرمې اور يدلي دي چې خلک له ډير خوراک نه ناروغيږي خو دامې هيڅكله نده اوريدلې چې څوک له لږ خوراک څخه ناروغ شوی وي.

**داسراف ډولونه :**

**۱-په مالونو كې اسراف :**

ديتيمانو د مالونو په هكله په قرآن كريم كې لولو (**ولا تأكلوها إسرافا**)[۱]

ژباړه: په دې آيت كې د يتيمانو په مالونو كې ديتيم اولياء له اسراف څخه منع كړی شوي دی دا مسله يو عمومي مشكل دی چې په هر وخت كې شتون لري او اوس هم په اسلامي ټولنه كې ددې شاهدان چې ديتيمانو مالونه د خپلوانو له لوري په مزوچړچو خوړل كيږي او دهغو د پانگې ساتنې ته پاملرنه نه كيږي بلكې د مړي د مال سره د غنيمت په څير چلند كيږی او هر څوک له خپلوانو زيار باسي څو يوه اندازه له دغه مال څخه خپل كړي .

---

۱ - د النساء سورت : ٦ آيت .

## ۲- اسراف په وخت کې:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : ( **نعمتان مغبون فيها كثيرمن الناس الصحة والفراغ**).[1]

ژباړه: دوه نعمتونه دي چې ډېر له خلکو د هغونه په استفادې سره د تاوان سره مخ شوي دي روغتیا او وزګارتیا ده .

اسراف په وخت کې تر ټولو ډېر خطرناک اسراف دی چې ډېر خلک پرې اخته دي او متوجه نه دي په غفلت کې ژوند کوي. دبیلګې په توګه ځوانان باید د ځوانی د پانګې څخه په استفادې سره علمي او دیني غونډو تشکیل ولري او د خپل ذهن او ځواک د بشپړتیا او جوربښت په لارکې چې هماغه د الله د فرمان لار ده ولګوي .

که چیرې دفساد مرکزونوته ولاړ شي یا د تلویزیون تر څنګ کیني فلمونه ویني او صحنې ننداره کړی دداخلی او خارجي ټیمونو فوتبال تعقیب کړي او ساعتونو د مختلفو چاینلونو په بدلېدو را بدلېدو مشغول وي یا د انټرنټ له شبکې سره پیوست کیږي او پرته له هرډول هدف او موچې مختلف سایټونه را برانیږي، مکه ساعتونه په اتاق کې پرته له هیڅ ډول مثبت حرفه په خبرو بوخت وي. ساعت چې ګوري د شپې له ۱۲ بجوهم وخت تیر شوی وي سترې ستومانه خپله ټوله

[1] - صحيح البخاري، حديث : ٦٤١٢ .

انرژي او ځواک يې دجادو په صـندوقچه کې اچولي وي ، داسـې کسـان چېرى کولاي شي د ټولنې لپاره ګټورواوسي په رښـتينې توګه څومره ځواک او توان يې بيکاره او يا بيځايه له منځه ځي ؟!

## ٣- اسراف د ډول او سنګار او مدلمانځنې زمينه برابروي :

يو خراب او د سردردۍ نه ډک آفت چې د اسراف له رو ښانه مـصداقونو څخه دی او انســاني ټولنې او په ځانګړې توګه نننۍ ټولنې يې بدمرغۍ او تباهۍ ته کش کړې دي د ډول سنګار او مدلمانځنې موضوع ده لويې پانګې ددی تباه کوونکې بلا لپاره لګول کيږی دا شومه او ناوړه پديده تقريباً عامه شوې ده په داسې توګه چې په دې هکله سيالي او رقابت په ښېړه توګه ليده کيږي که چيرې هغه پانګې چې په دې وسايلو يعني د ډول او سنګار لپاره لکه دځان ښايسته کولو سامانونه د کورونو ښايسته کولو توکي، عجيب او غريب لباسونه او جامې او نورتر محاسبې لاندی ونيسونو اسراف به ډيره بده بڼه پکې مشاهده کړو .

## ٤- دنشه يي توکو په لار کې د مال اسراف :

د اسراف له ځيرو څخه چې متأسـفانه پرانسـتې لمنه لري يو د نشـه يي توکو ا ستعمال دی، کومې زياتې پانګې چې په دې موادو مـصرفيږي ددنيا د بې ګټې پانګو لويه برخه تشـکيلوي . ترياک، هرويين، شـيشـه، سـګرت د نشـه يي توکو مختلف محصولات او په دې وروستيو کې د روان ګردان په نامه تابلتونه چې پرته

له ضرر انسان ته څه فايده نه لري اوبرسيره پر ضررونو د تصور نه جګه پانګه هم پرې لګيږي .

**٥- د درانه مهر او جهيز لپاره اسراف :**

د ښـــځې او تر منځ ازدواج يو طبيعي او فطري قانون دی ، که چېرې د نکاح د پريښودو يا وروسته کيدو لپاره کوم عامل سبب شي هغه انساني ضد عامل دی چې بايد مخنيوی يې وشي . يوه بله بدمرغي چې په نورو فسادونو برسېره د نکاح مخه ډپ کوي درانه مهرونه او ملاماتوونکي جهيزونه او بې اندازې لګښـــتونه او د نکاح په جشـــنونو کې بې معنا تشر ـيفات او نورمصـــارف دي نو که چېرې په دې هکله اسراف نه کيدای نو لويه اوغوره برخه ستونزې به حل شوې وای .

**٤- په قصاص کې اسراف :**

يوله هغه امورو نه چې په قرآنکريم کې ورڅخه منع شويده په قصاص کې اسراف دی . الله تعالی فرمايي : ( **فلا يســرف فی القتل** ).[1] ژباړه : نو په کار ده چې هغه په وژلو کې له حده تيری ونکړي .

دجاهليت په زمانه کې يو تن وژل کيده ،نو تيزې تورې به له پوښـونو راوتلې او په لسګونو او سلګونو نفر به وژل کيدل، خو اسلام د قصاص حدود په يوه قانون کې ترتيب او اسراف يې په قصاص کې منع کړ ، ځکه دقصاص قاندن د نورو دعبرت

---

١ - د الإسراء سورت: ٣٣ أيت.

او د وژلو د تکرار مخه نیسي ــ نوکه چېرې اوس مهال په قصـــاص کې زیاتوالی وشي نو د ژمنې ماتیدل به د وژنو د پراختیا لامل وګرځي.

**د اسراف عاملونه :**

**الف: کورنۍ روزنه :**

کله په یوه مسرـفه او زیات لګښــت واله کورنۍ کې دماشـومانو زیږېدنه د اسراف زمینه برابر وي او څومره ښــه یې ویلي دي چې نوي نیالګي او ځوانان د پلرونو د لارې او رسـم آینه او شـیشـه دي . کړم وګړي چې په داسـې یوه کورنۍ کې پالنه اوروزنه موندلې وي چې لویانو یې اسراف کړی وي او له اسراف سره روږدي شوي وي د اولادونو په روحیه کې هم اغیز لري او هغه خوی او خـصلت له کورنۍ څخه ټولنې ته او همدارنګه دده خپلې کورنۍ ته هم نقل کیږي .

**ب: له تنګ لاسۍ څخه وروسته پانګه والي او بډایي:**

کله شتمن کیدل له بیوزلۍ ورو سته او هو سا کیدل له ستونزو ورو سته داسراف لامل کیږي ږ هر کله چې د ژوندانه حالت له سـتونزو او بیوزلیو څخه په راحت او هوســاینه تغیر وومي نو په داســې حال او وســط ژوند تیرول هواکې ددې ډلې لپاره دمنځګړۍ دعايقول او له اسراف څخه پرهيز اوځان ژغورنه ډیرمشــکل کار دی .حتما دخپلې تیرې زمانې پر خلاف لاس په اسراف پورې کویي.

**ج: ځان ستاینه :**

کوم نفر چې د ژوندانه په دوران کې همیشــه په خپلو هیلو او غوښــتنو کې ناکام پاتې شــوی وي او له تنگ لاســی او محرومیت سره لاس او گریوان وي، دا ټولې ناخوالې او ناهیلی په تدریجي توکه په رواني مرضــونو بدلیږي او د هغه په شخصیت کې گډوډې راولي په دې صورت کې دغه ناهیلي دخپل شخصیت د ســاتنې لپاره داســې آلو ته متوســل کیږي چې په روان پوهنه کې له هغه څخه دروانې مکانیزمونویا دفاعي عکس العملونو په عنوان یادیږي.

دې رواني عکس العمل سره وگړي د زیار په اختلال او گډوډی اخته کوي او په ناکامیو او پرله پســې عقدو باندې دسرپوښ ایښــودلو لپاره داســې عمل ته لاس اچوي چې هغه په ټولنه کې مطرح کړي او شــخصــیت وروبخښــي. اسراف او بیځایه او غیر معقول لگښــتونه کولای شــو له همدې مواردو وگڼو ځکه اسراف کوونکی په دې خپل عمر سره دخپل سرکوب شوي شخصیت د بیاموندلو په لټه کې دی او فکر کوي چې په ټولنه کې په دی کړنلارې سره دداســې انســان په عنوان چې مطرح شي په پرانستی لاس اوزړه سره خپله پانگې په بې توجهی سره مطرح کیږي مصرف کړي.

**د: وسواسه:**

وسوسه له رواني ناروغيو څخه ده چې دعمر او روحي او جسمي قوې په له منځه وړلو او داعصابو په ورستولو برسېره داسراف له ريښو او سببونو څخه ګڼل کيږي .د بيلګې په عنوان ممکنه ده يوڅوک دميلمه څخه دميلمســـتيا او هر کلپ په موضوع کې دوسواسې سره لاس او ګريوان شي په داسې توګه چې ميلمه ته په مناســبه غذا او خوراک سره سره دی داســې ګمان کوي اووســوســه زړه ته اچوي چې له هغه څخه يې ښـــايســـته هرکلی نه دی عملي کړی نو ځان د اسراف او تبذير کندې ته غورځوي او په ډوډۍ چمتو کولو دروند لګښت او خرڅه کوي .

همدارنګه يو تن د پايزار جامې يا دکور د و سايلو، لو ښو او نورو لوازمو په هکله په وسـوسـې سره اخته کيږي ، هميشـه په دې فکر کې وي چې هغوی په ډيرو ښـو سره تبديل کړي او په ســختۍ سره د ټاکلي ډول جامې يا د ژوند د وســيلې په درلودلو آراميږي او هميشـــه دا فکر کوي چې څه لري هغه دده سره ووړاودده دشـــان سره مناســبت نه لري، داډول وګړي چې کله دڅه شي داخســـتلو لپاره بازارته ځي نوم څو خپل ځان او ملګري پوزې ته راونه رسوي دڅه شي په اخستلو خوښـــي او رضـــايت نه ځرګندوي او مجبور دي خپل قيمتي عمر په بازارونو او مغازو او اخستلو کې تير کړي او له دې لارې په خپلو مالونو ، پانګه او ژوند باندې يوه بلا مسلطه کړي .

**هــ : داسراف کوونکو سره ملګرتیا او ناسته پاسته :**

کله د اسراف علت د اسراف کوونکو سره ناســته پاســته ده ځکه په ډېرو حالتونو کی دملګري او دو ست خوی او عادت په ځانګړي توګه لکه چې ملګري اوږد پړاو ووهي او هغوی دشخصـیت او اغیزله مخې په غوره او لوړ موقعیت کې ځای لري په نورو ملګرو کې هم رامنځ ته کیږي .

**و: ښځه او اولادونه :**

ممکنه ده ښــځه او اولادونه دانحراف او اسراف ســبب شي ، ځکه کله انســان په داســـې ښـــځه او اولادونو اخته کیږي چې ټول غم او فکر یې خرڅول او اسراف کول وي او کله هم هغه پدوی ســختي نه کوي خو د یوځای ژوند تیرولو له وجې د وخت په تیریدو سره دهغوی تر خوی او اغیز لاندې راځي او دی هم د اسراف کوونکو په صف ورګډیږي .

**ز: د دنیا په جوړښت کې غفلت او په هغه کې د ژوند تیرولو خرنګوالی :**

لکه داسراف لامل د ژوندانه دطبعیت او په هغه کې له اوســېدنې غفلت او نا خبري ده . په دی باید وپوهیږو چې ددنیا د ژوندانه طبعیت بې ثباتي او تغیر او تبدیل دی او په یوه حالت نه پاتې کیږي: دنن ورځې حالت ســتا دمیل او هیلې سره موافقه اما بله ورځ ستا دهیلو د کښتۍ پرخلاف باد لګیږي .

الله تعالی فرمايي : ( **و تلک الأيام نداولها بين الناس**).[1] ژباړه: دا دزمانې خوږې ترخې موږ يې د د خلکو ترمنځه اړوو را اړوو .

موږ مسئول يو چې احتياط وکړو هوښيار واوسو څو د نعمت شکر او بسنه وکړو او دهغه څخه په خپل ځای کې ګټه واخلو . رسول الله صلی الله عليه وسلم په يوه حديث کې فرمايي: ( إن الله کره لکم ثلاثا قيل و قال و إضـــاعة المال و کثرة السـؤال)،[2] ژباړه: الله سـتاسـو لپاره دری شـيان بد او ناوړه بللي دي، قيل و قال (خبرې اترې) دمال ضايع کول او ډير سوال کول.

**د اسراف پايلې :**

**الف: ناروغتيا :**

يوه له هغو پايلونه چې اسراف يې پرخپل ځای پريږدي ناروغتيا او جوړتيا له لاسه ورکول دي .

---

١ - د أل عمران سورت : ١٤٠ أيت .

٢ - صحيح ابن حبان، حديث : ٥٧١٩ .

**ب: دمشغولیتونو او ستونزو په وړاندې تیتوالی:**

داچې اسراف کوونکی په ناز او نعمت کې ژوند کوي او دســـتونزو او کړاوونو سره روږدی نه وي ، دستونزو دطوفان په وړاندې د ولې په څیر لړزیږي او تسلیمۍ ته غاړه ایږدي او دالله له لوري به هم دېره کمه مرسته د ځان لپاره ونه ویني .

**ج : د نورو په حالت باندې غفلت:** انسان په غالبه توګه څو په ستونزو او اړتیاوو اخته نشيـ نوروته توجه او پاملرنه نه لري او نه ددوی وضـــع ورته مهمه ځلیږي .اسراف کوونکی دومره په خپل اسراف مشغول دی چې دنورو لپاره د فکر کولو او پاملرنې موقع ورته نه پاتې کیږي .

**د: دحرامې نمړۍ په وسیله ترلغتو لاندې کیدل:**

د اسراف له نامطلوبو پایلو څخه یو د بیکاره او حرام کار ترسره کول دي ځکه اسراف کوونکی لکه ددې لپاره چې له تنګۍ څخه ځان وباسي او د ناز او نعمت نه په ډک ژوندانه کې چې له هغه سره روږدی او عادت شـــوی دی حرام کار او کسب ته لاس اچوي او حرام خوړلو اخته کیږي .

**هـ: د شیطان سره ورورې:**

د اسراف بل اغیزه د شـــیطان سره دوســـتي او ورورې ده الله تعالی فرمایي : (**إن المبذرين كانوا إخوان الشياطين و كان الشيطان لربه كفورا**) .[1]

---

۱ - د الإسراء سورت : ۲۷ آیت .

ژباړه: په باوري توګه بې ځایه لګښت کوونکي د شیطان وروڼه دي او شیطان د خپل رب ناشکره دی.

شیطان سره وروري دهغه ټولي سره یوځای والی او همغږي ده اودا تر ټولو ښکاره تاواني او ناوړه شکل دی د ګمراهۍ دی.

(ألا إن حزب الشيطان هم الخاسرون) .[1] ژباړه: خبردار اوسئ همدا دشیطان دګوند کسان زیانمن دي .

**و: دالله ﷻ له مینې څخه محرومیت :**

په اسراف پسې د الهي مینې او محبت محرومیت دی الله تعالی فرمایي : ( **إنه لا يحب المسرفين**).[2]

ژباړه: یقیناً الله نه خوښوي له حدنه تیریدونکي .

دهغه چا به څه حال وي چې الله د محبت څخه محروم شي ؟! په باوري توګه داسې کس همیشه په پریشانۍ او روحي عذاب کې ژوند کوي که څه هم له هر دوري په ښه اقتصادي او مالی وضعه کې واوسي.

---

۱ - د المجادلة سورت : ۱۹ آیت .

۲ - د الأعراف سورت : ۳۱ آیت .

**د اسراف کوونکو استدراج :**

له اسراف نه د پرهيز له مثبتو نښــو نه دالله د نعمتونو تعظيم او د نعمت شــکريه ده حال دا چې اسراف د الهی مهربانيو او استعدادونو توهين او هغوته کم قيمت ورکول دي چې هغه هم د الهي نعمتونو له زوال څخه پرته بله لاس ته راوړنه نه لري .

شکر نعمت افزون کند کفر نعمت از کفت بيرون کند

شکر ستا نعمت ډيروي کفر نعمت ستا له ورغوي خارجوي

ممکنه ده پوښـــتنه وشي چې څرنگه اسراف او دالهي فرمانونو څخه سر غړونه دنعمتو زوال رامنځ ته کوي په داســـې حال کې چې موږ دداســـې وگړو او ټولنو شاهديو چې سره له بې شماره اسرافونو په نعمت او هوساينه کې غرق دي او د کمی اثر دهغوی په منځ کې نه ليده کيږي.؟!

په ځواب کې بايد په گوته کړو چې اسراف او دالهي پولو څخه تيری د نعمت د زوال څخـه يو جز دی نـه هغـه ټول. پـه حقيقـت کې اسراف او گنـاه دنعمـت دسلبيدو زمينه گڼل کيږي .

که څه هم ممکنه ده نور حکمتونه او اړخونه رامنځته شي څو دهغه له اغيز نه په دې ځانگړتيا کې مخنيوی وکړي . په دی هکله قرآن کريم فرمايی: (**فَلَمَّا نَسُـواْ مَا**

**ذُكِّرُواْ بِهِ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ أَبْوَابَ كُلِّ شَـــيْءٍ حَتَّى إِذَا فَرِحُواْ بِمَا أُوتُواْ أَخَذْنَاهُم بَغْتَةً فَإِذَا هُم مُّبْلِسُونَ فَقُطِعَ دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِينَ ظَلَمُواْ وَالْحَمْدُ لِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ).**[1]

ژباړه: بيا کله چې هغوی هغه نصيحت هير کړ چې ورته شوی ؤ نو موږ دهر ډول سوکالۍ دروازې دهغوی لپاره پرانستې تردې پورې چې کله هغوی په هغو نعمتونوکې چې وربښل شوي وو ښه دوب شول نو موږ په ناڅاپي ډول هغوی نيول او په دې وخت کې دهغو داحالت ؤ چې له هرې ښېګڼې څخه ناهيلی وو. په دې توګه دهغو خلکو سټه وايستل شوه چې هغوی ظلم کړی ؤاو ثنا ستاينه ده دالله رب العالمين لپاره (چې دهغوی سټه يې وايستله).

نو دنعمت ورکړه سره له اسرافه يو ډول استدراج ګڼل کيږي، استدراج دادی چې الله تعالی هغه انسان يا ټولنې ته چې ګناه يې کسب او حرفه وي هغه ته کافي مهلت ورکړي او خپل بې اندازې نعمتونه له هر لوري ددوی خواته وريږي څو د دوی د ژوندانه ټول اړخونه فساد راونغاړي او ناڅاپه د الله بې امانه عذاب ددوی ټول وجود راګير او په خپل ستوني کې دننه کړي. او د تاريخ په اوږدوکې ډير توکمونه او امتونه چې دفساد او فحشاء زياتې ريښې د دوی په منځ کې رواج او دود وې الله دوی ته دفوري غچ اخستلو په ځای مهلت ورکړ او دنعمت د زوال په عوض يې ددوی نعمتونه ور زيات کړي دي. لکه چې دوی په دې لار کې خپل

---

١ - د الأنعام سورت : ٤٤ – ٤٥ آيتونه.

وروســتني پړاوته رسـيدل په الهی فرمان سره يوې مرگونې پيښــې ددوی ژوند له منځه يووړ او نابود يې کړل نو ديوه آسوده او مزه انسان اويا ديوې اسراف کوونکې ټولنی نښــه هغه فرد يا ټولنې ته دالهي مهربانۍ نښــه نده بلکې په حقيقت کې ددي نعمتونو او مهلتونو نوښـــت او تمديد په خپله ددوی لپاره دالهی عذاب جزء حســـابيږي ځکه د قرآن کريم ٍ په وينا دوی په دې موده کې خپله گناه او جرم زياتوي او په خپل حق کې دالهي عذاب د زياتوالي لامل کيږي الله پاک فرمايي: **(وَلاَ يَحْسَـــبَنَّ الَّذِينَ كَفَرُواْ أَنَّمَا نُمْلِي لَهُمْ خَيْرٌ لِّأَنفُسِـــهِمْ إِنَّمَا نُمْلِي لَهُمْ لِيَزْدَادُواْ إِثْمًا وَلَهْمُ عَذَابٌ مُّهِينٌ)**.[1] ژباړه: دا مهلت چې موږ ورکوو کافران دې دا دځان لپاره غوره نه گڼې موږ هغوی ته ددي لپاره مهلت ورکوو چې هغوی د گناه دروند پيټی وتړی بيا دهغو لپاره سخته سپکوونکې سزاده .

**په اسلام کی دمصرف (لگښت ) بيلگه :**

د ټولو ا سلامي قوانينو څخه دا سې معلوميږي چې ا سلام کې دلگښت بيلگه په دريو اساسی بنسټونو ولاړه ده چې په لنډه توگه روښني پورې اچوو:

---

١ -د ل عمران سورت : ١٧٨ آيت .

**الف: دالهي ډاليو څخه ګټه اخستل.**

**ب: قناعت .**

**ج: له اسراف نه ځان ژغورنه.**

د لومړي ا صل پربنسټ د هغې ډلې دفکر پر خلاف چې سوچ کي دالله بندګي او هغه نن دېوالی دالهی نعمتونو څخه دګټې اخستنې سره توپير لري ، د ژوندانه له ډاليو څخه ګټه اخستل او برخمن کيدل د مسلمان لپاره نه يوازې روا بلکې يو خوښ کار هم ګڼل کيږي . او په مشروع حدکې دمادي خوندونو څخه ګوښه نيونه د رهبانيت په عنوان يو نا خوښ او ناروا کار ګڼي .

ددوهم بنسټ پر بنا سره له هغه چې د غرب فرهنګ يې رامنځ ته کوي انسان په مصرف کې هر څومره زيات رقابت ته وکشوي، اسلام قناعت ته بلنه کوي او انسان پر خپل کنترول او دمادي ګټو او لاس ته راوړنو پر سر له حرص او جګړې نه پرهيز ته تشويق کوي .

د دريم اصل يا بنسټ پر بناء مسلمانان له اسراف او تبذير او په مصرف کې د ډول او سنګار څخه ويروي او هغوی دالهي نعمتونو څخه د استفادې لپاره منځګړې لارې ته راولي د نچوړ دا چې د اسلام نظري بيلګه د مصرف په هکله دغه مبارک آيت دی: ( **وكلوا واشربوا ولاتسرفوا إنه لا يحب المسرفين** ).[1] ژباړه: او

---

۱ - د الأعراف سورت : ۳۱ آيت .

خورئ او څښـــئ او له حد نه تيرى مه کوىء الله له حدنه تيرى کوونکي نه خوښوي .

اسراف دحداو پولې نه د تيري په معنا دى او داسراف د ټولو بڼو او شـکلونو څخه د مبارک آيت منع چې يوه بڼه دهغو نه په مصرـف کې زياته غوښـــتنه هم چې دقناعت پر ضد ده شامليږي .

**د اسراف درملنه:**

۱-داسراف دپايلو په هکله د فکر او ســوچ کولو اړتيا، ځکه ممکنه ده مخکې له دې چې وخت له لاســـه ورکړو بايد د اسراف نه دجبيرې کولو او له هغه نه دخلاصي لپاره را مخکې شو .

۲- داسراف کوونکو سره داړيکو پويښول او دلوړ همتو هوډ نيوونکو او هغو انسانانو سره ناســـته پاســـته چې ددنيا په ســـينه يې د ترديد لاس وهلى او ټول ژونديې داسلامي دبدبې ټولنيزې بيا رغونې ته وقف کړى دى .

۳- د ښځې او اولاد په روزنه او پالنه کې پاملرنه ځکه دغه پاملرنه او توجه په هغو کې د چار چلند د تغير لامل کيږي او په دې توگه کولاى شي داسراف پر مظاهرو غلبه ومومي.

٤- د ټولو انســـانانو په ځانگړې توگه د مســـلمانانو په ژوندانه کې دموجودو واقعيتونو په هکله فکر او سوچ کول په رښتيا سره ولې بايد مسلمان انسان ځان

ته اجازه ورکړي څو خوراکونه په اشــغال په او کثافت دانیو کې خالي کړي . په داسې حال مې چې څه کسان له خپلو همجنسو او ګاونډیانو څخه په بشپړ فقر او بیوزلۍ شپه په لوږه تیروي ؟

۵- دمرګ او دمرګ څخه ورو سته سختیو په باره کې فکر او غم کړل ځکه داډول فکر کول د اسراف د نښـو په پوینښـودلو او د چړچو په غوښــتلو کې مرســته کوي اسراف او دبدن وده او پرورش نشي کولای دآخرت د لارې توښه وګرځي .

لنډه خبره داچې د اسراف نه پرهیز په اقتصــادي ډګر کې د فرد او ټولنې پانګې له هلاکت څخه ژغوري او دانســان د مادي ژوند دوام دژوندانه دســتونزو په مهال شـــايد بیمه کړي او داخلاقي اړخه داسراف سره مبارزه وکړي او ټولنه په دې وتوانوي څو دخپل انساني او اخلاقي مسئولیت پربنا چې دبیوزلانو سره مرسته او زړه سوی دی ونه سپموي .

د اسراف نه لرې والی دی چې د ژوندانه خیمه همدارنګه د اعتدال او وســطیت پرټینګو ســتنو ســاتي او ټولنه د جرمونو له واقع کیدو لکه غلا، رشــوت، دوکه او دهغو له پایلو څخه ژغوري . اعتدال او وســطیت او د ژوند په پانګه کې ســپما د وګړي دمالي توان د بقا لامل او په نتیجه کې به قناعت او انساني شخصیت هغه له ځانه سره ولري . حال دا چې د هغه نه مراعاتول تنګ لاسي او د ژوند ستونزې رامنځ ته کوي او د انسان د اقتصادي ژوندانه ښېرازه هره ورځ له منځه وړي.

۳۳

## امانت او امانت ساتنه

الحمد لله رب العالمين و العاقبة للمتقين والصلاة والسلام على سيدنا محمد وعلى آله وأصحابه أجمعين . قال الله تبارک فی محکم التنزيل و هو أصدق القائلين أعوذ بالله من الشيطان الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم :

(إِنَّ اللّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤدُّواْ الأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُواْ بِالْعَدْلِ).[١]

وأيضاً قال: ( والذين هم لأماناتهم و عهدهم راعون).[٢]

وأيضا قال: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَخُونُواْ اللّهَ وَالرَّسُولَ وَتَخُونُواْ أَمَانَاتِكُمْ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ).[٣]

وأيضا قال: (إِنَّا عَرَضْنَا الْأَمَانَةَ عَلَى السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَن يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا الْإِنسَانُ إِنَّهُ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا).[٤]

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ( لا إيمان لمن لاأمانة له ولا دين لمن لا عهد له ).[٥]

---

١ - د النساء سورت : ٥٨ آيت .

٢ - د المعارج سورت : ٣٢ آيت .

٣ - د الأنفال سورت : ٢٧ آيت .

٤ - د الأحزاب سورت : ٧٢ آيت .

٥ - مسند الامام احمد، حديث: ١٢٥٦٧.

امانت او امانت ساتنه دا سلام د سپیڅلی دین له لوړو ارزښتونو څخه ګڼل کیږي او دغه مبارک او انسان جوړونکی دین همیشه دخپلو پیروانو د کړووړو څارونکی دی او له دوی څخه غواړی چې با احساسه زړه او ضمیر ولري او په هغه سره دالله او بندګانو حقوق کماحقه وساتي او خپل عملونه دتیري او غفلت نه وژغوري. په باوري توګه رښتیا او رښتیا ویل د امانت ساتنې بشپړوونکی دی. امانت ساتنه د ایمان لرونکو خلکو ځانګړتیا او عکس یې خیانت دی چې د منافقانو ځانګړتیاده .

په او سنی نړۍ کې ډیری له خلکو امانت ساتنې ته یوازې له ډیرې تنګې او شمیرل شوې زاویې څخه ؛ګوري او هغه د څو مطلوبو څیزونو په ساتنې سره چې چاته سپارل کیږي تفسیروي چې که چېري یې هغه په بشپړه توګه په خپله موقع د هغه خاوند ته په اختیار کې ورکړل نو دا انسان امانت ساتونکی والا دی او که یې په هغه څیز مزې چړچې وکړې نو امانت ساتونکی نه دی بلکې خاین ګڼل کیږي . که څه هم دغه کار دامانت ساتنې یوه برخه ده خو دا اصطلاح په اسلامی فرهنګ کې ډیر پراخه مفهوم لري او په مادي امانتونو لکه پیسې او شتمني، ځمکه، آبادي کور او کتابونه او .... نه بلکې له دې څیزونو ډیر لوی دی، نو باید امانت باید امین والی، رښتیا او صحیح کار کول، د خیانت ضد دی او همدارنګه مال یا یو شی چې چاته وسپاري باید هغه څخه ساتنه وشي .

امانت دار : څوک چې د بل مال امانت وساتي . امانتداری : دامانت ساتونکي کار او کسب، رښتیا او صحیح کار کول او هغه څه چې دامانت په توګه یې چاته وسپاري .

امانت د اخلاص او رښتینولي او امین والی، یعنی دعدالت غوښتنې ترسره کول د هغه په معینو وختونوکې . او دا دالله له صفتونو څخه یو صفت دی .

امانت: دمفسرینو په اصطلاح کې هغه تکالیف او کړاوونه دي چې الله تعالی پر خلکو تعیین کړي، دعبادتونو او پیرویو څخه اما د متصوفینو په اصطلاح کې یو استعداد دی چې الله تعالی د ښیګڼې، علم او عشق لپاره د انسان په زړه کې امانت ایښی دی، صوفیانو دغه معنا له دې مبارک آیت : ( **إنا عرضنا الأمانة** ....).[۱] څخه اخستی ده.

گرامانت بسلامت بیرم باکي نیست    بي دلي سهل بود گر نبود بي دیني
آسمان بار امانت نتوانست کشید    قرعه کار بنام من دیوانه زدند

حافظ

یعني که چېرې امانت په سلامتیا یوسم څه پروا نشته که چېرې بې دیني نه وي بی زړه توب اسانه دی یعنی زړه دې نه وي خو ایمان دې وي. اسمان د امانت بار پورته نکړ، دکار پچه یې زما ، لیونی په نامه و ایستله .

۱ - د الأحزاب سورت : ۷۲ , آیت.

**امانتدار:** امين او محکم او ثابت څوک چې امانت وســاتي. څوک چې د امانت صـفت لرونکی وي نو هر څه چې هغه ته وسـپاري پرته له کموالي او نقصـانه يې بيرته ورکړي . کومه د سر خبره چې هغه ته ووايي، د هغه پاش کول يې په هيڅ ځای او هيڅ وخت کې رواونه ګڼي او روا يې ونه بولي .

چو دل را محرم اسرار کردن		خموشی را امانتدار کردند

کله چې زړه داسرارو محرم وګرځی، چوپتيا د امانت ساتنې وسيله ده .

**د امانت پراخه مفهوم :**

لکه څنګه چې وويل شــوه امانت د اســلام د شــارع له نظره پراخه مفهوم لري او مختلفو معنا وو ته اشـــاره شـــوې ده ، چې د هغو ټولو معيار په هر کار کې دمسئوليت احساس دی چې دده په اوږه ايښودل کيږي او په هره دنده کې چې ده ته ســـپارل کيږي بايد په غوڅه توګه باوري وی چې د هغې په هکله د الله په وړاندې دغوښتنې مورد ګرځي.

نو بناپردې امنت ســـاتنه د ټولو مســـئوليتونو اداء او اخلاقی او ټولنيزو ژمنو او تړونونو ته شـــامليږي. د بيلګې په توګه عقل يو الهی امانت دی چې انســـان ته سپارل شوی دی ،که چيرې انسان دعقل په غوښتنه عمل وکړی او هغه په پوهه او علم ســـنګار کړي او ترتيب ورکړي په دې هکله يوښــه امانت ســاتونکی ګڼل کيږي .

مادي او معنوي نعمتونه لکه دين ، قرآن، ددين احکام، الهی فرضونه او واجبات ، اوبه ، خاوره ، چوکۍ او د بدبه ، عمومی مالونه او بيت المال، همدارنگه دښوونکو په وړاندې زده کوونکي ، مور او پلار په وړاندې اولادونه انسـاني غړي او جوارح او پانگې لکه عمر او ځواني دامانت له مصـــداقونو څخه دي ان تردې مورږ خپله د خپلې ټولنې لپاره امانت يو او هر ډول خيانت د هر امانت په هکله ځان ته خيانت گڼل کيږي. قرآن کريم ښوونه کوي : ( **ولا تجادل من الذين يختانون أنفسهم**).[1]

ژباړه:کوم کسان چې له خپل ځان سره خيانت کوي ته دهغو ملاتړ مه کوه .

ميرمن او اولادونه، پلار او مور او ټول هغه کســـان چې داوگړيو سره دخپلوۍ اړيکې لري ، دهغوی نيکمرغه ملاتړ د نصيحت له لارې لازم دی ، لکه څنگه چې د هغوی حقوق مراعات کړي او د دوی په هکله هيڅ ډول پند او نصــيحت ونه سپموي او ددوی د ښېگڼې او نيکمرغي لپاره زمينه برابره کړي او هغوی د دلدي څخه وژغوري نو دامانت په مسئوليت يې په ښه توگه عمل کړی دی . الله تعالی فرمايي: ( **يآأيها الذين آمنوا أنفسكم وأهليكم نارا**).[2]

ژباړه: اې مؤمنانو! خپل ځانونه او خپل اولادونه او کورنۍ له هغه او نه وژغوری .

---

۱ - د النساء سورت : ۱۰۷ آيت .

۲ - د التحريم سورت : ٦ آيت .

## د امانت ډولونه :

### ۱ ـ دين امانت دی:

دين هم يو امانت دی چې امانت ساتنه يې د شريعت علماوو ته سپارل شوې ده په داسـې توګه چې هغه خلکو ته په ښـه توګه بيان کړي او هغه تحريف او د لوبو آله ونه ګرځوي او په هغه کې شــته واقعيتونونه شرح او وضــاحت ورکړي او دهغه عقايد او احکامو ته ددښــمنانو د لاس غځونې مخه ونيسيــ ،په دغه بڼه به په ژوندانه کې دغوره ارزښــتونو او مفاهيمو ملاتړی او مدافع واوسي . اما که چيرې يې داســې ونه کړه نو د ځان او خلکو په هکله د ډيرو بدو او تاواني خيانتونو مرتکب شوي دي الله تعالی فرمايي :

**(وَإِذَ أَخَذَ اللّهُ مِيثَاقَ الَّذِينَ أُوتُواْ الْكِتَابَ لَتُبَيِّنُنَّهُ لِلنَّاسِ وَلاَ تَكْتُمُونَهُ فَنَبَذُوهُ وَرَاء ظُهُورِهِمْ وَاشْتَرَوْاْ بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا فَبِئْسَ مَا يَشْتَرُونَ)**.[۱]

ژباړه : دغو اهل کتابوته هغه کلکه ژمنه هم ورياده کړه چې الله ورڅخه اخســتې وه چې تاسې به دکتاب لارښوونې په خلکو کې ارومرو خوروی او هغه به نه پټوی، خو دوی کتاب شـاته وغورځوه او هغه يې لږبيه وپلوره ، ځومره ناکاره را کړه ورکړه ده چې دوی يې کوي .

۱ ـ د آل عمران سورت : ۱۸۷ , آيت .

## ۲- علم او پوهه الهی امانت :

په عالمانو او پوهانو کې موجوده علم او پوهه الهي امانت گڼل کیږي لکه څنگه چې هغه ته یې د کســـب او گټې اخســـتنې لارې دخلکو لپاره چمتو کړې او دبشر-یت دآرامی، ښـیگڼې او سـلامتیا په هکله یې له علمي لاس ته راوړنو څخه گټه اخســـتې ده . هغو علماوو له خپل امانت څخه په ښــه توگه ســاتنه کړې او دالهي اجر استحقاق او په تاریخ کې پاتې کیدنه مومي .

( **إنما يخشى الله من عباده العلماء** ).[۱]

ژباړه: حقیقت دادی چې دالله له بندگانو نه یوازې عالمان له هغه نه ویریږي .

اما که چیرې د هغه علماوو پوهه دبشر-یت لپاره د وېرې ، پریشـــانی ،ضررونو او ســـتونزو په لار کې وکارول شي او دطاغوتیانو سره یې د جرم او جنایت په ارتکاب کې مرسته وکړه، په واقعیت کې هغه خیانت کاره سړي حسابیږي چې په تاریخي خوارۍ او ذلت او دالهي لعنت او کرکه کې به شامل وي .

او همدارنگه الله فرمایي: (**فَبِمَا نَقْضِـــهِم مِّيثَاقَهُمْ لَعنَّاهُمْ وَجَعَلْنَا قُلُوبَهُمْ قَاسِـــيَةً يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِ وَنَسُواْ حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُواْ بِهِ**) . [۲]

ژ باړه: بیا د هغو خپله وعده ماتول وو چې د هغو له امله موږ هغوی له خپل رحمت څخه لرې وغورځول او د هغو زړونه مو سخت کړل. اوس دهغو حال دادی

۱ - د الفاطر سورت : ۲۸ , آیت.

۲ - د المائدې سورت : ۱۳ آیت .

چې الفاظ سرچپه اړوی له یو ډول خبرې نه بل ډول خبره جوړ وي کومه ښـــوونه چې هغو ته شوې وه دهغو زیاته برخه یې هېره کړیده .

### ۳- دځوانۍ پانګه، الهي امانت :

دځوانۍ نعمت د الهي امانتونو څخه یو امانت دی چې باید هغه غنیمت وګڼل شي او دهغه دنشـــاط او فعالیت نه د ډکې دورې دضـــایع کیدو مخه ونیسي ـ او دهغه د ساتنې او ژغورنې په فکر کې واوسي او له دې دورې څخه دمعنوي پانګو دذخیره کولو لپاره ګټه وپلټل شي او څارونکی وي څو دځوانۍ له فرصتنونو څخه یوه شیبه په غیر الهي بهیرکې له لاسه ورنکړي .

**( لا تزول قدما عبد یوم القیامة حتی یسئل عن أربع : عن عمره فیم أفناه ؟ وعن عمله فیم فعل وعن ماله من أین اکتســـبه و فیم أنفقه وعن جســـمه فیم أبلاه وعن علمه ماذا عمل فیه).**[1]

ژباړه: رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم فرمایلی دي: دانسـان قدمونه به تر هغه وخته پورې حرکت ونکړي څوله ده څخه د څلورو څیرونو په هکله پوښتنه نشي : له عمر څخه یې چی په څه کې یې فنا کړی او له عمله یې چې څه کارېې کړی او له ماله یې چې له کومه ځایه یې لاس ته راوړی او په څه کې یې لګولی دی او له بدنه یې چې په څه کې یې بوډا کړی او له علم څخه یې چې څومره عمل یې پرې کړی دی .

---

۱ - مسند البزار ، حدیث : ۱٤۳٥ .

## ٤- غړي او اندامونه الهی امانت :

تر ټولو لوی امانت چې باید زیاته پاملرنه ورته وشي د خلکو غړي او اندامونه ، توان مندی ، استعدادونه او صلاحیتونه دي چې دا ټول امانت دي .

موږ د خپلو ســـترګو، غوږونو او نورو غړو خاوند نه یو چې پر هر ډول زموږ زړونه وغواړي له هغو ګټه واخلو.

د خپلې دســـتګاه نه کولای شـــو په خوشـــې توګه له ســـترګو کار واخلو او دنیا او دهغې ښکلې منظرې وګورو ، اما ناروالیدنه دې الهی امانت ته خیانت دی .

دبیلګې په توګه دســـترګو په هکله د امانت د رعایتول ددې ایجاب کوي څو دسترګونه تلاوت، تدیس ، مطالعې او د خیر او ښېګڼې په دروازو کې څیړنه وشي او غیرمحارمو او هغه چاته چې نهی ورڅخه شـــوې د هغو له لیدلو کتلو څخه اجتناب وشي ، یعنی د ســـترګو لیدنه او نه لیدنه د اســـلام تر اصـــولو ، قواعدو او لارښوونو لاندې وي .

په قرآن کریم کې لولو: ( **یعلم خائنة الأعین** ).[١]

ژباړه : الله ان دسترګو پرغلا باندې پوهیږي .

غوږ الهی امانت دی چې هغه برلاسي او قادر ذات د اوریدنې لپاره را ببنلی دی .

مناسبه ده چې انسان له هغه څخه دمادي او معنوي ارزښتونو په هکله ډیره لویه اســـتفاده کړې وای . اســـلامي حقیقتونه او علمونه چې ټول ښـــېګڼه او ګټور دي

١ - د المؤمن سورت : ١٩ , آیت .

وارول شي او له هغه شي څخه چې اوريدنه يې دشريعت دهغه خلکو خبروته غوږ نيول چې نه غواړي خبرې يې واوريدل شي او با غيبت او تور لګولو ته غوږنيول .
ژبه الهي امانت ده چې انســـان د هغې په حرکت راوړلو سره کوم کارونه کولاي شي ترسره کړي دقدوس او لايزال الله آباد دســهار او مابنــام په ذکرونو او دقرآن کريم په تلاوت شــخص کولای شي دآخرت دآبادۍ لپاره کار وکړي ، ددنيا له کورڅخه هم دخير او کاميابۍ په ګټې اخستنې دخلکو او ملت د مادي او معنوي آبادۍ او جوړيدنې سره لازمه توجه ولري .
همدارنګه لاس او پښه او بالاخره دانسان ټول غړي او اندامونه الهي امانت دي ، بايد او شايد دالهی احکامو او فرمانونو او دپيغمبر صلی الله عليه وسلم له لارښوو سره سره مطابق عمل وشي دالهي اوامرو قبولتيا او له موانعويې په جدي توګه اجتناب وشي او که نه دقيامت په ورځ به دقهار او جبار الله تر پوښــتنې لاندې راشي او غړي به داســې شــهادت ورکوي : (**الْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلَى أَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَا أَيْدِيهِمْ وَتَشْهَدُ أَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ**). [1]
ژباړه: نن ورځ موږ ددوی خولې په مهر وهلو بندوو، ددوی لاســونه به له موږ سره وغږيږي او ددوی پيښې به شاهدي ووايي چې دوی په دنيا کې څه کارونه کول .

---

۱ - د يس سورت : ٦٥, آيت .

**۵- دمامور وخت امانت دی :**

دحکومت ټول مسـؤولین آمر دی که مامور، په هره اداره، وزارتونو، ریاستونو، دولتي او غیر دولتي اداره کې چې دنده ترسره کوي د معمول په توګه د هر مسئول دحاضرۍ وخت له ۸ بجو څخه پیل تر ٤ بجو پورې ادامه لري چې باید هریو خپله ورسپارل شوې دنده پرته له کوم کمي او نقصانه په خپل معین او ټاکلي وخت تر سره کړي په غیر له دې که چیرې څوک یوه دقیقه له شرعي عزر نه پرته ضایع کوي په حقیقت کې په امانت کې د خیانت مرتکب شوی دی .

همدارنګه مدرسې، ښوونځي، پوهنتونونه او نورو موسسې ، اکادمۍ او صحی مرکزونه له دې امر څخه مستشنی نه دي . بلکې ددولت ددی صلاح مقامونو له لوري په معینه زمانه کې باید رعایت شي ځکه یو کارکوونکی چې په یوه اداره کې اته ساعتونه کار کوي ،ګواک خپل وختونه یې دهغه مزد او اجورې په وړاندې چې له ادارې څخه یې لاس ته راوړي په اجاره ورکړي دي . دغه اته ساعتونه د کارکوونکي په وړاندې د ادارې امانت دی که چیرې هغه یوه دقیقه په داسې ځای کې تیره کړی چې د ادارې له خوا جواز نه لري په حقیقت کې په امانت کې دخیانت مرتکب شوی دي .

نو بنا پدي (وختونه) امانت دي او په تاکلو او معینو وختونو کې وزګار اوسـیدل د تطفیف حکم لري لکه چې قرآن کریم فرمايي : ( **ويل للمطففين الذين إذا اكتالوا على الناس يستوفون و إذا كالوهم أو وزنوهم يخسرون** ).[1]

ژباړه : تباهي ده د ډندې وهونکو لپاره، دهغو حال داسـې دی چی کله له خلکو نه په پیمانه څه اخلي نو پوره يې اخلی او کله چې هغو ته په پیمانه يا تله څه ورکوي نو کم يې ورکوي .

## ٦- چوکۍ او رتبه الهي امانت دی:

چوکۍ ، رتبې او مشـغولیتونه دامانت جزء ګڼل کیږي او خاوندان يې تر الهي پوښـتنې لاندې راځی. دناوړو او نااهلو رياسـت د ټولنیزو ناخوالو رامنځ ته کیدو لامل کیدای شي . هر وګړی دځانګړي کار او مقام وړتیا او اسـتعداد لري او بايد مسـئولیتونه هغو وګړوته وسـپارل شي چې د لازم صـلاحیت لرونکی وي .له دې پرته به په دنيا او آخرت کې دالله او مخلوق په وړاندې دسـختې پوښـتنې لاندې راشي .

دبشر ـیت دنړۍ رهبر د ابوذر رضي الله عنه په وړاندې ځومره ښـکلې وینا کړېده په خپله دابوذر رضي الله عنه په روايت : ( **قلت يا رسول الله صلى الله عليه وسلم آلا**

---

١ - د المطففين سورت : ١- ٣ , آیتونه .

**تستعملني ؟ قال : فضرب بيده على منكبي ثم قال : يا إباذر إنک ضعيف و إنها أمانة و إنها يوم القيامة خزي وندامة إلا من أخذها بحقها وأدى الذي عليه فيها )**.[١].

ژباړه: ما وويل اې د الله رسوله ! ايا ماد يوې سيمې والي نه گرځوې ؟ (ابوذر) وايی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم زه په خپل لاس په اوږه ووهلم او بيايی وفرمايل : ای ابوذره! ته بيوزلی يې او ولايت او د چارو سپارل امانت دی او د قيامت په ورځ به د امر دمتولي درسوايۍ او پښيمانۍ لامل ږي مگر دا چې هغه ولايت يې په حق سره اخستی وي او دهغه وړتيا او لياقت لري او دهغه له ژمنې وتلی شي او هغه يې په سمه توگه ترسره کړې وي .

علمي او عملي کفايت او بسنه دښه او نيک نفس لازمه نده يعنی هر څوک چې صالح وي لازم نده چې حتماً دې علمي او عملي کفايت ولري امکان لري يو تن دښه سيرت او چلند او ښه ايمان خاوند وي خوونه شي کولای دځانگړې دندې له ژمنې څخه په مطلوبه توگه راووځي او گټور تمام شي .

**حضرت ابوذر ضي الله عنه چې کله درسول الله صلى الله عليه وسلم** څخه پريوه ځای دولايت غوښتنه وکړه **رسول الله صلى الله عليه وسلم** په ده کې دهغه دندې کفايت او وړتيا ونه ليده هغه يې ورڅخه منع کړ .

---

١ - صحيح الإمام مسلم، حديث :١٨٢٥ .

امانت حکم کوي چې موږ دچارو او دندو لپاره هغه ډېر با کفایته خلک چې دهغه د ادارې قدرت او کفایت لري هغه ورته غوره کړو او په هغه دنده یې وګمارو .
هر کله که د ر شوت، خپلوالۍ او شخ صي اړیکو په وجه له دې ا صل نه منحرف شــوو نو په حقیقت کې د ډېر خطرناک خیانت مرتکب شــوي یو او په امانت کې موخیانت کړی دی .
هغه مدیر چې په واسطو، منځګړو لارو او پارټ بازیو د خلکو له عمومي مصلحتونو سره لوبې کوي او د کفایته وګړو چوکۍ رتبې او کار پوهنې ته پاملرنه نه کوي هغه بیکاره کوي او نور په ده مخکې کوي او مقرروي یې نو دا مدیر د خلکو او ټولنې په هکله د خیانت مرتکب کیږي او د امانت ساتنې رعایت نه کوي حال دا چې نبوی سنت موږ ته لارښوونه کوي چې دا ډول چارې د فساد او تباهۍ نښې او لاملونه دي چې د آخرې زمانې په خلکو کې رامنځ ته کیږي . (**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ بَيْنَمَا النَّبِيُّ فِي مَجْلِسٍ يُحَدِّثُ الْقَوْمَ جَاءَهُ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ مَتَى السَّـاعَةُ فَمَضَـى رَسُـولُ اللهِ يُحَدِّثُ فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ سَمِعَ مَا قَالَ فَكَرِهَ مَا قَالَ وَقَالَ بَعْضُهُمْ بَلْ لَمْ يَسْمَعْ حَتَّى إِذَا قَضَى حَدِيثَهُ قَالَ أَيْنَ أُرَاهُ السَّـائِلُ عَنِ السَّـاعَةِ قَالَ هَا أَنَا يَا رَسُـولَ اللهِ قَالَ فَإِذَا ضُـيِّعَتِ الْأَمَانَةُ فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ قَالَ كَيْفَ إِضَاعَتُهَا قَالَ إِذَا وُسِّدَ الْأَمْرُ إِلَى غَيْرِ أَهْلِهِ فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ**).[۱]

---

۱ - صحیح البخاري، حدیث : ۵۹ .

ژباړه : يو باندچي سړی د رسول الله صلی الله عليه وسلم حضورته راغی او پوښتنه يې وکړه چې قيامت څه وخت دی ؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه ته وفرمايل : هر کله چې امانت ضايع شي (مراعات يې ونشي ) هغه سړي وويل : دامانت ضايع کيدل څرنگه کيږي ؟ پيغمبر صلی الله عليه وسلم وفرمايل: هر کله چې کار نا اهل ته وسپارل شي او دچارو واگې هغو کسانو ته پريښودل شي چې دهغه د ترسره کولو لياقت او کفايت ونه لري نو په دغه وخت کې دقيامت انتظار باسه .

په دندوکې خيانت د گناه او بدۍ له مخې توپير لري. تر ټولو بد او ناوړه خيانت د مسلمانانو په دين او ټولنه باندې دی او دهغه بد آثار او نتيجې سراسر هيواد دناورين او مشکل سره اخته کوي .

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي : ( **إذا أجمع الأولين و الآخرين يوم القيامة يرفع لكل غادر لواء فقيل هذا فلان بن فلان** ).[١]

ژباړه: کله چې الله تعالی د قيامت په ورځ وړومبنی او وروستني را غونډکړي نو دهر خيانت کوونکي لپاره به يو بيرغ جگ شي چې هغه به په هغه بيرغ پيژندل کيږي او ويل کيږي به دا فلاني دفلاني د زوی بيرغ دي.

١ - صحيح الإمام مسلم، حديث : ١٧٣٥ .

د امانت د رعايتولو يو مورد دادی چې انســـان دشــخصيــ ګتو يا دخپلوانو او دوستانو دګټو له وجې دخپل کسب، چوکۍ او منصب نه ناوړه ګټه ونکړي څکه دعمومی مالونونه ناوړه ګټه اخستل جرم او خيانت دی .

معمولاً حکومتونه يا شرکتونه خپلو خدمت کوونکو او کارکوونکو ته معين حقوق ورکوي . نو دهغو حقوقو څخه دزياتو لاس ته راوړلو لپاره کوښــښ او په ډول ډول لارو زيار ايستل حرام خوري ده .

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايی : ( **من استعملناه على عمل فرزقناه رزقا فما أخذ بعد ذلک فهو غلول** ).[1]

ژباړه:هر کله چې څوک په يوه کســب او منصــب وګمارم او څه حقوق د هغه لپاره مقررکړم نو څه چې له هغه زيات واخلي هغه خيانت، حرام او ناوړه استفاده ده .

## ۷- دمجلسونو داسرار و په حفاظت کې امانت ساتنه :

دامانت يوه معنا داده چې انسان دهغه مجلس حقوق وساتي کوم کې چې برخه اخلي او دهغه اسرار خواره نکړي څکه ډېرې ژمنې ددې په خاطر چې ځينې خلک دمجلس امانت نه ســاتي او دهغه اسرار خوروي ماتې شــوي او دناوړه پايلو د څرګنديدو باعث ګرځيدلی دي.

١ - سنن أبي داود، حديث : ٢٩٤٥.

رســول الله صــلی الله علیه وســلم فرمايي : ( **إدا حدث رجل بحديث ثم التفت فهو أمانة**).[1]

ژباړه : هر کله چې څوک چاته خبره وکړي او بيا خپل چاپيريال ته وګوري هغه خبره دهغه په وړاندې يو امانت دی .

البته د مجلســونو درناوی واجب دی چې دشرعي ادابو او معيارونو پربنســټ تشــکيل شي له دې پرته داحترام وړ او لرونکي نه دي . نو کوم مجلســونه چې مجرمان د نورو د ضرر او اذيت لپاره برپا کوي په داسې توګه چې مسلمان په هغه کې حضــور ولري ، نو پر مســلمان واجب دی چې د توان په کچه د فســاد مانع وګرځي او دهغه د اسرارو له خورولو څخه ځان دريغ نه کړي په حديث کې راغلی دي : ( **المجالس بالأمانة إلا ثلاثة مجالس سفک الدم حرام أو خرج حرام أو اقتطاع مال غير حق** ).[2]

ژباړه:مجلســونه د امانتونو لرونکي دي او نبايد اسرارېې خواره شي مګر په دريو ځايونو کې چې له دې ځانګړتيا برخمن نه دي هغه مجلس چې د ناحقه وينو تويولو په خاطر وي ، يا دچاپه آبرو تيری وي او يا دخلکو مالونو ته په ناحق لاس غځولو لپاره تشکيل شوی وي .

---

١ - جامع الأصول في أحاديث الرسول , حديث : ٤٧٦٨ .
٢ - سنن أبي داود، حديث : ٤٨٧١ .

لنډه دا چې: امانت ســـاتنه د مختلفو اړخونو او ډول ډول کونجونو لرونکی دی چې د هغو درعایت په صورت کې د ژوندانه ټول امور تنظیمیږي او د جنجالونو او انحرافاتو مخه نیول کیږي .

په امانت ســـاتنه کې دیادشـــوو حدودو په مراعاتولو سره دټولنې دنیکمرغی او لوړوالي رازنغښتی او نه رعایتول یې د ټولنې د بدمرغی او خواری زمینه برابروي.

برخیز تابه عهد امانت وفا کنیم تقصیر های رفته به خدمت قضا کنیم

یعنی: جګ شه څو د امانت په ژمنه وفا وکړو کومې کمی چې زموږ څخه شوې دي هغه په خدمت سره پوره کړو.

**۸- په تجارت کې رښتیا ویل امانت دی :**

تر ټولو غوره کار چې امانت ســـاتنې او رښـــتیا ویلو ته اړتیا لري (هغه شرکت ، مضـاربت او وکالت ) او ډول ډول معاملات دي چې یو لوری کار او مسـئولیت بل ته ســـپاری او هغه په خپلو مالونو کې د تصرــف لپاره د اعتماد مورد ګڼي . او دا چې څوک د اطمینان او اعتماد مورد وګرځیده با ید ټول د خپل دوراو خواوو د مصـلحتونو او ګټو د تأمین لپاره په کار واچوي . دالله رضـا او رحمت دخپل حال سره شـــامله کړي او که چیرې یوازې د خپل خیر او ګټې په فکر کې ؤ دخیانت مرتکب ګرځی او خپل ځان د الله له رضا او رحمت څخه محروموي .

په قدسي حدیث کې راغلي دي چې الله جل جلاله فرمایی : **عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ رَفَعَهُ قَالَ « إِنَّ اللَّهَ يَقُولُ أَنَا ثَالِثُ الشَّـــرِيكَيْنِ مَا لَمْ يَخُنْ أَحَدُهُمَا صَـــاحِبَهُ فَإِذَا خَانَهُ خَرَجْتُ مِنْ**

بَيْنِهِمَا ».[1] حضرت ابو هريره رضي الله تعالی عنه په مرفوع حديث کې له حضرت رسـول صـلی الله عليه وسـلم روايت کوی : زه دريم د دوه شريکانو يم ترڅو چې دوی په خپلو کې خيانت ونه کړي که چېرې يو دبل سره خيانت وکړي زه له هغوی څخه فاصله نيسم .

بنا پردی بايد ټول تجارت په ځانګړې توګه ملی تجاران د راکړې ورکړې په معامله کې د خپلو خلکو او ملت اقتصادی حالت په نظر کې ونيسي .

**دکتاب ورکړه دامانت په توګه :**

د کتاب امانت ورکولو حکم، ځينې علماء په دې باور دي چې دعلم تحريم او پټول ديته هم شامليږي چې هغه کتاب چاته امانت ورنکړشي چې نسخې يې په بازار کې دېرې نه وي . يا دکتاب غوښتونکی مالي وس نه لري چې په قيمت يې واخلي .

په دې اســاس د کتاب امانت ورکول زده کوونکو او محصــلينو ته چې اړتيا ورته لري واجب دي ، ځکه له دليل پرته د کتاب نه ورکول زما په نظر د (**يمنعون الماعون**)[2] په صفت کې شامليدل دي اما امانت ورکول د کتاب هغه وخت ورجيږي چې لاندې شرايط شتون ولري:

۱-دکتاب غوښــتونکی رښــتيا کتاب ته اړتيا ولري او له دغه کتاب پرته بل کتاب دهغه اړتيا پوره نکړی شی.

---

۱ - سنن أبي داود،حديث : ۳۳۸۵ .

۲ - د الماعون سورت، ۷ آيت .

۲- په عمومي کتابتونونو کې چې په هغو کي داخلي او خارچي کتابونه شـــتون ولري په هغه کې پیدانشي .
۳- داچې یا کتاب په بازار کې پیدانشي یا یې غوښتونکی مالی وس ونه لري .
٤-کتاب غوښتونکي پخوا کتاب ضایع کړی نه وي او نه یې دکتاب په سپارلوکې له ځنډ څخه کار اخستی وي.
٥- - دکتاب خاوند په هغه وخت کې خپله اړتیا ورته ونه لري ، ځکه دده اړتیا د نورو په پرتله مخکې ده .
او په یوه روایت کې راغلي دی : له ځانه پیل وکړه او بیا وروســـته یې هغه چاته ورکړه چې ستاترکفالت لاندې دي.

**د امانت ارزښت د روایتونو له مخې :**

د حضـــرت علی او عبدالله بن مسعود رضي الله عنهما څخه روایت شوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :( **العدة دین** )[1] یعنې وعده یوډول قرض (پور) دی. بنا پردې کله چې چاته څه وعده او ژمنه ورکړی شـــوه نو په وعده کوونکي لازم دي چې هغه پرځان د قرض په څیرو ګڼې او دهغه د اداء په هکله زیار وباسي . اما که چیري دبدکار وعده ورکړی شـوه د هغه پوره کول لازم نه دي بلکې دهغې وعدې په خلاف عمل کول لارمیږي او په داســـې ډول وعده خلافۍ کې ګناه نشته بلکې له شریعت څخه د ثواب او پیروۍ لامل کیږي .

١ - المعجم الآوسط للطبراني، حدیث : ۳۵۱۳، ۳۵۱۴، جامع الآحادیث ، حدیث : ۱۴۴۶۸ ، مسند الشهاب، حدیث : ۷ .

د انس رضی الله عنه روایت دی چې ویې ویل : هر کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته خبرې کولې نو همیشه به یې فرمایل : ( **لا اِیمان لمن لا آمانة له ولادین لمن لا عهده له** ).[1]

ژباړه: څوک چې امانت ساتونکی نه وي ایمان نه لري او دچاچې ژمنه رښتینې نه وي هغه دین نه لري .

**حضرت شعیب علیه السلام د لورانو کیسه :**

بیغمبر صـــلی الله علیه وســـلم د پیغمبرۍ نه مخکې د خپل قوم په منځ کې په امین اورښتین سره مشهور او ملقب ؤ. او همدارنګه موسی علیه السلام چې کله د هغه صـــالح او نیک ســـړي د لورانو میړوته او به ورکړې ، دامانت او ښـــه خوی نښې نښانې پرې څرګندې وې .

او هغه نجونو ته د ښځیتوب په خاطرپه احترام قابل شو او دهغو سره سې په پاک لمنۍ او شرافت چلندوکړ څرنګه چې الله پاک فرمایي:

**( فَسَـــقَى لَهُمَا ثُمَّ تَوَلَّى إِلَى الظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ إِنِّي لِمَا أَنزَلْتَ إِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيرٌ فَجَاءتْهُ إِحْدَاهُمَا تَمْشِي عَلَى اسْتِحْيَاء قَالَتْ إِنَّ أَبِي يَدْعُوكَ لِيَجْزِيَكَ أَجْرَ مَا سَقَيْتَ لَنَا فَلَمَّا جَاءهُ وَقَصَّ عَلَيْهِ الْقَصَـــصَ قَالَ لَا تَخَفْ نَجَوْتَ مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ قَالَتْ إِحْدَاهُمَا يَا أَبَتِ اسْـــتَأْجِرْهُ إِنَّ مَنِ اسْتَأْجَرْتَ الْقَوِيُّ الْأَمِينُ )**.[2]

---

١ - مسند الآمام آحدم ، حدیث : ١٢٥٦٧ .

٢ - د القصص سورت، ٢۴ - ٢٦ آیتونه.

ژباړه: (ددې په اوریدلو سره) حضرت موسی علیه سلام د هغو څاروي اوبه کړل، بیا یو سیورري ځای ته لاړ او ویې ویل : پروردګاره! هره ښیګڼه چی تا پرما نازله کړي زه هغې ته اړیم .(څه ښځدلانه ؤ شوی چې) له هغو دوونجونو څخه یوه په شرم او حیا سره راروانه ده ته راغله او ویې ویل : زما پلار تا غواړي ترڅو تا چې زموږ څارویو ته او به ورکړې دي د هغو اجر درکړي) موسی علیه السلام چې کله هغه ته ورغی او هغه ته یې خپله ټوله قصه واوروله نو هغو وویل هیڅ مه ویریږه اوس ته له ظالمانو څخه ژغورل شوي یې له هغو دوو نجونو څخه یوې خپل پلار ته وویل پلاره دغه سړی نوکر ونیسه، یو ډیرښه سړی چې ته یې نوکر نیسې هماغه کیدای شي چې قوي او امانتدار وي .

داپیښه د حضرت موسی علیه السلام له پیغمبری او فرعون ته لیږلونه مخکې پیښه شویده دزیاتو معلوماتو لپاره د تفسیر کتابونوته مراجعه وشي .

**نتیجه :**

۱-دامانت ساتنې سره لازم دادي جې : هر ډول حق د حق خاوند ته وروګرځول شي او له خپل حق نه پرته بل څه له نورو څخه وانخستل شي.

۲- د نه امانت ساتنې په صورت کې د قران او سنت صحیح فهم او پوهه نه حاصلیږي ، هر کله چې زړه مړ شي امانت ورڅخه ایستل کیږي او دغه انسان ته

د آیتونو لوســـتل او دهغو څیړنه کړمه ګټه نشيــ رســـولی او نه هغه د احتیاج نه ژغوري ۰

٣٤

# عفت او پاک لمنی

**الحمد لله و الصلاة والسلام على رسول الله و على آله و أصحابه أجمعين . وبعد:**

**قال الله الحكيم فى قرآنه الكريم أعوذ بالله من الشيطان الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم : قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ ونَوَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ وَالَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَاةِ فَاعِلُونَ وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ ).** [١]

أوصــيكم عبادالله ونفسيـ بتقوى الله ونظم أموركم . يعنى ځان او تاســو دالله بندګانو ته د الهي تقوى په مراعاتولو او د الهي حلالو او حرامو په مراعاتولو سپارښت او نصيحت کوم . درود او ډالۍ ليږم دا سلام پيغمبر او دده د سپيڅلو اهل بيتو او ملګرو پاک روح ته .

نننۍ موضــوع چې زما نظر ته رارســيدلی ده او د خويندو او ورونو په خدمت کې يې مطرح کوم يوه ارزښتمنه او اخلاقي مسئله ده او په عين حال کې زموږ د ژوند نننې ژوندانه له ضرورتونو څخه ده ، ديوه مســلمان د عفت او پاک لمنۍ مســئله

---

١ - د المؤمنون سورت : ١ــ ٥ , أيتونه .

ده . دا سلام په فرهنګ او دقرآن کریم په لار ښوونو کې د مومن انسان د صفتونو څخه یوه د پاک لمنۍ او عفت مسـئله ده . قرآنکریم فرمايي : ( **قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ وَالَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَاةِ فَاعِلُونَ وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ** ). [1]

ژباړه : نو باوري ډول هغو مؤمنانو برى موندلى دى چې : په خپل لمانځه کې عاجزى غوره کوي او له عبثو په مخ اړوونکي وي او دزکات په کړن جارې عمل کوي، او دخپلو شرم ځايونو ساتنه کوي .

نو وينو چې عفت او پاک لمني يو قرآنى ارزښت دى او په دې موضوع پورې اړوند مسـئلې هم دېرې غوره او کارجوړوونکې دي لکه عفت، حجاب او حيا چې هره يوه ديوډول عفت اوپاک لمنۍ سره ژور تړاو لري. موږ هغه وخت دې ارزښـتونو ته لاس رسـى مومو چې د اسـلام سـپيڅلى قوانين او قرآنى لارښـوونې زموږ دکار سرمشـق وي. کومه سـتونزه چې اوس مهال په خپلو ټولنو کې لرو او متأسـفانه رسـنيوته يې هم لار پيداکړې ده هغه دعفت او پاک لمنۍ او حجاب د فرهنګ او همدارنګه دسړي او ښځې د حريم نه رعايتول دي .[2]

---

١ - ذکر شوي مصدر .

٢ - حسينى سيد على اکبر داستاد رفيعى دبيانيو لړۍ ، ج – ٤، ص ٢٤٠.

**دوه بیلګه یي شخصیتونه :**

یوه ښـــځه او یو ســـړی له قرآن کریم څخه تاســـوته د معرفی کوم چې دا دواړه شخصیتونه د پاک لمنه، پردې او حیا ذښې وې ، دا څوک دي ؟ یو یوسف علیه السـلام په دروازه بند اتاق کې د ګناه په وړاندې هغه ځانګړی حالت پرې راغی ( **ولقد همت به**) زلیخا ورپسې منډې وهلې ( **و هم بها** ) یوسف هم ځوان، ښایسته او مجرد ؤ طبیعتاً جنسيـ میل یې درلود ( **لولا ان رای برهان ربه**)[1] ژباړه : که دخپل رب برهان یې نه وای لیدلی .

د الله مهربانۍ او کوم عفت چې دده په نفس کې ؤ ، ددې جنسيـ غو ښـتنې او میل واګې یې ونیولې او ځان ته یې نجات ورکړ . دایوه بیلګه ده او باید وپوهیږو چې دا کار ســاده کار نه دی په خپل کوښــښ او دنفس سره په مبارزې برســېره باید دالله له ذات څخه هم مرسته وغواړو د الله دمهربانۍ او مرستې پرته انسان کوم ځای ته نشي رسیدای.

قرآن کریم د همدې پیغمبر یوســـف له خولې دنفس دغوښـــتنې خطر موږ ته حکایت کوي چې ډېر تنبیه کوونکی دی فرمایي : ( **وما أبرئ نفسي إن النفس لأمارة بالسوء إلاما رحم ربي** ).[2]

---

۱ - د یوسف سورت : ۲۴, آیت .

۲ - د یوسف سورت : ۵۳ , أیت .

ژباړه: زه دخپل نفس ښــه نه وایم خو پربدی هځوونکی دی مگر دا چې پرچا زما درب رحت وي .

نو دنفس غوښـــتنې خطر ډیر ســخت دی او دهغه پیروي کولای شي موږ د شـــهوتونو او دروغجنو مزوته راکاږي او دنفس غوښـــتنو سره مبارزه دمولانا په وینا ډیر لوی جهاد دی .

قدرجعنامن جهاد الاصغریم — با نبی اندر جهادی اکبریم

ای بسا کشتیم ما خصم بیرون — ماند خصمی زوبتر دراندرون

کشتن این کار عقل و هوش نیست — شیر باطن سخره خرگوش نیست

سهل دان شیری که صفها بشکند — شیر آن است آنکه خود را بشکند

ژباړه: موږ دوړوکي جهاد نه را ستانه شوو، د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره په لوی جهاد کې یو اې ډېر ځله موږ بیرونی دښـــمن وواژه، خو په موږ کې دننه تردې بدتره دښـــمن پاتې دی. د دې کار وژل عقل او هوښـــیارتیا نده، د باطن زمری د سوی په څیر ملنډه نه دی، هغه زمری آسانه وبوله چې صفونه مات کړي. زمری هغه دی چې ځان نفس مات کړي.

**د حضرت مریم پاک لمني:**

دوهمه بیلکه بي بي مریم ده . مریم یو ځل تنها ناسـته ده ، چې گوري یو سـړی یې په لوري راځي ، مریم هغه ســړي ته پاملرنه وکړه بلکې له بدیو یې منع او په

نیکیوېې امر وکړ، ویې ویل: ( **قَالَتْ إِنِّي أَعُوذُ بِالرَّحْمَن مِنكَ إِن كُنتَ تَقِيًّا** ).[1] زه له تانه الله ته پنا وړم که چېرې تقوی لرې او له الله نه ویرېږې؟ وینو چې دواړه شخصیتونه د پاک لمنۍ ښې دی . د رب برهان یوسف ته خلاصون ورکړ او بی بی مریم الله ته پناه یوړه چې دواړه یوشي ته را گرځي یعنی تقوی ، ځان ساتنه پاک لمني. وگورئ قرآن د سړیو لپاره د یوسف بیلگه او د ښځو لپاره مریم د بیلگې په توگه راوړې دي. په ځنو روایتونو کې راغلي چې کله قیامت کیږي ځنو هغو کسانو ته چې د زنا او فحشاء مرتکب شوي دي وبه ویل شي ولې مو دا کارونه کول ؟ وبه وایي موږ ځوانان وو ، ښکلي وو. وبه ویل شي یوسف راولی ویې وینو چې ته ډېر ښکلی یې که یو سف ؟ له گنهگارو ښځو څخه به پو ښتنه وشي ولې مو گناه کوله ؟ وایي به موږ ځوانې وو، میل مو درلود. وبه ویل شي مریم راولئ، دا مریم د حضرت عیسی مور ده وگورئ څرنگه عفت او پاک لمني یې مراعات کړه.[2]

داده چې وایو ، پاک لمني، حجاب، حیا او عفت یو قرآني امر او قانون دی.
د احزاب سورت (۵۹) آیت کې فرمایي: که چېرې په ټولنه کې حجاب او پرده شتون ولري نو دوه غوره اغیزې لري : یو اغیزېې دادی چې انسان پیژندل کیږي چې د پردې او دینداری وړ دی . او بل اغیز یې دادی چې تر کړاو او اذیت لاندې

---

۱ - د مریم سورت ، ۱۸ آیت .

۲ - د شیخ الإسلام سید حسن کتاب : وظائف ما ٬ ص ۲٤۱ .

نه راځي . د یوه عالم په وینا حجاب (پرده) مصـــئونیت دی نه محدودیت او نن ورځ متأسـفانه د ټولنې ډېرې ســتونزی په ځانګړې توګه د عفت او پاک لمنۍ په بحث کې د حجاب نه رعایتولوته راګرځي . او علامه اقبال څومره ښایسته خطاب کړی دی :

د بی تولی باش پنهان شو از این عصر        که در آغوش شبیری بگېپي

اقبال وایي که غواړې چې دیوې مور په عنوان خپل رول ښه ولوبوې او د مرضیه زهرا په څیر زوی لکه حسین ټولنې ته وړاندې کړې باید د زهرا په شان حجاب او پاک لمني رعایت کړې د علامه اقبال لاهوري له نظره دغربیانو پر مختګ او تمدن د بی حجابۍ په وجه ندي، حجاب د یوې ټولنې او یو ملت د تمدن او پرمختګ مانع نه دی بلکې د غربیانو د پرمختګ بنســـت علم او دســـواد زده کړه ده.

قوت مغرب نه از چنگ و رباب        ني زرقص دختران بي حجاب
ني زسحر ساحران لاله دوست        ني زعریان ساق وني از قطع موست
محکمي او رانه از لاديني است        ني فروغش از خط لاتیني است
قوت افرنگ هم از علم و فن است        از همین آتش چراغش روشن است.

ژباړه:
د مغرب پیاوړتیا له ســاز او سرود څخه نده اونه د بې حجابه نجونو له ګډا څخه ده. د دوی پیاوړتیا نه د هغوګوړکرو نوجوڅخه ده  چې د ګل لاله غوندې سرې سپینې دي
نه د لوڅو پنډیو او نه د ویښــتانو له پرې کولو څخه ده  د دوی محکوالی له بې دینی څخه هم نه دی .
نه یې ځلا د لاتینی خط څخه ده  د فرنګیانو پیاوړتیا هم د علم او ه هنر څخه ده . او له همدې اوره یې چراغ روښانه دی.
الله متعال فرمایي : ( **یآأیها النبي** ) ( **ای پیغمبر**) ( **قل لأزواجک** ) لومړی خپلو بیبیانو ته ووایه . د یوې ټولنې رهبر او آمر باید لومړی خپله کورنی اصــلاح کړي که چېرې انسـان لومړی خپله کورنی اصـلاح نکړي او خپلې کورنی ته نصـیحت ونکړي ، نشيــ کولای نورو خلکوته یادونه وکړي ، نو ځکه الله تعالی د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د ښځو څخه شروع وکړه ( **وبناتک**) خپلو لورانو ته هم ووایه ( ونساء المومنین) دریم د مؤمنانو ښځوته ووایه چې څه وکړي؟ ووایه ( **یدنین علیهن من جلابیبهن** ) . جلباب هماغه لوړه پارچه ده د چادر په څیر ووایه د اجلباب او پارچې له په مخونو را ځوړند کړئ او د چادر په څیرېې واغوندئ په داســې توګه چې بدن او ویښــتان موښــکاره نشيــ . دا د حجاب آیت دی : ( **ذلک ادنی ان یعرفن**)[1] دا ددې لامل کیږي چې د یوې خپلواکې مسـلمانې با حجابه ښـځې په عنوان وپیژندل شي .

---

١ - د الأحزاب سورت : ٥٩ , أیت .

**حجاب او پاک لمني دوه اغیزه لري :**

**لومړی: دا چې پیژندل کیږي .**

**دوهم :دا چې اذیت او ضرر نه ورکول کیږي.**

روایت دی: شیطان حضرت یحیی علیه السلام ته وویل : دوه ډېرې پرې کوونکې اسلحې لرم یوه غضب چې انسان غوسه او قهر کوي ، سړی وژني ، بې حیا خبرې کوي، جنایت کوي . بله اسلحه مې نا محرمه ښځې دي دا دواړه زما د سترګو رڼایي او پرې کوونکې اسلحې دي.

دوستانو د تاریخ په اوږدوکې چې دښمن د ټولنې په انحراف کې له کومې اسلحې څخه ګټه اخستې ده همدا د بې حجابۍ او د فساد د خوریدو اسلحه وه.

**د فساد خوریدل داندلس د ماتې لامل :**

په اندلس یعنی اوسنۍ هسپانیه کې اته سوه کاله مسلمانانو حکومت درلود . په ۱۲ هجری کال فتح شو او په ۸۹۸ کې یې سقوط وکړ یعنی ۸۰٦ کا له مسلمانانو په او سنۍ هسپانیه کې حکومت درلود . مسیحیانو څه وکړل چې دا ټولنه یې د ا سلام نه د مسیحیت په لور را وګرځوله؟ د فساد ، شرابو ، زنا او نورو

فتنو په وسیله د مسیحیانو ښکلو ښځو او نجونو په پارکونو کې د ځوان مسلمان هویت له منځه یوورو.[1]

**شهوت کې اخته کیدل د حضرت موسی علیه السلام د قوم د ماتې لامل:**

د موسی علیه السلام قوم څرنګه ماتې وخوړه او بلعم څرنګه وکولای شوه د هغوی د برلاسـی مخه ونیسي. په روایت کې راځي بلعم وویل خپلې ښـځې او لورانې سـنګار کړئ او د حضرت موسـی لښـکر ته یې ولیږئ ، هغوی جذب کیږي او د فحشا مرتکب ګرځي . شل زره لښکر له منځه ولاړ او ماتې یې وخوړه.

**د النور په مبارک سورت کې د پاک لمنی او عفت ارزښت:**

( **قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَلِكَ أَزْكَى لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ**).[2] ژباړه: اې پیغمبره ! مومنانو نارینه وو ته ووا یه چې خپل نظر تر کنترول لاندې وساتی او د خپلو شرمځایونو ساتنه وکړي دا دهغو لپاره ډېره پاکه کړنلاره ده ، هغوی چې څه کوي الله پرې خبریږي.

د دې آیت د نزول په هکله لولو چې یو ځوان د لارې په سر یوه ښـځه ولیده ، داسـې په کتلو کې ډوب ؤ چې مخ یې له دیوال سره وچسـپیده او ټپي شـو . د پیغمبر صلی الله علیه وسلم حضورته راغی او خپله پیښه یې بیان کړه دغه آیت نازل شو.

---

۱ - حسینی سید علی اکبر د استاد رفیعی د بیانیو لړی، ج ۳ ، ص ۲٤۱ .

۲ - د النور سورت ،۳۰ آیت .

**کوم پیغامونه چې له دې آیت څخه راوځي:**

۱ - د ایمان سره لازم د حرامو څخه د نظر ســاتنه ده :( **قل للمؤمنين يغضــوا من أبصارهم** ).

۲ - غریزي جاذبې باید کنترول شي ( **يغضوا...** )

۳ - د گناه مخه له سرچشمې څخه ونیسو او تقوی باید له سترگو څخه پیل کړو ( **من ابصارهم** ).

۴ - پاکې سترگې د پاک لمنۍ سریزه ده ( **يغضوا من ابصارهم و يحفظوا فروجهم**) .

۵ - پرده د نارینه وو لپاره هم واجب ده :( **يحفظوا فروجهم**).

٦ - سترگی څرول او بدلمني د انسان د معنوي رشد مانع ده :

( **يغضوا – يحفظوا – أزكى** ).

۷ - دالله په وړاندې ســترگې څرول او د الله په وړاندې گناه ونکړو : ( **ان الله خبير بما يصنعون**).[1]

( **و قل للؤمنات يغضضن من أبصارهن و يحفظن فروجهن** )[2] .

ژباړه: او اې پیغمبره! مؤمنو ښځوته ووایه چې خپلې ســترگې تر کنترول لاندې وساتي او د خپلو شرمځایونو ساتنه وکړي.

دغه آیت له هغه اوږدو آیتونو څخه دی چې د کورني مســائلو ، روزني او اخلاقي فســادونو کې یې وړې او کوچنۍ مســئلې شرح کړې دي الله تعالی په دې آیت

۱ - د النور سورت ، ۳۰ آیت .

۲ - د النور سورت ،۳۱ آیت .

کې ۲۵ ځله د مؤنث ضـــمير په راوړلو سره ښــځوته توجه کړې ده . د حجاب او پردې ساتنه او د سنګار پرېښودل ډېرې ګټې لري چې ځنې يې عبارت دي له : روحي آرامي ، د کورنۍ د پيوند او اړيکو محکوالی ، د نسل ساتنه ، ناوړه قصد او تير مخنيوی ، د جنسي او رواني مرضونو څخه ځان ژغورنه د طلاق څخه مخنيوی ، د منفي رقابتونو له منځه وړل . د ښځې د شخصيت او انسانيت ساتنه . او د هوس بازو ســـترګو او زړونو څخه خلاصـــون چې نن ورځ يې د شرق او غرب نړۍ ټوله نيولې ده.

**د دې آيت پيغامونه:**

۱ – د عفت او پاک لمنۍاو حرامو ته په نه کتلو کې د تراو ښـــځې تر منځ څه توپير نشته : (**يغضوا يغضضن – يحفظوا – يحفظن**).

۲ – په ټولنه کې د ښځو له حاضريدلو مخنيوی: ( **ولا يبدين زينتهن**).

۳ – د بدن ځنو برخو څرګنديدل چې په طبعي توکه ښکاره کيږي. لاس او پښی څه ممانعت نه لري : ( **إلاماظهرمنها**).

۴ – د حجابونو د ډولونو په منځ کې لوی چادر راغلی او دا دحجاب پر ارزښـــت دليل دی (**خمرهن**).

۵ – په قانون طرح کولو کې باید ضرورتونو ، واقعیتونو او اړتیاووته پاملرنه وشي او که چیرې د بدن د هغې برخې پټول چې هغه په خپله ښکاره کړي ، واجب کیدلی بیا به دعا مو ښځو لپاره ژوند کول ستونزمن شوي وو: ( **إلا ما ظهر منها**) .

٦ – اسلام د بشر فطري او غریزي اړتیاوونه مثبت ځواب وایي : ( **إلا لبعولتهن**).

۷ – ښځه د مالکیت حق لري : ( **ملکت أیمانهن**).

۸ – د حجاب سره په ټولنه کې د ښځې حضور څه مانع نه لري ( ولایبدین زینتهین ) لکه څنګه چې د ښځو حضور د جماعت په لمانځه کې مانع نه لري : ( **وارکعوا مع الراکعین**).[1]

۹ – ټول خلک نامحرموته د کتلو په مسـئله او حجاب کې مسـئول دي او باید حراموته له کتلونه توبه وباسئ : ( **توبوا إلی الله**).

۱۰ – د کامیابۍ لار د انحرافي لارو څخه د الله لارې ته ده ( توبوا الی الله تفلحون)

**د عفت او پاک لمنۍ د ساتنې لپاره د حل لار وړاندې کول :**

**د عفت او پاک لمنۍ د حل لومړۍ لار :**

الله پاک فرمایي: ( **ولوأنکِحُوا الْأَيَامَى مِنكُمْ وَالصَّـــالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ إِن يَكُونُوا فُقَرَاء يُغْنِهِمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ** ).[2] ژباړه: له تاسې نه کوم کسان ( سړي

۱ - د آل عمران سورت ، ٤٣ آیت .

۲ - د النور سورت ، ۳۲ آیت .

یا ښځې) مجرد وي او ستاسو له وینځو مربونو څخه چې څوک نیکان وي، دهغو نکاح وکړئ که هغوی بیوزلي وي نو الله به په خپلې مهربانۍ سره هغوی شتمن کړي، الله ښه پراختیا راوستونکی او دعلم څښتن دی.

**نکتې:**

(**أيامى**) د أيم جمع ده یعنی هغه څوک چې جفت نه لري نروي او که ښځه.

تر ټولو غوره وا سطه کیدل او سپارښتنه د نکاح په کار کې ده لکه چې په روایت کې راځي څوک بل تن عروس یا زوم وګرځوي هغه به د الله د عرش په ســـیوري کې وي.

پلار او مور چې د امکان په صـــورت کې خپلو اولادونو ته جفت نه پیداکوي که چېرې اولاد د ګناه مرتکب شو پلار او مور په ګناه کې ور سره شریک دي .

**کومه پیغامونه چې له دې آیت څخه معلومیږي:**

۱ – اسلامي ټولنه د بې جفتو وګړو د نکاح مسئوله ده ( **وانكحوا**).

۲ – د نکاح تړون په اسلام کې یو سپڅلی او د تاکید وړ کار دی.

۳ – د حرامو کتلو په پرېښودلو کې یوازې سپارښتنه کافي نده ، د نکاح مسئله باید حل کړو.

۴ – د صلاحیت درلودل د تړون د دواړو لوریو شرط دی : ( **والصالحين**):

۵ – الله د ناوېي او زوم د ژوندانه د تأمين ژمنه کړې ده او نکاح د ژوند د پراخۍ او برکت وسيله ده. ( **يغنيهم الله من فضله**).

**د دوهمې لارې حل پاک لمني :**

الله پاک فرمايي : ( **وَلْيَسْتَعْفِفِ الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ نِكَاحًا حَتَّى يُغْنِيَهُمُ اللَّهُ مِن فضله** ).[1]

ژباړه: او څوک چې د نکاح ( اسباب ) ونه مومي هغوی بايد پاک لمني غوره کړي تردې پورې چې الله په خپلې پيرزوينې سره هغوی شتمن کړي.

**د دې آيت پيغامونه :**

۱ – نکاح ته لاس نه رســـيدنه گناه نه جائز وي، زغم او پاک لمني لازم دي : ( و **ليستعفف** ).

۲ – که چېرې پاک لمني او تقوی ولرو الله موږ بې احتياجه کوي : ( **يغنيهم الله** ).

۳ – د عمومي عفت او پاک لمني په ســاتنه کې هم بايد ځوانان ځان وژغوري او هم حکومت اقدام وکړي او هم د ټولنې شتمن خلک په پښو ودرېږي.

**نتيجه او پيغام:**

نو دې پايلې ته رســېږو چې عفت او پاک لمني يو ډير مهم اخلاقي او ټولنيز ارزښت لري که چېرې د نړۍ مسلمانان دې اصل ته پاملرنه وکړي او که چيرې د افغانستان اسلامي ټولنه دې اصل ته توجه ولري ، کولای شي په ټولو ډگرونو کې

[1] - د النور سورت : ۳۳ ، آيت .

پر مختګ او ترقي وکړي . اما که چیرې الله مکړه د عفت او پاک لمنی فرهنګ ضرر ومومي ، فحشا ، او فساد به زموږ ټول ارزښتونه رو ویاړونه برباد کړي.

حال دا چې موږ سخته اړتیا لرو څو د افقساد ، علو او پوهې په ډګر کې پرمختګ ته لاروموهو او د متمدنې او پر مخ تللې نړی سره خپله فاصـــله او واټن کم کړو د صحیح اسلامي روزنې یوازنی لاره د اسلامي پاک لمنی او عفت مراعاتول دي او په عین حال کې باید علم ، پر مختګ او اســلامي او انســاني ارزښــتونو ته مخه کړو.

۳۵

# ټولنيز آفتونه

**الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على أشرف الأنبياء والمرسلين و على آله و صحبه أجمعين.**

**اما بعد:**

**۱ – تور پورې کول (تهمت):**

دا هم ډير ناوړه صفت دی چې ډيری د بی ګناه انسانانو د آبرو او شخصيت د نابودۍ لامل کيږي . تور پورې کوونکی په دروغو او ناحقه تهمت د نورو حيثيت او آبرو تر پښــو لاندې کوي ، همدا وجه ده چی الله مومنان ورڅخه ويرولي دي او فرمايي:

**( يَآ أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن جَاءكُمْ فَاسِــقٌ بِنَبَأٍ فَتَبَيَّنُوا أَن تُصِــيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْــبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ)**.[۱]

ژباړه: اې مؤمنانو ! که کوم فاسـق تاسـې ته له کوم خبر سره راشي نو تاسـې تحقيق وکړئ نه چی تاسې کومې ډلې ته په ناپوهۍ سره ضرر ورسوئ او بيا په خپلو کړو پښيمانه شيء.

**۲ – خبرې ټولول او نمامي:**

نمّام: هغه څوک دی چې د يوه بده خبره بل ته وړي او د هغوی ترمنځ دښــمني او اختلاف رامنځ ته کوي.

---

۱ - د الحجرات سورت : ٦ ، آيت .

خبرې ټولول يو ډير ناوړه او نا خوښــــه دروغ دي او دا ډير ټيټ ، بيوزلی او مريض او بې ارزښته صفت دی چې خاوند يې د خلکو له اختلاف او دښمنۍ څخه خوند اخلي او د نورو دوستۍ او مينې ته نه ګوري د داسې کس سره بهترينه مبارزې لار داده چې د هغه خبروته پاملرنه ونشيــ او همدا دليل دی چې الله موږ ته امر کوي : ( **وَلَا تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ مَّهِينٍ هَمَّازٍ مَّشَّاء بِنَمِيمٍ** ).[1]

ژباړه: هيڅکله د يوداسې چا تر اغيز لاندې مه راځه چې زيات قسم خور او بې اعتباره دی، پيغورونه ورکوي خبرې وړي راوړي.

**۳ – د نورو سپکتيا او وړوکی ګڼل:**

د قرآنکريم د اوامرو څخه يو د نورو احترام او دشخصيت ساتنه ده څو په ټولنه کې يووالی ، وروګلوي او محبت محفوظ پاتې شي او دښــمني له منځه ولاړه شي . الله تعالی په دې هکله فرمايي:

( **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ قَومٌ مِّن قَوْمٍ عَسَى أَن يَكُونُوا خَيْرًا مِّنْهُمْ وَلَا نِسَاء مِّن نِّسَاء عَسَى أَن يَكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ وَلَا تَلْمِزُوا أَنفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الْإِيمَانِ وَمَن لَّمْ يَتُبْ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ** ).[2]

ژباړه: اې مؤمنانو! نه دې نارينه پرنورو نارينه وو ټوکې ټکالې کوي کيدای شي چې هغوی له دوی نه غوره وي او نه دې ښـځې په نورو ښـځو ټوکې کوي ، کيدای شي چې هغوی له دوی نه غوره وي په خپلو منځو کې يو د بل طعن مه وايی او مه يو او بل په بدونومونو سره يا دويی له ايمان راوړلو وروسته په فسق کې نوم پيدا کول ډير ناوړه کاردی . کوم کسان

---

۱ - د القلم سورت : ۱۰ – ۱۱، آيتونه .

۲ - د الحجرات سورت : ۱۱،آيت .

چې له دغو چا د چلندو څخه راوانه وړ همغوی ظالمان دي. په دې مبارک آیت کې الله مؤمنانو ته امر کوي چې نورو ته درناوی وکړئ او د هغوی شخصیت ، شرافت او نیک نامي وساتي او نه باید هیڅ وګړي نارینه وي یا ښځینه تر ټولو لاندې رانشي- او نباید څوک په دې وجه چې نامرتب سر او حالت لري یا بیوزلی او تنګ لاسی دی او یایې په غړوکې څه عیب او کمی لیده کیږي په خبرو یا اشارو یا لاس او ژبه یا سترګو د بی احترامي او مسخرو مورد وګرځي ځکه ډیری کسان چې د توهین او سپکتیا مورد ګرځي د الله په وړاندې تر هغو خلکو غوره دي چې ځان بې عیبه ګڼي او په نورو ملنډې وهي. په همدې وجه ملنډې وهونکی شخص هغه څوک تر ملنډو لاندې راولي چې الله له هغه څخه راضي دی په حقیقت کې په ځان ظلم او تیری کوي او د الله غوسه او قهر ځان ته راجلبوي پردې سره څوک چې د چا ترملنډو لاندې راغی هغه هم آرام نه کښیني بلکې دیته هڅول کیږي چې د ده عیبونه هم وپلټي او هغه د خلکو تر منځ خواره کړي ان تردې که عیب نه وي هم یوه دسیسه جوړوي او په داسې توګه هغه بیانوي چې خلک وربانده باور وکړي نو له دې وجې هم ملنډې وهونکی په خپل ځان ظلم کوي
نو باید یقین ولرو چې د نورو سپکتیا او بې احترامي په زړونو کې د کینې او د ښمنۍ لامل او د خلکو تر منځ د دوستانه اړیکو د نابودۍ سبب کیږي.
الله تعالی په دې آیت کی مؤمنان د واحد نفس په منزله ګڼلي دي او لایقه نده چې یو او بل سپک کړي او څوک چې خپل دیني ورور سپکوي د هغه چاپه شان دی چې خپل نفس یې سپک کړی دی او الله فرمایي: ( **ولا تلمزو أنفسكم**). [1]

---

١ - د الحجرات سورت : ١١، آیت .

**۴ – نوروته بدلقبونه ورکول صحيح نه دي:**

همدارنګه قران کريم نوروته د نا خوښـــو لقبونو له ورکولو څخه منع کړې ده فرمايي : ( **وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ** ). [۱] ژباړه : يو تربله بد لقبونه مه يادوئ.

څه توپيرنه لري دغه بد لقب په خپله د يوه شـخص لپاره وي او يا د ده د پلار، مور، ميرمنى او نورو خپلوانو لپاره وي ځکه کار د کينې او حسـد لامل ګرځي ، وروسـته الله فرمايى چې تحقير ، ملنډې او نوروته بد لقب ورکول د فسق او دالله د امرله پيروۍ څخه وتل دي.

پر ته له شکه کوم کسان چې له دغه ناوړه کارونو ،ګناهونو او نا خو ښه صفتونو څخه ځان نه ژغوري تر ټولو د مخه په خپل ځان ظلم کوي ځکه خپل ځان د الهي غضب مور ګرځوي

**۵ – سوء ظن ( بدګماني )، جاسوسي او غيبت :**

الله تعالى انسانان يو دبل احترام او درناوي ته دعوتوي او هغوى له بدګمانۍ ، جاسوسۍ ، او په نورو کې له عيب پيداکولو او غيبت څخه ويروي او فرمايي:

**( يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِّنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَّحِيمٌ)**. [۲]

ژباړه: اې مؤمنانو! له ډيرو ګمانونو کولو ډډه وکړئ چې ځنې ګناهونه ګناه وي ، د چا پټ عيبو له نه مه لټوئي او له تاســـى نه دې څوک د چا غيبت نه کوي ايا تاســـې کې داســـې څوک شته چې د خپل مړ ورور غوښې خوړل خوښ کړي ؟ ګورى د تاسې په خپله له دې نه کرکه کوى له الله نه وويرى الله ډير ښه توبه قبلوونکى او مهربانه دى.

---

۱ - د الحجرات سورت : ۱۱، آيت .

۲ - د الحجرات سورت : ۱۲، آيت .

الله تعالی په دې مبارک آیت کې مؤمنان له بدګمانۍ څخه په خپلو کې ویرولي دي ځکه دغه کار د دوی د سپکتیا لامل ګرځي له همدې خاطره فرمايي: (إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ) ځني بدګمانونه ګناه ده.

البته بدګماني هغه وخت ګناه ده چې په مومئن او اعتماد وړ شخص بدګماني وشي . اما هغه کسان چې په اخلاقي فساد درلودلو مشهور وي او ناخوښه کارونو ته لاس غځوي نو د هغوی په هکله بدګماني ګناه نده نو ځکه قرآن کریم فرماي: ځني به ګمانونه ګناه ده.

ورپسې الله تعالی له جاسوسۍ او پردې شلیدلو څخه منع کوي او فرمايي: نباید مومنان او سم خلک جاسوسي وکړي او د هغو پټ عیبونه خواره کړي ځکه دا کار د ټولنې دوګړو تر منځ د کینې او د ښمنۍ سبب کیږي . اما هغه کسان چې مشروع دولت دوی تعینوي څو پر اوضاع او حالتونو هغه څوک مسلط وي چې دوی د فساد او فتنې په پیداکولو او د حکومت له منځه وړلو کې دي هغه په دې آیت کې نه شاملیږي.

**٦-غوسه او قهر:**

غوسه او قهر له ناوړو او ناخوښو صفتونو څخه دي چې هر کله د ټولنې په وګړو مسلط او برلاسې شي او ټولنه له خشونت سره مخ شي نو خطرناک اغیز رامنځ ته کیږي او خلک له اختلاف، دښمنۍ، تفریط او د روابطو له شلیدلو سره مخامخ کیږي.

انسان هغه وخت په غوسه کیږي چې د حق او باطل د تشخیص قدرت له لاسه ورکړي او د یوه وحشي ځیرونکي ځناور په شان وګرځي او نه پوهیږي چې څه وکړي ، سوچ کوي چې په غوسه او قهر به خپل کرامت او شخصیت وساتي . پرته له شکه غوسه ناک سړی همیشه په تاوان او ضرر کې ژوند کوي ځکه قهر او غوسه د ظلم او تیري نښه ده حال دا چې حلم او حوصله د هوښیارۍ ، ټینګتیا ، او د امانت د روایت دلیل دی.

له بل لوي څخه غوسه ناک سړی د قهر او غوسې په شديده دښمنۍ تر سخت فشار لاندې روحي او بدني ډيری اندينښـــنو سره مخ کيږي همدا وجه ده چې اســلام متقيانو او ښـــکلو مؤمنانوته چې الله په رضا کې تر سره کيږي د قهر او غوسې په وړاندې ستايي او فرمايي:
( **والكاظمين الغيظ و العافين عن الناس و الله يحب المحسنين** ).[1]

ژباړه: غيظ: ډيره ســخته غوســه او قهر او (کظم الغيظ) يعنی د غوســې پټول او د هغه نه څرګندول او تسلط پر نفس او دهغه دانميز نه ورښودل.

بايد متوجه و اوسو چې قرآن کريم يوازې د غوسې پټولو او پر نقس تسلط کولو ته دعوت نه کوي بلکی د تيري کوونکو انســانانو عفوي او تيريدنې ته چې د قهر را پورته کيدنې هم تاکيد کوي او فرمايی د هغوی ظلم او تيري ته په نيکۍ ځواب ورکړئ.

کله چی انســان ويني د ده په حق تيری شــوی نو طبعاً په غوســه کيږي او عفوه په داســې حال کې د لويې او اخلاقي سـنګارتيا نښـه ده چې کولای شي د غوســې په مهال غوره لاره ځان ته انتخاب کړي.

معلومه خبره ده چې د غوسې او قهر په حالت کې د انسان قضاوت په انصاف ولاړنه وي او هرکله چې هغه وخت کې نشي- کولای حق تشـخيص کړي نو ځکه ډيری قضـاوتونه چی د قهر په حالت ترسره کيږي له حق او عدالت څخه لرې دي نو الله عفوه او تيری نه د قهر او غوسې په حالت کې د مؤمنانو صفت ګڼلی او فرمايي : ( **و اذا ما غضبوا هم يغفرون** ).[2]

ژباړه: او که چيرې په غوسه شي نو عفوه کوي.

---

۱ - د آل عمران سورت : ۱۳۴ آيت .

۲ - د الشورا سورت : ۳۷ آيت .

پيغمبر صلى الله عليه وسلم د نفس سره مبارزه او پر هغه برلاسي د قهر او غوسې په حالت د قهرمانۍ او زوړتيا نشه گڼي او فرمايي:

( **ليس الشديد بالصرعة إنما الشديد الذي يملک نفسه عند الغضب** ).[1]

ژباړه: قهرمان او اتل هغه نه دی چې په غيره نيولو اوزور آزمويلو کې پياوړی وي بلکې هغه دی چې دغوسې په حالت کې په خپل نفس برلاسی وي.

نو هغه کسان چې غواړي په ښو اخلاقو او ادب سنگار او وستايل شي بايد ځان په صبر ، زغم او حوصلې سره پر نفس تسلط او برلاسی ومومي او ټول هغه احساسات چې انسان په ويرې او غوسې اخته کوي کنترول کړي څو نبايد د دوی تر اغيز لاندې ناخوښه عملونه ترسره شي او د پښيمانۍ لامل شي . کله چې انسان داسې برلاسي پرخپل نفس ومونده نو ځان له ډيرو ستونزو څخه ساتلی شي.

**۷-حسد:**

حسد يعنې د نورو د بدمرغۍ او ناآرمۍ هيله له ډيرو ناوړه او ناخوښه صفتونو څخه يو صفت دی چې انسان په بدمرغۍ او ناآرامه ژوندانه باندې اخته کوي کينه کوونکی انسان چې د نورو د بدمرغۍ او پريشانۍ هيله لري او خپل نفس د هغه په بدبختيو خوشحاله کوي، داسې انسان په بشپړه معنا خپل پاک فطرت او خوی ته تغير ورکوي او د حق لاره يې ورکه کړيده د دې په ځای چې د نورو له ښيگڼې او خوښۍ او هوساينې خوشحاله شي له هغه څخه رنځ وړي. بايد متوجه واوسو چې په دې زمانه کې کينه خطرناک رول لوبوي او ډيری خلک د هغه په لوموکې راگيردي فقر دشتمنو خلکو په پرتله، ښځې د نارينه وو په پرتله او

---

۱ - صحيح البخاري، حديث : ٦١١٤ .

... كينه غوره كوي . كينه كوونكى انسـان چې كله گوري يو نفر كامياب او برلاسـى دى نو خوب يې له سـترگو تښتـي او د تيښتـي او چې په لمبو راځي او آرام نه مومي نو ځكه په حيلو او دسيسو پيل كوي څو هغه له پښو وغورځوي او دهغه په ځاى خپله راشي او يا هغه د خلكو په نظر كې كم او بې ارزښته كړي.

كينه گر انسان روحي او اخلاقي ماتې خوړونكى دى چې په خپل ځان باندې يا چې ور له لاسه وركړى وي . د بې وسى او ناتوانى احساس كوي او فكر كوي چې خپلو آرزوگانوته د رســيدو توان نلري. له همدې كبله قرآن كريم له بغض او كينې څخه منع فرمايي: (**وَلاَ تَتَمَنَّوْاْ مَا فَضَّلَ اللّهُ بِهِ بَعْضَكُمْ عَلَى بَعْضٍ لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبُواْ وَلِلنِّسَاء نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبْنَ وَاسْأَلُواْ اللّهَ مِن فَضْلِهِ إِنَّ اللّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا** ). [1]

ژباړه : ( او ارزو د هر هغه څه مكوئ چې بهتري وركړى ده الله په هغه سره ځينو د ستاسو سره په ځينو نورو سره، د سړو لپاره برخه ده دهغه څه نه چې دوى گټلي دي او دښځو لپاره برخه ده دغه څه نه چې دوى گټلې دي او دالله څخه فضل وغواړئ. بيشكه الله په هر څه باندې پوه دى).

نو په دې آيت مبارک كې الله تعالى انسانان دآرزوگانو د هغو نعمتونو څخه چې نورو ته يې وركړې دي منع كړي دي او منا سب نه دى چې هغوى ته د حسد په سترگو وگورئ! او په زړونو كې دهغوى د زوال او له منځه وړو تمنا وكړئ! او بيا فرمايي : هغه ثروت او مال چې انسان يې لاسته راوړى د هغه دكوښښ او زحمت نتيجه ده، نو په مؤمنانو لازم دي چې د هغه په لاسته راوړو كې په خپل ځان متكى وي او خپل استعدادونه هغوى ته د رسيدو په

---

۱ - د النسآء سو رت : ۳۲ ، آيت،

لاره واچوي، د الله پاک فضل او مهرباني د هغو ارزوگانو په لاسته راوړو کي چې دوی ترې محروم دي وغواړي.

الله پاک موږ ته امر کړی چې د حسد گرانو د شر څخه په ما سره پناه ونیسئ او فرمایي :

**(وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ )**.[1]

يعنې : ( اي محمد صلی الله علیه و سلم ووایه د هغو حسدگرو چې په حال د حسد کولو کې دي په الله سره پناه نیسم ).

**۸- د حسد درملنه :**

نورو سره د حسد د خلاصون یوه لاره داده چې انسان خپل ځان په هغه نعمتونو د الله سره چې ده ته يې ورکړې دي قانع کړی او دخپلو دندو سر ته رسیدو کې پام وکړي او هیڅ کله ځان د هغو شتمنو ا وډیرو نعمتونو صاحبانو سره مقایسه نکړي بلکه هغوي خلکو ته دې وگوری چې له ده څخه بې وزله دي او هغه نعمتونو ته دې نظر وکړي چې الله پاک ده ته ور کړي او په هغه دي د الله شکر ادا کړي . پیغمبر اکرم صلی الله علیه و سلم په دې هکله فرمايلي دي : ( **إذا نظر أحدكم إلى من فضل عليه في المال والخلق فلينظر إلى من هو أسفل منه ممن فضل عليه** ).[2]

ژباړه : کله چې یو د تاسو څخه بل هغه چاته وگوري چې له ده څخه د شتمنۍ، ښېرې او جسم څخه ډير او ښه وی نو بايد يو بل چاته هم وگوري چې د ده څخه په شتمنۍ، ښيره او جسم کې کم او لاندې مرتبه کې شتون لری.

---

۱ - د الفلق سورت : ۵، آیت .

۲ - صحیح الامام مسلم ، حدیث : ۲۹٦۳ .